لومړی جلد

حکمة الباریٔ

د بخاري ترجمه او مختصر شرح

حکمتیار

حكمة البارئ

د بخاري ترجمه او مختصر شرح

لومړی جلد

حکمتیار

د کتاب پېژندنه:

نوم: حکمة الباریٔ
اول جلد

لیکوال: حکمتیار
د حزب اسلامي افغانستان امیر

لومړی چاپ: حمل ۱۳۸۹

درېیم چاپ: دلو ۱۴۰۱

د چاپ شمېره: ۲۰۰۰ جلده

قیمت: ۱۶۰ افغانۍ

د چاپ ټول حقوق محفوظ دي



بسم الله الرحمٰن الرحيم

د ناشر مقدمه

د خپل مهربان رب حمد او ثناء وايو او د پراخو پېرزوينو ئې شکر اداء کوو چې موږ ته ئې د حكمة البارئ د دوهم ځل چاپ توفيق راپه برخه کړ؛ دا ځل په دوو جلدونو او تر مخکې په ښه قطع او صحافت کې. يقيناً چې د الله تعالى لوري ته بلنه، د اسلام د بريا لپاره فکري او عملي مبارزه؛ له جهل، ظلم او فساد سره مقابله؛ جهل ځپلي ټولنې له تيارو ايستل؛ د مظلومانو په ځنګ کې ودرېدل او د ظالمانو له منګولو ئې ژغورل؛ هغه ستر او عظيم کار دئ چې الله تعالى خپل لارښود دين او خپل پيغمبران د همدې لپاره رالېږلي؛ د الله تعالى په وړاندې د دې جهاد مقام ډېر لوړ او اجر ئې ډېر ستر دئ، الله تعالى به دا مبارزين، مبلغين او دعوتګران د هغو مجاهدينو په قطار کې محسوبوي چې خپل سر او مال د الله د دين د غلبې لپاره قرباني کوي.

د ټولو هغو محققينو، ليکوالانو، دعوتګرانو او مبلغينو د زړه له کومې قدرونه کوو چې د دې سنګر په محراب کې په جهاد بوخت دي، له الله تعالى هغوى ته جزيل اجر او مزيد توفيق غواړو. په دې لړ کې د حكمة البارئ مؤلف ته په

ځانګړې توګه د اجر او لا زيات توفيق دعاء کوو چې د صحيح البخاري د ژباړي او شرحي دروند او ستر کار ته ئې ملا تړلي او لومړۍ برخه ئې چاپ ته چمتو کړې، دې کار ته د دې لپاره د يوه ستر او د ستاينې وړ کار په سترګه ګورو چې دا لومړی ځل دئ چې په پښتو ژبي کي د احاديثو ژباړه او شرح په دقيقه توګه وړاندي کيږي، افغانان له دې پلوه له يوې لويې تشې سره مخامخ ول، په پښتو او دري کي د احاديثو د ژباړي او شرحي په اړه د پام وړ کار نه وو شوی، هيله ده د حکمة البارئ په تکميل سره دا تشه ډکه شي. د دې کتاب د ليکلو او په دې حساس وخت کي د هغه د وړاندي کولو د مبارکي هڅي له زړه قدر کوو او ټولو هغو وروڼو ته له الله تعالی اجر غواړو چې په دې ارزښتناك کار کي ئې په يوې او بلي بڼي برخه اخيستې ده.

د حکمة البارئ دا کتاب د حافظ ابوالعباس زين الدين احمد د مختصر صحيح البخاري (التجريد الصريح للجامع الصحيح) پښتو ژباړه او شرحه دئ، إن شاء الله هر لوستونکی به دا يو داسي جامع او په زړه پوري کتاب وموميِ چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم په سنت د پوهېدو تنده به ئې تر ډېره حده رفع شي؛ ټولو افغانانو، علماءو او طالبانو ته ئې د لوستلو او د مدرسو په تعليمي نصاب کي د هغه د شاملولو سپارښتنه کوو، دا په حقيقت کي د افغان مجاهد او پر خدای مين ولس هغي تلوسې ته مناسب او پر وخت ځواب دئ چې غوښتل ئې د بخاري په څېر د يوه مهم مذهبي کتاب شرح په خپلي مورنۍ ژبي تر لاسه کړي، مور د مسلمانانو په علمي او فرهنګي زېرمي

کي د دې مهم کتاب زياتونه يو مهم او تاريخي اقدام ګڼو، په ځانګړې توګه اوس چې اسلامي امت په عامه توګه او افغانان په خاصه توګه؛ د نظامي يرغل تر څنګ له سخت او طوفاني فکري او فرهنګي يرغلونو سره مخامخ او له هر لوري تر بريدونو لاندي دي، ځيني د هغوی ملکونه تر ې نيسي، ځيني ئې پر دين او مذهب بريدونه کوي، ځيني الحاد خوروي او ځيني اخلاقي فساد، ځيني په پټه ورسره جنګېږي او ځيني په څرګنده توګه، چا د ملا او مدرسې لوري ته جبهه پرانيستې ده او چا د مکتب او مکتبي لوري ته، يو غوارې د امت ځوانان له دين لرې او د الحاد او اخلاقي فساد په ګنده ډنډ کي ئې غرق کړي، بل غوارې ملا او طالب په فرعي اختلافي شخړو کي مصروف او له خپل هغه ستر الهي مسئوليت ئې غافل کړي چې د مسلمانانو د يووالي، د الله د حق دين د پلي کولو او د اسلامي امت د تېر مجد او عظمت د اعادې په اړه ئې لري. د دغو رنګ رنګ دښمنانو او ببلو ببلو جبهو په وړاندي د هر مؤمن دنده دا ده چې په هر محاذ کي د دښمن مقابلې ته چمتو شي، نه په تود جنګ کي دښمن ته شا کړي او نه په ساړه جنګ کي، هم په توره د دښمن مقابله وکړي او هم په ژبه او قلم؛ سنګر، منبر او دفتر ئې بايد د مبارزې داسي مورچل وي چې د محراب (د حرب ډګر) ښکلی نوم ورسره ښايي. الله تعالی دي ټولو هغو مجاهدينو ته اجر او مزيد توفيق ورکړي چې هم په توره د دښمن مقابله کوي او هم په قلم.

که څه هم له پښتو او فارسي پرته په نورو ژبو؛ مخصوصاً عربي کي د بخاري ډېري ژباړي او شرحي

وړاندي شوې دي خو د دې کتاب ځيني داسي امتيازي ځانګړتياوي دي چې په نورو کتابونو کې نه تر سترګو کيږي، د دې کتاب څو امتيازي ځانګړتياوي دا دي:

- د رواياتو ژباړه ډېره دقيقه، فصيحه او سليسه ده، نه يوازي د هر لفظ ژباړه په بشپړ دقت سره وړاندي کوي بلکي د متن بشپړ مطلب په احتياط او امانت سره او په داسي اسلوب د لوستونکي مخي ته ږدي چې له ابهام او اغماض عاري وي او په آسانۍ سره ئې په مطلب پوه شي.
- د هر روايت متن، سند، ژباړه او شرح ئې زموږ مخي ته ږدي او دا راته واضح کوي چې دا روايت په بخاري کې څو ځلي راغلی، په کومو شمېرو او له کومو توپيرونو سره، دا توپيرونه جدي دي که عادي، د تعارض او تضاد په کچه دي که يوازي د الفاظو په کچه؟ کوم يو ئې د متن، محتوى او الفاظو له مخي ارجح دئ او په کومو دلائلو؟ د إسنادو له پلوه متواتر دئ که مشهور، عزيز يا غريب؟ آيا دا روايت په نورو کتابونو کې هم راغلی که نه؟ آيا داسي روايت په بخاري او نورو کتابو کې شته چې له دې روايت سره تعارض لري؟ که وي نو کوم يو ئې ارجح دئ؟ کوم يو ئې له قرآن سره اړخ لګوي او په قرآن کې د هغه لپاره شاهد مومو؟

هغه روايات په لا ډېر دقت او تفصيل سره څېړل شوي چې فقهاء په کې اختلاف لري، دا روايات په سړه سينه، له تعصب لري او په خالص علمي توګه څېړل شوي او هغه لوري ته ترجيح ورکړی شوې چې د قرآن، روايت او درايت په رڼا کې ئې تله درنه خټلې او دلائل ئې مضبوط دي.

كه څه هم دا كتاب د (التجريد الصريح للجامع الصحيح) چي د بخاري مختصر دئ، ژباړه او شرح ده؛ خو په حقيقت كي د بخاري ټول مكرر او غير مكرر روايات په كي څېړل شوي، دا ځكه چي تر هر روايت لاندي هغو رواياتو ته هم اشاره شوې او توپيرونه ئې په گوته شوي چي په بخاري كي په مكرره توگه راغلي.

په اختلافي مسائلو كي هغه روايات هم د بخاري د رواياتو تر څنگ راوړل شوي چي په بخاري كي نه دي راغلي؛ متن او سند ته په پام سره ارجح روايت او رأيه په گوته شوې.

په داسي حال كي چي د دې كتاب د ليكلو او په دې حساس وخت كي د هغه د وړاندي كولو د قدرمني هڅي د زړه له تله قدرونه كوو او مؤلف ته ئې له الله تعالى اجر او مزيد توفيق غواړو، دعاء كوو چي الله تعالى هغه ورځ راولي چي زمور هېواد آزاد وي، د اسلام شين بيرغ په كي رپيږي، قرآن زمور پر ټولني حاكم وي، د رسول الله صلى الله عليه و سلم په سنت عمل كيږي او د ټولني په فردي او اجتماعي برخو كي د الله تعالى مبارك دين او شريعت د يوازيني برلاسي او لاربشود قانون په توگه نافذ وي. و ما ذلك على الله بعزيز

بسم الله الرحمٰن الرحيم

سريزه

الحمد لله و كفى و سلام على عباده الذين اصطفى و بعد:

زمونږ رحمان او مهربان رب؛ د بې حسابه نورو نعمتونو او پېرزوينو په ضمن کې؛ دوه تر ټولو ستر نعمتونه پر خپلو بندګانو پېرزو کړي: 1- د دوی د هدايت او لارښووني او د فردي او اجتماعي ژوند د ټولو برخو د ښه تنظيم لپاره ئې لارښود عظيم قرآن رالېږلی او 2- د قرآن د حمل، ابلاغ، ښودني، تشريح، تفسير او په عمل کي پلي کولو لپاره ئې د دوی له منځه داسي صادق، امين او کامل شخصيت د پيغمبر او مرشد په توګه غوره کړی چې د رشد او کمال لوړي څوکي ته رسېدلی؛ که غواړو د دنيا او آخرت فلاح او د خپل رب رضاء تر لاسه کړو؛ او هغه مقام ته ورسېږو چې الله تعالی ئې د خپلو صالح بندګانو لپاره خوښوي؛ دې سپېڅلي هدف ته هغه مهال رسېدی شو چې قرآن مو لارښود وي او رسول الله صلى الله عليه و سلم مو قائد او قدوه؛ د قرآن په لارښوونو همغسي عمل وکړو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم او د هغه په لاس روزل شوو صحابه وو پرې عمل کړی.

درنو محدثينو ته دي الله تعالى ډېر ډېر اجرونه ورکړي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم احاديث ئې په ډېر دقت او احتياط سره او د ډېرو ستونزو په ګاللو سره راغونډ کړل، روايات ئې وچټل، د راويانو په اړه ئې ژور تحقيقونه وکړل، صحيح روايات ئې تشخيص کړل، د اعتماد وړ راويان ئې له کمزورو بېل کړل او د مبارکو احاديثو ګڼ شمېر مجموعې ئې راتلونکو نسلونو ته په ميراث پرېښودې. په دوی کي د امام بخاري رحمه الله په شمول د صحاح سته د نورو امامانو خدمات د ډېري ستاينې وړ دي. الله تعالى دي د امت هغو درنو فقهاءو ته هم ډېر ډېر اجرونه ورکړي چې د قرآن او حديث په رڼا کي ئې فقهي احکام تدوين کړل او د ژوند په ټولو برخو کي ئې د مسلمانانو شرعي پوښتنو ته ځوابونه وويل. امت به تر قيامت پوري د دغو جليل القدره محدثينو او ائمه وو د خدماتو مرهون وي. خو ای کاش په اسلامي امت کي داسي مدبر او د بصيرت خاوند زعيم راپيدا شوی وی چې د رواياتو په اړه ئې همغه کار کړی وی چې عثمان رضي الله عنه د قرآن په اړه وکړ، که موږ د احاديثو او رواياتو يوه معتبره او ټول امت ته د منلو وړ مجموعه درلودی او د احاديثو موجود کتابونه د قرآن په رڼا کي له تنقيح وروسته په يوې مجموعې کي راغونډ شوي وی نو له سترو سترو فتنو او اختلافاتو به ژغورل شوي وو. اوس خو متأسفانه د رواياتو په بېلو بېلو کتابونو کي د مختلفو مذاهبو پلويانو ته د اعتبار وړ رواياتو کي شديد تناقضات او اختلاف خو پرېږده د احاديثو په يوه کتاب کي به ګڼ شمېر متعارض روايات ومومئ، داسي چې له دوو به ناچار يو

منو او بل به پرېږدو، دا هم نه دي په ګوته شوي چې په دغو متعارضو رواياتو کې کوم يو په کوم دليل د منلو وړ دئ او پر بل ترجيح لري، له همدې امله يو شمېر علماء دې ته اړ شوي چې د رواياتو تر منځ د تعارض رفع کولو او د ارجح، راجح او مرجوح معلومولو لپاره ځانګړي کتابونه وليکي.

زمونږ ګران ائمه هم له دغې ستونزې او مشکل سره مخامخ ول، ليدل ئې چې د متعارضو رواياتو په وجه په امت کې شديد اختلافات راولاړ شوي، هر څوك په ځانګړو رواياتو استناد او عمل کوي، کمعلمه خلکو ته څو روايات په لاس ورغلي، له تحقيق پرته ئې منلي، همدا ئې ځان ته مذهب ګرځولی، خپله لار ئې له نورو بېله کړې، له هغه چا سره ئې د مخالفت لپاره ملا تړلې چې د دې رواياتو پر ځای نور روايات او د ده تر رواياتو ډېر صحيح او مستند په لاس ورغلي، دا اختلاف ورځ په ورځ زيات شوی، خبره ړوند تعصب ته رسېدلې، يوه بل په دې خاطر تکفير کړی چې د ده روايات ئې ورسره نه دي منلي، درنو امامانو تر ډېره حده د دې فتنې مقابله وکړه، که د دوی مبارکي هڅې نه وی نو امت به داسي ټوټې ټوټې شوی وو چې راغونډول به ئې ممکن نه وو. تر ډېري مودې دا فتنه غلې وه، خو ورو ورو ئې بيا سر رااوچت کړ، بيا په امت کې داسي خلك راپيدا شول چې نه يوازې مخکينۍ فتنه ئې راژوندۍ کړه او ويل ئې چې هر څوك بايد په حديث عمل وکړي او د خاص مذهب له متابعت ډډه وکړي، بلکې د امامانو د متابعت په اړه ئې ويل چې دا متابعت ناروا تقليد او شرك دئ!! دا په داسي

حال كي چي ائمه وو له دې پرته بل كار نه دئ كړى چي احاديث او روايات وڅني، صحيح له ضعيف تفكيك كړي؛ او خلكو ته وښيي چي په كوم روايت عمل وكړي او په كوم نه. هر څوك چي د حديث متابعت ته خلك رابلي نو هرو مرو به د رواياتو يوه خاصه لړۍ د هغوى مخي ته ږدي، په ځانګړيو كتابونو كي د احاديثو د راغونډولو لړۍ دغه ضرورت ته په پام سره پيل شوې. نن هم كه څوك يوازي په حديث د عمل كولو خبره كوي نو ناچار به خلكو ته وايي چي د احاديثو كوم كتاب ته به اعتبار وركوي او د رواياتو كومه لړۍ به معتبره ګڼي؛ او دا له دې پرته بل كار نه دئ چي نوي مذهب ته به خلك رابلي، ځيني كمعقله او ساده خلك داسي فكر كوي چي مذاهبو امت وېشلى او په احاديثو عمل كول دا اختلاف له منځه وړي، حال دا چي خبره په بشپړه توګه د دې عكس ده. د احاديثو كتابونه دومره ډېر دي چي يو ستر كتابتون پرې ډكېږي؛ او د رواياتو شمېر دومره دئ چي لكونو ته رسېږي، عادي خلك خو پر ځاى پرېږدئ متخصصين هم له هغوى د احكامو په راايستو كي له سترو ستونزو سره مخامخ كېږي. كاش مور د رواياتو داسي متفق عليه كتاب او مجموعه درلودى چي ټول امت پرې متفق وى او په هغه كي داسي روايت نه وى چي له قرآن سره تعارض لري او يا يو ئي له بل سره، كه تاسو د رواياتو اوسنيو كتابونو ته په دقت او له تعصب پرته رجوع وكړئ نو نه يوازي په سلګونو داسي روايات به وموميئ چي په بشپړه توګه له قرآن سره تعارض لري بلكي په خپلو منځو كي هم دومره ژور تعارض لري چي هيڅوك ئې په تلفيق نشي

توانېدی. دا تعارض به نه یوازي په هغو روایاتو کي وګورئ چي د ببلو ببلو مذاهبو پلویانو ته د اعتبار وړ دي بلکي په هغو کي به ئې هم وموميئ چي د یوه خاص مذهب پلویان ئې د ځان ګڼي.

ځیني داسي دي چي ځان ته اهل حدیث او سلفي وایي او د مذاهبو پلویان مشرك ګڼي، دا په داسي حال کي چي دوی په خپله د یوه خاص امام او مذهب متابعت کوي، د ډېرو ئې امام بخاري رحمه الله امام دئ او بخاري ئې مذهبي کتاب؛ او دا په داسي حال کي چي د ائمه وو په وړاندي امام بخاري رحمه الله داسي دئ لکه د شاګرد شاګرد، هم د احادیثو د ذخېرې له پلوه او هم د صحابه وو دور ته د نژدې والي له پلوه، د څلورو مذاهبو امامانو هر یوه ئې په دومره احادیثو استناد کړی چي بخاري ئې نیمایي ته هم نه رسېږي، په ائمه وو کي امام ابوحنیفه داسي احادیث هم روایت کړي چي له صحابه وو ئې مخامخ اوربدلي!! آیا هغه به ډېر سلفي وي چي د صحابه وو، تابعینو او تبع تابعینو متابعت کوي او له دوی ئې مخامخ روایات تر لاسه کړي او که هغه چي د احادیثو کتابونه ئې له دغو دریو ادوارو وروسته لیکلي؟!! امام ابوحنیفه وایي: که کوم حدیث صحیح ثابت شي نو همدا زما مذهب دئ، یعني د هري قضیې په اړه زما وروستۍ رأیه همغه رأیه ده چي صحیح حدیث ئې وړاندي کوي!! د دې معنی دا ده چي د امام ابوحنیفه مذهب د صحیح احادیثو مجموعه ده، هغه هر صحیح حدیث د خپلي فتوی بنسټ ګرځولی، روایت ئې په هغه صورت کي نه دئ منلی چي اسناد ئې ضعیف او متن ئې د قرآن او درایت خلاف موندلی.

او دا کار هر امام کړی او هر هغه څوك به ئې کوي چې مسلمان وي، پر قرآن ایمان ولري او د خاص مسلك او مذهب په اړه ړوند تعصب ونه لري. روایت خو یوازي په هغه صورت کي د منلو دئ چې منشأ ئې قرآن وي یا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري او د عقل خلاف نه وي، څوك چې پر قرآن ایمان لري نو نه د قرآن یو آیت داسي تعبیروي چې له ګڼ شمېر نورو آیتونو سره په تعارض کي راشي او نه داسي روایت مني چې له قرآن سره تعارض لري.

په روایاتو کي د اختلاف یوه بېلګه د لمانځه څرنګوالی دئ، ګورو چې په دې اړه د مذاهبو تر منځ اختلاف دئ چې د تکبیرونو په دوران کي رفع الیدین وشي که نه؛ په لمانځه کي د فاتحې لوستل فرض دي که نه؟ د فاتحې په پای کي آمین په جهر او لوړ ږغ وویل شي که په ټیټ ږغ؟ د قرائت پر وخت لاس چپري، پر سینه که پر نامه کښېښودی شي او یا ځوړند پرېښودل شي، د قیام په وخت کي پښې څنګه او څومره یوه له بلي لري کښېښودی شي؟... دا په داسي حال کي چې په زرګونو صحابه وو د پیغمبر علیه السلام لمونځ په خپلو سترګو لیدلی، په جمع ئې لمونځ ورپسي کړی، ټول حرکات ئې لیدلي، خو سره له دې د همدې لمانځه د څرنګوالي په اړه مختلف روایات د دې باعث شوي چې بېلو بېلو مذهبي ډلو بېل بېل صورتونه غوره کړي!!

کاش زمونږ درنو فقهاءو لږ تر لږه د لمانځه د هیئت په څېر مسائلو کي اختلاف نه درلودی، ټولو د مدینې منورې د خلکو لمونځ او څرنګوالی ئې معیار ګڼلی وی او نن د ټولي

نړۍ د مسلمانانو لمونځ يو شاني وی، د پيغمبر عليه السلام نژدې اتلس زره لمونځونه د مدينې خلکو په خپلو سترګو ليدلي او په خپلو غوږونو ئې اورېدلي او خبر ئې نسل په نسل له يوه بل ته انتقال شوی، خو متأسفانه موږ په دې کي هم د امت تر منځ د اختلاف شاهد يو، د کوفې، مدينې او شام د فقهاءو تر منځ اختلاف دئ، دا درې مراکز په هغه وخت کي درې ستر ستر سياسي مراکز وو، د سياسي مراکزو اختلاف په فقهي مسائلو کي له اختلاف سره يو ځای شو او دا دئ تر نن پوري د دې لړۍ روانه ده، هر څومره چې دا سياسي مراکز زيات شوي همدومره اختلاف ورسره پراخ ابعاد موندلي، مصر، استانبول، مرو او خراسان هم د کوفې او شام په څېر په سترو سترو سياسي مرکزونو بدل شول او مزيد مذهبي اختلافات ئې وزېرول.

د متعارضو رواياتو ستونزه د امت د ټولو مذهبي فرقو لمن نيولې؛ يوې ډلې ته د رواياتو يوه مجموعه اصح او ارجح برېښي او بلې فرقې ته بله مجموعه؛ د اهل حديث ډلې ته د بخاري ټول روايات؛ حتی هغه ئې هم چې په خپلو کي سل سلنه متناقض او متعارض دي؛ صحيح برېښي؛ په داسي حال کي چې له متناقضو رواياتو يوازي يو ئې صحيح کېدی شی؛ نه دواړه؛ تاسو به په دې کتاب کي وګورئ چې د بخاري له څلورو برخو نژدې درې برخي ئې تکراري روايات دي؛ په اکثرو دغو تکراري رواياتو کي به هم د الفاظو له پلوه جدي توپيرونه وګورئ او هم د محتوی له پلوه تعارضات او حتی جدي تناقضات؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د منسوب ويناوو او رواياتو په الفاظو کي هم

معمولي توپيرونه د منلو او توجيه وړ نه دي څه دا چي په هغوی کي جدي تعارضات او تناقضات وي؛ د محدث دنده دا ده چي وګوري د کوم روايت الفاظ او محتوی د دې وړ ده چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته منسوب شي او کوم راوي توانېدلی په بشپړ امانت سره د ده وينا او حديث انتقال کړي؛ نه دا چي متفاوت، متعارض او متناقض روايات د لوستونکو مخي ته کښېږدي؛ هغه هم پرته له دې چي ووايي کوم يو ئې تر نورو ارجح دئ.

په مقابل کي ئې د ځينو شيعه وو له نظره د رواياتو معتبر کتاب اصول کافي دئ؛ چي په اړه ئې د دوی يو مشهور عالم علامه برقعي ليکي: د دې کتاب اکثر روايات جعلي، له قرآن سره متصادم او د عقل خلاف دي او روات ئې مجهول الهويه، کاذب او فاسق دي، برقعي د اصول کافي په اړه يو ضخيم کتاب ليکلی چي په هغه کي ئې ليکلي: که دښمنان خبر شول چي زمونږ د رواياتو په کتابونو کي داسي روايات هم راغلي چي راويان ئې خر او چنګښه دي؛ نو څه به کوو؟!

دا مشکل به هغه وخت حل کېږي چي ټول اسلامي امت واحد ستر سياسي مرکز ولري؛ او همدا مرکز د مذهبي اختلافاتو د ختمولو لپاره داسي کار وکړي لکه عثمان رضي الله عنه چي د قرآن د مختلفو نسخو د توحيد په اړه وکړ او د يوه ستر اختلاف مخه ئې ونيوله.

د رواياتو دغو ارزښتناکو زېرمو هغه فتنه تر ډېره حده پای ته ورسوله چي د اسلام دښمنانو، غرضي او مرضي کړيو او ناپوه مسلمانانو راولاړه کړې وه، په مسلمانانو کي

ئې د اختلافاتو راولاړولو لپاره له ځانه احاديث جوړول، غلطي، کمزورې، نيمګړې او د قرآن خلاف ويناوي ئې پيغمبر عليه السلام ته منسوبولي، د سياسي اغراضو لپاره ئې د قرآن آيتونه او د پيغمبر عليه السلام احاديث په داسي بڼې کي تعبيرول چې ټګماران خپلي موخي پرې تر لاسه کړي، هغه لويه فتنه وه چې په امت کي د تفرق او د سياسي اختلافاتو او شخړو پر مهال رامنځته شوه، هر څومره چې د اقتدار مراکز زياتېدل او د اقتدار د خاوندانو تر منځ اختلافات تشديد کېدل نو د جعلي رواياتو او موضوعي احاديثو لړۍ تقويه کېده، تر هغې ورځې چې د اسلامي امت د اقتدار سياسي مرکز يو وو، ستر اسلامي خلافت له يوه دارالخلافه اداره کېدو، مدينه له سياسي لحاظه دارالخلافه وه او له علمي پلوه د ارشاد او دعوت مرکز، ټول اسلامي امت له دغه واحد مرکز ديني او علمي لارښوونې او سياسي پرېکړې تر لاسه کولې، خو کله چې سياسي مرکز له مدينې کوفې بيا شام او مصر ته انتقال شو، نو د مدينې په خوا کي درې نور علمي او ديني مراکز جوړ شول، دغه مهال وو چې سياسي اختلاف مذهبي رنګ غوره کړ، ډېل ډېل مذاهب رامنځته شول او د رواياتو ډېلي ډېلي مجموعې جوړې شوې، د عباسيانو د اقتدار په مهال دا اختلافات خپلي لوړي کچې ته ورسېدل، شيعه مذهب هم په دغه دوران کي رامنځته شو، ويل کېږي چې عبدالله بن سبا د هغې فتنې محرك وو چې په ترڅ کي ئې لومړی عثمان رضي الله عنه او بيا علي رضي الله عنه په شهادت ورسېدو، د ده تحريك هغه مهال د يوه مذهب بڼه غوره کړه چې اقتدار له امويانو

عباسيانو ته انتقال شو او عباسي واکمنانو غوښتل چې د امويانو په ضد د هغو خلکو مرسته او ملاتړ هم تر لاسه کړي چې د علي رضي الله عنه ملاتړي او پلويان ول، د امويانو د اقتدار پر مهال د علي رضي الله عنه ځيني اولاد د ايران او خراسان په لوري هجرت ته اړ شول، د زوړ ايران سياسي او مذهبي مشرانو د مسلمانانو له هغو مشرانو سره ژوره کينه په زړه کي درلوده چې ايران د دوی د واکمنۍ په دوران کي فتح شوی وو، دوی ته دا موقع په لاس ورغله چې د علي رضي الله عنه د خواخوږو په توګه راوړاندي او د علي رضي الله عنه د اولاد ملاتړ وکړي او د علي رضي الله عنه حب او ملاتړ ته د يوه مذهب بڼه ورکړي. دوی د روایاتو داسي لړۍ ځان ته جوړه کړه چې يوازي د علي رضي الله عنه اولاد ته منسوب شوي، نهج البلاغه او اصول کافي د دوی د روایاتو دوه مجموعې دي چې د علي رضي الله عنه له شهادت نژدې څلور سوه کاله وروسته رامنځته شوې.

دوی د قرآن د آيتونو په اړه په داسي روایاتو باور لري چې ښيي د قرآن ډېر آيتونه د علي رضي الله عنه او د ده د اولاد په اړه نازل شوي، دا په داسي حال کي چې د ټول قرآن په يوه آيت کي هم نه صراحتاً او نه اشارتاً داسي آيت تر سترګو کېږي چې د علي رضي الله عنه او د ده د اولاد په اړه وي، خو دوی د دغو آيتونو لپاره داسي شأن نزولونه لري چې خپله ادعاء پرې ثابتوي، په دې کي داسي روایات هم شته چې وايي: الشمس ای علي، القمر ای فاطمه، التين ای علي، الزيتون ای فاطمه!! يعني په قرآن کي چې الله

تعالى په لمر يا انځر لوړه کړې له دې مراد علي دئ او په سپورمۍ او زيتون له لوړي مراد د فاطمې پر سر لوړه ده!! که څوك ورته ووايي: چې الله تعالى ولي دوى په خپلو اصلي نومونو نه دي ياد کړي؟ الله تعالى د ابولهب نوم اخلي او د دوى نه؛ د هارون عليه السلام نوم يادوي او د دوى نه؛ ولي به ئې داسي الفاظ کارولي وي چې هر څوك بله معنى ترې اخلي؟ آيا الله تعالى غواړي چې خلك په شك کي واچوي؟ الله تعالى خو فرمايي چې په دې کتاب کي د شك ځاى نشته، داسي آيت په کي نشته چې څوك ئې د معنى په پوهېدو کي شك وکړي، الله تعالى خو فرمايي چې قرآن آسان دئ، څرګند او مبين دئ، د ټولو اختلافاتو د حلولو وروستۍ مرجع ده، خو دا څنګه تاسو په قرآن کي اختلاف راولاړوئ او دا اختلاف په روایاتو حل کوئ!! هيڅ ځواب نه لري. په اهل سنت و جماعت کي هم داسي خلك راپيدا شول چې د قرآن پر ځاى روايات وروستۍ مرجع ګڼي، د آيت صراحت ته هيڅ اعتناء نه کوي، دې ته نه ګوري چې د هر آيت معنى بايد تر هر څه د مخه په خپله په قرآن کي ولټوو او که په قرآن کي مو ونه مونده نو روایاتو ته رجوع وکړو، روايت يوازي په هغه صورت کي ومنو چې د قرآن له کوم څرګند آيت سره تعارض او اختلاف ونه لري، پر قرآن د ايمان تقاضا دا ده چې د هر څه په اړه د لاربښوونو وروستۍ مرجع او د اختلافاتو د حل وروستۍ پرېکړه ئې وګڼو، دا خوارکيان کله کله د قرآن په ځينو آيتونو د خپل مسلك د اثبات لپاره استناد کوي او وايي: قرآن مور د الله تعالى او د هغه د پيغمبر په اطاعت مکلف کړي يو، نو په حديث عمل

خو د دغه حكم تقاضا ده، كه څه هم دا خبره په خپل ذات كي صحيح ده خو دوی ئې په غلطه تعبيروي او دا معنی تری راباسي چي د هر هغه روايت متابعت پر موږ فرض دئ چي دوی ئې صحيح ګڼي كه څه هم له قرآن سره تعارض لري، دي ته ئې پام نه دئ چي د پيغمبر اطاعت يعني د قرآن اطاعت، كه څوك غواړي د پيغمبر عليه السلام اطاعت وكړي نو په دې قرآن دي عمل وكړي، كوم څه چي له پيغمبر عليه السلام موږ ته په بشپړ امانت او د ټولو صحابه وو په اجماع سره رارسېدلی دغه قرآن دئ، الله تعالی خپل پيغمبر د دغه قرآن د تبليغ لپاره غوره كړی، د پيغمبر عليه السلام اصلي مأموريت دا وو چي دغه قرآن تر خلكو ورسوي، پيغمبر عليه السلام په قرآن دومره تركيز كولو چي د يوه روايت له مخي ئې د عمر تر پايه چا ته د احاديثو د ليكلو اجازه نه وركوله او د بل روايت له مخي د مدينې تر وروستيو كلونو پوري. د احاديثو له ليكلو د ممانعت په سبب ګورو چي له احاديثو د ګوتو په شمېر داسي دي چي په تواتر سره تر موږ رسېدلي، داسي احاديث ډېر لږ دي چي ټولو صحابه وو پرې اتفاق كړی وي او په مقابل كي ئې داسي روايت نه وي چي په معنی او الفاظو كي ورسره اختلاف ونه لري. احاديث خو د قرآن له شرحي او تفصيل پرته بل څه نه دي.

د رواياتو د يوې خاصي لړۍ په اړه ډوند تعصب د دې باعث شو چي هم اهل حديث له ټول امت بېله لار غوره او په امت كي د اختلاف باعث شي، او هم شيعه؛ اهل حديث له بخاري پرته د حديث ټولو نورو كتابونو ته شا كړه او اهل

تشيع د زرګونو صحابه وو له لوري وړاندي شوو رواياتو ته شا کړه او يوازي هغه ئې ومنل چې د علي رضي الله عنه اولاد ته منسوب وو، همدغه غلطه تګلاره په دې منتج شوه چې دوی په ټولو صحابه وو د نفاق او ارتداد حکم وکړي، له پيغمبر عليه السلام وروسته علي رضي الله عنه او زامن ئې د هغه ځای ناستي او د خلافت اصلي او يوازيني وارثين وبولي او ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم او ټولو هغو صحابه وو ته د غاصب په سترګه وګوري چې له علي رضي الله عنه پرته ئې له بل چا سره بيعت کړی او د بل په خلافت راضي شوي، حال دا چې علي رضي الله عنه په خپله له مخکينيو خلفاوو سره بيعت کړی او نه يوازي دا چې تل ئې په لمانځه کي په هغوی پسي اقتداء کړې بلکي خپله لور ئې عمر رضي الله عنه ته په نکاح ورکړې!! د امام حسين رضي الله عنه لپاره به د محرم په ورځو کي توره جامه اغوندي او د محرم په لسمه به د هغه د شهادت وير کوي، په مسخره، کرکجنو، خرافي او اسلام ضد حرکاتو او ناولو بدعتونو سره به دا ورځ لمانځي؛ خو په عمل کي به په کربلا او نجف باندي د صليبي ځواکونو د برید په وخت کي د يرغلګرو مرسته کوي او د دوی په لاس د زرګونو هغو مسلمانانو د وژلو به هيڅ پروا نه کوي چې د امام حسين په څېر د ظلم او تېري مقابله کوي!! پر يزيد به لعنت وايي خو په عمل کي به تر يزيد د لا زيات ظالمو واکمنانو ملګرتيا او له بې دينه، منافق، ظالم او مفسدو واکدارانو سره بيعت کوي!! که د پيغمبر عليه السلام په ژوند کي دومره مسلمانان په عراق او افغانستان کي وژل شوي وی، مګر

هغه مبارك به د كربلا تر شهيدانو په دغو شهيدانو زيات نه وو خواشينى شوى؟!! دغه شيعه چې نن په عراق او افغانستان كې د عاشورى په لسمه ځانونه وهي؛ د افغانستان او عراق په نيولو كې ئې له امريكايانو سره لاس يو كړ، په كربلا او نجف ئې د امريكايانو د بيرغ رپېدا ومنله، په داسې حال كې د عاشورى د ورځې مراسم لمانځي چې امنيت ئې امريكايانو نيولى!! په مصر كې سلفيانو د شهيد مرسي په خلاف د جنرال سيسي ملاتړ وكړ؛ دا ټول د څه لپاره او وجه ئې څه ده؟ په غلطو رواياتو باور په دې ډنډ كې پرې ايستل. په اهل سنت و جماعت كې هم دوى ته ورته يوه ډله جوړه شوه، په هر هغه چا ئې د كفر فتوى وركوله چې د دوى د رواياتو لړى ئې نه منله.

په دې كې هيڅ شك نشته چې له اهل بيت او حسين رضي الله عنه سره د محبت ادعاء؛ د ځينو له لوري هسې يوه سياسي لوبه ده، دا د دوى پلرونه ول چې له حسين رضي الله عنه سره ئې خيانت وكړ، كوفې ته ئې وروبللو خو خپلې ژمنې ئې تر پښو لاندې كړې او د يزيد په هغه لښكر كې شامل شول چې حسين رضي الله عنه او د ده ملګري ئې شهيدان كړل، يقيناً چې دا د الله تعالى له لوري د دوى سزا ده چې د حسين رضي الله عنه د شهادت په ورځ ځانونه په خپله په زنځيرونو وهي!! دا هم په بشپړه توګه سياسي وجوهات لري چې د اهل بيت په نامه ئې روايات راايستلي او هغه ئې د خپل مذهب لپاره مستمسك جوړ كړي.

د دې لپاره چې پښتنو ته بخاري د دوى په ژبه ورسېږي او له دې ارزښتناكي زېرمې ښه ګټه واخيستى شي، په دې

لټه کي وم چي د متقي، په قرآن او حديث پوه او دينپالو علماءو يوه معتبره جرګه بخاري په پښتو وژباړي، هر لوستونکي ته ئې آسانه کړي، په تکرار راغلي روايات سره مدغم کړي، متعارض روايات يا تلفيق کړي او يا ئې ارجح په ګوته کړي او د ابتدائي لوستونکو دا ستونزه ورته حل کړي چي په متعارضو رواياتو کي به کوم يو غوره کوي.

وامي ورېدل چي محترم ورور سلطان محمود صلاح د بخاري مختصر (التجريد الصريح للجامع الصحيح) په پښتو ژباړلی، ډېر خوشحال شوم، تري ومي غوښتل چي ما ته ئې راولېږي، هغه له چاپه مخکي ابتدائي نسخه راولېږله، پرېکړه مي وکړه چي زه هم پرې کار وکړم او د علماءو هغسي يوې جرګې ته ئې د بحث لپاره تيار کړم، دعاء کوم چي الله تعالى ما ته د دې دروند کار ترسره کولو توفيق راکړي، په هر ګام کي زما لارښوونه وکړي، د رسول الله صلى الله عليه و سلم د احاديثو د صادقانه خدمت او نورو ته د رسولو سعادت راپه برخه کړي.

دا کتاب په اصل کي د التجريد الصريح للجامع الصحيح پښتو ژباړه دئ، د بخاري هغه روايات ژباړل شوي چي په التجريد الصريح للجامع الصحيح کي راغلي، نوموړی کتاب د بخاري مختصر دئ چي په هغه کي نه د بخاري تکراري روايات راوړل شوي او نه تعليقات، د رواياتو اسناد هم مختصر کړی شوي، ما د حديث متن د بخاري له کتاب رااخيستی، هر روايت ته مي همغه شمېره ورکړې چي التجريد الصريح للجامع الصحيح ورکړې، د روايت په پای کي مي د بخاري شمېره هم راوړې، هغه شمېرې مي هم

راوړي چي هر روايت په مکرره توګه په بخاري کي راغلی، د مکررو روایاتو توپیرونه مي هم په ګوته کړي. په خاصو او ضروري مواردو کي مي هغو روایاتو ته هم اشاره کړې چي له اړوند روایت سره تعارض لري خو په بخاري کي نه دي راغلي، دا کار مي په ځانګړې توګه په هغو مواردو کي کړی چي تر بحث لاندي روایت له هغو روایاتو سره تعارض لري چي احناف پرې استناد کوي او ترجیح ورکوي.

ضمني یادونه

ما څلور ځلي رسول الله صلی الله علیه و سلم په خوب کي لیدلی، لومړی ځل هغه مهال چي دیارلس کلن او د حربي ښوونځي په اوم ټولګي کي وم، په خوب کي ګورم چي د مازدیګر لمانځه لپاره د کعبې له شرقي دروازې ورننوځم، د ننوتلو لار ور (دروازه) نه لري، د کعبې سطح له زمکي سره برابره ده، د مخکیني معمول په څېر د غرب په لوري د کعبې په وسط کي په لمانځه ودریږم، نا څاپه ګورم چي رسول الله صلی الله علیه و سلم له یو شمېر یارانو سره له غربي دروازې راداخل شي، جامې، پټکی او څادر ئې سپین وي، څادر ئې پر سر او اوږو اچولی وي، ږیره ئې توره او مخ ئې غنم رنګی وي، ملګري ئې هم ده ته ورته جامه لري، رسول الله صلی الله علیه و سلم ما ته وګوري او تبسم وکړي، زه له ځان سره ووایم چي ښایي ما به د قبلې لوری غلط کړی وي، د همدې لپاره رسول الله صلی الله علیه و سلم تبسم وکړ، زه خو د مخکي په څېر د غرب په لوري ودرېدلی یم، اوس خو د کعبې په منځ کي یم، ښایي قبله به

ښي اړخ ته وي، په لمانځه کي ښي اړخ ته وګرځم، له ځان سره ووايم: له لمانځه وروسته به له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مصافحه کوم، په دې لوري کي يو داسي دېوال وګورم چي لوړوالي ئې د يوه ګز په اندازه وي، د نيم دائرې په څېر منحني جوړ شوی وي، د ډبرو رنګ ئې خړ سور بڼن وي، د رکوع په حالت کي وم چي له خوبه راويښ شوم، ډېر کلونه وروسته راته معلومه شوه چي ما په دې خوب کي کعبه په هغي بڼي کي ليدلې چي په سر کي د ابراهيم عليه السلام په لاس جوړه شوې وه؛ او وروسته ځيني تغييرات په کي راغلي، هغه منحني دېوال حطيم دئ چي اوس له کعبې بهر پاته شوی، خو د ابراهيم عليه السلام په وخت کي دا د کعبې جزء وو، د يوې پېښي په وجه کعبه ورانه شوې وه، قريشو دومره مالي توان نه درلود چي ببرته ئې په خپلي لومړنۍ بڼي جوړه کړي، اوږدوالی ئې راکم کړی او حطيم بهر پاته شوی، دوه دروازې ئې وې چي اوس ئې يوه بنده کړی شوې، د کعبې سطح له زمکي سره برابره وه خو اوس د يوه سړي د قد په اندازه جګه کړی شوې، ما د دوهمي دروازې ځای هم په خپلو سترګو وليد چي په ډبرو بند شوی، قريشو دا تغييرات د دې لپاره راوړي ول چي کعبې ته اشرافي بڼه ورکړي، يوازي خاص خلك هغې ته د ننوتلو اجازه ولري، دا پرېکړه د دوی په واك کي وي چي چا ته د ننوتلو اجازه ورکړي او چا ته نه؛ ما ته الله تعالى پنځه ځلي کعبې ته د ننوتلو شرف راپه برخه کړ، کله چي ما د سعودي ځوانان په لومړي ځل په خپلو سترګو وليدل نو د رسول الله صلى الله عليه و سلم رنګ را په ياد

شو. زما پر ايمان او عقيدې د دې خوب ډېر ژور اغېز وو، په خوب کي د کعبې هغه حالت ليدل چې ځلور زره کاله مخکې وو او بيا نژدې ځلرويشت کاله وروسته په ويښه کعبې ته د ننوتلو سعادت تر لاسه کول څه عادي خبره نه ده. خو دا چې آيا زه به کعبې ته په داسي حال کي هم داخل شم که نه چې جوړښت ئې همغسي وي چې د ابراهيم عليه السلام په لاس جوړه شوې وه او ما په خپل خوب کي ليدلې وه؟ اميد مي دا دئ چې د خوب دا برخه هم تحقق وموميِ.

دوهم ځل مي هغه مهال په خوب کي ليدلی چې د سردار داؤد د اقتدار په دور کي زه د پېښور په ګلبهار نومي سيمي کي اوسېدلم، د نورو ملګرو تر څنګ دوه پيلوټان هم راسره اوسېدل چې د يوه نوم محمد ګل ځائی وو، زه او دوی د يوې عسکري کودتا په تور تر تعقيب لاندي وو، نور ملګري مو نيول شوي وو؛ او موږ پېښور ته ولاړو، خوب مي ليدو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم زما د اوسېدو ځای ته راغلی وي، زه ئې لاسونه ورومينځم، پر دسترخان شوروا ورته کښېږدم، د خوراك په جريان کي له خوبه راويښ شوم، سحر د ناشتا مهال همدا پيلوټ راسره ناست وو او راته وئي ويل: خوب مي ليدو چې ته راته وايي ما تېره شپه رسول الله صلى الله عليه و سلم په خوب کي ليدلی، ما ورته وويل: هو؛ ما تېره شپه رسول الله صلى الله عليه و سلم په خوب کي ليدلی او خوب مي ورته تېر کړ.

درېيم ځل مي هغه مهال په خوب کي وليد چې د روسانو په ضد زموږ جهاد په ډېر شدت سره روان وو، ما به د دې لپاره د امريکايانو په ضد جدي تبليغات کول چې پوهېدم

هغوی شوم عزائم لري، که مجاهدین د دوی خطرناکو عزائمو ته متوجه نه کړو نو کېدی شي روسان وباسو خو افغانستان د امریکایانو په لاس کي پرېږدي، ځینو ورونو دا مشوره راکوله چي اوس د امریکا په ضد د څه ویلو وخت نه دئ... په همدې دوران کي مي خوب ولید چي په یوې لویي کلا کي له ډېرو ملګرو سره یم، د کلا داسي لویه دروازه وي چي لاری تری تېرېدی شي، دروازه د شمال لوري ته وي، د کلا د امنیت مسئولیت زما په غاړه وي، مور د رسول الله صلی الله علیه و سلم راتلو ته منتظر یو، ناڅاپي ګورو چي هغه له یو شمېر خلکو سره له همدې لویي دروازې کلا ته راننوځي، زما په لاس کي دوه توري وي، رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغه جومات په لوري ولاړ شي چي د همدې کلا په غربي خوا کي پروت وو، زه په خلکو کي سترګي رغړوم چي وګورم کوم دښمن خو به په دې فرصت کي کلا ته نه وي راننوتلی، په دوو کسانو مي سترګي ونښلي، چي رنګ ئې سور، سترګي ئې شنې، د وریځو وېښتان ئې ژېړ دي او سر او ږیري ئې خرېیلې دي، متوجه شم چي دوی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د زیان رسولو په موخه راغلي، پر دواړو د تورو ګوزارونه وکړم، دواړه ووژل شي، بیا جومات ته ولاړ شم، په دوهم صف کي ودرېږم، رسول الله صلی الله علیه و سلم هم په همدې صف کي ولاړ دئ، زما او هغه تر منځ یو کس ولاړ وي چي زه ئې نه پېژنم، څوك چي امامت کوي هغه هم نه پېژنم، مور د امام کین لوري ته په دوهم صف کي ولاړ یو، په همدې حالت کي له خوبه راویښ شوم. دې خوب د خپل دریځ په

اړه مطمئن کړم، دا دواړه شين سترګي دښمنان روس او امريکا وو، په دوو تورو د دوی وژل د دواړو په ضد په يوه وخت کي مبارزه وه، د لمانځه په دوهم صف کي زمونږ د ودرېدا تعبير دا دئ چي مونږ د اسلامي امت دوهم نسل يو، زمونږ په خوا کي د رسول الله صلى الله عليه و سلم ودرېدا ښيي چي مونږ د ده په سنت عمل کوو او هغه له مونږ سره دئ، له شمال د دښمنانو راتګ دا دئ عملاً وليدل شو چي دواړه په ګډه نن له شمال افغانستان ته راغلي.

څلورم ځل مي د 1388 کال د قوس د مياشتي په څلرويشتمه نېټه هغه مهال په خوب کي وليد چي ما د بخاري پښتو ژباړه پيل کړې وه، خوب وينم چي د امام صاحب په ولسوالۍ کي يم، زمونږ د کور مخي ته زمکي کي د دښمن پوستې وي، زمکه کي لوټي وي، د يوې په وجه، له ځان سره وايم چي په سينه کربښېدو سره دې پوستو ته رسېدا او بريد کول ممکن دي، د يوې پوستې عسکر له ځان سره وايي چي اوس په دې ځای کي بلد شوي يو که څوك د شپې له لوري هم په دې لوټو کي راځي نو پرې پوهېږو، دا وخت مونږ د رسول الله صلى الله عليه و سلم راتلو ته منتظر يو، له ځان سره وايم چي که هغه راغی نو سترې مشي به څنګه ورسره کوم، څه به ورته وايم، هغه په يوه موټر کي راشي، د موټر ښي اړخ ته کوز شي، موټر وړاندي ولاړ شي، خوا راکړي، روغبړ ورسره وکړم، له ځان سره ووايم: داسي نه چي زما له سا او تنفس اذيت شوی وي، له روغبړ وروسته لاس داسي وخوزوي چي د شمال په لور ځو، ما د خپل کور په لور اشاره وکړه او ومي ويل: دې لوري ته ځو،

روان شو، په لويه دروازه د ننوتو په وخت کي ئې زمونږ د کور دوه منزله ميلمستون ته وکتل او وئې ويل: خلك خو دغو ته ګوري (داسي ترې معلومه شوه چې دا دوه منزله ځای ئې خوښ نه شو او ګواکي خلك د مجاهدينو په اړه د داسي کورونو په جوړولو ناراض شوي او اعتراض لري... ما وويل: يا رسول الله! دا دېرش پنځوس کاله مخکي جوړه شوې، تر اوسه ورانه وه، دا لومړی کور وو چې کمونستانو وران کړ، تر اوسه وران وو، له ځان سره وايم چې دا څنګه او څه وخت ښه ترته جوړ شوی، (دا کور همغسي تر نن پوري وران پاته دئ)، بيا نه پوهيږم چې څنګه تر هغي خوني ولاړو چې يو ځای په کي کښېنستلو، زه ځان داسي ګورم لکه چې کومه ښرستن راباندي پرته وي، له ځان سره وايم: دا ولي؟ ښرستن لري کړم، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته مخامخ کښينم، مخ ته ئې ګورم، داسي احساس کوم چې د دېرو کړاوونو په وجه ډنګر شوی او سپين وېښتان ئې په ږيري کي راڅرګند شوي، هغه لاس داسي وخوزوي چې ورو ورو مخکي تګ افاده کوي او وويي: همداسي به مخکي ځو، په همدې کي له خوبه راويښ شوم. تعبير ئې دېر واضح دئ، زه ئې هم پر خپل جهاد مطمئن کړم او هم د بخاري د ژباړي او شرحي په اړه، ځکه يقيناً چې رسول الله صلى الله عليه و سلم هم له دښمنانو دېر کړاوونه ليدلي او هم له کمعقلو او غرضي دوستانو، ما د تحقيق په دوران کي داسي روايات هم وليدل چې که د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وړاندي ده ته دا خبري منسوب شوې وی نو الله تعالى ښه پوهيږي چې

څومره به پرې ځورېدلی وو؟!! داسي خبري چي دښمنان ئې له کولو عاجز وو خو مسلمانانو ده ته منسوب کړې دي!! معلومه نه ده چي د قيامت په ورځ به دا خلك د دې پوښتني څه ځواب ورکوي چي ولي مو رسول الله صلى الله عليه و سلم ته هغه خبري منسوب کړې وې چي ده نه وې ويلې؟ ولي مو د هغه په اړه هغه څه ويل چي دی ترې برئ وو؟ ولي مو په هغو صفاتو ستايلی چي الله تعالى نه دئ پرې ستايلی؟

د خوب د ځينو برخو په اړه له غور وروسته څو خبرو لا زيات مطمئن کړم: 1- ما په خوب کي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويلي وو چي دا کور دېرش پنځوس کاله مخکي جوړ شوی وو، له غور وروسته راته معلومه شوه چي زمونږ د کور هغه مېلمستون پنځوس کاله مخکي جوړ شوی وو او دېرش کاله مخکي وران شوی وو او تر ننه همغسي وران پاته دئ!! 2- د بخاري د ژباړی په دوران کي مي کله کله زړه غوښتل چي لاس ترې واخلم، زړه مي راته ويل چي دا ډېر دروند کار دئ او زما ډېر وخت نيسي، خو د رسول الله صلى الله عليه و سلم دې وينا چي ورو ورو به مخکي درومو دې ته وهڅولم چي ادامه ورکړم، 3- واقعاً چي پر مجاهدينو د افغان ولس يو ستر اعتراض دا دئ چي ځينو په داسي حال کي له نارواوو لارو ځان ته بنګلې جوړي کړې چي د جهاد د ډېرو شهداءو کونډې او يتيمان په سختو محروميتونو او مظلوميتونو کي ژوند کوي. 4- له برسټني مي تعبير دا دئ چي د مدثر د سورې آيتونه ما ته هم متوجه دي. الحمدلله چي ما هغه له ځانه لري کړه، رسول

الله صلى الله عليه و سلم ته مخامخ كښېنستم او ما ته ئې د ورو ورو مخكې تلو لارښوونه وکړه.

مقدماتي خبري

هر علم ځان ته مخصوص اصطلاحات لري چې په هغوی سره د هغه علم زده کړه آسانه کېږي، محدثينو د حديث د علم لپاره ځانګړي اصطلاحات وضع کړي، چې ځينې ئې دا دي:

حديث: د حديث لغوي معنی وينا او خبره ده؛ خو د حديث په خاص علم کي ئې معنی د رسول الله صلی الله عليه و سلم وينا، عمل، امر، نهی او د ده په وړاندي د يو چا داسي قول او فعل دئ چې ده نه وي رد کړی او داسي ګڼل شوې وي چې ده تأييد کړی.

سند: د حديث د راويانو هغي لړۍ ته وايي چې يوه له بل اوړېدلي او سلسله ئې د حديث تر ليکونکي پوري رسېدلې.

متصل او منفصل: حديث د سند او راويانو له پلوه يا متصل وي يا منقطع او منفصل، متصل هغه حديث ته وايي چې د راويانو په لړۍ کي ئې هيڅ ځای ارسال او انقطاع نه وي، ټولو يو بل ليدلی او له هغه ئې حديث اوړېدلی وي؛ او منفصل هغه حديث ته وايي چې په کوم ځای کي ئې انقطاع تر سترګو کېږي، کوم راوي له داسي چا روايت کوي چې هغه ئې نه دئ ليدلی. مرفوع: په دې دواړو کي مرفوع هغه

حديث ته وايي چې سند ئې تر رسول الله صلى الله عليه و سلم پورې رسېدلى وي او موقوف هغه حديث ته وايي چې سند ئې تر صحابي پورې رسېدلى وي او د هغه پر نامه توقف شوى وي.

مرسل هغه دئ چې سند ئې تر تابعي پورې رسېدلى وي او د صحابي يادونه په كې نه وي شوې.

منقطع: هغه روايت ته وايي چې په سند كې ئې كومه انقطاع وي، د دوو راويانو تر منځ ئې ليدنه نه وي شوې خو روايت ئې تر يې كړى وي.

مقطوع: هغه روايت ته وايي چې پر تابعي يا تر هغه راوروسته شخص (تبع تابعي) پاى ته رسېدلى وي او دوى ته كوم قول يا عمل منسوبوي.

متواتر: هغه حديث ته متواتر وايي چې په هره طبقه كې له دومره ډېرو كسانو روايت شوى وي چې پر دروغو د هغوى اتفاق عقلاً محال وي.

آحاد: هغو رواياتو ته وايي چې راوي ئې يو يا څو كسان وي.

آحاد هم د رواتو د شمېر له پلوه په دريو ډولونو: مشهور، عزيز او غريب؛ او هم د رواتو د وصف او حالت له پلوه په دريو ډولونو: صحيح، حسن او ضعيف وېشل شوي.

مشهور: هغه حديث ته وايي چې په هري طبقې كې ئې راويان درې يا تر دې زيات وي.

عزيز: هغه حديث ته وايي چې لومړني راويان ئې دوه

وي.

غريب: هغه حديث ته وايي چي لومړنی راوي ئې يوازي يو کس وي. چي دا په دري ډوله وېشلی شو: غريب، ډېر غريب، تر ټولو زيات غريب؛ که په صحابه وو کي يو راوي لري نو غريب دئ، که په تابعينو کي هم يوازي يو راوي لري نو ډېر غريب دئ او که په تبع تابعينو کي هم يوازي يو راوي لري نو تر ټولو زيات غريب دئ.

صحيح: هغه حديث ته وايي چي راويان ئې عادل (مسلمان، عاقل او بالغ) او د ښه حفظ او ضبط خاوندان وي او سند ئې له پيل تر پای متصل وي او په متن کي ئې شذوذ او علت نه وي.

حسن: هغه حديث ته وايي چي راويان ئې پورتني صفات ولري خو د کوم راوي د ضبط درجه ئې تر هغوی راټيټه وي.

ضعيف: هغه حديث ته وايي چي په راويانو کي ئې داسي څوك هم وي چي د حفظ او ضبط او له کوم بل پلوه څه ضعف ولري او پر وينا ئې زيات باور نشي کېدی.

متفق عليه: هغه روايت ته متفق عليه وايي چي امام بخاري او امام مسلم پرې متفق وي او دواړو صحيح ګڼلی وي. ځيني خلك داسي ګمان کوي چي ګواکي متفق عليه روايت به داسي وي چي ټولو محدثينو پرې اتفاق کړی او هغه ئې صحيح ګڼلی؛ حال دا چي خبره داسي نه ده، د امام بخاري او امام مسلم توافق داسي دئ لکه د يوه استاد او شيخ د دوو شاګردانو توافق، د دوی تر منځ توافق نه بلکي اختلاف د حيرانتيا وړ کېدی شي.

د متن له پلوه هغه حديث صحيح ګڼل کېدی شي چې:

- په قرآن کي د هغه لپاره کوم شاهد وي، د قرآن له کوم آيت سره په واضح توګه توافق ولري، يا لږ تر لږه د کوم آيت له الفاظو اشارتاً داسي معلومېږي چې د روايت متن ورسره اړخ لګوي.
- له قرآن سره تعارض ونه لري. دا د کبار صحابه او د ابوحنيفه رحمه الله په شمول د ټولو فقهاءو مسلك دئ چې حديث قرآن ته راجع کوي او په هغه صورت کي ئې د استناد وړ ګڼي چې په قرآن کي د هغه لپاره شاهد وموميِ او يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري.
- له بل صحيح حديث سره تعارض ونه لري.
- د متواتر سنت مخالف نه وي. د مثال په توګه د أذان څرنګوالی په تواتر سره له يوه نسل بل ته انتقال شوی، که څوك د أذان په اړه داسي روايت وړاندي کړي چې له دې متواتر سنت سره تعارض ولري او ووايي: په أذان کي دا ويل هم ضروري دي چې (اشهد أن علياً ولی الله)!! نو دا روايت مردود دئ.
- په داسي قضيې او واقعې بحث نه کوي چې په ډېرو پوري تړلې وي خو يوازي يوه کس پرې څه ويلي او بل داسي څوك ونه موندل شي چې د همدې قضيې په اړه ئې همدا خبره کړې وي. مثلاً په جومات کي يوه وينا او خطبه، په حج کي خطبه، يا د يوه سفر په دوران کي چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ډېر ياران ملګري وو؛ کومه پېښه رامنځته شوې، په اړه ئې پيغمبر عليه السلام څه ويلي يا کړي؛ يو کس پاڅېدلی او د دې وينا، خطبې او پېښې په

اړه ئې څه ويلي خو له ده پرته بل داسي څوك نشته دي چې د ده خبره ئې كړې وي؛ نه ملګرى لري او نه شاهد.

- په روايت كې داسي څه نه وي ويل شوي چې صحابه وو د هغې وينا قولاً يا عملاً مخالفت كړى وي.
- داسي څه په كې نه وي ويل شوي چې يا د عام الهي سنت خلاف وي او يا د عقل خلاف. الهي سنن ثابت او تغيير نه منونكي دي، عقل په حقيقت د پوهېدو وسيله ده، قرآن د كافرانو په اړه فرمايي چې هغوى له دې امله په حقائقو نه پوهيږي او ايمان پرې نه راوړي چې تعقل نه كوي، د دې معنى دا ده چې نه قرآن د عقل خلاف دئ او نه عقل د قرآن خلاف، نه نقل (نصوص) د عقل له پرېكړو سره تصادم كوي او نه عقل د نقل له پرېكړو سره، هيڅ نقلي دليل د عقلي دليل خلاف نه وي او هيڅ عقلي دليل د نقلي دليل خلاف نه وي، نه په صحيح نصوصو كې داسي څه شته چې عقل ئې نه مني؛ او نه عقل داسي خبره كولى شي چې نصوص ئې نه مني، مور هم د قرآن حقيقت په خپل عقل سره درك كوو او هم د احاديثو صحت او ضعف، څوك چې عقل نه لري نه د قرآن په تفسير پوهېدى شي او نه د حديث په صحت او ضعف.

د مثال په توګه: كه تاسو داسي روايت وګورئ چې په څلورم نسل كې يو كس وايي: ما له فلان تبع تابعي، هغه له فلان تابعي او هغه له فلان صحابي اورېدلي چې ويل ئې: مور له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره يو ځاى ته ورسېدو، درې سوه كسان وو، يوه كلي ته ورسېدو، يو سړى راغى، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې وويل:

ته پيغمبر نه يې، که ته په حقه يې نو پر ما دي له آسمانه تيږه راپرېوځي، ناڅاپي له آسمانه تيږه راپرېوته او د دې سړي پر سر ولګېده او مړ شو!! کوم روايت چې دغسي وي؛ په صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو کي يوازي يو يو راوي ولري، نو د دې روايت په اړه به وايو:

دا سفر څه وخت شوی؟ د کلي نوم څه وو؟ په دې دريو سوو کسانو کي ولي د کوم صحابي نوم نه دئ اخيستل شوی؟ ولي له دغو دريو سوو کسانو بل چا دا خبره نه ده کړې؟ ولي په تابعينو او تبع تابعينو کي بل چا دا خبره نه ده کړې؟ هغه سړی څوك وو چې کانې ئې پر سر راپرېوتو؟ د الله تعالی سنت خو داسي نه دئ چې د پيغمبرانو پر منکرينو له آسمان ډبري ووروي، که داسي وی نو پر نورو منکرينو به هم تيږي ورېدلې وې!! شيعه دې ته ورته يو مسخره روايت لري چې وايي: په غدير خم کي رسول الله صلی الله عليه و سلم علي رضي الله عنه خپل ځای ناستی وټاکو، يوه کس وويل: آيا دا پرېکړه د الله تعالی له لوري شوې؟ ورته وويل شول چې هو؛ نو دې سړي وويل: که داسي وي نو له آسمان دي زما پر سر ډبره راپرېوځي، همداسي شوه، ډبره راغله او د هغه پر سر راپرېوته!! د داسي روايت په اړه به وايو: دا د درايت او عقل خلاف دئ، نه يوازي د سند له پلوه د منلو وړ نه دئ بلکي د متن او محتوی له پلوه هم د منلو وړ نه دئ، دا ځکه چې ولي له دغو ټولو صحابه وو هيڅوا ونه ويل چې علي رضي الله عنه د ځای ناستي په توګه ټاکل شوی؟ ولي ټولو صحابه وو د علي رضي الله عنه په شمول له ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم سره بيعت وکړ؟

په دې پوښتنو سره موږ کومه ګناه نه ده کړې بلکې د قرآن له لارښوونو سره سم مو عمل کړی، که له دغو پوښتنو پرته دا خبره منو او عمل پرې کوو نو د قرآن له صریح لارښوونو سره مو مخالفت کړی، قرآن فرمايي:

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌۚ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا 36 الإسراء: 36

او په هغه څه پسې مه ځه چې پرې نه پوهېږې، یقیناً چې غوږ، سترګې او زړونه هغه څه دي چې پوښتنه به ئې کېږي.

یعني الله تعالی به له تا پوښتنه کوي چې ولي دي غلطي خبري ته غوږ کښېښود، هغه دي له تحقیق پرته ومنله او عمل دي پرې وکړ او بل ته دي وکړه. هغه خبره ومنه چې په حقانیت ئې پوه شوی یې، له تحقیق وروسته په یوې خبري باور کوه، په پټو سترګو په هري خبري پسې مه درومه.

په قرآن کي له آسمان د ډبري راپرېوتو وینا هغو مشرکینو ته منسوب شوې چې د دوی د جهل او زوند تعصب انتهاء انځوروي او فرمايي:

وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ 32 الأنفال 32

او کله چې ئې وویل: الهي! که دا حقیقتاً ستا له لوري وي نو پر موږ له آسمان کانې راوورووه، یا کوم دردناك عذاب (راباندي) راوله.

یعني قریشو ویل: که دا قرآن حقیقتاً د الله له لوري لېږل شوی کتاب وي نو خدای دي له آسمان پر موږ کانې

ووروي، يا دي كوم بل عذاب پر مونږ راولي! د دې خبري له کولو د دوی موخه دا وه چې دا کتاب د الله تعالی له لوري نه دئ، که حقیقتاً د الله تعالی له لوري وی نو پر مونږ خو به یا له آسمان ډبري ورېدلې وې او یا به په کوم بل الهي عذاب اخته شوي وو!! الله تعالی د دوی په ځواب کي فرمايي:
وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمۡ وَأَنتَ فِيهِمۡۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمۡ وَهُمۡ يَسۡتَغۡفِرُونَ ٣٣ الانفال: 33

او الله داسي نه دئ چې دوی تعذيب کړي په داسي حال کي چې ته (اې پيغمبره!) لا په دوی کي يې او الله ئې په داسي حال کي تعذيبوونکی نه دئ چې دوی بخښنه غواړي.

دلته د عذابونو د نزول په اړه الهي سنت بيان شوی؛ د عذاب په راتلو کي د ځنډ دوه وجوهات ښودل شوي: په ولس کي د داعي شتون او په دوی کي د داسي خلکو شتون چې توبه به کوي او له کفر، شرك او ګناه به لاس اخلي.

يعني قرآن مونږ ته ويلي چې د چا د مطالبې له مخي؛ نه الله تعالی پر ده عذاب نازلوي او نه پر بل چا؛ د عذاب نزول ثابت الهي سنن لري.

دې ته مو پام وي چې دا آيت د مشرکينو هغي وينا ته ځواب وايي چې ځان په حقه ګڼي او قرآن د الله تعالی د کتاب په توګه نه مني؛ دوی ته ويل شوي چې د الله تعالی له لوري عذاب د چا په غوښتنه نه راځي؛ دا پرېکړه د الهي ثابتو سننو مطابق تر سره کيږي؛ اما دغه روايت ئې داسي مجهول مسلمان ته راجع کوي چې له رسول الله صلی الله عليه و سلم د هغه سفر په يارانو کي شامل وو؛ آيا منلی شو چې الله تعالی پر مشرکينو کانې ونه ورول خو د رسول الله

صلى الله عليه و سلم پر يوه صحابي ئې وورول؟!! په داسي حال کي چې راوي د صحابي نوم هم نه دئ اخيستی او له ده پرته بل چا دا خبره هم نه ده کړې؟

قرآن مورږ ته لارښوونه کوي چې په ځينو مواردو کي د يوه کس ادعاء د بل په اړه هغه مهال ومنو چې دوه شاهدان وړاندي کړي او په ځينو مواردو کي هغه مهال چې څلور شاهدان ولري، که د قرض او شخصي معاملاتو په اړه د قرآن حکم دا وي نو د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه چې څوك ادعاء کوي چې داسي ئې وکړل يا داسي ئې وويل څنګه ئې ادعاء له هيڅ شاهد پرته ومنو؟!! عمر رضي الله عنه خو داسي وو چې چا به د ده په وړاندي وويل چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي، نو فوراً به ئې ورته وويل: يا شاهد وړاندي کړه يا دي ملا درې ته تياره کړه!! په کار خو دا وه چې زمورږ درنو محدثينو د احاديثو په اړه تر څلورو هم زيات شاهدان غوښتی، د داسي رواياتو له راوړلو ئې ډډه کولی چې يو راوي لري؛ نه په صحابه وو کي د راوي تر څنګ شاهد شته، نه په تابعينو کي او نه په تبع تابعينو کي، لږ تر لږه دومره خو ئې بايد کړي وی چې د داسي رواياتو تر څنګ ئې ليکلی: پام کوئ چې د دې راوي يوازي يو کس دئ او هيڅ شاهد نه لري!! که نن د يوه داسي روايت په اړه چې غريب وي، يو راوي لري، په قرآن کي هم کوم شاهد ورته نه مومي، يو څوك ووايي: زه دا روايت نه منم، استناد پرې نه کوم، وپرېږم چې رسول الله صلى الله عليه و سلم او صحابه وو ته داسي خبره منسوب نه کړم چې هغوی نه وي کړې، نو دې سړي نه يوازي له

حديث انكار نه دئ کړی، ګنهګار او مجرم ئې نه شو ګڼلی، بلکي د عمر رضي الله عنه په سنت ئې عمل کړی او له دې ئې ځان ساتلی چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته غلطه خبره منسوب کړي او د دوزخ د اور مستحق شي. که عمر رضي الله عنه د صحابه وو غريب روايت نه منلو او د شاهد وړاندي کولو مطالبه ئې ترې کوله، نو مور به ولي داسي روايات منو چې په څلورو او پنځو طبقو کي يوازي يو يو راوي لري، مخصوصاً هغه روايات چې نه په قرآن کي کوم شاهد ورته مومو، نه په احاديثو کي او نه له عقل او درايت سره اړخ لګوي؟!! د داسي خبري څو مثالونه له بخاري وړاندي کوم:

د تبع تابعينو له دور وروسته يو کس د ذَر په نامه وايي چې ما له سعيد بن عبدالرحمن او هغه له خپل پلار اوربدلي چې عَمَّار رضي الله عنه عمر رضي الله عنه ته وويل: آيا په ياد دي دي چې زه او ته په يوه سفر کي سره ملګري وو؛ او تا لمونځ ونه کړ خو زه (په خاورو کي) ورغړبدم او لمونځ مي وکړ، دغه قصه مي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وکړه، رسول الله صلى الله عليه و سلم راته وويل: (دا درته کافي وو چې داسي وکړې: بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم خپل دواړه لاسونه پر زمکه ووهل او ورپو ئې کړل، بيا ئې خپل مخ او دواړه لاسونه پرې مسح کړل. روايت دا دئ:

338 - حَدَّثَنَا آدَمُ، قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، حَدَّثَنَا الحَكَمُ، عَنْ ذَرٍّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى عُمَرَ

بْنِ الخَطَّابِ، فَقَالَ: إِنِّي أَجْنَبْتُ فَلَمْ أُصِبِ المَاءَ، فَقَالَ عَمَّارُ بْنُ يَاسِرٍ لِعُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ: أَمَا تَذْكُرُ أَنَّا كُنَّا فِي سَفَرٍ أَنَا وَأَنْتَ، فَأَمَّا أَنْتَ فَلَمْ تُصَلِّ، وَأَمَّا أَنَا فَتَمَعَّكْتُ فَصَلَّيْتُ، فَذَكَرْتُ لِلنَّبِيِّ صلّى الله عليه وسلم، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكَ هَكَذَا» فَضَرَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَفَّيْهِ الأَرْضَ، وَنَفَخَ فِيهِمَا، ثُمَّ مَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ وَكَفَّيْهِ رواه البخاري

دا روايت په بخاري کي اوه ځلي راغلی، د سند له مخي دومره کمزوری دئ چي په پنځو نسلونو کي يوازي يوه يوه کس روايت کړی، هيڅ راوي ئې شاهد نه لري، يعني تر زيات غريب هم اوښتی او د متن له مخي قطعاً د منلو او راوړلو وړ نه دئ؛ ځکه نه خو دا د منلو وړ ده چي عمر رضي الله عنه د تيمم له حکم خبر نه وو او لمونځ ئې پرېښود، نه دا چي عبدالله بن عباس چا ته د تيمم اجازه نه ورکوله، (په يوه روايت کي دا راغلي چي ګواکي عبد الله بن مسعود ويلي: که د تيمم اجازه ورکړو نو بيا خو به خلك د سړو اوبو له کبله هم تيمم کوي!!) او نه دا چي عَمَّار دومره بې خبره وو چي د تيمم لپاره په خاورو کي رغړېدو!! آيا د عمر رضي الله عنه په ضد داسي ادعاء له شاهد پرته منلی شو؟! هغه خو د علم او تقوی له پلوه دومره لوړ مقام درلود چي له ابوبکر رضي الله عنه وروسته هيڅ صحابي د هغه مقام ته نه رسېدو، هغه حتیٰ د خندق په جنګ کي هم خپل لمونځ نه دئ پرېښی، د تيمم په اړه خو د قرآن آيت دومره صريح او واضح دئ چي د قرآن هر لوستونکی پرې پوهيږي؛ او اړوند آيت ئې داسي مهال نازل شوی چي له

رسول الله صلى الله عليه و سلم سره لويه ډله په سفر کي ملګرې وه، ټولو همغه مهال تيمم زده کړی. عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به څنګه له داسي کار خلك منع کول چي الله تعالى ئې د کولو اجازه ورکړې؟!! د روايت دغو خبرو ته په پام سره دا هم ويلى شو چي دا برخه ئې هم د منلو وړ نه ده چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپلو لاسونو کي پو کړي، دا ځکه چي په تيمم کي پاك لاس پر مخ موښل مراد نه دي بلکي په خاورو لړلى لاس مراد دئ. لاسونه څنډل يا يو له بل سره وهل چي شګي او لوټي تري توى شي مانع نه لري خو خاوري تري پو کول له قرآن سره اړخ نه لګوي.

اوس که څوك ووايي: زه دا روايت نه منم، ګمان کوم چي دا روايت به په پنځم نسل کي د اهل تشيع داسي چا جوړ کړی وي چي له عمر رضي الله عنه سره سخت عداوت لري؛ له همدې کبله ئې عمر رضي الله عنه ته په تيمم نه پوهېدا او د لمونځ پرېښودا منسوب کړې، عمار رضي الله عنه ته د تيمم لپاره په خاورو کي رغړېدا!! او عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته ئې دا حق ورکړی چي د قرآن يو صريح حکم نسخ کړي!! نو دې سړي نه يوازي هيڅ ګناه نه ده کړې؛ بلکي حق لري ووايي: زه د دغو درنو صحابه وو په اړه دا تورونه نه منم؛ که دا خبره ونه کړي نو هم به ئې له دغو صحابه وو سره جفا کړې وي او هم له خپل عقل او درايت سره.

آيا هغه څوك به د دريو جليل القدره صحابه وو په خلاف په ناروا تورونو کي شريك نه ګڼل کيږي چي دا روايت عمداً

او له تحقيق پرته مني او ترې لاندي (صحيح) ليکي؟!! د الله تعالى په وړاندي به ئې ځواب څه وي چې له شاهد پرته ئې د لويو لويو شخصيتونو په اړه داسي ادعاءګاني منلې او صحيح ئې ګڼلې دي؟!

بل مثال ئې هغه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د شپې او يا د ورځې په يوې برخي کې له خپلو ټولو مېرمنو سره يو ځای کېدو؛ او د مېرمنو شمېر ئې يولس او په بل روايت نه (۹) وه، انس رضي الله عنه ته وويل شول: آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم دومره طاقت درلود؟ ده وويل: مونږ به سره ويل چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د دېرشو کسانو قوت او طاقت ورکړی شوی. روايت دا دئ:

268 - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدُورُ عَلَى نِسَائِهِ فِي السَّاعَةِ الوَاحِدَةِ، مِنَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَهُنَّ إِحْدَى عَشْرَةَ» قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسٍ أَوَكَانَ يُطِيقُهُ؟ قَالَ: كُنَّا نَتَحَدَّثُ «أَنَّهُ أُعْطِيَ قُوَّةَ ثَلاَثِينَ» وَقَالَ سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، إِنَّ أَنَسًا، حَدَّثَهُمْ «تِسْعُ نِسْوَةٍ» بخاري

دا روايت د سند له مخې تر ټولو زيات غريب روايت دئ، ځکه په صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو کې يوازې يو يو راوي لري؛ او د متن له مخې داسي دئ چې هيڅ وزن او اعتبار نه لري، ځکه راوي ته داسي خبره منسوب شوې چې په هيڅ توګه نشي ترې خبرېدی، انس رضي الله عنه څه پوهېدو چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم او د هغه د

مېرمنو تر منځ څه تېرېدل؟! چا دا خبره ورته کړې؟ څنګه تري خبر شوی؟! په کار خو دا وه چې دغه روايت ته په پام سره معاذ بن هشام د ضعيفو او غير ثقه راويانو په ډلي کي نيول شوی وی او هر هغه روايت يوې خوا ته پرېښودل کېدی چې د ده له لوري روايت شوی. ځيني محققين د ده روايات د استناد وړ نه بولي.

دا روايت په همدې اړه د بخاري له نورو رواياتو سره تعارض لري، بخاري نه دا ويلي چې کوم روايت صحيح دئ او نه ئې هغو جدي پوښتنو ته ځواب ويلی چې په دې اړه راولاړېږي.

روايت دوه برخي لري؛ يوه ئې دا چې رسول الله صلی الله عليه و سلم به د ورځي يا د شپې په کومي برخي کي په خپلو ټولو مېرمنو راګرځېدو، دا برخه په ځينو نورو رواياتو کي هم راغلې او مطلب ئې دا دئ چې د ټولو پوښتنه به ئې کوله، په دې کي دقيقه خبره دا ده چې کله به ئې مازديګر دا کار کاوو او کله تر ماښام وروسته. بله برخه ئې انس رضي الله عنه ته منسوب دا دوې ويناوي دي: 1- رسول الله صلی الله عليه و سلم يا نه (9) يا يولس (11) مېرمني درلودې او ګواکي په همدې وخت کي به ئې له ټولو سره نژدېکت کاوو! 2- دا ځکه چې مورږ به ويل: رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د ډېرشو کسانو طاقت (جنسي طاقت) ورکړی شوی. د دې دواړو خبرو په اړه بايد ووايو چې دا په بشپړه توګه بې بنسټه او د حقيقت خلاف خبري دي؛ په څو دلائلو:

- له يوه پلوه راوي ته دا خبره منسوب شوې چې نه پوهېدو په يوه وخت کي د پيغمبر عليه السلام په حرم کي

څو مېرمني وې، نه يا يولس ئې بولي! څوك چې له دې خبر نه وي نو له دې به څنګه خبرېدو چې له خپلو مېرمنو سره د ليدو پر مهال څه تېر شوي؛ پيغمبر عليه السلام خو خاوند او مېرمن له دې منع کړي چې د خپل خلوت خبري د بل چا په وړاندي وکړي؛ د خلوت له خبرو له خاوند او مېرمني پرته بل هيڅوك نه خبرېږي؛ د راوي د دې ادعاء مرجع کومه ده؟ چا دا خبره ورته کړې؟

- نه قرآن دا خبره کړې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د دېرشو کسانو جنسي قوت درلود او نه پيغمبر عليه السلام په خپله دا خبره کړې ده؛ نو راوي د کوم دليل له مخي دا ادعاء کړې ده؟ او د دې خبري ګټه څه ده؟!
- قرآن خو وايي چې پيغمبر عليه السلام به کله د شپې له دريو دوه برخي، کله نيمايي شپه او کله يوه برخه په لمانځه او د قرآن په تلاوت تېروله (إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنى مِن ثُلُثَيِ الَّيْلِ وَ نِصفَهُ وَ ثُلُثَهُ) او د ورځې له پلوه به هم د دعوت په سخت کار کې مصروف وو (إِنَّ لَكَ فِي ٱلنَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلٌ)، ګڼ شمېر روايات هم وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ډېر ځلي له خپلو مېرمنو اجازه غوښتې ده چې د دوی د وار شپه په عبادت تېره کړي، دا روايت خو په بشپړه توګه د قرآن او دغو رواياتو له وينا سره جدي او ژور تعارض لري او وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به نژدې يولس ساعتونه په جنسي تعلقاتو تېرول!!

د احاديثو په کتابونو کې خو بايد يا د رسول الله صلى الله عليه و سلم وينا، يا فعل، يا هغه وينا او فعل چې رسول الله صلى الله عليه و سلم اوربدلې او ليدلى خو ترديد ئې نه دئ

کړی، راوړل شي؛ د هر چا وینا د حدیث په نامه راوړل خو د دې روایت په څېر ډېري ستونزي راولاړوي.

د دې روایت په دوهمي برخي کي انس رضي الله عنه ته منسوب ویناوي داسي دي چي هیڅ مسلمان باید د هغوی د ویلو جسارت ونه کړي، دا هم د عقل خلاف دي، هم د فطرت او هم د حقیقت، دا د رسول الله صلی الله علیه و سلم په شأن کي جسارت او هتك حرمت دئ؛ هغه نه پوهیږي چي که دښمنانو ته داسي خبري په لاس ورغلې نو د اسلام په ضد به څومره استفاده تري کوي؟!! څوك چي دا خبره په خوله راوړي باید د رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه حدیث ئې مخي ته ودرېږي چي وایي: چا چي ما ته داسي څه منسوب کړل چي ما نه وي ویلي په جهنم کي دي خپل ځای ولټوي. داسي خبري هغه څوك کولی شي چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم د تعدد زوجات له حکمت او فلسفې بې خبره وي او ګمان کوي چي د دې وجه جنسي قوت وو؛ نه هغه ستر مصلحت چي په دې کار کي نغښتی وو. نه پوهیږي چي په دې کي کوم مصلحت مضمر وو او ولي رسول الله علیه السلام ته د دې اجازه ورکړی شوې؟

راشئ وګورو چي د پیغمبر علیه السلام د ودونو حقیقت څنګه وو؟ ولي هغه ته د (نه) بښځو د نکاح اجازه ورکړی شوې، د دې دلیل څه دئ او دا کار په کومي زمانې کي او د پیغمبر علیه السلام د مبارك ژوند په کوم پړاو کي تر سره شوی؟ په ځوانۍ کي که په زړښت کي؟

ټولو ته جوته ده چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په پنځه ویشت کلنۍ کي واده وکړ، خدیجه رضي الله عنها د ده

لومړۍ بي بي څلوېښت کلنه کونډه وه، د هغې تر وفات پورې ئې بله ښځه نه ده کړې، تر پنځوس کلنۍ پورې يعني 25 کلونه ئې يوازې يوه مېرمن درلوده، د خديجې رضي الله عنها له وفات وروسته ئې سوده رضي الله عنها چې کونډه وه؛ په نکاح کړه، سوده له لومړيو مسلمانانو وه، له خپل مخکيني مېړه سره ئې يو ځای حبشې ته هجرت وکړ او د هجرت سختي شېبې او کړاوونه ئې وګالل، نه ئې مال درلود او نه جمال او پېغلتوب، امتياز ئې قوي ايمان او د ايمان په لار کي قرباني وه، پيغمبر عليه السلام صرف يوه ښځه په پېغلتوب کي کړې. نوري بيبياني ئې کونډې وې، هره يوه ئې د سوده رضي الله عنها په څېر د يوه لوی اجتماعي مصلحت لپاره په نکاح کړې؛ په دې کونډو کي ئې يوه داسي هم وه چې شپږ اولاده ئې لرل، هغې ورته عذر کړی چې يا رسول الله! نه غواړم چې ستا لپاره د تکليف او زحمت باعث شم؛ خو هغه غوښتل چې د خپل يو مخلص ملګري صحابي چې د الله تعالی په لار کي شهيد شوی؛ نن ئې کونډه او ماشومان پاته دي، له ولي او متکفل پرته؛ دا ئې نه شو منلی نو ځکه ئې هغې ته پيغام ليږلی، هغې عذر وړاندي کړی خو پيغمبر عليه السلام هغه قانع کړې. د پيغمبر عليه السلام د ودونو فلسفه همدا وه، د جنسي قوت لپاره نه؛ بلکي د يوه لوی مصلحت لپاره. اصلاً تر يوې د زياتو مېرمنو اجازه ورکړل شوې د همدې لپاره ده؛ د نساء سورې په هغه ځای کي چې د يتيمانو او د دوی په اړه د عدل او قسط مراعاتولو يادونه شوې؛ او ويل شوي: که د يتيمانو په اړه د عدالت نه مراعاتولو له پلوه ووېرېدئ نو کولی شئ دوه، درې او

ځلور مېرمني وکړئ؛ يعني که تاسو وليدل چې د ټولني يو شمېر غړي د اسلام په لار کې او د ګډ هدف او آرمان لپاره شهيدان شوي؛ له هغوی کوندې او يتيمان پاته دي، داسې ځوک نه لري چې پالنه او ساتنه ئې وکړي او ستونزي ئې حل کړي؛ نو دا بې عدالتي ده چې دوی همداسې پاته شي؛ دا ستاسو ديني مسئوليت دئ، غيرت او ايمان همدا ايجابوي چې دا مېرمني په نکاح کړئ، په دې توګه به هم د کونډو مېرمنو ستونزي حل کړئ او هم د هغوی د اولادونو او يتيمانو ستونزي؛ الله تعالی د دې ستر مصلحت لپاره د تعدد زوجات اجازه ورکړې؛ د شهوت او شوق لپاره نه؛ بلکې د يوي ستري او مهمې مُعْضَلې د حلولو لپاره دا کار جائز شوی. صحابه وو به د جنګ په ميدان کې او هغه مهال چې ډېر شمېر مجاهدين به شهيدان شوي وو؛ نو هماغه مهال به ئې دا پرېکړه کوله چې د هر شهيد د کونډې او يتيمانو د پالنې مسئوليت به ځوک پر غاړه اخلي. آيا ډېره عجيبه نه ده چې ځوک داسې مهم اجتماعي تصرف او رغنده اقدام ته داسې رنګ ورکوي چې نه يوازي د رسول الله صلى الله عليه و سلم له شأن سره قطعاً نه ښايي؛ بلکې دښمنانو ته داسې څه په لاس ورکول دي چې د اسلام په ضد د پراخو زهرجنو تبليغاتو وسيله ترې جوړه کړي؛ زمونږ د متقي پيغمبر عليه السلام د رسولانه تصرفاتو په اړه داسې تحليل وړاندي کول چې ګواکې د تعدد زوجات باعث جنسي قوت وو نه معنوي او رسولانه مسئوليتونه؛ دا خبري کول او منل ډېر جسارت غواړي او د هيڅا ايمان بايد دا اجازه ورنه کړي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسې نسبتونه

ومني. يقيناً چې نه د مؤمن ايمان دا اجازه ورکوي او نه ئې عقل او درايت.

دې ته بايد متوجه وو چې دا روايت انس رضي الله عنه ته منسوب شوی؛ او انس هغه مهال له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره يو ځای شوی چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم عمر نژدې اته پنځوس کاله وو؛ او ده څه کم زيات څلور کاله له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره تېر کړي، د جنسي قوت غليان خو تر څلوېښت کلنۍ يا زيات تر زيات تر پنځوس کلنۍ پوري وي، تر دې وخته خو رسول الله صلى الله عليه و سلم يوازي يوه مېرمن درلوده!! د نړۍ تر ټولو ښايسته پېغلي ورته ميسري وې؛ ولي ئې کونډې په نکاح کړې او هغه هم د ژوند په وروستيو کلونو کې او داسي کونډې هم چې ډېر اولادونه ئې درلودل؟! دا ټول حقائق او دلائل د دې خبري شهادت ورکوي چې دا روايت جعلي، موضوعي او بې بنسټه دئ، نه د منلو دئ او نه د استناد وړ؛ څوك چې دا روايت مني نو هم به ئې له خپل ګران او متقي پيغمبر عليه السلام سره جفا کړې وي او هم له خپل عقل سره. لکه چې د عيسى عليه السلام تر ټولو ستر دښمنان هغه دي چې عيسى عليه السلام ئې په داسي صفاتو وستايو چې الله تعالى نه وو پرې ستايلى او داسي څه ئې ورته منسوب کړل چې الله تعالى نه وو ورته منسوب کړي، مفسدو مسيحيانو حتىٰ د يوې بد لمني مېرمني په اړه ويلي چې د مسيح پښې ئې په خپلو اوښکو ومينځلې، بيا ئې عطر پرې وپاشل، بيا ئې د سر په وېښتانو وچ کړل او تر هغه ئې په وار وار د ده پښې کښلولې چې غونډه پاى ته ورسېده!!

همدا راز زمونږ د خوږ پيغمبر عليه السلام تر ټولو ستر دښمنان هغه دي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي صفاتو ستايي چې الله تعالى نه دئ پرې ستايلى!!

محدثين كله چې داسي حديث بيانوي چې راوي له مروي عنه اورېدلى وي نو د سمعت، حدثني، حدثنا، اخبرني، اخبرنا، انبأنا او قال لي الفاظ كاروي او كله چې راوي خپل مروي عنه نه وي ليدلى او له هغه ئې مخامخ نه وي اورېدلى د عن او قال اصطلاح راوړي. د احاديثو زده كوونكى د طالب الحديث په نامه او استاد ئې د محدث، شيخ، حجت، امام او حاكم په نامه يادوي. د احاديثو كتابونه د جامع، سُنن، مُسنَد، مُعجَم، مُصَنَّف په نامه يادوي.

هر څومره چې د يوه خاص روايت د راويانو نومونو لنډ او د راويانو شمېر ئې لږ وي؛ د خطأ او اشتباه امكان ئې لږ وي، خو څومره چې محدث خپل روايات له درېيم، څلورم، پنځم او شپږم كس تر لاسه كوي نو د خطأ او اشتباه امكان ئې هم زياتېږي. هغو محدثينو چې مخامخ ئې له صحابه وو يا له تابعينو اورېدلي روايات راغونډ كړي؛ تر هغو ئې روايات زيات معتبر دي چې له درېيم، څلورم او پنځم نسل ئې تر لاسه كړي.

په احادو كي تر ټولو كمزورى روايت هغه دئ چې لومړى، دوهم او درېيم راوي ئې يو يو وي، په صحابه وو كي هم يوازي يوه صحابي روايت كړى وي او په تابعينو او تبع تابعينو كي هم يوه يوه كس. او دوى هم خپل روايت له مروي عنه مخامخ نه وي اورېدلى او محدث د عن، حدث، قال او اخبر په كلمې سره د هغه روايت راوړى وي، دا

روايات په هغه صورت کي نسبتاً تقويه کېږي چي راوي خپل مروي عنه لېدلی وي.

هغه روايت ته د شك په سترګه کتل په کار دي چي د وړې غلطۍ او ګناه سزا دومره ستره ښيي چي تر کبيره ګناهونو هم زياته وي، ځکه دا هم د قرآن له اصولو سره مغايرت لري او هم د عدالت خلاف خبره ده. د قرآن له مخي د ستري ګناه سزا ستره ده او د وړې سزا وړه.

محدثينو اکثراً د راويانو ثقه والي ته په پام سره دا پرېکړه کړې چي کوم روايت صحيح، حسن يا ضعيف وګڼي، د راويانو په اړه ئې تحقيق کړی، ثقه او د اعتماد وړ راويان ئې ټاکلي، ضعيف ئې مشخص کړي، د ثقه او ضعيفو راويانو نومړ ئې خپلي مخي ته ايښی او د همدې له مخي ئې د هر روايت په اړه پرېکړه کړې چي کوم نوم ورکړي، صحيح، حسن که ضعيف، اوس چي تاسو د احاديثو د کوم کتاب له پاسه د صحيح نوم ګورئ يا د کوم روايت په پای کي د صحيح لفظ؛ نو د دې معنی فقط دا ده چي د روايت ټول راويان د دغه محدث له نظره ثقه او د اعتماد وړ دي، خو کېدی شي د دغه محدث صحيح ته بل محدث ضعيف ووايي او ضعيف ته ئې صحيح، دا هم کېدي شي چي په يوه کتاب کي مو؛ له يوه راوي، په يوې موضوع پوري اړوند داسي متعدد روايات تر سترګو شي چي په الفاظو کي ئې نه يوازي توپيرونه وي بلکي جدي تعارض او تضاد وي؛ توپير يعني دا چي په يوه روايت کي يو لفظ او په بل کي بل لفظ؛ خو له مخکيني سره مترادف او هم معنی راغلی وي، د مثال په توګه د (جلس) پر ځای (قعد) راغلی وي، تعارض يعني دا

چي، په يوه کي يو څه او په بل کي بل څه ويل شوي وي؛ د مثال په توګه يو وايي: ما واورېدل بل وايي مور واورېدل، يو وايي مور لس کسان وو بل ئې وايي مور پنځوس کسان وو، يو وايي سَحَر وو بل وايي غرمه وه؛ او تضاد يعني دا چي په يوه کي د بل خلاف خبره راغلې وي؛ د مثال په توګه يو وايي له خوبه وروسته ئې د لمانځه لپاره اودس وکړ او بل ئې وايي اودس ئې ونه کړ، يو وايي پښې ئې ومينځلې او بل ئې وايي پښې ئې مسح کړې، يو وايي معراج په ويښه کي وو او بل وايي په خوب کي وو.

دا هغه اصول دي چي محدثينو د رواياتو د چنلو او تنقيح په دوران کي مراعات کړي او هر څوك چي د خپلي مدعاء د اثبات لپاره په رواياتو استناد کوي بايد دا اصول مراعات کړي.

خو دې ته بايد متوجه وو چي الله تعالى مور پيدا کړي يو؛ زمور د هدايت لپاره ئې هم خپل لارښود کتاب راليږلى او هم داسي پيغمبر چي په خپل قول او عمل سره د الله تعالى کتاب مور ته بيان او تفسير کړي؛ يعني د هدايت لپاره ئې د فطري استعدادونو، عقل، فهم او حواسو تر څنګ؛ دا دوه پيرزويني هم زمور په برخه کړې: الهي کتاب او د ده د پيغمبر سنت؛ لکه چي په دې روايت کي راغلي:

3 - عَنْ مَالِكٍ أَنَّهُ بَلَغَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ، لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا: كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ " موطأ مالك

له مالك روايت دئ چي ده ته دا خبره رسېدلې چي رسول الله

صلى الله عليه و سلم فرمايلي: په تاسو کي دوه امور پرېږدم؛ تر هغه چې پرې تمسك او عمل کوئ نو هيڅکله به بې لارې نشئ؛ د الله کتاب او د ده د نبي سنت.

د دې روايت لپاره په قرآن کي هم واضح شاهد مومو او د دې آيت تفسير ئې ګڼلی شو چې فرمايي:

قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ32 آل عمران 32

ورته ووايه: د الله او د پيغمبر اطاعت وکړئ، که ئې مخ واړاوو نو الله له دغو کافرانو سره محبت نه کوي.

د پيغمبر اطاعت يعني د هغه په سنت عمل کول؛ يعني د الله تعالی ولي او دوست هغه دئ چې په عمل کي د الله او د پيغمبر متابعت کوي. د الله اطاعت يعني پر قرآن عمل او د پيغمبر اطاعت يعني د پيغمبر عليه السلام پر سنت عمل؛ او همدا دواړه د ايمان نښه او عدم ئې د کفر نښه ده.

که څه هم دا روايت له هغه سره توپير لري چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د حجة الوداع په وروستۍ خطبې کي وفرمايل: په تاسو کي هغه څه پرېږدم چې که منګولي پرې ولګوئ نو هيڅکله به بې لارې نشئ؛ او هغه د الله کتاب دئ؛ يعني د هدايت لپاره ئې يوازي د الله تعالی کتاب کافي ګڼلی وو؛ که د الله تعالی له کتاب علاوه بل څه هم د هدايت لپاره ضروري وی نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به حتماً په دې مهمي او وروستۍ خطبې کي د هغه يادونه کړې وه؛ دا روايت يو له هغو ډېرو معتبرو رواياتو دئ چې له ګڼ شمېر صحابه وو روايت شوی؛ د اعتبار له پلوه ئې سيال د حديث په کتابونو کي لږ تر سترګو کيږي؛

ټول هغه روايات چې د (ترکت فيکم) صيغه په کې راغلې؛ منشأ ئې په حقيقت کې د حجة الوداع خطبه ده؛ دا د رسول الله صلى الله عليه و سلم وروستۍ خطبه وه؛ اصلي روايت ئې همدغه دئ؛ نور روايت چې د کتاب الله تر څنګ؛ د سنت نبيه؛ عترت او اهل بيت يادونه په کې شوې؛ هم د سند له پلوه غريب او ضعيف دي او هم د متن له پلوه ستونزي لري؛ د دې روايت په وړاندي هغوى هيڅ وزن او اعتبار نه لري؛ خو عجيبه دا ده چې امام بخاري نه دا صحيح، معتبر او درونده روايت راوړى او نه اړونج غريب او ضعيف روايت؛ پر بخاري يو ستر اعتراض همدا دئ. له بخاري پرته په ټولو کتابونو کې بلا استثناء راغلى؛ د دې روايت لپاره په قرآن کې ګڼ شمېر شواهد مومو؛ په ډېرو آيتونو کې مورِ ته همدا خبره شوې چې د الله تعالى کتاب په هر څه کې کفايت کوي؛ څو موارد ئې دا دي:

... وَكَفَى بِرَبِّكَ هَادِيًا وَنَصِيرًا 31 الفرقان 31

... او ستا رب د لارښود او مرستندوى په توګه کافي دئ.

أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَى عَلَيْهِمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَى لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ 51 العنكبوت 51

آيا دا ورته کفايت نه کوي چې پر تا مو دا کتاب نازل کړى چې پرې لوستل کيږي؛ يقيناً چې په دې کې د هغو لپاره رحمت او يادونه ده چې ايمان راوړي.

حقيقت دا دئ چې د الله کتاب د رسول الله صلى الله عليه و سلم ټول احاديث هم احتواء کوي؛ دا ځکه چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم احاديث په حقيقت کې د قرآن شرح او تفسير دئ. يعني چې اصل همغه د حجة الوداع روايت دئ؛ د

الله کتاب کافي دئ او پر سنت عمل هم په حقیقت کي پر قرآن عمل دئ. قرآن فرمایي:

مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ ... 80 النساء

څوك چي د رسول اطاعت وکړي نو فقط د الله اطاعت ئې کړی

هم د الله تعالی اطاعت د قرآن اطاعت دئ او هم د پیغمبر اطاعت د قرآن اطاعت دئ.

باید دې ته متوجه وو چي رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ مؤمنانو ته دا لارښوونه د خپل رسالت په پای کي او هغه مهال کړې چي نور له نړۍ د رخصتېدو په حال کي وو؛ ځکه د (قد ترکت فیکم: په یقیني توګه مي تاسو کي پرېښودل) الفاظ راغلي؛ دا الفاظ یوازي په همداسي آخري وخت کي ویل کېږي؛ همغسي لکه چي هر څوك د خپل میراث په اړه تر مړیني لږ وړاندي ورثه وو ته سپارښتني او وصیت کوي؛ همداسي وشول؛ پیغمبر علیه السلام په خپل آخري حج؛ چي د حجة الوداع په نامه یاد شوی؛ د نژدې سل زره خلکو په وړاندي په خپلي وروستۍ خطبې کي؛ دا سپارښتنه وکړه؛ او د دې معنی دا ده چي که په دې اړه هر روایت راغلی وي؛ نو حتماً به ئې وخت او محل همدا وو. اوس که په دې اړه د راغلو روایاتو په الفاظو او متن کي تعارض وي؛ ناچار؛ یو به ترې انتخابوو؛ ځکه موضوع یوه ده او وخت ئې یو؛ همغه به غوره کوو چي په قرآن کي ورته شاهد مومو او ډېرۍ محدثین ئې غوره ګڼي. د حجة الوداع خطبې کي نژدې ټولو کتابونو کي ګورو چي رسول الله صلی الله علیه و سلم یوازي د الله کتاب یاد کړی. نه ئې د

سنت يادونه کړي، نه اهل بيت او نه عترت.

يو شمېر کتابونو داسي روايات هم راوړي چې په هغوی کي د سنت پر ځای د اهل بيت او عترت يادونه شوې؛ محققينو دا روايات د إسنادو له پلوه ضعيف ګڼلي او يا ئې ويلي: مراد ئې دا دئ چې زما د اهل بيت په اړه اهتمام وکړئ او مه ئې ځوروئ. نه دا چې د هغوی داسي متابعت وکړئ لکه چې د الله تعالى د کتاب متابعت کوئ.

دا روايات نه يوازي د إسنادو له پلوه ضعيف دي بلکي د متن له پلوه داسي دي چې قطعاً د منلو وړ نه دي؛ دا ځکه چې:

- په قرآن کي هيڅ شاهد ورته نه مومو.
- د رسول الله صلى الله عليه و سلم له هغه حديث سره مغايرت او تعارض لري چې په همدې اړه د حجة الوداع په تاريخي خطبه کي راغلی. هلته يوازي د **الله تعالى پر کتاب د اعتصام يادونه شوې او فقط همدا له ضلالت د نجات وسيله ګڼل شوی.**
- د هر انسان په اولاد کي هم صالح او ښه وي او هم ناصالح او بد، د پيغمبرانو د اولاد په شمول؛ د نوح عليه السلام زوی او مېرمن او د لوط عليه السلام مېرمن او زومان ئې واضح مثالونه دي؛ موږ ټول د آدم عليه السلام اولاد يو؛ هغه هم لومړنی پيغمبر وو؛ په اولاد کي ئې موسى عليه السلام هم شته او فرعون هم؛ محمد عليه السلام هم شته او ابو جهل هم. ممکنه نه ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم دي د خپل اهل بيت په ارتباط داسي خبره کړې وي چې د هغوی متابعت د الله تعالى د کتاب په څنګ کي ياد

کړي او هغه هم بلا استثناء او تر قيامت پوري خپل ټول اولاد!!

- قرآن يوازي د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمني د اهل البيت په نامه يادي کړې او همدا لقب ئې د ده او د ابراهيم عليهما السلام د مېرمنو لپاره غوره کړی؛ لکه چې فرمايي:

وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا 33 الأحزاب: 33

په خپلو کورونو کې تم شئ او د مخکيني جاهليت د دور ځرګندېدو په ځېر مه ځرګندېرئ، لمونځ اقامه کړئ، زکات ورکړئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ، الله خو يوازي دا غواړي چې له تاسو اې اهل البيت (کورواله وو)؛ ناپاکوالی لرې وساتي او په ځانګړي پاکولو سره مو پاکي وساتي.

تر دې آيت وړاندي د پيغمبر عليه السلام مېرمني په مکرره توګه د (نساء النبي) په نامه يادي شوې او همدغو ته په دې آيت کې د اهل البيت لقب کارول شوی؛ دا کټ مټ داسې ده لکه چې پښتانه خپله مېرمن د کور واله په نامه يادوي. نو په اهل البيت کې يوازي د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمني شاملي دي نه د کورنۍ نور غړي؛ لکه لونې، زامن، لمسيان او لمسۍ؛ او د تره زامن.

د ابراهيم عليه السلام د مېرمني په اړه فرمايي:

قَالُوا أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ رَحْمَتُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ إِنَّهُ حَمِيدٌ مَجِيدٌ 73 هود: 73

وئې ويل: آيا د الله له كاره تعجب كوې، د الله رحمتونه او بركتونه دي پر تاسو وي اې اهل البيت (كور والو!)؛ بې شكه چې هغه ستايل شوى د عظمت خاوند دئ.

د الله تعالى له لوري لږل شوو فرشتو ابراهيم عليه السلام ته زېرى راوړ، فرشتې د زلميو يوه ټولگي ته ورته وې، سلام ئې پرې واچاوو، ده هم ورته سلام ووايو، ابراهيم عليه السلام د مېلمنو گمان پرې وكړ، له څه ځنډه پرته ئې وريت شوى سخوندر ورته راوړ، خو چې د دوى لاسونو ته ئې پام شو چې نه ورخوځي؛ ناآشنا ئې وگڼل او ترې ووېرېدو، گمان ئې وكړ چې ښايي دا زلميان به په بښه نيت نه وي راغلي چې زما د ډوډۍ له خوړلو ډډه كوي، قرآن په دې سره مور ته وايي چې د ابراهيم عليه السلام په څېر ستر شخصيت؛ له هغه لوړ معنوي مقام سره په غيب له پوهېدا دومره عاجز وو چې كور ته ئې راغلې فرشتې ونه پېژندې، د زلميو گمان ئې پرې وكړ، وريت شوى سخوندر ئې ورته راوړ، ترې ووېرېدو او گمان ئې وكړ چې ښايي د دښمنۍ په نيت راغلي؛ او دا همغه مطلب دئ چې تر دې د مخه د دې سورې په 31 آيت كې د نوح عليه السلام په اړه او په 49 آيت كې د پيغمبر عليه السلام په اړه راغلى، چې په غيب نه پوهېدل.

د ابراهيم عليه السلام مېرمن هملته ولاړه وه، دا هر څه ئې ليدل او د دوى ترمنځ خبرې ئې اورېدې، دا هم په لومړي سر كې پرېشانه وه، خو هغه مهال ئې تشويش رفع شو چې د فرشتو ځواب ئې واورېدو. كله چې فرشتو د الله تعالى له لوري د اسحاق او تر اسحاق وروسته د يعقوب

زېړی ورکړ؛ وئې ویل: وای وای؛ آیا په داسي حال کي به زوی زېړوم چي په خپله بوډی او خاوند مي بوډا دئ! دا خو عجیبه خبره ده؟! فرشتو وویل: آیا د الله له کاره تعجب کوې، د الله رحمتونه او برکتونه دي پر تاسو وي اې د کور مېرمنې! بې شکه چي هغه ستایل شوی د عظمت خاوند دئ.

له دې آیتونو په څرګنده توګه معلومېږي چي له اهل البیت فقط مېرمني مراد دي نه د کورنۍ نور غړي.

که څوك د مخکیني اصل خلاف پر مېرمنو سرېږه نور اولاد هم په اهل بیت کي په زور شاملوي؛ نو مونږ ته دي ووایي: نن به د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اهل بیت او عترت کي چا ته مراجعه کوو؛ آیا داسي څوك شته چي د نړۍ ټول مسلمانان هغه ته د پیغمبر علیه السلام د کورنۍ د ځای ناستي په توګه مراجعه وکړي؟ اهل تشیع چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم د کورنۍ د هغې برخي په اړه چي د علي او فاطمې رضي الله عنهما نارینه اولاد دي؛ همدا عقیده لري؛ هغوی هم مجبور شوي د دوی اولاد په دولسم نسل کي په داسي چا پای ته ورسوي چي اوس له سترګو غائب دئ؛ د امام زمان په نامه ئې یادوي؛ یعني هغوی هم نن د علي رضي الله عنه په ژوندیو اولادونو کي داسي مرجع نه مومي؛ نو څه به کوو؟

آیا عقل او ایمان دا خبره مني چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به خپل اهل بیت؛ هغه هم تر قیامت پوري؛ د الله تعالی له کتاب سره برابر او یو شان ګڼلي وي؟!!

په دغو ضعیفو روایاتو کي کله دا الفاظ راغلي: ترکت فیکم الثَّقَلَیْنِ، کله تَرَکْتُ فِیکُمُ الْخَلِیفَتَیْنِ، کله ترکت فیکم

الْخَلِيفَتَيْنِ كَامِلَتَيْنِ، كله امرين؛ او كله شيئين؛ دا هم ښيي چي په دې رواياتو کي کافي اضطرابات شته. څوك شته چي ووايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپلې وينا اصلي الفاظ کوم دي؟ الثَّقَلَيْنِ، الْخَلِيفَتَيْنِ، الْخَلِيفَتَيْنِ كَامِلَتَيْنِ، اَمْرَين، شَيْئَين؟

د دغو دلائلو له مخې په بشپړ يقين سره ويلى شو چي په دغو متعارضو رواياتو کي صحيح ئې د حجة الوداع روايت دئ؛ او هغه چي د سنت يادونه په کي شوې؛ د همدې روايت برخه او شرح ده؛ او نور روايات ئې قطعاً د منلو نه دي. طبيعي ده چي د يوې موضوع اړوند متعارضو رواياتو له منځه يوازي يو انتخابولى شو.

مخکي مو وويل چي د رواياتو د صحت د تشخيص لپاره پر نورو شرائطو سربېره دا هم يو مهم شرط دئ چي په هغه کي د عقل او درايت خلاف څه نه وي؛ د ضعيفو رواياتو څو مثالونه مو بيان کړل؛ يو ئې انس بن مالك رضي الله عنه ته منسوب روايت وو؛ دا بايد په پام کي ولرو چي ستونزه له هغو راويانو راولاړه شوې چي په څلورم پنځم نسل کي دا روايات تري نقل شوي؛ انس رضي الله عنه جليل القدر صحابي دئ؛ په يوه روايت اته کلن او بل کي لس کلن وو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم مدينې ته راغى؛ مور ئې وغوښتل چي دى د پيغمبر عليه السلام په خدمت کي وي؛ اتلس کلن يا شل کلن وو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم رحلت وکړ؛ يعني نژدې اوه يا پنځه کلونه ئې تر ځوانۍ وړاندي او درې يا پنځه ئې په ځوانۍ کي د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته تېر کړي؛ محققين ئې هغه

روايات معتبر ګڼي چې تر ځوانۍ وروسته ئې روايت کړي.

دا هم د درايت غوښتنه ده چې وګورو راوي ته د بلوغ او رشد مرحلې روايت منسوب شوی که د ماشومتوب د وخت.

راشئ له دغو ضعيفو رواياتو دې روايت ته هم ځير شو:

حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ عَطِيَّةَ الْعَوْفِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنِّي كُنْتُ قَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا إِنْ أَخَذْتُمْ بِهِ لَمْ تَضِلُّوا بَعْدِي الثَّقَلَيْنِ أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الْآخَرِ: كِتَابُ اللَّهِ حَبْلٌ مَمْدُودٌ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ، وَعِتْرَتِي أَهْلُ بَيْتِي، وَإِنَّهُمَا لَنْ يَفْتَرِقَا حَتَّى يَرِدَا عَلَيَّ الْحَوْضَ " إسناده ضعيف

دا روايت چې حسين سليم اسد ضعيف ګڼلی؛ وايي:

له ابو سعيد خدري روايت دئ چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چې ويل ئې: اې خلکو! يقيناً چې په تاسو کې مي داسې څه پرېښودل چې که ئې کلك ونيسئ؛ له ما وروسته به هيڅکله بې لارې نشئ: هغه دوه درانده چې يو ئې تر بل ستر دئ: د الله کتاب چې له آسمان زمکې ته اوږده شوې رسۍ ده؛ او بل ئې زما ټبر يعني اهل بيت؛ او دا دواړه هيڅکله نه سره بېلېږي؛ تر هغه چې ما ته به د حوض کوثر خوا ته راشي.

دا روايت نه يوازې ضعيف دئ بلکې په اړه ئې څو جدي ملاحظات او پوښتنې شته:

د قرآن له وينا او د رسول الله صلى الله عليه و سلم له

صحيح حديث سره تعارض لري.
په قرآن کي هيڅ شاهد نه لري.
آيا کېدی شي رسول الله صلى الله عليه و سلم به خپل اهل بيت د الله تعالى له کتاب سره داسي برابر ګڼلی وی چي معلومه نه ده کوم يو ئې پر بل ستر او لوړ دئ؛ قرآن که د ده اهل بيت؟!!
ممکنه نه ده چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به ويلي وي: دوی دواړه (د الله کتاب او د رسول الله ټول ټبر) به تر هغه هيڅکله نه سره بېلېږي چي ده ته د حوض کوثر خوا ته ورشي؟
آيا د ده په ټولي کورنۍ کي به يو داسي کس پيدا نشي چي د الله له کتاب سره ئې مخالفت کړی وي؟ که داسي وی نو د آدم عليه السلام او نورو پيغمبرانو په اولاد کي به هم يو کافر نه پيدا کېدو؛ او په ټولي نړۍ کي به يو مرتد او کافر سيد نه وو ليدل شوی.

قرآن رسول الله صلى الله عليه و سلم ته فرمايي:
إِنَّكَ لا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ 56 القصص 56
يقيناً چي ته هغه څوك نشې هدايتولى چي خوښ دي دئ؛ خو الله چي هر څوك وغواړي هدايتوي ئې؛ او هغه هدايتېدونكي ډېر ښه پېژني.

پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چي دا ستا په واك كي نه ده چي څوك له هدايت برخمن کړې او د ايمان راوړو سعادت ئې په برخه کړې، ستا دنده ايمان او سمي لاري ته د دوی بلنه ده، دا پربکړه د الله تعالى له لوري کېږي چي چا ته

په سمي لاري د تلو توفيق ورکوي او څوك ترې محروموي.

په دې اړه د الله تعالى پرېکړه د هغه جامع او کامل علم له مخي کېږي چې د هدايت کېدونکي په اړه ئې لري. ته نه پوهېږې چې څوك د دې سعادت وړ دئ او څوك ترې محروم، الله تعالى د هغه چا په وړاندي د هدايت دروازه پرانيزي او په سمي لار د تلو توفيق ورکوي چې وړتيا ئې لري، تا ته نه د دوی وړتيا معلومه ده او نه د زړه کيفيت او نه دا چې دوی په سمي لار د تلو مجال او اراده لري که نه. رسول الله صلى الله عليه و سلم ډېره هڅه وکړه چې د ده تره ابو طالب ايمان راوړي؛ خو نه يوازي دا هڅه بې نتيجې پاته شوه؛ بلکې الله تعالى ورته وفرمايل: له پيغمبر او مؤمنانو سره نه ښايي چې مشرکينو ته د مغفرت دعاء وکړي.

مور ته له خپل پيغمبر عليه السلام دوه شيان پاته دي: قرآن او د رسول الله صلى الله عليه و سلم قولي او فعلي سنت. قرآن د ټولو صحابه وو په اجماع او په تواتر سره تر مور رسېدلى؛ ټول اسلامي امت پر يوه قرآن؛ له هيڅ توپير پرته باور لري؛ حتىٰ د يوه لفظ په زېر او زبر کي هم د دوی تر منځ اختلاف نشته. اما د رسول الله صلى الله عليه و سلم د قول او فعل په اړه؛ د رواياتو کتابونه سلګونو ته رسېږي؛ هر يوه په زرګونو روايات راغونډ کړي؛ لسګونه زره روايات ئې چنلي او له منځ ئې په ډېر احتياط او دقت سره هغه غوره کړي چې د ده له نظره صحيح ګڼل شوي؛ هم ئې إسناد او راويان ورته د اعتبار وړ او ثقه معلوم شوي او هم ئې متن صحيح، روغ او د منلو وړ.

دا اوس زما په دې کمپيوټر کي د احاديثو 436 کتابونه

شته؛ چې ځيني کتابونه ئې تر دېرشو جلدونو هم زيات دي؛ څه موده وړاندي له ما سره د حديث 290 کتابونه وو او نن 436؛ په داسي حال کي چې اسلامي امت د احاديثو فقط يوه کتاب ته ضرورت لري او هغه هم دومره کتاب لکه زموږ واحد مؤمن به قرآن؛ دا ځکه چې حديث د قرآن شرح او تفسير دئ؛ او د قرآن ډېري برخي داسي دي چې شرح او تفسير ته هم ضرورت نه لري.

که نن ټول اسلامي امت د رواياتو يو متفق عليه کتاب درلودی؛ نو نه به په امت کي مذهبي اختلافات ول او نه د دوی تر منځ لانجې او د اختلافي مسائلو پر سر جګړې. يقيناً چې امت د رواياتو د توحيد او چټلو لپاره داسي کار ته ضرورت لري لکه چې د عثمان رضي الله عنه د خلافت په وخت کي د مصحف د بېلو بېلو نسخو د توحيد په ارتباط وشو او ټولو صحابه وو پر يوه مصحف توافق وکړ؛ همدا ئې تکثير کړ، د نړۍ ګوټ ګوټ ته ئې ولېږلو او نوري نسخې ئې له منځه يووړې او په دې ستر کار سره ئې د مصحف په ارتباط د هر راز اختلاف ټول اسباب له منځه يووړل.

بخاري يو له هغو کتابونو دئ چې مکرر روايات په کي ډېر زيات دي، د بخاري د رواياتو د شمېر په اړه څو ويناوي مخي ته راځي: ابن صلاح وايي چې ټول 7275دي چې په دې کي نژدې 4000 ئې په تکرار سره راغلي. ابن حجر عسقلاني وايي چې ټول 7397دي چې په دې کي 2761 ئې غير مکرر دي، 1341معلقات او 344 ئې متابعات دي، چې ټول ئې 9082 کېږي. د کمپيوټر د دقيقي شمېرې له مخي د

بخاري ټول صحيح او مرفوع روايات 7563 دي؛ او په التجريد الصريح للجامع الصحيح کي د بخاري غير مکرر روايات **2206** دي. چې په دې توګه 5357 مکرر راغلي. له دې معلومېږي چې د بخاري له اوو پنځه برخي مکرر او دوه برخي غير مکرر روايات دي. داسي روايات هم لري چې شيږ دېرش ځله ئې په تکرار سره راوړي، کله ئې د دې لپاره دا کار کړی چې له يوه راوي ئې په يوه صيغه تر لاسه کړی او له بل په څه توپير سره په بله صيغه، کله ئې د يوې موضوع لپاره د دليل په توګه او کله د بلي موضوع لپاره، خو داسي تکرارونه هم شته چې موخه او وجه ئې څرګنده نه ده، په اکثرو مکررو رواياتو کي ئې لږ او ډېر توپيرونه تر سترګو کېږي، په ځينو کي ئې تعارض او په ځينو کي تضاد، دا د دې لپاره چې امام بخاري رحمه الله هر هغه روايت په بشپړ امانت سره رااخيستی چې راويان ئې د اعتماد وړ او ثقه ګڼلي، د ثقه رواتو د متعارضو رواياتو تر منځ ئې دا پرېکړه نه ده کړې چې کوم يو ئې ارجح او تر نورو غوره دئ او په کوم دليل، څوك چې بخاري لولي له دې ستونزي سره مخامخ کېږي چې په يوې موضوع پوري اړوند له څو داسي متعارضو رواياتو چې امام بخاري ټول صحيح ګڼلي کوم يو په کوم دليل ارجح او غوره وګڼي؟!! د مثال په توګه: د رسول الله صلى الله عليه و سلم د معراج په اړه د بخاري ځيني روايات وايي چې دا سفر په خوب کي تر سره شوی او د سفر په پای کي رسول الله صلى الله عليه و سلم له خوبه راويښ شوی، خو له نورو رواياتو ئې داسي معلومېږي چې دا سفر په ويښه کي ترسره شوی!! يا د

موسی علیه السلام او د هغه د سفر د ملګري په اړه په ځینو روایاتو کي ویل شوي چي موسی علیه السلام ته لاربښوونه شوې وه چي په سیند کي روان کب ستاسو لپاره نښه دئ، دوی په همغه لوري تلل چي کب مخکي تلو، خو دا روایت په بخاري کي دیارلس ځلي راغلی، په دې کي څلور روایات همدغه پورتنۍ خبره کوي او څلور نور ئې له پورتني سره ژور تعارض لري او په کي راغلي چي موسی علیه السلام ته ویل شوي وو چي وریت شوی کب په ټوکرۍ کي درسره واخله، چېرې چي درنه ورك شو (ژوندی شو او په اوبو کي درنه پټ شو)، په همغه ځای کي به خضر وموميٰ، په دغو څلورو کي هم ژور توپیرونه تر سترګو کېږي، ځینې ئې داسي الفاظ لري چي له قرآن سره اړخ نه لګوي، دا په داسي حال کي چي د ټولو دیارلسو روایتونو راوي یو دئ! (د دې تفصیل د همدې روایت په شرحي کي وګورئ)، امام بخاري رحمه الله نه دي ویلي چي کوم روایت ئې تر نورو غوره، دقیق او صحیح دئ، هغه له ښه ښه راویانو چي څه اوږدلي په امانت سره ئې رانقل کړي، له دې پرته بله چاره نه لرو چي له دغو متعارضو روایاتو به یو غوره کوو، یا هغه چي وایي موسی علیه السلام ته په سیند کي روان کب د نښې په توګه ټاکل شوی وو یا هغه چي وریت شوی کب نښه ګڼي، د اسنادو له مخي دا پرېکړه نشي کېدی، ځکه که دا کار ممکن وی نو امام بخاري به هرومرو ویلي وو چي کوم ئې ضعیف دئ او کوم ئې صحیح. ده د راویانو ثقه والي ته په پام سره ویلي چي دا ټول روایات صحیح دي، مجبور یو له دغو متعارضو روایاتو به یو

غوره کوو، یا د قرآن په رڼا کي، یا د درایت له مخي یا د دغو روایاتو الفاظو ته په پام سره او یا له نورو روایاتو سره د مقایسې له مخي به ارجح روایت تشخیص او غوره کوو.

د بخاري په اړه لکه څنګه چې د فتح البارئ د مشهور مصنف ابن حجر عسقلاني جامع شرح د قدر وړ ده، د التجرید الصریح للجامع الصحیح د درووند مصنف؛ حافظ ابوالعباس زین الدین احمد رحمه الله اقدام ډېر د قدر وړ او ګټور وو، بخاري ئې مختصر کړ، مکرر روایات ئې حذف او غیر مکرر ئې په یوه کتاب کي راغونډ کړل؛ او په دې توګه ئې د بخاري لوستل آسانه کړ، خو د عمدة القاري د محترم او محقق مصنف علامه بدر الدین محمود بن احمد العیني رحمه الله اقدام تر دې هم زیات مهم او مفید وو، هغه کار چې د بخاري د لوستلو او تدریس په وخت کي هر استاد او طالب العلم ورته ضرورت لري، د بخاري هر روایت څېړل، په خوا کي ئې هغه روایات هم راوړل چې بخاري نه دي راوړي او بیا د دوی تر منځ ارجح ئې په ګوته کول؛ هغه اړین او ضروري کار وو چې ده ترسره کړ، الله تعالی دي ټولو ته ډېر ډېر اجرونه ورکړي. ما په دې شرحي کي له دغو کتابونو زیاته استفاده کړې، د همدې لپاره مي دې کتاب ته په سر کي د فتح القاري نوم غوره کړ، خو وروسته مي د ځینو ورونو په مشوره په حکمة البارئ واړاوو، دا نوم تر فتح القاري د کتاب له محتوی سره زیات مناسبت لري، ځکه الله تعالی د پیغمبرانو علیهم السلام یوه دنده خلکو ته د حکمت ښودنه ګڼي. زه دې نتیجې ته رسېدلی یم چې د

بخاري مدرس او طالب العلم بايد د عمدة القاري په څېر د يوې شرحي له مرستي پرته نه بخاري تدريس کړي او نه د داسي چا د درس په حلقه کي کښېني، که نه نو ځان او نورو ته به دومره ستونزي راولاړي کړي چي جبران به ئې ګران وي.

کوم څه ته چي د رواياتو د چټلو او په يوه جامع کتاب کي د هغوی د راغونډولو په اړه تر هر څه زيات ضرورت لرو همدا کار دئ چي د متعارضو رواياتو تر منځ ارجح ئې غوره شي. ما ګمان کولو چي شيخ الباني به همدا کار کړی وي خو کله چي ما د هغه کتابونه ولوستل متوجه شوم چي ده هم يوازي د راويانو وصف ته په پام سره د صحيح او ضعيف پرېکړه کړې ده، د همدې اسلوب له مخي ئې په صحاح سته کي يوازي بخاري پر زياتو صحيح رواياتو شامل ګڼلی، هغه متعارض روايات ئې هم صحيح ګڼلي چي يوازي يو ئې صحيح کېدی شي نه دوه او نه ټول، صحيح مسلم ئې په نسبي توګه صحيح ګڼلی او څلور نور ئې د صحيح له زمرې ايستلي دي!!

د بخاري هم لومړی روايت غريب دئ او هم ئې آخري روايت، دواړه په صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو کي يوازي يو يو راوي لري، د نورو رواياتو ډېری ئې هم احاد او غريب دي، لږ ئې عزيز او ډېر لږ ئې مشهور دي.

د امام بخاري رحمه الله په اړه مختصر معلومات

امام بخاري رحمه الله په 210 هـ ق کي او په شپاړس کلنۍ کي له خپلي مور او ورور سره د حج په نيت مکې ته

ولاړ، له حج وروسته هملته پاته شو، دوه کاله ئې په مکه کي تېر کړل، بيا مدينې ته ولاړ، هلته او بيا په بصره، کوفه، بغداد، شام او مصر کي ئې زده کړي وکړې، بيا نيشاپور او ری ته ولاړ، له هغه ځايه بلخ او مرو ته ستون شو، د زده کړي او احاديثو راغونډولو ډېره موده ئې په حجاز کي او له داسي مشائخو سره تېره کړه چي په ځينو قضاياوو کي ئې له امام ابوحنيفه رحمه الله سره اختلاف درلود، له همدې امله ئې په خپل کتاب کي هغه روايات نه دي راوړي چي احناف پرې استناد کوي، دغه کار هغه مهال ده ته ستونزي راولاړي کړې چي خپل وطن بخارا ته ستون شو، د هغه ځای ټول خلك، علماء او مشائخ ئې حنفيان ول، کله چي د ده له افکارو او نظرياتو خبر شول نو له ده سره د مخالفت لړۍ پيل شوه، خلکو د بخارا له امير خالد بن احمد ذهلي وغوښتل چي دی له سيمي تبعيد کړي، امام بخاري رحمه الله مجبور شو له بخارا د بيکند په لوري وخوزي، خو مخکي له دې چي هلته ورسيږي خبر شو چي د ده د مخالفت فتنه په بيکند کي هم خوره شوې، ځيني خلك د ده په ضد پاڅېدلي او ځيني د ده پلوي کوي، په دې وخت کي د سمرقند ځينو خلکو ده ته بلنه ورکړه چي د دوی خوا ته ورشي، امام بخاري د دوی بلنه قبوله کړه او د سمرقند په لوري روان شو، کله چي سمرقند ته نژدې د خرتنګ سيمي ته ورسېد؛ نو د غالب ابن جبريل په نامه د يوه دوست کور ته ورغی، د بيماری له امله څه موده هلته پاته شو، په دې وخت کي اطلاع ورکړی شوه چي په سمرقند کي هم ځيني خلك د ده په خلاف تحريك شوي او د ده له ورتلو سره مخالفت کوي، دغه مهال ئې د

دعاء لاسونه اوچت کړل او وئې ويل: خدايه! زمکه له خپلي پراخوالي سره راباندي تنګه شوې ده، ما خپل لوري ته دروبله، الله تعالى ئې دعاء قبوله کړه او د 265 هـ ق کال د کمکي اختر په شپه، په 62 کلنۍ کي له فاني دنيا د عقبى په لور ولاړ؛ او هملته په خرتنګ کي دفن شو إنا لله و إنا إليه راجعون.

ځيني خلك دا هڅه کوي چې ثابته کړي امام بخاري رحمه الله له امام ابوحنيفه رحمه الله سره اختلاف نه درلود، دوی يا د امام بخاري له رأيي خبر نه دي او يا ئې بخاري په دقيقه توګه نه دئ لوستلى، امام بخاري د نوي مذهب بنياد ايښى، خو دې مذهب د ده په ژوند کي خاص مقبوليت ونه موند، د ده له وفات ډېر وروسته هغو خلکو د ده له کتاب د يوه فقهي کتاب په توګه پلوي پيل کړه چې ځان ته اهل حديث وايي، امام بخاري له نورو ائمه وو سره په ځينو قضاياوو کي توافق او په ځينو کي اختلاف لري او په ځينو کي ئې مستقله لار غوره کړې، له احنافو سره ئې اختلاف هم په اعتقادي مسائلو کي زيات دئ او هم په فقهي مسائلو کي، په اعتقادي مسائلو کي ئې د اختلاف يوه بېلګه په ايمان کي د زيادت او نقصان قضيه ده، امام بخاري خپل کتاب له همدې قضيې پيل کړى، د کتاب ډېر بابونه ئې دغي مسئلي ته مختص کړي او دا هڅه ئې کړې چې د ګڼ شمېر رواياتو په استناد خپله رأيه ثابته کړي. په فقهي مسائلو کي ئې د اختلاف بېلګي په لمانځه کي د رفع اليدين، آمين بالجهر، د فاتحې د لوستلو حکم، په امام پسي د مقتدي د قرائت حکم ... دي.

احناف امام بخاري رحمه الله ته په ډېره درنه سترګه ګوري، هغه يو جليل القدر محدث ګڼي، د احنافو په مدرسو کي بخاري د يوه مهم کتاب په توګه لوستل کېږي، دا په داسي حال کي چي بخاري په ډېرو مواردو کي هغه روايات نه دي راوړي چي احناف پرې استناد کوي؛ او د سند له پلوه داسي دي چي هيڅوك پرې اعتراض نه لري او هغه روايات ئې راوړي چي د احنافو له نظره يا د سند له پلوه کمزوري دي او يا له نورو صحيح رواياتو سره تعارض لري.

ويل کېږي چي يوه ورځ د امام بخاري استاد امام اسحاق بن راهويه حنظلي، خپلو شاګردانو ته په خطاب کي وويل: څومره به ښه وی چي که د رسول الله صلى الله عليه و سلم صحيح احاديث په يوه مختصر کتاب کي راغونډ شوي وی، دې خبري د امام بخاري توجه ځان ته راواړوله او همدا د صحيح بخاري د تأليف باعث شوه، د امام اسحاق له وينا معلومېږي چي تر دې د مخه د احاديثو کتابونه ستر ستر وو او هر يوه په زرګونو حديثونه درلودل، چي هر چا ته ئې ويل آسان کار نه وو، د بخاري د مقبوليت او شهرت يوه لويه وجه دا ده چي مختصر دئ، نژدې دوه زره غير مکرر روايات لري، د دې لوستل د هغو کتابونو په پرتله ډېر آسان دي چي د دې څو برابره حتی دېرش زره روايات ئې راغونډ کړي. همدا راز امام بخاری رحمه الله وايي: يوه شپه مي رسول الله صلى الله عليه و سلم په خوب کي وليد چي مخي ته ئې ولاړ يم، بوزی ورته وهم او مچان ترې شړم، دا خوب مي تعبير کوونکو ته تېر کړ، هغوی راته وويل: ته به هغه

جعلي احاديث حذف کړې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته منسوب شوي، دا خوب هم د دې باعث شو چې د احاديثو په راغونډولو کې د ده عزم او اراده لامضبوطه شي.

د بخاري په اړه د اهل حديث ادعاءګاني

هغه مهال چې زه د قرآن په تفسير مصروف وم؛ په تفاسيرو کې داسې متعارض روايات مخې ته راتلل چې د صحت او ضعف په اړه قضاوت او د يوه غوره کول راته ګران وو، سره له دې چې بخاري او مشکوة مې څو ځلې لوستلي وو، هم له استاد او هم له ځان سره، دا لوستل کافي نه وو، تحقيقي لوستلو ته اړ وم، پرېکړه مې وکړه چې صحاح سته ولولم او په بخاري کې تحقيق وکړم، د تفسير کار مې متوقف کړ او د بخاري تحقيق ته مې ملا وتړله، نژدې نه مياشتې مې په مسلسله توګه پرې کار وکړ، د (حكمة البارئ) په نامه د بخاري د پښتو ژباړې او مختصر شرحې لومړی جلد مې بشپړ کړ؛ او د دوهم جلد نژدې دوه سوه صفحې مې وليکلې، همدغه تحقيق راسره مرسته وکړه او دا ئې راوښوده چې د رواياتو د صحت او سُقم په اړه قضاوت وکولی شم. د تفسير پاته برخه مې له دې وروسته وليکله.

د حكمة البارئ لومړی جلد د 1389 هـ ش کال د حمل په درېيمه پای ته ورسېد او چاپ شو، دوهم ځل د 1395 کال د دلوي مياشت کې خپور شو، انتظار دا وو چې ښايي هغه به خامخا او ډېر ژر غبرګون ښيي او څه به پرې وليکي؛ چې ځان ته اهل حديث وايي؛ اما له نېکه مرغه تر 1398 کال

پوري په تېرو لسو کلونو کي څوك ونه توانېدو هغه نقد کړي او څه پرې وليکي؛ لومړی ځل د انتخاباتو د کمپاين په دوران کي او د يوه سيکولر نوماند له لوري توظيف شوي ډېر ضعيف او له قرآن او حديث بې خبر ليکوال؛ د حکمة البارئ نقد ته ملا وتړله؛ خو د دې پر ځای چې حکمة البارئ نقد کړي؛ د همدغه سيکولر نوماند په نفع ئې د حکمة البارئ د ليکوال تورنولو او تخريبولو هڅه کړې، داسي کتاب ئې ليکلی او خپور کړی چې په ځواب نه ارزي، سويه ئې ډېره ټيټه او استدلال ئې ډېر منحط او ضعيف، که په دې کتاب څه مرتب شوي وي نو هغه به يوازي دا وي چې لوستونکي ئې د حکمة البارئ مطالعې ته هڅولي. دا کتاب په اصل کي د مؤلف د افکارو زېږنده نه وو، هغه د خپل کتاب ډېره برخه د بل چا له غير مطبوع کتاب کاپي کړې وه؛ چې هغه هم پروسږ کال خپل کتاب چاپ او خپور کړ. البته تر دې دواړو وړاندي؛ ځينو د فيسبوك له لارې پر حکمة الباري نيوکې کړې وې چې ځواب ئې ورکړی شوی او اړوند ليکني ئې په دغې رسالې کي نشر شوې: (له صحيح حديث تر جعلي راوياتو). همغه مهال ما هم په مستعار نامه يوه ليکنه درلوده چې دلته ئې راوړل مفيد ګڼم؛ تر دې عنوان لاندي: د امت څو سلنه له امام بخاري سره اختلاف لري او څومره ورسره موافق دي؟!! او دا ئې د ليکني متن:

....ځينو فيسبوکي مفتيانو د بخاري په حمايت کي دومره افراط وکړ چې د امام بخاري د هر روايت مخالفين ئې له اسلام او اسلامي امت وتلي او د حديث منکرين وګڼل، دوی ته د يوه خواخوږي او داعي په توګه څو عرائض او

سپارښتني لرم او څو پوښتني؛ پوښتني مي دا دي:

- ما ته ووايئ: په امت کي د بخاري د اتباعو او پلويانو شمېر څومره دئ؟ زه به ئې ځواب درکړم: د امت تر نوي سلنې زيات د څلورو مشهورو حقه مذاهبو پلويان دي، غوڅ اکثريت ئې؛ شاوخوا اويا سلنه ئې احناف دي، نژدې پنځه سلنه ئې د شيعه وو مختلفې ډلې دي، په پاته پنځه سلنې کي ئې ځينې ځان ته اهل قرآن وايي، ځينې اهل حديث او ځينې داسي چې د خاص مذهب متابعت نه کوي، دغه چې ځان ته اهل حديث وايي د بخاري اصلي اتباع دي، امام بخاري ئې امام او صحيح البخاري ئې مذهبي کتاب دئ. د دې معنی دا ده چې د امت ډېر وړوکی شمېر د امام بخاري په اتباعو کي راځي.
- آيا خبر يئ چې امام بخاري رحمه الله له ټولو مخکينيو امامانو سره په ډېرو مواردو کي اختلاف لري، خو دا اختلاف دومره نه وو چې هغوی ته په سپکه سترګه وګوري او يا ئې اتباع تکفير کړي، حتیٰ دومره احتياط ئې کړی چې په اختلافي مواردو کي ئې د مقابل لوري د نامه له يادولو هم ډډه کوله. متأسفانه اوس د ده اتباع د ټولو مذاهبو اتباع تکفيروي، تقليد ته د شرك په سترګه ګوري او مقلدين د مشرکينو په نامه يادوي!! دا په داسي حال کي چې دوی په خپله په تقليد کي دومره غرق دي چې د بخاري هر روايت ورته د قرآن تر آيت هم معتبر بريښي؛ او دليل ئې هم دا چې د آيت يوازي هغه شرح د منلو وړ ده چې د بخاري په صحيح حديث کي راغلې وي. شيعه هم روايت ته پر آيت ترجيح ورکوي او استدلال ئې هم دوی ته ورته دئ، وايي:

مور په قرآن نه پوهيږو، قرآن اوه بطون لري، يوازي د پيغمبر اهل بيت پرې پوهيږي، نو روايت معتبر دئ نه آيت!!!

- آيا خبر يئ چې د احاديثو د کتابونو شمېر څومره دئ؟ دا اوس زما په اختيار کې د احاديثو 280 کتابونه (او اوس 430) دي، هر يو ئې له يو جلد تر دېرشو جلدونو پوري؛ او د احاديثو اړوند نورو کتابونو شمېر د دې تر درې برابره هم زيات. په دوی کې يو ئې صحيح البخاري دئ، بخاري له ټولو نورو کتابونو سره په ډېرو ډېرو مواردو کې اختلافات لري، يا ده د نورو ځينې روايات نه دي منلي او يا نور د ده ځينې روايات د اعتبار وړ نه بولي.
- آيا پوهيږئ چې امام بخاري د مخکينيو ائمه وو د شاګردانو مقام ته هم نه رسي، نه په علم کې، نه د صحيحو احاديثو په راغونډولو کې او نه د قرآن او حديث په استناد د فقهي احکامو په استنباط کې.
- آيا پوهيږئ: څوک چې په لمانځه کې لاس پر سينه نه ږدي، پښې ډېرې ارتې نه نيسي، په جهر سره آمين نه وايي، په جهر لمونځونو کې په امام پسې د فاتحې سوره نه وايي او د امام پر قرائت اکتفاء کوي، په قعده کې ګوته په مسلسله توګه نه خوځوي، په قعده کې يوه پښه تر بلې لاندې نه ږدي، له دوهمې سجدې مخامخ او له ناستې پرته ودرېږي، مختصر ځنډ نه کوي، تراويح شل رکعته کوي نه اته رکعته، له يوه بل ته د ساري مرض انتقال مني، د سپورمۍ د مطالعو اختلاف معتبر نه ګڼي.... په ټولو دغو مسائلو کې له امام بخاري سره موافق نه دي او عملاً ئې

مخالفت کوي؟!! اوس ما ته ووايه: په افغانانو کي د هغو شمېر څومره دئ چې په دې مواردو کي د امام بخاري روايات معتبر ګڼي او عمل پرې کوي او څومره د ده روايات معتبر نه ګڼي او عمل نه پرې کوي او هغو رواياتو ته ترجيح ورکوي چې د بخاري له رواياتو سره تعارض لري؟ امام بخاري يو څه وايي او امام ابو حنيفه بل څه، امام بخاري يو څه وايي او نور ټول مخکيني امامان بل څه، دا هسي څو عام فهم مسائل دي، که نه نو د هغو مسائلو شمېر سلګونو ته رسېږي چې امام بخاري او کتاب ئې په يوې وادي کي او مخکيني ائمه او کتابونه ئې په بلې وادي کي دي. آيا په افغانستان کي به د اهل حديثو شمېر 1% وي؟ د دې 99% افغانانو په اړه ستاسو فتوى څه ده؟ منکر حديث ئې بولئ که منکر روايات بخاري؟ په ټول امت کي د هغو په اړه څه وايئ چې په دغو مواردو کي د افغانانو په څېر عمل کوي؟ آيا دا د امت 98% په دې دليل تکفيروئ او منکر حديث ئې بولئ چې د بخاري اړوند روايات د منلو وړ نه ګڼي؟!!

- آيا پوهېږئ چې په افغانستان کي د اهل حديثو د راتوکېدو لړۍ کله پيل شوه او د چا له لوري او په کومه موخه؟!! زه د داسي چا په توګه چې د حوادثو په متن کي وم او له ډېرو پېښو او جريانانو خبرېدم او د يوه مسلمان په توګه تاسو ته وايم چې د دې تر شا د هغو لاس وو چې په افغانستان کي د مجاهدينو په لاس د يوه اسلامي حکومت له جوړېدو وېرېدل، غوښتل ئې افغانان د دين او مذهب په نامه په خپلو کي وجنګوي. دا لړۍ فقط هغه مهال پيل شوه چې مجاهدين د

روسانو په خلاف په جهاد بوخت ول او بري ته نژدې شوي وو. د اسلام کورني او بهرني دښمنان له دې ووېرېدل چې که په افغانستان کي د مجاهدينو په لاس اسلامي حکومت جوړ شي نو په نورو اسلامي هېوادو کي به هم دا تجربه تکرارېږي. د مخنيوي مناسبه او ارزانه چاره ئې دا وګڼله چې په افغانانو کي مذهبي اختلافات رامنځته کړي.

سپارښتنې مي دا دي:

- امام بخاري رحمه الله يو له لسګونو محدثينو او صحيح البخاري يو له سلګونو کتابونو وګڼئ، مه څوك له امام بخاري سره په کومي مسئلې کي د اختلاف له کبله تکفيروئ او مه څوك د صحيح البخاري له ځينو رواياتو سره د عدم توافق له کبله د حديث منکر ګڼئ. موږ احناف په ډېرو مسائلو کي له امام بخاري سره موافق نه يو او د نورو حقه مذاهبو اتباع هم زموږ په څېر له امام بخاري سره خپل اختلافات لري. لکه څنګه چې امام بخاري له خپلو استادانو سره اختلافات درلودل، شاګردانو ئې له ده سره درلودل، ډېر روايات ده صحيح ګڼلي او شاګردانو ئې ضعيف او په خپلو کتابونو کي ئې د هغوی له رواړلو ډډه کړې. آيا دا مخکيني او وروستني ټول منکر حديث ګڼئ؟!!! په افغانانو کي اختلافات مه راولاړوئ، د مذهبي اختلافاتو فتنې ته لمن مه وهئ، له دوی مه غواړئ چې خپل مذهب بدل کړي، مسلمانان مه تکفيروئ بلکي کافر مسلمان کړئ، د فساد، الحاد، کفر، ظالمانو او اشغالګرانو مقابله وکړئ، داسي مه کوئ لکه چې ستاسو ملګرو په مصر کي وکړل، د مسلمان مرسي په خلاف له مفسد او ظالم جنرال سيسي سره ملګري

شول!! پر اساسي مسائلو ترکیز وکړئ، ګمان مه کوئ چې د فقهاءو او مذاهبو د مخالفت او پر احادیثو د اکتفاء له لارې کولی شو امت متحد کړو!! فقهاءو د دې لپاره د فقه تدوین ته ملا وټړله چې د متعارضو روایاتو له کبله په امت کې شدید اختلاف رامنځته شوی وو. د یوې یوې مسئلې په اړه به له لسګونو متعارضو روایاتو سره مخامخ کېدل، په لکونو جعلي روایات جوړ او خواره شول. د فقهاءو د مبارکو هڅو په نتیجه کې هغه فتنه وځپل شوه.

- تعصب مه کوئ، د بخاري هغه روایات ومنئ او دفاع تري وکړئ چې له قرآن سره تعارض ونه لري، په قرآن کې شاهد ورته وموميئ، په مقابل کې ئې داسي روایات نه وي چې اصح او ارجح وي او مخکینیو محدثینو او امامانو غوره ګڼلي وي. معقوله دفاع وکړئ، دلائل وړاندي کړئ، ښکنځلي مه کوئ، ځکه مسلمان پوچ خولی او لعان نه وي، تکفیرول مه کوئ، ښایي نه پوهیږئ او د بخاري په دې روایت هم عمل نه کوئ چې وایي: د لعن او تکفیر الفاظ تر آسمانونو پورې دروميي، که ئې مصداق ونه موند ببرته د ویونکي پر سر راپرېوځي!! دروغ مه وایئ، افتراء مه کوئ، له مبالغې ډډه وکړئ، په داسي حال کې چې د امت یو وړوکی ټولګی د بخاري کتاب تر نورو غوره ګڼي او د امت غوڅ اکثریت د نورو محدثینو او ائمه وو روایات او کتابونه غوره بولي؛ دا له مبالغې ډکه ادعاء مه کوئ چې ټول امت پر دې اجماع کړې چې بخاري تر قرآن وروسته تر ټولو کتابونو اصح او غوره دئ!! آیا د اجماع په معنی پوهیږئ؟ اجماع یعني د ټول امت بشپړ اتفاق!! مور امام بخاري ته درناوی لرو،

صحيح البخاري ته د يوه دروند او معتبر كتاب په سترګه ګورو؛ خو په خپل حد كي. له پيغمبر عليه السلام رالاندي هيڅوك معصوم نه ګڼو، مور له خپل امام؛ ابو حنيفه سره نه يوازي اختلاف كول جائز ګڼو بلكي په ډېرو مسائلو كي د ده د شاګردانو رأى ته ترجيح وركوو، په ځانګړي توګه هغه مهال چي استاد يوه لوري ته او شاګردان ئې بل لوري ته وي. مسلمان حقپال وي نه شخصيتپال، د حق پېژندو لپاره رونړ څراغ او ځلانده معيار او ملاك (قرآن) په واك كي لرو، راشئ د قرآن په دې لارښووني عمل وكړو چي فرمايي: وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللهِ: او په هر هغه څه كي چي اختلاف وكړئ نو حكم ئې الله تعالى ته راجع كېږي. حتماً به پوهېږئ چي د (هر څه) په ضمن كي روايات هم راځي، يعني كه په رواياتو كي هم له اختلاف سره مخامخ شوئ نو پرېكړه ئې د الله تعالى له لارښود قرآن وغواړئ؛ ما د حكمة البارئ په ليكلو كي فقط همدا كار كړى.

د شرحي اسلوب

ما د دې شرحي په اړه دا اسلوب غوره کړی:

1. په ډېر احتياط او بشپړ امانت سره د روایاتو ژباړه او شرح وړاندي کول.

2. هر روايت مي لومړی په بخاري کي لټولی چي وګورم څو ځلي نور په کومو الفاظو او له کومو اسنادو سره راغلی، د دوی تر منځ په کومو برخو کي توافق او یووالی دئ او په کومو برخو کي توپیر، تعارض یا تضاد؟ بیا مي ځیني روایات په ځانګړې توګه هغه چي د مزید دقت غوښتنه ئي کوله او یا ئې په خپلو منځونو کي تعارض درلود د احادیثو په ټولو کتابونو کي لټولی چي وګورم نورو کتابونو راوړی که نه؟ آیا په همدې صیغه او له همدې اسنادو سره ئې راوړی که له څه توپیر سره؟

3. د همدې په رڼا کي راته معلومه شوې چي دا روایت د سند له مخي متواتر دئ، مشهور دئ، عزیز دئ او که غریب؟ د صحابه وو په دور کي څو راویان لري، د تابعینو په دور کي څو او د تبع تابعینو په دور کي څو؟

4. ما دا کار د کمپیوټر په مرسته کړی، داسي چي لومړی مي تر بحث لاندي روایت مخي ته ایښی، بیا مي په بخاري

کي د دې روايت تکراري متنونه له اسنادو سره راوړي، بيا مي د احاديثو په ټولو کتابونو کي لټولی چي شمېر ئې 435 ته رسېږي، چي ځينې ئې يو يو جلد او ځينې ئې څو څو جلدونه دي؛ او ټول مي د دغو رواياتو تر څنګ ايښي، له دې وروسته مي معلومه کړې چي دا روايت د صحابه وو په دور کي څو راويان لري او د تابعينو او تبع تابعينو په دور کي څو څو؟ په بخاري کي په کومو الفاظو راغلی او په نورو کتابونو کي په کومو الفاظو، بيا مي دا هڅه کړې چي وګورم د دې روايت معارض روايت په بخاري او نورو کتابونو کي شته که نه؛ معارض روايات مي د دې روايت تر څنګ ايښي، دا کار که څوك له کمپيوټر پرته کوي نو يو روايت په يوه کتاب کي لټول او څېړل ساعتونه ساعتونه نيسي او په ټولو کتابو کي مياشتي مياشتي. زه په يقين سره ويلی شم چي دا کار تر دې د مخه او له کمپيوټر پرته شبه محال وو.

5. بخاري دا کار نه دئ کړی چي د خپل هر روايت تر څنګ وليکي چي په هر دور کي ئې راويان څومره دي او د اسنادو له پلوه ئې اعتبار څومره دئ؟ متواتر دئ، مشهور دئ، عزيز دئ که غريب؟ که غريب دئ نو يوازي په صحابه وو کي يو راوي لري او که په تابعينو او تبع تابعينو کي هم؟ څوك چي د بخاري يو روايت لولي نو په دې نه پوهېږي چي د اسنادو له پلوه د دې روايت اعتبار او وزن څومره دئ؟ شيخ ئې هم دا خبره نه ورته کوي، شيخ ئې يوازي د لومړي روايت په اړه داسي تفصيلي بحث ورته وکړي چي له صرف او نحوي نيولې د جاهليت د دور تر ادب پورې د ټولو

علومو نيلي په کي وزغلوي، د دومره کتابونو نومونه ورته واخلي چې طالب العلم هك پك کړي، خو لا لسم حديث ته نه وي رسېدلی چې په ټاپ ګټر کي ځغاسته پيل کړي، شرح، توضيح، پر اسنادو بحث، د تعارض څېړل خو پرېږده د روايت متن به هم داسي تېز تېز لولي چې طالب خوارکی ئې په دوړو پسي هم نشي رسېدلی!!

- بخاري دا کار هم نه دئ کړی چې ووايي: آيا د دې روايت معارض روايت هم شته که نه؟ آيا په صحابه وو کي داسي څوك شته چې له دې روايت سره ئې اختلاف درلودو او د دې پر ځای ئې داسي څه ويلي وي چې د ده له روايت سره په بشپړه توګه تعارض لري؟
- ما هغه روايات هم لټولي چې د بخاري له رواياتو سره تعارض لري؛ او امام بخاري رحمه الله په خپل کتاب کي نه دي راوړي، دا مي په نورو کتابونو کي موندلي او د اړوند رواياتو په خوا کي مي ايښي، بيا مي د دوی متن او اسنادو ته په پام سره قضاوت کړی چې کوم يو ئې ارجح دئ او په کوم دليل؟ کوم يو ئې له قرآن سره اړخ لګوي او کوم يو نه؟ د کوم يوه اسناد تر بل د زيات اعتبار وړ دي؟ د کوم يوه متن تر بل مضبوط او د اعتماد وړ برېښي؟

محدثين د راويانو صفاتو ته په پام سره دا پرېکړه کوي چې کوم حديث ته صحيح، کوم ته حسن او کوم ته ضعيف ووايي، پرته له دې چې د حديث د متن په اړه قضاوت وکړي، ځيني وايي: کله چې د حديث اسناد سم وي او راويان ئې د اعتبار وړ نو د حديث متن هم صحيح دئ او له شك لوړ! خو دا خبره صحيح نه ده، دا ځکه چې نېك او

صالح انسان هم اشتباه کوي، خبره ئې هېرېږي، د يوې خبري د اصلي مطلب په پېژندو کي غلطېږي، تاسو به په بخاري کي ګڼ شمېر داسي روايات وموميئ چي تر منځ ئې جدي او ژور تعارض دئ، په يوې موضوع کي له يوه راوي يوه کس يو مطلب په يوې صيغې روايت کړی او بل له همدې کس همدا مطلب په بلي صيغې او د دې عکس، د اسنادو له مخي دواړو ته صحيح ويل شوي خو د متن او محتوی له پلوه يوازي يو صحيح کېدی شي نه دوه.

څه چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مورِ ته له ډاډمني لاري او د داسي ثقه راويانو په ذريعه رارسېږي چي د دوی د صداقت په اړه شك نشي کېدی او پر درواغو د دوی اتفاق محال بربښي نو مورِ د بشپړي تسليمۍ لاسونه لوړوو، آمنا و سلمنا وايو او خپل ذاتي افکار لري غورځوو، که ټوله نړۍ يو څه ووايي او دا روايت بل څه نو مورِ د همدې روايت خبره کوو، خو که تر يو لك نه له زياتو صحابه وو، له څو لکو تابعينو او له لکونو تبع تابعينو يوه يوه کس د رسول الله صلى الله عليه و سلم د قول، فعل يا تقرير په اړه څه ويلي وي نو د هغه په منلو او بل ته د ويلو او پر هغه د استناد په اړه احتياط کوو، دا حق ځان ته ورکوو چي ووايو: ولي دا روايت له دومره صحابه وو نه يوازي يو راوي لري؟ ولي له دومره تابعينو بل چا دا خبره نه ده کړې؟ ولي له لکونو تبع تابعينو بل چا دا خبره نه ده کړې؟ داسي روايت هم منلی شو خو په هغه صورت کي چي: له قرآن سره تعارض ونه لري، د بل صحيح حديث خلاف نه وي، په ډېرو خلکو پوري اړوند خبره يوازي يوه

کس نه وي کړي، محتوی ئې د سالم عقل او عام الهي سنت خلاف نه وي.

مورږ په دې باور یو چې قرآن د حق او باطل لپاره محك او معیار دئ، هره اختلافي خبره باید قرآن ته راجع شي او د قرآن پرېکړه وروستۍ پرېکړه وګڼل شي، دا نه منو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم دي د قرآن خلاف خبره کړې وي، هغه روایت قطعاً د اعتبار وړ نه بولو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسي قول، فعل یا تقریر منسوبوي چې د قرآن خلاف وي.

دغه قرآن چې اوس زمورږ په واك کي دئ د ټولو صحابه وو په اجماع سره همغه قرآن دئ چې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم نازل شوی، هغه روایات د اعتبار وړ نه ګڼو چې د قرآن د ځینو آیتونو په اړه داسي خبره کوي چې ښیي فلان کس د کوم آیت کوم لفظ یا ترکیب له اوسنۍ بڼې پرته په بله بڼه کي ښودلی، نه یوازي داسي روایات د منلو وړ نه ګڼو بلکي په دې عقیده یو چې دا له دې پرته بله پایله نه لري چې په مسلمانانو کي بې فائدې او حتی مضر اختلاف راولاړ کړي. په کار ده د کتابونو له متن ټول داسي روایات وایستل شي. متواتر احادیث، په تواتر سره له یوه بل نسل ته انتقال شوي فعلي سنن له شك، اعتراض او نقد لوړ ګڼو، د دین یوه لویه برخه په همدې توګه تر مورږ رارسېدلي، د مثال په توګه د لمانځه اوقات، د رکعتونو شمېر، د أذان الفاظ، د حج مناسك، د زکات اندازه، د نکاح اړوند احکام، د روژې ځرنګوالی؛ او دې ته ورته نور مسائل. که څوك نن داسي روایات راباسي چې په تېرو څوارلسو پېړیو کي هیڅا ورته

اعتناء نه ده کړې بايد له منلو ئې ډډه وکړو.

قرآن د الله تعالى کلام دئ، د حق وروستى دقيق معيار دئ، د ښه او بد، مفيد او مضر، حلال او حرام لپاره ملاك دئ، د انسان لپاره د ژوند په ټولو برخو کي رون لارښود دئ، د دنيوي سعادت او اخروي بريا ضامن دئ، لارښووني ئې کافي او شافي دي، نه داسي څه ترې پاته دي چې انسان ورته اړتيا لري او قرآن پرې بحث نه وي کړى او نه داسي څه په کي راغلي چې انسان ورته اړتيا نه لري، نه په کي ابهام شته او نه د شك مجال، څوك چې له قرآن پرته په بل څه کي هدايت لټوي په کږو لارو سر کيږي او هيڅکله به ئې هدايت په برخه نشي، دا قرآن پر رسول الله صلى الله عليه و سلم نازل شوى، هغه په بشپړ امانت سره تر خلکو رسولى، تر مور پورې له هيڅ تغيير پرته راسپدلى، الله تعالى ئې د حفاظت ذمه وار دئ، تر قيامت به همداسي له تغيير او تحريف نه خوندي پاته وي. رسول الله صلى الله عليه و سلم د قرآن حامل، شاهد، مبلغ او شارح دئ، د قرآن الفاظ ئې خلکو ته اورولي، معنى ئې ورته ښودلې، تقاضا ئې په خپل عملي ژوند کي خلکو ته انځور کړې، د رسول الله صلى الله عليه و سلم قول او عمل، اداب او اخلاق د قرآن عملي تجسم وو، پيغمبر عليه السلام مطاع مطلق دئ، قول، عمل او تقرير ئې زمور لپاره حجت دئ، دا ځکه چې د ده اطاعت د الله تعالى اطاعت دئ، لکه څنګه چې صحابه پر دې مکلف ول چې په هر څه کي به د رسول الله صلى الله عليه و سلم اطاعت او متابعت کوي، همدا راز مور پر دې مکلف يو چې پر هغه حديث به عمل کوو چې له ډاډمني لاري تر مور

رارسېدلی، که داسي وينا مو مخي ته راغله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته منسوب شوې خو د متن او سند د صحت په اړه ئې ډاډه نه يو نو قرآن ته به ئې راجع کوو، د قرآن په رڼا کي به د هغې په اړه وروستۍ پرېکړه کوو، پر دي مو بايد بشپړ باور وي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم نه د قرآن په خلاف کومه خبره کړې او نه کوم عمل، ممکنه نه ده چي کوم صحيح حديث دي له قرآن سره تعارض ولري، د يوه روايت د سند او متن د عدم صحت لپاره دا کافي ده چي له قرآن سره تعارض ولري، دا فرضيه د اورېدو وړ مه بولئ چي که د صحيح روايت او قرآن تر منځ تعارض راشي څه به کوو؟!! زموږ يوازينی او پرېکنده ځواب بايد دا وي چي دا يوه غلطه فرضيه ده، په ځواب نه ارزي، د صحيح حديث او قرآن تر منځ تعارض محال دئ. هغه روايت قطعاً صحيح نه دئ چي له قرآن سره تعارض ولري، هغه روايت چي له قرآن سره تعارض نه لري خو په قرآن که ورته شاهد هم نه مومو که ئې سند د ډاډ وړ وو او په متن کي ئې څه ستونزه او اضطراب نه تر سترګو کېدو له ځنډ پرته ئې بايد ومنو، خو که ئې سند محل د شك وو؛ او د متن لپاره ئې په قرآن کي شاهد نه تر سترګو کېدو، نو نه به ئې له دقت او احتياط پرته منو، نه به ئې نورو ته وايو او نه به پرې استناد کوو، رسول الله صلى الله عليه و سلم موږ ته امر کړی چي داسي څه ورته منسوب نه کړو چي پر حقانيت ئې پوه نه يو.

کله چي د يوې مسئلې په اړه د دوو فقهاءو او محدثينو تر منځ د رأيي اختلاف گورو، د هغه چا رأيي ته ترجيح

ورکوو چي تر بل ئې دلائل مضبوط وي، له قرآن او حدیث شاهد ولري، که مو له دغه پلوه د دواړو دلائل یو شان وموندل نو بیا د هغه چا رأیي ته ترجیح ورکوو چي د صحابه وو دور ته نژدې وي، د مثال په توګه که د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام بخاري رحمه الله د دوو داسي متعارضو آراوو تر منځ قضاوت ته اړ شوو چي د دواړو دلائل یو برابر وي نو موږ د امام ابوحنیفه رحمه الله رأیي ته په دې دلیل ترجیح ورکوو چي هغه تابعي دئ، صحابه ئې لیدلي، ډېر عملي سنن له رسول الله صلی الله علیه و سلم په تواتر وررسېدلي، صحابه او تابعین تر نورو په قرآن او حدیث ښه پوهېدل. د همدې لپاره موږ د لمانځه د څرنګوالي، أذان او اقامت او نورو بدني او عملي عباداتو په اړه د امام ابوحنیفه رأیي ته ترجیح ورکوو، دا ځکه چي هغه ته نه یوازي صحیح احادیث رسېدلي بلکي د دغو عباداتو څرنګوالی ئې د صحابه وو په کړنو کي عملاً په خپلو سترګو لیدلي، په دې اړه امام بخاري ته څو نسله وروسته داسي روایات وررسېدلي چي ډېری ئې غریب دي، طبیعي ده چي غریب روایات د متواتر سنت په وړاندي ډېر لږ وزن او اعتبار لري.

ما د تحقیق په دوران کي هغه روایات په لا زیات دقت سره څېړلي چي فقهاء او محدثین په کي اختلاف لري. دا نه د دې لپاره او نه په دې موخه چي زه د کوم خاص مذهب له دریځ نه په ناحقه او د ناروا تعصب له مخي دفاع وکړم، له دې الله تعالی ته پناه وړم، دا کار مي یوازي د دې لپاره کړی چي حقیقت ښه څرګند شي، ما د هغو خلکو اسلوب نه دئ

غوره کړی چې د کوم مذهب په اړه ډوند تعصب لري او یوازې هغه روایات لټوي او د اعتناء وړ ئې ګڼي چې د دوی د رأیې تأیید کوي.

ځینې داسې دي چې د قرآن تر صریح آیت یوه غریب روایت ته زیات اهمیت ورکوي، د قرآن د یوه آیت هغه معنی مني چې له همدې غریب روایت سره ورته وي، دوی ته روایت معیار وي او د قرآن آیت د همدې روایت په تله تلي، حال دا چې پر قرآن د ایمان تقاضا دا ده چې قرآن وروستی معیار وي او هر څه د قرآن په تله وتلل شي، روایت یوازې په هغه صورت کې ومني چې له آیت سره تعارض ونه لري.

ځینې خلك له بخاري د احنافو په ضد د یوې وسیلې په توګه استفاده کوي، د بخاري هغه روایات چې د احنافو د رأیې خلاف مطالب لري په ډېر زور او شور سره بیانوي او خپل مخاطب ته دا انتباه ورکوي چې ګواکې یوازینی صحیح حدیث همدا دئ او د احنافو دریځ د دې صحیح حدیث خلاف دئ او هغوی د خپلې رأیې د تأیید لپاره هیڅ صحیح حدیث نه لري!! دا ډېره ظالمانه، پر تعصب ولاړه او د حقیقت خلاف خبره ده، یوازې هغه څوك د داسې غلطې خبرې جسارت کولی شي چې یا ډېر کمعلمه او کمعقله وي او یا په ړانده تعصب اخته وي، د ایمان تقاضا دا ده چې زمونږ هر قضاوت منصفانه او له شخصي اغراضو لوړ وي، باید خپل مخاطب ونه غولوو، هغه ته دروغ ونه وایو، د هرې اختلافي موضوع په اړه ټول متعارض روایات د هغه مخې ته کښېږدو، په صفا زړه او شفافې لهجې سره هغوی وڅېړو او وروستۍ پرېکړه وکړو. طالب العلم هم باید داسې ونه

کړي چې خپل رزق د خپل شیخ په سند او پګړۍ پورې تړلی وګڼي او د دې لپاره د هغه ښه او بده، سمه او غلطه خبره ومني چې له مدرسې ئې ونه باسي او د سند له تر لاسه کولو ئې محروم نه کړي. ما د یوه کس د بخاري د درس سي ډي اورېده چې ویل ئې: څوك چې وایي امام ابو حنیفه په صحیح احادیثو استناد کړی هغه احادیث چېرې دي؟ کتاب ئې چېرې دئ؟... خپلو مخاطبینو ته ئې دا انتباه ورکوله چې ګواکې ټول صحیح احادیث په بخاري کې راغونډ شوي او په دې کې د احنافو د استناد وړ هیڅ حدیث نشته!! د ده دا ادعاء تر دې ځایه سمه ده چې بخاري هغه احادیث نه دي راوړي چې احناف پرې استناد کوي خو دا ډېر ظالمانه او د حقیقت خلاف قضاوت دئ چې یوازي یو بې علمه او متعصب انسان ئې د کولو جسارت کولی شي. د ده خبرې داسي وې لکه د احنافو په ضد چې په کوم تاوده سنګر کې ناست وي او پر له پسې ډزې کوي، خپلو مخاطبینو ته ئې ویل چې زموږ د بریا ورځې نژدې دي، ورروان یو او د دوی سنګرونه به یو په بل پسې فتح کوو!!! دا خبرې ئې په داسي مهال کې کولې چې د نړۍ ټول کفري ځواکونه د مسلمانانو په ضد متحد شوي، افغانستان او عراق ئې نیولي او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د اسلام په ضد ستر او پراخ توده او سوړ جنګ، نظامي او فرهنګي یرغلونه روان دي او غواړي د اسلام ټغر د زمکې له سر نه ټول کړي!! خو دا کمعقله شیخ د خپل جومات په کنج کې د احنافو په ضد په جګړه بوخت دئ او اصلي دښمنان تري هېر!!

له دې شرحي زما یو مقصد دا وو چې واقعي علماءو او

مخلصو طالب العلمانو ته د بخاري يوه داسي شرح وړاندي کړم چي هم د بخاري د هغو روایاتو د اسنادو څرنګوالی په کي څېړل شوی وي چي له نورو صحیح روایاتو سره تعارض لري او هم د هغو روایاتو څرنګوالی چي د احنافو له نظره د استناد وړ دي او د بخاري له روایاتو سره مغایرت لري.

بسم الله الرحمٰن الرحيم

د بخاري مقدمه

بخاري په دې حديث پيل شوى:

1- حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ عَبْدُ الله بْنُ الزُّبَيْرِ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيُّ قَالَ أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيُّ أَنَّهُ سَمِعَ عَلْقَمَةَ بْنَ وَقَّاصٍ اللَّيْثِيَّ يَقُولُ سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ- رضي الله عنه- عَلَى الْمِنْبَرِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ إِلَى امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ"

1- له علقمه بن وقاص روايت دئ چې له عمر رضي الله عنه مي د منبر پر سر واورېدل چې وئې ويل: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چې فرمايل ئې: يقيناً چې عملونه په نيتونو پوري تړلي دي؛ او هر چا ته همغه څه دي چې نيت ئې کړى، نو د چا چې هجرت د دنيا لپاره وي چې په برخه ئې شي او يا د کومي ښځي لپاره چې په نکاح ئې کړي، نو هجرت ئې د همغه څه لپاره دئ چې د هغه په لوري ئې هجرت کړى.

تکرار: دا روایت په بخاري کي اته ځلي په دغو شمېرو راغلی: 1- 54 - 2529 - 3898 - 5070 - 6689 - 6953 - 2527 -

دا روایت امام بخاري ته له خپل استاد حمیدي د راویانو د شېرِ کسیزي لړی له لوري رسېدلی؛ او اوه ځلي نور ئې هم هغه په مکرره توګه نقل کړی، دلته په استثنائي توګه دغه مکرر روایات ستاسو مخي ته ږدم؛ خو په نورو مواردو کي او د اختصار لپاره د هغوی له رانقلولو تېرېږم، که ټول مکرر روایات له ژباړي او شرحي سره راوړم نو له حکمة البارئ به څو جلدونه ضخیم کتابونه جوړ شي؛ په ټولو دې مکررو روایاتو کي يَحْيَى بْنِ سَعِيد له محمد بن ابراهیم؛ هغه له عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ او هغه له عمر رضي الله عنه روایت کړی، په دې توګه د بخاري دا روایت د محدثینو له نظره مطلق غریب روایت دئ چي د صحابه وو، تابعینو او تبع تابعینو له دور یوازي یوه یوه کس روایت کړی، له یحیی وروسته راویان ېپل ېپل او زیات دي، د بخاري په نورو روایاتو کي به وګورئ چي ډېری ئې غریب دي او په تکرار سره راغلي، کاش بخاري د روایت متن یو ځل راوړلی او په خوا کي ئې د راویانو مختلفي سلسلې او له نورو سره د متن توپیر بیانولی، په دې سره به هم لوستونکو ته کار آسان شوی وو او هم به د بخاري حجم راکم شوی وو، په دې صورت کي به بخاري د اوسني ضخامت نژدې پنځمي ته راکوز شوی وو. په دې اړه چي مسلم او ترمذي کوم اسلوب غوره کړی؛ ارجح بربښي.

لومړي روایت او تکرار ئې داسي دئ:

1- حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ عَبْدُ الله بْنُ الزُّبَيْرِ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيُّ قَالَ أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيُّ أَنَّهُ سَمِعَ عَلْقَمَةَ بْنَ وَقَّاصٍ اللَّيْثِيَّ يَقُولُ سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ- رضي الله عنه- عَلَى الْمِنْبَرِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ إِلَى امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ"

54 - حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا مَالِكٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ، عَنْ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ، وَلِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لدُنْيَا يُصِيبُهَا، أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ»

2529 - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ اللَّيْثِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ، وَلِامْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ»

3898 - حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ هُوَ ابْنُ زَيْدٍ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ رَضِيَ

اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ص:57]، يَقُولُ: «الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ»

5070 - حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ الحَارِثِ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «العَمَلُ بِالنِّيَّةِ، وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا، أَوِ امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ»

6689 - حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الوَهَّابِ، قَالَ: سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ، يَقُولُ: أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، أَنَّهُ سَمِعَ عَلْقَمَةَ بْنَ وَقَّاصٍ اللَّيْثِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ، وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ»

6953 - حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَخْطُبُ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ، وَإِنَّمَا

لِامْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، وَمَنْ هَاجَرَ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ»

2527- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ النَّضْرِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ بَشِيرِ بْنِ نَهِيكٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَعْتَقَ نَصِيبًا أَوْ شَقِيصًا فِي مَمْلُوكٍ فَخَلَاصُهُ عَلَيْهِ فِي مَالِهِ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ وَإِلَّا قُوِّمَ عَلَيْهِ فَاسْتُسْعِيَ بِهِ غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ تَابَعَهُ حَجَّاجُ بْنُ حَجَّاجٍ وَأَبَانُ وَمُوسَى بْنُ خَلَفٍ عَنْ قَتَادَةَ اخْتَصَرَهُ شُعْبَةُ بَاب الْخَطَإِ وَالنِّسْيَانِ فِي الْعَتَاقَةِ وَالطَّلَاقِ وَنَحْوِهِ وَلَا عَتَاقَةَ إِلَّا لِوَجْهِ اللَّهِ وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى وَلَا نِيَّةَ لِلنَّاسِي وَالْمُخْطِئِ

كه پورتنيو رواياتو ته ځير شئ نو وبه ګورئ چې په الفاظو کې ئې توپيرونه شته، ځينې ئې لنډ او ځينې ئې اوږده دي، ځيني الفاظ په يوه کې راغلي او په بل کې نه؛ په يوه کې (الاعمال) او په بل کې (العمل)، په يوه کې (النية) او په بل کې (النيات)، په يوه کې (لامرئٍ) او په بل کې (لكل امرئٍ)، په يوه کې إِلَى دُنْيَا او په بل کې لِدُنْيَا او همداسي نور توپيرونه. بخاري دغو توپيرونو ته په پام سره اړ شوی چې ټول روايات راوړي او قضاوت ئې لوستونکو ته پرېښی چې کوم ترې غوره کوي، دا حکم ئې نه دئ کړی چې کوم روايت له کومو الفاظو او ترکيب سره ارجح ورته برېښي، حال دا چې دا ډېره مهمه او ضروري مسئله ده، که نه نو لوستونکی په شك کې لويږي چې په يوې موضوع پوري

اړوند روایاتو کي کوم یو ومني، په کوم یوه عمل وکړي، په یوې جملې کي د یوه لفظ تغییر په معنی کي ډېر بدلون راولي، لکه په دغه لومړني روایت کي لوستونکي ته دا پوښتنه راولاړېږي: ټول اعمال په نیت پورې تړلي دي او که کوم خاص عمل؟ (ځکه، په یوه کي العمل او په بل کي الاعمال) راغلي، پیغمبر علیه السلام د (نیة) صیغه کارولې که د (نیات)؟، د وینا اصلي بڼه کوم روایت منعکس کړي؟

ما د حکمة البارئ د لیکلو په دوران کي د هر روایت خوا ته هم په بخاري کي د هغه تکراري موارد ایښي او هم په نورو کتابونو کي راغلی متن ئې او له هغه سره متعارض روایات؛ توپیرونه مې په مجمله توګه د (تکرار) تر عنوان لاندي د لوستونکو مخي ته ایښي؛ بیا مي هڅه کړې د دې روایت لپاره په قرآن کي شاهد ومومم؛ د محدثینو او فقهاءو آراء ولټوم او دې ټولو ته په پام سره وګورم چې کوم روایت له کوم ترکیب او الفاظو سره ارجح دئ؛ د ټولو اړوند او مشابه روایاتو له راوړلو مي د دې لپاره ډډه کړې او هغه مي حذف کړې او په خلاصې مې اکتفاء کړې چې د کتاب حجم زیات نه شي.

همدا راز که دغو روایاتو ته ځیر شئ نو هرومرو به دا پوښتنه درسره پیدا کېږي چې پیغمبر علیه السلام تر دې د مخه څه ویل؟ آیا د هجرت په اړه ئې خبري کولې که پر دې چې د عمل تعلق له نیت سره څنګه دئ؟ د بحث اصلي موضوع څه وه؟ ځکه یوازي په دې خبري له پوهېدو وروسته ویلی شو چې د نیت او عمل تر منځ دا تعلق عام دئ که خاص؟ یوازي د هجرت په څېر نیك عمل احتواء کوي

كه هر عمل؟ د روايت له وروستۍ برخي داسي معلومېږي چي پيغمبر عليه السلام د هجرت په اړه بحث کولو، د همدې بحث په ترڅ کي ئې ويلي چي هجرت هغه عمل دئ چي د انسان نيت ئې څرنګوالی ټاکي. دا ځکه چي د نيت او عمل تړاو په لاندي صورتونو کي وي:

- نېك نيت او نېك عمل
- بد نيت او نېك عمل
- نېك نيت او بد عمل
- بد نيت او بد عمل
- يوازي نېك نيت له عمل کولو پرته
- يوازي بد نيت له عمل کولو پرته

په دغو شپږو صورتونو کي د نيت او عمل تړاو يو شانته نه دئ، په ټولو کي دا خبره صدق نه کوي چي نيت د عمل څرنګوالی ټاکي، يوازي په نېك عمل کي نيت اعتبار لري، په بد عمل کي نيت اعتبار نه لري، نېك نيت له عمل کولو پرته هم معتبر ګڼل کېږي او انسان پر بد نيت له عمل پرته نه نيول کېږي. بد عمل په هر صورت کي بد دئ، که ئې تر شا نېك نيت وي يا بد نيت، دلته نيت هيڅ اعتبار نه لري.

په قرآن کي دا مطالب (إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ) او (وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى)؛ نه لفظاً او صراحتاً مومو او نه تلويحاً او معناً؛ د دې خلاف دا مومو: (وَأَنْ لَيْسَ لِلإِنْسَانِ إِلا مَا سَعَى) النجم 39: او دا چي انسان ته له خپلي سعي پرته بل څه نشته. يعني قرآن د انسان برخليك او عاقبت د ده د عمل په څرنګوالي پوري مشروط او منوط ګڼلی؛ او همدا د ټولو

الهي كتابونو محوري مطلب ښيي؛ اما دا روايت د دې اصل خلاف وايي: هر انسان به همغه څه تر لاسه کوي چې ده ئې نيت کړی!!

دغو خبرو ته په پام سره په بشپړ اطمئنان سره ويلی شو چې دا روايت د پيغمبر عليه السلام د هغې وينا يوه برخه زمونږ مخې ته ږدي چې د هجرت په اړه ئې کړې. نو په دغو رواياتو کې هغه راجح دئ چې د (الاعمال) پر ځای (العمل) په کې راغلی.

د بخاري د لوستلو په دوران کې به تاسو ته يوه بله مسئله هم مخې ته راشي، هغه دا چې وبه ګورئ د روايت سياق او سباق ته له اشارې پرته د کلام يوه برخه رااخيستل شوې، لوستونکی په دې نه پوهيږي چې دا حديث کله ويل شوی؟ په څنګه حالت کې ويل شوی؟ تر دې مخکې څه ويل شوي؟ دا د يوې بشپړې وينا کومه برخه ده که يوه مستقله وينا؟ د قرآن او حديث يو ژور توپير په دې کې دئ چې د قرآن هره سوره يوه مستقله موضوع ده، د سورې آيتونه يو له بل سره ترلي دي او په ګډه ئې يو مشخص مضمون جوړ کړی، هر آيت په خپله په ځانګړې توګه هم يو بشپړ مطلب افاده کوي او له مخکې او وروسته آيت سره په ګډه هم، د آيت سياق او سباق ته په پام سره د هغه مطلب په واضح او بشپړه توګه د لوستونکي مخې ته راځي، خو د احاديثو کتابونه داسي نه دي، د پيغمبر عليه السلام هره وينا او خطبه په بشپړه توګه نه ده رااخيستل شوې، بلکې هر راوي د وينا يوه ځانګړې برخه حفظ کړې او هغه ئې نورو ته انتقال کړې، داسي نه دي شوي چې چا مثلاً د پيغمبر

علیه السلام یوه بشپړه خطبه لیکلې وي او نورو ترې اقتباس کړې وي، پیغمبر علیه السلام دا اجازه نه وه ورکړې، د هغه تأکید پر دې وو چې د خلکو توجه له قرآن بل لورې ته وانه وړي، یوازې قرآن ولیکل شي، حفظ شي او نورو ته انتقال شي. طبیعي ده چې د یوې خطبې ټول مطالب په بشپړه توګه حفظ کول که محال نه وي نو ډېر ګران کار دئ، هر چا د خطبې یوه برخه حفظ کړې او نورو ته ئې ویلې، دا هم ډېره طبیعي ده چې په الفاظو کې تبدیلي راشي او د ځینو الفاظو پر ځای مترادف الفاظ راشي، د همدې لپاره محتاط کسان د پیغمبر علیه السلام د هر حدیث په پای کې وایي: او کما قال رسول الله صلی الله علیه و سلم: او یا لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي!

دغو خبرو ته په پام سره ګورو چې له مختلفو روایاتو د یوه غوره کول نه یوازې دې ته ضرورت لري چې د راویانو په اړه دقت او تحقیق وشي بلکې په الفاظو او ترکیب کې ئې هم باید له درایت او دقت کار واخیستل شي، دا ځکه چې په روایاتو کې د الفاظو او د هغوی د ترکیب له پلوه پراخ او ژور توپیرونه تر سترګو کېږي؛ او دا یوه طبیعي خبره ده ځکه چې روایات تر هغو محدثینو پورې په لیکلې بڼه نه دي رسېدلي چې د کتاب بڼه ئې ورکړې، خوله په خوله انتقال شوي، په ټولو کې به وګورئ چې د (حدثنا) او (قال) الفاظ راغلي، داسي مورد به ډېر لږ په نظر درشي چې په لیکلې بڼه کې کوم روایت له یوه بل ته رسېدلی وي.

د امت فقهاءو دغو خبرو ته په پام سره مختلف، متعارض او حتی متضاد روایات چنلي، یو ئې ترې غوره

کړی او هغه ئې د یوه حکم بنسټ ګرځولی؛ او اختلاف رأی ئې پای ته رسولی، خو د حدیث هغه کتابونه چې له ائمه وو وروسته لیکل شوي دا کار ئې نه دئ کړی، دا دئ ګورئ چې بخاري یو روایت اوه ځلي نقل کړی، داسي چې په الفاظو کې ئې ډېر توپیرونه دي، له دوی د یوه انتخاب ئې لوستونکو ته پرېښی!! د بخاري ټول هغه روایات به دې ته ورته وومئ چې په مکرره توګه ئې نقل کړي، په ځینو کې خو به دومره شدید تعارض وګورئ چې تلفیق ئې قطعاً امکان نه لري او له دې پرته بله هیڅ چاره به په نظر نه درځي چې له ټولو یوازي یو غوره کړئ.

د دغو حقائقو په رڼا کي ویلی شو: څوك چې ځان ته اهل حدیث وایي او ګمان کوي چې هر څوك کولی شي له بخاري احکام راوباسي او عمل پرې وکړي، نه د فقهاءو آراءو ته په مراجعې اړ کېږي او نه د روایاتو چټلو او تنقیح ته، سخته اشتباه کوي او دا وینا ئې له ړانده تعصب راولاړه شوې.

دلته یوې بلي خبري ته هم اشاره کول اړین برېښي چې ځینو له دې روایت د نزاع یوه لویه لانجه جوړه کړې او دا ئې تر ې راایستلي چې په هر نېك عمل کي نیت فرض دئ!! دوی ته باید ووایو:

له دې روایت ستاسو انتباه کمزورې او ناقصه ده، د روایت اصلي معنی دا ده چې د هغه چا هجرت د الله تعالی او د هغه د رسول لوري ته هجرت دئ چې د همدې لپاره ئې هجرت کړی وي، خو که ئې د دنیایي اغراضو لپاره هجرت کړی وي نو هجرت ئې د همدغو اغراضو لپاره ګڼل کېږي. د

دې خبري ئې د نيت له فرض والي سره څه؟ فرض خو هغه څه ته وايي چې الله تعالى موږ پرې ګمارلي يو، په قرآن کې د هغه په اړه عليکم، کتب عليکم، فرض؛ او دې ته ورته الفاظ راغلي وي، د هغه په کولو ئې تأکيد کړى وي، هغه څوك ئې په عذاب ګوابښلى وي چې تر سره ئې نه کړي، موږ په ټول قرآن کې نه صراحتاً او نه اشارتاً داسي الفاظ مومو چې د نيت د فرض والي معنى ترې راووځي، ښه به وي چې د دغو الهي اوامرو يوه بېلګه د لوستونکو مخې ته کښېږدو: قرآن د لمانځه په اړه وايي: اقم الصلوة: لمونځ اقامه کړه، اقيموا الصلوة: لمونځ وکړئ، د لمانځه پنځه ضروري ارکان ئې رابنودلي: د لمانځه په پيل کې د الله نوم يادول، قيام، قرائت، رکوع او سجده، له دې معلومېږي چې لمونځ فرض دئ او دغه پنځه ارکان ئې هم فرض دي، د قرآن په هيڅ آيت کې نه دي ويل شوي چې لومړى نيت وکړئ، دا ځکه چې نيت په عمل پوري تړلى دئ، کله چې انسان د سحر لمانځه لپاره پورته کېږي او اودس کوي نو هم ئې د اودس نيت کړى او هم د لمانځه او هم دا چې د ګهيځ لمونځ کوي، پر دې مکلف نه دئ چې د نيت الفاظ په ژبه ياد کړي يا ئې په زړه کې تېر کړي، که څوك د نيت الفاظ يادول ضروري ګڼي يا نيت کول فرض ګڼي له ځانه ئې داسي خبره کړې چې نه الله تعالى کړې او نه رسول الله صلى الله عليه و سلم. په چا چې غسل لازم شوى وي، سحر له خوبه راويښ شي، د الله تعالى دا حکم ورپه ياد شي چې جنب به د لمانځه لپاره غسل کوي، نو ولاړ شي او ټول ځان ښه ومينځي، نو هم ئې اودس کړى او هم غسل او بل اودس پرې نشته، که څه هم

سنت دا دئ چې لومړی د لمانځه د اوداسه په څېر اودس وکړي، که د پښو لاندې ځای ئې خاوره وه د پښو مینځل پرېږدي، بیا پر سر او اوږو اوبه واچوي او ټول ځان ومینځي او په پای کې خپلې پښې ومینځي، پر دې مکلف نه دئ چې د اودس یا غسل د نیت په نامه به څه وایي یا به کوم الفاظ په زړه کې تېروي، که دا کار ئې ونه کړ ګواکې کوم فرض تري پاته شوی او لمونځ ئې صحیح نه دئ!! دا هسې له ځانه جوړې شوې بې بنسټه خبرې دي، که داسې وی نو الله تعالی به فرمایلي وو: کله چې لمانځه ته پورته کېږې لومړی د اودس یا د غسل نیت وکړئ، بیا اودس یا غسل وکړئ، بیا د لمانځه نیت وکړئ او بیا لمونځ وکړئ!!

1- د وحي د پیل کتاب

1- باب: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د وحي پیل څنګه وو؟

2- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ- رضي الله عنها- أَنَّ الْحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ- رضي الله عنه - سَأَلَ رَسُولَ اللهِ- صلى الله عليه و سلم - فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ يَأْتِيكَ الْوَحْيُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "أَحْيَانًا يَأْتِينِي مِثْلَ صَلْصَلَةِ الْجَرَسِ- وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ-

فَيُفْصَمُ عَنِّي وَقَدْ وَعَيْتُ عَنْهُ مَا قَالَ، وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِيَ الْمَلَكُ رَجُلاً فَيُكَلِّمُنِي فَأَعِي مَا يَقُولُ". قَالَتْ عَائِشَةُ رضي الله عنها وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الْوَحْيُ فِي الْيَوْمِ الشَّدِيدِ الْبَرْدِ، فَيَفْصِمُ عَنْهُ وَإِنَّ جَبِينَهُ لَيَتَفَصَّدُ عَرَقًا.

2- له عَائِشَې رضي الله عنها روايت دئ چې حَارِثَ بْنَ هِشَام له رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم وپوښتل: يا رسول الله! وحي څنګه درباندي راځي؟ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: کله کله د زنګ د غږ په څېر راته راځي؛ او دا تر ټولو راباندي سخته وي؛ او په داسي حال کي رانه جلا شي چې په وينا ئې پوه شوی وم؛ او کله کله (د وحي حامل) فرشته د يوه سړي په بڼه کي راته تمثيل شي نو خبري راسره وکړي او په هغه څه پوه شم چې وايي ئې، عائشې رضي الله عنها وويل: ما د سختي يخنۍ په ورځ ليدلی چې وحي پرې نازلېده او بيا په داسي حال کي ترې بېلېده چې پر تندي به ئې خولې بهېدې.

تکرار: بخاري دا حديث دوه ځلي رااخيستی دئ، په دوهم کي راويان دا دي: فَرْوَةُ له عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، هغه له هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، هغه له خپل پلار روايت کوي.

دلته هم په دواړو رواياتو کي څو توپيرونه تر سترګو کېږي: په يوه کي (كل ذالك) الفاظ شته او په بل کي نشته، په يوه کي ويل شوي چې (وحي) د (صلصلة الجرس) په څېر راته راځي او په بل کي ويل شوي چې فرشته د (صلصلة الجرس) په څېر راته راځي، په يوه کي د (وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ)

الفاظ تر نورو مخكي او په بل کي دا الفاظ وروسته راغلي.

که غور وکړو نو دا راته جوته کيږي چي د فرشتې راتګ له (صلصلة الجرس) سره تشبيه کول مناسب نه برېښي، خو د وحي راتګ له (صلصلة الجرس) سره تشبيه کول موزون معلومېږي، نو په يقين سره ويلی شو چي لومړی روايت تر دوهم ارجح دئ. همدا راز د قرآن له وينا سره يوازي لومړی روايت اړخ لګوي ځکه قرآن د وحي درې صورتونه بيانوي:

وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِن وَرَآيِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِۦ مَا يَشَآءُ إِنَّهُۥ عَلِيٌّ حَكِيمٌ ۝ الشورى: 51

هيڅ انسان ته نه بنايي چي الله ورسره تکلم وکړي مګر په وحي سره، يا د حجاب له شا يا دا چي فرشته ولېږي او هغه څه د ده په حکم ورته وحي کړي چي غواړي ئې، يقيناً چي هغه باحکمت پوه دئ.

دلته د وحي درې صورتونه بنودل شوي: 1- مخامخ وحي، 2- تکلم خو د حجاب له شا او 3- د فرشتې په لاس وحي؛ قرآن موږ ته وايي چي دوهم صورت ئې (د حجاب له شا تکلم) له موسی عليه السلام پرته له بل پيغمبر سره نه دئ شوی، دوه نور صورتونه ئې داسي دي چي يو ئې بلاواسطه وحي ده او بل ئې بالواسطه او د فرشتې له لارې وحي؛ نو ځکه يوازي هغه روايت ارجح دئ چي له قرآن سره اړخ لګوي؛ او همدا خبره کوي چي وحي دوه صورتونه لري: له فرشتې پرته وحي او د فرشتې له لارې وحي؛ يوه ئې صلصلة الجرس ته ورته او بله ئې د انسان په

بنې کي د فرشتې له لاري؛ له دې معلومېږي چې هغه روايت دقيق نه دئ چې دواړه د فرشتې له لاري وحي ګڼي، يو ئې له لري او بل ئې د انسان په بنې کي د تمثيل له لاري.

دې ته مو پام وي چې د وحي دا درې صورتونه پيغمبرانو عليهم السلام ته د وحي هغه صورتونه دي چې الله تعالى دوى ته احکام او هدايات ورکوي، خو په قرآن کي د وحي ځيني نور صورتونه هم په ګوته شوي چې عموميت لري، لکه انسان او حيوان ته فطري وحي او د هغه په فطرت کي د ضروري لاربښوونو القاء، چې په قرآن کي د دې وحي يو مثال د شاتو د موچيو په اړه راغلى او په دې کي هغو لاربښوونو ته د وحي نوم ورکړى شوى چې د دوى په فطرت کي ايښودل شوي، کور ځنګه او چېرې جوړ کړي، شات ځنګه جوړ کړي، له مختلفو لارو ځنګه تګ راتګ وکړي. رؤيا د دې وحي يوه بله بېلګه ده؛ او الهام ئې بله بېلګه.

بخاري نه دلته او نه په نورو مواردو کي دا ويلي چې له متعارضو رواياتو کوم يو ئې تر بل ارجح دئ او په کوم يوه ئې بايد عمل وشي، کوم يو ئې له قرآن سره اړخ لګوي او کوم نه؛ هغه غوښتي هر هغه روايت په امانت سره ثبت او نورو ته ورسوي چې تر ده رسېدلى او اسناد ئې د اعتبار وړ ورته برېښېدلي. دا ئې لوستونکو ته پرېښي چې کوم يو غوره کوي. ښايي د بخاري د دوو لومړنيو رواياتو په اړه دا تحليل او څېړنه به کافي وي چې د نورو د څرنګوالي په اړه قضاوت وکړو، د دغو رواياتو په اړه يوازي هغه څوک صحيح پرېکړه کولى شي او ارجح ئې ټاکلى شي چې هم د

بخاري ټول روايات ورته معلوم وي، هم ئې د حديث نور کتابونه لوستلي وي، هم د قرآن په تفسير پوه وي، هم د درايت خاوند وي؛ او هم ئې د سيرت کتابونه لوستلي وي؛ او په اختصار سره يو فقيه وي. خو متأسفانه اوس داسي کمعقله او بې علمه کسان ګورو چې له کوم استاد د بخاري په لوستلو او د پګړۍ په تړلو سره به داسي مغرور شي چې ګمان به کوي د يويشتمي پيړۍ مفتي اعظم شو، په هغو ائمه وو به اعتراضونه او نيوکي کوي چې امام بخاري رحمه الله ئې د يوه شاګرد حيثيت لري. دا په داسي حال کي چې دی به نه د بخاري د رواياتو په معنی سم پوهيږي، نه به د رواياتو تر منځ تعارض درک کولی شي او نه به د دوو متعارضو رواياتو تر منځ د ارجح د پيژندا پوهه او درايت لري.

د بخاري درېيم حديث داسي دئ:

3- حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ مَرْوَانَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رِزْمَةَ أَخْبَرَنَا أَبُو صَالِحٍ سَلْمَوَيْهِ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الله عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ شِهَابٍ أَنَّ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَتْ كَانَ أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم الرُّؤْيَا الصَّادِقَةُ فِي النَّوْمِ، فَكَانَ لاَ يَرَى رُؤْيَا إِلاَّ جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ، ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلاَءُ فَكَانَ يَلْحَقُ بِغَارِ حِرَاءٍ فَيَتَحَنَّثُ فِيهِ- قَالَ وَالتَّحَنُّثُ التَّعَبُّدُ- اللَّيَالِيَ ذَوَاتِ الْعَدَدِ قَبْلَ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى أَهْلِهِ، وَيَتَزَوَّدُ لِذَلِكَ، ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى خَدِيجَةَ فَيَتَزَوَّدُ بِمِثْلِهَا، حَتَّى فَجِئَهُ الْحَقُّ

وَهْوَ فِي غَارِ حِرَاءٍ فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ اقْرَأْ. فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "مَا أَنَا بِقَارِئٍ". قَالَ "فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ ثُمَّ أَرْسَلَنِي. فَقَالَ اقْرَأْ. قُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ. فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي. فَقَالَ اقْرَأْ. قُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ. فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ ثُمَّ أَرْسَلَنِي. فَقَالَ (اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ * خَلَقَ الإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ * اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ * الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ)". الآيَاتِ إِلَى قَوْلِهِ (عَلَّمَ الإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ) فَرَجَعَ بِهَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم تَرْجُفُ بَوَادِرُهُ حَتَّى دَخَلَ عَلَى خَدِيجَةَ فَقَالَ "زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي". فَزَمَّلُوهُ حَتَّى ذَهَبَ عَنْهُ الرَّوْعُ قَالَ لِخَدِيجَةَ "أَىْ خَدِيجَةُ مَا لِي، لَقَدْ خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي". فَأَخْبَرَهَا الْخَبَرَ. قَالَتْ خَدِيجَةُ كَلاَّ أَبْشِرْ، فَوَالله لاَ يُخْزِيكَ الله أَبَدًا، فَوَالله إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ، وَتَصْدُقُ الْحَدِيثَ، وَتَحْمِلُ الْكَلَّ، وَتَكْسِبُ الْمَعْدُومَ، وَتَقْرِى الضَّيْفَ، وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الْحَقِّ. فَانْطَلَقَتْ بِهِ خَدِيجَةُ حَتَّى أَتَتْ بِهِ وَرَقَةَ بْنَ نَوْفَلٍ وَهْوَ ابْنُ عَمِّ خَدِيجَةَ أَخِي أَبِيهَا، وَكَانَ امْرَأً تَنَصَّرَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ يَكْتُبُ الْكِتَابَ الْعَرَبِىَّ وَيَكْتُبُ مِنَ الإِنْجِيلِ بِالْعَرَبِيَّةِ مَا شَاءَ الله أَنْ يَكْتُبَ، وَكَانَ شَيْخًا كَبِيرًا قَدْ عَمِىَ فَقَالَتْ خَدِيجَةُ يَا ابْنَ عَمِّ اسْمَعْ مِنِ ابْنِ أَخِيكَ. قَالَ وَرَقَةُ يَا ابْنَ أَخِي مَاذَا تَرَى فَأَخْبَرَهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم خَبَرَ مَا رَأَى. فَقَالَ وَرَقَةُ هَذَا النَّامُوسُ الَّذِي أُنْزِلَ عَلَى مُوسَى، لَيْتَنِي فِيهَا جَذَعًا، لَيْتَنِي أَكُونُ حَيًّا. ذَكَرَ حَرْفًا. قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "أَوَمُخْرِجِيَّ هُمْ". قَالَ وَرَقَةُ نَعَمْ لَمْ يَأْتِ رَجُلٌ بِمَا جِئْتَ بِهِ إِلاَّ أُوذِىَ، وَإِنْ يُدْرِكْنِي يَوْمُكَ حَيًّا أَنْصُرْكَ نَصْرًا مُؤَزَّرًا. ثُمَّ لَمْ يَنْشَبْ وَرَقَةُ أَنْ تُوُفِّي،

وَفَتَرَ الْوَحْيُ، فَتْرَةً حَتَّى حَزِنَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم .

٣- يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ له اللَّيْثُ، هغه له عُقَيْلٍ، هغه له ابْنِ شِهَابٍ، هغه له عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ روايت كوي چې ام المومنين عائشه رضي الله عنها وويل: پر رسول الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وحي د نزول لړۍ له هغو نېکو خوبونو پيل شوې چې ليدل به ئې، څه چې به ئې په خوب کي وليدل د سپيده داغ د رڼا په څېر به راڅرګند شو، ورپسې خلوت (ګوښې کښېناستل) ورته محبوب کړی شو، نو د حراء په غار کي به ئې خلوت کاوو؛ او هلته به ئې مخکي له دې چې خپلې کورنۍ ته ستون شي څو شپې پر له پسې عبادت کاوو؛ او د دې لپاره به ئې له ځان سره توښه وړله، بيا به ببرته خديجې رضي الله عنها ته ورتلو؛ او د تېر ځل په شان به ئې نوره توښه له ځان سره وړله، دا لړۍ روانه وه ترهغه چې وحي په داسي حال کي ورته راغله چې د حراء په غار کي وو، فرشته ورته راغله ورته وئې ويل: ولوله! رسول الله صلى الله عليه و سلم وويل: (زه خو لوستونکی نه يم)، رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي: فرشتې په غېږ کي داسي کلك ونيولم چې وس او زغم مي په پای ته رسېدو شو، هغې پرېښودم او راته وئې ويل: ولوله، ما وويل: (زه لوستونکی نه يم)، رسول الله صلى الله عليه و سلم وايي: هغي فرشتې بيا ونيولم او دومره ئې ټينګ کړم چې څومره مي تحمل کولی شو، بيا ئې پرېښودم او وئې ويل: ولوله، ما وويل: (زه لوستونکی نه يم)، درېيم ځل ئې بيا ونيولم، دومره ئې ټينګ کړم چې سيک مي وخوت، بيا ئې خوشی

کړم او راته وئې ویل: (اقرأ باسم ربک.....) (ولوله د خپل هغه رب په نامه چې هر څه ئې پیدا کړي دي. انسان ئې له ځوړند توکي پیدا کړی، ولوله ستا رب له ټولونه زیات کریم او د زیات عزت خاوند دئ). ورپسې رسول الله صلی الله علیه و سلم له هغه څه سره چې له فرشتې ئې اوربدلي وو، په داسي حال کي چې زړه ئې ریږدېدو خدیجې رضي الله عنها ته ستون شو، ورغی ورته وئې ویل: (ما پټ کړئ)، هغوی پټ کړ، تر هغه چې وېره ئې له زړه ووتله، خدیجې رضي الله عنها ته ئې قصه تېره کړه او وئې فرمایل: (په ربنتیا سره چې په ځان ووېرېدم)، خدیجې رضي الله عنها ورته وویل: نه؛ هیڅ وېره مه کوه، قسم په الله چې الله تعالی به تا هیڅکله هم خوار او سپک نکړي، ته داسي څوك یې چې خپلوي پالې، له کمزوري سره مرسته کوې، بې برخي ته لاس ته راوړنه برابروې، د مېلمه درناوی کوې؛ او د حق پلوي کوې. ورپسې خدیجې رضي الله عنها له ځان سره د خپل تره زوی ورقه بن نوفل بن عبدالعزی ته ورووست، نوموړی نصراني شوی وو، په عربي به ئې لیکنه کوله، له انجیل به ئې ځینی شیان په عربي لیکل، ډېر زوړ شوی وو او په سترګو ړوند وو، خدیجې رضي الله عنها ورقه ته وویل: د تره زویه! وراره ته دي غوږ شه چې څه وایي؟ ورقه ورته وویل: وراره! وایه، څه دي لیدلي؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم چې څه لیدلي وو هغه ئې ورته بیان کړل، ورقه ورته وویل: دا هغه فرشته ده چې الله تعالی موسی علیه السلام ته لېږلې وه، کاشکي ځوان وی، کاشکي

هغه ورځ ژوندی وی، دلته ئې یو څه وویل، رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (آیا دوی به ما وباسي؟) ورقه وویل: هو؛ هر چا چې داسي څه راوړي لکه تا چې راوړي دي له هغه سره دښمني شوې ده، که زه هغه ورځ ووینم، هغې ورځي ته ورسېږم له تا سره به کلکه ملګرتیا او زیاته مرسته وکړم، خو ډېر وخت لا نه وو تېر شوی چې ورقه وفات شو او وحي دومره وځنډېدله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ډېر غمجن شو.

تکرار: دا حدیث هم بخاري شپږ ځلي نور په دغو شمېرو راوړی: 3392، 4953، 4955، 4956، 4957، 6982؛ او د راویانو سلسلې ئې داسي دي:

1- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ

2- حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ مَرْوَانَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رِزْمَةَ أَخْبَرَنَا أَبُو صَالِحٍ سَلْمَوَيْهِ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الله عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ شِهَابٍ أَنَّ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَائِشَةَ

3- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ قَالَ مُحَمَّدُ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ

4- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ.

وَحَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ

5- حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ قَالَ الزُّهْرِيُّ فَأَخْبَرَنِي عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ

6- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ. وَحَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ قَالَ الزُّهْرِيُّ فَأَخْبَرَنِي عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ

كه دې رواياتو ته ځير شئ نو وبه ګورئ چې په الفاظو کې ئې توپيرونه شته، ځيني ئې لنډ دي او د ورقه بن نوفل قصه په کې نشته، په ځينو کې راغلي چې د څه مودې لپاره د وحي قطع کېدو په وجه پيغمبر عليه السلام دومره غمجن شوی وو چې غوښتل ئې ځان د غره له لوړي واچوي، خو هر ځل چې ئې غوښتلي دا کار وکړي جبرئيل ورته راڅرګند شوی او ورته ويلي ئې دي: اې محمده! ته يقيناً چې د خدای رسول يې، په همدې سره تسکين شوی او ښېرته ستون شوی، بيا چې د وحي د انقطاع موده اوږده شوې همداسي ئې کړي؛ او بيا جبرئيل ورته راڅرګند شوی او همغه خبره ئې ورته کړې. خو په نورو کې دا خبره نه ده راغلې. په ځينو کې ويل شوي چې ورقه بن نوفل په عبراني ليکنه کوله او په ځينو کې دا چې انجيل به ئې په عربي ليکلو، په ځينو کې ويل شوي چې ابن نوفل پيغمبر عليه السلام ته وويل چې قوم به دي وباسي او په ځينو کې ويل شوي چې (نَكَرَ حَرْفًا: کومه خبره ئې ياده کړه).

په دې اړه څو ملاحظات واردېږي: 1- ورقة بن نوفل به د څه لپاره انجيل په عبراني ليکو حال دا چې انجيل په خپله په عبراني کې وو، درايت وايي چې هغه بايد په عربي ليکلو

ځکه په عبراني ئې ليکل نه ده ته کومه ګټه رسوله او نه د ده قوم ته چې په عبراني نه پوهېدل. 2- په انجيل او تورات کې دا خبره نشته چې له هر پيغمبر سره خپل قوم يا دښمني کړې او يا ئې له خپل ملك ايستلی، بني اسرائيلو نه موسی عليه السلام ايستلی او نه خپل نور پيغمبران، نو ورقه بن نوفل له کومه په دې پوه شو؟! دا خبره ځکه کوو چې په ځينو رواياتو کې به داسي خبري هم وموميځ چې ګواکې په تورات کې د ډېرو راتلونکو پېښو په اړه وړاندويني شوې دي!! حال دا چې دا خبره په بشپړه توګه بې بنسټه او غلطه ده. دا خبره هغه څوك کوي چې تورات ئې نه وي لوستلی؛ او د يهودانو د تبليغاتو تر اغېز لاندې تللی وي. 3- که ابن نوفل ويلي وی چې ښايي قوم به له تاسره دښمني وکړي نو دا خبره څه نا څه منل کېدی شي خو دا خبره چې تا به وباسي!! هيڅوك داسي وړاندوينه نشي کولی، ځکه دا د غيب خبره ده، نه ئې څوك د کولو حق لري او نه به څوك پرې باور کوي. 4- دا هم بعيده معلوميږي چې پيغمبر عليه السلام به له غره د ځان راغورځولو پرېکړه کړې وي، هغه هم څو ځلي؛ او ګواکي هغه مهال به ئې خپل تصميم بدل کړی وي چې جبرئيل عليه السلام ورته اطمئنان ورکړی چې شك مه کوه ته يقيناً د خدای پيغمبر يې!! په دې کې زمونږ اولوالعزم پيغمبر عليه السلام ته د شك، ضعف او حتی ځان وژنې نسبت شوی.

دغو خبرو ته په پام سره بايد په هغه روايت اکتفاء وشي چې مختصر دئ، نه د ورقه بن نوفل دا خبره په کې شته چې قوم به تا وباسي؛ او نه د وحي د انقطاع په سبب د

پيغمبر عليه السلام سخته پريشاني او له غره د ځان اچولو اراده.

دا خبره هم بايد په پام کي ولرو چي په ځينو کمزورو رواياتو کي راغلي چي کور ته د پيغمبر عليه السلام له راستنېدو او په جامه کي د ځان له پټولو سره سم د مزمل سوره نازله شوې... دا روايت هم په دې دليل ضعيف دئ چي له پورتني سره تعارض لري، پورتنی وايي چي وحي د څه مودې لپاره قطع شوې وه او دا وايي چي حتی ابن نوفل ته له تلو مخکي د مزمل سوره پرې نازله شوې!! او هم په دې دليل چي د مزمل د سورې له متنه معلومېږي چي هغه څو کاله وروسته او په داسي وخت کي نازله شوې چي د قريشو مخالفت تشديد شوی، د قرآن کافي برخه نازله شوې، د تهجد لمونځ پر پيغمبر عليه السلام فرض شوی او د پيغمبر عليه السلام د دعوت ورځني مصروفيتونه زيات شوي.

د بخاري څلورم حديث:

4- قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَأَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ الأَنْصَارِيَّ قَالَ- وَهُوَ يُحَدِّثُ عَنْ فَتْرَةِ الْوَحْيِ فَقَالَ- فِي حَدِيثِهِ "بَيْنَا أَنَا أَمْشِي إِذْ سَمِعْتُ صَوْتًا مِنَ السَّمَاءِ، فَرَفَعْتُ بَصَرِي فَإِذَا الْمَلَكُ الَّذِي جَاءَنِي بِحِرَاءٍ جَالِسٌ عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، فَرُعِبْتُ مِنْهُ، فَرَجَعْتُ فَقُلْتُ زَمِّلُونِي. فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى (يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ * قُمْ فَأَنْذِرْ) إِلَى قَوْلِهِ (وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ) فَحَمِيَ الْوَحْيُ وَتَتَابَعَ".

٤- ابن شِهَاب له أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ او هغه له جابر

بن عبدالله انصاري اورېدلي چې د وحي د ځنډېدو په اړه ئې خبري کولې وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: پداسي حال کي چې روان وم، د آسمان له لوري مي ږغ واورېد، سترګې مي پورته واړولې نو ومي ليدل چې همغه فرشته د آسمان او زمکي تر منځ پر يوې کرسۍ ناسته ده چې د حراء غار ته راغلې وه، زه ترې ووېرېدم، ببرته (کور ته) ستون شوم؛ او ومي ويل ما پټ کړئ، نو الله تعالى دا آيتونه نازل کړل: (اې په جامو کي نغښتيه! پورته شه او ووېروه او خپل رب په لويي ياد کړه، خپلې جامې دي پاکي ساته، له اضطراب ډډه کوه،) همغه وو چې وحي بيا پيل شوه او پرله پسې نازلېده.

تکرار: دا روايت په بخاري کي اته ځلي نور هم راغلى، په دغو شمېرو: 3238، 4922، 4923، 4924، 4925، 4926، 4954، 6214

توپير: دا روايت چې بخاري اته ځله راوړى، په يوه کي د (فَجُئِثْتُ) او په بل کي د (فَرُعِبْتُ) او په بل کي د (فَفَرِقْتُ) الفاظ راغلي چې د ټولو معنى (ووېرېدم) دي، په يوه کي ويل شوي چې د وحي د انقطاع په دوران کي په لاره روان وم چې ږغ مي واورېدو خو په بل کي د وحي انقطاع ته له اشاري پرته دا خبره شوې او په بل کي ويل شوي چې د حراء له غره راکوز شوم او ږغ مي واورېدو، ځلورو خواوو ته مي وکتل څه مي ونه ليدل خو پورته مي وکتل او څه مي وليدل (پرته له دې چې ووايي دا شى څه وو) او کور ته راغلم ومي ويل پټ مي کړئ او سړې اوبه

راباندي واچوئ، په بل کي ويل شوي چي همغه مخکيني فرشته مي وليده چي پر کرسۍ ناسته وه، په يوه روايت کي دا هم ويل شوي چي له رجز مراد اوثان (بُتان) دي، په بل کي دا الفاظ هم شته قَبْلَ أَنْ تُفْرَضَ الصَّلَاةُ: د لمانځه له فرض کېدو مخکي.

په دې اړه همدغه جابر رضي الله عنه ته داسي روايت هم منسوب شوی چي وايي:

عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: اجْتَمَعَتْ قُرَيْشٌ فِي دَارِ النَّدْوَةِ، فَقَالَتْ: سَمُّوا هَذَا الرَّجُلَ اسْمًا، فَصُدُّوا (*تصدر) النَّاسَ عَنْهُ، قَالُوا: كَاهِنٌ، قَالُوا: لَيْسَ بِكَاهِنٍ. قَالُوا: مَجْنُونٌ، قَالُوا: لَيْسَ بِمَجْنُونٍ. قَالُوا: سَاحِرٌ، قَالُوا: لَيْسَ بِسَاحِرٍ. فَتَفَرَّقَ الْمُشْرِكُونَ عَلَى ذَلِكَ، فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَزَمَّلَ فِي ثِيَابِهِ، وَتَدَثَّرَ فِيهَا، فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: {يَأَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ} [المزمل [المزمل: 1] {يَأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ} [المدثر: 1] رواه: مجمع الزوائد و المعجم الاوسط، رواه البزار والطبراني فِي الأوسط وزاد: قالوا: يفرق بين الحبيب وحبيبه.

له جابر رضي الله عنه روايت شوی چي قريش په دار الندوة کي راغوند شول او وئې ويل: دا سړی په کوم داسي نامه ياد کړئ چي خلك تري ډډه وکړي، وئې ويل: کاهن، ورته وويل شوو: دی کاهن نه دئ، وئې ويل مجنون، ورته وويل شوو چي مجنون نه دئ، وئې ويل: کوډګر، ورته وويل شوو: دی کوډګر نه دئ، (دا هم ويل شوي چي هغوی وويل: د دوست او دوست تر منځ ببلتون راولي)، نو په همدې حال کي سره خواره شول، دا خبره رسول الله صلى الله عليه و

سلم ته ورسېده نو په جامه کي ئې ځان ونغښت او پټ شو، نو جبرئيل عليه السلام ورته راغی او ورته وئې ويل: {يا أيها المزمل} {يا أيها المدثر}. يعني دا دواړه سورې په همدې مهال نازلي شوې.

په دې رواياتو کي کوم يو ارجح دئ؟ کوم د استناد وړ او غوره وګڼو؟ په دې اړه څو خبري بايد په پام کي ولرو:

د مدثر سورې له متنه په ډېر وضاحت سره معلوميږي چې له 31 آيت پرته ټوله سوره په مکه مکرمه کي او په دوو مرحلو کي نازله شوې، اوه لومړي آيتونه ئې د بعثت په لومړيو کي او نور ئې په هغي مرحلې کي نازل شوي چې د قريشو سردارانو د پيغمبر عليه السلام په خلاف شديد تبليغات پيل کړي، هغه ته ساحر وايي او قرآن د ده خپله وينا ګڼي. د پيغمبر عليه السلام په خلاف د قريشو مخالفتونه او معاندانه تبليغات تشديد شوي، د قوم شتمنو او مخورو د ده عداوت او دښمنۍ ته کلکه ملا تړلې، چا ده ته ساحر ويل او چا د قرآن په اړه ويل چې دا د انسان قول دئ نه د الله تعالى کلام! دا وينا قطعاً د منلو نه ده چې دا سوره لومړۍ نازله شوې سوره ګڼي، همدا راز د دې سورې په پنځم آيت کي راغلی د (رجز) لفظ د اوثان او بتانو په معنی اخيستل ناسم او غلط تعبير دئ، په قرآن کي (رجز) د اضطراب په معنی راغلی او د دې آيت معنی دا ده چې له اضطراب ډډه کوه، تفصيل ئې (د قرآن پلوشې) کي ولولئ، دا تعبير نه د آيت د الفاظو له اصلي معنی سره اړخ لګوي او نه د پيغمبر عليه السلام له شأن سره، دا ځکه چې پيغمبر عليه السلام هيڅکله بتان نه دي لمانځلي، د پنځم آيت معنی دا نه ده چې

له بتانو ځان لري ساته، ځکه هغه هیڅکله بتانو ته نه دئ ورنږدې شوی.

د مدثر د سورې له 43 آیت معلومیږي چې دا سوره د لمانځه له فرض کېدو وروسته نازله شوې؛ ځکه په دې آیت کې د دوزخیانو دا ځواب راغلی چې وایي به: مونږ ځکه په دوزخ کې پرېوتو چې لمونځ مو نه کاوو: (قَالُواْ لَمۡ نَكُ مِنَ ٱلۡمُصَلِّينَ: وئې ویل مونږ لمونځ کوونکي نه وو!) دا خبره هغه مهال کېدی شي چې تر دې د مخه د لمانځه په اړه څه ویل شوي وي.

د مدثر او مزمل د سورتونو له محتوی او متن معلومیږي چې دواړه په ورته مرحله کې او یوه په بلې پسې نازله شوې ده، د جابر رضي الله عنه وروستی روایت په دې اړه دقیق برېښي.

د قرآن صریح آیتونه مونږ ته لارښوونه کوي چې پیغمبر علیه السلام دوه ځلي جبرئیل علیه السلام په خپلې اصلي ځېرې کې لیدلی، یو ځل داسې چې د آسمان افق پرې ډک وو، خو ده ته ډېر (د قاب قوسین په اندازه) ورنږدې شوی او د الله تعالی وحي ئې وررسولې؛ او بل ځل په سدرة المنتهی کې او د معراج په شپه.

په دغو روایاتو کې یو وایي چې جبرئیل علیه السلام ئې په کومې داسې هیبتناکې بڼې کې لیدلی چې سخت ترې وېرېدلی، حتی پر زمکه پرېوتی او پرته له دې چې څه ترې واوري کور ته ستون شوی، حال دا چې قرآن د هیبت او وېرې خبره نه کوي بلکې پیغمبر علیه السلام ته د ورنږدې کېدو او ده ته د وحي رسولو خبره کوي، په دغو روایاتو

کي يو دا وايي چي دلته ئې جبرئيل عليه السلام په همغي بڼې کي ليدلی چي په حراء کي ئې ليدلی وو، د حراء له ليدني په څرګنده توګه معلومېږي چي پيغمبر عليه السلام هلته جبرئيل عليه السلام د کوم انسان په څېره کي ليدلی چي دی ئې په خپلي غېږ کي کلك نيولی؛ او خبري ئې ورسره کړې، د دې معنی دا ده چي دا ځل ئې هم په همدې بڼه کي خو پر کرسۍ ناست په آسمان کي ليدلی، نه په کومي هيبتناکي بڼې کي.

لاندي روايت د نورو روايتونو په خلاف وايي چي پر پيغمبر عليه السلام لومړي نازل شوي آيتونه د مدثر د سورې لومړي آيتونه دي نه د العلق د سورې لومړي آيتونه!! روايت دا دئ:

حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْمُبَارَكِ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ سَأَلْتُ أَبَا سَلَمَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَوَّلِ مَا نَزَلَ مِنَ الْقُرْآنِ. قَالَ (يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ) قُلْتُ يَقُولُونَ (اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ) فَقَالَ أَبُو سَلَمَةَ سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ الله رضي الله عنهما عَنْ ذَلِكَ وَقُلْتُ لَهُ مِثْلَ الَّذِي قُلْتَ فَقَالَ جَابِرٌ لاَ أُحَدِّثُكَ إِلاَّ مَا حَدَّثَنَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "جَاوَرْتُ بِحِرَاءٍ، فَلَمَّا قَضَيْتُ جِوَارِى هَبَطْتُ فَنُودِيتُ فَنَظَرْتُ عَنْ يَمِينِى فَلَمْ أَرَ شَيْئًا، وَنَظَرْتُ عَنْ شِمَالِي فَلَمْ أَرَ شَيْئًا، وَنَظَرْتُ أَمَامِى فَلَمْ أَرَ شَيْئًا، وَنَظَرْتُ خَلْفِي فَلَمْ أَرَ شَيْئًا، فَرَفَعْتُ رَأْسِى فَرَأَيْتُ شَيْئًا، فَأَتَيْتُ خَدِيجَةَ فَقُلْتُ دَثِّرُونِى وَصُبُّوا عَلَيَّ مَاءً بَارِدًا- قَالَ- فَدَثَّرُونِى وَصَبُّوا عَلَيَّ مَاءً بَارِدًا قَالَ فَنَزَلَتْ (يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ * قُمْ فَأَنْذِرْ * وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ)"

يحيى بن كثير وايي: له ابوسلمه بن عبدالرحمن مي د لومړيو نازل شوو آيتونو په اړه پوښتنه وکړه هغه وويل: (يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ) ما ورته وويل: خلك وايي چې دا (اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ) دي، ابوسلمه وويل: ما له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما په دې اړه پوښتنه وکړه او همدغه څه مي ورته وويل چې تا وويل، نو جابر رضي الله عنه راته وويل: له هغه څه پرته بل څه نه درته وايم چې رسول الله صلى الله عليه و سلم راته ويلي، چې هغه وفرمايل: په حراء کي څه موده پاته شوم، چې پاته کېدا مي پوره شوه راکوز شوم، نو راباندي غږ شو، نو ښي لاس ته مي وکتل څه مي ونه ليدل، کيڼ لاس ته مي وکتل څه مي ونه ليدل، مخي ته مي وکتل څه مي ونه ليدل، شا ته مي وکتل څه مي ونه ليدل، نو سر مي لوړ کړ او څه مي وليدل، نو خديجې ته راغلم او ومي ويل: څادر راباندي وغوړوئ او سړې اوبه راباندي وشيندئ، نو څادر ئې راباندي وغوړاوو او سړې اوبه ئې راباندي وشيندلي، بيا دا آيتونه نازل شول: (يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ * قُمْ فَأَنْذِرْ * وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ)"

که څه هم په دغو روایاتو کي نه یوازي د یوه غوره کول ډېر ګران کار او حتی ناممکن دئ، ځکه د دوی تر منځ شدید تعارض حتی تضاد تر سترګو کېږي، بلکي تلفیق ئې هم ګران دئ، دا په داسي حال کي چې د ټولو اصلي راوي یو کس او جابر بن عبدالله دئ!! خو څه چې ویلی شو هغه دا دي:

- لومړي نازل شوي آيتونه د العلق د سورې لومړي آيتونه دي. دا ځکه چې په دې اړه راغلی روایت له عائشې رضي

الله عنها روايت شوى او طبيعي ده چې د هغې خبره تر جابر رضي الله عنه په داسي مواردو کې د اعتبار وړ ګڼل کېږي.

- د مدثر د سورې لومړي آيتونه وروسته او بنايي د وحي د انقطاع په پاى کې نازل شوي وي.
- په حراء کې ئې جبرئيل عليه السلام د انسان په بڼې کې ليدلى.
- دوهم ځل ئې جبرئيل عليه السلام له حراء بهر په خپلې اصلي بڼې کې په آسمان کې ليدلى، ورنږدې شوى او د قرآن ځيني آيتونه ئې ورته وحي کړي او بنايي همدا د مدثر د سورې لومړي آيتونه وو.

د بخاري پنځم روايت

5- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ قَالَ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ أَبِي عَائِشَةَ قَالَ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى (لاَ تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ) قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يُعَالِجُ مِنَ التَّنْزِيلِ شِدَّةً، وَكَانَ مِمَّا يُحَرِّكُ شَفَتَيْهِ- فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَأَنَا أُحَرِّكُهُمَا لَكُمْ كَمَا كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يُحَرِّكُهُمَا. وَقَالَ سَعِيدٌ أَنَا أُحَرِّكُهُمَا كَمَا رَأَيْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يُحَرِّكُهُمَا. فَحَرَّكَ شَفَتَيْهِ- فَأَنْزَلَ الله تَعَالَى (لاَ تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ* إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ) قَالَ جَمْعُهُ لَهُ فِي صَدْرِكَ، وَتَقْرَأَهُ (فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ) قَالَ فَاسْتَمِعْ لَهُ وَأَنْصِتْ (ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ) ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا أَنْ تَقْرَأَهُ. فَكَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بَعْدَ ذَلِكَ إِذَا أَتَاهُ جِبْرِيلُ اسْتَمَعَ، فَإِذَا انْطَلَقَ جِبْرِيلُ قَرَأَهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم كَمَا قَرَأَهُ.

٥- له ابن عباس رضي الله عنهما د الله تعالى د دې قول په اړه پوښتنه وشوه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په خطاب کې فرمايي: (لاَ تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ: خپله ژبه مه پرې خوځوه، د دې لپاره چې د قرآن پر زده کړې تلوار وکړې، وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د وحي په تر لاسه کولو کې له ستونزې سره مخامخ کېدو، خپلې شوندې به ئې خوځولې. ابن عباس رضي الله عنهما وايي: زه خپلې شوندې داسې درته خوځوم لکه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به خوځولې، سعيد بن جبير وايي: زه خپلې شوندې داسې درته خوځوم لکه چې ابن عباس رضي الله عنهما خوځولې، نو الله تعالى دا آيتونه نازل کړل: (لاَ تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ* إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ * فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ* ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ) خپله ژبه دي په بيړه مه پرې خوځوه، د دې قرآن ټولول او لوستل زمونږ پر ذمه دي، کله چې ئې لولو نو د لوستلو متابعت ئې کوه (اوره ئې)، بيا ئې بيانول زمونږ پر ذمه دي) (مونږ به تا ته دا توفيق درکړو چې بيان ئې کړې)، د دې آيتونو له نزول وروسته به چې کله جبرئيل عليه السلام راتلو نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به غوږ ورته نيولو او کله چې به جبرئيل ولاړ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به په همغه توګه قرائت کول چې ده به قرائت کړي وو.

تکرار: دا روايت هم په بخاري کې پنځه ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: 4927، 4928، 4929، 5044، 7524 په الفاظو کې ئې معمولي او لږ توپير شته خو

مفهوم ئې ورته دئ، په ټولو کي موسى بن أبي عائشة له سعيد بن جبير او هغه له ابن عباس روايت کوي خو وروستي راويان ئې بېل بېل دي.

د بخاري شپږم حديث:

6- حَدَّثَنَا عَبْدَانُ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الله قَالَ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَحَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الله قَالَ أَخْبَرَنَا يُونُسُ وَمَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ نَحْوَهُ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ الله بْنُ عَبْدِ الله عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم أَجْوَدَ النَّاسِ، وَكَانَ أَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ حِينَ يَلْقَاهُ جِبْرِيلُ، وَكَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ فَيُدَارِسُهُ الْقُرْآنَ، فَلَرَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم أَجْوَدُ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ.

٦- او له بن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم تر ټولو خلکو زيات سخي وو؛ او د رمضان په مياشت کي به چې جبرئيل (عليه السلام) ورته راتلو، نو هغه وخت به لا زيات سخي وو. هغه به د رمضان په مياشت کي هره شپه ورسره ليدل او قرآن به ئې ورسره تکراراوو، نو هغه وخت به رسول الله صلى الله عليه و سلم په خير کي تر لګېدونکي باد هم زيات سخي وو.

تکرار: دا روايت هم بخاري څلور ځلي نور راوړى، په دغو شمېرو: 1902- 3220- 3554- 4997

توپير: په دې روایاتو کي څو توپيرونه تر سترګو

کېږي: په يوه کي ويل شوي فَيُدَارِسُهُ الْقُرْآنَ قرآن به ئې ورسره تکراراوو، په بل کي ويل شوي: يَعْرِضُ عَلَيْهِ النَّبِيُّ: پيغمبر عليه السلام به قرآن پر جبرئيل عليه السلام عرضه کاوو؛ او په بل کي ويل شوي چې يُعَارِضُهُ الْقُرْآنَ جبرئيل به قرآن پرې عرضه کاوو.

دې ته مو پام وي چې له سخاوت مراد يوازي مالي سخاوت نه دئ بلکي خلکو ته هر راز مالي او معنوي خير رسول مراد دي.

اوم روايت

7- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ الْحَكَمُ بْنُ نَافِعٍ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ بْنَ حَرْبٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ هِرَقْلَ أَرْسَلَ إِلَيْهِ فِي رَكْبٍ مِنْ قُرَيْشٍ- وَكَانُوا تُجَّارًا بِالشَّأْمِ- فِي الْمُدَّةِ الَّتِي كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم مَادَّ فِيهَا أَبَا سُفْيَانَ وَكُفَّارَ قُرَيْشٍ، فَأَتَوْهُ وَهُمْ بِإِيلِيَاءَ فَدَعَاهُمْ فِي مَجْلِسِهِ، وَحَوْلَهُ عُظَمَاءُ الرُّومِ ثُمَّ دَعَاهُمْ وَدَعَا بِتَرْجُمَانِهِ فَقَالَ أَيُّكُمْ أَقْرَبُ نَسَبًا بِهَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ فَقَالَ أَبُو سُفْيَانَ فَقُلْتُ أَنَا أَقْرَبُهُمْ نَسَبًا. فَقَالَ أَدْنُوهُ مِنِّي، وَقَرِّبُوا أَصْحَابَهُ، فَاجْعَلُوهُمْ عِنْدَ ظَهْرِهِ. ثُمَّ قَالَ لِتَرْجُمَانِهِ قُلْ لَهُمْ إِنِّي سَائِلٌ هَذَا عَنْ هَذَا الرَّجُلِ، فَإِنْ كَذَبَنِي فَكَذِّبُوهُ. فَوَاللهِ لَوْلاَ الْحَيَاءُ مِنْ أَنْ يَأْثِرُوا عَلَيَّ كَذِبًا لَكَذَبْتُ عَنْهُ، ثُمَّ كَانَ أَوَّلَ مَا سَأَلَنِي عَنْهُ أَنْ قَالَ كَيْفَ نَسَبُهُ فِيكُمْ قُلْتُ هُوَ فِينَا ذُو نَسَبٍ. قَالَ فَهَلْ قَالَ هَذَا الْقَوْلَ مِنْكُمْ أَحَدٌ قَطُّ قَبْلَهُ قُلْتُ لاَ. قَالَ فَهَلْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مِنْ مَلِكٍ قُلْتُ لاَ. قَالَ

فَأَشْرَافُ النَّاسِ يَتَّبِعُونَهُ أَمْ ضُعَفَاؤُهُمْ فَقُلْتُ بَلْ ضُعَفَاؤُهُمْ. قَالَ أَيَزِيدُونَ أَمْ يَنْقُصُونَ قُلْتُ بَلْ يَزِيدُونَ. قَالَ فَهَلْ يَرْتَدُّ أَحَدٌ مِنْهُمْ سَخْطَةً لِدِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيهِ قُلْتُ لاَ. قَالَ فَهَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ مَا قَالَ قُلْتُ لاَ. قَالَ فَهَلْ يَغْدِرُ قُلْتُ لاَ، وَنَحْنُ مِنْهُ فِي مُدَّةٍ لاَ نَدْرِى مَا هُوَ فَاعِلٌ فِيهَا. قَالَ وَلَمْ تُمْكِنِّى كَلِمَةٌ أُدْخِلُ فِيهَا شَيْئًا غَيْرُ هَذِهِ الْكَلِمَةِ. قَالَ فَهَلْ قَاتَلْتُمُوهُ قُلْتُ نَعَمْ. قَالَ فَكَيْفَ كَانَ قِتَالُكُمْ إِيَّاهُ قُلْتُ الْحَرْبُ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُ سِجَالٌ، يَنَالُ مِنَّا وَنَنَالُ مِنْهُ. قَالَ مَاذَا يَأْمُرُكُمْ قُلْتُ يَقُولُ اعْبُدُوا اللهَ وَحْدَهُ، وَلاَ تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا، وَاتْرُكُوا مَا يَقُولُ آبَاؤُكُمْ، وَيَأْمُرُنَا بِالصَّلاَةِ وَالصِّدْقِ وَالْعَفَافِ وَالصِّلَةِ. فَقَالَ لِلتَّرْجُمَانِ قُلْ لَهُ سَأَلْتُكَ عَنْ نَسَبِهِ، فَذَكَرْتَ أَنَّهُ فِيكُمْ ذُو نَسَبٍ، فَكَذَلِكَ الرُّسُلُ تُبْعَثُ فِي نَسَبِ قَوْمِهَا، وَسَأَلْتُكَ هَلْ قَالَ أَحَدٌ مِنْكُمْ هَذَا الْقَوْلَ فَذَكَرْتَ أَنْ لاَ، فَقُلْتُ لَوْ كَانَ أَحَدٌ قَالَ هَذَا الْقَوْلَ قَبْلَهُ لَقُلْتُ رَجُلٌ يَأْتَسِى بِقَوْلٍ قِيلَ قَبْلَهُ، وَسَأَلْتُكَ هَلْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مِنْ مَلِكٍ فَذَكَرْتَ أَنْ لاَ، قُلْتُ فَلَوْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مِنْ مَلِكٍ قُلْتُ رَجُلٌ يَطْلُبُ مُلْكَ أَبِيهِ، وَسَأَلْتُكَ هَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ مَا قَالَ فَذَكَرْتَ أَنْ لاَ، فَقَدْ أَعْرِفُ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ لِيَذَرَ الْكَذِبَ عَلَى النَّاسِ وَيَكْذِبَ عَلَى اللهِ، وَسَأَلْتُكَ أَشْرَافُ النَّاسِ اتَّبَعُوهُ أَمْ ضُعَفَاؤُهُمْ فَذَكَرْتَ أَنَّ ضُعَفَاءَهُمُ اتَّبَعُوهُ، وَهُمْ أَتْبَاعُ الرُّسُلِ، وَسَأَلْتُكَ أَيَزِيدُونَ أَمْ يَنْقُصُونَ فَذَكَرْتَ أَنَّهُمْ يَزِيدُونَ، وَكَذَلِكَ أَمْرُ الإِيمَانِ حَتَّى يَتِمَّ، وَسَأَلْتُكَ أَيَرْتَدُّ أَحَدٌ سَخْطَةً لِدِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيهِ فَذَكَرْتَ أَنْ لاَ، وَكَذَلِكَ الإِيمَانُ حِينَ تُخَالِطُ بَشَاشَتُهُ الْقُلُوبَ، وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَغْدِرُ فَذَكَرْتَ أَنْ لاَ، وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ لاَ تَغْدِرُ، وَسَأَلْتُكَ بِمَا يَأْمُرُكُمْ، فَذَكَرْتَ

أَنَّهُ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَعْبُدُوا اللهَ، وَلاَ تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا، وَيَنْهَاكُمْ عَنْ عِبَادَةِ الأَوْثَانِ، وَيَأْمُرُكُمْ بِالصَّلاَةِ وَالصِّدْقِ وَالْعَفَافِ. فَإِنْ كَانَ مَا تَقُولُ حَقًّا فَسَيَمْلِكُ مَوْضِعَ قَدَمَيَّ هَاتَيْنِ، وَقَدْ كُنْتُ أَعْلَمُ أَنَّهُ خَارِجٌ، لَمْ أَكُنْ أَظُنُّ أَنَّهُ مِنْكُمْ، فَلَوْ أَنِّي أَعْلَمُ أَنِّي أَخْلُصُ إِلَيْهِ لَتَجَشَّمْتُ لِقَاءَهُ، وَلَوْ كُنْتُ عِنْدَهُ لَغَسَلْتُ عَنْ قَدَمِهِ. ثُمَّ دَعَا بِكِتَابِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم الَّذِي بَعَثَ بِهِ دِحْيَةُ إِلَى عَظِيمِ بُصْرَى، فَدَفَعَهُ إِلَى هِرَقْلَ فَقَرَأَهُ فَإِذَا فِيهِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ. مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللهِ وَرَسُولِهِ إِلَى هِرَقْلَ عَظِيمِ الرُّومِ. سَلاَمٌ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى، أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَدْعُوكَ بِدِعَايَةِ الإِسْلاَمِ، أَسْلِمْ تَسْلَمْ، يُؤْتِكَ اللهُ أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ، فَإِنْ تَوَلَّيْتَ فَإِنَّ عَلَيْكَ إِثْمَ الأَرِيسِيِّينَ وَ (يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَنْ لاَ نَعْبُدَ إِلاَّ اللهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ) قَالَ أَبُو سُفْيَانَ فَلَمَّا قَالَ مَا قَالَ، وَفَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ الْكِتَابِ كَثُرَ عِنْدَهُ الصَّخَبُ، وَارْتَفَعَتِ الأَصْوَاتُ وَأُخْرِجْنَا، فَقُلْتُ لأَصْحَابِي حِينَ أُخْرِجْنَا لَقَدْ أَمِرَ أَمْرُ ابْنِ أَبِي كَبْشَةَ، إِنَّهُ يَخَافُهُ مَلِكُ بَنِي الأَصْفَرِ. فَمَا زِلْتُ مُوقِنًا أَنَّهُ سَيَظْهَرُ حَتَّى أَدْخَلَ اللهُ عَلَيَّ الإِسْلاَمَ. وَكَانَ ابْنُ الناطور صَاحِبُ إِيلِيَاءَ وَهِرَقْلَ سُقُفًّا عَلَى نَصَارَى الشَّأْمِ، يُحَدِّثُ أَنَّ هِرَقْلَ حِينَ قَدِمَ إِيلِيَاءَ أَصْبَحَ يَوْمًا خَبِيثَ النَّفْسِ، فَقَالَ بَعْضُ بَطَارِقَتِهِ قَدِ اسْتَنْكَرْنَا هَيْئَتَكَ. قَالَ ابْنُ الناطور وَكَانَ هِرَقْلُ حَزَّاءً يَنْظُرُ فِي النُّجُومِ، فَقَالَ لَهُمْ حِينَ سَأَلُوهُ إِنِّي رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ حِينَ نَظَرْتُ فِي النُّجُومِ مَلِكَ الْخِتَانِ قَدْ ظَهَرَ، فَمَنْ يَخْتَتِنُ مِنْ هَذِهِ الأُمَّةِ قَالُوا لَيْسَ يَخْتَتِنُ إِلاَّ الْيَهُودُ فَلاَ يُهِمَّنَّكَ شَأْنُهُمْ وَاكْتُبْ إِلَى مَدَايِنِ مُلْكِكَ،

فَيَقْتُلُوا مَنْ فِيهِمْ مِنَ الْيَهُودِ. فَبَيْنَمَا هُمْ عَلَى أَمْرِهِمْ أُتِيَ هِرَقْلُ بِرَجُلٍ أَرْسَلَ بِهِ مَلِكُ غَسَّانَ، يُخْبِرُ عَنْ خَبَرِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فَلَمَّا اسْتَخْبَرَهُ هِرَقْلُ قَالَ اذْهَبُوا فَانْظُرُوا أَمُخْتَتِنٌ هُوَ أَمْ لاَ. فَنَظَرُوا إِلَيْهِ، فَحَدَّثُوهُ أَنَّهُ مُخْتَتِنٌ، وَسَأَلَهُ عَنِ الْعَرَبِ فَقَالَ هُمْ يَخْتَتِنُونَ. فَقَالَ هِرَقْلُ هَذَا مَلِكُ هَذِهِ الأُمَّةِ قَدْ ظَهَرَ. ثُمَّ كَتَبَ هِرَقْلُ إِلَى صَاحِبٍ لَهُ بِرُومِيَةَ، وَكَانَ نَظِيرَهُ فِي الْعِلْمِ، وَسَارَ هِرَقْلُ إِلَى حِمْصَ، فَلَمْ يَرِمْ حِمْصَ حَتَّى أَتَاهُ كِتَابٌ مِنْ صَاحِبِهِ يُوَافِقُ رَأْىَ هِرَقْلَ عَلَى خُرُوجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَأَنَّهُ نَبِيٌّ، فَأَذِنَ هِرَقْلُ لِعُظَمَاءِ الرُّومِ فِي دَسْكَرَةٍ لَهُ بِحِمْصَ ثُمَّ أَمَرَ بِأَبْوَابِهَا فَغُلِّقَتْ، ثُمَّ اطَّلَعَ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الرُّومِ، هَلْ لَكُمْ فِي الْفَلاَحِ وَالرُّشْدِ وَأَنْ يَثْبُتَ مُلْكُكُمْ فَتُبَايِعُوا هَذَا النَّبِيَّ، فَحَاصُوا حَيْصَةَ حُمُرِ الْوَحْشِ إِلَى الأَبْوَابِ، فَوَجَدُوهَا قَدْ غُلِّقَتْ، فَلَمَّا رَأَى هِرَقْلُ نَفْرَتَهُمْ، وَأَيِسَ مِنَ الإِيمَانِ قَالَ رُدُّوهُمْ عَلَيَّ. وَقَالَ إِنِّي قُلْتُ مَقَالَتِي آنِفًا أَخْتَبِرُ بِهَا شِدَّتَكُمْ عَلَى دِينِكُمْ، فَقَدْ رَأَيْتُ. فَسَجَدُوا لَهُ وَرَضُوا عَنْهُ، فَكَانَ ذَلِكَ آخِرَ شَأْنِ هِرَقْلَ.

۷- او له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: ابو سفيان بن حرب خبر راکړی او راته ويلي ئې دي: کله چې د سوداګرانو له يوې ډلې سره په شام کې وم د روم پاچا (هرقل) ځانته وغوښتلم، ابن عباس رضي الله عنهما وايي: او دا هغه وخت وو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم له ابو سفيان او د قريشو له کفارو سره معاهده درلوده، دوی په داسې حال کې ورغلل چې هرقل د روم له يو شمېر

مشرانو سره په ايليا (بيت المقدس) کي وو، نو ابوسفيان او ملګري ئې وغوښتل، ترجمان ئې هم راوغوښت او وئي ويل: له تاسي کوم يو له دې شخص سره چي د نبوت دعوی کوي د نسب له پلوه ډېره نژدې خپلوي لري؟ ابوسفيان وايي: ما ورته وويل: زه تر ټولو ورنږدې يم، هرقل وويل: دا کس (ابوسفيان) را لنډ کړئ؛ او ملګري ئې راولئ، شا ته ئې ورته ودروئ، بيا ئې خپل ترجمان ته وويل: د ابو سفيان ملګرو ته ووايه چي زه له دې شخص (ابوسفيان) پوښتنې کوم که په ځواب کي ئې دروغ راته وويل، نو تاسي ئې دروغ په ګوته کړئ. ابوسفيان وايي: په خدای قسم که له دې نه وی شرمېدلی چي خپل ملګري به مي دروغجن کړي؛ حتما به مي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه دروغ ويلي وو. د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه د هرقل لومړۍ پوښتنه دا وه چي وئې ويل: ستاسي په منځ کي د هغه (رسول الله صلى الله عليه و سلم) نسب څنګه دئ؟ ما ورته وويل: هغه زمونږ په منځ کي د لوړ نسب خاوند دئ. هرقل وويل: آيا له ده مخکي له تاسي کوم يوه دا ډول دعوی کړې ده؟ (يعنی آيا بل چا د نبوت دعوی کړې ده؟ ما ورته وويل: نه؛ هرقل وويل: آيا د ده له پلرونو کوم يوه پاچاهي کړې ده؟ ما وويل: نه؛ هرقل وويل: پلويان ئې کمزوري او بې وزلي دي او که اميران او اشراف؟ ما وويل: بې وزلي، هغه وويل: پلويان ئې زياتېږي او که کمېږي؟ ما وويل: زياتېږي، وئې ويل: آيا په پلويانو کي ئې داسي څوک شته چي د ده دين ته له داخلېدو وروسته له دين د نفرت له امله

ببرته تري وتلی وي (مرتد شوی وي)؟ ما وويل: نه؛ وئې ويل: آيا تر دې د مخه چې دا وينا وکړي؛ د درواغو په ويلو مو تورن کولو؟ ومي ويل: نه. وئې ويل آيا خيانت کوي؟ ومې ويل: نه؛ خو مور اوس له هغه سره په يوې معاهدې کي يو، خبر نه يو چې په دې اړه به څه کوي؟ ابوسفيان وايي له دې خبري پرته مي بل داسي څه ونه شو موندلی چې رسول الله صلی الله عليه و سلم پرې تورن کړم. وئې ويل: آيا له هغه سره جنګېدلي يئ؟ ومي ويل: هو؛ وئې ويل: له هغه سره د جګړي پايله څنګه وه؟ ومي ويل: له هغه سره زمور جګړه اوړېدونکي رااوړېدونکې ده، کله هغه پر مور او کله مور پر هغه برلاسي وو، وئې ويل: تاسي ته د څه امر کوي؟ ومي ويل: وايي: يوازي د يوه خدای عبادت وکړئ، هيڅ شی مه ورسره شريکوئ او هغه څه پرېږدئ چې ستاسو پلرونو لمانځل، همدا راز مور ته د لمانځه، ربښتيا، عفت (پاکې) او صلۀ رحمې (د خپلوۍ پالنې) امر کوي. بيا هرقل خپل ترجمان ته وويل: ورته ووايه چې ما له تا د هغه د نسب پوښتنه وکړه او تا وويل چې هغه ستاسي په منځ کي د لوړ نسب خاوند دئ. همداسي ده چې پيغمبران په خپل قوم کي د لوړ نسب له خاوندانو غوره او رالېږل کېږي. پوښتنه مي درنه وکړه چې آيا له ده مخکي له تاسي کوم چا داسي څه ويلي؟ تا وويل چې نه؛ ما له ځان سره وويل که له ده مخکي بل چا داسي څه ويلي وي نو ده به هم د هغې خبري تقليد کړی وي چې تر ده مخکي ويل شوې، پوښتنه مي درنه وکړه چې له پلرونو ئې

کوم یوه پاچاهي کړې ده؟ تا راته وویل چې نه؛ ومي ویل: که له پلرونو ئې چا پاچاهي کړې وی، نو ما به ویلي وو چې دا شخص د خپل پلار، نیکه پاچاهي غواړي، پوښتنه مي وکړه چې د نبوت له ادعاء مخکې مو د درواغو په ویلو تورناوو؟ تا راته وویل چې نه؛ زه پوه شوم چې دا امکان نه لري هغه څوك دي د خدای په اړه دروغ ووایي چې له بندګانو سره له دروغو ډډه کوي. پوښتنه مي وکړه چې پلویان ئې څوک، کمزوري او بې وسان دي او که اشراف او امیران، تا وویل چې کمزوري خلک ئې متابعت کوي، دا حقیقت دئ چې د نبیانو پلویان کمزوري او بې وسه خلك وي، پوښتنه مي درنه وکړه چې د پلویانو شمېره ئې کمېږي که زیاتېږي، تا راته وویل چې د هغوی شمېر مخ په زیاتېدو دئ. د ایمان شأن همداسي وي تر هغه چې بشپړ شي. پوښتنه مي درنه وکړه چې آیا له پلویانو ئې څوك په دین کې له داخلېدو وروسته د کرکې په وجه مرتد شوی دئ، تا وویل: نه؛ ایمان همداسي وي، کله چې ئې رڼا زړه ته پرېوځي، پوښتنه مي درنه وکړه چې خیانت کوي، تا وویل نه؛ رسولان همداسي وي، خیانت نه کوي. پوښتنه مي درنه وکړه په څه مو ګماري، تا وویل په دې مو ګماري چې یوازی د الله تعالی عبادت وکړئ، هیڅ شی مه ورسره شریکوئ، د بتانو له لمانځني مو منع کوي، د لمانځه، ربښتیا او عفاف (پاکی) امر درته کوي، که چېرې ستا خبري ربښتیا وي نو ډېر ژر به دغه زما تر پښو لاندي ځای هم ونیسي، زه په دې پوهېدم چې یو پیغمبر به مبعوث کېږي،

خو دا ګمان مي نه وو چې هغه به له تاسي وې، که په دې پوهېدی چې حضور ته ئې وررسېدای شم، نو حتما به ئې لیدو ته ورغلی وم، که په لیدو ئې مشرف شوی وی نو پښې به مي ور مینځلې وې)، بیا ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه لیک راوغوښت چې د دحیه په لاس ئې د بصرې مشر ته استولی وو. نو هرقل ته ئې ورکړ، هغه ولوست او داسي پکي لیکل شوي وو:

بسم الله الرحمن الرحیم

د الله د بنده او رسول محمد صلی الله علیه و سلم له خوا د روم مشر (هرقل) ته! په هغه چا دي سلام وي چې د هدایت متابعت کوي، له دې وروسته؛ زه د اسلام بلنه درکوم، اسلام راوړه چې په امن شې، الله تعالی به دوه برابره اجر درکړي؛ او که دي مخ واړاوو نو د بزګرانو ګناه به دي هم پر غاړه وي، ای د کتاب خاوندانو! د هغې کلمې خوا ته راشئ چې زمونږ او تاسي تر منځ شریکه او برابره ده او هغه دا ده چې له خدای پرته د بل چا عبادت ونه کړو، هیڅ شی ورسره شریک نه کړو؛ او له مونږ هیڅ یو بل په خدایي ونه نیسي، نو که ئې ډډه وکړه نو ورته ووایئ چې په دې شاهدان اوسئ چې مونږ مسلمانان یو).

ابوسفیان وایي: کله چې هرقل خپلې خبرې وکړې او د لیک له لوستلو فارغ شو، په وړاندي ئې شور او ځوږ جوړ شو، له هري خوا ږغونه لوړ شول، نو مونږ ئې وایستلو، ما خپلو ملګرو ته وویل: داسي ښکاري چې د ابن ابي کبشه کار

دومره ستر شوی چي د روم پاچا هم تري وپرپږي، (له ابن ابي کبشه ئې مراد رسول الله صلی الله علیه و سلم وو، ځکه د رسول الله صلی الله علیه و سلم د رضاعي پلار حارث بن عبدالعزی کنیه (ابوکبشه) وو؛ او کبشه ئې د یوې لور نوم وو). ابو سفیان وایي له همدې ورځي وروسته په دې باوري وم چي محمد صلی الله علیه و سلم به بریالی کېږي، تر هغه الله تعالی په اسلام مشرف کړم.

ابن ناطور (چي د ایلیاء یعنی بیت المقدس امیر او د هرقل ملګری او د شام د مسیحیانو مذهبي مشر وو) وایي: کله چي هرقل ایلیاء (بیت المقدس) ته راغی، یوه ورځ خفه او غمجن غوندي شو، ځینو درباریانو ئې ورته وویل: بدل غوندي راته ښکاري، غمجن یې! ابن ناطور وایي چي هرقل نجومي او ستوري پیژندونکی وو، ستورو ته به ئې کتل، کله چي درباریانو دا پوښتنه تري وکړه؛ ده ئې په ځواب کي وویل: پرون شپه مي چي ستورو ته وکتل ومي لیدل چي د هغه قوم یا خلکو پاچا چي ځانونه سنتوي، پر نورو برلاسی شوی دئ؛ او پوښتنه ئې وکړه چي په دې زمانه کي سنتول (ختنه کول) په کوم قوم کي رواج لري؟ دوی ورته وویل: له یهودو پرته نور څوک سنتول نه کوي؛ او له دوی وپره مه کوه؛ او د خپلي پاچاهۍ ټولو ښارونو ته ولیکه چي هلته شته یهودان ټول ووژني. دوی لا د همدې موضوع په اړه په خبرو او بحث لګیا وو چي د غسان د پاچا استازی راورسېد. او دغه شخص د دې لپاره راغلی وو چي هرقل ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم خبرونه ورسوي. او وروسته له

دې چې هرقل د دې شخص له خوا په راوړل شوو خبرونو خبر او پوه شو، وئې ویل: لاړ شئ او وګورئ چې دا کس سنت شوی دئ او که نه؟ دوی چې هغه کس وکوت وئې لید چې سنت شوی، نو هرقل ته ئې وویل چې هو؛ دا کس سنت شوی دئ، هرقل له هغه د عربانو په اړه وپوښتل چې آیا د هغوی په منځ کې سنتول رواج لري او که نه؟ هغه وویل، هو عربان ځانونه سنتوي، هرقل وویل: دا شخص چې ما لیدلی (محمد صلی الله علیه و سلم) همدا د دې امت پاچا دئ چې ظهور ئې کړی.

وروسته هرقل خپل یوه دوست ته چې په (رومیه) کې وو او د ده په شان پوه او هوښیار شخص وو، یو لیک ولیږو او پخپله (حمص) ته روان شو؛ او (حمص) ته لا نه وو رسېدلی چې همغه ملګري ئې د لیک ځواب ورته راولیږو؛ او په خپل لیک کې ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د ظهور په اړه له هرقل سره توافق او یووالی څرګند کړی وو او ویلي ئې وو چې همدا شخص (محمد صلی الله علیه و سلم) پیغمبر دئ.

ورپسې هرقل د روم د خلکو مشران د (حمص) په مانۍ کې راغونډ کړل، د مانۍ دروازې ئې وتړلې؛ او دوی ته ئې په خپل خطاب کې وویل: اې د روم خلکو! آیا تاسې فلاح (نجات) خیر او هدایت نه غواړئ؟ او نه غواړئ چې پاچاهي مو ثابته او دوامداره درته پاته وي؟ که دا غواړئ نو راځئ له دې پیغمبر صلی الله علیه و سلم سره بیعت وکړئ (د دې

خبري په اورېدو سره) ټولو لکه د وحشي خرو په شان د دروازو په لور ټوپ کړل، خو وئې لیدل چې ټولې دروازې او ورونه ټرل شوی دي، هرقل چې د دوی دا نفرت او تنفر ولید، د دوی له ایمان راوړو ناهیلی شو، وئې ویل: دوی بېرته راته راولئ، (کله چې بېرته راغلل) وئې ویل: ما دا خبري د دې لپاره درته وکړې چې غوښتل مي له خپل دین سره ستاسو ټراو وآزمویم، نو ما چې څه غوښتل هغه مي ولیدل، (دوی چې د هرقل دا خبري واورېدلې) سجده ئې ورته وکړه، خپله خوښي ئې ورنه څرګنده کړه؛ او دا له خپلو پلویانو سره د هرقل وروستۍ قصه وه.

تکرار: دا اوږد روایت چې د کتاب نژدې دري څلور صفحې تر جوړېږي؛ په بخاري کي یولس ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: **51، 2681، 2804، 2941، 2978، 3174، 4553، 5980، 6260، 7196، 7541**، که دا ټول له ژباړي سره په دې کي نیول شوي وی؛ نو نژدې دېرش - څلوېښت صفحې تر جوړېدي؛ د اختصار لپاره په همدغه مقدار اکتفاء کړې.

توپیر: ځیني ئې لنډ او ځیني ئې اوږده دي، په ځینو کي څه الفاظ اضافه شوي لکه دا چې لاَ يَسْخَطُهُ أَحَدٌ، په ځینو کي ویل شوي چې پیغمبر علیه السلام مو په دغو کارونو ګماري لمونځ، ربښتیا، پاك لمني، په ژمنو وفاء، امانت سپارل، خو په بل کي داسي ویل شوي چې: یوازی د الله تعالی عبادت وکړئ، هیڅ شی مه ورسره شریکوئ، د بتانو

له لمانځني مو منع کوي، د لمانځه، ربښتيا او عفاف (پاک لمنې) راته امر کوي، په يوه کي يوازي سجال او په بل کي سجال وَدُوَلٌ، په يوه کي د پيغمبرانو په اړه د هرقل خبره داسي راغلې فَكَذَلِكَ الرُّسُلُ تُبْتَلَى ثُمَّ تَكُونُ لَهُمُ الْعَاقِبَةُ او په بل کي دا الفاظ نه دي راغلي، په يوه کي د حَسَبُهُ صيغه راغلې او په بل کي د نَسَبُه، په يوه کي سَخْطَةً لَهُ، په بل کي سَخْطَةً لدينه، په يوه کي يُصِيبُ مِنَّا وَنُصِيبُ مِنْهُ او په بل کي ينال منا او ننال منه، په يوه کي دا الفاظ مومو أَنَّ هِرَقْلَ أَرْسَلَ إِلَيْهِ فِي نَفَرٍ مِنْ قُرَيْشٍ وَكَانُوا تِجَارًا بِالشَّأْمِ؛ او په بل کي دا أَرْسَلَ إِلَيْهِ فِي رَكْبٍ مِنْ قُرَيْشٍ او دې ته ورته نور توپيرونه.

د دې روايت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

- ځيني به ښايي داسي ګمان وکړي چي هرقل به دا خبري د بايبل (تورات او انجيل) له مخي کړې وي، حال دا چي په بايبل کي د دغو ټولو خبرو يوه هم نشته.

د هرقل په خبرو کي ځيني د منلو وړ دي او ځيني ئې د حقيقت او دين خلاف. د روايت دا خبره چي (ابن ناطور وايي: هرقل نجومي او ستوري پيژندونکی وو، ستورو ته به ئې کتل، کله چي درباريانو د خپل خفګان په اړه ترې وپوښتل؛ ده ئې په ځواب کي وويل: پرون شپه مي چي ستورو ته وکتل ومي ليدل چي د هغه قوم يا خلکو پاچا چي ځانونه سنتوي، پر نورو برلاسی شوی دئ)، دا هسي خرافات، د دين، علم او عقل خلاف خبري دي، نه د زمکي له پيښو سره ستوري څه تعلق لري او نه ستورو ته په کتلو

سره څوك پوهيږي چي په نړۍ كي څه شوي او څه به كيږي، پيغمبر عليه السلام فرمايي: څوك چي د نجومي په خبري باور وكړي؛ قرآن ئې تكذيب كړی، يعني د نجومي پر وينا باور كول له قرآن انكار او كفر دئ. كاش بخاري يا دا خبره نه وی راوړي او يا ئې خوا ته دا وضاحت كړی وی چي دا خوشې او غلطه خبره ده، چي د بخاري لوستونكي په اشتباه كي نه لويدی. دا وضاحت ځكه ضروري وو چي ډېرو ټگمارانو د خلكو د غولولو لپاره د فال ليدو او نجوم پېژندو دكانونه پرانيستي، ناپوه او د دين له حقيقت بې خبره خلك غولوي، پيسې ترې شكوي او خپلي كځوړي ډكوي، ورته وايي: كه په زړه پوري شكرانه راكړي د ستورو حساب ته په كتو سره كولی شم د راتلونكو پېښنو په اړه معلومات دركړم، دا دئ په بخاري شريف كي هم راغلي چي هرڅل د ستورو له مخي پوه شو چي څه به كيږي!!

همدا راز د قرآن له نظره ټول انسانان د حسب او نسب له پلوه سره برابر دي، د ټولو نسب يو دئ، هيڅوك د نسب او حسب له پلوه پر بل فوقيت نه لري، انسانان له يوه مور پلار دنيا ته راغلي، په رگونو كي ئې د يوه نسل وينه ده، نه تور پر سپين، نه عربي پر عجمي، نه دا توكم پر هغه بل څه امتياز لري، اسلام د تعصب بت مات كړی او خلكو ته ئې ويلي چي د امتياز معيار نه رنگ او نسل دئ او نه قوم او ژبه، يوازي تقوی يوه انسان ته پر بل امتياز وركوي. قرآن دا د كافرانو وينا گڼي چي ويل ئې: ولي دا قرآن په يوه شتمن، مخور، له اجتماعي پلوه ستر شخصيت نه دئ نازل شوی: وَ قَالُوا لَوْ لا نُزِّلَ هَذَا الْقُرْءَانُ عَلى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَينِ

عَظِيمٍ * الزخرف:31

دا هم د پيغمبر د حقانيت نښه نه ده چې پلويان به ئې ورځ په ورځ زياتيږي، ځکه ډير پيغمبران داسي تير شوي چې لږو کسانو پرې ايمان راوړی، نوح عليه السلام ئې يو او لوط عليه السلام ئې بل مثال دئ.

2- د ايمان كتاب

1- باب الإِيمَانِ وَقَوْلِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم "بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ". وَهُوَ قَوْلٌ وَفِعْلٌ، وَيَزِيدُ وَيَنْقُصُ. قَالَ الله تَعَالَى (لِيَزْدَادُوا إِيمَانًا مَعَ إِيمَانِهِمْ). (وَزِدْنَاهُمْ هُدًى) (وَيَزِيدُ الله الَّذِينَ اهْتَدَوْا هُدًى) (وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَآتَاهُمْ تَقْوَاهُمْ) (وَيَزْدَادَ الَّذِينَ آمَنُوا إِيمَانًا) وَقَوْلُهُ (أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَذِهِ إِيمَانًا فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا). وَقَوْلُهُ جَلَّ ذِكْرُهُ (فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا). وَقَوْلُهُ تَعَالَى (وَمَا زَادَهُمْ إِلاَّ إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا). وَالْحُبُّ فِي الله وَالْبُغْضُ فِي الله مِنَ الإِيمَانِ. وَكَتَبَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ إِلَى عَدِيِّ بْنِ عَدِيٍّ إِنَّ لِلإِيمَانِ فَرَائِضَ وَشَرَائِعَ وَحُدُودًا وَسُنَنًا، فَمَنِ اسْتَكْمَلَهَا اسْتَكْمَلَ الإِيمَانَ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَكْمِلْهَا لَمْ يَسْتَكْمِلِ الإِيمَانَ، فَإِنْ أَعِشْ فَسَأُبَيِّنُهَا لَكُمْ حَتَّى تَعْمَلُوا بِهَا، وَإِنْ أَمُتْ فَمَا أَنَا عَلَى صُحْبَتِكُمْ بِحَرِيصٍ. وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ (وَلَكِنْ لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِى). وَقَالَ مُعَاذٌ اجْلِسْ بِنَا نُؤْمِنْ سَاعَةً. وَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ الْيَقِينُ الإِيمَانُ كُلُّهُ. وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ لاَ يَبْلُغُ الْعَبْدُ حَقِيقَةَ التَّقْوَى حَتَّى يَدَعَ مَا حَاكَ فِي الصَّدْرِ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ (شَرَعَ لَكُمْ) أَوْصَيْنَاكَ يَا مُحَمَّدُ وَإِيَّاهُ دِينًا وَاحِدًا. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ (شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا) سَبِيلاً وَسُنَّةً.

لكه چي گورئ بخاري د ايمان تر باب مخكي څو آيتونه او روايات راوړي چي د ايمان زيادت، نقصان او استكمال ته اشاره كوي، دا د څه لپاره؟ همدا راز څوك چي د بخاري په كتاب كي د موضوعاتو ترتيب ته ځير شي نو حتماً دا پوښتنه ورسره پيدا كيږي چي ولي ئې لومړی عقائد لكه پر الله تعالى ايمان، پر آخرت ايمان، پر كتابونو ايمان، پر فرشتو ايمان، پر پيغمبرانو ايمان، پر قضاء او قدر ايمان او د دې ايمان غوښتني نه دي راوړې او بيا ئې عبادات په داسي بڼې كي نه دي ذكر كړي چي لومړی فرائضو او مهمو عباداتو ته او بيا مستحباتو ته اشاره وكړي، ولي ئې د جهاد مربوط روايات ډېر وروسته او تر ډېرو فروعي مسائلو وروسته ذكر كړي، لكه د مدينې فضائل او د صحابه وو مناقب په څېر فرعي مسائل ئې تر مغازي مخكي راوړي؛ او الاعتصام بالكتاب او توحيد ئې د كتاب په پاى كي؟! دا پوښتنه هم ورسره پيدا كيږي چي ولي ئې د ايمان په باب كي داسي آيتونه راوړي چي په ايمان كي زياتوالي او كموالي ته اشاره كوي؟!! خبره دا ده چي امام بخاري رحمه الله خپل كتاب په داسي وخت كي تدوين كړی چي غوښتل ئې د امام ابوحنيفه رحمه الله دا رأيه ترديد كړي چي وايي: ايمان ثابت دئ، نه زياتيږي او نه كميږي، د همدې لپاره هغه د خپل كتاب په سر كي داسي آيتونه او احاديث راوړي چي وښيي ايمان ثابت نه دئ، زياتيږي او كميږي! دا په داسي حال كي چي په دې اړه اختلاف ډېر بسيط او لفظي اختلاف دئ او په دې قطعاً نه ارزي چي دومره اهميت وركړی شي، خو څه وكړو چي متأسفانه ځينو اسلامي امت

په دغسي قضاياوو کي مصروف او تر منځ ئې اختلافات راولاړ کړي. ايمان د مؤمن به شيانو له پلوه هيڅ تغيير او زياتوالی کموالی نه قبلوي، عادي مسلمان به په ټولو هغو شيانو ايمان لري چې پيغمبر عليه السلام پرې ايمان لري، له دې پلوه د پيغمبر عليه السلام او د ده د ادنی امتي د ايمان تر منځ هيڅ توپير نشته، خو د ايمان د کيفيت، قوت او ضعف له پلوه ژور توپيرونه شته، دومره لکه د زمکي او آسمان تر منځ دا اوږد واټن، له دې پلوه ايمان تغيير مومي، زياتيږي او کميږي، هغه به کوم ناپوه انسان وي چې له دې توپير انکار وکړي او ټول هغه آيتونه له پامه وغورځوي چې دغه توپير، زيادت او نقصان ته اشاره کوي؟!!

پر امام ابوحنيفه رحمه الله به دا اعتراض يوازي په هغه صورت کي وارد وو چې هغه د ايمان په څرنګوالي او قوت او ضعف کي له توپير انکار کړی وی.

۱- باب: د اسلام پنځه بناوي

8- حَدَّثَنَا عُبَيْدُ الله بْنُ مُوسَى قَالَ أَخْبَرَنَا حَنْظَلَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ خَالِدٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ الله، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالْحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ". بخاري: 8

۸- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: اسلام پر پنځګونو ولاړ دئ: د دې شاهدي ويل چې له الله پرته بل معبود نشته

او محمد صلى الله عليه و سلم د الله رسول دئ، لمونځ کول، زکات ورکول، د بيت الله حج او د رمضان مياشتي روژه.

تکرار: بخاري په دې اړه يو بل روايت هم لري چې لومړی راوي ئې همدا ابن عمر رضي الله عنهما دئ خو په الفاظو کې ئې توپير شته، روايت دا دئ:

4514- وَزَادَ عُثْمَانُ بْنُ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي فُلاَنٌ وَحَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ عَنْ بَكْرِ بْنِ عَمْرٍو الْمَعَافِرِيِّ أَنَّ بُكَيْرَ بْنَ عَبْدِ الله حَدَّثَهُ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ رَجُلاً أَتَى ابْنَ عُمَرَ فَقَالَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ مَا حَمَلَكَ عَلَى أَنْ تَحُجَّ عَامًا وَتَعْتَمِرَ عَامًا، وَتَتْرُكَ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ الله عَزَّ وَجَلَّ، وَقَدْ عَلِمْتَ مَا رَغَّبَ الله فِيهِ قَالَ يَا ابْنَ أَخِي بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ إِيمَانٍ بِالله وَرَسُولِهِ، وَالصَّلاَةِ الْخَمْسِ، وَصِيَامِ رَمَضَانَ، وَاداءِ الزَّكَاةِ، وَحَجِّ الْبَيْتِ. قَالَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَلاَ تَسْمَعُ مَا ذَكَرَ الله فِي كِتَابِهِ (وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا) (إِلَى أَمْرِ الله) (قَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ) قَالَ فَعَلْنَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم وَكَانَ الإِسْلاَمُ قَلِيلاً، فَكَانَ الرَّجُلُ يُفْتَنُ فِي دِينِهِ إِمَّا قَتَلُوهُ، وَإِمَّا يُعَذِّبُوهُ، حَتَّى كَثُرَ الإِسْلاَمُ فَلَمْ تَكُنْ فِتْنَةٌ.

نافع روايت کوي چې يو کس عبد الله بن عمر ته راغی او وئې ويل: اې ابوعبدالرحمنه! څه درباندي شوي چې يو کال حج کوې او بل کال عمره؛ خو د الله جل شأنه په لار کې جهاد دي پرېښی؟! او پوهيږې چې الله په دې اړه څومره هڅونه کړې، وئې ويل: اې وراره! اسلام پر پنځګونو ولاړ

دئ: پر الله او پيغمبر ئې ايمان، پنځه لمونځونه، د رمضان مياشتي روژه، د زکات ورکول؛ او د بيت الله حج، وئې ويل: اې ابوعبدالرحمنه! آيا هغه څه نه اورې چې الله تعالى په خپل کتاب کې ذکر کړي؟ (وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا) تر (إِلَى أَمْرِ الله): که د مؤمنانو دوه ډلي په خپلو کې په جګړه شوې نو تر منځ ئې صلح وکړئ.... که يوې ډلې پر بلې تېرى وکړ نو له هغې ډلې سره چې تېرى کوي تر هغه وجنګيږئ چې د الله حکم ته غاړه کښيږدي؛ او له دوى سره تر هغه وجنګيږئ چې فتنه (په هيڅ ځاى کې) پاته نه وي او دين يوازې الله لره وي، وئې ويل: مورږ دا کار د رسول الله صلى الله عليه و سلم په دور کې او هغه مهال وکړ چې مسلمانان لږ او اسلام کمزورى وو، داسې چې يو کس به د دين لپاره له فتنې (آزمويښو) سره مخامخ کېدو يا به ئې وژلو او يا به ئې تعذيبولو، تر هغه چې اسلام ډېر (خور) شو نو هغه فتنه پاته نشوه.

په دې اړه څو خبرې د يادولو وړ دي:

بخارې دا وضاحت نه دئ کړى چې عبدالله بن عمر دا خبره په کوم مناسبت کړې او د چا او کوم جهاد ته د بلنې په ځواب کې ئې کړې ده، حال دا چې له دې خبرې پرته د روايت په معنى سم پوهېدا ناشونې ده، له دې پرته لوستونکى دا غلطه انتباه ترې اخلي چې ګواکې جهاد يوازې د پيغمبر عليه السلام په دور کې او هغه مهال فرض وو چې مسلمانان کمزورې ول او ځورول کېدل؛ او کله چې هغه مرحله پاى ته ورسېده او مسلمانان ډېر شول نو د جهاد

ضرورت پای ته ورسېدو، داسي انتباه له قرآن سره په بشپړه توګه منافات لري، حقيقت دا دئ چي دلته عبدالله بن عمر ته په هغي جګړي کي د برخي اخيستو بلنه ورکړی شوې چي د معاويه او علي رضي الله عنهما د پلويانو تر منځ روانه وه، له نورو رواياتو معلومېږي چي دا کس د علي رضي الله عنه له پلويانو وو، دوی د معاويه پلويانو رضي الله عنهم ته د باغيانو په سترګه کتل، د عبدالله بن عمر له نظره دا جګړه يوه فتنه وه او په هغې کي ئې برخه اخيستا ناروا يا غير ضروري ګڼله، که نه د عبدالله بن عمر په څېر په قرآن او حديث پوه او متقي صحابي به څنګه د قرآن خلاف وينا کوي او جهاد به منتفي ګڼي؟!! هغه خو د احد په جګړي کي حتی هغه مهال هم غوښتل برخه واخلي چي ډېر ووړ وو او رسول الله صلى الله عليه و سلم د ده کمعمری ته په پام سره له لاري ببرته ستون کړ. په دې اړه بل روايت داسي دئ:

عَنْ يَزِيدَ بْنِ بِشْرٍ السَّكْسَكِيِّ، قَالَ : قدِمْت الْمَدِينَةَ فَدَخَلْت عَلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ فَأَتَاهُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ، فَقَالَ : يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ، مَالَك تَحُجُّ وَتَعْتَمِرُ وَقَدْ تَرَكْت الْغَزْوَ فِي سَبِيلِ اللهِ؟ قَالَ : وَيْلك إنَّ الإِيمَانَ بُنِيَ عَلَى خَمْسٍ : تَعْبُدُ اللَّهَ، وَتُقِيمُ الصَّلاَةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَتَحُجَّ، وَتَصُومَ رَمَضَانَ، قَالَ : فَرَدَّهَا عَلَيَّ . فَقَالَ : يَا عَبْدَ اللهِ تَعْبُدُ اللَّهَ، وَتُقِيمُ الصَّلاَةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَتَحُجَّ، وَتَصُومَ رَمَضَانَ , كَذَلِكَ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ الْجِهَادُ حَسَنٌ. مصنف ابن ابي شيبه

له يزيد بن بشر روايت دئ چي مدينې ته راغلم؛ او عبدالله

بن عمر ته ورغلم، يو عراقي ورته راغی او وئې ويل: څه درباندي شوي چې حج او عمره کوې؛ خو د الله په لار کي جهاد دي پرېښی؟! وئې ويل: افسوس پر تا، ايمان پر پنځګونو درول شوی: دا چې د الله عبادت وکړې، لمونځ وکړې، زکات ورکړې، حج وکړې او د رمضان په مياشتي کي روژه ونيسې، رسول الله صلى الله عليه و سلم مور ته همداسي ويلي، بيا جهاد ښه دئ.

له دې روايت معلوميږي چې د عبدالله بن عمر له نظره دا پنځه خبري لومړنی او ابتدائي خبري دي او جهاد وروستنی کار دئ، حقيقت دا دئ چې دغه پنځه کارونه يو مسلمان جهاد ته چمتو کوي.

متأسفانه ځيني خلك پر دغه روايت استناد کوي او له جهاد تر شا کېدا توجيه کوي. خو له دې روايت په څرګنده توګه معلوميږي چې په هغه بل روايت کي پنځه خبري نه د حصر لپاره دي او نه د جهاد د نفي لپاره.

بخاري دې ته هم اشاره نه ده کړې چې پيغمبر عليه السلام دا وينا په کوم مناسبت کړې چې اسلام په پنځو ستنو ولاړ دئ؟ تر دې د مخه ئې څه ويلي؟ تر دې وروسته ئې څه ويلي؟ دا مستقله وينا ده که د يوې وينا برخه؟ عموميت لري که خاصه ده؟!! که د دغو خبرو وضاحت ونه شي نو د روايت په حقيقي معنی سم نه شو پوهېدی؛ او له داسي پوښتنو سره مخامخ کېږو چې ځواب ئې نه شو ويلی، ځکه د قرآن له مخي نه دا روايت د جهاد د نفي او پای ته رسېدو په معنی تعبيرولی شو او نه په دې معنی چې د اسلام

اساسي ستني يوازي دغه پنځه دي، آيات او روايات خو وايي چي جهاد به تر قيامت دوام کوي او تر هغه چي پر زمکي د الله تعالى دين غالب شي او له دې دين پرته بل دين پاته نه وي، په کوم آيت کي چي قرآن جهاد د فتنې تر پای ته رسېدو پوري فرض ګڼلی هلته له فتنې مراد د کفر او شرك برلاسي او سلطه ده، نه داخلي جګړي، که قرآن او د پيغمبر عليه السلام احاديثو ته ځير شو نو وبه ګورو چي نه يوازي اسلام په دغو پنځو کي نه راخلاصه کېږي بلکي ډېر داسي امور شته چي تر لمونځ، زکات، حج او روژې مهم ګڼل شوي، لکه دا: پر آخرت، کتاب، پيغمبرانو، فرشتو، قضاء او قدر ايمان، له دې ايمان پرته نه لمونځ قبلېږي او نه نور عبادات او نه د شهادت کلمه ويل کافي ګڼل کېږي، په قرآن کي تر روژې او حج د امر بالمعروف، نهي عن المنكر او جهاد فِي سبيل الله زياته يادونه شوې، که د جهاد اړوند هغه آيتونه هم حساب کړو چي په غيرمستقيمه توګه د جهاد سپارښتنه کوي نو ويلي شو چي تر لمانځه او زکات هم په جهاد زيات ترکيز او تأکيد شوی، جهاد د ايمان او په ايمان کي د اخلاص او صداقت لپاره د معيار او ملاك په توګه معرفي شوی، بل هيڅ عبادت ته په دې سترګه نه دي کتل شوي، د هغه چا د ايمان دعوی دروغجنه ګڼل شوې چي له جهاد ډډه کوي، د بل عبادت په اړه دا خبره نه ده شوې. په رواياتو کي د جهاد پرېښودونکي په اړه ويل شوي چي له اسلامه وتلی که څه هم لمونځ کوي او روژه نيسي، بايد وګورو چي ولي په دې روايت کي د دغو پنځو تر څنګ د جهاد يادونه نه ده شوې؟ ولي اسلام په دغو پنځو کي

منحصر شوى؟ آيا له راوي اشتباه شوې او دا موضوع ترې پاته شوې؟ او كه پيغمبر عليه السلام دلته د يوه مسلمان ځيني انفرادي مسئوليتونه په ګوته كړي او په پنځو كي ئې راخلاصه كړي او په بل ځاى كي ئې د هغه اجتماعي مسئوليتونه په ګوته كړي چي ځيني ئې دا دي: په جماعت كي ژوند، له يوه امير سره بيعت، امر بالمعروف، نهي عن المنكر، هجرت او جهاد فِي سبيل الله چي هدف ئې د شريعت نافذول، اسلامي نظام قائمول، حدود جاري كول دي، ځكه ګورو چي د دې روايت تر څنګ داسي روايات هم شته چي ښيي په دې روايت كي نه په دغو پنځو خبرو كي د اسلام حصر كول مراد دي او نه د جهاد نفي.

د قرآن صريح آيتونه او نور روايات د همدې خبري تأييد كوي، ګڼ شمېر داسي روايات لرو چي له جماعت وتل، د امير له بيعت سرغړول، د الله تعالى په لار كي له هجرت او جهاد ډډه كول د اسلام او ايمان منافي كارونه ګڼل شوي. لكه چي پيغمبر عليه السلام فرمايي:

عن الحارث الاشعري أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال: وَأَنَا آمُرُكُمْ بِخَمْسٍ اللهُ أَمَرَنِي بِهِنَّ: الْجَمَاعَةِ، وَالسَّمْعِ، وَالطَّاعَةِ، وَالْهِجْرَةِ، وَالْجِهَادِ فِي سَبِيلِ اللهِ، فَمَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ قَيْدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الإِسْلامِ مِنْ عُنُقِهِ إِلا أَنْ يَرْجِعَ، وَمَنْ دَعَا دَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ مِنْ جُثَاءِ جَهَنَّمَ"، قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى؟ قَالَ: « نعم وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى، فَادْعُوا بِدَعْوَةِ اللَّهِ الَّذِي سَمَّاكُمْ بِهَا الْمُسْلِمِينَ الْمُؤْمِنِينَ عباد الله »

له الحارث الاشعري روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه

و سلم وفرمايل: په هغو پنځو خبرو مو ګمارم چې الله تعالى زه پرې ګمارلى يم: جماعت، سمع، اطاعت، هجرت او د الله په لار کې جهاد، نو څوك چې له جماعت د يوې لوښتي په اندازه ووت يقيناً د اسلام کړى ئې له خپلې غاړې وايسته، مګر دا چې بېرته راوګرځي؛ او څوك چې د جاهليت په بلنې بلنه کوي؛ هغه به د دوزخ خس او خاشاك وي، يوه سړي وويل: يا رسول الله! که څه هم روژه ئې نيولې وي او لمونځ ئې کړى وي؟ وئې فرمايل: هو؛ که څه هم روژه ئې نيولې وي او لمونځ ئې کړى وي، نو د الله په هغې بلنې سره بلنه وکړئ چې تاسو ئې پرې مؤمنان، د الله بندګان مسلمانان نومولي يئ.

دا روايت چې د احاديثو په ټولو کتابونو کې په همدې الفاظو سره يا په لږ تغيير سره راغلى او صحيح ئې ګڼلى، په جماعت کې ژوند، سمع، اطاعت، هجرت او د الله په لار کې جهاد، دومره مهم بولي چې له دې پرته د چا لمونځ او روژه هم د منلو وړ نه ګڼي!!

همدغو نصوصو ته په پام سره عمر رضي الله عنه فرمايي: لا اسلام الا بالجماعة و لا جماعة الا بالامارة و لا امارة الا بالسمع و الطاعة: نه له جماعت پرته اسلام شته، نه له امارته پرته جماعت شته او نه له اوربدو او اطاعته پرته امارت شته.

همدا راز فرمايي:

عَنْ عُمَارَةَ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ، قَالَ عُمَرُ : عُرَى الإِيمَانِ أَرْبَعٌ : الصَّلاةُ وَالزَّكَاةُ وَالْجِهَادُ وَالأَمَانَةُ.

له عماره بن ابي زرعه روايت دئ چي عمر رضي الله عنه وويل: د ايمان کړئ څلور دي: لمونځ، زکات، جهاد او امانت.

او بل جليل القدره صحابي حذيفه رضي الله عنه وايي:

عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: الإِسْلاَمُ ثَمَانِيَةُ أَسْهُمٍ : الصَّلاَةُ سَهْمٌ , وَالزَّكَاةُ سَهْمٌ , وَالْجِهَادُ سَهْمٌ , وَالْحَجُّ سَهْمٌ , وَصَوْمُ رَمَضَانَ سَهْمٌ , وَالأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ سَهْمٌ , وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ سَهْمٌ، وَالْإِسْلَامُ سَهْمٌ، وَقَدْ خَابَ مَنْ لاَ سَهْمَ لَهُ. مصنف ابن ابي شيبه

له حذيفه رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: اسلام اته برخي دئ: لمونځ يوه برخه، زکات بله برخه، جهاد بله برخه، د رمضان د مياشتي روژه بله برخه، د بيت الله حج بله برخه، امر بالمعروف بله برخه، نهي عن المنکر بله برخه؛ او اسلام بله برخه او هغه څوک نامراده شو چي کومه برخه ئې نه وي.

کوم آيت چي بخاري له دې روايت وروسته راوړی په ډېر صراحت سره ښيي په اسلام کي اساسي خبري کومي دي، آيت دا دئ:

لَّيْسَ ٱلْبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأَخِرِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلْكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّۦنَ وَءَاتَى ٱلْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِى ٱلرِّقَابِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَٰهَدُواْ ۖ وَٱلصَّٰبِرِينَ فِى ٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلْبَأْسِ ۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ ۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُتَّقُونَ ۞ البقره: 177

نېکي دا نه ده چې مخونه مو د مشرق او مغرب په لورې وګرځوئ، برعکس نېکي دا ده چې چا په الله، د آخرت په ورځ، په ملائکو، په کتاب او پیغمبرانو ایمان راوړ او په داسي حال کي چې له مال سره ئې مینه هم وه خو هغه ئې خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو، مسافرانو او سوالګرو ته ورکړ او د (غاړو) د آزادولو لپاره (ئې ولګولو)، لمونځ ئې اداء کړ، زکات ئې ورکړ، په خپلو ژمنو وفاء کوونکي، هر کله چې ئې ژمنه کړې، په کړاوونو، تاوانونو او د جګړې په دوران کي صبر کوونکي، دغه کسان (په خپل دین او ایمان کي واقعي) رښتیني او صادقان دي او همدا دوی متقیان دي.

لاندي روایت جهاد د اسلام د بدن سر، د اسلام د مانۍ اساسي ستنه او د اسلام د لوړې څوکه ګڼي:

عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ : أَقْبَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ، فَلَمَّا رَأَيْته خَالِيًا قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ، أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ، فقَالَ : بَخٍ، لَقَدْ سَأَلْت عَنْ عَظِيمٍ، وَهُوَ يَسِيرٌ عَلَى مَنْ يَسَّرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ : تُقِيمُ الصَّلاةَ الْمَكْتُوبَةَ وَتُؤَدِّي الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ وَتَلْقَى اللَّهَ لاَ تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، أَوَلا أَدُلُّك عَلَى رَأْسِ الأَمْرِ وَعَمُودِهِ وَذِرْوَةِ سَنَامِهِ؟ أَمَّا رَأْسُ الأَمْرِ فَالإِسْلام مَنْ أَسْلَمَ سَلِمَ، وَأَمَّا عَمُوده فَالصَّلاة، وَأَمَّا ذِرْوَته وَسَنَامه فَالْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ. مصنف ابن ابي شيبه

له معاذ بن جبل روایت دئ چې وایي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د تبوك له غزوې راګرځېدو، کله چې مي هغه یوازي وموند ومي ویل: یا رسول الله! له داسي عمله

مي خبر کړه چي جنت ته مي داخل کړي، وئي فرمايل: يقيناً چي د ستر شي پوښتنه دي وکړه، خو هغه چا ته آسانه دئ چي الله ئې ورته آسانه کړي: فرض لمونځونه کوه، فرض زکات ورکوه؛ او له الله سره داسي مخامخ کېږه چي هيڅ څه دي نه وي ورسره شريك کړي؛ او آيا د دي کار له سر؛ او ستني او د لوړي له څوکي دي خبر نه کړم؟ چي هغه د الله په لار کي جهاد دئ.

(يعني جهاد د اسلام د بدن سر، د اسلام د مانې اساسي ستنه او د لوړي څوکه ئې ده). دا روايت د حافظ عبد الله بن محمد بن أبي شيبة په مصنف کي راغلى، هغه د احاديثو د کتاب لومړنى مصنف دئ، په سنة 235 هجري کي وفات شوى، د دې معنى دا ده چي دى د دوهمي پيړۍ شخصيت دئ او د نورو محدثينو لپاره د استاد حيثيت لري.)

او دا روايت هم د معاذ بن جبل رضي الله عنه په څېر د يوه ډېر هوښيار، په دين پوه او مجاهد صحابي دئ، د ده روايت ډېر دقيق، جامع او د قرآن له لارښوونو سره سل په سلو کي مطابق روايت دئ.

2- باب: د ايمان څانګي

9- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلاَلٍ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ دِينَارٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ- رضي الله عنه- عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "الإِيمَانُ بِضْعٌ وَسِتُّونَ شُعْبَةً، وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الإِيمَانِ" (بخاري:9)

۹- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله

صلى الله عليه و سلم ئې اورېدلي چې وئې فرمايل: (ايمان څو شپېته څانګې دي او حياء د ايمان يوه څانګه ده).

دا روايت د ابن ابي شيبه په مصنف کي په دې صيغه راغلى:

حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ سُهَيْلٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : الإِيمَانُ بِضْعٌ وَسِتُّونَ بَابًا، أَوْ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ بَابًا أَعْظَمُهَا لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ، وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الإِيمَانِ. مصنف ابن ابي شيبه

عبدالله ابن دينار له ابو صالح او هغه له ابو هريره رضي الله عنه روايت کوي چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې اورېدلي چې وئې فرمايل: (ايمان څو شپېته يا څو اويا بابونه دئ، تر ټولو ستر ئې لاإله إلا الله دئ او وړ ئې له لاري ستونزمن شيان لري کول دي؛ او حياء د ايمان يوه څانګه ده).

دا روايت په دوه دليله تر مخکيني ارجح برېښي چې: 1- جامع دئ؛ او 2- د احاديثو په داسي کتاب کي راغلى چې تر بخاري مخکې تدوين شوى.

له دې رواياتو معلومېږي چې کله د ايمان اطلاق يوازي په عقائدو کېږي او کله پر ټولو ديني امورو او د انسان د ژوند پر ټولو امورو، لکه په دې روايت کي چې له (لا إله إلا الله) ويلو تر حياء کولو پورې څو شپېته يا څو اويا امور په ايمان پورې تړل شوي. دې ته بايد متوجه وو چې يو په

خپله ايمان او اجزاء ئې دي او بل د ايمان غوښتنې، مقتضيات او نتائج، د ايمان اجزاء هغه دي چې انسان مکلف دئ ايمان پرې راوړي او له دې پرته ئې ايمان د منلو وړ نه دئ، لکه پر الله تعالى، آخرت، کتابونو، پيغمبرانو، فرشتو، قضاء او قدر، جنت او دوزخ؛ او نور مؤمن به شيان، حياء او ټول هغه کارونه چې منشأ ئې ايمان وي د ايمان جزء نه بلکې د ايمان مقتضا او نتيجه ګڼل کيږي، ايمان په انسان کې حياء راپيدا کوي، مؤمن انسان حياناک وي، ځکه حياء داسې شى نه ده چې د مؤمن به نوم ورکړى شي او انسان پرې ايمان ولري. د حياء په نشتوالي يا کموالي سره انسان بې ايمانه نشي ګڼل کېدى، له لاري د تاواني شيانو لرې کول د ايمان غوښتنه ده خو که څوك دا کار ونه کړي هغه ته بې ايمانه نه شو ويلى.

3- باب: مسلمان هغه دئ چې مسلمانان ئې له لاس او ژبې خوندي وي:

10- حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي السَّفَرِ وَإِسْمَاعِيلَ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو- رضي الله عنهما- عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللهُ عَنْهُ". (بخاري:10)

۱۰- له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه روايت دئ چې هغه له رسول الله صلى الله عليه و سلم اوربدلي چې فرمايل ئې: مسلمان هغه دئ چې مسلمانان ئې له لاس او ژبې په امن

وي؛ او مهاجر هغه دئ چي هغه شيان پريږدي کوم چي الله تعالى نهى تري کړي).

په نورو کتابونو کي دا حديث په داسي توګه هم راغلى چي ځيني الفاظ ئې تري بدل يا پرې اضافه شوي، په ځينو کي د مهاجر پر ځاى د مؤمن يادونه شوې او ويل شوي: مؤمن هغه دئ چي مسلمانان ئې پر خپل ځان، ويني او مال امين نيسي، تر ټولو جامع او مفصل ئې دا دئ:

عَنْ أَبِي مَالِكٍ الأَشْعَرِيِّ، أَنّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ أَيَّامَ الأَضَاحِيِّ لِلنَّاسِ: "أَلَيْسَ هَذَا الْيَوْمَ الْحَرَامَ؟ "قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ الله، قَالَ: "فَإِنَّ حُرْمَةَ مَا بَيْنَكُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ كَحُرْمَةِ هَذَا الْيَوْمِ، وَأُحَدِّثُكُمْ مَنِ الْمُسْلِمُ؟ الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، وَأُحَدِّثُكُمْ مَنِ الْمُؤْمِنُ؟ مَنْ أَمِنَهُ الْمُسْلِمُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ، وَأُحَدِّثُكُمْ مَنِ الْمُهَاجِرُ؟ مَنْ هَجَرَ السَّيِّئَاتِ، وَالْمُؤْمِنُ حَرَامٌ عَلَى الْمُؤْمِنِ كَحُرْمَةِ هَذَا الْيَوْمِ، لَحْمُهُ عَلَيْهِ حَرَامٌ أَنْ يَأْكُلَهُ بِالْغِيبَةِ يَغْتَابُهُ، وَعِرْضُهُ عَلَيْهِ حَرَامٌ أَنْ يَخْرِقَهُ، وَوَجْهُهُ عَلَيْهِ حَرَامٌ أَنْ يَلْطِمَهُ، وَدَمُهُ عَلَيْهِ حَرَامٌ أَنْ يَسْفِكَهُ، وَمَالُهُ عَلَيْهِ حَرَامٌ أَنْ يَظْلِمَهُ، وأَذَاهُ عَلَيْهِ حَرَامٌ، وَهُوَ عَلَيْهِ حَرَامٌ أَنْ يَدْفَعَهُ دَفْعًا". رواه الطبراني

له ابو مالك الاشعري روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په حجة الوداع کي د قربانۍ په ورځو کي خلکو ته وفرمايل: آيا دا ورځ د حرام (محترمه) ورځ نه ده؟ وئې ويل: هو؛ اې د خداى رسوله!، وئې فرمايل: نو ستاسو تر منځ حرمت د قيامت تر ورځي داسي دئ لکه د دغي ورځي

حرمت؛ او دا درته وايم چې مسلمان څوك دئ؟ مسلمان هغه دئ چې مسلمانان ئې له لاس او ژبې خوندي وي؛ او درته وايم چې مؤمن څوك دئ؟ هغه چې مسلمانان ئې پر خپل ځان او مال امين بولي؛ او درته وايم چې مهاجر څوك دئ؟ هغه دئ چې له بديو ډډه وكړي؛ او يو مؤمن پر بل مؤمن داسي حرام دئ لكه د دغي ورځ حرمت، غوښه ئې پرې حرامه ده چې د ده په غياب كې غيبت كولو سره ئې وخوري، عرض او عزت ئې پرې حرام دئ چې صدمه ورورسوي، مخ ئې پرې حرام دئ چې په وهلو سره ئې داغجن كړي، وينه ئې پرې حرامه ده چې توى ئې كړي، مال ئې پرې حرام دئ چې تېرى پرې وكړي، ځوړول ئې ورته حرام دي؛ او دى پرې حرام دئ چې په ټپل وهلو سره ئې ټپل وهي.

٤- باب: كوم اسلام غوره دئ؟

١١- عَنْ أَبِي مُوسَى- رضي الله عنه- قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ الله أَيُّ الإِسْلاَمِ أَفْضَلُ قَالَ "مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ. (بخاري: 11)

١١- له ابو موسى رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: (ځينو اصحابو) وويل: يا رسول الله! غوره اسلام كوم دئ؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: غوره مسلمان هغه دئ چې نور مسلمانان ئې له ژبې او لاس په امن وي).

دې ته مو بايد پام وي چې د دې روايت حكم خاص دئ او يوازي د مسلمانانو تر منځ خپلمنځي چلند احتواء كوي او

وايي چي په دې اړه تر ټولو غوره مسلمان هغه دئ چي نور مسلمانان ئې له ژبي او لاس په امن وي، ځکه د نورو نصوصو له مخي معلومېږي چي د مسلمان د غوره والي لپاره يوازينی معيار دا نه دئ چي نور مسلمانان ئې له ژبي او لاس خوندي وي، بلکي د غوره والي لپاره ډېر نور امور او صفات ضروري دي.

٥- باب: طعام ورکول او سلام اچول د اسلام غوښتنه ده

12- حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عَمْرٍو- رضي الله عنهما- أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم أَيُّ الإِسْلاَمِ خَيْرٌ قَالَ "تُطْعِمُ الطَّعَامَ، وَتَقْرَأُ السَّلاَمَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ" (بخاري: 12)

١٢- له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه روايت دئ چي يوه تن له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتنه وکړه: کوم اسلام غوره دئ؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (دا چي خواړه ورکړې؛ او پر هر چا چي پېژنې ئې يا ئې نه پېژنې سلام واچوې).

تکرار: 28، 6236

توپير: ټول سره ورته دي، راوي ئې يو دئ، يوازي دومره توپير په کي شته چي، په يوه کي د من لم تعرف پر ځای و على من لم تعرف راغلي.

دلته څو پوښتني راولاړېږي:

اسلام خو يو دئ، دې پوښتونکي ولي ويلي چې کوم اسلام غوره دئ؟

د پيغمبر عليه السلام د دې وينا معنی څه ده چې د غوره اسلام لپاره ئې دوه سنت او مستحب کارونه په ګوته کړي؟

دې دواړو پوښتنو ته به څه ځواب وايو؟ آيا راوي اشتباه کړې؟ آيا د پوښتونکي پوښتنه سمه نه ده نقل شوې؟ آيا هغه له فرائضو او مهمو کارونو علاوه د هغه څه پوښتنه کړې چې د مسلمان اسلام ته غوره والی ورکوي؟

که لږ ځير شو دا راته جوته کيږي چې پوښتونکي غوښتي ووايي د اسلام په ټولو ضروري لارښوونو له عمل کولو وروسته کوم څه د مسلمان اسلام ته غوره والی ورکوي؟ پيغمبر عليه السلام په ځواب کي دغه دوه سنت او مستحب کارونه ورته ښودلي. له کوم اسلام د هغه مراد دا نه وو چې اسلام ببل ببل دئ، کوم يو ئې غوره دئ، بلکي ويلي ئې دي چې په کوم صورت کي د انسان اسلام او مسلماني لا زياته ښکلې کيږي؟

لکه چې ګورئ دا روايت هم بخاري درې ځلي راوړی، الفاظ ئې هم سره ورته دي، يوازي، په يوه کي د (من لم تعرف) پر ځای (و علی من لم تعرف) راغلي.

دلته هم دوه سنت او مستحب کارونه د غوره اسلام د نښو په توګه معرفي شوي، کاش بخاري دا وضاحت هم کړی وی چې د دې روايت معنی هيڅکله دا نه ده چې غوره اسلام په دغو دوو مستحبو کارونو کي خلاصه کيږي، داسي مستحب کارونه يوازي په هغه صورت کي د يو چا د مسلمانۍ د غوره والي نښه ګڼل کيدی شي چې فرائض او

واجبات ئې ترسره کړي وي.

که څوك په داسي رواياتو استناد کوي او غواړي دا ثابته کړي چې ايمان او اسلام يو نه بلکې ډېر دي نو سخته اشتباه کوي، هم اسلام يو دئ او هم ايمان، توپير د خلکو په ايمان او مسلمانۍ کې دئ، ځيني يوازې په ضروري برخو عمل کوي او ځيني د فرائضو او واجباتو تر څنګ پر مستحباتو هم عمل کوي.

٦- باب: خپل ورور ته هغه څه خوښول چې ځان ته ئې خوښوي د ايمان نښه ده

13- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ- رضي الله عنه- عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم. وَعَنْ حُسَيْنٍ الْمُعَلِّمِ قَالَ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "لا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ" (بخاري: 13)

١٣- له انس رضي الله عنه روايت دئ چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې اوريدلي چې فرمايل ئې: له تاسو به د هيڅ يوه ايمان تر هغه پوري بشپړ نه شي چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ نه کړي چې د ځان لپاره ئې خوښوي.

د دې روايت په اړه دا پوښتنه راولاړيږي: دا خو يو مستحب خصلت دئ چې څوك د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره ئې خوښوي، دا نه فرض دئ او نه د ايمان جزء، ولي ايمان په يوه مستحب کار پوري تړل شوى؟ همدا راز دلته نه دي ويل شوي چې د خپل ورور

لپاره څه شی غوره کړو؟ شیان خو ډېر دي، ځینې ئې داسې دي چې د یوه خوښېږي او د بل نه؛ د مثال په توګه زه تریو شیان خوښوم، آیا دا پر ما لازمه ده چې د خپل ورور لپاره تریو شیان خوښ کړم که نه نو ایمان منتفي کېږي؟! دې پوښتنې ته د ځواب موندلو لپاره باید وګورو چې دا مطلب په نورو کتابونو او روایاتو کې په کومه صیغه راغلی، د احادیثو د لوستلو په دوران کې باید دا زمور عادت شي چې کله هم د یوه روایت په اړه له کومې پوښتنې سره مخامخ کېږو لومړی کار مو باید دا وي چې د همدې روایت مطلب په نورو روایاتو کې ولټوو، ښایي داسې روایت ومومو چې همدا مطلب ئې په داسې الفاظو بیان کړی وي چې په هغه کې خپلو پوښتنو ته ځواب مومو.

نسائي دا روایت داسې ګڼي:

عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ مِنَ الْخَيْرِ» رواه النسائي

له انس رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: په هغه ذات قسم چې د محمد سا ئې په واك کې ده ستاسو هیڅ یو تر هغه ایمان نه شي درلودی چې خپل ورور ته له ښېګڼو هغه څه خوښ نه کړي چې ځان ته ئې خوښوي.

یعني مراد له (شي) خیر او ښېګڼه ده، نه هر څه.

او ابو ملیکه ئې داسې ګڼي:

عن أبي مليكة، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "لاَ يَستكملُ عَبدٌ الإيمانَ حَتى يُحِبَّ لأخيهِ ما يُحبُّ لِنفسهِ، وَحتى يَخافَ اللهَ في مِزاحِهِ وَجِدِّهِ " معرفة الصحابة لابي نعيم

له ابو مليکه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: هيڅ بنده په ټوله معنى ايمان نه شي بشپړولى تر هغه چې خپل ورور ته هغه څه خوښ نه کړي چې ځان ته ئې خوښوي او تر هغه چې له الله هم د ټوکو په خبرو کي ووېرېږي او هم په جدي خبرو کي.

دا روايت وايي چې د ايمان بشپړېدا او استکمال په دې کي دئ چې څوك د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره ئې خوښوي.

که په دغو دريو رواياتو کي غور وکړو نو ويلى شو چې دا درېيم تر نورو بشپړ دئ، ځکه چې د ايمان د استکمال وينا په کي راغلې، خو د دوهم روايت د (من الخير) فقره په کي پاته ده.

دغو اشکالاتو ته په پام سره ابْنُ الصَّلَاحِ وايي: وَهَذَا قَدْ يُعَدُّ مِنْ الصَّعْبِ الْمُمْتَنِعِ، وَلَيْسَ كَذَلِكَ إذْ مَعْنَاهُ لَا يَكْمُلُ إيمَانُ أَحَدِكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ فِي الْإِسْلَامِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ مِنْ الْخَيْرِ: دا خو گران او حتى ناممكن ګڼل کېږي، خو خبره داسي نه ده، ځکه معنى ئې دا ده چې ستاسو د هيڅ يوه ايمان تر هغه نه بشپړ کېږي چې په اسلام کي خپل ورور (مسلمان ورور) ته له ښېګڼو هغه څه خوښ نه کړي چې د ځان لپاره ئې خوښوي.

۷- باب: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره محبت د ايمان نښه ده:

14- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ- رضي الله عنه- أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ". (بخاري:14)

۱٤- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (په هغه ذات قسم چې زما سا ئې په واک کي ده، ستاسو هيڅ يو تر هغه ايمان نشي درلودی چې زه تر پلار او زوی (اولاد) ورته زيات ګران او محبوب نه وم).

۱٥- له انس رضي الله عنه بل روايت هم همدا ډول راغلی دئ خو په آخر کي ئې دا خبره زياته شوې ده: (والناس اجمعين: او ټول خلك) يعنی تر هغه چې زه ورته تر ټولو خلکو زيات ګران او محبوب نه وم.

دا روايت په نورو کتابونو کي په دې صيغه راغلی:

أخبرنا عبد الرزاق، عَنْ مَعْمَرٍ، عَمَّنْ سَمِعَ الْحَسَنَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَلَدِهِ، وَوَالِدَيْهِ، وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ. مصنف عبدالرزاق

عَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ مَالِهِ، وَأَهْلِهِ، وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ»

سنن الكبرى للنسائي و البيهقي
له انس رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (ستاسو هيڅ يو تر هغه ايمان نشي درلودى چي زه تر مال او اهل ئې او تر ټولو خلكو ورته زيات گران او محبوب نه وم).

كه په دغو روياتو كي غور وكړو نو د ابوهريره تر روايت د انس روايت جامع دئ او ډېرى محدثينو رانقل كړى؛ او په مصنف عبدالرزاق كي راغلى روايت د انس تر روايت هم جامع بربښي، چي د (والده) پر ځاى د (والديه: مور او پلار ئې) صيغه په كي راغلې، دا ځكه چي د انسان محبت له خپلي مور سره تر پلار زياته وي.

٨- باب د ايمان خوند

16- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفي قَالَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "ثَلاَثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ حَلاَوَةَ الإِيمَانِ أَنْ يَكُونَ الله وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا، وَأَنْ يُحِبَّ الْمَرْءَ لاَ يُحِبُّهُ إِلاَّ لِلَّهِ، وَأَنْ يَكْرَهَ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُقْذَفَ فِي النَّارِ". (بخاري: 16)
١٦- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې اورېدلي چي فرمايل ئې: (درى شيان داسي دي چي په چا كي وي نو د ايمان خوږوالى ئې موندلى: دا چي الله او رسول ئې دومره ورته گران او محبوب وي چي له دوى پرته له بل هيڅا سره دومره مينه ونه لري؛ او دا چي كه له چا سره محبت كوي نو يوازي د

الله لپاره ورسره محبت کوي؛ او دا چې کفر ته له ښرته ګرځېدا داسي کرکه ولري لکه په اور کې له غورځېدا چې کرکه لري).

تکرار: دا روایت بخاري درې ځلي نور هم په دغو شمېرو راوړی: 21، 6041، 6941،

توپیر: یو ځل ئې صرف تکرار دئ له هیڅ تغییر پرته، بل ځل فقرې وروسته او وړاندي شوې؛ او په بل ځل کې د (یقذف فِي النار) پر ځای (یلقی فِي النار) راغلی.

دا مطلب په نورو کتابونو کې هم په ورته الفاظو یا لږ تغییر سره راغلی، په مصنف ابن ابي شیبه کې په دې صیغه راغلی چې تر ټولو جامع او دقیق معلومیږي:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ : ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ طَعْمَ الإِيمَانِ وَحَلاَوَتَهُ : أَنْ يَكُونَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا، وَأَنْ يُحِبَّ فِي اللهِ، وَأَنْ يَبْغَضَ فِي اللهِ، وَأَنْ لَوْ أُوقِدَتْ لَهُ نَارٌ يَقَعُ فِيهَا أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ أَنْ يُشْرِكَ بِاللهِ.

له انس رضي الله عنه روایت دئ چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې اوربدلي چې فرمایل ئې: (درې شیان داسي دي چې په چا کې وي نو د ایمان خوند او خوږوالی ئې موندلی: دا چې الله او رسول ئې دومره ورته ګران او محبوب وي چې له دوی پرته له بل هیچا سره دومره مینه ونه لري، دا چې د الله لپاره له چا سره دوستي او محبت کوي او د الله لپاره له چا کرکه کوي؛ او دا چې که اور ورته بل کړی شي چې په کې ولوېږي دا ورته تر دې غوره

برېښي چې له الله سره څوك شريك كړي.

۹- باب: له انصارو سره مينه د ايمان نښه ده

17- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ الله بْنُ عَبْدِ الله بْنِ جَبْرٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "آيَةُ الإِيمَانِ حُبُّ الأَنْصَارِ، وَآيَةُ النِّفَاقِ بُغْضُ الأَنْصَارِ" (بخاري: 17)

۱۷- له انس رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې اورېدلي چې فرمايل ئې: (له انصارو سره مينه د ايمان نښه او له انصارو سره دښمني د نفاق نښه ده).

تكرار: دا روايت بخاري يو ځل بيا هم په همدې صيغه په دې شمېرې 3784 راوړى.

دلته له انصارو سره محبت د ايمان نښه ګڼل شوې او په دې كې څو لاربښووني موږ ته پرتې دي:

- لكه چې دلته له انصارو سره محبت د ايمان نښه ګڼل شوې نه په خپله ايمان يا د ايمان جزء، نو په نورو ورته ځايونو كې هم له ايمان مراد د ايمان نښه، علامه يا تقاضا ده نه په خپله ايمان.
- دلته يوازې د انصارو يادونه شوې، چې بنايي پيغمبر عليه السلام له كوم چا د انصارو په اړه كومه غلطه خبره اورېدلې وي يا دا اطلاع وررسېدلې وي چې ځيني خلك د انصارو په اړه غلطي خبري كوي؛ نو پيغمبر عليه السلام دا وينا كړې او له دوى سره محبت ئې د ايمان نښه ښودلې، كه

نه نو له هر مسلمان سره مينه د ايمان نښه او تقاضا ده.

18- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو إِدْرِيسَ عَائِذُ اللهِ بْنُ عَبْدِ اللهِ أَنَّ عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ- رضي الله عنه- وَكَانَ شَهِدَ بَدْرًا، وَهُوَ أَحَدُ النُّقَبَاءِ لَيْلَةَ الْعَقَبَةِ- أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ وَحَوْلَهُ عِصَابَةٌ مِنْ أَصْحَابِهِ "بَايِعُونِي عَلَى أَنْ لاَ تُشْرِكُوا بِاللهِ شَيْئًا، وَلاَ تَسْرِقُوا، وَلاَ تَزْنُوا، وَلاَ تَقْتُلُوا أَوْلاَدَكُمْ، وَلاَ تَأْتُوا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُونَهُ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَأَرْجُلِكُمْ، وَلاَ تَعْصُوا فِي مَعْرُوفٍ، فَمَنْ وَفِي مِنْكُمْ فَأَجْرُهُ عَلَى اللهِ، وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَعُوقِبَ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ، وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا ثُمَّ سَتَرَهُ اللهُ، فَهُوَ إِلَى اللهِ إِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ، وَإِنْ شَاءَ عَاقَبَهُ". فَبَايَعْنَاهُ عَلَى ذَلِكَ. (بخاري: 18)

١٨- عباده بن صامت رضي الله عنه چې د بدر په جګړې کې ئې برخه اخيستې وه او د (بيعت) عقبه په شپه د نقباوو (استازو) په ډله کې وو، روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسې حال کې چې يوه ډله اصحاب ئې شا و خوا ناست ول، وفرمايل: (له ماسره پدې بيعت وکړئ چې له خداى سره به هيڅ څه نه شريکوئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ، خپل اولادونه به نه وژنئ، د زنا تور به نه لګوئ، په نېک کار (چې وګمارل شئ) سرغړاوى به نه کوئ، چا چې پدې عهد او تړون وفاء وکړه نو اجر ئې پر الله دئ؛ او که چا په دې کارونو کې کومه ګناه وکړه او په دنيا کې ئې د هغې سزا (حد يا تعزير) وليده، همدا دنيوى سزا ئې د ګناه کفاره ده؛ او که چا له دې ګناهونو کومه ګناه

وکړه او الله تعالی ئې پرده وکړه، نو د دې کس کار الله ته محول دئ، که وغواړي بخښنه به ورته وکړي او که وغواړي سزا به ورکړي)، راوي وايي مونږ په همدې شيانو له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره بيعت وکړ.

تکرار: دا روايت بخاري يولس ځلي نور هم راوړی په دغو شمېرو: 3892، 3893، 3999، 4894، 6784، 6801، 6873، 7055، 7199، 7213، 7468

توپير: په يوه کي وَكَانَ شَهِدَ بَدْرًا، په بل کي مِنَ الَّذِينَ شَهِدُوا بَدْرًا مَعَ رَسُولِ الله صلى الله عليه وسلم، په يوه کي فَبَايَعْنَاهُ، په بل کي فَبَايَعْتُهُ، په يوه کي وَهُوَ أَحَدُ النُّقَبَاءِ لَيْلَةَ الْعَقَبَةِ، په بل کي وَمِنْ أَصْحَابِهِ لَيْلَةَ الْعَقَبَةِ، په يوه کي بَايِعُونِی او بل کي أَتُبَايِعُونِی؟، په يوه کي دا ويل شوي چي دا بيعت په ليلة العقبه کي شوی او نورو کي دا خبره نه ده شوې، په يوه کي ويل شوي چي د النساء آيت ئې ولوست، حال دا چي دا آيت د الممتحنه د سورې دئ او هغه مهال دا سوره نه وه نازله شوې او آيت د بښځو د بيعت په اړه دئ نه د نارينه وو د بيعت په اړه، په اصل کي پيغمبر عليه السلام فرمايلي چي آيا هغه بيعت نه راسره کوئ چي د النساء: بښځو بيعت دئ.

بل روايت داسي دئ: مونږ له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره پر دې بيعت وکړ چي په هغه څه کي به هم د ده خبره اورو او اطاعت به کوو چي له زړه ورته تيار وو او په هغه څه کي هم چي زړه مو نه غواړي.

بل ئې داسي دئ چي راوي وايي: زه له هغو استازو وم

چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مو پر دې بيعت وکړ چې له خداى سره به هيڅ څه نه شريکوو، غلا به نه کوو، زنا به نه کوو، هغه نفس به نه وژنو چې الله ئې وژل حرام کړي، شوکي به نه کوو، سرغړاوى به نه کوو، که دا کار وکړو نو جنت به ئې بدله وي او که د دغو کارونو په کوم يوه کي غدر او درغلي وکړو پرېکړه به ئې د الله له لوري وي.، په بل کي دا خبره شوې چې عباده بن صامت وويل: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مي په داسي حال کي بيعت وکړ چې په يوې ډلي کي وم،

که دغو رواياتو ته ځير شئ نو کافي توپيرونه به مو تر سترګو شي، په دې رواياتو کي هغه چې وايي دا د بيعة العقبه بيعت وو په دې دليل کمزورى دئ چې له يوې خوا له نورو سره تعارض لري او له بلي خوا د دې بيعت الفاظ له هغه بيعت سره اړخ نه لګوي، د بيعت الفاظ ښيي چې دا بيعت د الممتحنه د سورې له نازلېدو وروسته ترسره شوى، حال دا چې بيعت عقبه د مکي دور په وروستيو کلونو کي تر سره شوى. په کوم روايت کي چې د دې سورې د 12آيت الفاظ راغلي دا په بيعت عقبه پورې تعلق نه لري، د بخاري په 18 روايت کي د بيعت عقبه يادونه نه ده شوې. د بيعت عقبة الفاظ دا دي:

عن جابر بن عبد الله الأنصاري... فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، عَلَى مَا نُبَايِعُكَ؟ قَالَ: «تُبَايِعُونِي عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي النَّشَاطِ، وَالْكَسَلِ، وَعَلَى النَّفَقَةِ فِي الْعُسْرِ، وَالْيُسْرِ وَعَلَى الْأَمْرِ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيِ عَنِ الْمُنْكَرِ، وَعَلَى أَنْ تَقُولُوا فِي اللَّهِ لَا تَأْخُذُكُمْ لَوْمَةُ لَائِمٍ، وَعَلَى أَنْ

تَنْصُرُونِي إِذَا قَدِمْتُ عَلَيْكُمْ، وَتَمْنَعُونِي مِمَّا تَمْنَعُونَ عَنْهُ أَنْفُسَكُمْ وَأَزْوَاجَكُمْ وَأَبْنَاءَكُمْ وَلَكُمُ الْجَنَّةُ» فَقُمْنَا نُبَايِعُهُ وَأَخَذَ بِيَدِهِ أَسْعَدُ بْنُ زُرَارَةَ وَهُوَ أَصْغَرُ السَّبْعِينَ إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: رُوَيْدًا يَا أَهْلَ يَثْرِبَ، إِنَّا لَمْ نَضْرِبْ إِلَيْهِ أَكْبَادَ الْمَطِيِّ إِلَّا وَنَحْنُ نَعْلَمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ وَأَنَّ إِخْرَاجَهُ الْيَوْمَ مُفَارَقَةُ الْعَرَبِ كَافَّةً وَقَتْلُ خِيَارِكُمْ وَأَنَّ يَعَضَّكُمُ السَّيْفُ فَإِمَّا أَنْتُمْ قَوْمٌ تَصْبِرُونَ عَلَيْهَا إِذَا مَسَّتْكُمْ وَعَلَى قَتْلِ خِيَارِكُمْ وَمُفَارَقَةِ الْعَرَبِ كَافَّةً، فَخُذُوهُ وَأَجْرُكُمْ عَلَى اللَّهِ وَإِمَّا أَنْتُمْ تَخَافُونَ مِنْ أَنْفُسِكُمْ خِيفَةً فَذَرُوهُ فَهُوَ عُذْرٌ عِنْدَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، فَقَالُوا: يَا أَسْعَدُ أَمِطْ عَنَّا يَدَكَ فَوَاللَّهِ لَا نَذَرُ هَذِهِ الْبَيْعَةَ وَلَا نَسْتَقِيلُهَا، قَالَ: فَقُمْنَا إِلَيْهِ رَجُلًا رَجُلًا فَأَخَذَ عَلَيْنَا لِيُعْطِيَنَا بِذَلِكَ الْجَنَّةَ «هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ جَامِعٌ لِبَيْعَةِ الْعَقَبَةِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ»

له جابر بن عبدالله انصاري روايت دئ ... ومو ويل: يا رسول الله! په څه درسره بيعت وکړو؟رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: له ما سره په دې خبري بيعت وکړئ چې اورئ او اطاعت به کوئ؛ په هغه څه کي هم چې له زړه ورته تيار وئ او په هغه کي هم چې زړه مو نه غواړي؛ او په تنګسې او سوکالي کي انفاق کول؛ او په امر بالمعروف او نهي عن المنکر باندي؛ او دا چې د الله لپاره به حق خبره کوئ او د ملامتوونکي د ملامتولو پروا به نه کوئ؛ او په دې چې که درغلم زما مرسته به کوئ او هغه څه به رانه تموئ چې له خپل ځان، مېرمنو او اولاد ئې تموئ او تاسو ته به د دې بدله جنت وي)، نو مورږ ودرېدو چې بيعت ورسره وکړو، اسعد بن زراره چې د اويا کسانو تر ټولو کم

عمره وو د ده لاس ونيو او وئې ويل: لږ تم شئ اې د يثرب استوګنو! موږ خو دلته د دې لپاره د زيات زحمت په ګاللو سره راغلي يو چې پوهيږو دى د الله رسول دئ، ده ته پناه ورکول له ټولو عربو سره جنګ ته ملا ټړل دي، د دې په نتيجه کي به ستاسو شازلميان وژل کيږي او توري به درباندي ورپرې، که په دې ټولو صبر کولى شئ نو لاس ورکړئ، اجر به ئې د الله تعالى په ذمه وي او که پر خپل ځان کومه وپره لرئ نو پرې ئې ږدئ او خپله خبره په واضح الفاظو ورته وکړئ، دا به د الله په وړاندي ستاسو عذر شي، وئې ويل: اې اسعده! له موږ لاس واخله، په خداى قسم چې دا عهد نه پرېږدو او نه ئې ماتوو، نو يو يو ورپورته شوو او له موږ ئې دا ژمنه واخيسته چې په بدل کي به ئې الله تعالى موږ ته جنت راکوي...

هر څوك پوهيږي چې له بيعت عقبه سره يوازي دغه الفاظ ښايي، نه هغه چې د ښځو په بيعت کي راغلي.

۱۰- باب: له فتنې ټېښته د دين نښه ده

19- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ الله بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي صَعْصَعَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ خَيْرَ مَالِ الْمُسْلِمِ غَنَمٌ يَتْبَعُ بِهَا شَعَفَ الْجِبَالِ وَمَوَاقِعَ الْقَطْرِ، يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنَ الْفِتَنِ". (بخاري:19)

۱۹- له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (نږدې ده

چې د مسلمان تر ټولو غوره مال به څو پسونه وي چې غرونو او میرو ته ئې بیایي او پدې سره د خپل دین د ساتنې په خاطر له فتنو تښتي).

تکرار: بخاري دا روایت څلور ځلي نور په دغو شمېرو راوړی: 3300، 3600، 6495، 7088

دا روایت تر ټولو زیات غریب دئ، په صحابه وو، تابعینو او تبع تابعینو کې یوازي یو یو راوي لري، دا پوښتنې راولاړېږي چې ولې تر یو لك زیاتو صحابه وو او تر دې زیاتو تابعینو او تبع تابعینو کې بل هیڅا نه دئ روایت کړی؟ پیغمبر علیه السلام دا خبره په کوم مناسبت کړې؟ له فتنې مراد څه دئ؟ آیا د فتنو په وخت کې ګوښه کېدا او له څو څارویو سره غره ته ختل ضروري دي؟ دا یوه توصیه ده که وړاندوینه؟ په دې اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

داسې روایات چې غریب وي، په درې طبقو کې یوازي یو یو راوي ولري او په صحابه وو کې بل هیڅا نه وي روایت کړی، محققین د هغوی په اړه احتیاط کوي، ځینې په احکامو کې پرې استناد نه کوي او ځینې له احتیاط سره پرې استناد کوي.

که څوك د کفر او شرك برلاسي ته فتنه وایي نو قرآن مور ته لارښوونه کوي چې پیغمبران علیهم السلام له فتنو سره د مقابلې لپاره او هغه مهال مبعوث شوي چې فساد او فتنو خپل تور وزر پر خلکو غوړولی، دوی له فتنو سره مقابله کړې، ترې تښتېدلي نه دي؛ او څوك چې تښتېدلی

سخته سزا ئې ورکړي، د يونس عليه السلام په قصه کي موږ ته وايي: هغه له ډېر دعوت او مبارزې ستومانه شو، غصه ناك له سيمي ووت او د همدې وتلو په سبب الله تعالى د ده په اړه دا پرېکړه وکړه چې سيند ته وغورځول شي او د کب په کومي کي پرېوځي؛ او که ئې په خپل قصور اعتراف نه وی کړی نو د تل لپاره به د کب په نس کي پاته شوی وو. او راته وايي: الله تعالى هغه خلك په مرګ محکوم کړي چې د مرګ له وېرې تبښتېدلي او دښمن ته ئې شا اړولې.

که څوك د کفارو تر منځ خپل منځيو جګړو ته فتنه وايي نو پيغمبر عليه السلام د همداسي جګړو په دوران کي مدينې ته هجرت کړی، د اوس او خزرج تر منځ کورنيو خونړيو جګړو د ده مخه نه ده نيولې او د دغي فتنې په سبب ئې هلته له تلو ډډه نه ده کړې؛ او که د مسلمانانو تر منځ جګړو ته فتنه وايي نو صحابه د معاويه او علي رضي الله عنهما د پلويانو تر منځ د نښتو په دوران کي نه له دې فتنې د تېښتي تکل کړی او نه ئې مدينه پرېښې او غرونو ته ختلي، ډېرو په دغو جګړو کي برخه اخيستې او د هغه چا ملاتړ ئې کړی چې په حقه ئې ګڼلی.

له خپل دين سره يو ځای فرار په دې معنی نه شو اخيستی چې څوك د دين کومه برخه لکه لمونځ او روژه له ځان سره واخلي او د جهاد فِي سبيل الله، دعوت الى الله، دعوت الى الخير، امر بالمعروف، نهي عن المنكر په څېر فرائض ترك کړي، د قرآن ګڼ شمېر آيتونه موږ ته وايي: هر هغه چا چې دا فرائض ترك کړي الله تعالى سخته سزا ورکړي.

دغو خبرو ته پام سره ويلي شو چې د دې روايت معنى له دې پرته بل څه نه شو ګڼلى چې دا فرار په حقيقت کې له يوه سنګر بل سنګر ته تګ دئ نه د فتنو له مقابلې لاس اخيستل. همغسې لکه لاندې روايت چې وايي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ خُطْبَةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ خَيْرَ النَّاسِ رَجُلٌ آخِذٌ بِعِنَانِ فَرَسِهِ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَيَعْتَزِلُ شُرُورَ النَّاسِ، وَرَجُلٌ بَادٍ فِي نَعَمٍ لَهُ يُؤَدِّي حَقَّهَا، وَيَقْرِي الضَّيْفَ " شعب الايمان للبيهقي

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ د رسول الله صلى الله عليه و سلم له خطبې چې وئې فرمايل: نژدې ده چې په خلکو کې به تر ټولو غوره کس هغه سړى وي چې د خپل آس قيضه ئې کلکه نيولې، د الله په لار کې جهاد کوي او د خلکو له شرارتونو ځان لرې ساتي؛ او (که د جهاد امکان او وخت نه وي) نو بيا غوره څوك هغه دئ چې له خپلو پسونو سره په صحرا کې اوسي، زکات ئې ورکوي او د مېلمه درناوى کوي.

١١- باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم وينا چې زه خپل رب تر ټولو ښه پيژنم

20- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلاَمٍ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم إِذَا أَمَرَهُمْ أَمَرَهُمْ مِنَ الأَعْمَالِ بِمَا يُطِيقُونَ قَالُوا إِنَّا لَسْنَا كَهَيْئَتِكَ يَا رَسُولَ الله، إِنَّ الله قَدْ غَفَرَ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ. فَيَغْضَبُ حَتَّى يُعْرَفَ

الْغَضَبُ فِي وَجْهِهِ ثُمَّ يَقُولُ "إِنَّ أَتْقَاكُمْ وَأَعْلَمَكُمْ بِالله أَنَا". (بخاري: 20)

٢٠- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: کله چې به رسول الله صلى الله عليه و سلم خلکو ته امر کاوو، نو د داسي اعمالو امر به ئې ورته کاوو چې پرې توانېدل به، (دوی به دا اعمال کم وکړل) عرض به ئې وکړ: يا رسول الله! مونږ خو تا غوندي نه يو، تا ته خو الله تعالى ستا تولې پخوانۍ او راتلونکې ګناوې بخښلې دي، په دې خبرې به دومره غصه شو چې د غصې نښې به ئې په مبارکې څېرې کې ښکاره شوې، بيا به ئې فرمايل: (په تاسو کې تر ټولو زيات متقي او ډېر خداى پېژندونکى زه يم، (خو بيا هم په همدې اندازه اطاعت او عبادت بسنه کوم).

په دې اړه دغه خبرې په پام کې ولرئ:

1- پيغمبر عليه السلام دا خبره د هغه چا په اړه کړې چې غوښتل ئې تقوى او عبادت ئې تر پيغمبر عليه السلام هم زيات وي، هغوى ته ئې ويلي چې د عبادت په څرنګوالي کې د خپل پيغمبر متابعت وکړئ، د پيغمبر عليه السلام عبادت بايد ستاسو لپاره معيار او ملاك وي، هغه خپل رب تر هر چا ښه پېژني او تر هر چا زياته تقوى لري، نو له افراط ډډه وکړئ، د روايت موخه دا نه ده چې خلکو ته ووايي: پيغمبر عليه السلام خپل رب په يوه توګه پېژني او تاسو ئې په بله توګه!! دا ځکه چې د هغه چا ايمان قطعاً د منلو وړ نه دئ چې الله تعالى همغسي نه پېژني چې پيغمبر عليه السلام پېژندو.

2- بخاري دا روايت هم د نورو په څېر د دې لپاره راوړی چې ثابته کړي د پيغمبر عليه السلام ايمان، تقوى او د الله تعالى په اړه علم تر نورو زيات دئ، نو له دې معلومېږي چې ايمان زيادت او نقصان مومي! خو موږ نه پوهېږو هغه به څوك وي چې له دغه حقيقت انكار وكړي او ووايي چې د تقوى او علم له پلوه د عادي مؤمن ايمان همغسي دئ لكه د پيغمبر عليه السلام ايمان؟! او دا پوښتنه كوو: هغه به څوك وي چې ووايي: پيغمبر عليه السلام چې الله تعالى په كومو صفاتو پېژندو كه كوم عادي مسلمان د دې صفاتو له كومي برخي انكار وكړي نو ايمان ئې صحيح دئ؟!

١٢- باب: په اعمالو كي د مؤمنانو يو پر بل غوره والى

21- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى الْمَازِنِيِّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه- عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ، ثُمَّ يَقُولُ اللهُ تَعَالَى أَخْرِجُوا مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ. فَيُخْرَجُونَ مِنْهَا قَدِ اسْوَدُّوا فَيُلْقَوْنَ فِي نَهَرِ الْحَيَا- أَوِ الْحَيَاةِ، شَكَّ مَالِكٌ- فَيَنْبُتُونَ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِي جَانِبِ السَّيْلِ، أَلَمْ تَرَ أَنَّهَا تَخْرُجُ صَفْرَاءَ مُلْتَوِيَةً". قَالَ وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا عَمْرٌو "الْحَيَاةِ". وَقَالَ "خَرْدَلٍ مِنْ خَيْرٍ". (بخاري:22)

٢١- له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې اوريدلي چې فرمايل ئې:

(کله چې جنتیان جنت او دوزخیان دوزخ ته ننوځي؛ بیا به الله تعالی وفرمایي: د چا په زړه کې چې د اوري (سپېلنیو) د دانې د یوې ذرې په اندازه ایمان هم وي، له دوزخ ئې وباسئ، نو په داسي حال کې به تري وایستل شي چې تک تور شوي به وي، نو د حیا یا حیات په ویالې کې به واچول شي، (مالك په دې کې شك وښود)، نو داسي به ښرته راشنه شي لکه دانه چې د سېل (خوړ) په غاړه شنه کېږي، آیا لیدلي دي نه دي چې دانه د شنه کېدو په لومړیو کې ژېړه او کږه وړه راشنه کېږي)، وهیب وویل چې عمرو راته ویلي (حیات) او وئې ویل (خردل من خیر: د خیر یوه ذره).

تکرار: 6560

توپیر: په یوه کې جانب السیل او په بل کې حَمِيلِ السَّيْلِ او حَمِيَّةِ السَّيْلِ، په یوه کې د خردل من الایمان تر څنګ خردل من خیر راغلی او په بل کې دا لفظ نه دئ راغلی. په نورو کې دا روایت داسي دئ:

عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ، وَلاَ يَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالَ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ إيمَانٍ. مصنف ابن ابي شيبه

په بل روایت کې د ایمان پر ځای (لااله الا الله) راغلي: مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ قَوْلِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ "

که دغو روایاتو ته ځیر شو څرګند تعارض مو تر سترګو کېږي، په یوه کې (ایمان) او په بل کې (لااله الا الله) راغلي، که دا دواړه یو مطلب وي نو د (لااله الا الله) د یوې ذرې

معنى به څه وي؟ (لااله الا الله) خو تجزيه کېدى نشي، يوه ذره ئې هيڅ معنى نه ورکوي. مجبور يو ووايو: له ايمان دلته مراد د خير هغه کارونه دي چې ايمان ئې اصلي محرك او باعث وي؛ او دا همغه مطلب دئ چې په بل روايت کې د ايمان پر ځاى د (خير) يادونه شوې، همدا راز يو ئې وايي چې د چا په زړه کې د سپېلنيو د دانې د يوې ذرې په اندازه ايمان وى دوزخ ته نه ننوځي او بل ئې وايي له دوزخ به وايستل شي، د دې دواړو تلفيق امکان نه لري، له دې پرته بله چاره نه لرو چې يو ترې غوره کړو، قرآن موږ ته وايي چې هر څوك به دوزخ ته ننوځي، ځيني به داسي تېز ترې تېر شي چې هيڅ اذيت به نه وررسوي، ځيني به لنډه موده په کي پاته کېږي، ځيني اوږده موده او ځيني د تل لپاره، د قرآن د دغي وينا له مخي هغه روايت بايد غوره شي چې وايي: هغه خلك به هم له دوزخه ايستل کېږي چې په زړه کې ئې يوه ذره ايمان يا خير وي.

ابن حبان د دې روايت په اړه پوښتنو ته دا ځواب وايي: قال أبو حاتم: "فِي هذا الخبر معنيان اثنان أحدهما وهو الذي نوعنا له النوع "لا يدخل الجنة من كان فِي قلبه مثقال حبة خردل من كبر" أراد به جنة عالية يدخلها غير المتكبرين، وقوله: "ولا يدخل النار من كان فِي قلبه مثقال حبة خردل من إيمان" أراد به نارا سافلة يدخلها غير المسلمين، والمعنى الثاني: لا يدخل الجنة أصلا من كان فِي قلبه مثقال حبة خردل من كبر، أراد بالكبر الشرك، إذ المشرك لا يدخل جنة من الجنان أصلا، وقوله: "لا يدخل النار من كان فِي قلبه مثقال حبة من خردل من إيمان" أراد به على سبيل

الخلود، حتى يصح المعنيان معا"

ابوحاتم وايي: په دې روايت کي دوه معناوي دي، يوه ئې هغه ده چې مومِ ورته دوه ډوله وټاکل، په دې معنى چې له (لا يدخل الجنة من كان فِي قلبه مثقال حبة خردل من كبر) نه ئې دا غوښتي چې ووايي: مراد ئې هغه لومِ جنت دئ چې يوازي تکبر نه کوونکي به ورننوځي؛ او دا وينا ئې (ولا يدخل النار من كان فِي قلبه مثقال حبة خردل من إيمان) مراد ئې هغه لاندنى اور دئ چې يوازي نامسلمانان به ورننوځي؛ او دوهمه معنى ئې دا چې: جنت ته به هغه څوك اصلاً نه ننوځي چې په زړه کي ئې يوه ذره کبر وي، له کبر نه ئې مراد شرك دئ، ځکه چې مشرك اصلاً هيڅ جنت ته نشي داخلېدى؛ او دا وينا ئې چې (لا يدخل النار من كان فِي قلبه مثقال حبة من خردل من إيمان) مراد ئې دائمي ننوتل دي، په دې توجيه سره کېدى شي دواړه معناوي صحيح تعبير شي.

خو د ابوحاتم دا توجيه يوازي په هغه صورت کي د منلو ده چې دا محمل د کوم روايت له مخي ثابت کړي او وښيي چې تر اصلي روايت مخکي يا وروسته داسي الفاظ ويل شوي چې همدا معنى ترې راوځي، د روايت له خپلو الفاظو دا معنى راايستل ممکن نه دي.

22- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدِ الله قَالَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُ النَّاسَ يُعْرَضُونَ عَلَيَّ، وَعَلَيْهِمْ قُمُصٌ مِنْهَا مَا يَبْلُغُ الثُّدِيَّ، وَمِنْهَا مَا دُونَ ذَلِكَ، وَعُرِضَ عَلَيَّ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَعَلَيْهِ قَمِيصٌ

يَجُزُّهُ". قَالُوا فَمَا أَوَّلْتَ ذَلِكَ يَا رَسُولَ الله قَالَ"الدِّينَ". (بخاري: 23)

٢٢- له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (كله چي ويده وم، خلك مي وليدل چي په وړاندي مي راښودل كيږى، داسي كميسونه ئې اغوستي وي چي د ځينو تر سينو پوري وي، د ځينو تر دې ټيټ؛ او عمر بن الخطاب په داسي حال كي راوړاندي كړى شو چي د كميس لمنه ئې پر زمكي ځان پسي راښكله، اصحابو وويل: يا رسول الله! دا كميس دي څنګه تعبير كړى؟ وئې فرمايل: (ديانت).

يعني د دې رؤيا تعبير دا دئ چي ځيني خلك په ديانت كي كمزوري دي، د ديانت جامې د دوى پر ټول بدن نه دي غوړېدلې، په بشپړه توګه په دين كي نه دي ننوتي، يوازي د سينې يوه برخه ئې پرې پټه كړې، د ځينو لږ اوږده او د ځينو ډېره اوږده او د عمر رضي الله عنه دومره اوږده چي تر شا پسي كړښېده.

كه څه هم امام بخاري رحمه الله دا روايت په ايمان كي د زيادت او نقصان ثابتولو لپاره راوړى خو په حقيقت كي دا روايت د دې دعوى تردید كوي، ځكه دلته د (ايمان) پر ځاى (دين) راغلى او (دين) د ايمان او عمل مجموعه ده؛ او د خوب تعبير دا دئ چي ښيي ځيني خلك د دين په لږ برخو عمل كوي او ځيني په ډېرو او عمر رضي الله عنه داسي دئ چي د نيكو عملونو آثار به ئې تر شا هم پاته كيږي.

تكرار: دا روايت هم بخاري دري ځلي نور راوړى په

دغو شمېرو: **3691، 7008، 7009،**

توپير: د ټولو لومړنی راوي ابو سعيد خدري دئ، دوه توپيرونه په کي ليدل کېږي او هغه دا چي، په يوه کي يجره راغلي او په بل کي يجتره، په يوه کي منها او په بل کي فَمِنْهَا.

۱۳- باب: حياء د ايمان برخه ده

23- **حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم مَرَّ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الأَنْصَارِ وَهُوَ يَعِظُ أَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "دَعْهُ فَإِنَّ الْحَيَاءَ مِنَ الإِيمَانِ".**(بخاري: 23)

23- سالم بن عبدالله رضي الله عنهما له خپل پلار روايت کوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د انصارو د يوه شخص خوا ته په داسي حال کي تېرېدو چي هغه خپل ورور ته د حياء او شرم په اړه نصيحت کاوو (د زياتي حياء کولو له امله ئې ملامتاوو) نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: (هغه پخپل حال پرېږده، ځکه حياء له ايمان ده).

تکرار: دا روايت بخاري يو ځل بل هم راوړی، په **6118** شمېره،

توپير: په دواړو کي دا توپيرونه تر سترګو کېږي: يو ئې مخامخ له ابن عمر روايت شوی او بل ئې د ابن عمر له

لوري خو له خپل پلار عمر رضي الله عنه، په يوه کي (رجل من الأنصار) ويل شوي، په بل کي يوازي (رجل)، په يوه کي ويل شوي (وَهُوَ يَعِظُ أَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ) او په بل کي (وَهْوَ يُعَاتَبُ فِي الْحَيَاءِ: هغه د حياء په وجه ملامتېدو)، په يوه کي دا الفاظ راغلي: يَقُولُ إِنَّكَ لَتَسْتَحْيِي، حَتَّى كَأَنَّهُ يَقُولُ قَدْ أَضَرَّ بِكَ)، په بل کي دا الفاظ نشته.

دا دواړه روايات د احاديثو په نورو کتابونو کي هم راغلي، له همدغو توپيرونو سره، اصلي خبره ئې دا ده چي (حياء له ايمان ده)، بخاري غوښتي دا حديث د خپلي مدعاء لپاره د يوه بل دليل په توګه وړاندي کړي، خو حقيقت دا دئ چي حياء د ايمان جزء نه بلکي د ايمان يوه نښه يا نتيجه ده، يعني ايمان په انسان کي حياء راپيدا کوي.

١٤- باب: چا چي اسلام راوړ نو په امن شو

٢٤- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مُحَمَّدٍ الْمُسْنَدِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو رَوْحٍ الْحَرَمِيُّ بْنُ عُمَارَةَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ وَاقِدِ بْنِ مُحَمَّدٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي يُحَدِّثُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ الله، وَيُقِيمُوا الصَّلاَةَ، وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ، فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلاَّ بِحَقِّ الإِسْلاَمِ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى الله". (بخاري: 25)

٢٤- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (ما ته امر شوى چي تر هغه له خلکو سره وجنګېږم چي پدې شاهدي ووايي چي له الله

پرته بل معبود نشته او محمد د الله رسول دئ؛ او لمونځ وکړي او زکات ورکړي، که دا ئې وکړل نو خپلي ويني او مالونه ئې له ما خوندي کړل، مګر د اسلامي حق له مخي؛ او نور ئې حساب له الله سره دئ).

يعني په دې شرطونو د يو چا سر او مال خوندي کيږي: د شهادت کلمه، لمونځ او زکات، مګر دا چې اسلام د ده له مال څه معين مقدار اخيستل جائز کړي وي، يا د غلا، زنا او قتل په سبب هغه ته سزا ورکړی شي. او دا په حقيقت کې د التوبه د سورې د 6 آيت شرح او تفسير دئ؛ د روايت له هيڅ برخي دا نه معلوميږي چې ايمان زيادت او نقصان قبلوي.

١٥- باب: څوك چې وايي ايمان په خپله عمل دئ

25- **حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ وَمُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالاَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم سُئِلَ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ فَقَالَ "إِيمَانٌ بِالله وَرَسُولِهِ". قِيلَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ "الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ الله". قِيلَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ "حَجٌّ مَبْرُورٌ".** بخاري: 26

25- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتنه وشوه: کوم عمل غوره دئ؟ وئې فرمايل: (په خداى او رسول ئې ايمان). ورته وويل شول چې ورپسې کوم عمل غوره دئ؟ وئې فرمايل: (د الله تعالى په لار کې جهاد). وويل شول: ورپسې کوم عمل غوره

دئ؟ وئې فرمايل: (مقبول حج).

تکرار: بخاري دا روايت يو ځل بيا هم له لږ توپير سره په 1519 شمېرې کې راوړی، په يوه کي ويل شوي (أَيُّ الْعَمَلِ) او په بل کي (أَيُّ الأَعْمَالِ). له دغو دواړو لومړی په دې دليل ارجح برېښي چې له ځواب معلومېږي پوښتونکي د يوه غوره عمل پوښتنه کړې نه د ډېرو غوره اعمالو.

په دې روايت کي څو خبري توجه غواړي:

پوښتنه د غوره عمل په اړه شوې او رسول الله صلى الله عليه و سلم په ځواب کي ويلي چې پر الله تعالى او د هغه پر پيغمبر ايمان، بخاري پر همدې استناد کوي او وايي ايمان او عمل يو شی دئ، حال دا چې ايمان بېل شی دئ او عمل بېل، ايمان راوړل يو عمل ګڼل کېدی شي خو په خپله ايمان ته د عمل نوم نه شو ورکولی، پيغمبر عليه السلام دلته ايمان راوړل عمل ګڼلی نه په خپله ايمان.

جهاد له ايمان وروسته تر ټولو غوره عمل ښودل شوی، له دې هغه خبره ثابتېږي چې مونږ د 8 حديث په شرحي کي کړې.

خو د حج په اړه دا پوښتنه راولاړېږي چې څنګه تر لمانځه او زکات هم غوره عمل ګڼل شوی، حال دا چې د لمانځه او زکات په اړه په قرآن کي د حج په پرتله دومره زيات تأکيد شوی چې سره مقايسه کېدی نشي. ځواب ئې دا دئ چې ښايي پوښتونکي د حج په موسم او دوران کي دا پوښتنه کړې ځکه هغه مهال تر ټولو غوره کار دا دئ چې انسان د حج فريضه اداء کړي. دا خبره له هغه روايت

معلومېږي چې وايي:

عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رضي الله عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ الله-صلى الله عليه وسلم- سُئِلَ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ قَالَ:"الْعَجُّ وَالثَّجُّ". سنن البيهقي

له ابوبکر رضي الله عنه روایت دئ چې وئې ویل: له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتنه وشوه چې کوم عمل تر ټولو غوره دئ؟ وئې فرمایل: العج: تلبیه ویل او الثج: د قربانۍ وینه تویول. لکه څنګه چې په دې روایت کې دا دواړه عملونه د حج په ارتباط غوره اعمال ګڼل شوي، همدا راز په مخکیني روایت کې د حج په موسم کې حج تر ټولو غوره عمل ګڼل شوی.

16- باب: کله چې اسلام ربښتینی نه وي

د دې باب په مقدمه کې چې امام بخاري رحمه الله څه لیکلي په دې اړه دا وضاحت ضروري دئ چې اسلام یوازې د استسلام او تسلیمېدو په معنی نه دئ او یوازې په دې معنی نه راځي چې د وېرې او خوف په وجه تسلیمېدا افاده کړي، کله په همدې معنی راځي او کله ئې پر ټول دین اطلاق کېږي چې ایمان هم احتواء کوي او کله پر ټولو هغو اعمالو چې د الله تعالی حکم ته تسلیمېدا ئې عامل او محرك وي.

26- عَنْ سَعْدٍ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم أَعْطَى رَهْطًا وَسَعْدٌ جَالِسٌ، فَتَرَكَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم رَجُلاً هُوَ أَعْجَبُهُمْ إِلَيَّ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ الله مَا لَكَ عَنْ فُلاَنٍ فَوَالله إِنِّي لأَرَاهُ مُؤْمِنًا. فَقَالَ "أَوْ مُسْلِمًا". فَسَكَتُّ قَلِيلاً، ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَعْلَمُ مِنْهُ

فَعُدْتُ لِمَقَالَتِي فَقُلْتُ مَا لَكَ عَنْ فُلاَنٍ فَوَاللهِ إِنِّي لأَرَاهُ مُؤْمِنًا فَقَالَ "أَوْ مُسْلِمًا". ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَعْلَمُ مِنْهُ فَعُدْتُ لِمَقَالَتِي وَعَادَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم ثُمَّ قَالَ "يَا سَعْدُ، إِنِّي لأُعْطِي الرَّجُلَ وَغَيْرُهُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْهُ، خَشْيَةَ أَنْ يَكُبَّهُ اللهُ فِي النَّارِ". وَرَوَاهُ يُونُسُ وَصَالِحٌ وَمَعْمَرٌ وَابْنُ أَخِي الزُّهْرِيِّ عَنِ الزُّهْرِيِّ. (بخاري:27)

26- له سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم يوې ډلي خلکو ته پداسی حال کي څه ورکړل چي سعد ناست وو، سعد رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له دې ډلي داسي يو کس پرېښود (څه ئې ورنکړل) چي ما ته تر نورو غوره ښکارېدو، ومي ويل: يا رسول الله! د فلاني په اړه څه فکر کوې؟ په خدای قسم چي زه ئې مؤمن ګڼم، وئې فرمايل: (يا مسلمان)، لنډه شېبه چوپ وم، بيا د دې شخص پيژندني او معرفت دې ته اړکړم چي خپله خبره تکرار کړم او ومي ويل: د فلاني په اړه څه فکر کوې؟ په خدای قسم چي زه ئې مؤمن ګڼم، وئې فرمايل: (يا مسلمان)، نو بيا څه وخت چوپ وم، بيا د دې شخص پيژندني او معرفت دې ته اړ کړم چي خپله خبره تکرار کړم، رسول الله صلى الله عليه و سلم هم خپله خبره تکرار کړه، بيا ئې راته وويل: اې سعده! زه کوم شخص ته څه ورکوم په داسي حال کي چي بل څوک تر هغه زيات راته ګران وي، له دې وېرې چي الله تعالى ئې پرمخې په اور کي وانه چوي. (يعنى که هغه کس ته چي ډېر راته ګران نه دئ څه ورنکړم، نو وېره لرم چي هغه به له همدې

امله بېرته كفر ته وګرځي او الله تعالى به ئې د كفر له امله په دوزخ كي واچوي).

دا روايت بخاري يو ځل بيا هم راوړى په دې شمېرې: 1478، له څه توپيرونو سره، په يوه كي ويل شوي أَعْطَى رَهْطًا وَسَعْدٌ جَالِسٌ او په بل كي أَعْطَى رَهْطًا وَأَنَا جَالِسٌ فِيهِمْ، په يوه كي مَا أَعْلَمُ منه او په بل كي مَا أَعْلَمُ فِيهِ، په يوه كي د فَسَارَرْتُهُ لفظ راغلى او په بل كي نه دئ راغلى، په يوه كي أَنْ يَكُبَّهُ الله فِي النَّارِ او په بل كي أَنْ يُكَبَّ فِي النَّارِ عَلَى وَجْهِهِ، راغلي.، په يوه كي دا هم راغلي چي سعد وويل رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپل لاس سره كوم شى وواهو چي (د غږ په اوږدو سره؛ له وېرې) زما سر او اوږې سره ورغلل او بيا ئې وويل اې سعده راوړاندي شه، خو، په بل كي دا الفاظ نشته.

په دې روايت كي لاندي خبري توجه غواړي:

ايمان او اسلام ببل ببل ګڼل شوي، د چا په اړه دا ويل چي مؤمن دئ په دې دليل صحيح نه دي چي ايمان د انسان په زړه پوري تعلق لري او بل څوك ئې په شته والي او نشتوالي نه پوهېږي؛ او اسلام په داسي اعمالو پوري تعلق لري چي نور ئې هم ګوري او اوري، عمل ته ئې په پام سره ويلى شي چي مسلمان دئ. د همدې لپاره پيغمبر عليه السلام دري ځلي سعد رضي الله عنه ته وويل چي د مسلم يعني مسلمان په نوم ئې ياد كړه.

د مال په وېش كي پيغمبر عليه السلام كله كله هغو خلكو ته تر مخلصو مسلمانانو زيات وركول چي له اسلام د بېرته ګرځېدو وېره ئې وه.

دا روايت د هغو خلکو رأيه ترديدوي چې اعمال د ايمان جزء ګڼي، نو نه پوهيږو چې امام بخاري رحمه الله څنګه د خپلې رأيې د اثبات لپاره په دې روايت استناد کړی؟!

د شلم باب 28 حديث تکرار راغلی، مخکې په 12 حديث کې څېړل شوی.

۱۷- باب: د خپلوانو د ناشکرۍ او له کفر نه لاندې کفر

۲۷- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "أُرِيتُ النَّارَ فَإِذَا أَكْثَرُ أَهْلِهَا النِّسَاءُ يَكْفُرْنَ". قِيلَ أَيَكْفُرْنَ بِالله قَالَ "يَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ، وَيَكْفُرْنَ الإِحْسَانَ، لَوْ أَحْسَنْتَ إِلَى إِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَ ثُمَّ رَأَتْ مِنْكَ شَيْئًا قَالَتْ مَا رَأَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ". (بخاري:27)

۲۷- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: دوزخ راوښودل شو، ومي ليدل چې د دوزخيانو اکثريت ښځې دي چې کفران او نا شکري کوي، وويل شول: آيا له خداى انکار کوي؟ وئې فرمايل: (د خپلوانو (خاوندانو) نا شکري کوي، د احسان نا شکري کوي، که ټول عمر له کومې يوې سره احسان وکړې؛ او بيا کله څه (ناخواله) درنه وويني نو وايي به: هيڅکله مي کوم خير نه دئ درنه ليدلی).

تکرار: بخاري دا روايت دوه ځلي نور د دوو اوږدو روايتونو په ترڅ کې هم راوړی؛ په دغو شمېرو: **1052**،

5197،

توپير: په يوه کي دا الفاظ راغلي فَلَمْ أَرَ مَنْظَرًا كَالْيَوْمِ قَطُّ أَفْظَعَ او په بل کي نه دي راغلي، په يوه کي دا الفاظ راغلي قَالُوا بِمَ يَا رَسُولَ الله او په بل کي نه دي راغلي...

امام بخاري رحمه الله غوښتي په دې روايت سره وښيي چې کله کفر د انکار او نه منلو په معنى راځي او کله د ناشکرۍ په معنى. خو دې ته مو بايد پام وي چې د کفر اصلي معنى پټول دي، کله د حق پټولو ته کفر ويل شوي او کله په ښېګڼو او احسان پرده اچول او ترې انکار کولو ته هم کفر ويل شوي، له حقيقت انکار کفر چې د ايمان عکس دئ؛ له ټولو مؤمن به شيانو انکار هم کفر دئ او له ځينو ئې انکار هم کفر، داسي نه ده چې يوه ته د بشپړ کفر نوم ورکړى شوى وي او بل ته د نيمګړي کفر نوم، همدا راز يوه ايمان ته بشپړ او بل ته نيمګړى ايمان نه شو ويلى. ځکه قرآن وايي: فماذا بعد الحق الا الضلال: نو له حق نه آخوا به له ضلال پرته بل څه وي؟! يعني يا به څه حق وي يا باطل، د دوى تر منځ درېيم صورت نشته، همدا راز د کفر او ايمان تر منځ درېيم منځنى صورت نشته، منافق هم په حقيقت کي کافر دئ او قرآن ئې د کافر په نامه يادوي.

دې ته مو پام وي چې ښځه ډېره عاطفي ده، په دې روايت کي د دې عاطفي قضاوت ته اشاره شوې، الله تعالى داسي پيدا کړې چې ځواکمنه عاطفه ئې ورکړې، د اولاد ښه روزنه دغي قوي عاطفي ته ضرورت لري، کله کله ئې قوي عاطفه پر قضاوتونو اغېز کوي، د يوې حساسي پېښي په وړاندي به ئې عاطفه داسي غبرګون ښيي چې ډېر څه به

تري هېر کړي، رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې لاربنووني سره هغوى متوجه کوي چې په خپلو قضاوتونو کې د عاطفې تر اغېز لاندې له حقيقت عدول ونه کړي.

١٨- باب: ګناه د جاهليت نښه ده

٢٨- حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ وَاصِلٍ الأَحْدَبِ عَنِ الْمَعْرُورِ قَالَ لَقِيتُ أَبَا ذَرٍّ بِالرَّبَذَةِ، وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ، وَعَلَى غُلاَمِهِ حُلَّةٌ، فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ إِنِّي سَابَبْتُ رَجُلاً، فَعَيَّرْتُهُ بِأُمِّهِ، فَقَالَ لِيَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "يَا أَبَا ذَرٍّ أَعَيَّرْتَهُ بِأُمِّهِ إِنَّكَ امْرُؤٌ فِيكَ جَاهِلِيَّةٌ، إِخْوَانُكُمْ خَوَلُكُمْ، جَعَلَهُمُ الله تَحْتَ أَيْدِيكُمْ، فَمَنْ كَانَ أَخُوهُ تَحْتَ يَدِهِ فَلْيُطْعِمْهُ مِمَّا يَأْكُلُ، وَلْيُلْبِسْهُ مِمَّا يَلْبَسُ، وَلاَ تُكَلِّفُوهُمْ مَا يَغْلِبُهُمْ، فَإِنْ كَلَّفْتُمُوهُمْ فَأَعِينُوهُمْ". (بخاري:28)

٢٨- له معرور روايت دئ چې ابوذر مې په ربذه کې وليد، يوه جوړه جامه ئې پر تن وه، د غلام ئې هم دغه جامه پر تن وه، د دې سبب مې تري وپوښتو، نو وئې ويل: چا ته مې بنکنځلي وکړې، د مور پېغور مې ورکړ، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم راته وفرمايل: (اې ابوذره! آيا د مور پېغور دي ورکړ؟ ته داسي څوک يې چې په تا کې د جاهليت خوى دئ، ستاسو وروڼه (خدمتګاران) ستاسو اتباع دي، الله تعالى هغوى ستاسو تر لاس لاندې کړي، نو د چا چې خپل ورور تر لاس لاندې وي، نو هغه خواړه دي ورکوي چې په خپله ئې خوري؛ او د خپلو جامو په شان جامې دي ورکوي؛ او په داسي چارو ئې مه ګمارئ چې تر وس ئې لوړ وي؛ او که ئې پرې ګمارئ نو مرسته ئې وکړئ).

دا روايت كه له يوې خوا موږ ته له خپلو خادمانو سره د داسي ښه چلند او سلوك سپارښتنه كوي لكه له خپل ورور سره؛ او موږ ته لارښوونه كوي چې په درنو او له وس لوړ كارونو ئې ونه ګمارو، په كارونو كي مرسته ورسره وكړو، له بلي خوا له دوی سره بد چلند د جاهليت دود او خوی ګڼي او د مؤمن له شأن ئې لري بولي، يعني دا خوی له مؤمن سره نه ښايي، ايمان چې د كومو خويونو او عملونو غوښتنه كوي دا تري وتلی، دا د جاهليت د زماني له خويونو دئ، خو دا روايت د هغه چا دريځ نه پياوړی كوي چې د ايمان په تعدد باور لري، دا د ايمان د تعدد دليل نه بلكي د ايمان د آثارو د تعدد دليل دئ.

تكرار: دا روايت هم په بخاري كي دوه ځلي نور په دې شمېرو راغلی: **2545، 6050،**

توپير: په يوه كي دا الفاظ راغلي (فَشَكَانِي إِلَى النَّبِيِّ)، په بل كي نه دي راغلي، په يوه كي دا الفاظ راغلي كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ رَجُلٍ كَلاَمٌ، وَكَانَتْ أُمُّهُ أَعْجَمِيَّةً، فَنِلْتُ مِنْهَا فَذَكَرَنِي إِلَى النَّبِيِّ خو، په بل كي نشته، په يوه كي دا الفاظ راغلي قُلْتُ عَلَى حِينِ سَاعَتِى هَذِهِ مِنْ كِبَرِ السِّنِّ په نورو كي نشته، له ټولو داسي معلومېږي چې ابوذر رضي الله عنه له كوم كس سره چې مور ئې عربه نه وه شخړه كړې، هغه ته ئې ويلي چې د اعجمي زويه، هغه پيغمبر عليه السلام ته شكايت كړی، پيغمبر عليه السلام ابوذر راغوښتی، د دې پېښي پوښتنه ئې تري كړې، هغه اعتراف كړی، كله چې ئې ورته ويلي په تا كي د جاهليت خوی دئ،

هغه ويلي آيا د زړښت په دغه وخت کي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته فرمايلي: هو؛ بيا ئې هغه نصيحت ورته کړى، د همدې نصيحت په سبب ئې خپل خادم ته د ځان په څېر جامه ورکړې وه. په دې رواياتو کي **6050** روايت تر نورو جامع او دقيق معلومېږي.

١٩- باب: د مسلمانانو تر منځ صلح

29- حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْمُبَارَكِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ وَيُونُسُ عَنِ الْحَسَنِ عَنِ الأَحْنَفِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ ذَهَبْتُ لأَنْصُرَ هَذَا الرَّجُلَ، فَلَقِيَنِي أَبُو بَكْرَةَ فَقَالَ أَيْنَ تُرِيدُ قُلْتُ أَنْصُرُ هَذَا الرَّجُلَ. قَالَ ارْجِعْ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ". فَقُلْتُ يَا رَسُولَ الله هَذَا الْقَاتِلُ فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ قَالَ "إِنَّهُ كَانَ حَرِيصًا عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ". (بخاري:29)

29- له احنف بن قيس روايت دئ چي وايي: ولاړم چي د دې سړي مرسته وکړم، ابوبکرة رضي الله عنه راسره مخامخ شو، پوښتنه ئې وکړه چي چېرې ځې؟ ومي ويل: ځم چي د دې سړي مرسته وکړم، راته وئې ويل: بېرته وګرځه، ما له رسول الله صلى الله عليه و سلم اورېدلي چي فرمايل ئې: (کله چي دوه مسلمانان له خپلو تورو سره يو بل ته مخامخ شي نو قاتل او مقتول دواړه په دوزخ کي دي)، ما عرض وکړ: يا رسول الله! دا يو خو قاتل دئ نو د مقتول ګناه څه ده؟ وئې فرمايل: هغه هم د خپل ملګري د وژلو تلوسه درلوده).

تكرار: دا روايت په بخاري کي دوه ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: 7083، 6875.

توپير: په يوه کي إِنَّهُ كَانَ حَرِيصًا عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ؛ او په بل کي إِنَّهُ أَرَادَ قَتْلَ صَاحِبِهِ، په يوه کي إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ او په بل کي إِذَا تَوَاجَهَ الْمُسْلِمَانِ راغلي، په يوه کي فَكِلاَهُمَا راغلي په نورو کي دا الفاظ نشته، په نورو کتابونو کي هم دا روايت راغلی خو دا مطلب په کي هم راغلی چې يو ئې بل ووژني، الفاظ ئې دا دي:

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا تَوَاجَهَ الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَقَتَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَذَا الْقَاتِلُ قَدْ عَرَفْنَاهُ، فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ؟ قَالَ: «إِنَّهُ كَانَ يُرِيدُ قَتْلَ صَاحِبِهِ» رواه مصنف عبدالرزاق، سنن الكبرى للنسائي، صحيح ابن حبان، سنن بيهقي، و غيرهم

دا روايت تر نورو جامع او بشپړ معلومېږي، يوازي د مخامخ کېدو خبره نه کوي بلکي د جګړي او يو د بل وژني ته هم اشاره کوي.

دلته څو خبري بايد په پام کي ولرو:

د مسلمانانو تر منځ د نښتو او قصداً د مسلمان د وژل کېدو څو صورتونه دي: 1- د دوو مسلمانو ډلو تر منځ د نښتي په ترڅ کي د مسلمان وژل، 2- د دوو مسلمانانو تر منځ جګړه، 3- له داسي کافر محارب قوم او ډلي سره نښته چې په هغې کي کوم مسلمان هم وي او هغه ووژل شي، 4-

بې موجبه د کوم مسلمان عمداً وژل، د دې وروستي قاتل په اړه د قرآن پرېکړه دا ده چې تل به په دوزخ کې وي او د الله تعالى په غضب او لعنت به اخته وي. د دوو مسلمانو ډلو تر منځ د نښتو په اړه فرمايي چې نور مسلمانان مکلف دي د دوی تر منځ روغه جوړه وکړي او د هغه لوري په ضد وجنګېږي چې تېرى کوي، تر هغه چې د الله تعالى حکم ته غاړه کښېږدي، د محارب قوم په لیکو کې د کوم مسلمان وژنه هیڅ مؤاخذه نه لري، البته مسلمانانو ته لارښوونه شوې چې په دې اړه له احتیاط او دقت کار واخلي، هڅه وکړي چې د جګړې د وخت، ځای، ترتیب په ارتباط داسې تدبیر غوره کړي چې مسلمان ته په کې زیان ونه رسېږي. او هغه صورت ئې چې دوه مسلمانان یو د بل په ضد وسله راوباسي او په نښتې کې یو ووژل شي، دا صورت په دغه مبارك حدیث کې ښودل شوی.

خو له دې روایت دا خبره راایستل چې ایمانونه بېل بېل دي د فهم وړ نه برېښي.

20- باب: ظلم څو مرتبې لري

30- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ ح. قَالَ وَحَدَّثَنِي بِشْرٌ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ الله قَالَ لَمَّا نَزَلَتِ (الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ) قَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم أَيُّنَا لَمْ يَظْلِمْ فَأَنْزَلَ الله (إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ). (بخاري:30)

۳۰- له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چې

کله دا آیت نازل شو (الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ: هغه چې ایمان ئې راوړی او خپل ایمان ئې په ظلم نه دئ لړلی) نو د رسول الله صلی الله علیه و سلم صحابه وو وویل: له موږ به کوم یوه ظلم نه وي کړی؟ نو الله تعالی دا آیت نازل کړ: (إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ: یقیناً چې شرک لوی ظلم دئ). یعني په دې تېر آیت کې له ظلم مراد شرک دئ، نه بل ډول ظلم.

تکرار: دا روایت په بخاري کې شپږ ځلي نور هم راغلی، په دغو شمېرو: 3360، 3428، 3429، 4629، 4776، 6918، 6937،

د دې روایت په اړه څو خبري په پام کې ولرئ:

دا روایت غریب دئ، په ټولو طبقاتو کې یو یو راوي لري، الأَعْمَشِ له إِبْرَاهِيم هغه له عَلْقَمَةَ او هغه له عَبْدِ الله بن عباس روایت کوي، وروستي راویان ئې بېل بېل دي، خو په الفاظو کې ئې څو توپیرونه شته چې دوه ئې ډېر ستر دي او جدي تعارض په ګوته کوي او هغه دا چې په ځینو کې ویل شوي چې الله تعالی آیت نازل کړ خو په ځینو کې ویل شوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم هغوی ته وفرمایل: (داسې نه ده لکه چې تاسو ئې انګېرئ، له ظلم مراد شرك دئ، آیا دا آیت مو نه دئ اوریدلی چې لقمان خپل زوی ته وایي: شرك لوی ظلم دئ)؛ او د دې معنی دا ده چې دا آیت تر دې د مخه نازل شوی وو.

دې ته مو پام وي چې (إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ) د لقمان د سورې آیت دئ او (الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ) د

الانعام د سورې، د دغو دواړو سورتونو له متنه په وضاحت سره معلومېږي چې د الانعام سوره د لقمان تر سورې ډېره وروسته نازله شوې، الانعام د مکي دور په وروستيو کې او د لقمان سوره په منځنيو کلونو کې نازله شوې، په روايت کې په دې اړه اشتباه شوې، چې د لقمان د سورې آيت تر هغه بل چې د الانعام په سورې کې راغلی وروسته ګڼي، له دې معلومېږي چې په دغو متعارضو رواياتو کې يوازي هغه دقيق دئ چې د آيت د نزول خبره نه کوي بلکي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د لقمان د سورې دا آيت ورته ولوست او د دوی تشويش ئې رفع کړ. دا چې ولي په رواياتو کې تعارض راغلی وجه ئې دا ده چې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په مدينه کې ځوانې ته رسېدلی او دا موضوع په مکه کې واقع شوې، ده هم له نورو اورېدلې، خو د هغوی نوم ئې نه دئ اخيستی، ښايي له ځينو ئې دا وينا اورېدلې وي او له ځينو هغه بله. دا روايت په نورو کتابونو کې هم راغلی خو اصلي راوي ئې يوازي عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دئ.

اصولاً لومړی يو نوم يا اصطلاح وضع کېږي بيا ئې کارول پيل کېږي، هيڅوک داسي نه کوي چې اسم له مسمّٰی مخکې وکاروي، لومړی بايد په شرك باندې د ظلم نوم ايښودل شوی وي بيا به دا وينا د فهم وړ وي چې (څوك خپل ايمان په ظلم ونه لړي يعني خپل ايمان له شرك سره خلط نه کړي).

دې ته مو هم بايد پام وي چې د ايمان تر څنګ د ظلم يادونه په داسي توګه چې له ايمان سره ګډول افاده کوي

بنيي چي دا (ظلم) يوه عقيده ده نه عمل، ځکه عمل او عقيده سره ګډېدی نشي، عقيده له عقيدې سره ګډېدی شي، نو ځکه دلته له ظلم مراد د شرك عقيده ده نه عام ظلم او د بل په حق تېرى.

٢١- باب: د منافق نښي

31- حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ أَبُو الرَّبِيعِ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا نَافِعُ بْنُ مَالِكِ بْنِ أَبِي عَامِرٍ أَبُو سُهَيْلٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلاَثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ". (بخاري:31)

٣١- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د منافق نښي دري دي: كله چي خبري كوي نو دروغ وايي، كله چي وعده وكړي (له خپلي ژمني) په شا كېږي؛ او كله چي امين ونيول شي (څه په امانت وركړى شي) نو خيانت كوي.)

دا روايت له همدغو الفاظو سره په معمولي تغيير دري ځلي نور په بخاري كي راغلى، په دغو شمېرو: 2682، 2749، 6095.

په همدې ارتباط بل حديث داسي دئ:

32- حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ بْنُ عُقْبَةَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُرَّةَ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا، وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتَّى يَدَعَهَا إِذَا

اؤْتُمِنَ خَانَ وَإِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ، وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ". (بخاري:32)

۳۲- له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (څلورګوني داسي دي چي په هر چا کي وي نو هغه په بشپړه توګه منافق دئ؛ او په چا کي چي له دغو يو خصلت وي نو په هغه کي د نفاق يو خوی دئ، تر هغه چي پرې ئې ږدي: کله چي څه په امانت ورکړی شي نو خيانت کوي، کله چي خبري کوي نو دروغ وايي، کله چي عهد کوي نو غدر کوي؛ او کله چي شخړه کوي نو بښکنځلي کوي.)

تکرار: دا روايت هم په بخاري کي دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: **2459**، **3178**. الفاظ ئې همدا دي خو ځيني الفاظ په کي وروسته وړاندي شوي. د مخکيني روايت راوي ابوهريره دئ او د دې عبدالله بن عمرو. يو د منافق خصلتونه دري او بل ئې څلور بولي، يو بل خصلت پرې اضافه کوي چي هغه د شخړو او مناقشو په دوران کي خپل مقابل لوري ته بد و رد ويل او بښکنځلي کول دي، يعني منافق دروغجن وي، خائن وي، وعده خلاف وي او بد ژبی وي.

بښايي امام بخاري رحمه الله عملي انحراف د ايمان په اجزاوو کي د کموالي په معنی نيسي، ځکه ئې دلته د منافق مربوط روايات راوړي، خو حقيقت دا دئ چي عقيدوي منافق ته د مؤمن خطاب نه شو کولی، داسي نه شو ويلی چي هغه لږ ايمان لري، قرآن د دې پر ځای وايي: منافق کله

ايمان راوړي او كله ښرته كافر شي، نو په اصل كي يا ايمان دئ يا كفر، د دې دواړو تر منځ سره كړښه ده، منافق كله له دې كړښي يوې خوا ته واوړي او كله بلې خوا ته.

٢٢- باب: د قدر د شپې لمونځ د ايمان برخه ده

٣٣- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "مَنْ يَقُمْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ".
(بخاري:33)

٣٣- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (چا چې د قدر په شپه د ايمان په وجه او د اجر په نيت قيام (لمونځ) وكړ، نو مخكيني او وروستني ګناهونه به ئې ورته وبخښل شي.)

تكرار: دا روايت په بخاري كي شپږ ځلي نور هم راغلى؛ په دغو شمېرو: 37، 38، 1901، 2008، 2009، 2014،

توپير: په ځينو كي د قَامَ رَمَضَانَ او په ځينو كي مَنْ صَامَ رَمَضَانَ او په ځينو كي مَنْ قَامَهُ او په ځينو كي مَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ الفاظ راغلي، د ټولو لومړى راوي ابو هريره رضي الله عنه دئ. په ځينو نورو كتابونو لكه د أحمد، أبو داود، الترمذي، النسائى او ابن حبان په كتابونو كي د همدې أبو هريرة رضي الله عنه او النسائى له عائشې رضي الله عنها روايت كړى.

د دې روايت په اړه څو پوښتنې بايد ځواب شي: د ليلة القدر په شپه قيام سره کوم ګناهونه بخښل کېږي؟ آيا کېدی شي سړی ټول کال ګناهونه وکړي او بيا د روژې د مياشتې په وروستۍ لسيزې کې هره شپه يا په طاق شپو کې لمونځ وکړي او طمع ئې دا وي چې ټول ګناهونه به ئې بخښل کېږي؟ آيا فرائض پرېښودل، حرام خوړل، د بل په حق تېرې هم بخښل کېږي؟ که څوک وايي چې دا نه بخښل کېږي دليل به ئې څه وي او د دې روايت عموميت به څنګه توجيه کوي؟

د نورو نصوصو له مخې يوازې دا ويلی شو چې دا او دې ته ورته روايات تشويقي بڼه لري، مخصوصاً کله چې دا د داسې امورو په ارتباط وي چې نوافل او مستحبات وي، که دا د فرائضو او واجباتو له اداء کولو وروسته وي نو اميد دئ چې الله تعالی هغه قصور او کمی خپل بنده ته وبخښي چې کله کله ترې شوی. په دې اړه له عائشې رضي الله عنها او ابوهريره رضي الله عنه داسې روايت شوی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» وَفِي لَفْظٍ: كَانَ يُرَغِّبُ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَأْمُرَ بِعَزِيمَةٍ فَيَقُولُ: «مَنْ قَامَ رَمَضَانَ»

رسول الله صلى الله عليه و سلم به د روژې د مياشتې د شپې لمانځه ته خلك تشويقول پرته له دې چې په ټينګه ئې پرې وګماري، نو ويل به ئې: چا چې د روژې د مياشتې په شپو کې د ايمان په وجه او د اجر په نيت قيام (لمونځ) وکړ، نو

مخكيني او وروستني ګناهونه به ئې ورته وبخښل شي.)

خو دا چې امام بخاري رحمه الله دا روايت څنګه د خپلې رأيې د اثبات په موخه دلته راوړی، وجه ئې څرګنده نه ده، دومره ويلی شو چې د دې روايت له هيڅ برخې دا نه معلوميږي چې ايمان زياتوالی او نقصان قبلوي. ګناه د ايمان منافي نه ده، په هري ګناه سره د انسان ايمان نه منتفي کيږي، بلکې ګناه له هغو اعمالو سره منافات لري چې ايمان ئې غوښتنه کوي.

٢٣- باب: جهاد د ايمان برخه ده

٣٤- حَدَّثَنَا حَرَمِيُّ بْنُ حَفْصٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ قَالَ حَدَّثَنَا عُمَارَةُ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو زُرْعَةَ بْنُ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "انْتَدَبَ الله لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ لاَ يُخْرِجُهُ إِلاَّ إِيمَانٌ بِي وَتَصْدِيقٌ بِرُسُلِي أَنْ أُرْجِعَهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ؛ او أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، وَلَوْلاَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي مَا قَعَدْتُ خَلْفَ سَرِيَّةٍ، وَلَوَدِدْتُ أَنِّي أُقْتَلُ فِي سَبِيلِ الله ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلُ" (بخاري:34)

٣٤- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (الله تعالى له هغه چا سره چې د ده په لار کې جهاد ته وځي، په داسي حال کې چې پر الله باندې ايمان او د ده د پيغمبرانو تصديق ئې جهاد ته باسي؛ دا وعده کړې چې له اجر يا غنيمت سره به ئې بېرته ستنوم يا به ئې جنت ته ننباسم، رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي: (که دا نه وی چې مبادا خپل امت په کړاو کې

واچوم نو له هيڅ هغه ټولي به شا ته نه وی پاته شوی چي جهاد ته درومي؛ او يقيناً چي دا مي زړه غواړي چي د الله تعالی په لار کي ووژل شم، بيا راژوندی کړی شم، بيا ووژل شم، بيا راژوندی کړی شم، بيا ووژل شم).

يعني که دا خبره نه وی چي که زه په هري جګړي کي برخه اخلم؛ او له هر ټولګي سره ووځم نو زما صحابه به هم راسره وتل او دا به پر دوی ګران تمامېدو، نو له هيڅ ټولي به وروسته نه وم پاته شوی او په ټولو جګړو کي به مي ګډون کاوو؛ او دا مي زړه غواړي چي د الله تعالی په لار کي په وار وار شهيد شم.

تکرار: دا روايت په بخاري کي اوه ځلي نور هم په دې شمېرو راغلی: 2787، 2797، 2972، 3123، 7226، 7227، 7457، 7463، له ځينو توپيرونو سره، په لاندي دوو کي د دې روایاتو ټول مطالب په بشپړه توګه راغلي:

2787 – **عن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ الله- وَالله أَعْلَمُ بِمَنْ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِهِ- كَمَثَلِ الصَّائِمِ الْقَائِمِ، وَتَوَكَّلَ الله لِلْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِهِ بِأَنْ يَتَوَفَّاهُ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ؛ او يَرْجِعَهُ سَالِمًا مَعَ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ".**

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چي فرمايل ئې: د الله په لار کي د مجاهد مثال داسي دئ لکه د روژتي او د شپې لمونځ کوونکي (تر هغه چي مجاهد په جهاد بوخت وي) او الله ښه پوهيږي چي څوك د ده په لار کي جهاد کوي؛ او الله

د خپلي لاري مجاهد ته دا په خپله ذمه اخيستي چي که ئې وفات کړي نو جنت ته به ئې داخلوي، يا به ئې روغ ستنوي له اجر يا غنيمت سره.

2797 – **عن أَبَي هُرَيْرَةَ- رضي الله عنه- قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْلاَ أَنَّ رِجَالاً مِنَ الْمُؤْمِنِينَ لاَ تَطِيبُ أَنْفُسُهُمْ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنِّى، وَلاَ أَجِدُ مَا أَحْمِلُهُمْ عَلَيْهِ، مَا تَخَلَّفْتُ عَنْ سَرِيَّةٍ تَغْزُو فِي سَبِيلِ الله، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوَدِدْتُ أَنِّي أُقْتَلُ فِي سَبِيلِ الله ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلُ".**

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چي فرمايل ئې: په هغه ذات مي قسم چي زما سا ئې په واك کي ده؛ که دا نه وی چي له مؤمنانو ځيني سړي داسي دي چي زړه ئې نه غواړي چي له ما وروسته پاته شي؛ او زه داسي څه نه مومم چي دوی پرې سپاره کړم، نو له هيڅ هغه ټولي به شا ته نه وم پاته شوی چي د الله په لار کي غزا کوي؛ او په هغه ذات مي قسم چي زما سا ئې په واك کي ده چي دا مي زړه غواړي چي د الله تعالى په لار کي ووژل شم، بيا راژوندی کړی شم، بيا ووژل شم، بيا راژوندی کړی شم، بيا ووژل شم).

٢٤- باب: په روژه کي نفلي لمونځ د ايمان برخه ده!

٣٥- **حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ حُمَيْدِ**

بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ". (بخاري:35)

٣٥- او له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (څوک چي د ايمان په حكم او د ثواب او اجر په نيت په روژه كي قيام وكړي (د شپې لمونځ وكړي) تېر شوي ګناهونه ئې ورته بخښل كېږي.)

په دې اړه مخكي بحث شوى، خو د يوې خبري اضافه كول ضروري دي او هغه دا چي د قرآن په هيڅ آيت كي نه دي ويل شوي چي نوافل يا حتى فرائض د ايمان برخه ده، په احاديثو كي هم نه دي ويل شوي چي نوافل يا روژه د ايمان برخه ده، نه پوهېږو چي امام بخاري رحمه الله څنګه دا خبره كړې؟! هيڅ عمل د ايمان او عقيدې جزء او برخه نه شو ګڼلى، د عمل او ايمان تر منځ د تړاو په اړه يوازي دا ويلى شو چي عمل د ايمان تقاضا او نتيجه ده.

٢٥- باب: د ثواب په نيت د رمضان د مياشتي روژه د ايمان برخه ده

٣٦- حَدَّثَنَا ابْنُ سَلاَمٍ قَالَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم (مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ). (بخاري: 38)

٣٦- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (چا چي د ايمان په حكم او د اجر په نيت د رمضان مياشتي روژه ونيوله، تېر ګناهونه به ئې ورته وبخښل شي).

٢٦- باب: دين آسان دئ

٣٧- حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلاَمِ بْنُ مُطَهَّرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَلِيٍّ عَنْ مَعْنِ بْنِ مُحَمَّدٍ الْغِفَارِيِّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِنَّ الدِّينَ يُسْرٌ، وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ أَحَدٌ إِلاَّ غَلَبَهُ، فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا وَأَبْشِرُوا، وَاسْتَعِينُوا بِالْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ وَشَىْءٍ مِنَ الدُّلْجَةِ". (بخاري: 39)

٣٧- له ابوهريره روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (دين آساني ده (احكام ئې آسان دي) او هر چا چي په دين كي تشدد كړى، مغلوب شوى، نو اعتدال وكړئ؛ او هغه څه وكړئ چي د كولو توان ئې لرئ؛ او (په همدې) ښاد اوسئ؛ او د سهار، مابنام او د شپې د وروستۍ برخي په ځينو شېبو كي په عبادت سره (د الله) مرسته تر لاسه كړئ.

يعنى څوك چي په دين او د ديني احكامو په تعميل كي سختي او تشدد وكړي؛ او د اعتدال له حد تېرى وكړي، حتماً پاته راځي او ماته خوري، بايد داسي څه پر ځان لازم نه كړي چي له وسه ئې لوړ وي، كه غواړئ نوافل وكړئ نو سهار، مابنام او د شپې په وروستيو برخو كي په محدودو نوافلو باندي اكتفاء وكړئ؛ او په همدې خوښ اوسئ او لږ

ئې مه ګڼئ.

۲۷- باب: لمونځ د ایمان برخه ده

۳۸- حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ قَالَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ أَوَّلَ مَا قَدِمَ الْمَدِينَةَ نَزَلَ عَلَى أَجْدَادِهِ- أَوْ قَالَ أَخْوَالِهِ- مِنَ الأَنْصَارِ، وَأَنَّهُ صَلَّى قِبَلَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ سِتَّةَ عَشَرَ شَهْرًا؛ او سَبْعَةَ عَشَرَ شَهْرًا، وَكَانَ يُعْجِبُهُ أَنْ تَكُونَ قِبْلَتُهُ قِبَلَ الْبَيْتِ، وَأَنَّهُ صَلَّى أَوَّلَ صَلاَةٍ صَلاَّهَا صَلاَةَ الْعَصْرِ، وَصَلَّى مَعَهُ قَوْمٌ، فَخَرَجَ رَجُلٌ مِمَّنْ صَلَّى مَعَهُ، فَمَرَّ عَلَى أَهْلِ مَسْجِدٍ، وَهُمْ رَاكِعُونَ فَقَالَ أَشْهَدُ بِاللهِ لَقَدْ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم قِبَلَ مَكَّةَ، فَدَارُوا كَمَا هُمْ قِبَلَ الْبَيْتِ، وَكَانَتِ الْيَهُودُ قَدْ أَعْجَبَهُمْ إِذْ كَانَ يُصَلِّى قِبَلَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ، وَأَهْلُ الْكِتَابِ، فَلَمَّا وَلَّى وَجْهَهُ قِبَلَ الْبَيْتِ أَنْكَرُوا ذَلِكَ. قَالَ زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ فِي حَدِيثِهِ هَذَا أَنَّهُ مَاتَ عَلَى الْقِبْلَةِ قَبْلَ أَنْ تُحَوَّلَ رِجَالٌ وَقُتِلُوا، فَلَمْ نَدْرِ مَا نَقُولُ فِيهِمْ، فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى (وَمَا كَانَ اللهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ). (بخاري:40)

۳۸- له براء رضي الله عنه روايت دئ چې کله رسول الله صلى الله عليه و سلم په لومړي ځل مدينې ته راغی نو له خپلو نيکونو (ماما خپلو) سره ئې (چې د مدينې استوګن ول) واړول؛ او شپاړس يا اوه لس مياشتي ئې د بيت المقدس لوري ته لمونځ وکړ؛ او دا ئې خوښېده چې قبله ئې د بيت (الحرام: کعبې) لوري ته وي، لومړی لمونځ ئې چې د کعبې لوري ته وکړ؛ د مازديګر لمونځ وو، يو شمېر خلکو

هم (همدا) لمونځ ورسره وکړ، له هغو خلکو چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ئې لمونځ وکړ، يو کس ووت او د يوه جومات خوا ته په داسې حال کې تېرېدو چې خلک په رکوع کې ول، وئې ويل: د الله په نامه ګواهي ورکوم چې ما له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره د مکې په لوري لمونځ وکړ، نو هغوی په لمانځه کې د کعبې لوري ته تاو شول. يهودان او اهل کتاب پدې خوښ وو چې (رسول الله صلى الله عليه و سلم) د بيت المقدس لوري ته لمونځ کاوو، خو کله چې هغه د بيت الله لوري ته مخ واړاوو؛ نو دا ئې بد کار وګانو! زهير له ابو اسحاق روايت کوي چې براء دا خبره هم کړې ده چې نه پوهېدو د هغو خلکو په اړه څه ووايو چې د قبلې له بدلېدو مخکې وفات شوي يا وژل شوي؟ نو الله تعالى دا آيت نازل کړ: (وَمَا كَانَ اللهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ: او الله ستاسو ايمان نه ضايع کوي.)

تکرار: دا روايت هم په بخاري کې څلور ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: 399، 4486، 4492، 7252، له لږو او ډېرو توپيرونو سره، په ځينو کې د (وَكَانَ يُعْجِبُهُ أَنْ تَكُونَ قِبْلَتُهُ قِبَلَ الْبَيْتِ) پر ځای (يُحِبُّ أَنْ يُوَجَّهَ إِلَى الْكَعْبَةِ) راغلي، په يوه کې دا الفاظ راغلي: فَأَنْزَلَ اللهُ (قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ) فَتَوَجَّهَ نَحْوَ الْكَعْبَةِ، وَقَالَ السُّفَهَاءُ مِنَ النَّاسِ- وَهُمُ الْيَهُودُ- مَا وَلاَّهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِى كَانُوا عَلَيْهَا (قُلْ لِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ يَهْدِى مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ) خو په نورو کې نشته، په يوه کې يوازې دومره ويل شوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم شپاړس يا

اوه لس مياشتي د بيت المقدس په لوري لمونځ وکړ بيا ئې مخ بيت الله ته واړاوو، د ټولو لومړی راوي يو کس او همدا براء بن عازب رضي الله عنه دئ.

امام بخاري رحمه الله دا روايت دلته د دې لپاره راوړی چي په دې کي د يوه آيت په استناد لمونځ ته د ايمان نوم ورکړی شوی؛ او امام بخاري رحمه الله غواړي همدا ثابته کړي چي عملونه په ايمان کي شامل دي. دا صحيح ده چي په عامه توګه نېك عملونه په ايمان کي شامل دي خو نه په دې معنی چي دا د ايمان برخه يا اجزاء وي، بلکي په دې معنی چي نېك عملونه له ايمانه خړوبه کېږي، ايمان ئې منشأ او بنسټ وي. که له چا کوم لمونځ يا بل نېك عمل پاته شي د دې معنی دا نه ده چي د ده له ايمان او عقيدې څه کم شو، بلکي معنی ئې دا ده چي په ځينو وختونو کي ئې د خپل ايمان له غوښتنو سره سم عمل کول پرېښي.

دې ته مو هم پام وي چي په دغه آيت کي (وَمَا كَانَ اللهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ: او الله ستاسو ايمان نه ضايع کوي.)، ايمان د لمانځه په معنی اخيستل يو احتمالي او کمزورى تفسير دئ، غوره تفسير دا دئ چي دلته ايمان په اصلي معنی واخيستل شي، ځکه په قبلې باندي باور يوه عقيده ده، د بيت الله پر ځای بيت المقدس د قبلې په توګه منل او له خپلي پلرنۍ قبلې لاس اخيستل د عربو لپاره يوه ستره آزموينه وه، مسلمانان په دې آزموينې کي بريالي شول، خپله پلرنۍ قبله ئې پرېښوده؛ او په داسي حال کي ئې بيت المقدس د نوې قبلې په توګه قبول کړ چي د الله تعالى له لوري کوم څرګند حکم هم نه وو راغلى، يوازي د دې لپاره ئې دا نوې

قبله ومنله چي دا تر محمد عليه السلام د مخكي پيغمبرانو (له سليمان عليه السلام تر عيسى عليه السلام پوري) قبله وه، په دې آيت کي دوی ته ويل شوي چي ستاسو هغه مخکينی باور او اجر ئې د الله تعالى په وړاندي حبط شوی نه دئ، الله تعالى ئې نه ضايع کوي. که الله تعالى غوښتی چي ورته ووايي ستاسو لمونځونه نه ضايع کوي نو يقيناً چي د ايمان پر ځای به ئې حتماً د لمانځه صيغه راوړله.

٢٨- باب: ربښتينی اسلام

٣٩- قَالَ مَالِكٌ أَخْبَرَنِي زَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ أَنَّ عَطَاءَ بْنَ يَسَارٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَقُولُ (إِذَا أَسْلَمَ الْعَبْدُ فَحَسُنَ إِسْلاَمُهُ يُكَفِّرُ الله عَنْهُ كُلَّ سَيِّئَةٍ كَانَ زَلَفَهَا، وَكَانَ بَعْدَ ذَلِكَ الْقِصَاصُ، الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ، وَالسَّيِّئَةُ بِمِثْلِهَا إِلاَّ أَنْ يَتَجَاوَزَ الله عَنْهَا) (بخاري:41)

٣٩- له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اوربدلي چي فرمايل ئې: (کله چي بنده مسلمان شي، بيا خپل اسلام غوره او بنکلی کړي، الله تعالى ئې ټول هغه ګناهونه ختم کړي چي (له مسلمانېدو مخکي) ئې کړي؛ او له دې وروسته قصاص او بدله وي، داسي چي د هري بنېګڼي په بدل کي له لسو تر اوه سوه برابره ئې؛ او د هري بدۍ يو برابر ئې، مګر دا چي الله تعالى تري تېر شي.)

تکرار: دا روايت بخاري يو ځل بيا په 42 شمېره کي راوړی، په دومره توپير سره چي هغه له ابوهريره رضي

الله عنه روايت شوى او په كي ويل شوي: له تاسو چې څوك خپل اسلام ښايسته كړي، نو هره ښېګڼه چې ترسره كوي ئې ده ته ئې لس برابره ليكل كيږي تر اوه سوو؛ او هر بد كار چې كوي ئې يو برابر ئې ورته ليكل كيږي، روايت دا دئ:

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "إِذَا أَحْسَنَ أَحَدُكُمْ إِسْلاَمَهُ، فَكُلُّ حَسَنَةٍ يَعْمَلُهَا تُكْتَبُ لَهُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ، وَكُلُّ سَيِّئَةٍ يَعْمَلُهَا تُكْتَبُ لَهُ بِمِثْلِهَا ". (بخاري: 42)

٢٩- باب: د الله په نزد كي غوره ديانت دوامدار ديانت دئ

٤٠- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ هِشَامٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا امْرَأَةٌ قَالَ "مَنْ هَذِهِ". قَالَتْ فُلاَنَةُ. تَذْكُرُ مِنْ صَلاَتِهَا. قَالَ "مَهْ، عَلَيْكُمْ بِمَا تُطِيقُونَ، فَوَاللهِ لاَ يَمَلُّ اللهُ حَتَّى تَمَلُّوا". وَكَانَ أَحَبَّ الدِّينِ إِلَيْهِ مَا دَامَ عَلَيْهِ صَاحِبُهُ. (بخاري:43)

٤٠- هشام وايي پلار مي له عائشې رضي الله عنها داسي روايت كوي چې يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال كي د دې خوني ته ورغى چې يوه ښځه ورسره ناسته وه، وئې ويل: دا څوك ده؟ ورته وئې ويل: دا فلانۍ ده، د دې د لمانځه يادونه ئې كوله، وئې فرمايل: نه؛ دومره

(عبادت) کوئ چي توان ئي لرئ، قسم په خدای؛ تر هغه چي تاسو (په عبادت کي) ستومانه نشئ، الله تعالی (په ثواب ورکولو) نه ستومانه کيږي، (او عائشه رضي الله عنها وايي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم په وړاندي تر ټولو غوره دينداري هغه وه چي خاوند به ئې پرې مداومت کاوو.

تکرار: دا روايت يو ځل بيا هم بخاري په 1151 شمېره راوړی،

توپير: په دې توپير سره چي هلته ويل شوي دا ښځه د بني اسد له قبيلې وه او عائشې رضي الله عنها داسي معرفي کړې چي دا د شپې هيڅ نه ويدېږي او په لمانځه ئې تېروي، د دې وضاحت په وجه هغه تر دې روايت دقيق او جامع دئ.

د دې رواياتو په اړه بايد دا خبره په پام کي ولرو چي الله تعالی ته د ستړيا نسبت جواز نه لري، ستومانه کېدا يو عيب دئ او الله تعالی له هر عيب منزه دئ، دلته د (لا يمل الله) لفظ يوازي د لفظي ورته والي په توګه راوړل شوی، چي دا مفهوم پرې بيان شي چي الله تعالی ستاسو ډېر عبادت ته په اعتناء او پام کولو سره نه ستومانه کيږي، خو دا نه خوښوي چي څوك د ده په عبادت کي ستومانتيا وښيي، ډېر عبادت انسان دغه پراو ته رسوي او هغه مهال الله تعالی هم داسي انسان ته اعتناء نه کوي.

٣٠- باب زِيَادَةِ الإِيمَانِ وَنُقْصَانِهِ. وَقَوْلِ الله تَعَالَى (وَزِدْنَاهُمْ هُدًى) (وَيَزْدَادَ الَّذِينَ آمَنُوا إِيمَانًا) وَقَالَ (الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ) فَإِذَا

تَرَكَ شَيْئًا مِنَ الْكَمَالِ فَهُوَ نَاقِصٌ.

٣٠- باب د ايمان زياتوالى او كموالى

٤١- حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ (يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ، وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ شَعِيرَةٍ مِنْ خَيْرٍ، وَيَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ، وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ بُرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ، وَيَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ، وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ ذَرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ). قَالَ أَبُو عَبْدِ اللهِ قَالَ أَبَانُ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ حَدَّثَنَا أَنَسٌ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم "مِنْ إِيمَانٍ". مَكَانَ "مِنْ خَيْرٍ". (بخاري:44)

٤١- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (چا چي (لا إله إلا الله) ويلي وي او په زړه كي ئې د يوې وربشي په اندازه خير وي هغه به له دوزخ ووځي؛ او هغه به هم له دوزخ ووځي چي (لا إله إلا الله) ئې ويلې وي او په زړه كي ئې د غنمو د دانې په اندازه خير وي؛ او هغه به هم له دوزخ ووځي چي (لا إله إلا الله) ئې ويلې وي او په زړه كي ئې د يوې ذرې په اندازه خير وي).

تكرار: دا روايت په بخاري كي شپږ ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلى: **6565، 7410، 7440، 7509، 7510، 7516**، په صحابه وو او تابعينو كي يو يو راوي لري.

توپير: د ټولو راوي انس رضي الله عنه دئ، خو په

الفاظو كي ئې ډېر توپيرونه شته، ځينې ئې ډېر اوږده دي او د قيامت په ورځ د شفاعت موضوع هم په ډېر تفصيل سره په کي راغلې او ځينې ئې لنډ دي او پورتني روايت ته ورته دي، د دې روايت ځينې برخې په ځينو نورو کتابونو کي هم راغلې، له ځينو پرته د ټولو راوي انس بن مالك رضي الله عنه دئ، د شفاعت په اړه ځينو ويلي چې دا به د دې لپاره وي چې الله تعالى د خپلو بندګانو محاسبه پيل کړي، خو په همدغو رواياتو کي بيا دا هم ويل شوي چې هغه دوزخيان به د شفاعت په وجه له دوزخ وايستل شي چې لا إله إلا الله ئې ويلې وي، يعني هم دا خبره کوي چې محاسبه نه ده شوې او هم دا چې محاسبه شوې ده او دوزخيان دوزخ ته تللي، ځينو ويلي چې شفاعت به د دې لپاره وي چې د جنت دروازه د مؤمنانو پر مخ پرانيستل شي، په ځينو کي ويل شوي چې دا خلك به له دوزخ ووځي، په ځينو کي ويل شوي چې پيغمبر عليه السلام به ئې له دوزخ وباسي.

په دې اړه څو خبري بايد په پام کي ولرو:

په قرآن کي دا وينا نه مومو چې چا يوازي لا إله إلا الله ويلې وي له دوزخ به وايستل شي، خو دا خبره په وار وار راغلې چې د پيغمبرانو عليهم السلام دعوت ئې په دې کي راخلاصه کړی چې خپلو امتيانو ته ئې ويلي: د الله عبادت وکړئ چې له ده پرته بل معبود نشته، د دې معنى دا ده چې دا بلنه ډېر پراخ او جامع مفهوم لري، يوازي څو الفاظ نه دي چې په ژبه ئې ويلو سره څوك د دوزخ له عذاب

وژغورل شي، منافقينو هم دا الفاظ په ژبه ويلي، مشركينو هم دا الفاظ ويل، خو نه هغه له دوزخ پرې ژغورل کيږي او نه دا. بنايي د روايت په پای کي دا فقره (في قلبه ذرة من خير) دې ته اشاره کوي چي په زړه کي ئې د دې وينا په اړه څه باور او يقين وي. که دا دواړه خبري مراعات نه شي نو له داسي پوښتنو سره مخامخ کيږو چي ځواب ئې نه شو موندلی، ځکه د (لا إله إلا الله) ويلو تر څنګ چي څوك پر نورو مؤمن به شيانو باور نه لري، د قرآن د قطعي او صريح حکم له مخي ئې دا ايمان هيڅ ارزښت او اعتبار نه لري. حتی د هغه چا ايمان د اعتبار وړ نه ګڼي چي په خپلو شخړو او مشاجراتو کي پيغمبر عليه السلام د حکم په توګه ونه مني، څوك چي حرام حلال او حلال حرام وګڼي، څوك چي د الله تعالی او د هغه د پيغمبر له حکم سرغړاوي وکړي او الهي حدود ترپښو لاندي کړي، قرآن د هغوی په اړه فرمايي چي د تل لپاره به په دوزخ کي وي؛ او دا روايت هم وايي چي هغه خلك به له دوزخ؛ نه ايستل کيږي چي قرآن ئې د تلپاته دوزخ مستحق ګڼي.

په قرآن کي داسي الفاظ هم نه مومو چي (في قلبه ذرة من خير) او يا داسي الفاظ چي دې ته ورته مطلب افاده کړي، خو دا راغلي چي فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ٧ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ٨: نو چا چي د وړې ذرې په څېر ښېګڼه کړې، ويني به ئې. او چا چي د وړې ذرې په څېر د شر کار کړی، ويني به ئې.)

٤٢- حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ سَمِعَ جَعْفَرَ بْنَ عَوْنٍ حَدَّثَنَا أَبُو الْعُمَيْسِ أَخْبَرَنَا قَيْسُ بْنُ مُسْلِمٍ عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ عَنْ عُمَرَ بْنِ

الْخَطَّابِ أَنَّ رَجُلاً مِنَ الْيَهُودِ قَالَ لَهُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، آيَةٌ فِي كِتَابِكُمْ تَقْرَءُونَهَا لَوْ عَلَيْنَا مَعْشَرَ الْيَهُودِ نَزَلَتْ لاَتَّخَذْنَا ذَلِكَ الْيَوْمَ عِيدًا. قَالَ أَيُّ آيَةٍ قَالَ (الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا). قَالَ عُمَرُ قَدْ عَرَفْنَا ذَلِكَ الْيَوْمَ وَالْمَكَانَ الَّذِي نَزَلَتْ فِيهِ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَهُوَ قَائِمٌ بِعَرَفَةَ يَوْمَ جُمُعَةٍ. (بخاري:45)

٤٢- له عمر بن الخطاب رضي الله عنه روايت دئ چي يوه يهودي ورته وويل: اې امير المومنين! ستاسي په کتاب کي داسي يو آيت شته چي تاسو ئې لولئ، که دا آيت پر موږ يهودانو نازل شوی وی نو موږ به ئې د نزول ورځ د عيد په توګه لمانځله، عمر رضي الله عنه پوښتنه تري وکړه چي دا کوم آيت دئ؟ يهودي وويل: د الله تعالى دا قول چي فرمايي: (الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِى وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا: نن مي دين درته بشپړ کړ، خپل نعمتونه مي پر تاسو پوره کړل؛ او اسلام مي د دين په توګه درته غوره کړ.) عمر رضي الله عنه وفرمايل: موږ دا ورځ او هغه ځای پيژنو چي په هغه کي دا آيت پر رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي نازل شو چي هغه د جمعې په ورځ په عرفات کي ولاړ وو. يعني موږ دا ورځ هر کال لمانځو، په همدې ورځ د عرفات په ميدان کي راغونډيږو.

امام بخاري رحمه الله دا روايت هم د دې لپاره په دې لړ کي راوړی چي دلته د دين د اکمال او بشپړېدو خبره شوې او ګواکي دا ثابتوي چي ايمان لږ وو او بشپړ شو، حال دا چي دلته د دين خبره شوې نه د ايمان، په دين کي هم ايمان

شامل دئ او هم اسلام او ټول هغه امور چې ايمان او اسلام ئې غوښتنه کوي، دين د هغو احکامو په راتلو سره بشپړ شو چې تر دې د مخه نه وو راغلي، که ووايو چې دا آيت دغه رأيه ترديدوي نو سمه خبره مو کړې، ځکه چې کوم څه بشپړ شي بيا خو کمی او زياتی نه قبلوي، امام ابوحنيفه په همدې استدلال کوي او وايي چې د وحي په بشپړېدو سره د مؤمن به شيانو شمېر بشپړ شو؛ له دې وروسته نه څه پرې اضافه کېدی شي او نه ترې کمېدی، نو په ايمان کې له دې پلوه کمی او زياتی نشي راتلی.

٣١- باب: زكات د اسلام برخه ده

٤٣- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنْ عَمِّهِ أَبِي سُهَيْلِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ سَمِعَ طَلْحَةَ بْنَ عُبَيْدِ اللهِ يَقُولُ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ، ثَائِرُ الرَّأْسِ، يُسْمَعُ دَوِيُّ صَوْتِهِ، وَلاَ يُفْقَهُ مَا يَقُولُ حَتَّى دَنَا، فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنِ الإِسْلاَمِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ". فَقَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا قَالَ "لاَ، إِلاَّ أَنْ تَطَوَّعَ". قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "وَصِيَامُ رَمَضَانَ". قَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُ قَالَ "لاَ، إِلاَّ أَنْ تَطَوَّعَ". قَالَ وَذَكَرَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم الزَّكَاةَ. قَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا قَالَ "لاَ، إِلاَّ أَنْ تَطَوَّعَ". قَالَ فَأَدْبَرَ الرَّجُلُ وَهُوَ يَقُولُ وَاللهِ لاَ أَزِيدُ عَلَى هَذَا وَلاَ أَنْقُصُ. قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ". (بخاري:46)

٤٣- له طلحه بن عبيد الله رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: د نجد له اوسېدونکو يو تن لوخ او ببر سر د رسول

الله صلى الله عليه و سلم حضور ته راغی، د غږ زمزمه (انګازه) ئې اوربدل کېده خو نه معلومېده چې څه وايي، تر هغه چې رالنډ شو؛ او کتل مو چې د اسلام په اړه پوښتنه کوي، رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: (په هره شپه او ورځ کي پنځه لمونځونه) وئې ويل: آيا پر دې سربېره نور هم راباندي شته؟ وئې فرمايل: (نه، مګر دا چې نفل وکړې) رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (د رمضان مياشتي روژه)، وئې ويل: آيا پر دې سربېره نور هم راباندي شته؟ وئې فرمايل: (نه؛ مګر که نفلي روژه ونيسې)، راوي وايي او رسول الله صلى الله عليه و سلم د زکات يادونه وکړه، هغه وويل: آيا پر دې سربېره نور هم راباندي شته؟ وئې فرمايل: (نه، مګر دا چې نفلي صدقه ورکړې)، راوي وايي چې دغه کس په داسي حال کي ستون شو چې ويل ئې: په خدای قسم چې پر دې شيانو به نه څه زيات کړم او نه څه تر ې کم، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (که ئې رښتيا ويلي وي نو بريالی شو.)

تکرار: دا روايت په بخاري کي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: 1891، 2678، 6956،

توپير: له ځينو جدي توپيرونو سره، په داسي حال کي چې لومړی راوي ئې يو کس (طلحه بن عبيدالله) دئ، په يوه کي ويل شوي چې هغه د اسلام په اړه پوښتنه وکړه او په بل کي دا چې د لمانځه، روژې او زکات په اړه ئې پوښتني وکړې، په يوه کي دا ويل شوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه د اسلام له احکامو خبر کړ خو په

نورو کي دا خبره نه ده شوې، په يوه کي دا ويل شوي چې هغه سړي وويل: وَالَّذِي أَكْرَمَكَ لاَ أَتَطَوَّعُ شَيْئًا، وَلاَ أَنْقُصُ مِمَّا فَرَضَ اللهُ عَلَيَّ شَيْئًا: په هغه ذات قسم چې تا ته ئې (د رسالت) کرامت در په برخه کړ، هيڅ نفلي کار نه کوم او له هغه څه هيڅ نه کموم چې الله رابانديې فرض کړي. خو په نورو کي دا وينا نه ده راغلې، په ځينو کي دا هم راغلي چې أَوْ دَخَلَ الْجَنَّةَ إِنْ صَدَقَ، که وغواړو د دغو روایاتو له منځه تر ټولو ارجح غوره کړو نو دا هغه روايت دئ چې بخاري په 1891او 956 شمېرو کي راوړی او وايي چې نوموړي کس د لمانځه، روژې او زکات په اړه پوښتني کړې.

د دې روايت په اړه مو بايد دې خبري ته پام وي چې دلته فلاح او بريا په لمونځ، روژه او زکات کي منحصره شوې نه ده، بلکي د دې پوښتونکي په دغي وينا کي منحصره شوې چې د پيغمبر عليه السلام د لارښوونو له اورېدو وروسته ئې وويل: په خداى قسم چې نه به څه پرې زيات کړم او نه څه ترې کم، دا ځکه چې قرآن کله موږ ته وايي: هغه څوك بريالى شو چې ځان ئې تزکيه کړ، کله وايي هغه څوك به بريا تر لاسه کوي چې صبر کوي، مرابطه کوي او تقوى کوي، خو کله بيا د بريا لپاره ډېر نور شرائط بيانوي، د دې معنى دا ده چې پيغمبر عليه السلام هم دا خبره د حصر په معنى نه ده کړې.

٣٢- باب: د جنازې ملتيا د ايمان برخه ده

٤٤- حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَلِيٍّ الْمَنْجُوفِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا رَوْحٌ

قَالَ حَدَّثَنَا عَوْفٌ عَنِ الْحَسَنِ وَمُحَمَّدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "مَنِ اتَّبَعَ جَنَازَةَ مُسْلِمٍ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، وَكَانَ مَعَهُ حَتَّى يُصَلَّى عَلَيْهَا، وَيَفْرُغَ مِنْ دَفْنِهَا، فَإِنَّهُ يَرْجِعُ مِنَ الأَجْرِ بِقِيرَاطَيْنِ، كُلُّ قِيرَاطٍ مِثْلُ أُحُدٍ، وَمَنْ صَلَّى عَلَيْهَا ثُمَّ رَجَعَ قَبْلَ أَنْ تُدْفَنَ فَإِنَّهُ يَرْجِعُ بِقِيرَاطٍ". (بخاري:47)

٤٤- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (څوک چي د مسلمان له جنازې سره د ايمان په حکم او د ثواب په نيت ملګرتيا وکړي او تر هغه ورسره وي چي لمونځ پرې وکړي او له ښخولو ئې فارغ شي، نو دى له دوو قيراطو اجر سره بېرته ستنېږي، هر قيراط د احد د غره په څېر؛ او څوك چي لمونځ پرې وکړي بيا مخکي تر دې ستون شي چي هغه دفن شي هغه له يوه قيراط اجر سره ستنېږي.)

دې ته مو هم پام وي چي که څه هم په دې روايت کي دا الفاظ نشته چي د جنازې متابعت د ايمان برخه ده خو امام بخاري رحمه الله تر همدې عنوان لاندي دا روايت راوړى.

٣٣- باب: د مؤمن وېره له دې چي عمل ئې په ناپوهۍ سره حبط نشي

45- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ زُبَيْدٍ قَالَ سَأَلْتُ أَبَا وَائِلٍ عَنِ الْمُرْجِئَةِ، فَقَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الله أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ، وَقِتَالُهُ كُفْرٌ". (بخاري:48)

45- له عبدالله رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى

الله عليه و سلم فرمايلي: (مسلمان ته بنكنځل كول فسق دئ او جګړه ورسره كول كفر دئ).

مطلب دا چي له مسلمان سره جګړي ته به هغه څوك ملا تړي چي كافر وي، يا له اسلام نفرت لري او د همدې لپاره د مسلمان په ضد جنګېږي او يا دا جګړه روا ګڼي.

تكرار: دا روايت دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: **6044، 7076**، چي د ټولو الفاظ سره ورته دي.

د روايت له الفاظو معلوميږي چي يو حرام كار حلال ګڼل ايمان نفي كوي، د دې روايت له مخي څوك چي له مسلمان سره جګړه حلال وګڼي؛ كافر كيږي، د دې معنى دا ده چي ايمان زياتوالى او نقصان نه قبلوي.

٤٦- أَخْبَرَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم خَرَجَ يُخْبِرُ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ، فَتَلاَحَى رَجُلاَنِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَقَالَ "إِنِّي خَرَجْتُ لأُخْبِرَكُمْ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ، وَإِنَّهُ تَلاَحَى فُلاَنٌ وَفُلاَنٌ فَرُفِعَتْ وَعَسَى أَنْ يَكُونَ خَيْرًا لَكُمُ الْتَمِسُوهَا فِي السَّبْعِ وَالتِّسْعِ وَالْخَمْسِ". (بخاري:49)

٤٦- له عباده بن صامت رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم راووت چي خلك د قدر له شپې خبر كړي، (په دې وخت كي) دوه مسلمانان سره لاس او ګرېوان شول، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (زه راووتلم چي د قدر شپه دروښيم، خو فلانى او فلانى په جګړه شول نو هغه خبره رانه په هوا شوه (رانه هېره شوه)

کېدی شي همدا ستاسو په خير وي، نو په اوه ويشتمه، نه ويشتمه او پنځه ويشتمه کي ئې ولټوئ.)

تکرار: دا روايت هم دوه ځلي نور په دغو شمېرو کي راغلی: 2023، 6049

توپير: په دومره توپير سره چې، په يوه کي يوازي يُخْبِرُ، په بل کي لِيُخْبِرَنَا او په بل کي لِيُخْبِرَ النَّاسَ، په يوه کي اوه ويشتمه، نه ويشتمه او پنځه ويشتمه ويل شوي او په بل کي نه ويشتمه، اوه ويشتمه او پنځه ويشتمه په ترتيب سره راغلي.

دې ته مو بايد پام وي چې د دوو مسلمانانو تر منځ داسي نښته او جګړه که څه هم د اسلام او ايمان د غوښتنو خلاف کار دئ خو د ايمان منافي نه دي او په دې سره څوك له ايمانه نه وځي؛ او دا له هغي مخکينۍ جګړي سره په بشپړه توګه توپير لري چې د کفر نښه ګڼل شوې. دا دواړه ورته ګڼل اشتباه ده.

٣٤- باب: د ايمان، اسلام او احسان په اړه د جبريل پوښتنه

تر دې عنوان لاندي بخاري يو تعليق هم لري او ليکي:

وَبَيَانِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم لَهُ ثُمَّ قَالَ "جَاءَ جِبْرِيلُ- عَلَيْهِ السَّلاَمُ- يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ". فَجَعَلَ ذَلِكَ كُلَّهُ دِينًا، وَمَا بَيَّنَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم لِوَفْدِ عَبْدِ الْقَيْسِ مِنَ الإِيمَانِ، وَقَوْلِهِ تَعَالَى (وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الإِسْلاَمِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ).

٤٧- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا أَبُو حَيَّانَ التَّيْمِيُّ عَنْ أَبِي زُرْعَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بَارِزًا يَوْمًا لِلنَّاسِ، فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ فَقَالَ مَا الإِيمَانُ قَالَ "الإِيمَانُ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَمَلاَئِكَتِهِ وَبِلِقَائِهِ وَرُسُلِهِ، وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ". قَالَ مَا الإِسْلاَمُ قَالَ "الإِسْلاَمُ أَنْ تَعْبُدَ اللهَ وَلاَ تُشْرِكَ بِهِ، وَتُقِيمَ الصَّلاَةَ، وَتُؤَدِّيَ الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ، وَتَصُومَ رَمَضَانَ". قَالَ مَا الإِحْسَانُ قَالَ "أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ". قَالَ مَتَى السَّاعَةُ قَالَ "مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ، وَسَأُخْبِرُكَ عَنْ أَشْرَاطِهَا إِذَا وَلَدَتِ الأَمَةُ رَبَّهَا، وَإِذَا تَطَاوَلَ رُعَاةُ الإِبِلِ الْبُهْمُ فِي الْبُنْيَانِ، فِي خَمْسٍ لاَ يَعْلَمُهُنَّ إِلاَّ اللهُ". ثُمَّ تَلاَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم (إِنَّ اللهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ) الآيَةَ. ثُمَّ أَدْبَرَ فَقَالَ "رُدُّوهُ". فَلَمْ يَرَوْا شَيْئًا. فَقَالَ "هَذَا جِبْرِيلُ جَاءَ يُعَلِّمُ النَّاسَ دِينَهُمْ". قَالَ أَبُو عَبْدِ اللهِ جَعَلَ ذَلِكَ كُلَّهُ مِنَ الإِيمَانِ. (بخاري: 50)

٤٧- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه ورځ خلکو ته راڅرګند شوى وو چي ناڅاپه جبرئيل ورته راغى او وئې ويل: ايمان څه ته وايي؟ وئې فرمايل: (ايمان دا دئ چي ته په خداى، فرشتو، له ده سره په مخامخ کېدو، په رسولانو ئې او په بيا راژوندي کېدو باور او يقين ولرې). هغه وويل: اسلام څه ته وايي؟ وئې فرمايل: اسلام دا دئ چي ته د الله تعالى عبادت وکړې او هيڅ شريک ورسره ونه نيسې، لمونځ وکړې، فرض زکات وركړې او د رمضان روژه ونيسې). هغه وويل: احسان څه ته وايي؟ وئې فرمايل: احسان دا دئ چي ته په

داسي توګه د الله تعالى عبادت وکړي لکه چې ته ئې ويني؛ او که ته ئې نه ويني، نو هغه دي ويني). هغه وويل: قيامت به څه وخت وي؟ وئې فرمايل: (په دې اړه پوښتل شوی تر پوښتونکي زيات علم نه لري، خو د هغه له نښو به دي خبر کړم: کله چې وينځه خپل بادار وزېږوي او کله چې د اوښانو هغه پيايونکي چې خبري نه شي کولی د بنګلو په جوړولو کي يو له بل سره سيالۍ کوي، دا يو له هغو پنځو شيانو دئ چې علم ئې يوازي له الله تعالى سره دئ، بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم دا آيت تلاوت کړ چې فرمايي: (إِنَّ الله عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ...) الآيَةَ: د قيامت علم يوازي له الله سره دئ... بيا هغه ستون شو، نو (رسول الله صلى الله عليه و سلم) وفرمايل: راوئې ګرځوئ)، خو هغوی هيڅ څه ونه موندل، نو (رسول الله صلى الله عليه و سلم) وفرمايل: (دا جبرئيل وو، راغلی وو چې خلکو ته خپل دين وروښيي).

امام بخاري رحمه الله د دې روايت په پای کي وايي: دا ټول ئې د ايمان برخي ګرځولي دي.

نه پوهېږو چې امام بخاري رحمه الله څنګه دا خبره کړې، حال دا چې دا روايت په ډېر صراحت سره وايي چې ايمان عقائدو ته وايي، اسلام اعمال او عباداتو ته او دين د دواړو (ايمان او اسلام) مجموعې ته، وايي چې توپير د خلکو د عبادت په څرنګوالي کي وي، نه په ايمان کي، ځيني خپل رب ته داسي عبادت کوي لکه چې په خپلو سترګو ئې ګوري او ځيني له دې باور سره چې الله تعالى ئې ګوري. دا روايت په بشپړه توګه د امام ابوحنيفه د رأيي تأييد کوي.

تکرار: دا روایت په بخاري کي یو ځل بیا هم په دې شمېرې راغلی: 4777،

توپیر: له ځینو توپیرونو سره: په دې کي ویل شوي چې یو سړی ورته راغی چې روان وو، خو په مخکیني کي ویل شوي چې جبرئیل ورته راغی، په دې کي د بعث تر څنګ د الآخرة یادونه هم شوې، په دې کي سَأُحَدِّثُكَ د سَأُخْبِرُكَ پر ځای راغلي، په دې کي فَذَاكَ مِنْ أَشْرَاطِهَا الفاظ دوه ځلي راغلي خو په هغه بل کي نه دي راغلي، په دې کي دوهمه نښه دا ګڼل شوې: وَإِذَا كَانَ الْحُفَاةُ الْعُرَاةُ رُءُوسَ النَّاسِ: او کله چې پښې لوڅي او تن لوڅي د خلکو مشران شي، په دې کي ثُمَّ انْصَرَفَ او په هغه بل کي ثُمَّ أَدْبَرَ راغلي.

دا روایت له ځینو توپیرونو سره په نورو کتابونو کي هم راغلی، له عمر رضي الله عنه هم روایت شوی، خو په هغه کي ځیني تفصیلات هم راغلي، داسي چې دا سړی په داسي سپینو جامو کي راغی چې د سفر هیڅ اثر ورباندي نه معلومېدو، پیغمبر علیه السلام ته مخامخ کښېناست، زنګونونه ئې ورسره وصل کړل، خپل لاسونه ئې پر ورنو کښېښودل، بیا ئې لومړی د اسلام، بیا د ایمان، بیا د احسان او بیا د قیامت د ورځې په اړه پوښتنه وکړه، همدغه ځوابونه ورکړی شو، بیا ولاړ او پیغمبر علیه السلام درې ورځې وروسته ما ته وویل چې پوه شوې دا څوك وو؟ دا جبرئیل وو چې راغلی وو تاسو ته خپل دین دروښیي. په ځینو کي په مؤمن به شیانو کي دا هم راغلي: په حساب،

ميزان، جنت، دوزخ او د خير او شر مقدرات باندي ايمان، په دې کي دا هم ويل شوي چي د سړي له وتلو وروسته پيغمبر عليه السلام تر هغه ورپسي کتل چي سترګو ئې ليدل، بيا ئې سترګي ترې راواړولې او وئې فرمايل: پوهيږئ دا څوك وو؟...

په دغو متعارضو رواياتو کي يوازي يو غوره کولی شو؛ او هغه دا چي پيغمبر عليه السلام د دې سړي له وتلو وروسته صحابه وو ته ويلي چي دا څوك وو، ځکه که يوازي عمر رضي الله عنه ته ئې درې ورځي وروسته ويلي وی نو دا خبره به له ده پرته له بل چا نه روايت کېده، همدا راز دې ته ضرورت نه وو چي پيغمبر عليه السلام په دې سړي پسي څوك ولېږي، ځکه پوهيدو چي دا جبرئيل عليه السلام وو.

۳۵- باب: په دين کي د احتياط فضيلت

٤٨- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ عَنْ عَامِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "الْحَلاَلُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا مُشَبَّهَاتٌ لاَ يَعْلَمُهَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ، فَمَنِ اتَّقَى الْمُشَبَّهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ، وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ كَرَاعٍ يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى، يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَهُ. أَلاَ وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى، أَلاَ إِنَّ حِمَى الله فِي أَرْضِهِ مَحَارِمُهُ، أَلاَ وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ. أَلاَ وَهِيَ الْقَلْبُ " بخاري: 52

٤٨- له نعمان بن بشير رضي الله عنه روايت دئ چي له

رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چې فرمايل ئې: (هم حلال څرګند دي او هم حرام څرګند دي؛ او د دواړو تر منځ داسي مشبهات (د شبهې وړ شيان) دي چې ډېر خلک ئې نه پيژني، چا چې له شبهاتو ځان وساتو نو هغه د خپل دين او عزت په اړه احتياط کړی (خپل دين او عزت ئې ساتلی) او څوک چې په شبهاتو کي ولوېد؛ هغه داسي شپانه ته ورته دئ چې (خپله رمه) د ساتل شوي (ممنوعه) پټي خوا کي څروي، احتمال لري چې په کي ورګډي ئې کړي، پام چې هر پاچا ممنوعه پولي او حدود لري او پام چې د الله تعالى ممنوعه پولي د ده په زمکي کي د ده محارم (هغه څه چې ده حرام کړي) دي؛ او پوه شئ چې په بدن کي داسي يوه ټوټه غوښه ده چې که روغه وي نو ټول بدن روغ وي؛ او که دا فاسده او خرابه شي نو ټول بدن خراب او فاسد شي؛ او پوه شئ چې دا ټوټه غوښه زړه دئ.)

دلته حلال، حرام او مشبهات په ډېر ښکلي او جالب انداز سره بيان شوي، حلال او حرام ئې داسي څرګند ګڼلي چې تر منځ ئې واضح او څرګنده پوله ده، خو د دوی تر منځ د همدې پولي خوا ته داسي څه دي چې انسان د هغه د حل او حرمت په اړه په شك کي لوېږي، انسان ته په کار ده چې له دې پولي ځان لرې لري وساتي، که دا کار ونه کړي نو کېدی شي له پولي واوړي او له حدودو تېری وکړي، کوم شپون چې خپله رمه د پټي خوا ته پيايي ډېر ځلي ئې رمه پټي ته ننوځي. په قرآن کي به تاسو وګورئ چې وايي: ګناه ته مه نژدې کېږي، يعني تر هغه ځايه مخکي مه درومئ چې که يو

ګام بل واخلئ نو په ګناه کي پرېږدئ.

٣٦- باب: د غنيمت پنځمه وركول د ايمان برخه ده

٤٩- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي جَمْرَةَ قَالَ كُنْتُ أَقْعُدُ مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ، يُجْلِسُنِي عَلَى سَرِيرِهِ فَقَالَ أَقِمْ عِنْدِي حَتَّى أَجْعَلَ لَكَ سَهْمًا مِنْ مَالِي، فَأَقَمْتُ مَعَهُ شَهْرَيْنِ، ثُمَّ قَالَ إِنَّ وَفْدَ عَبْدِ الْقَيْسِ لَمَّا أَتَوُا النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "مَنِ الْقَوْمُ أَوْ مَنِ الْوَفْدُ". قَالُوا رَبِيعَةُ. قَالَ "مَرْحَبًا بِالْقَوْمِ- أَوْ بِالْوَفْدِ- غَيْرَ خَزَايَا وَلاَ نَدَامَى". فَقَالُوا يَا رَسُولَ الله، إِنَّا لاَ نَسْتَطِيعُ أَنْ نَأْتِيَكَ إِلاَّ فِي شَهْرِ الْحَرَامِ، وَبَيْنَنَا وَبَيْنَكَ هَذَا الْحَيُّ مِنْ كُفَّارِ مُضَرَ، فَمُرْنَا بِأَمْرٍ فَصْلٍ، نُخْبِرْ بِهِ مَنْ وَرَاءَنَا، وَنَدْخُلْ بِهِ الْجَنَّةَ. وَسَأَلُوهُ عَنِ الأَشْرِبَةِ. فَأَمَرَهُمْ بِأَرْبَعٍ، وَنَهَاهُمْ عَنْ أَرْبَعٍ، أَمَرَهُمْ بِالإِيمَانِ بِالله وَحْدَهُ. قَالَ "أَتَدْرُونَ مَا الإِيمَانُ بِالله وَحْدَهُ". قَالُوا الله وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ "شَهَادَةُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ الله، وَإِقَامُ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءُ الزَّكَاةِ، وَصِيَامُ رَمَضَانَ، وَأَنْ تُعْطُوا مِنَ الْمَغْنَمِ الْخُمُسَ". وَنَهَاهُمْ عَنْ أَرْبَعٍ عَنِ الْحَنْتَمِ وَالدُّبَّاءِ وَالنَّقِيرِ وَالْمُزَفَّتِ. وَرُبَّمَا قَالَ الْمُقَيَّرِ. وَقَالَ "احْفَظُوهُنَّ وَأَخْبِرُوا بِهِنَّ مَنْ وَرَاءَكُمْ". (بخاري:53)

٤٩- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ: كله چې د عبدالقيس پلاوى د رسول الله صلى الله عليه و سلم حضور ته راغى، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (دا كوم قوم دئ)؟ او يا (دا كوم پلاوى دئ)؟ دوى وويل: مونږ د ربيعه قوم يو. رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (دې

قوم يا پلاوي ته دي ښه راغلاست وي! له زيانونو او پښيمانيو فارغ!)، دوی وويل: يا رسول الله! موږ د حرام له مياشتي پرته بل وخت ستا حضور ته نه شو راتلی، زموږ او ستا تر منځ د کفارو د (مضر) قبيله پرته ده، نو موږ ته داسي قاطع او غوڅ امر وکړه چې عمل پرې وکړو او جنت ته پرې داخل شو؛ او هغو خلکو ته ئې ورسوو چې تر شا مو پاته دي؛ او د مشروباتو (څښل کېدونکو شيانو) په اړه ئې ترې پوښتنه وکړه، نو په ځلورو شيانو ئې وګمارل او له ځلورو ئې منع کړل: امر ئې ورته وکړ چې يوازي په الله ايمان ولرئ او ورته وئې فرمايل: (آيا پوهيږئ چې يوازي په الله باندي ايمان څه ته ويل کيږي؟) دوی وويل: الله تعالى او د هغه رسول تر ټولو ښه پوهيږي، وئې فرمايل: (په دې ګواهي ورکول چې له الله تعالى پرته بل معبود نشته، هغه يو دئ او شريک نه لري او محمد د الله رسول دئ، لمونځ کول، زکات ورکول، د رمضان د مياشتي روژه نيول او دا چې د غنيمت پنځمه برخه ورکړئ)؛ او هغوی ئې له دې ځلورو شيانو منع کړل: له هغو شرابو چې په خم، کدو، د خرما د وني په ستې او يا داسي لوښي کي جوړ شوي وي چې په قيرو سره لړل شوی وي، دلته راوي شك کړی چې د مزيف نوم اخيستل شوی که د مقير، د معنى له پلوه دواړه سره ورته دي)، (دا هغه لوښي وو چې هغه وخت به شراب په کي جوړېدل او مطلب ئې دا دئ چې شراب حرام دي) او ورته وئې فرمايل: (دا په ياد ولرئ او خپل شاتني پرې خبر کړئ.)

لكه چې ګورئ راوي وايي په څلورو شيانو ئې وګمارل او له څلورو ئې منع کړل، خو په لومړۍ برخي کې د څلورو شيانو پر ځای د پنځو نومونه اخلي او په دوهمي برخي کې د څلورو ممنوعه څښاکو پر ځای د څلورو لوښو يادونه کوي! په دې اړه ګڼ شمېر داسي توجيهات شوي چې په تکلف ولاړ دي، داسي توجيهات چې نه يوازي اورېدونکی نه قانع کوي بلکي مزيد پوښتني ورته راولاړوي، حقيقت دا دئ چې دلته د مطلب په سم بيان او انتقال کې اشتباه شوي، په يوې اشتباه راوي اعتراف کوي او وايي: نه پوهېږم د مزيف لفظ ئې وکاروو که د مقير، يا خو رسول الله صلى الله عليه و سلم دې پلاوي ته ويلي چې د شهادت د کلمې له ويلو وروسته به څلور نومورې کارونه کوئ او له هر ډول شرابو به ډډه کوئ، که په هر لوښي کې جوړ شوي وي، د څلورو لوښو نومونه ئې ورته اخيستي، يا خو راوي د پنځو پر ځای اشتباهاً څلور ويلي.

دلته د څلورو هغو لوښو يادونه شوې چې هغه مهال به شراب په کې جوړېدل، څوك چې د وينا موخې او هدف ته له پام پرته قضاوت کوي داسي انګېري چې يا به په خپله دا لوښي حرام وي او يا به يوازي دغه شراب حرام وي چې په دغو څلورو لوښو کې جوړېږي، خو د بصيرت خاوندان پوهېږي چې دلته نه د لوښو حصر مراد دئ او نه په خپله لوښي، بلکي هدف هر ډول شراب حرام ګڼل مراد دي. له هغه روايت چې د دغو لوښو د استعمال اجازه ورکوي معلومېږي چې دلته مراد د شرابو تحريم دئ نه د دغو لوښو استعمال.

۳۷- باب: عملونه په نيت پوري تړلي دي

۵۰- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مَسْلَمَةَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ عَنْ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ، وَلِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى الله وَرَسُولِهِ، فَهِجْرَتُهُ إِلَى الله وَرَسُولِهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا؛ او امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ". (بخاري:54)

۵۰- له عمر رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: عملونه په نيت پوري تړلي دي؛ او هر چا ته همغه څه دي چې نيت ئې کړی، نو د چا هجرت چې د الله او د هغه د رسول په لوري وي، نو هجرت ئې د الله او د ده د رسول په لوري دئ او د چا چې هجرت د دنيا لپاره وي چې په برخه ئې شي او يا د کومي ښځي لپاره چې په نکاح ئې کړي، نو هجرت ئې د همغه څه لپاره دئ چې د هغه په لوري ئې هجرت کړی.

د دې روايت شرح په لومړي روايت کي وګورئ، دلته تکراري راغلی.

۵۱- حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَدِيُّ بْنُ ثَابِتٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ الله بْنَ يَزِيدَ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ (إِذَا أَنْفَقَ الرَّجُلُ عَلَى أَهْلِهِ يَحْتَسِبُهَا فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ). (بخاري:55)

۵۱- له ابن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله

صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (څوک چې پر خپل اهل او اولاد مصرف کوي، (نفقه ورکوي او مال پرې لګوي) په داسي حال کي چې ثواب ئې ګڼي، نو همدا ورته صدقه او خيرات شمېرل کيږي.)

دا روايت هم له عنوان سره خاص ارتباط نه لري، دوه ځلي نور هم په دې شمېرو راغلى: 4006، 5351، له لږ توپير سره، په يوه کي د الرجل پر ځاى المسلم راغلى، په بل کي د الفاظو تركيب داسي دئ: نَفَقَةُ الرَّجُلِ عَلَى أَهْلِهِ صَدَقَةٌ او په بل کي داسي: إِذَا أَنْفَقَ الْمُسْلِمُ نَفَقَةً عَلَى أَهْلِهِ وَهْوَ يَحْتَسِبُهَا، كَانَتْ لَهُ صَدَقَةً.

56- حَدَّثَنَا الْحَكَمُ بْنُ نَافِعٍ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي عَامِرُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ الله إِلاَّ أُجِرْتَ عَلَيْهَا، حَتَّى مَا تَجْعَلُ فِي فِي امْرَأَتِكَ". (بخاري: 56)

56- له سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ته هيڅ داسي څه نه انفاق کوې چې د الله رضاء پرې لټوې مګر دا چې اجر به پرې درکړى شي حتى هغه څه (مړۍ) چې د خپلي مېرمني په خوله کي ئې ږدې.

دا روايت هم لس ځلي نور په دغو شمېرو له څه توپيرونو سره راغلى: 1295، 2742، 2744، 3936، 4409، 5354، 5659، 5668، 6373، 6733

۳۸- باب: دين نصيحت دئ

52- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنِي قَيْسُ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ الله قَالَ بَايَعْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم عَلَى إِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ. (بخاري:57)

۵۲- له جرير بن عبدالله رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مي د لمانځه اداء كولو، زكات وركولو او هر مسلمان ته نصيحت كولو بيعت وكړ.)

تكرار: دا روايت شپږ ځلي نور، له ځينو توپيرونو سره په دغو شمېرو راغلى: **524، 1401، 2157، 2714، 2715، 7204،**

توپير: په يوه كي دا هم راغلي: شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ الله، وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ، په بل كي سمع، طاعت او هر مسلمان ته نصيحت (خير غوښتنه) راغلي؛ او دا هم چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ما ته وويل: دا ورسره اضافه كړه چي: څومره چي توانېدى شم.

۵۳- حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلاَقَةَ قَالَ سَمِعْتُ جَرِيرَ بْنَ عَبْدِ الله قَالَ فَإِنِّي أَتَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قُلْتُ أُبَايِعُكَ عَلَى الإِسْلاَمِ. فَشَرَطَ عَلَيَّ وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ. فَبَايَعْتُهُ عَلَى هَذَا... (بخاري:58)

۵۳- له جرير بن عبدالله بجلي رضي الله عنه روايت دئ چي

وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغلم او ومي ويل: په اسلام بيعت درسره كوم، نو هر مسلمان ته د نصيحت كولو شرط ئې راباندي كېښود، نو ما پر همدې بيعت ورسره وكړ.

٣- د علم كتاب

١- باب: د علم غوره والى

باب: پوښتنې ته د وينا په پاى كي ځواب ويل

٥٤- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِنَانٍ قَالَ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ ح وَحَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ حَدَّثَنِي هِلاَلُ بْنُ عَلِيٍّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ بَيْنَمَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فِي مَجْلِسٍ يُحَدِّثُ الْقَوْمَ جَاءَهُ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ مَتَى السَّاعَةُ فَمَضَى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يُحَدِّثُ، فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ سَمِعَ مَا قَالَ، فَكَرِهَ مَا قَالَ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلْ لَمْ يَسْمَعْ، حَتَّى إِذَا قَضَى حَدِيثَهُ قَالَ "أَيْنَ- أُرَاهُ- السَّائِلُ عَنِ السَّاعَةِ". قَالَ هَا أَنَا يَا رَسُولَ الله. قَالَ "فَإِذَا ضُيِّعَتِ الأَمَانَةُ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ". قَالَ كَيْفَ إِضَاعَتُهَا قَالَ "إِذَا وُسِّدَ الأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ". (بخاري:59)

٥٤- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: په

داسي حال کي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په يوه مجلس کي له خلکو سره خبري کولې، يو کوچی (باندې وال) راغی؛ وئې ويل: قيامت به څه وخت وي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم خپلو خبرو ته دوام ورکړ، ځينو کسانو له ځان سره وويل چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې سړي خبره واورېدله خو بده ئې وګڼله؛ او ځينو وويل: وائې نه ورېده، تر هغه چې خپلې خبري ئې پای ته ورسولې نو وئې فرمايل: (څه شو، راوي وايي: ګمان کوم وئې ويل: د قيامت په اړه پوښتونکی) هغه سړي وويل: زه دغه يم يا رسول الله! وئې فرمايل: (کله چې امانت خيانت شي، ضايع شي؛ نو د قيامت لپاره انتظار کوه) هغه سړي وويل: د امانت خيانتول څنګه وي؟ وئې فرمايل: (کله چې کار (دنده او مسئوليت) نا اهل ته وسپارل شي؛ نو د قيامت انتظار کوه).

تکرار: دا روايت يو ځل بيا په دې شمېرې راغلی: 6496،

توپير: له دې توپير سره چې هلته د (وسد) پر ځای (اسند) راغلی.

دا مبارک حديث په دې دلالت کوي چې امارت او مسئوليت يو امانت دئ، نااهل ته ئې سپارل په امانت کي خيانت دئ؛ او دا همغه مطلب دئ چې د النساء د سورې په 58آيت کي راغلی چې وايي:

إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا وَإِذَا حَكَمۡتُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ أَن تَحۡكُمُواْ بِٱلۡعَدۡلِۚ إِنَّ ٱللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِۦٓۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ

سَمِيعًا بَصِيرًا ۞

يقيناً چې الله تاسو ته د دې امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او کله چې د خلکو تر منځ پرېکړه کوئ نو په عدل سره پرېکړه وکړئ، بې شکه چې الله په ډېر غوره څه تاسو ته نصيحت کوي، يقيناً چې الله بصير اورېدونکی دئ.

۲- باب: د علم لپاره د آواز اوچتول

۵۵- حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ عَارِمُ بْنُ الْفَضْلِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ تَخَلَّفَ عَنَّا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فِي سَفْرَةٍ سَافَرْنَاهَا، فَأَدْرَكَنَا وَقَدْ أَرْهَقَتْنَا الصَّلاَةُ وَنَحْنُ نَتَوَضَّأُ، فَجَعَلْنَا نَمْسَحُ عَلَى أَرْجُلِنَا، فَنَادَى بِأَعْلَى صَوْتِهِ "وَيْلٌ لِلأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ". مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا. (بخاري:60)

۵۵- له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په يوه سفر کي چې موږ هم ورسره وو له موږ وروسته پاته شو؛ او په داسي وخت کي په موږ پسي راورسېد چې پر موږ لمونځ ناوخته شوی وو، موږ پر اودس لګيا وو او (له ډېري بيرې مو) پښې داسي مينځلې لکه چې مسح پرې کوو، نو په لوړ آواز سره ئې وفرمايل: هغو ته دي له اور نه اندېښنه وي چې پوندي ئې نه دي مينځلې. دوه يا درې ځلي ئې دا خبره وکړه.

تکرار: دا روايت دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: **96، 163،**

توپير: له دې توپيرونو سره چې، په يوه کې د لمانځه پر ځای مازديګر او د اهرقنا پر ځای اهرقتنا راغلی، ويل د غم، حزن، افسوس او هلاکت په معنی راځي، دلته د حزن او اندېښنې په معنی راغلی.

٣- باب: د زده کوونکو آزمويل

٥٦- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "إِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً لاَ يَسْقُطُ وَرَقُهَا، وَإِنَّهَا مَثَلُ الْمُسْلِمِ، فَحَدِّثُونِى مَا هِيَ". فَوَقَعَ النَّاسُ فِي شَجَرِ الْبَوَادِى. قَالَ عَبْدُ اللهِ وَوَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ، فَاسْتَحْيَيْتُ ثُمَّ قَالُوا حَدِّثْنَا مَا هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ "هِيَ النَّخْلَةُ". (بخاري:61)

٥٦- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (له ونو يوه داسي ده چې پاڼې ئې نه رژيږي؛ او همدا د مسلمان مثال دئ، نو راته ووياست چې دا کومه ونه ده؟) نو خلک د بيدياوو د ونو په اړه په سوچ کې پرېوتل، عبدالله (بن عمر رضي الله عنه) وايي: زما په زړه کې راولوېدل چې ښايي دا به د خرما ونه وي، خو حياء راغله، بيا (خلکو) وويل: يا رسول الله! راته ووايه چې دا کومه ونه ده؟ وئې فرمايل: (دا د خرما ونه ده.)

تکرار: دا روايت هم نه ځلي په دغو شمېرو راغلی: 62، 72، 131، 2209، 4698، 5444، 5448، 6122،

6144، تر ټولو جامع ئې دا دئ:

6144- **حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللهِ حَدَّثَنِي نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ- رضي الله عنهما- قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "أَخْبِرُونِي بِشَجَرَةٍ مَثَلُهَا مَثَلُ الْمُسْلِمِ، تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا، وَلاَ تَحُتُّ وَرَقَهَا". فَوَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ، فَكَرِهْتُ أَنْ أَتَكَلَّمَ وَثَمَّ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، فَلَمَّا لَمْ يَتَكَلَّمَا قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "هِيَ النَّخْلَةُ". فَلَمَّا خَرَجْتُ مَعَ أَبِي قُلْتُ يَا أَبَتَاهْ وَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ. قَالَ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَقُولَهَا لَوْ كُنْتَ قُلْتَهَا كَانَ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ كَذَا وَكَذَا. قَالَ مَا مَنَعَنِي إِلاَّ أَنِّي لَمْ أَرَكَ وَلاَ أَبَا بَكْرٍ تَكَلَّمْتُمَا، فَكَرِهْتُ.**

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (هغه ونه راوښيئ چې مسلمان ته ورته ده، د الله په حكم سره په هر موسم كي خپله مېوه وركوي، پاني ئې نه رژېږي، عبدالله (بن عمر رضي الله عنهما) وايي: زما په زړه كي راولوېدل چې ښايي دا به د خرما ونه وي، خو دا راته بده وبرېښېده چې په داسي حال كي څه ووايم چې هلته ابوبكر او عمر وي خو څه نه وايي، كله چې دوى څه ونه ويل نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (دا د خرما ونه ده.)، كله چې له خپل پلار سره ووتم ومي ويل: گرانه پلاره! زما په زړه كي راولوېدل چې ښايي دا به د خرما ونه وي، راته وئې ويل: څه شي د دې خبري له كولو منع كړې؟ كه دي دا خبره كړې وى نو ستا دا خبره به تر هغه او هغه او هغه هم راته غوره وه. ومي ويل يوازي دې خبري منع كړم چې ته او ابوبكر

څه نه وايئ نو بده راته وبرېښېده(چې زه څه ووايم).

دا روايت د قرآن د دې آيت تفسير دئ چې فرمايي:

اَ لَمْ تَرَ كَيْف ضرَب الله مَثَلاً كلِمَةً طيّبَةً كَشجَرَةٍ طيّبَةٍ أَصلُهَا ثَابِتٌ وَ فَرْعُهَا فِي السمَاءِ24 تُؤْتى أُكلَهَا كلَّ حِينِ بِإِذْنِ رَبّهَا وَ يَضرِب الله الأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكرُونَ 25 ابراهيم: 24- 25

٤- باب: د علم په اړه چې څه راغلي

٥٧- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ سَعِيدٍ- هُوَ الْمَقْبُرِيُّ- عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ الله بْنِ أَبِي نَمِرٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ بَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فِي الْمَسْجِدِ، دَخَلَ رَجُلٌ عَلَى جَمَلٍ فَأَنَاخَهُ فِي الْمَسْجِدِ، ثُمَّ عَقَلَهُ، ثُمَّ قَالَ لَهُمْ أَيُّكُمْ مُحَمَّدٌ وَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم مُتَّكِئٌ بَيْنَ ظَهْرَانَيْهِمْ. فَقُلْنَا هَذَا الرَّجُلُ الأَبْيَضُ الْمُتَّكِئُ. فَقَالَ لَهُ الرَّجُلُ ابْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "قَدْ أَجَبْتُكَ". فَقَالَ الرَّجُلُ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم إِنِّي سَائِلُكَ فَمُشَدِّدٌ عَلَيْكَ فِي الْمَسْأَلَةِ فَلاَ تَجِدْ عَلَيَّ فِي نَفْسِكَ. فَقَالَ "سَلْ عَمَّا بَدَا لَكَ". فَقَالَ أَسْأَلُكَ بِرَبِّكَ وَرَبِّ مَنْ قَبْلَكَ، الله أَرْسَلَكَ إِلَى النَّاسِ كُلِّهِمْ فَقَالَ "اللهمَّ نَعَمْ". قَالَ أَنْشُدُكَ بِالله، الله أَمَرَكَ أَنْ نُصَلِّىَ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ قَالَ "اللهمَّ نَعَمْ". قَالَ أَنْشُدُكَ بِالله، الله أَمَرَكَ أَنْ نَصُومَ هَذَا الشَّهْرَ مِنَ السَّنَةِ قَالَ "اللهمَّ نَعَمْ". قَالَ أَنْشُدُكَ بِالله، الله أَمَرَكَ أَنْ تَأْخُذَ هَذِهِ الصَّدَقَةَ مِنْ أَغْنِيَائِنَا فَتَقْسِمَهَا عَلَى فُقَرَائِنَا فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "اللهمَّ نَعَمْ". فَقَالَ الرَّجُلُ

آمَنْتُ بِمَا جِئْتَ بِهِ، وَأَنَا رَسُولُ مَنْ وَرَائِي مِنْ قَوْمِي، وَأَنَا ضِمَامُ بْنُ ثَعْلَبَةَ أَخُو بَنِي سَعْدِ بْنِ بَكْرٍ. (بخاري:63)

۵۷- له انس رضي الله عنه روايت دئ چې وئې ويل: په داسي حال کي چې مور له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره په جومات کي ناست وو، يو سړی پر اوښ سپور جومات ته راننووت او اوښ ئې په جومات کي چو کړ، بيا ئې وتاړو، بيا ئې وويل: په تاسي کي کوم يو محمد دئ؟ نبي صلى الله عليه و سلم د دوی منځ کي تکيه وهلې وه، مور ورته وويل: دا سپين سړی چې تکيه ئې وهلې ده، هغه سړي ورته وويل: اې د عبدالمطلب زويه! رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: (وايه، ځواب ته دي تياريم)، هغه سړي وويل: زه پوښتنه درنه کوم او په پوښتني کي تشدد درسره کوم، نو په زړه کي دي څه مه راته تېروه، وئې فرمايل: (څه چې درته مناسب برېښي پوښتنه ئې وکړه) هغه وويل: زه ستا د رب او ستا د مخکنيو د رب په نامه پوښتنه درنه کوم چې آيا ته الله تعالى د ټولو خلکو لپاره رالېږلى يې؟ وئې فرمايل: (هو؛ په خداى قسم) هغه وويل: په خداى لوړه درکوم چې آيا الله تعالى درته امر کړى چې په يوه شپه او ورځ کي به پنځه لمونځونه کوو؟ وئې فرمايل: (هو؛ په خداى قسم)، هغه وويل: په خداى قسم درکوم چې آيا الله تعالى امر درته کړى چې د کال دغه مياشت (رمضان) به روژه نيسو؟ وئې فرمايل: (هو؛ په خداى قسم)، هغه وويل: په خداى قسم درکوم چې آيا الله تعالى امر درته کړى چې زمور له شتمنيو زکات واخله او

زمونږ پر فقيرانو ئې ووښه؟ نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (هو؛ په خداى قسم)، هغه وويل: ما په هغه څه ايمان راوړى چې تا راوړي، زه د خپل هغه قوم استازى يم چې تر شا مي دئ، زما نوم ضمام بن ثعلبه دئ او د بنو سعد بن بكر له قبيلې يم.

٥٨- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ الله قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ الله بْنِ عَبْدِ الله بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ عَبْدَ الله بْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم بَعَثَ بِكِتَابِهِ رَجُلاً، وَأَمَرَهُ أَنْ يَدْفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ الْبَحْرَيْنِ، فَدَفَعَهُ عَظِيمُ الْبَحْرَيْنِ إِلَى كِسْرَى، فَلَمَّا قَرَأَهُ مَزَّقَهُ. فَحَسِبْتُ أَنَّ ابْنَ الْمُسَيَّبِ قَالَ فَدَعَا عَلَيْهِمْ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم أَنْ يُمَزَّقُوا كُلَّ مُمَزَّقٍ. (بخاري:64)

٥٨- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم خپل ليک د يوه سړي په لاس واستاوو او امر ئې ورته وكړ چې د بحرين سردار ته ئې وسپاري، د بحرين سردار هغه ليک كسرىٰ (د فارس مشر) ته وركړ، كله چې ئې ليک ولوست، څيري ئې كړ، ابن شهاب وايي: گمان كوم چې ابن مسيب ويلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم هغوى ته بنبرا وكړه، چې ټوټې، ټوټې دي شي.

تكرار: 2939، 4424، 7264،

توپير: له ځينو عادي توپيرونو سره. د ټولو راوي عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دئ.

٥٩- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَبُو الْحَسَنِ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَتَبَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم كِتَابًا- أَوْ أَرَادَ أَنْ يَكْتُبَ- فَقِيلَ لَهُ إِنَّهُمْ لاَ يَقْرَءُونَ كِتَابًا إِلاَّ مَخْتُومًا. فَاتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ نَقْشُهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ. كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِهِ فِي يَدِهِ.... (بخاري:65)

٥٩- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم يو ليک وليکو او يا ئې غوښتل وئې ليکي، ورته وويل شول چي دا خلک (روميان يا فارسيان) يوازي هغه ليك لولي چي مهر شوى وي، د سپينو زرو مهر ئې جوړ کړ چي (محمد رسول الله) ورباندي کاږل شوي وو، داسي انګېرم لکه چي همدا اوس ئې سپين والى د رسول الله صلى الله عليه و سلم په لاس کي وينم، قتاده ته مي وويل: چا وويل چي ليکنه ئې محمد رسول الله وه؟ وئې ويل: انس.

تکرار: دا روايت هم اوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: 2938، 5870، 5872، 5874، 5875، 5877، 7162،

توپير: په يوه کي ويل شوي چي غوښتل ئې روم ته ليك ولېږي، په بل کي ويل شوي چي کومي ډلي يا غيرعربو ته ئې ولېږي، په ځينو کي يوازي دا ويل شوي مهر ئې جوړ کړ، نقش ئې محمد رسول الله وو، وئې فرمايل چي هيڅوك بايد داسي مهر له داسي نقش سره جوړ نه کړي.

باب: په مجلس کي هلته ناسته چي تش وي.

٦٠- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّ أَبَا مُرَّةَ مَوْلَى عَقِيلِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ أَخْبَرَهُ عَنْ أَبِي وَاقِدٍ اللَّيْثِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم بَيْنَمَا هُوَ جَالِسٌ فِي الْمَسْجِدِ وَالنَّاسُ مَعَهُ، إِذْ أَقْبَلَ ثَلاَثَةُ نَفَرٍ، فَأَقْبَلَ اثْنَانِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم وَذَهَبَ وَاحِدٌ، قَالَ فَوَقَفَا عَلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم فَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَرَأَى فُرْجَةً فِي الْحَلْقَةِ فَجَلَسَ فِيهَا، وَأَمَّا الآخَرُ فَجَلَسَ خَلْفَهُمْ، وَأَمَّا الثَّالِثُ فَأَدْبَرَ ذَاهِبًا، فَلَمَّا فَرَغَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ "أَلاَ أُخْبِرُكُمْ عَنِ النَّفَرِ الثَّلاَثَةِ أَمَّا أَحَدُهُمْ فَأَوَى إِلَى اللهِ، فَآوَاهُ اللهُ، وَأَمَّا الآخَرُ فَاسْتَحْيَا، فَاسْتَحْيَا اللهُ مِنْهُ، وَأَمَّا الآخَرُ فَأَعْرَضَ، فَأَعْرَضَ اللهُ عَنْهُ". (بخاري:66)

٦٠- له أبو واقد ليثي رضي الله عنه روايت دئ چي ويلي ئې دي: په داسي حال کي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په جومات کي له خلکو سره ناست وو؛ دري سړي راغلل، دوه ئې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وروړاندي شول او يو ئې لاړ، راوي وايي: هغه دوه تنه د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وړاندي ودرېدل، يوه ئې په حلقه کي تش ځای وليد؛ ورغی او په کي کښېناست او بل ئې د خلکو شا ته کښېناست؛ او دريم ئې ستون شو او لاړ، کله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فارغ شو وئې فرمايل: (آيا نه غواړئ د دغو دريو کسانو په حال مو خبرکړم؟ لومړي کس خدای تعالى ته پناه يووړه، هغه پناه ورکړه، دوهم حياء وکړه، الله تعالى هم ترې حياء وکړه او دريم مخ واړاوو نو

الله تعالى هم تري اعراض وکړ.

تکرار: دا روايت يو ځل بيا په دغه شمېره راغلى: 474

په دغو دريو کي يوه ئي د الله تعالى د حکم مطابق عمل وکړ او په تش ځاى کي کښېناست، بل د حياء په وجه د خلکو شا ته کښېناست، دريم ئي ځان تر دې لورې ګڼلى چې په کوم تش ځاى يا د خلکو شا ته کښېني، ده اعراض وکړ الله تعالى د همدې اعراض سزا ورکړه.

٥- باب: کېدى شي تر سامع خبر وررسېدونکى ډېر پوهيالى وي

٦١- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا بِشْرٌ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْنٍ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِيهِ ذَكَرَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَعَدَ عَلَى بَعِيرِهِ، وَأَمْسَكَ إِنْسَانٌ بِخِطَامِهِ- أَوْ بِزِمَامِهِ- قَالَ "أَيُّ يَوْمٍ هَذَا". فَسَكَتْنَا حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ سِوَى اسْمِهِ. قَالَ "أَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ؟ "قُلْنَا بَلَى. قَالَ "فَأَيُّ شَهْرٍ هَذَا؟". فَسَكَتْنَا حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ. فَقَالَ (أَلَيْسَ بِذِي الْحِجَّةِ؟). قُلْنَا بَلَى. قَالَ "فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ بَيْنَكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا، فِي شَهْرِكُمْ هَذَا، فِي بَلَدِكُمْ هَذَا. لِيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ، فَإِنَّ الشَّاهِدَ عَسَى أَنْ يُبَلِّغَ مَنْ هُوَ أَوْعَى لَهُ مِنْهُ". (بخاري:67)

٦١- له ابوبکره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم پر خپل اوښ سپور شو، يوه تن ئې د اوښ مهار يا واګي ونيولې، بيا ئې وفرمايل: (نن کومه ورځ ده؟) مور ټول چوپ شوو او ګمان مو وکړ چې ښايي په بل

نوم به ئې ونوموي، وئې فرمايل: (آيا دا د قربانۍ ورځ نه ده؟) مورِ وويل: هو؛ ولي نه؛ وئې فرمايل: (دا كومه مياشت ده؟) مورِ چوپ شوو تر دې چې ګمان مو وكړ كېدى شي په بل نوم ئې ونوموي، وئې فرمايل: (آيا دا ذي الحجه نه ده؟) مورِ وويل: هو؛ همداسي ده، وئې فرمايل: (بې شكه چې ستاسو ويني، مالونه او عزت يو پر بل داسي حرام دي لكه ستاسو د دغي ورځې حرمت؛ ستاسو په دغي مياشت كي او ستاسو په دغه بنار (مكه) كي، حاضر دي غائب ته دا خبره ورسوي، كېداى شي حاضر ئې داسي چا ته ورسوي چې تر ده زيات پرې پوهېدونكى وي.)

تكرار: دا روايت هم په بخاري كي اته ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: **105، 1741، 3197، 4406، 4662، 5550، 7078، 7447،**

توپير: په ځينو كي د راوي خپله وينا نه ده راغلې، يوازي د پيغمبر عليه السلام وينا راغلې، ځيني ئې مختصر دي؛ يوازي د ويني، مال او عزت د حرمت په اړه دي او ځيني ئې جامع او مفصل دي، د جاهليت د دور تقويم ئې باطل اعلان كړى، كال ئې دولس مياشتي اعلان كړى چې څلور په كي حرامي مياشتي ګڼل شوي.، په يوه كي دا الفاظ هم راغلي: "إِلَى يَوْمِ تَلْقَوْنَ رَبَّكُمْ. أَلاَ هَلْ بَلَّغْتُ". قَالُوا نَعَمْ. قَالَ "اللهمَّ اشْهَدْ": تر هغه چې له خپل رب سره مخامخ شئ، آيا ما خبره ورسوله؟ خلكو وويل: هو؛ وئې فرمايل: بارئ ربه! شاهد اوسه. او په پاى كي ئې دا الفاظ: فَلاَ تَرْجِعُوا بَعْدِى كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ: له ما

وروسته مه كافران كبرئ چي يو د بل غاړي پرې كړئ. تر ټولو جامع ئې دا دئ:

7447- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنِ ابْنِ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "الزَّمَانُ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ خَلَقَ اللهُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ، السَّنَةُ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا، مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ثَلاَثٌ مُتَوَالِيَاتٌ ذُو الْقَعَدَةِ وَذُو الْحَجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ، وَرَجَبُ مُضَرَ الَّذِي بَيْنَ جُمَادَى وَشَعْبَانَ، أَيُّ شَهْرٍ هَذَا". قُلْنَا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ يُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ قَالَ "أَلَيْسَ ذَا الْحَجَّةِ". قُلْنَا بَلَى. قَالَ "أَيُّ بَلَدٍ هَذَا". قُلْنَا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ قَالَ "أَلَيْسَ الْبَلْدَةَ". قُلْنَا بَلَى. قَالَ "فَأَيُّ يَوْمٍ هَذَا". قُلْنَا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ قَالَ "أَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ". قُلْنَا بَلَى. قَالَ (فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ- قَالَ مُحَمَّدٌ وَأَحْسِبُهُ قَالَ وَأَعْرَاضَكُمْ- عَلَيْكُمْ حَرَامٌ، كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي بَلَدِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا، وَسَتَلْقَوْنَ رَبَّكُمْ فَيَسْأَلُكُمْ عَنْ أَعْمَالِكُمْ، أَلاَ فَلاَ تَرْجِعُوا بَعْدِى ضُلاَّلاً، يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ، أَلاَ لِيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ، فَلَعَلَّ بَعْضَ مَنْ يَبْلُغُهُ أَنْ يَكُونَ أَوْعَى مِنْ بَعْضِ مَنْ سَمِعَهُ). فَكَانَ مُحَمَّدٌ إِذَا ذَكَرَهُ قَالَ صَدَقَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم ثُمَّ قَالَ (أَلاَ هَلْ بَلَّغْتُ أَلاَ هَلْ بَلَّغْتُ).

له ابوبكرة رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (د كال تقويم د هغي ورځي حالت ته وګرځول شو چي الله تعالى آسمانونه او زمكه په كي پيدا

کړل، کال دولس میاشتي دئ، چې څلور ئې حرامي میاشتي دي، درې ئې پر له پسې: ذوالقعده، ذوالحجه او محرم؛ او رجب چې د جمادي او شعبان تر منځ ده)، بیا ئې وفرمایل: (دا کومه میاشت ده؟) مورِ وویل: الله او رسول ئې ښه پوهیږي، هغه چوپ شو تر دې چې ګمان مو وکړ کېدی شي په بل نوم ئې ونوموي، وئې فرمایل: (آیا دا ذي الحجه نه ده؟) مورِ وویل: هو؛ همداسي ده، وئې فرمایل: (دا کوم ښار دئ)؟، مورِ وویل: الله او رسول ئې ښه پوهیږي، هغه چوپ شو تر دې چې ګمان مو وکړ کېدی شي په بل نوم ئې ونوموي، وئې فرمایل: (آیا دا همغه (د مکې) ښارګوتی نه دئ)؟ ومو ویل: هو؛ یا رسول الله! وئې فرمایل: (نن کومه ورځ ده؟) مورِ وویل: الله او رسول ئې ښه پوهیږي، هغه چوپ شو تر دې چې ګمان مو وکړ کېدی شي په بل نوم ئې ونوموي، وئې فرمایل: (آیا دا د قربانۍ ورځ نه ده؟) مورِ وویل: هو؛ ولي نه؛ وئې فرمایل: (بې شکه چې ستاسو وینې، مالونه (راوي وایي: ګمان کوم دا ئې هم وویل چې: او ستاسو عزت) یو پر بل داسي حرام دي لکه ستاسو د دغي ورځي حرمت؛ ستاسو په دغي میاشت کي او ستاسو په دغه ښار (مکه) کي؛ او حتماً به له خپل رب سره مخامخ شئ نو د خپلو عملونو په اړه به پوښتنه درنه وکړي، نو له ما وروسته مه بې لارې کېږئ داسي چې یو د بل غاړې پرې کړئ، پام چې شاهد ئې باید غائب ته ورسوي، ښایي ځینې هغه چې وررسول کېږي تر ځینو هغو به زیات پرې پوهېدونکي وي چې اوربدلې ئې دي). (محمد بن ابي بکرة

چې به کله دا خبره یادوله نو ویل به ئې: رسول الله صلی الله علیه و سلم رښتیا ویلي)، بیا ئې وفرمایل: (آیا ما خبره ورسوله؟ آیا ما خبره ورسوله؟)

٦- باب: د ښوونې لپاره ځانګړي وختونه

٦٢- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَتَخَوَّلُنَا بِالْمَوْعِظَةِ فِي الأَيَّامِ، كَرَاهَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا. (بخاري:68)

٦٢- له ابن مسعود رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: نبي صلی الله علیه و سلم به په مناسبو ورځو کي په وعظ سره پر موږ پېرزوینه کوله؛ او دا ځکه چې هسي نه تري ستړي او زړه توري شو.

تکرار: دا روایت هم په بخاري کي دوه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: **70**، **6411**، له کوم توپیر پرته.

په دې روایت کي ټولو مبلغینو او واعظانو ته لارښوونه شوې چې د وعظ او نصیحت لپاره مناسب وختونه غوره کړي، داسي نه چې وخت نا وخت د لودسپیکر مخي ته ودرېږي، غږ ئې ښه لوړ کړي، دومره چې د بل جومات خلك به هم تنګوي، نه د دې پروا کوي چې خلك به اوس ویده وي، نه د دې چې خلك به په نورو کارونو بوخت وي، له داسي وعظه نه ده ته کومه ګټه رسي او نه اورېدونکو ته، بلکي خلك له وعظ او واعظانو متنفر کوي.

رسول الله صلی الله علیه و سلم له دې ممانعت کړی، لکه چې په دې روایت کي راغلي:

63- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو التَّيَّاحِ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "يَسِّرُوا وَلاَ تُعَسِّرُوا، وَبَشِّرُوا وَلاَ تُنَفِّرُوا " (بخاري:69)

63- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: آساني وكړئ او سختي مه كوئ، زېرى وركوئ او متنفرول (ترټل) مه كوئ.

تكرار: دا روايت هم يو ځل بيا په دې شمېرې **6125** راغلى.

توپير: له دې توپير سره راغلى چي د بشروا پر ځاى (سكنوا: ډاډ وركول) راغلي.

٧- باب: چا ته چي الله د خير اراده وكړي په دين ئې پوه كړي

٦٤- حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ قَالَ حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ سَمِعْتُ مُعَاوِيَةَ خَطِيبًا يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "مَنْ يُرِدِ الله بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ، وَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ وَالله يُعْطِى، وَلَنْ تَزَالَ هَذِهِ الأُمَّةُ قَائِمَةً عَلَى أَمْرِ الله لاَ يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِىَ أَمْرُ الله". (بخاري:71)

٦٤- له معاويه رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چي فرمايل ئې: (چا ته چي الله تعالى د خير اراده وكړي نو په دين كي پوهه وركړي، بې شكه چي زه وېشونكى يم او الله تعالى ئې

ورکوي، دا امت به تر هغه د الله تعالی په امر (دین) استوار وي، هغه څوك به تاوان نشي وررسولی چي د دوی مخالفت کوي، ترهغه چي د الله تعالی امر راشي (قیامت یا وروستۍ پرېکړه) راشي).

تکرار: دا روایت هم په بخاري کي څلور ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: **3116، 3641، 7312، 7460،**

توپیر: په ځینو کي د حدیث په پای کي و هم ظاهرون هم راغلي، چي په دې صورت کي د حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ الله معنی قیامت نه بلکي د الله تعالی وروستۍ پرېکړه ده، ځکه قیامت د مؤمنانو د بریا او غلبې په وخت کي نه راځي، په یوه کي د خالفهم پر ځای خذلهم او په بل کي کذبهم و لا خالفهم راغلي، په یوه کي د ظهرین پر ځای قَائِمَةٌ بِأَمْرِ الله او په بل کي د یأتي امرالله پر ځای يَأْتِيَهُمْ أَمْرُ الله راغلي، د ټولو راوي یو دئ.

له دې مبارك حدیث معلومېږي چي د زمانې په هر پېړاو کي به تل داسي یو ټولی وي چي د دین لمنه به ئې ټینګه نیولې وي، د حق دین پلوي به کوي، د دین د غلبې لپاره به په جهاد بوخت وي، پر مخالفینو به برلاسي وي، نه به مخالفین تاوان وررسولی شي او نه هغه چي د دوی له ملګرتیا لاس اخلي او په دې لار کي ئې یوازي پرېږدي.

متأسفانه ځیني غرضي او مرضي خلك د یوې غلطي او شرکي عقیدې په ګټه په غلطه توګه پر دې مبارك حدیث استناد کوي او وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د الله تعالی د فضل او پېرزوینو وېښونکی دئ، د الهي فضل

خزانو كلياني د ده په واك كي دي، كه څه غواړئ نو له ده ئې وغواړئ، وېشونكى دى دئ، مخامخ ئې له الله تعالى مه غواړئ، گواكي دا بې ادبي ده، كه ئې وغواړئ نو الله تعالى به مو پيغمبر عليه السلام ته راجع كوي ځكه چي وېشونكى دى دئ!! داسي غلط استناد يوازي هغه څوك كولى شي چي شيطان ئې په زړه، دماغ او ژبي سپور وي، شيطاني افكار ورالقاء كوي او شيطاني خبري ئې پر ژبه تكراروي، دا په داسي حال كي چي دا روايت وايي: دلته له عطاء او تقسيم مراد په دين كي پوهه او تفقه ده؛ نه د الله تعالى فضل، نعمتونه او پېرزويني، د حديث معنى دا ده چي د پوهي ورکړه او عطاء د الله تعالى كار دئ، زما مأموريت دا دئ چي الهي پيغام تر خلكو ورسوم، خو دا چي څوك به ئې تر لاسه كړي، ايمان به پرې راوړي، فيض به ترې حاصل كړي، دا د الله تعالى كار دئ نه زما، د همدې حديث راوي د هغه په شرح كي وايي: (أنا قاسم) أقسم بينكم ما أمرت بتبليغه من الوحي ولا أخص به أحدا دون أحد. (والله يعطي) كل واحد منكم فهما على قدر ما تعلقت به إرادته سبحانه: زه وېشونكي يم، ستاسو تر منځ د وحي او الهي پيغام هغه څه وېشم چي پر تبليغ ئې گمارل شوى يم، هيڅا ته پر بل ترجيح نه وركوم؛ او الله وركوونكى دئ، ستاسو هر يوه ته دومره پوهه وركوي چي الله تعالى ورته غوښتي. د دې معنى دا ده چي حقيقي معطي او وركوونكى الله تعالى دئ، نه پيغمبر عليه السلام، د پيغمبر عليه السلام كار يوازي دا دئ چي خلكو ته د الله تعالى پيغام ورسوي، دا چي څوك به ترې گټه اخلي، چا ته به دا سعادت ورپه برخه كېږي چي وئې مني او

عمل پرې وکړي، دا پربکړه د الله تعالى له لوري کيږي، د هر انسان وړتياوو ته په پام سره د ورکړي او نه ورکړي پربکړه کوي.

٨- باب: په علم کي پوهه او ذکاوت

٦٥- حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ قَالَ لِي ابْنُ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ صَحِبْتُ ابْنَ عُمَرَ إِلَى الْمَدِينَةِ فَلَمْ أَسْمَعْهُ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم إِلاَّ حَدِيثًا وَاحِدًا، قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَأُتِيَ بِجُمَّارٍ فَقَالَ "إِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً مَثَلُهَا كَمَثَلِ الْمُسْلِمِ". فَأَرَدْتُ أَنْ أَقُولَ هِيَ النَّخْلَةُ، فَإِذَا أَنَا أَصْغَرُ الْقَوْمِ فَسَكَتُّ، قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "هِيَ النَّخْلَةُ".
(بخاري:72)

٦٥- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: موږ له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ناست وو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د نوې رسېدلې خرما وړى راوړل شو، نو وئې فرمايل: (له ونو يوه ونه داسي ده...) راوي مخکي تېر شوى حديث نقل کړى او پدې روايت کي ئې دا زياتونه کړې ده: څرنګه چي زه تر ټولو کشر وم، نو چوپ پاته شوم.

د دې روايت شرح په ٥٦ روايت کي وګورئ، دلته تکرار راغلى. خو له دې روايت معلومېږي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم دا پوښتنه هغه مهال کړې چي د خرما وړى ئې په لاس کي وو او همدې ته په پام سره ئې دا پوښتنه کړې.

۹ الف- باب: په علم او سخاوت کي سيالي

٦٦- حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي خَالِدٍ عَلَى غَيْرِ مَا حَدَّثَنَاهُ الزُّهْرِيُّ قَالَ سَمِعْتُ قَيْسَ بْنَ أَبِي حَازِمٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ الله بْنَ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "لاَ حَسَدَ إِلاَّ فِي اثْنَتَيْنِ رَجُلٌ آتَاهُ الله مَالاً فَسُلِّطَ عَلَى هَلَكَتِهِ فِي الْحَقِّ، وَرَجُلٌ آتَاهُ الله الْحِكْمَةَ، فَهْوَ يَقْضِى بِهَا وَيُعَلِّمُهَا". (بخاري:73)

٦٦- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (له دوو شيانو پرته په بل څه کي حسد جواز نه لري: يو په دې کي چي چا ته الله تعالى شتمني ورکړې وي او د حق په لار کي په لګولو ئې موفق شوى وي؛ او بل په دې کي چي الله تعالى چا ته علم او پوهه ورکړې وي او هغه په همدې سره قضاوت کوي او نورو ته ئې ښيي).

تکرار: دا روايت هم په بخاري کي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: 1409، 7141، 7316،

توپير: يوازي په دومره توپير سره چي په دوو کي د رجل پر ځاى و آخر راغلي، د ټولو راوي عبدالله بن مسعود دئ.

دلته حسد د غبطې په معنى راغلى، غبطه دې ته وايي چي څوك د هغه نعمت هيله او تلوسه وکړي چي بل ته ورکړى شوى؛ او حسد په عامه توګه او اکثراً دې ته ويل کيږي چي بل ته ورکړى شوى نعمت د هغه پر ځاى د ده په

برخه شي. بنايي رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې سره مؤمنانو ته لاربنوونه کوي چې که د علم او سخاوت په اړه دومره تلوسه وشي چې حسد ته ورسيږي پروا ئې نشته.

9 ب- باب: د علم په لټه کې وتل

67- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ غُرَيْرٍ الزُّهْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ حَدَّثَ أَنَّ عُبَيْدَ الله بْنَ عَبْدِ الله أَخْبَرَهُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ تَمَارَى هُوَ وَالْحُرُّ بْنُ قَيْسِ بْنِ حِصْنٍ الْفَزَارِيُّ فِي صَاحِبِ مُوسَى قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هُوَ خَضِرٌ. فَمَرَّ بِهِمَا أبي بْنُ كَعْبٍ، فَدَعَاهُ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقَالَ إِنِّي تَمَارَيْتُ أَنَا وَصَاحِبِي هَذَا فِي صَاحِبِ مُوسَى الَّذِي سَأَلَ مُوسَى السَّبِيلَ إِلَى لُقِيِّهِ، هَلْ سَمِعْتَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَذْكُرُ شَأْنَهُ قَالَ نَعَمْ سَمِعْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "بَيْنَمَا مُوسَى فِي مَلاءٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ هَلْ تَعْلَمُ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْكَ قَالَ مُوسَى لاَ. فَأَوْحَى الله إِلَى مُوسَى بَلَى، عَبْدُنَا خَضِرٌ، فَسَأَلَ مُوسَى السَّبِيلَ إِلَيْهِ، فَجَعَلَ الله لَهُ الْحُوتَ آيَةً، وَقِيلَ لَهُ إِذَا فَقَدْتَ الْحُوتَ فَارْجِعْ، فَإِنَّكَ سَتَلْقَاهُ، وَكَانَ يَتَّبِعُ أَثَرَ الْحُوتِ فِي الْبَحْرِ، فَقَالَ لِمُوسَى فَتَاهُ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ، وَمَا أَنْسَانِيهِ إِلاَّ الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ. قَالَ ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِي، فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا، فَوَجَدَا خَضِرًا. فَكَانَ مِنْ شَأْنِهِمَا الَّذِي قَصَّ الله- عَزَّ وَجَلَّ- فِي كِتَابِهِ". بخاري: 74

67- له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: د ده او حر بن قيس تر منځ د موسى عليه السلام د

ملګري په اړه مناقشه رامنځته شوه، ابن عباس وويل چې دا خضر وو، أبي بن كعب د دوی دواړو خوا ته تېر شو، نو ابن عباس ورغېر کړ او وئې ويل: زما او دغه ملګري تر منځ د موسی عليه السلام د هغه ملګري په اړه مناقشه راغله چې موسی له هغه سره د ملاقات د لاري موندو پوښتنه کړې وه، آيا له رسول الله صلى الله عليه و سلم دي د ده په اړه څه اوريدلي؟ وئې ويل: هو؛ له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واوريدل چې ويل ئې: کله چې موسی عليه السلام د بني اسرائيلو په يوې غونډي کې وو يو سړی ورته راغی او وئې ويل: آيا داسي څوك پېژنې چې تر تا زيات پوه وي؟ موسی عليه السلام وويل: نه؛ نو الله تعالى موسی عليه السلام ته وحي وکړه چې ولي نه؛ زموږ بنده خضر (عليه السلام)، نو موسی له هغه سره د ملاقات د لاري په اړه پوښتنه وکړه، نو الله تعالى کب ورته د نبني په توګه وټاکو او ورته وويل شو: کله چې دي کب ورك کړ نو راوګرځه او هملته به ئې وګوري؛ او هغه به په نهر کي د روان کب تر شا (په استقامت) تلو، نو موسی ته خپل ځوانکي وويل: آيا پام دي وو چې کله مو هغه لوی کمر ته پناه يووړه نو ما کب هېر کړ، فقط شيطان رانه هېر کړ چې يادونه ئې وکړم، موسی عليه السلام وويل: دا همغه څه دئ چې لټولو مو، نو پر خپلو پلونو بېرته راستانه شول، نو خضر ئې وموند؛ او بيا د دوی دواړو خبره همغسي ده چې الله تعالى ئې قصه په خپل کتاب کي راوړې.

دا روايت څو خبري زموږ مخي ته ږدي: دا عالم او پوه

شخص خضر عليه السلام وو. موسى عليه السلام ته ويل شوي وو چې په ژوندي ماهي پسې روان شي، په هر ځای کې چې تړې ورك شو هملته به خضر ومومي. موسى عليه السلام د سفر ملګرى په دې ګمارلى وو چې په سيند کې روان کب به تر نظر لاندې نيسي، کله چې تړې ورك شي نو ده ته به خبر ورکوي، دوى د سفر په دوران کې د تودوخې په وجه د کوم کمر سيوري ته پناه وړې، په همدې وخت کې کب خپله لار بدله کړې او د هغه ځوانکي له سترګو غائب شوى، کله چې بيا خوځېدلي، له څه مزل وروسته موسى عليه السلام له هغه غرمنى خوراك غوښتى، په همدې وخت کې هغه ته د کب د غائبېدو خبره ورپه ياد شوې او موسى عليه السلام ته ئې يادونه کړې، موسى عليه السلام ورته ويلي چې مونږ د همدې ځای په لټه کې وو، بېرته راستانه شوي او خضر عليه السلام ئې هملته موندلى.

تکرار: دا روايت په بخاري کې دولس ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: 78، 122، 2267، 2728، 3278، 3400، 3401، 4725، 4726، 4727، 6672، 7478،

توپير: درې ځلي نور د پورتني روايت په څېر دئ، له عادي توپيرونو سره او په دې شمېرو: 78، 3400، 7478؛ او پنځه ځلي په دغو شمېرو 122، 3401، 4725، 4726، 4727 کې داسي راغلى چې له پورتني سره ژور تعارض لري؛ او په کې راغلي چې موسى عليه السلام ته ويل شوي وو چې وريت شوى کب په توکرۍ کې ورسره واخلي، په دغو څلورو کې هم ژور توپيرونه تر سترګو

کېږي، دا په داسي حال کي چي د ټولو دیارلسو روایتونو راوي یو دئ! امام بخاري رحمه الله نه دي ویلي چي کوم روایت ئې تر نورو غوره، دقیق او صحیح دئ، هغه له ښلو ښلو راویانو چي څه اورېدلي په امانت سره ئې رانقل کړي، له دغو متعارضو روایاتو به یو غوره کوو، یا هغه چي وایي موسی علیه السلام ته په سیند کي روان کب د نښي په توګه ټاکل شوی وو یا هغه چي وریت شوی کب نښه ګڼي، د اسنادو له مخي دا پرېکړه نشي کېدی، ځکه که دا کار ممکن وی نو امام بخاري رحمه الله به هرومرو ویلي وو چي کوم ئې ضعیف دئ او کوم ئې صحیح. مجبور یو د قرآن په رڼا کي او د درایت له مخي ارجح روایت تشخیص کړو، راشئ د وریت شوي کب اړوند روایت ته ځیر شو؛ روایت داسي دئ:

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا عَمْرٌو قَالَ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ إِنَّ نَوْفًا الْبِكَالِيَّ يَزْعُمُ أَنَّ مُوسَى لَيْسَ بِمُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ، إِنَّمَا هُوَ مُوسَى آخَرُ. فَقَالَ كَذَبَ عَدُوُّ اللهِ، حَدَّثَنَا أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "قَامَ مُوسَى النَّبِيُّ خَطِيبًا فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ، فَسُئِلَ أَيُّ النَّاسِ أَعْلَمُ فَقَالَ أَنَا أَعْلَمُ. فَعَتَبَ اللهُ عَلَيْهِ، إِذْ لَمْ يَرُدَّ الْعِلْمَ إِلَيْهِ، فَأَوْحَى اللهُ إِلَيْهِ أَنَّ عَبْدًا مِنْ عِبَادِي بِمَجْمَعِ الْبَحْرَيْنِ هُوَ أَعْلَمُ مِنْكَ. قَالَ يَا رَبِّ وَكَيْفَ بِهِ فَقِيلَ لَهُ احْمِلْ حُوتًا فِي مِكْتَلٍ فَإِذَا فَقَدْتَهُ فَهُوَ ثَمَّ، فَانْطَلَقَ وَانْطَلَقَ بِفَتَاهُ يُوشَعَ بْنِ نُونٍ، وَحَمَلاَ حُوتًا فِي مِكْتَلٍ، حَتَّى كَانَا عِنْدَ الصَّخْرَةِ وَضَعَا رُءُوسَهُمَا وَنَامَا فَانْسَلَّ الْحُوتُ مِنَ الْمِكْتَلِ فَاتَّخَذَ

سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا، وَكَانَ لِمُوسَى وَفَتَاهُ عَجَبًا، فَانْطَلَقَا بَقِيَّةَ لَيْلَتِهِمَا وَيَوْمِهِمَا فَلَمَّا أَصْبَحَ قَالَ مُوسَى لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا، لَقَدْ لَقِينَا مِنْ سَفَرِنَا هَذَا نَصَبًا، وَلَمْ يَجِدْ مُوسَى مَسًّا مِنَ النَّصَبِ حَتَّى جَاوَزَ الْمَكَانَ الَّذِي أُمِرَ بِهِ. فَقَالَ لَهُ فَتَاهُ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ، قَالَ مُوسَى ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِي، فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا، فَلَمَّا انْتَهَيَا إِلَى الصَّخْرَةِ إِذَا رَجُلٌ مُسَجًّى بِثَوْبٍ- أَوْ قَالَ تَسَجَّى بِثَوْبِهِ- فَسَلَّمَ مُوسَى. فَقَالَ الْخَضِرُ وَأَنَّى بِأَرْضِكَ السَّلاَمُ فَقَالَ أَنَا مُوسَى. فَقَالَ مُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ قَالَ نَعَمْ. قَالَ هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَى أَنْ تُعَلِّمَنِي مِمَّا عُلِّمْتَ رَشَدًا قَالَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا، يَا مُوسَى إِنِّي عَلَى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللهِ عَلَّمَنِيهِ لاَ تَعْلَمُهُ أَنْتَ، وَأَنْتَ عَلَى عِلْمٍ عَلَّمَكَهُ لاَ أَعْلَمُهُ. قَالَ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللهُ صَابِرًا، وَلاَ أَعْصِي لَكَ أَمْرًا، فَانْطَلَقَا يَمْشِيَانِ عَلَى سَاحِلِ الْبَحْرِ لَيْسَ لَهُمَا سَفِينَةٌ، فَمَرَّتْ بِهِمَا سَفِينَةٌ، فَكَلَّمُوهُمْ أَنْ يَحْمِلُوهُمَا، فَعُرِفَ الْخَضِرُ، فَحَمَلُوهُمَا بِغَيْرِ نَوْلٍ، فَجَاءَ عُصْفُورٌ فَوَقَعَ عَلَى حَرْفِ السَّفِينَةِ، فَنَقَرَ نَقْرَةً أَوْ نَقْرَتَيْنِ فِي الْبَحْرِ. فَقَالَ الْخَضِرُ يَا مُوسَى، مَا نَقَصَ عِلْمِي وَعِلْمُكَ مِنْ عِلْمِ اللهِ إِلاَّ كَنَقْرَةِ هَذَا الْعُصْفُورِ فِي الْبَحْرِ. فَعَمَدَ الْخَضِرُ إِلَى لَوْحٍ مِنْ أَلْوَاحِ السَّفِينَةِ فَنَزَعَهُ. فَقَالَ مُوسَى قَوْمٌ حَمَلُونَا بِغَيْرِ نَوْلٍ، عَمَدْتَ إِلَى سَفِينَتِهِمْ فَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا قَالَ لاَ تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ. فَكَانَتِ الأُولَى مِنْ مُوسَى نِسْيَانًا. فَانْطَلَقَا فَإِذَا غُلاَمٌ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ، فَأَخَذَ الْخَضِرُ بِرَأْسِهِ مِنْ أَعْلاَهُ فَاقْتَلَعَ رَأْسَهُ بِيَدِهِ. فَقَالَ مُوسَى أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا- قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ

وَهَذَا أَوْكَدُ- فَانْطَلَقَا حَتَّى إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا، فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا، فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ فَأَقَامَهُ. قَالَ الْخَضِرُ بِيَدِهِ فَأَقَامَهُ. فَقَالَ لَهُ مُوسَى لَوْ شِئْتَ لاَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا. قَالَ هَذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ". قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "يَرْحَمُ اللهُ مُوسَى، لَوَدِدْنَا لَوْ صَبَرَ حَتَّى يُقَصَّ عَلَيْنَا مِنْ أَمْرِهِمَا". بخاري: 122

د دې روايت په اړه ډېري داسي پوښتنې راولاړېږي چې ځواب ئې نشي ويل کېدی، پوښتنې دا دي:

1. د روايت په سر کي چې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وويل: كَذَبَ عَدُوُّ الله: د خدای دې دښمن دروغ ويلي! د عبدالله بن عباس غوندي له شخصيت لري خبره ده چې د يوه کس د ادعاء له مخي د بل چا په اړه داسي وينا وکړي. شريعت داسي قضاوت جائز نه ګڼي چې د يوې لانجې د دواړو خواوو د ويناوو له اورېدو مخکې وي.

2. دا روايت وايي چې موسی عليه السلام له بعثت وروسته دا سفر کړی، حال دا چې له بعثت وروسته هغه د ټول عالم لپاره لارښود وو، تر ده بل پوه او عالم کس په نړۍ کي نه وو، ولي به الله تعالی د دې خبري په کولو تر عتاب لاندي نيولو چې د يو چا په ځواب کي ئې ويلي وو: تر ما بل پوه کس نشته؟! پيغمبر عليه السلام په وار وار صحابه وو ته ويلي چې تر تاسو ټولو ښه پوه يم؛ او صحابه وو هم ويلي چې الله او د هغه رسول تر ټولو زيات پوه دي.

3. قرآن وايي چې موسی عليه السلام له بعثت وروسته يوازي څلوېښت ورځي له خپل قوم لري شوی چې د ده په

غياب کي سامري وغولول، که دا سفر له بعثت وروسته وی نو حتماً به ئې قرآن وضاحت کړی وو.

4. د قرآن له وينا معلومېږي چې دا سفر هغه مهال شوی چې موسی علیه السلام لا مدین ته هجرت نه وو کړی او د فرعون په کور کي اوسېدو، ځکه قرآن وايي چې په همدغي مودې کي الله تعالی هغه ته علم او حکمت ورپه برخه کړ، د علم تر لاسه کولو یوه مرجع ئې همدا له خضر علیه السلام سره څو ورځنی سفر وو، په همدې سفر کي هغه له خضر علیه السلام څو خبري زده کړې، د یوه ظالم پاچا له شر نه د بې وزلو جاله والو ژغورل، د یوه کافر، مفسد او بې رحمه زلمي وژل او با ایمانه مور پلار ئې د ده له شر نه ژغورل، له هغو یتیمانو سره مرسته چې پلار ئې تر دېوال لاندې خزانه ورته ښخه کړې وه؛ او موسی علیه السلام دغو دریو کارونو ته ورته کارونه وکړل: د یوه ظالم قبطي په وړاندې د یوه مظلوم بني اسرائیلي داسي مرسته چې ظالم قبطي ته ئې کلکه څپېړه ورکړه او په همدې سره هغه ومړ، د مدین د کوهي په غاړه ئې د دوو مېرمنو مرسته وکړه او په داسي حال کي ئې په یوازي تن له کوهي اوبه راوایستې او د دوی رمه ئې خړوبه کړه چې د اوږده سفر په وجه سخت ستړی او ستومانه وو، د بني اسرائیلو د ژغورنې لپاره مصر ته ولاړ او د فرعون مقابله ئې پیل کړه، د خضر علیه السلام له هغو دریو کارونو سره د موسی علیه السلام د دغو دریو کارونو شباهت په ډېر وضاحت سره ښیي چې دا سفر له بعثت مخکې ترسره شوی. له بعثت وروسته هغه د سینا په صحرا کي وو، هلته نه سیندونه وو

او نه مجمع البحرين، كه احياناً څوك دا دوه بحرونه ګڼي او وايي چې له مجمع البحرين مراد د خليج عقبه او خليج سويس يا د بحرالروم او بحر القلزم يوځای کېدا ده نو دا ځايونه هيڅ نښي ته ضرورت نه لري او له موسی عليه السلام ئې دومره اوږد سفر هم نه غوښتو چې ووايي: يا به مجمع البحرين ته رسېږم يا به کلونه کلونه (حقبا) مزل کوم. په دې کې هيڅ شك نشته چې معقوله او ارجح رأيه دا ده چې له مجمع البحرين د نيل د دوو څانګو؛ نيل الابيض او نيل الازرق د يوځای کېدا محل مراد دئ، چې په اوسني خرطوم کې دئ، دلته له بحرين مراد دوه روان سيندونه دي نه دوه ولاړي اوبه، د ولاړو اوبو لپاره د (مجمع بينهما) الفاظ کارول مناسب نه برېښي.

5. که وريت شوی او پوخ ماهي د دوی لپاره نښه وو نو موسی عليه السلام به څنګه خپل خادم ته ويل چې هغه د خوراك لپاره راوړه؟!! په دې صورت کې خو به ئې تل له ځان سره ساتو او له خوړلو به ئې ډډه کوله.

6. نه قرآن ويلي چې د موسی عليه السلام د سفر ملګری يُوشَعَ بْنِ نُونٍ وو او نه نورو رواياتو دا خبره کړې او نه دا ضروري ده چې نوم ئې په ګوته شي، که ضروري وی قرآن به حتماً د ده نوم اخيستی وو! يوشع بن نون د سينا په سفر کې د موسی عليه السلام ملګری شوی نه په مصر کې د هغه بل سفر په دوران کې.

7. دا روايت وايي چې وريت شوی کب ژوندی شو او سيند ته ئې ټوپ کړل او دا موسی عليه السلام او ملګري ته ئې د حيرانتيا سبب شو، حال دا چې قرآن وايي چې په سيند کې د

کب ورکېدا یوازي د موسی علیه السلام ملګري لیدلې او موسی علیه السلام دا صحنه نه وه لیدلې نو ځکه ئې له خپل ملګري نه د دغي خبري په اورېدو سره وویل: مورِ د همدې ځای په لټه کي وو چي کب به په خپله مخه درومي او له مورِ به غائب کېږي. د روایت الفاظ دا دي: فَانْسَلَّ الْحُوتُ مِنَ الْمِكْتَلِ فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا، وَكَانَ لِمُوسَى وَفَتَاهُ عَجَبًا او دا د قرآن له وینا سره په بشپړه توګه تعارض لري، ځکه قرآن د موسی علیه السلام د ملګري له خولې وایي:... وَ مَا أَنسانِيهُ إِلا الشيْطنُ أَنْ أَذْكُرَهُ وَ اتخَذَ سبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ عجَباً.

زما مجترم ورور قاضي صاحب محمد حکیم حکیم چي په خپلو نېکو مشورو او دقیقو ملاحظاتو سره ئې زما ډېره مرسته کړې ده، دلته د خپلو ملاحظاتو په ترڅ کي لیکلي: همدا راز دا روایت وایي چي موسی علیه السلام او ملګري ئې د کمر خوا ته سرونه کښېښودل او ویده شول، که داسي وو نو د کب ژوندي کېدا او سیند ته لوېدا ئې څنګه ولیده؟! باید ووایم چي دا پوښتنه ډېره پر ځای پوښتنه ده، ځکه قرآن د ډېري خوا ته د ویده کېدو خبره نه کوي بلکي د پناه وړلو خبره کوي او ښیي چي د تودوخي له امله ئې د کمر سیوري ته پناه وړې او څو شېبې ئې هلته دمه کړې ده، خو دا روایت وایي چي هلته دواړه ویده شوي!!

8. دا روایت وایي چي خضر د موسی علیهما السلام د سلام په اورېدو سره حیران شو او وئې پوښتل چي ستا په سیمي کي سلام له کومه شو، هغه ورته وویل: زه موسی یم، پوښتنه ئې تري وکړه چي د بني اسرائیلو موسی؟ وئې ویل: هو؛ د دې معنی دا ده چي هغه په غیب نه پوهېدو او موسی

ئې ونه پېژندو، خو د دې روايت له ځينو الفاظو داسي معلومېږي چې ګواکې هغه په غيب پوهېدو، حال دا چې قرآن وايي له الله تعالى پرته هيڅوك په غيب نه پوهېږي. پوښتنه دا ده چې خضر عليه السلام څنګه د موسى عليه السلام په څېر يوه پيغمبر ته وايي: ما ته داسي علم راکړى شوى چې تا ته نه دئ درکړى شوى يا په بل روايت له تا سره نه ښايي؛ او تا ته داسي علم درکړى شوى چې ما ته نه دئ راکړى شوى او په بل روايت کي له ما سره نه ښايي؟! کوم علم ده ته ورکړى شوى وو؟ علم غيب خو نشي کېدى!! ځکه چې هغه د ملاقات پر مهال موسى عليه السلام ونه پېژندو، پوښتنه ئې تري وکړه چې څوك يې؟ چې ورته وئې ويل موسى، نو پوښتنه ئې وکړه چې د بني اسرائيلو موسى؟! له دې خو معلومېږي چې هغه په غيب نه پوهېدو، نو ده کوم علم درلودو چې موسى عليه السلام له بعثت وروسته نه درلودو؟ څوك چې دا روايت صحيح ګڼي څنګه خضر عليه السلام ته علم غيب هم منسوبوي؟!! له دې روايته خو معلومېږي چې په هغو دريو مواردو کي هم د ده علم؛ خاص علم او په غيب پوهېدا نه شو ګڼلى. دې ته مو بايد پام وي چې د قرآن له وينا په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې خضر عليه السلام هغه مفسد ځوانکى د ده د مور او پلار په مشوره وژلى، قرآن د خضر عليه السلام له قوله داسي وايي:

وَأَمَّا ٱلْغُلَٰمُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِينَآ أَن يُرْهِقَهُمَا طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا ٨٠ فَأَرَدْنَآ أَن يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكَوٰةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا ٨١ الكهف:80- 81

لكه چې ګورئ دلته د (فخشينا) او ورپسې د (اردنا) صيغې راغلې، په دواړو کې د (نا) ضمير د هلك مور، پلار او خضر عليه السلام ته راجع دئ، دوی د هلك په اړه وېرېدلي او د هغه د وژلو پرېکړه ئې کړې، په دې کې اصلاً د الله نوم نه شو شاملولی. هم له دې امله چې الله تعالی ته د وېرېدو نسبت کول صحيح نه دي، په قرآن کې د دې شاهد نه مومو؛ او هم له دې امله چې په (خشينا) کې ضمير يوازې خضر عليه السلام او د ماشوم مور او پلار ته راجع کېدی شي نه بل چا ته، دا ځکه چې تر دې د مخه د الله تعالی نوم نه دئ ياد شوی.

9. همدا راز د قرآن له وينا معلومېږي چې خضر عليه السلام د هغه يتيمانو دېوال د هغې ژمنې له مخ رغولی چې د دوی له پلار سره ئې کړې وه، د يتيمانو پلار؛ خضر عليه السلام يو امين او صالح کس ګڼلی، ورته ويلي ئې وو چې د زامنو لپاره مې تر دېوال لاندې سکې ښخوم، کله چې ستر شي نو تړې خبر ئې کړه، ده ورسره ژمنه کړې، د همدې ژمنې له امله دې کلي ته راغلی چې د دېوال حالت وګوري، هغه ئې د ړنګېدو په حال کې موندلی نو ځکه ئې رغولی. دا ځکه چې هيڅوك د اولاد لپاره په داسې حال کې خزانه نه ښخوي چې هيڅوك پرې خبر نه کړي، له داسې کار نه به د ده اولاد ته څه ګټه ورسېږي؟!! کېدی شي دېوال ړنګ شي او خزانه د بل چا په لاس کې پرېوزي.

10. په دې روايت کې د خضر عليه السلام په لاس د کافر او مفسد ځوانکي د وژل کېدو په اړه دا الفاظ راغلي چې منل ئې ګران دي: فَأَخَذَ الْخَضِرُ بِرَأْسِهِ مِنْ أَعْلاَهُ فَاقْتَلَعَ رَأْسَهُ

بِيَدِهِ: نو خضر د سر له لوړي ونيو او په خپل لاس سره ئې سر تري وايست!!

دغو خبرو ته په پام سره په يقيني توګه ويلى شو چې دا روايت ډېر اشکالات لري او قطعاً د منلو وړ نه دئ، هغه بل له هره پلوه ارجح او غوره دئ او د قرآن له وينا سره اړخ لګوي.

١٠- باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم دعاء "اللهمَّ عَلِّمْهُ الْكِتَابَ".

٦٧- حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ قَالَ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ ضَمَّنِي رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَقَالَ "اللهمَّ عَلِّمْهُ الْكِتَابَ". (بخاري:75)

٦٧- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په غېږ کي ونيولم او وئې فرمايل: (اې خدايه! د کتاب (قرآن) پوهه ورپه برخه کړه.)

تکرار: دا روايت هم په بخاري کي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: **143، 3756، 7270،**

توپير: په يوه کي د علمه الكتاب پر ځاى فَقِّهْهُ فِي الدِّينِ او په بل کي عَلِّمْهُ الْحِكْمَةَ راغلي، په يوه کي دا الفاظ هم راغلي: فَوَضَعْتُ لَهُ وَضُوءًا قَالَ "مَنْ وَضَعَ هَذَا". فَأُخْبِرَ: د اودس اوبه مي ورته کښېښودې، پوښتنه ئې وکړه: دا چا ايښې دي، پرې خبر کړى شو چې ما ايښې دي نو ځکه ئې دا دعاء راته وکړه، خو په نورو کي دا الفاظ نه دي راغلي.

دا روايات مونږ ته وايي چې الله تعالى د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په اړه د رسول الله صلى الله عليه و سلم دعاء قبوله کړه او هغه ته ئې په قرآن د پوهېدو سعادت ورپه برخه کړ، خو يوه غالي ډله چې وايي پير او مرشد کولى شي په يوې اشارې سره خپل مريد ته د لدني علم د خزانو کنجياني ورکړي او د اسرارو دروازې ئې پر مخ پرانيزي، دا روايت غلط تعبيروي او وايي چې پيغمبر عليه السلام بس همدلته او د يوې کوزې اوبو په بدل کې ټول علوم د عبدالله بن عباس په زړه کي واچول!! دوى د پيغمبر عليه السلام د علم او پوهي په اړه هم دې ته ورته رأيه وړاندي کوي او وايي چې پيغمبر عليه السلام ته له لومړۍ ورځې ټول علوم د قرآن په شمول ورکړى شوي، د خلقت له پيل د قيامت تر ورځې چه څه شوي او څه کېږي پيغمبر عليه السلام پرې پوهېدو!! او دا د قرآن د ګڼ شمېر صريح آيتونو خلاف بې بنسټه او غلطه رأيه ده. يوازي هغه څوك داسي خبره کولى شي چې يا له قرآن په بشپړه توګه بې خبره وي او يا ئې زړه او دماغ په شرکي افکارو او خرافاتو لړلي وي.

١١- باب: له وړوکي اورپدنه کله صحيح ده؟

٦٨- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي أُوَيْسٍ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ الله بْنِ عَبْدِ الله بْنِ عُتْبَةَ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَقْبَلْتُ رَاكِبًا عَلَى حِمَارٍ أَتَانٍ، وَأَنَا يَوْمَئِذٍ قَدْ نَاهَزْتُ الِاحْتِلاَمَ، وَرَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يُصَلِّى بِمِنًى إِلَى غَيْرِ جِدَارٍ، فَمَرَرْتُ بَيْنَ يَدَيْ بَعْضِ الصَّفِّ وَأَرْسَلْتُ الأَتَانَ تَرْتَعُ، فَدَخَلْتُ فِي الصَّفِّ، فَلَمْ

يُنْكَرْ ذَلِكَ عَلَيَّ. (بخاري:76)

٦٨- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وئې ويل: په داسي وخت كي چي ځوانې (بلوغ) ته نژدې وم، په خرې سپور وړاندي لاړم، رسول الله صلى الله عليه و سلم په منى كي په داسي حال كي لمونځ كاوو چي مخي ته ئې دېوال نه وو، زه د صف د يوې برخي له مخي تېر شوم، خره مي پرېښوده چي وځري او زه په صف كي ودرېدم، زما پدې عمل اعتراض ونه شو.

يعنى رسول الله صلى الله عليه و سلم او صحابه وو زما پدې عمل اعتراض ونكړ.

تكرار: دا روايت هم په بخاري كي څلور ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: 493، 861، 1857، 4412،

توپير: درې ځلي په همدې صيغه او يو ځل داسي چي بل څوك له عبدالله بن عباس دا خبره روايت كوي، خو په هغه كي دا هم ويل شوي چي دا كار په حجة الوداع كي شوى، خو په دې كي دا خبره نه ده شوې چي چا اعتراض ونه كړ.

٦٩- حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو مُسْهِرٍ قَالَ حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنِي الزُّبَيْدِيُّ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ قَالَ عَقَلْتُ مِنَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم مَجَّةً مَجَّهَا فِي وَجْهِي وَأَنَا ابْنُ خَمْسِ سِنِينَ مِنْ دَلْوٍ. (بخاري:77)

٦٩- له محمود بن ربيع رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: زما په ياد دي چي زه پنځه كلن وم، رسول الله صلى الله

عليه و سلم له يوې سلواغې يو غوړپ اوبه واخستې او زما پر مخ ئې را وشيندلې.

تکرار: دا روايت هم په بخاري کي پنځه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: 189، 839، 1185، 6354، 6422، له دې توپير سره چې په ځينو کي د دلو: سلواغې پر ځای بئر: کوهی راغلی.

دا روايت د سند له مخې ډېر غريب دئ، په صحابه وو او تابعينو کي يو يو راوي لري، په صحابه وو کي ئې راوي يو پنځه کلن ماشوم دئ، خو دا چې آيا د پنځه کلن ماشوم روايت د اعتبار وړ دئ که نه؟ بايد ووايو چې پنځه کلن ماشوم نه د خپل عمر اندازه لګولی شي، نه خپله او د بل خبره او کار تر اوږدې مودې په ياد ساتلی شي، نه خپله خبره سمه او په صحيح توګه کولی شي، معلومه نه ده چې ده څه ليدلي هغه ئې سم تعبير کړي که نه؛ آيا پيغمبر عليه السلام يو غوړب اوبه په لاس کي واخيستې او د ده لوري ته ئې وشيندلې او که د ده پر مخ او که ئې په خوله کي اوبه واخيستې د ده لوري يا د ده مخ ته ئې وشيندلې، د دې ټولو احتمال شته، غوره دا ده چې د داسي رواياتو په راوړلو کي بشپړ احتياط وشي، مخصوصاً کله چې غواړو د کوم حکم د منشأ په توګه ئې وړاندي کړو، دا به له احتياطه ډېره لري وي چې د دغه روايت په استناد ووايو چې په خولې کي اوبه رااخيستل او د چا پر مخ ئې شيندل جائز دي. دا او دې ته ورته روايات له بل ووړ يا لوی صحابي نه دي روايت شوي او دا روايت هم داسي دئ چې يو ځای سلواغه راغلې

او په بل ځای کي کوهی.

۱۲- باب: د زده کړي او ښوونې فضیلت

۷۰- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاَءِ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "مَثَلُ مَا بَعَثَنِي اللهُ بِهِ مِنَ الْهُدَى وَالْعِلْمِ كَمَثَلِ الْغَيْثِ الْكَثِيرِ أَصَابَ أَرْضًا، فَكَانَ مِنْهَا نَقِيَّةٌ قَبِلَتِ الْمَاءَ، فَأَنْبَتَتِ الْكَلأَ وَالْعُشْبَ الْكَثِيرَ، وَكَانَتْ مِنْهَا أَجَادِبُ أَمْسَكَتِ الْمَاءَ، فَنَفَعَ اللهُ بِهَا النَّاسَ، فَشَرِبُوا وَسَقَوْا وَزَرَعُوا، وَأَصَابَتْ مِنْهَا طَائِفَةً أُخْرَى، إِنَّمَا هِيَ قِيعَانٌ لاَ تُمْسِكُ مَاءً، وَلاَ تُنْبِتُ كَلأً، فَذَلِكَ مَثَلُ مَنْ فَقِهَ فِي دِينِ اللهِ وَنَفَعَهُ مَا بَعَثَنِي اللهُ بِهِ، فَعَلِمَ وَعَلَّمَ، وَمَثَلُ مَنْ لَمْ يَرْفَعْ بِذَلِكَ رَأْسًا، وَلَمْ يَقْبَلْ هُدَى اللهِ الَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ". قَالَ أَبُو عَبْدِ اللهِ قَالَ إِسْحَاقُ وَكَانَ مِنْهَا طَائِفَةٌ قَيَّلَتِ الْمَاءَ. قَاعٌ يَعْلُوهُ الْمَاءُ، وَالصَّفْصَفُ الْمُسْتَوِى مِنَ الأَرْضِ. (بخاري:79)

۷۰- له ابو موسي رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: هغه علم او هدايت چي الله زه ورسره مبعوث کړی يم، هغه ګڼ باران ته ورته دئ چي پر يوې زمکي وورېږي، يوه برخه ئې پاکيزه او ښېرازه چي اوبه جذب کړي او ډېر واښه او بوټي راشنه کړي، د دې بله برخه کلکه او شنډه چي اوبه راتم کړي او الله خلکو ته تري ګټه ورسوي، خپله ئې وڅښي، نور خړوبه کړي او کرنه پرې وکړي او دا باران پر يوې بلې زمکي هم وورېږي چي داسي آوار ډاګ وي چي نه اوبه تمولی شي او نه نباتات

راشنه کولی شي او دا د هغه چا مثال دئ چې د الله په دین پوه شو او هغه څه ورته ګټه ورسوله چې الله زه ورسره لېږلی یم، په خپله پرې پوه شو او نور ئې پرې پوه کړل او د هغه چا مثال دئ چې نه ئې سر پرې پورته کړ او نه ئې هغه لاربنوونه قبوله کړه چې زه ورسره لېږل شوی یم).

دا روایت په ځینو نورو کتابونو کي هم په همدغه صیغه او له همدې سند سره راغلی او دا د قرآن د هغو آیتونو شرح ده چې فرمایي:

أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتۡ أَوۡدِيَةُۢ بِقَدَرِهَا فَٱحۡتَمَلَ ٱلسَّيۡلُ زَبَدٗا رَّابِيٗاۚ وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيۡهِ فِي ٱلنَّارِ ٱبۡتِغَآءَ حِلۡيَةٍ أَوۡ مَتَٰعٖ زَبَدٞ مِّثۡلُهُۥۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ وَٱلۡبَٰطِلَۚ فَأَمَّا ٱلزَّبَدُ فَيَذۡهَبُ جُفَآءٗۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ فَيَمۡكُثُ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَالَ ١٧ الرعد: 17

له آسمانه ئې اوبه راوورولي، نو خوړونه د خپل ظرفیت په اندازه وبهېدل، سیل د اوبو له پاسه روان ځك پر سرواخیست؛ او د هغه هم چې پر اور ئې د دې لپاره ویلي کوي چې ګانۍ او سامان ترې جوړ کړي، دې ته ورته ځك وي، الله د حق او باطل مثال همداسي بیانوي، نو ځك په وچېدو سره له منځه ځي او هغه چې خلکو ته ګټه رسوي په زمکي کي پاته کېږي، الله همداسي مثالونه بیانوي.

وَٱلۡبَلَدُ ٱلطَّيِّبُ يَخۡرُجُ نَبَاتُهُۥ بِإِذۡنِ رَبِّهِۦۖ وَٱلَّذِي خَبُثَ لَا يَخۡرُجُ إِلَّا نَكِدٗاۚ كَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَشۡكُرُونَ ٥٨ الاعراف:58

او د پاکي زمکي نباتات د الله په حکم راوځي او هغه چې ناپاکه وي یوازي په مشقت سره ترې راوځي، دغسي هغو

ته نښي بيانوو چې شکر کوي.

په دې مبارک آيت کې د دوو زمکو مثال وړاندې شوی، پاکه او ناپاکه زمکه، شېرازه او شوره زمکه، له يوې بوټي راشنه کېږي، وده کوي او خپل حاصل ورکوي، له بلې که څه راوځي نو په ډېر مشقت سره او ناقص. انسانان هم د دغو دواړو زمکو په څېر دوه ډوله دي، پاك او ناپاك، صالح او طالح، نېك او بد، د ښېګڼو عامل او بې خيره، په ځينو د حق وينا اغېز کوي او د ځينو زړونه سخت، هيڅ پند او نصيحت ته ئې د زړه دړه نه خلاصېږي.

۱۳- باب: د پوهې له منځه تلل او د جهل خورېدل

۷۱- حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ مَيْسَرَةَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يُرْفَعَ الْعِلْمُ، وَيَثْبُتَ الْجَهْلُ، وَيُشْرَبَ الْخَمْرُ، وَيَظْهَرَ الزِّنَا". (بخاري:80)

۷۱- له انس رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د قيامت له نښو يوه دا ده چې علم به پورته شي (له منځه به ولاړ شي) او جهل (ناپوهي) به پر ځای پاته شي، د شرابو څښل او زنا به عامه او خوره شي).

۷۲- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ لأُحَدِّثَنَّكُمْ حَدِيثًا لاَ يُحَدِّثُكُمْ أَحَدٌ بَعْدِى سَمِعْتُ رَسُولَ الله

صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَقِلَّ الْعِلْمُ، وَيَظْهَرَ الْجَهْلُ، وَيَظْهَرَ الزِّنَا، وَتَكْثُرَ النِّسَاءُ وَيَقِلَّ الرِّجَالُ، حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً الْقَيِّمُ الْوَاحِدُ". (بخاري:81)

۷۲- او له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: زه داسي حديث درته وايم چي له ما وروسته به ئې هيڅوک درته ونه وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چي فرمايل ئي: (د قيامت له نښو دا دي چي: علم به کم شی، ناپوهي به خوره شي، زنا به زياته شي، د ښځو شمېره به ډېره او د نارينه وو شمېره به کمه شي؛ دومره چي د پنځوسو ښځو لپاره به يوازي يو قيم او متکفل وي.)

تکرار: دا روايت هم په بخاري کي پنځه ځلي په دغو شمېرو راغلی: **80، 81، 5231، 5577، 6808،**

توپير: په ځينو کي يُرْفَعَ الْعِلْمُ او په ځينو کي يَقِلَّ الْعِلْمُ راغلي، په ځينو کي يَظْهَرَ الْجَهْلُ او په ځينو کي يَكْثُرَ الْجَهْلُ راغلی، په ځينو کي يَظْهَرَ الزِّنَا او په ځينو کي يَكْثُرَ الزِّنَا، په ځينو کي يَكْثُرَ شُرْبُ الْخَمْرِ راغلي او په ځينو کي نه دي راغلي، په ځينو کي دا هم ويل شوي (وَتَكْثُرَ النِّسَاءُ وَيَقِلَّ الرِّجَالُ، حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً الْقَيِّمُ الْوَاحِدُ: ښځي به زياتي شي او نارينه به لږ شي حتى چي د پنځوسو ښځو لپاره به يو قيم او متکفل وي) چي دا مطلب په نورو کي نشته،

دا روايت ډېر غريب دئ، په صحابه وو او تابعينو کي يو يو راوي لري، په دې روايت کي دا برخه هم توجه غواړي

چې، په يوه کې ئې راوي وايي: داسي څه درته وايم چې له ما پرته به ئې هيڅوك درته ونه وايي! پوښتنه دا ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به ولي دا خبره يوازي يوه کس ته کوله؟ که دا د وحي برخه وي نو پيغمبر عليه السلام خو په دې مأمور شوى چې الهي وحي به په بشپړه توګه او ټولو ته رسوي، يوازي يوه ته ئې ويل له دې عام مأموريت سره اړخ نه لګوي.

همدا راز دې ته مو پام وي چې د قيامت د علائمو په اړه په رواياتو کې د دې مخکينيو نښو تر څنګ ډېرې نورې نښې ښودل شوې؛ د دغو نښو شمېر دومره دئ لکه چې ټول ګناهونه د قيامت نښې وي. خيانت، فحشاء، حرص، بخل، بې رحمي، نارينه د ښځو او ښځې د نارينه وو جامې اغوستل، د موسيقي د آلاتو زياتوالى، د جوماتونو زياتوالى او د امامانو کموالى، د اشرارو درناوى، د اخيارو سپکاوى، د ګاونډي ځوروول، نااهل ته د امارت سپارل... او ډېر نور.

خو دا چې دا کارونه د (الساعة) نښې ګڼل شوې، څېړنه غواړي، ځکه دا کار تل شوى، په انساني تاريخ کې اکثراً امارت او زعامت نااهلو ته په لاس ورغلى، خو قيامت نه دئ راغلى، دا اوس په ټولې نړۍ کې اقتدار د نااهلو په لاس کې دئ، هم په اسلامي هېوادو کې او هم په غير اسلامي هېوادو کې، دا ګناهونه د نړۍ په هر ګوټ کې تر سترګو کېږي، بايد دا توضيح شي چې له دې مراد کوم (ساعت) دئ، د قيامت ورځ که هغه نېټه چې الله تعالى د هر امت لپاره ټاکلې، لکه چې قرآن مکرر فرمايي: لكل أمة أجل:

قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي ضَرّٗا وَلَا نَفۡعًا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۗ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌۚ إِذَا

جَآءَ أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَْٔخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ٤٩ يونس: 49
ووايه: خپل ځان ته نه د ضرر (دفع كولو) واك لرم او نه د ګټې (رسولو اختيار)، پرته له هغه څه چې الله غوښتي، د هر امت لپاره ثابته نېټه ټاكل شوې، كله چې د دوى اجل راورسيږي نه يوه شېبه وروسته كيږي او نه مخكې كيږي.

يعني د هر امت لپاره ثابته نېټه ټاكل شوې، كله چې د دوى اجل راورسيږي نه يوه شېبه وروسته كيږي او نه مخكې كيږي، د يوه ولس د زوال نېټه نه د چا په خوښه او هيله وروسته كېدى شي او نه ئې څوك رامخكې كوى شي.

كه په دې اړه رواياتو ته ځير شو نو ګورو چې د (الساعة) لپاره داسي نښې ښودل شوې چې تل او په وار وار په انساني ټولنو كي ليدل شوې، داسي معلوميږي چې په دې سره پيغمبر عليه السلام خلكو ته لاربښوونه كړې چې په مختلفو برخو كي د امتونو د زوال د پيلېدو نښې كومي دي، په اجتماعي امورو كي د يوه قوم د زوال نښه همدا ده چې كارونه ئې نااهلو ته وسپارل شي، له اخلاقي پلوه ئې د زوال نښې دا دي چې فحشاء په كي عامه شي، شراب او زناء په كي څرګند شي، له اقتصادي پلوه دا چې اغنياء ئې بخيل او حريص شي، له ديني پلوه دا چې د جوماتونو درناوى ختم شي او لمانځه ته اهتمام له منځه ولاړ شي... كله چې په كوم ولس كي دا نښې څرګندي شي نو د هغه ولس د تباه كېدو نېټه رانږدې شوې.

١٤- باب: د علم فضيلت

٧٣- حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ

ابْنِ شِهَابٍ عَنْ حَمْزَةَ بْنِ عَبْدِ الله بْنِ عُمَرَ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ أُتِيتُ بِقَدَحِ لَبَنٍ، فَشَرِبْتُ حَتَّى إِنِّي لأَرَى الرِّىَّ يَخْرُجُ فِي أَظْفَارِى، ثُمَّ أَعْطَيْتُ فَضْلِي عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ". قَالُوا فَمَا أَوَّلْتَهُ يَا رَسُولَ الله قَالَ (الْعِلْمَ). (بخاري:82)

۷۳- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چي فرمايل ئې: (په داسي حال کي چي ويده وم د شيدو پياله راکړی شوه، شيدې مي دومره وڅښلې چي ګورم له نوکانو مي سېل روان شو، بيا مي رانه پاته شوې عمر بن خطاب ته ورکړې). اصحابو وويل: يا رسول الله! دا خوب دي څنګه تعبير کړی؟ وئې فرمايل: (علم). يعني د شيدو د څښلو معنى علم تر لاسه کول دي.

تکرار: دا روايت هم په بخاري کي پنځه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: **3681، 7006، 7007، 7027، 7032،**

توپير: په ځينو کي د مِنْ أَظْفَارِى پر ځای مِنْ أَطْرَافي او د يَخْرُجُ پر ځای يَجْرِى او د فَقَالَ مَنْ حَوْلَهُ پر ځای قَالُوا راغلي.

له دې روايت معلومېږي چي په علم کي د عمر رضي الله عنه مقام ډېر لوړ دئ.

١٥- باب: د سورلی په حالت کي فتوی ورکول

٧٤- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عِيسَى بْنِ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم وَقَفَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِمِنًى لِلنَّاسِ يَسْأَلُونَهُ، فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ لَمْ أَشْعُرْ فَحَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَذْبَحَ. فَقَالَ "اذْبَحْ وَلاَ حَرَجَ". فَجَاءَ آخَرُ فَقَالَ لَمْ أَشْعُرْ، فَنَحَرْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ. قَالَ "ارْمِ وَلاَ حَرَجَ". فَمَا سُئِلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم عَنْ شَيْءٍ قُدِّمَ وَلاَ أُخِّرَ إِلاَّ قَالَ افْعَلْ وَلاَ حَرَجَ. (بخاري:83)

٧٤- له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه روايت دئ چي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په حجة الوداع کي په منٰی کي د خلکو لپاره ودرېد چي پوښتني تريې وکړي، يو سړی ورته راغی او وئې ويل: فکر مي نه وو او له ذبحي (قربانی) نه مخکي مي سر وخرېيو؟ وئې فرمايل: (ذبح وکړه او پروا نه لري). بل کس راغی او وئې ويل: پام مي نه وو او له جمرو ويشتلو مخکي مي ذبح وکړه؟ وئې فرمايل: (جمرې وولـه؛ باک نه لري، همداسي له رسول الله صلى الله عليه و سلم چي د هر وروسته يا وړاندي شوي عمل په اړه پوښتنه وشوه وئې فرمايل: وئې کړه پروا نه لري.)

تکرار: دا روايت په بخاري کي پنځه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: **124، 1736، 1737، 1738، 6665،**

توپير: له ځينو عادي توپيرونو سره، داسي چي د يوه

سړي پوښتنه تر بل مخکي یاده شوې، دا روایت په نورو کتابونو کي هم له همدې راوي او په همدې صیغه راغلی او ښیي چي د جمراتو ویشتل، ذبح کول، وېښتان خرېپل یا کمول او طواف که سهواً یو له بل مخکي وروسته شي پروا ئې نشته او حاجي پرې نه مؤاخذه کېږي.

دې ته مو پام وي چي ځینې فقهاء په دغو امورو کي ترتیب سنت ګڼي او ځینې ئې واجب، امام ابوحنیفه او امام مالك د واجب په سترګه ورته ګوري او د ترتیب د عدم مراعات په صورت کي دم لازم ګڼي، امام شافعي او امام احمد په پورتني روایت استناد کوي او وایي دم نه لازمېږي، احناف د دې روایت په اړه وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم دا ځواب هغه چا ته ورکړی چي سهواً او په ناپوهۍ کي ترتیب ترې پاته شوی. دا هم باید په پام کي ولرو چي قرآن د احصار (د حاجي د محاصره کېدو او له خنډ سره د مخامخېدو) په حالت کي وایي چي تر هغه به سر نه خرېپي چي د قربانۍ ځاروی ئې خپل ټاکلي ځای ته نه وي رسېدلی، که څوك د ناروغۍ یا د سر د وېښتانو له امله له کوم کړاو سره مخامخ وو کولی شي سر وخرېپي خو فدیه پرې لازمېږي. که څه هم دا حکم په خاص حالت پوري تړلی دئ خو له هغه معلومېږي چي د ترتیب مراعات ضروري دئ او ترك ئې فدیه ایجابوي. د دې روایت په رڼا کي هم دا ویلی شو چي د ترتیب مراعات ضروري دئ که نه نو صحابه وو به د عدم مراعات په صورت کي پوښتنه نه کوله، خو که څوك سهواً یا د ناپوهۍ له امله ترتیب مراعات نه کړي دم نه پرې لازمېږي.

١٦- باب: د سر يا لاس په اشارې سره د فتوى ځواب

75- حَدَّثَنَا الْمَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ أَخْبَرَنَا حَنْظَلَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ عَنْ سَالِمٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "يُقْبَضُ الْعِلْمُ، وَيَظْهَرُ الْجَهْلُ وَالْفِتَنُ، وَيَكْثُرُ الْهَرْجُ". قِيلَ يَا رَسُولَ الله وَمَا الْهَرْجُ فَقَالَ هَكَذَا بِيَدِهِ، فَحَرَّفَهَا، كَأَنَّهُ يُرِيدُ الْقَتْلَ. (بخاري:85)

75- له ابوهريرة رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: علم به پاى ته ورسېږي، جهل او فتنې به خورې شي او هرج به زيات شي، وويل شول: يا رسول الله! هرج څه دئ؟ لاس ئې داسې واړاوو لكه چې غواړي ووايي: وژنه.

او تاسو پوهېږئ چې دا همغه حالت دئ چې د كفر د سلطې په وجه په ټولنې كې رامنځته كېږي او قيامت به هغه مهال راځي چې د ايمان لمن په بشپړه توګه ټوله شوې وي او كفر خپل تور وزر پر انساني ټولنې غوړولى وي او هره خوا د جهل، فتنو او وژنو بازار تود وي.

76- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ فَاطِمَةَ عَنْ أَسْمَاءَ قَالَتْ أَتَيْتُ عَائِشَةَ وَهِيَ تُصَلِّي فَقُلْتُ مَا شَأْنُ النَّاسِ فَأَشَارَتْ إِلَى السَّمَاءِ، فَإِذَا النَّاسُ قِيَامٌ، فَقَالَتْ سُبْحَانَ الله. قُلْتُ آيَةٌ فَأَشَارَتْ بِرَأْسِهَا، أَىْ نَعَمْ، فَقُمْتُ حَتَّى تَجَلاَّنِي الْغَشْىُ، فَجَعَلْتُ أَصُبُّ عَلَى رَأْسِي الْمَاءَ، فَحَمِدَ الله عَزَّ وَجَلَّ النَّبِيُّ صلى الله

عليه و سلم وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ "مَا مِنْ شَيْءٍ لَمْ أَكُنْ أُرِيتُهُ إِلاَّ رَأَيْتُهُ فِي مَقَامِي حَتَّى الْجَنَّةَ وَالنَّارَ، فَأُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّكُمْ تُفْتَنُونَ فِي قُبُورِكُمْ، مِثْلَ- أَوْ قَرِيبًا لاَ أَدْرِي أَيَّ ذَلِكَ قَالَتْ أَسْمَاءُ- مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، يُقَالُ مَا عِلْمُكَ بِهَذَا الرَّجُلِ فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ- أَوِ الْمُوقِنُ لاَ أَدْرِي بِأَيِّهِمَا قَالَتْ أَسْمَاءُ- فَيَقُولُ هُوَ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ جَاءَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى، فَأَجَبْنَا وَاتَّبَعْنَا، هُوَ مُحَمَّدٌ. ثَلاَثًا، فَيُقَالُ نَمْ صَالِحًا، قَدْ عَلِمْنَا إِنْ كُنْتَ لَمُوقِنًا بِهِ، وَأَمَّا الْمُنَافِقُ- أَوِ الْمُرْتَابُ لاَ أَدْرِي أَيَّ ذَلِكَ قَالَتْ أَسْمَاءُ- فَيَقُولُ لاَ أَدْرِي، سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ شَيْئًا فَقُلْتُهُ".
(بخاري:86)

٧٦- له اسماء بنت ابوبكر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: عائشې رضي الله عنها ته ورغلم، هغې لمونځ کاوو، ومي ويل: په خلکو څه شوي؟ عائشې رضي الله عنها آسمان ته اشاره وکړه (دا ئې راوښودل چي لمر نيول شوی) او ومي ليدل چي خلک پر لمانځه ولاړ دي؟ عائشې رضي الله عنها وويل: سبحان الله پاکي ده الله لره)، ما (اسماء) وويل: آيا دا (کسوف) يوه نښه ده (د قيامت د نژدېوالي يا د الهي عذاب د نازلېدو)؟ عائشې د سر په اشارې سره راته وويل: هو؛ اسماء رضي الله عنها وايي: بيا لمانځه ته پاڅېدم، تر هغه چي بې سيکه شوم، نو پر سر مي اوبه واچولې، رسول الله صلى الله عليه و سلم د الله تعالى له حمد او ثناء وروسته وفرمايل: (ټول هغه شيان چي تر اوسه پورې نه وو راښودل شوي، اوس مي په همدې ځای کي وليدل، حتى جنت او دوزخ مي هم وليدل، وحي راته وشوه

چې تاسي به په خپلو قبرونو کې داسي آزمويل کېږئ، (راوي وايي نه پوهېږم چې دلته اسماء رضي الله عنها د مثل لفظ ووايو او که د قريب)، لکه په مسيح دجال چې آزمويل کېږئ، درته وبه ويل شي: دا شخص (محمد صلى الله عليه و سلم پېژنې؟ مؤمن يا موقن (يقين لرونکى) به وايي: (راوي وايي نه پوهېږم اسماء رضي الله عنها کوم لفظ مؤمن که موقن استعمال کړ)، دا محمد د الله تعالى رسول دئ، موږ ته ئې څرګند دليل او د هدايت اسباب راوړي، موږ ئې بلني ته مثبت ځواب ووايو، د ده متابعت مو وکړ، دا محمد دئ (درې ځله به ووايي)، نو دې کس ته به وويل شي: په آرامه ويده شه، موږ پوهېدو چې ته په دې شيانو باور لرې. خو منافق يا شک لرونکى (مرتاب) (دلته هم د راوي شک دئ چې اسماء رضي الله عنها کوم لفظ استعمال کړى) به د هغي پوښتنې په ځواب کي وايي: زه نه پوهېږم، له خلکو مي اورېدل چې څه وايي، ما به هم ويل).

تکرار: دا روايت په بخاري کي لس ځلي نور په دغو شمېرو راغلى: **184، 922،** 1053، **1054، 1061، 1235، 1373، 2519، 2520، 7287**

توپير: په ځينو کي وَالنَّاسُ يُصَلُّونَ راغلي او په ځينو کي نه دي راغلي، په ځينو کي دا الفاظ شته وَإِلَى جَنْبِى قِرْبَةٌ فِيهَا مَاءٌ فَفَتَحْتُهَا او په ځينو کي نشته، په ځينو کي داسي ويل شوي وَقَدْ تَجَلَّتِ الشَّمْسُ، فَخَطَبَ النَّاسَ خو په نورو کي نشته، په يوه کي داسي ويل شوي قَالَتْ وَلَغِطَ

نِسْوَةٌ مِنَ الأَنْصَارِ، فَانْكَفَأْتُ إِلَيْهِنَّ لأُسَكِّتَهُنَّ فَقُلْتُ لِعَائِشَةَ مَا قَالَ قَالَتْ قَالَ: اسماء وويل: د انصارو ځينو ښځو ځوږ جوړ کړ ورغلم چي چوپي ئې کړم بيا مي عائشې ته وويل: (رسول الله صلى الله عليه و سلم) څه وويل؟ هغې راته وويل چي داسي ئې وويل... خو په نورو کي اسماء په خپله وايي چي پيغمبر عليه السلام داسي وويل. په ځينو کي ويل شوي فَآمَنَّا وَأَجَبْنَا وَاتَّبَعْنَا وَصَدَّقْنَا خو په نورو کي يوازي فَأَجَبْنَا وَاتَّبَعْنَا ويل شوي. په ځينو کي داسي ويل شوي حِينَ خَسَفَتِ الشَّمْسُ خو په ځينو کي دا خبره نه ده شوې، په ځينو کي داسي ويل شوي مَا لِلنَّاسِ او په ځينو کي ما شَأْنُ النَّاسِ.

د ټولو الفاظو ته په پام سره ويلى شو چي تر ټولو جامع ئې 922روايت دئ چي په هغه کي اسماء رضي الله عنها وايي: د انصارو ځينو ښځو ځوږ جوړ کړ، ورغلم چي چوپي ئې کړم بيا مي عائشې ته وويل: (رسول الله صلى الله عليه و سلم) څه وويل؟ هغې راته وويل چي داسي ئې وويل...

خو دې ته مو بايد پام وي چي له دې روايت معلومېږي چي پيغمبر عليه السلام تر دې د مخه جنت او دوزخ نه وو ليدلي، نو د هغه روايت معنى څه ده چي پيغمبر عليه السلام د معراج په سفر کي جنت او دوزخ ليدلي؟! ځکه د معراج اړوند روايت تر دې ډېر کلونه د مخه دئ، هغه په مکه کي او دا په مدينه کي ويل شوى. إن شاء الله دا به د هغه روايت په شرح کي څېړو. دلته دومره ويلى شو چي يو د رؤيا ليدنه ده او بل په ويښه خو د وحي او تمثيل په بڼي کي.

دا روايت ښيي چې په قبر کې به د پيغمبر عليه السلام د رسالت په اړه پوښتنه کيږي. مؤمنان به وايي: موږ ايمان پرې راوړی او د ده متابعت مو کړی او منافقان به وايي: موږ همغه څه ويلي چې خلکو ويل!!

۱۷- باب: د مشکل د حل لپاره سفر کول

۷۷- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَبُو الْحَسَنِ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ قَالَ أَخْبَرَنَا عُمَرُ بْنُ سَعِيدِ بْنِ أَبِي حُسَيْنٍ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ أَنَّهُ تَزَوَّجَ ابْنَةً لأَبِي إِهَابِ بْنِ عَزِيزٍ، فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ إِنِّي قَدْ أَرْضَعْتُ عُقْبَةَ وَالَّتِي تَزَوَّجَ بِهَا. فَقَالَ لَهَا عُقْبَةُ مَا أَعْلَمُ أَنَّكِ أَرْضَعْتِنِي وَلاَ أَخْبَرْتِنِي. فَرَكِبَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم بِالْمَدِينَةِ فَسَأَلَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "كَيْفَ وَقَدْ قِيلَ". فَفَارَقَهَا عُقْبَةُ، وَنَكَحَتْ زَوْجًا غَيْرَهُ. (بخاري:88)

۷۷- له عقبه بن حارث رضي الله عنه روايت دئ چې وايي د ابو اهاب بن عزيز له يوې لور سره ئې واده وکړ، وروسته يوه ښځه ورته راغله وئې ويل چې ما عقبه او هغي ښځي ته چې ده واده ورسره کړی شيدې ورکړې دي، عقبه ورته وويل: زه نه پوهيږم چې تا دي شيدې راکړې وي او نه دي د دې خبر راکړی دئ، نو سپور شو او په مدينه منوره کي د رسول الله صلى الله عليه و سلم حضور ته ورغی او د مسئلې په اړه ئې پوښتنه ترې وکړه، رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: (په داسي حال کي چې دا خبره شوې ده نو څنګه دا کار کوې؟) نو عقبه هغه ښځه

پرېښوده او هغې بيا له بل چا سره واده وکړ.

تکرار: 2052، 2640، 2659، 2660، 5104

توپير: په يوه کي دا الفاظ أَنَّ امْرَأَةً سَوْدَاءَ جَاءَتْ، فَزَعَمَتْ أَنَّهَا أَرْضَعَتْهُمَا او په بل کي دا فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ قَدْ أَرْضَعْتُ عُقْبَةَ وَالَّتِي تَزَوَّجَ، په يوه کي دا قَالَ فَتَنَحَّيْتُ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ قَالَ "وَكَيْفَ وَقَدْ زَعَمَتْ أَنْ قَدْ أَرْضَعَتْكُمَا". فَنَهَاهُ عَنْهَا او په بل کي دا فَقَالَتْ لِي إِنِّي قَدْ أَرْضَعْتُكُمَا. وَهْيَ كَاذِبَةٌ فَأَعْرَضَ، فَأَتَيْتُهُ مِنْ قِبَلِ وَجْهِهِ، قُلْتُ إِنَّهَا كَاذِبَةٌ. قَالَ "كَيْفَ بِهَا وَقَدْ زَعَمَتْ أَنَّهَا قَدْ أَرْضَعَتْكُمَا، دَعْهَا عَنْكَ: ما ته ئې وويل: تاسو دواړو ته مي تى درکړى خو دا دروغجنه ده، نو (رسول الله صلى الله عليه و سلم) له ما مخ واړاوو، بيا ئې مخي ته راغلم او ومي ويل: دا دروغجنه ده، وئې فرمايل: څنګه به درواغ وايي حال دا چې ګمان کوي تاسو ته ئې حتماً تى درکړى؟ دا پرېږده.

که د دغو رواياتو الفاظو ته ځير شو نو راته جوته کيږي چې 5104 روايت تر ټولو جامع دئ.

١٨- باب: په زده کړه کي نوبت

٧٨- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ ح قَالَ أَبُو عَبْدِ اللهِ وَقَالَ ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي ثَوْرٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ عَنْ عُمَرَ قَالَ كُنْتُ أَنَا وَجَارٌ لِي مِنَ الأَنْصَارِ فِي بَنِي أُمَيَّةَ بْنِ زَيْدٍ، وَهْيَ مِنْ عَوَالِي الْمَدِينَةِ، وَكُنَّا نَتَنَاوَبُ النُّزُولَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم يَنْزِلُ يَوْمًا

وَأَنْزِلُ يَوْمًا، فَإِذَا نَزَلْتُ جِئْتُهُ بِخَبَرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ مِنَ الْوَحْيِ وَغَيْرِهِ، وَإِذَا نَزَلَ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ، فَنَزَلَ صَاحِبِي الأَنْصَارِيُّ يَوْمَ نَوْبَتِهِ، فَضَرَبَ بَابِي ضَرْبًا شَدِيدًا. فَقَالَ أَثَمَّ هُوَ فَفَزِعْتُ فَخَرَجْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ قَدْ حَدَثَ أَمْرٌ عَظِيمٌ. قَالَ فَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَإِذَا هِيَ تَبْكِي فَقُلْتُ طَلَّقَكُنَّ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم قَالَتْ لاَ أَدْرِى. ثُمَّ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقُلْتُ وَأَنَا قَائِمٌ أَطَلَّقْتَ نِسَاءَكَ قَالَ "لاَ". فَقُلْتُ اللهُ أَكْبَرُ. (بخاري:89)

۷۸- له عمر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: ما او زما يوه انصاري ګاونډي چي د بني اميه بن زيد د قبيلې وو چي د عوالي په نامه يادېدله، (عوالي ځکه ورته ويل کېدو چي د مدينې په برنۍ برخي کي پرته وه)، د رسول الله صلى الله عليه و سلم حضور ته د ورتلو لپاره نوبت ټاکلی وو، يوه ورځ به هغه ورتلو او بله ورځ به زه ورتلم، کله چي به زه ورغلم نو خپل ګاونډي ته به مي د هغي ورځي د وحي او نورو مسائلو خبر ورورې؛ او کله چي به هغه ورغی نو هغه به همداسي وکړل، نو يوه ورځ زما همدا انصاري ملګری پخپل وار ورغلی وو، نو زما د کور دروازه ئې په زوره وټکوله او وئې ويل: فلانی شته؟ زه وارخطا شوم او ورووتلم، نو راته وئې ويل: لويه پېښه شوې ده. عمر رضي الله عنه وايي: زه حفصې رضي الله عنها ته ورغلم (حفصه د عمر رضي الله عنه لور او د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمن وه)، ومي ليدل چي هغه ژاړي، ورته ومي ويل: آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم تاسو ته طلاق درکړی؟

هغي راته وويل: نه يم خبره، بيا د رسول الله صلى الله عليه و سلم حضور ته ورغلم؛ او په داسي حال کي چي ولاړ وم ومي ويل: آيا خپلي مېرمني دي طلاقي کړې دي؟ وئې فرمايل: (نه)، نو ما وويل: الله اکبر!

تکرار: 2468، 4913، 4914، 4915، 5191، 5218، 5843، 7256، 7263

توپير: په دې روياتو کي ښه ډېر توپيرونه شته، ما دوه تري غوره کړي چي دوهم ئې دا دئ:

حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي ثَوْرٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ- رضي الله عنهما- قَالَ لَمْ أَزَلْ حَرِيصًا أَنْ أَسْأَلَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ عَنِ الْمَرْأَتَيْنِ مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم اللَّتَيْنِ قَالَ اللهُ تَعَالَى (إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا) حَتَّى حَجَّ وَحَجَجْتُ مَعَهُ، وَعَدَلَ وَعَدَلْتُ مَعَهُ بِإداوَةٍ، فَتَبَرَّزَ، ثُمَّ جَاءَ فَسَكَبْتُ عَلَى يَدَيْهِ مِنْهَا فَتَوَضَّأَ فَقُلْتُ لَهُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ مَنِ الْمَرْأَتَانِ مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم اللَّتَانِ قَالَ اللهُ تَعَالَى (إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا) قَالَ وَاعَجَبًا لَكَ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ، هُمَا عَائِشَةُ وَحَفْصَةُ. ثُمَّ اسْتَقْبَلَ عُمَرُ الْحَدِيثَ يَسُوقُهُ قَالَ كُنْتُ أَنَا وَجَارٌ لِي مِنَ الأَنْصَارِ فِي بَنِي أُمَيَّةَ بْنِ زَيْدٍ، وَهُمْ مِنْ عَوَالِي الْمَدِينَةِ، وَكُنَّا نَتَنَاوَبُ النُّزُولَ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَيَنْزِلُ يَوْمًا وَأَنْزِلُ يَوْمًا، فَإِذَا نَزَلْتُ جِئْتُهُ بِمَا حَدَثَ مِنْ خَبَرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ مِنَ الْوَحْيِ أَوْ غَيْرِهِ، وَإِذَا نَزَلَ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِكَ، وَكُنَّا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ نَغْلِبُ النِّسَاءَ، فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَى الأَنْصَارِ إِذَا قَوْمٌ تَغْلِبُهُمْ

نِسَاؤُهُمْ، فَطَفِقَ نِسَاؤُنَا يَأْخُذْنَ مِنْ أَدَبِ نِسَاءِ الأَنْصَارِ، فَصَخِبْتُ عَلَى امْرَأَتِي فَرَاجَعَتْنِي فَأَنْكَرْتُ أَنْ تُرَاجِعَنِي قَالَتْ وَلِمَ تُنْكِرُ أَنْ أُرَاجِعَكَ فَوَاللهِ إِنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم لَيُرَاجِعْنَهُ، وَإِنَّ إِحْدَاهُنَّ لَتَهْجُرُهُ الْيَوْمَ حَتَّى اللَّيْلِ. فَأَفْزَعَنِي ذَلِكَ وَقُلْتُ لَهَا وَقَدْ خَابَ مَنْ فَعَلَ ذَلِكَ مِنْهُنَّ. ثُمَّ جَمَعْتُ عَلَيَّ ثِيَابِي فَنَزَلْتُ فَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَقُلْتُ لَهَا أَىْ حَفْصَةُ أَتُغَاضِبُ إِحْدَاكُنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم الْيَوْمَ حَتَّى اللَّيْلِ قَالَتْ نَعَمْ. فَقُلْتُ قَدْ خِبْتِ وَخَسِرْتِ، أَفَتَأْمَنِينَ أَنْ يَغْضَبَ اللهُ لِغَضَبِ رَسُولِهِ صلى الله عليه و سلم فَتَهْلِكِي لاَ تَسْتَكْثِرِى النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم وَلاَ تُرَاجِعِيهِ فِي شَىْءٍ، وَلاَ تَهْجُرِيهِ، وَسَلِينِى مَا بَدَا لَكِ، وَلاَ يَغُرَّنَّكِ أَنْ كَانَتْ جَارَتُكِ أَوْضَأَ مِنْكِ، وَأَحَبَّ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم - يُرِيدُ عَائِشَةَ- قَالَ عُمَرُ وَكُنَّا قَدْ تَحَدَّثْنَا أَنَّ غَسَّانَ تُنْعِلُ الْخَيْلَ لِغَزْوِنَا، فَنَزَلَ صَاحِبِي الأَنْصَارِيُّ يَوْمَ نَوْبَتِهِ، فَرَجَعَ إِلَيْنَا عِشَاءً فَضَرَبَ بَابِي ضَرْبًا شَدِيدًا وَقَالَ أَثَمَّ هُوَ فَفَزِعْتُ فَخَرَجْتُ إِلَيْهِ، فَقَالَ قَدْ حَدَثَ الْيَوْمَ أَمْرٌ عَظِيمٌ. قُلْتُ مَا هُوَ، أَجَاءَ غَسَّانُ قَالَ لاَ بَلْ أَعْظَمُ مِنْ ذَلِكَ وَأَهْوَلُ، طَلَّقَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم نِسَاءَهُ. فَقُلْتُ خَابَتْ حَفْصَةُ وَخَسِرَتْ، قَدْ كُنْتُ أَظُنُّ هَذَا يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ، فَجَمَعْتُ عَلَيَّ ثِيَابِي فَصَلَّيْتُ صَلاَةَ الْفَجْرِ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَدَخَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم مَشْرُبَةً لَهُ، فَاعْتَزَلَ فِيهَا، وَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَإِذَا هِيَ تَبْكِي فَقُلْتُ مَا يُبْكِيكِ أَلَمْ أَكُنْ حَذَّرْتُكِ هَذَا أَطَلَّقَكُنَّ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم قَالَتْ لاَ أَدْرِى هَا هُوَ ذَا مُعْتَزِلٌ فِي الْمَشْرُبَةِ. فَخَرَجْتُ فَجِئْتُ إِلَى الْمِنْبَرِ فَإِذَا حَوْلَهُ رَهْطٌ يَبْكِي

بَعْضُهُمْ، فَجَلَسْتُ مَعَهُمْ قَلِيلاً ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَجِدُ، فَجِئْتُ الْمَشْرُبَةَ الَّتِي فِيهَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَقُلْتُ لِغُلاَمٍ لَهُ أَسْوَدَ اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ. فَدَخَلَ الْغُلاَمُ فَكَلَّمَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ كَلَّمْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم وَذَكَرْتُكَ لَهُ، فَصَمَتَ. فَانْصَرَفْتُ حَتَّى جَلَسْتُ مَعَ الرَّهْطِ الَّذِينَ عِنْدَ الْمِنْبَرِ، ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَجِدُ فَجِئْتُ فَقُلْتُ لِلْغُلاَمِ اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ. فَدَخَلَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ قَدْ ذَكَرْتُكَ لَهُ فَصَمَتَ. فَرَجَعْتُ فَجَلَسْتُ مَعَ الرَّهْطِ الَّذِينَ عِنْدَ الْمِنْبَرِ، ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَجِدُ فَجِئْتُ الْغُلاَمَ فَقُلْتُ اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ. فَدَخَلَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَيَّ فَقَالَ قَدْ ذَكَرْتُكَ لَهُ فَصَمَتَ. فَلَمَّا وَلَّيْتُ مُنْصَرِفًا- قَالَ- إِذَا الْغُلاَمُ يَدْعُونِى فَقَالَ قَدْ أَذِنَ لَكَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فَإِذَا هُوَ مُضْطَجِعٌ عَلَى رِمَالِ حَصِيرٍ، لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ فِرَاشٌ، قَدْ أَثَّرَ الرِّمَالُ بِجَنْبِهِ مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ ثُمَّ قُلْتُ وَأَنَا قَائِمٌ يَا رَسُولَ الله أَطَلَّقْتَ نِسَاءَكَ. فَرَفَعَ إِلَيَّ بَصَرَهُ فَقَالَ "لاَ". فَقُلْتُ الله أَكْبَرُ. ثُمَّ قُلْتُ وَأَنَا قَائِمٌ أَسْتَأْنِسُ يَا رَسُولَ الله لَوْ رَأَيْتَنِى، وَكُنَّا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ نَغْلِبُ النِّسَاءَ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ إِذَا قَوْمٌ تَغْلِبُهُمْ نِسَاؤُهُمْ، فَتَبَسَّمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم ثُمَّ قُلْتُ يَا رَسُولَ الله لَوْ رَأَيْتَنِى وَدَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَقُلْتُ لَهَا لاَ يَغُرَّنَّكِ أَنْ كَانَتْ جَارَتُكِ أَوْضَأَ مِنْكِ وَأَحَبَّ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم يُرِيدُ عَائِشَةَ فَتَبَسَّمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم تَبَسُّمَةً أُخْرَى، فَجَلَسْتُ حِينَ رَأَيْتُهُ تَبَسَّمَ، فَرَفَعْتُ بَصَرِى فِي بَيْتِهِ، فَوَالله مَا رَأَيْتُ فِي بَيْتِهِ شَيْئًا يَرُدُّ الْبَصَرَ غَيْرَ أَهَبَةٍ ثَلاَثَةٍ، فَقُلْتُ يَا رَسُولَ الله ادْعُ الله فَلْيُوَسِّعْ عَلَى أُمَّتِكَ، فَإِنَّ فَارِسًا وَالرُّومَ قَدْ

وُسِّعَ عَلَيْهِمْ، وَأُعْطُوا الدُّنْيَا وَهُمْ لاَ يَعْبُدُونَ الله. فَجَلَسَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم وَكَانَ مُتَّكِئًا. فَقَالَ "أَوَفِي هَذَا أَنْتَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ، إِنَّ أُولَئِكَ قَوْمٌ عُجِّلُوا طَيِّبَاتِهِمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا". فَقُلْتُ يَا رَسُولَ الله اسْتَغْفِرْ لِي. فَاعْتَزَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم نِسَاءَهُ مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ الْحَدِيثِ حِينَ أَفْشَتْهُ حَفْصَةُ إِلَى عَائِشَةَ تِسْعًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً وَكَانَ قَالَ "مَا أَنَا بِدَاخِلٍ عَلَيْهِنَّ شَهْرًا". مِنْ شِدَّةِ مَوْجِدَتِهِ عَلَيْهِنَّ حِينَ عَاتَبَهُ الله، فَلَمَّا مَضَتْ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ لَيْلَةً دَخَلَ عَلَى عَائِشَةَ فَبَدَأَ بِهَا فَقَالَتْ لَهُ عَائِشَةُ يَا رَسُولَ الله إِنَّكَ كُنْتَ قَدْ أَقْسَمْتَ أَنْ لاَ تَدْخُلَ عَلَيْنَا شَهْرًا، وَإِنَّمَا أَصْبَحْتَ مِنْ تِسْعٍ وَعِشْرِينَ لَيْلَةً أَعُدُّهَا عَدًّا. فَقَالَ "الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ". فَكَانَ ذَلِكَ الشَّهْرُ تِسْعًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً. قَالَتْ عَائِشَةُ ثُمَّ أَنْزَلَ الله تَعَالَى آيَةَ التَّخْيُّرِ فَبَدَأَ بِي أَوَّلَ امْرَأَةٍ مِنْ نِسَائِهِ فَاخْتَرْتُهُ، ثُمَّ خَيَّرَ نِسَاءَهُ كُلَّهُنَّ فَقُلْنَ مِثْلَ مَا قَالَتْ عَائِشَةُ. (بخاري: 5191)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: تل مي دا تلوسه وه چي له عمر بن الخطاب د رسول الله صلى الله عليه و سلم د هغو دوو مېرمنو په اړه پوښتنه وکړم چي الله تعالى د هغوى په اړه فرمايي: (إِنْ تَتُوبَا إِلَى الله فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا: كه تاسو دواړه توبه وکړئ (درته غوره ده)، يقيناً چي ستاسو زړونه کاږه شوي)، تر هغه چي حج ته ولاړ او زه هم ورسره حج ته ولاړم، يو ځاى دى هم له لاري يوې خوا ته کوږ شو او زه هم ورسره کوږ شوم، د اوبو له لوښي سره، هغه صحرا ته ولاړ بيا چي ببرته راغى پر لاسونو مي اوبه تړې ورتوى کړې، اودس ئې پرې وکړ نو

ورته ومي ويل: اې اميرالمؤمنين! د رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه دوه مېرمني کومي دي چې الله تعالى د هغوى په اړه فرمايي: (إِنْ تَتُوبَا إِلَى الله فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا)؟ وئې ويل: اې ابن عباس! تا ته حيرانتيا ده! دوى عائشه او حفصه وې، بيا عمر خبره مخکې ښوله او وئې ويل: زه او زما يو ګاونډى چې د انصارو د بني اميه بن زيد له قبيلې وو او دا د مديني له قبيلو يوه قبيله وه، مونږ دواړو د رسول الله صلى الله عليه و سلم حضور ته د ورتلو لپاره نوبت ټاکلى وو، يوه ورځ به هغه ورتلو او بله ورځ به زه ورتلم، کله چې به زه ورغلم نو خپل ګاونډي ته به مي د هغې ورځې د وحي او نورو مسائلو خبر ورورِ؛ او کله چې به هغه ورغى نو هغه به همداسي وکړل، مونږ قريش پر خپلو مېرمنو برلاسي وو، کله چې انصارو ته راغلو دوى داسي ول چې مېرمني ئې پرې غالبي وې، نو ورو ورو زمونږ مېرمنو د انصارو د مېرمنو خصلتونه خپلول، يو ځل مي پر خپلې مېرمني چيغه کړه، هغې همداسي ځواب راکړ؛ نو د دې ځواب راباندي بد ولګېدو، هغې وويل: ولې زما ځواب درباندي بد ولګېدو؟! په خداى قسم چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمني هغه ته همداسي ځواب ورګرځوي، ځيني ئې يوه ورځ حتى شپه تر لرې پاته کېږي، دې خبرې ووېرولم او ورته ومي ويل: له دوى چې هر څوك دا کار کوي تباه شوه، بيا مي جامي راغونډي کړې، راکوز شوم او حفصې ته ورغلم؛ او ومي پوښتله: آيا تاسو له رسول الله صلى الله عليه و سلم مروري کېږئ، يوه ورځ حتى تر شپې

پوري؟! وئې ويل: هو؛ ورته ومي ويل: يقيناً تباه او تاواني شوې، آيا د دې پروا نه کوئ چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د غضب له وجهي الله تعالى پر تاسو غضب نازل کړي او هلاکي شئ؟! مه له رسول الله صلى الله عليه و سلم زياتي غوښتني کوه، مه ځواب ورګرځوه او مه ترې مروره کېږه، څه چې دي زړه غواړي له ما ئې وغواړه، دا دي تا ونه غولوي چې ګاونډی (بن) دي تر تا ښايسته او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ګرانه ده، (مراد ئې عائشه رضي الله عنها وه)، عمر رضي الله عنه وايي: موږ د غسان په اړه خبري کولې چې خپل آسونه ئې زموږ لپاره تيارول (د برید تیاری ئې نیولو)، يوه ورځ زما همدا انصاري ملګری پخپل وار (رسول الله صلى الله عليه و سلم) ته ورغلی وو، ماخستن راوګرځېدو، نو زما د کور دروازه ئې په زوره وټکوله او وئې ويل: فلانی شته؟ زه وارخطا شوم او ورووتلم، نو راته وئې ويل: لويه پېښه شوې ده. ما ورته وويل: هغه څه دي؟ آيا غسانيان راغلي؟ وئې ويل: نه؛ تر دې هم ستر او هيبتناك! رسول الله صلى الله عليه و سلم خپلي مېرمني طلاقي کړې دي، ومي ويل: حفصه تباه او هلاکه شوه، ما همداسي ګمان کاوو چې دا کار به وشي، نو جامې مي پر ځان برابري کړې او د سحر لمونځ مي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره وکړ، بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپل کور د دروازې پر سر خوني ته ننوت، په هغې کي ګوښی پاته شو، زه حفصې رضي الله عنها ته ورغلم (حفصه د عمر رضي الله عنه لور او د

رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمن وه)، ومي ليدل چې هغه ژاړي، ومي ويل: ولي ژاړې، آيا له دې مي نه وې وېرولې؟ آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم تاسو ته طلاق درکړی؟ هغې راته وويل: نه يم خبره، هغه دئ په خپلي خوني کي گوښه شوی، بيا راووتم او د منبر خوا ته راغلم، گورم چې په خوا کي ئې يوه ډله راغونډه ده او ځيني ئې ژاړي، لنډه شېبه ورسره کښېنستم، زړه مي طاقت ونه کړ، بيا هغي خوني ته راغلم چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په کي وو، د ده تورپوستي خادم ته مي وويل: د عمر لپاره اجازه وغواړه، هغه ورغی، له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ئې خبره وکړه او بېرته راغی او راته وئې ويل: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مي خبره وکړه او ستا يادونه مي وکړه خو څه ئې ونه ويل، تر شا شوم او د منبر خوا ته ټولگي ته راغلم، بيا مي زړه طاقت ونه کړ، خادم ته راغلم او ومي ويل: د عمر لپاره اجازه وغواړه، ننوت، بېرته راغی او وئې ويل: ورته ياد مي کړې خو څه ئې ونه ويل، د منبر خوا ته ټولگي ته راغلم، بيا مي زړه طاقت ونه کړ، خادم ته راغلم او ومي ويل: د عمر لپاره اجازه وغواړه، ننوت، بېرته راغی او وئې ويل: ورته ياد مي کړې خو څه ئې ونه ويل، نو راستون شوم خو ناڅاپه خادم راغږ کړل او وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم اجازه درکړه، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغلم که گورم چې هغه په اوبدل شوي پوزي باندي ډډه لگولې چې د ده او پوزي تر منځ کوم فرش نشته، د پوزي کرښو د ده پر

اړخ نښې پرېښې، د پوستکي پر داسي بالښت ئې تکيه کړې وه چې د خرما له پوسته ډك وو، بيا مي سلام پرې واچاوو او په داسي حال کي چې ولاړ وم ومي ويل: يا رسول الله! آيا خپلې مېرمني دي طلاقي کړې دي؟ نو سترګي ئې زما لوري ته رالوړي کړې او وئې فرمايل: (نه)، نو ما وويل: الله اکبر! بيا په داسي حال کي چې لا ولاړ وم ومي ويل: که ئې راته مناسبه ګڼې څو خبري درسره کوم، مور قريش پر خپلو مېرمنو برلاسي وو، کله چې انصارو ته راغلو دوی داسي ول چې مېرمني ئې پرې غالبي وې، رسول الله صلى الله عليه و سلم تبسم وکړ، بيا مي وويل: يا رسول الله! که ئې راته مناسبه ګڼې حفصې ته مي وويل: دا دي تا ونه غولوي چې ګاونډۍ دي تر تا ښايسته او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ګرانه ده، مراد ئې عائشه رضي الله عنها وه، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم يو ځل بيا تبسم وکړ، کله چې مي هغه د تبسم په حالت کي وليد نو کښېنستم او سترګي مي د ده په کوټه کي وغړولې، په خداى قسم چې له دريو اومو پوستکو پرته مي بل څه په کي ونه ليدل، (ښايي د اوبو ژي به وو)، نو ومي ويل: يا رسول الله! الله تعالى ته دعاء وکړه چې ستا امت ته ئې پراخه کړي، فارس او روم ته په داسي حال کي پراخي او د دنيا نعمتونه ورکړى شوى چې د الله تعالى عبادت او بندګي نه کوي، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم کښېنستو په داسي حال کي چې تکيه ئې کړې وه او وئې فرمايل: اې ابن خطابه! آيا ته په همدې فکر کي يې؟! دا خو هغه خلك دي چې دا نعمتونه په همدې دنيايي

ژوند کي ژر ورکړی شوو، نو ما وويل: يا رسول الله! ما ته بخښنه وغواړه،....

دلته د بخاري لوستونکي له څو ستونزو سره مخ کيږي:

روايات تر داسي باب او عنوان لاندي تنظيم شوي چي د بخاري لوستونکی ئې يوازي هغه مهال په ټراو پوهيدی شي چي روايت ولولي؛ د باب متن د روايت له يوې ضمني او غير مهمي برخي اخيستل شوی او (په زده کړي کي نوبت) تري جوړ شوی؛ د روايت اصلي او اساسي مهمه موضوع پرېښودل شوې؛ اصلي او ډېره مهمه موضوع د رسول الله صلى الله عليه و سلم خفګان له خپلو دوو مېرمنو ده؛ نه په زده کړي کي نوبت؛ تر دې باب لاندي داسي اوږده او مکرر روايات راوړل نه يوازي موزون نه برېښي بلکي لوستونکي له دې ستونزي سره مخامخ کوي چي که وغواړي په بخاري کي د خفګان اړوند روايات پيدا کړي نو له فهرست ئې نشي موندلی.

همدا راز د دې روايت موضوع د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما له پوښتني سره هيڅ ارتباط نه لري او د ده د پوښتني ځواب په کي نشته، دا موضوع کاملاً بېله موضوع ده، دا له دوو مېرمنو (له عائشه او حفصه رضي الله عنهما)؛ د خفګان اړونده قصه نه ده؛ بلکي له ټولو مېرمنو د يوې مياشتي لپاره د بېلېدو قصه ده او وجه ئې دا وه چي مېرمنو ئې د پيغمبر عليه السلام په ساده ژوند قناعت نه شو کولی او داسي غوښتني ئې درلودې چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې له پوره کولو عاجز وو، په لومړيو کي او د نيستيو پر مهال ئې قناعت کاوو خو وروسته چي د وفرت او

د شتمنيو د ډېروالي زمانه شوه، دوی هم غوښتل د نورو په څېر سوکاله ژوند ولري، دا پر پيغمبر عليه السلام ګرانه تمامېده او د خپل انتظار خلاف ورته معلومېده، په دې اړه آيتونه نازل شول، د پيغمبر عليه السلام بيبياني وګوابنلې شوې، چې که په دې فقيرانه ژوند قناعت نشئ کولی راشئ چې پيغمبر عليه السلام طلاق درکړي. په روايت کي حفصې رضي الله عنها ته د عمر رضي الله عنه دا وينا چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم زياتي غوښتني مه کوه ښيي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د خفګان وجه همدا وه.

د پورتني روايت په اړه دا وينا هم ضروري ده چې دا ډېر ښکلی، په زړه پوري او اغېزناك روايت دئ او ډېري مهمي او ارزښتناکي لارښووني لري، په دې روايت کي د تحقيق په دوران کي ما د عمر رضي الله عنه د هغې وينا په اړه تبسم کړی چې پيغمبر عليه السلام پرې موسکی شوی او هغې وينا ئې زما اوښکي بهولې دي چې د پيغمبر عليه السلام د ژوند فقيرانه حالت ئې انځور کړی، له دغه روايت معلومېږي چې عمر رضي الله عنه څومره مدبر، حکيم او ستر شخصيت وو، د پيغمبر عليه السلام په اړه ئې څومره درناوی، احترام، مينه او زړه سوی درلود، د هغو پېښو په اړه څومره حساس وو چې اسلام ته ئې تاوان رساوو.

دا روايت بايد تر داسي جالب عنوان لاندي تنظيم شوی وی چې د بخاري هر لوستونکي د بابونو فهرست په ليدلو سره تشويق شوی وی چې دا روايت ژر ولولي او که په دې مهمي موضوع د پوهېدو لپاره ئې بخاري ته مراجعه کړې

وه نو ژر ئې موندلې وی. تاسو به دا ستونزه د بخاري د نورو بابونو په تنظیم کي هم ومومئ؛ په دې اړه ترمذي تر بخاري ډېر غوره دئ.

بل روایت داسي دئ چي پیغمبر علیه السلام یو مازدیګر د خپلي مېرمني زینب بنت جحش په کور کي تر معمول زیات ځنډ وکړ، هغې ورته د شاتو شربت جوړ کړ، عائشه رضي الله عنها وایي چي ما ته په دې باندي رشك راغی، نو د رسول الله صلی الله علیه و سلم له نورو مېرمنو حفصه، سوده او صفیه رضي الله عنهن سره مي دا خبره جوړه کړه چي کله هره یوه له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره مخامخ شي ودي وایي چي له تا د مغافیر ګل بوی راځي (دا یو ګل دئ چي بوی ئې ښکلی نه دئ، کله چي د شاتو موچۍ له دې ګل شات جوړ کړي هغه هم ښه بوی نه لري)، دوی پوهېدلې چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په داسي مواردو کي ډېر حساس دئ، د دوی تدبیر خپل کار وکړ، کله چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د یوې او بلي له لوري دا خبره واورېده نو د دغه شات د نه خوړلو وینا ئې تر خولې ووته، په ځینو روایاتو کي راغلي چي لوړه ئې وکړه او په ځینو کي دا چي کلکه ژمنه ئې وکړه، خو په دې روایت کي هم دا پوښتنه راولاړېږي چي قرآن د دوو مېرمنو یادونه کوي نه د دریو یا ټولو، په دې روایت کي خو د څلورو مېرمنو یادونه شوې ده.

یو بل روایت هم دئ چي وایي پیغمبر علیه السلام د حدیبیې له صلحي وروسته د نورو مشرانو او زعماءو په ضمن کي مقوقیس د اسکندریې مشر ته هم یو لیك ولېږو،

حاطب بن ابي بلتعه دا ليك ورساوو، خو هغه كه څه هم اسلام ونه مانو خو د رسول الله صلى الله عليه و سلم د ليك په ځواب كي ئې وليكل: (زه په دې باور وم چې يو پيغمبر راتلونكى دئ، خو زما گمان دا دئ چې هغه به په شام كي مبعوث كيږي، خو زه ستا د پلاوي درناوى كوم او له هغوى سره دوه د قدر وړ وينځي هم درليږم)، دغو دواړو په لاري كي ايمان راوړ، يوه سيرين نومېده چې پيغمبر عليه السلام هغه د حسان بن ثابت په نكاح كړه او بله ئې ماريه رضي الله عنها ځان ته په نكاح كړه، له دې ابراهيم پيدا شو، دا ډېره ښايسته وه، يو روايت وايي چې عائشې رضي الله عنها د دې په اړه ويلي: پر ما د هيڅ مېرمني راتگ دومره گران نه دئ تمام شوى لكه د ماريه راتگ، ويل كيږي چې يوه ورځ پيغمبر عليه السلام د حفصې په كور كي وو خو هغه هلته نه وه، ماريه رضي الله عنها هلته ورغله او څه وخت ورسره پاته شوه، له دې حفصه خبره شوه، اعتراض ئې وكړ، پيغمبر عليه السلام د حفصې د ارضاء لپاره وويل چې له دې وروسته به له ماريه سره نژدېوالى نه كوي، په ځينو روايتو كي راغلي چې لوړه ئې وكړه او په ځينو كي دا چې هغه ئې پر ځان حرامه كړه.

دا هم نه يوازي له دې كبله د منلو نه دئ چې اكثر محدثين ئې ضعيف گڼي بلكي له دې پلوه هم چې دلته خو يوازي د حفصې يادونه شوې حال دا چې عبدالله بن عباس د دوو مېرمنو اړوند آيت وضاحت غوښتى. همدا راز د دې روايت الفاظ، محتوى او موضوع داسي ده چې د نقل او اعتبار وړ نه بريښي.

د عمر رضي الله عنه وينا ته په پام سره ويلی شو چې دا دوه مېرمني حفصه رضي الله عنها او عائشه رضي الله عنها وې، دوی دواړو د زينب بنت جحش رضي الله عنها په خلاف هغه خبره جوړه کړې وه، پرته له دې چې نوري بيبياني پرې خبري کړي، لومړی عائشې رضي الله عنها دا خبره ورته کړې چې د مغافير بوی راځي او بيا حفصې رضي الله عنها، پيغمبر عليه السلام د حفصې په وړاندي دا خبره کړې چې نور به د زينب په کور کې دا شات ونه خورم، خو هغې ته ئې ويلي چې دا خبره بل چا ته ونه کړي، هغې دا خبره عائشې رضي الله عنه ته کړې، پيغمبر عليه السلام په دې دواړو خبرو پوه شوی، هم له دې چې دوی دواړو داسي چل جوړ کړی وو او هم له دې چې حفصې رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه خبره عائشې ته کړې، خو د دغو دواړو خبرو ئې يوه دوی ته کړې او بله ئې نه ده کړې، د قرآن آيتونه دغې قصې ته اشاره کوي.

خو ای کاش په دې اړه دغه روايات اصلاً نه وی راغلي؛ او خبره همغسي پاته وی لکه قرآن چې په مجملو الفاظو ياده کړې او مزيد وضاحت ئې نه دئ ورکړی، ويل شوی وی چې الله تعالى ښه پوهيږي چې چا دا کار کړی او څه خبره وه، ای کاش د ام سلمه رضي الله عنها په هغي وينا عمل شوی وی چې عمر رضي الله عنه ته ئې وکړه او په روايت کې د عمر رضي الله عنه له قول داسي راغلي: حَتَّى دَخَلْتُ عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ لِقَرَابَتِي مِنْهَا فَكَلَّمْتُهَا. فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ عَجَبًا لَكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ دَخَلْتَ فِي كُلِّ شَىْءٍ، حَتَّى تَبْتَغِى أَنْ

تَدْخُلَ بَيْنَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم وَأَزْوَاجِهِ. فَأَخَذَتْنِى وَالله أَخْذًا كَسَرَتْنِى عَنْ بَعْضِ مَا كُنْتُ أَجِدُ، فَخَرَجْتُ مِنْ عِنْدِهَا: بيا ام سلمه ته ورغلم، د هغي خپلوی له مخي چې ورسره درلوده مي، نو خبري مي ورسره وکړې او هغې راته وويل: حيراني ده تا ته اې ابن خطاب! په ټولو چارو کي مداخله کوې، حتى غواړې د رسول الله صلى الله عليه و سلم او د هغه د مېرمنو تر منځ امورو کي هم مداخله وکړې!! والله داسي سخته نيوکه ئې راباندي وکړه چې مات ئې کړم او له ځينو هغو خبرو ئې تېر کړم چې په زړه کي مي درلودې او تري ووتم. کاش ټولو په دغي حکيمانه او عالمانه وينا عمل کړی وی او د پيغمبر عليه السلام او د هغه د مېرمنو تر منځ امورو کي ئې دومره لاسوهنې نه کولی چې الله تعالى د هغه په اړه څه ويل مناسب نه دي ګڼلي.

له دې روايت د ام سلمه رضي الله عنها پوهه او لوړ شخصيت هم ښه جوتېږي.

په بل روايت کي دا هم راغلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه مهال له خپلو مېرمنو عزلت غوره کړ چې حفصې رضي الله عنها دا خبره عائشې رضي الله عنها ته افشاء کړه، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وويل چې يوه مياشت به دوی ته ورنشم، د هغه خفګان د شدت په وجه چې له دوی ورته پيدا شوی وو، هغه مهال چې الله تعالى پرې عتاب وکړ، کله چې نه ويشت ورځې تېرې شوې؛ د عائشې رضي الله عنها کور ته ورغی او له همدې ئې ورتګ پيل کړ، عائشې رضي الله عنها ورته وويل: لوړه دي کړې

وه چې مور ته به تر يوې مياشتې نه راځې؛ او مور نه ويشت شپې تېرې کړې، په دقت سره مو شمېرلې دي، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: دا مياشت نه ويشت ورځې وه، راوي وايي چې دا مياشت همداسې نه ويشت ورځې وه، عائشه رضي الله عنها وايي چې د تخيير آيت نازل شو (کوم چې په کې راغلي: يا له پيغمبر عليه السلام سره په همدغه حالت قناعت وکړئ او يا ورشئ چې طلاق درکړي، نو له ما ئې پيل کړله او راته وئې فرمايل: زه يوه خبره درته کوم خو تلوار مه کوه او تر هغه ځواب مه راکوه چې له مور پلار سره دي مشوره وکړې، وئې ويل: زه ښه پوهيږم چې مور پلار به مي کله هم له تا د بېلېدو مشوره رانه کړي، بيا ئې وفرمايل: الله تعالى فرمايلي: (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لأَزْوَاجِكَ) إِلَى قَوْلِهِ (عَظِيمًا)، ومي ويل: آيا په دې کې له خپلې مور پلار مشوره وغواړم؟! ما خو يقيناً چې الله تعالى، د هغه رسول او آخرت غوره کړي، بيا ئې خپلو نورو مېرمنو ته همدا تخيير ورکړ او هغوى ټولو همدغه خبره وکړه چې عائشې رضي الله عنها کړې وه. د روايت الفاظ دا دي: فَاعْتَزَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ الْحَدِيثِ حِينَ أَفْشَتْهُ حَفْصَةُ إِلَى عَائِشَةَ، وَكَانَ قَدْ قَالَ "مَا أَنَا بِدَاخِلٍ عَلَيْهِنَّ شَهْرًا". مِنْ شِدَّةِ مَوْجَدَتِهِ عَلَيْهِنَّ حِينَ عَاتَبَهُ الله. فَلَمَّا مَضَتْ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ دَخَلَ عَلَى عَائِشَةَ فَبَدَأَ بِهَا، فَقَالَتْ لَهُ عَائِشَةُ إِنَّكَ أَقْسَمْتَ أَنْ لاَ تَدْخُلَ عَلَيْنَا شَهْرًا، وَإِنَّا أَصْبَحْنَا لِتِسْعٍ وَعِشْرِينَ لَيْلَةً، أَعُدُّهَا عَدًّا. فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ". وَكَانَ ذَلِكَ الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ. قَالَتْ عَائِشَةُ فَأُنْزِلَتْ آيَةُ التَّخْيِيرِ فَبَدَأَ بِى أَوَّلَ

امْرَأَةٍ، فَقَالَ "إِنِّي ذَاكِرٌ لَكِ أَمْرًا، وَلاَ عَلَيْكِ أَنْ لاَ تَعْجَلِي حَتَّى تَسْتَأْمِرِى أَبَوَيْكِ". قَالَتْ قَدْ أَعْلَمُ أَنَّ أَبَوَىَّ لَمْ يَكُونَا يَأْمُرَانِى بِفِرَاقِكَ. ثُمَّ قَالَ "إِنَّ اللهَ قَالَ (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لأَزْوَاجِكَ) إِلَى قَوْلِهِ (عَظِيمًا)". قُلْتُ أَفِي هَذَا أَسْتَأْمِرُ أَبَوَىَّ فَإِنِّي أُرِيدُ اللهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الآخِرَةَ. ثُمَّ خَيَّرَ نِسَاءَهُ، فَقُلْنَ مِثْلَ مَا قَالَتْ عَائِشَةُ.

١٩- باب: د موعظې او ښوونې په وخت کې غصه

٧٩- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ قَالَ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنِ ابْنِ أَبِي خَالِدٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ، لاَ أَكَادُ أُدْرِكُ الصَّلاَةَ مِمَّا يُطَوِّلُ بِنَا فُلاَنٌ، فَمَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم فِي مَوْعِظَةٍ أَشَدَّ غَضَبًا مِنْ يَوْمِئِذٍ فَقَالَ "أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّكُمْ مُنَفِّرُونَ، فَمَنْ صَلَّى بِالنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ، فَإِنَّ فِيهِمُ الْمَرِيضَ وَالضَّعِيفَ وَذَا الْحَاجَةِ". (بخاري:90)

٧٩- له ابو مسعود انصاري رضي الله عنه روايت دئ چې يوه سړي وويل: يا رسول الله! نژدی ده چې لمانځه ته له دې امله حاضر نه شم چې فلانی ئې ډېر راباندي اوږدوي، نو ما هيڅکله رسول الله صلى الله عليه و سلم په هيڅ موعظې کې دومره په غصه کې نه وو ليدلی لکه دغه ورځ، وئې فرمايل: (اې خلکو! تاسو خلک متنفر کوئ، څوک چې خلکو ته لمونځ ورکوي (امامت کوي) نو تخفيف دي کوي، ځکه په دوی کې څوک رنځور، کمزوری او د ضروري کار لرونکی وي).

تكرار: 702، 704، 6110، 7159

توپير: په يوه کي عَنْ صَلاَةِ الْغَدَاةِ او په بل کي يوازي الصَّلاَةَ راغلي، په يوه کي مِمَّا يُطَوِّلُ بِنَا فُلاَنٌ او په بل کي مِنْ أَجْلِ فُلاَنٍ مِمَّا يُطِيلُ بِنَا، په يوه کي إِنَّكُمْ مُنَفِّرُونَ، په بل کي إِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّرِينَ، په يوه کي فَإِنَّ فِيهِمُ الضَّعِيفَ وَالْكَبِيرَ وَذَا الْحَاجَةِ او په بل کي د ضعيف پر ځای الْمَرِيضَ راغلی.

د دغو روایاتو په اړه دومره ویلی شو چې د إِنَّكُمْ مُنَفِّرُونَ الفاظ صحيح نه بريښي، ځکه ټول صحابه منفرين نه وو، هغه روايت ارجح دئ چې د دې الفاظو پر ځای (إِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّرِينَ: له تاسو ځيني منفرين دي) په کي ويل شوي. روايت دا دئ:

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ قَالَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ سَمِعْتُ قَيْسًا قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو مَسْعُودٍ أَنَّ رَجُلاً قَالَ وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي لأَتَأَخَّرُ عَنْ صَلاَةِ الْغَدَاةِ مِنْ أَجْلِ فُلاَنٍ مِمَّا يُطِيلُ بِنَا. فَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم فِي مَوْعِظَةٍ أَشَدَّ غَضَبًا مِنْهُ يَوْمَئِذٍ ثُمَّ قَالَ "إِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّرِينَ، فَأَيُّكُمْ مَا صَلَّى بِالنَّاسِ فَلْيَتَجَوَّزْ، فَإِنَّ فِيهِمُ الضَّعِيفَ وَالْكَبِيرَ وَذَا الْحَاجَةِ". (بخاري: 702)

له ابو مسعود رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: يوه سړي وويل: يا رسول الله! والله چې زه د سحر له لمانځه له دې امله وروسته کيږم چې فلانی ئې راباندي اوږدوي، نو ما رسول الله صلى الله عليه و سلم په هيڅ خطبه کي دومره غصه ناك نه دئ ليدلی لکه په دغه ورځ چې مي وليد، بيا ئې وفرمايل: يقيناً چې له تاسو ځيني منفرين (زړه بدوونکي)

دي، نو هر څوك چې له تاسو خلكو ته لمونځ وركوي لنډوالى دي وكړي، ځكه په دوى كي كمزوري، زاړه او د حاجت خاوندان وي.

٨٠- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلاَلٍ الْمَدِينِيُّ عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ يَزِيدَ مَوْلَى الْمُنْبَعِثِ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم سَأَلَهُ رَجُلٌ عَنِ اللُّقَطَةِ فَقَالَ "اعْرِفْ وِكَاءَهَا- أَوْ قَالَ وِعَاءَهَا- وَعِفَاصَهَا، ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً، ثُمَّ اسْتَمْتِعْ بِهَا، فَإِنْ جَاءَ رَبُّهَا فَأَدِّهَا إِلَيْهِ". قَالَ فَضَالَّةُ الإِبِلِ فَغَضِبَ حَتَّى احْمَرَّتْ وَجْنَتَاهُ- أَوْ قَالَ احْمَرَّ وَجْهُهُ- فَقَالَ "وَمَا لَكَ وَلَهَا مَعَهَا سِقَاؤُهَا وَحِذَاؤُهَا، تَرِدُ الْمَاءَ، وَتَرْعَى الشَّجَرَ، فَذَرْهَا حَتَّى يَلْقَاهَا رَبُّهَا". قَالَ فَضَالَّةُ الْغَنَمِ قَالَ "لَكَ أَوْ لأَخِيكَ أَوْ لِلذِّئْبِ". (بخاري:91)

٨٠- له زيد بن خالد جهني رضي الله عنه روايت دئ چې يوه سړي له رسول الله صلى الله عليه و سلم د لقطه (پيدا شوى څيز) د حكم په اړه پوښتنه وكړه، رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: له مزي او يا پوښ نه ئې وروپيژنه؛ او يو كال ئې پيژندگلوي كوه، وروسته له هغې گټه تري اخله او كه خاوند ئې راغى نو ورته وئې سپاره). هغه سړي وويل: له ورک شوي اوښ سره څه كول په كار دي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم دومره په غصه شو چې بغوري (اننگي) ئې سره شول او يا دا چې مخ ئې سور شو (د راوي شک دئ چې كوم لفظ ويل شوى) او وئې فرمايل: له ورک شوي اوښ سره ستا څه كار، له هغه سره

ئې د اوبو لوښی او څپلۍ شته، اوبه څښي او په ونو کي به څري، نو پرې ئې ږده چي خاوند ئې ومومي). وئې ويل: د ورک شوي پسه څه حکم دئ؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: يا ستا لپاره دئ (که ئې خاوند معلوم نشي) او يا ستا د ورور لپاره (چي خاوند ئې دئ) او يا د لبوه لپاره (که څوک ئې بونه ځي.)

تکرار: 2372، 2427، 2428، 2429، 2436، 2438، 5292، 6112

توپير: په ځينو کي سِقَاؤُهَا وَحِذَاؤُهَا؛ او په ځينو کي الْحِذَاءُ وَالسِّقَاءُ په ځينو کي يَحِدَهَا رَبُّهَا او په ځينو کي يَلْقَاهَا رَبُّهَا په ځينو کي اعْرِفْ وِكَاءَهَا وَعِفَاصَهَا وَعَرِّفْهَا سَنَةً، فَإِنْ جَاءَ مَنْ يَعْرِفُهَا، وَإِلاَّ فَاخْلِطْهَا بِمَالِكَ او په ځينو کي عَرِّفْهَا سَنَةً، ثُمَّ اعْرِفْ وِكَاءَهَا وَعِفَاصَهَا، ثُمَّ اسْتَنْفِقْ بِهَا، فَإِنْ جَاءَ رَبُّهَا فَأَدِّهَا إِلَيْهِ او په ځينو کي عَرِّفْهَا سَنَةً، ثُمَّ اعْرِفْ وِكَاءَهَا وَعِفَاصَهَا، ثُمَّ اسْتَنْفِقْ بِهَا، فَإِنْ جَاءَ رَبُّهَا فَأَدِّهَا إِلَيْهِ او په ځينو کي اعْرِفْ عِفَاصَهَا وَوِكَاءَهَا، ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً، فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا، وَإِلاَّ فَشَأْنَكَ بِهَا او په بل کي عَرِّفْهَا سَنَةً، ثُمَّ احْفَظْ عِفَاصَهَا وَوِكَاءَهَا، فَإِنْ جَاءَ أَحَدٌ يُخْبِرُكَ بِهَا، وَإِلاَّ فَاسْتَنْفِقْهَا او په بل کي، فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَإِلاَّ فَشَأْنَكَ بِهَا او په بل کي اعْرِفْ وِكَاءَهَا- أَوْ قَالَ وِعَاءَهَا- وَعِفَاصَهَا، ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً، ثُمَّ اسْتَمْتِعْ بِهَا راغلي، د معنى او مفهوم له مخي سره ورته دي، خو له دې پلوه توپير لري چي له موندل شوو پيسو سره څه معامله وشي، غوره ئې دا دئ چي وايي: تر يوه کال پوري ئې له

کښوړي، بټوي يا مزي سره وساته، بيا هغه شی کارولی او مصرفولی شې خو کښوړه، بټوه يا مزی ئې وساته، د همدې له مخي ئې خاوند پېژندی شې، که ئې سمه نښه درته وويله نو خپل شی يا عوض ئې ورکړه.

٨١- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاَءِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدٍ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم عَنْ أَشْيَاءَ كَرِهَهَا، فَلَمَّا أُكْثِرَ عَلَيْهِ غَضِبَ، ثُمَّ قَالَ لِلنَّاسِ "سَلُونِى عَمَّا شِئْتُمْ". قَالَ رَجُلٌ مَنْ أَبِي قَالَ "أَبُوكَ حُذَافَةُ". فَقَامَ آخَرُ فَقَالَ مَنْ أَبِي يَا رَسُولَ الله فَقَالَ "أَبُوكَ سَالِمٌ مَوْلَى شَيْبَةَ". فَلَمَّا رَأَى عُمَرُ مَا فِي وَجْهِهِ قَالَ يَا رَسُولَ الله، إِنَّا نَتُوبُ إِلَى الله عَزَّ وَجَلَّ. (بخاري:92)

٨١- له ابو موسى رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: له نبي صلى الله عليه و سلم د داسي شيانو پوښتنه وشوه چې نه ئې خوښېدل، کله چې پوښتني تري ډېري شوې نو غصه شو، بيا ئې وفرمايل: (له هرڅه چې غواړئ رانه وپوښتئ!) يوه سړي وويل: زما پلار څوک دئ؟ وئې فرمايل: (پلار دي حذافه دئ)، يو بل پورته شو او وئې ويل: زما پلار څوک دئ يا رسول الله! وئې فرمايل: (ستا پلار سالم د شيبه آزاد کړی شوی غلام، کله چې عمر رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه و سلم په مخ کې د غصې آثار وليدل وئې ويل: يا رسول الله! مورږ الله تعالى ته توبه کوو.

تکرار: 7291

توپير: په يوه کې سَلُونِى عَمَّا شِئْتُمْ، په بل کې يوازې سَلُونِى، په يوه کې أُكْثِرَ عَلَيْهِ، په بل کې فَلَمَّا أَكْثَرُوا عَلَيْهِ

الْمَسْأَلَةَ، په يوه کي ثُمَّ قَالَ لِلنَّاسِ، په بل کي يوازي وَقَالَ، په يوه کي مِنَ الْغَضَبِ راغلي او په بل کي نه؛

دا روايت د سند له مخي تر ډېر غريب هم اوښتی، په صحابه وو، تابعينود، تبع تابعينو او له دوی وروسته طبقې کي هم يو يو راوي لري؛ او د متن له پلوه داسي دئ چي موضوع ئې د اهميت وړ موضوع نه ده، نه پوهيږو د داسي پوښتنو يادول څه ضروري دي چي پيغمبر عليه السلام هم نه خوښولې؟!! د پيغمبر عليه السلام دنده دا نه وه چي خلکو ته ووايي ستا پلار څه نومېدو او د هغه بل پلار څه، خو که دا د دې لپاره راوړل شوی وي چي ګواکي پيغمبر عليه السلام په غيب پوهېدو نو دا د قرآن له هغې مؤکدي او مکرري وينا سره ژور تعارض او تضاد لري چي وايي له الله تعالی پرته هيڅوک په غيب نه پوهيږي. د دې روايت تر څنګ بايد دا پوښتنه هم ځواب شي چي دا تعارض به څنګه توجيه کوو؟ په يو بل روايت کي دا هم راغلي چي له رسول الله صلی الله عليه و سلم دا پوښتنه هم وشوه چي آيا حج هر کال فرض دئ؟ رسول الله صلی الله عليه و سلم په غصې سره وفرمايل: که مي ويلي وی چي هو؛ نو هر کال به درباندي فرض شوی وو! حال دا چي نه فرض داسي څه دي چي پيغمبر عليه السلام ئې له وحي پرته فرض کړي او نه پيغمبر عليه السلام داسي څوک دئ چي له وحي پرته حکم وکړي او هغه هم د غصې په حالت کي. پيغمبر عليه السلام د حلال او حرام او فرائضو واضع نه بلکي شارح دئ، قوانين د الله تعالی له لوري نازل شوي، د پيغمبر عليه السلام دنده د دغو قوانينو ابلاغ، تشريح او تطبيق ده. همدا

راز پيغمبر عليه السلام به ولي په يوې عادي او صحيح پوښتني غصه کيږي؟ الله تعالى خو هغه ته لاربښوونه کړې ده چې پوښتونکى به نه رټې: و امالسائل فلا تنهر، د حج په اړه پوښتنه له هغو پوښتنو نه ده چې الله تعالى ئې ممانعت کړى، ممانعت له داسي غوښتنو او پوښتنو شوى چې بني اسرائيلو له موسى عليه السلام کړې دي او قرآن موږ ته رابنودلې دي.

۲۰- باب: د پوهېدو لپاره د خبري تکرارول

۸۲- حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ الله حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا ثُمَامَةُ بْنُ عَبْدِ الله عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَنَّهُ كَانَ إِذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ أَعَادَهَا ثَلاَثًا حَتَّى تُفْهَمَ عَنْهُ، وَإِذَا أَتَى عَلَى قَوْمٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ سَلَّمَ عَلَيْهِمْ ثَلاَثًا. (بخاري:94)

۸۲- له انس رضي الله عنه روايت دئ چې وايي کله چې به رسول الله صلى الله عليه و سلم کومه خاصه خبره کوله نو درې ځلي به ئې تکراروله چې په مطلب ئې (خلك) ښه پوه شي او کله چې به کوم قوم ته ورغى او سلام به ئې ورباندي اچاوو، نو درې ځلي به ئې سلام اچاوو.

تکرار: 95، 6244

توپير: په ځينو کي لومړى د سلام بيا د وينا يادونه شوې او په ځينو کي د دې عکس، په ځينو کي دا نه دي ويل شوي چې کله به کوم قوم ته ورغى او په ځينو کي دا نه دي ويل شوي چې (خلك پرې پوه شي. تر ټولو جامع ئې 95 روايت دئ. خو دا چې له دريو ځلو سلام اچولو مراد

څه دئ؟ غوره توجيه دا ده چې کله به د مسلمانانو کومې غونډې ته راغې نو لومړی به ئې پر ټولو سلام واچاوو، بيا به ئې ښي لور او کيڼ لور ناستو خلکو ته مخ کړ او سلام به ئې پرې واچاوو.

٢١- باب: څوک چې خپلې وينځې او اولادونو ته ښوونه کوي

٨٣- أَخْبَرَنَا مُحَمَّدٌ- هُوَ ابْنُ سَلاَمٍ- حَدَّثَنَا الْمُحَارِبِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ حَيَّانَ قَالَ قَالَ عَامِرٌ الشَّعْبِيُّ حَدَّثَنِي أَبُو بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "ثَلاَثَةٌ لَهُمْ أَجْرَانِ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمَنَ بِنَبِيِّهِ، وَآمَنَ بِمُحَمَّدٍ صلى الله عليه و سلم وَالْعَبْدُ الْمَمْلُوكُ إِذَا أَدَّى حَقَّ اللهِ وَحَقَّ مَوَالِيهِ، وَرَجُلٌ كَانَتْ عِنْدَهُ أَمَةٌ { يَطَؤُهَا } فَأَدَّبَهَا، فَأَحْسَنَ تَأْدِيبَهَا، وَعَلَّمَهَا فَأَحْسَنَ تَعْلِيمَهَا، ثُمَّ أَعْتَقَهَا فَتَزَوَّجَهَا، فَلَهُ أَجْرَانِ " (بخاري: 97)

٨٣- له ابو موسى رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: درې تنه داسي دي چې دوه ګوني ثوابونه به ئې په برخه کيږي: يو د اهل کتاب هغه سړی چې هم ئې پر خپل نبي ايمان راوړ او هم ئې پر محمد صلى الله عليه و سلم ايمان راوړ؛ او بل هغه مريی (غلام) چې هم ئې د الله حق اداء کړی او هم د خپل مالك حق؛ او بل هغه سړی چې وينځه ئې وي، (مباشرت ورسره کوي)، بيا ئې هم په ښه ادب سره د هغې روزنه وکړه او په ښې زده کړې سره ئې هغې ته ښوونه وکړه، بيا ئې آزاده او

ځان ته واده کړه، نو د دوی هر یوه ته دوه ثوابونه دي).

تکرار: 2544، 2547، 2551، 3011، 3446، 5083

توپیر: په یوه کي یوازي د وینځي یادونه شوې او ویل شوي: د چا چي وینځه وي، وئي پالي، ښېګڼه ورسره وکړي، آزاده ئې کړي او په نکاح ئې کړي نو دوه اجرونه به ئې په برخه شي، په بل کي یوازي د مریی او وینځي یادونه شوې، د مریې په اړه دا هم په کي راغلي چي د خپل مالك د خواخوږي او اطاعت حق اداء کړي، تر ټولو جامع ئې دا دئ:

عن أَبُو بُرْدَةَ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَاهُ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "ثَلاَثَةٌ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُمْ مَرَّتَيْنِ الرَّجُلُ تَكُونُ لَهُ الأَمَةُ فَيُعَلِّمُهَا فَيُحْسِنُ تَعْلِيمَهَا، وَيُؤَدِّبُهَا فَيُحْسِنُ أَدَبَهَا، ثُمَّ يُعْتِقُهَا فَيَتَزَوَّجُهَا، فَلَهُ أَجْرَانِ، وَمُؤْمِنُ أَهْلِ الْكِتَابِ الَّذِي كَانَ مُؤْمِنًا، ثُمَّ آمَنَ بِالنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَلَهُ أَجْرَانِ، وَالْعَبْدُ الَّذِي يُؤَدِّى حَقَّ الله وَيَنْصَحُ لِسَيِّدِهِ " (بخاري: 3011)

ابوبرده رضي الله عنه وايي چي له خپل پلار مي اوربدلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: درې تنه داسي دي چي دوه ځلي به اجر ورکړی شي: هغه چي وینځه ئې درلوده، په ښه تعليم سره ئې د دې ښوونه وکړه، په ښه ادب سره ئې د هغې روزنه وکړه، بيا ئې آزاده کړه او ځان ته ئې په نکاح کړه، ده لره دوه اجرونه دي؛ او د اهل کتاب هغه مؤمن چي ايمان ئې درلود، بيا ئې پر نبي صلى الله عليه و سلم ايمان راوړ، ده لره هم دوه اجرونه دي او هغه مريی

چې هم د الله حق اداء کوي او هم خپل مالك ته خير غواړي.

٢٢- باب: ښځو ته وعظ او ښوونه ئې

٨٤- حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَيُّوبَ قَالَ سَمِعْتُ عَطَاءً قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ أَشْهَدُ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم - أَوْ قَالَ عَطَاءٌ أَشْهَدُ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ- أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم خَرَجَ وَمَعَهُ بِلاَلٌ، فَظَنَّ أَنَّهُ لَمْ يُسْمِعِ النِّسَاءَ فَوَعَظَهُنَّ، وَأَمَرَهُنَّ بِالصَّدَقَةِ، فَجَعَلَتِ الْمَرْأَةُ تُلْقِى الْقُرْطَ وَالْخَاتَمَ، وَبِلاَلٌ يَأْخُذُ فِي طَرَفِ ثَوْبِهِ. (بخاري: 98)

٨٤- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې: يو ځل رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي (د نارينه وو له ليکو يا منځ نه) ووت چې بلال رضي الله عنه هم ورسره وو (ښځو ته ورغی) ګمان ئې وکړ چې ښځو د ده وعظ او نصيحت نه دئ اوريدلی، نو هغوی ته ئې وعظ وکړ، د صدقې ورکولو امر ئې ورته وکړ، نو ښځو خپلې لښتی او ګوتې د صدقې په توګه اچولې او بلال رضي الله عنه په خپلې لمن کي راټولولې.

تکرار: 962، 964، 975، 977، 979، 989، 1431، 1449، 4895، 5249، 5880، 5881، 5883، 7325

توپير: په پورتني کي دا نه دي ويل شوي چې ښځو ته له وعظ مخکي لمونځ شوی، بيا خطبه ورکړی شوې، خو په ځينو نورو کي دا مطلب ويل شوی، په دې کي دا هم نه دي ويل شوي چې د بلال په څادر يا لمن کي به ئې خپلې ګانې غورځولې خو په نورو کي دا مطلب هم راغلی، په يوه کي

يوازي دومره ويل شوي چي د عيد لمونځ مي له رسول الله صلى الله عليه و سلم، ابوبكر، عمر او عثمان رضي الله عنهم سره کړی ټولو به له خطبې مخکې لمونځ کاوو.، په يوه کي دا هم ويل شوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د الممتحنه د سورې دا آيت ولوستو: (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ ...) الآيَةَ؛ کله چي ترې فارغ شو نو وئې فرمايل: آيا تاسو همدا بيعت کوئ؟ يوې ځواب ورکړ چي هو؛ په يوه کي ويل شوي چي د کمکي اختر لمونځ ئې وکړ او په بل کي راوي شك کوي چي د کمکي اختر که د لوی اختر لمونځ.

د دې روايت په اړه څو خبري توجه غواړي: د روايت په اصلي مطلب هلته سم پوهېدی شو چي نور روايات هم وګورو، د نورو رواياتو په رڼا کي راته جوته کېږي چي دا د اختر لمونځ وو، پيغمبر عليه السلام لومړی لمونځ کړی، بيا ئې خطبه ويلې، بيا د خلکو له منځه تېر شوی او د ښځو د لمانځه ځای ته ورغلی، هغوی ته ئې بيا وعظ کړی، د صدقې ورکولو ته ئې هڅولې او هغوی خپلې ګانې صدقه کړې.

دا او دې ته ورته ګڼ شمېر روايات ښيي چي د پيغمبر عليه السلام په دوران کي ښځو د جماعت په لمونځونو کي شرکت کولو، د ودرېدو ځای ئې بېل او د نارينه وو تر شا وو، پيغمبر عليه السلام د هغوی روزني ته خاصه توجه کوله، د اختر په لمانځه کي له عامي خطبې وروسته د ښځو خوا ته ورغلی او هغوی ته ئې بيا وعظ کړی. خو متأسفانه اوس حالت داسي دئ چي ښځي مېلو، ودونو، زيارتونو ته

تلى شي، نه خاوندان او خپلوان پرې اعتراض کوي او نه واعظان، خو جومات ته ئې تګ ممنوع دئ!! څوك چې وايي اوس د فساد او فتنو دور دئ نو ځکه جومات ته د ښځو تګ ښه نه دئ!! هغوی ته وايو:

- له فساد او فتنو د ښځو د مخنيوي لار خو دا ده چې هغه جومات ته راشي او وعظ واوري.
- څوك وايي چې د پيغمبر عليه السلام په وخت کي تر نن فتنې لږ وې؟! دا خبره يوازې هغه څوك کولی شي چې له حقائقو بې خبر وي، په مدينه کي ښځي هغه مهال جومات ته تللې چې محدود شمېر کسانو ايمان راوړی وو، قرآن وايي چې ډېر ځلي به منافقينو، مرجفينو او د بيمارو زړونو خاوندانو هغه ښځي ځورولې چې جومات ته به تلې، د دغو مفسدينو له امله ئې ښځي جومات ته له تلو منع نه کړې بلکي امر ئې ورته وکړ چې له جلباب سره جومات ته ولاړې شي.
- آيا څوك دا حق لري چې ووايي: اوس د فتنې دور دئ نو ښځي دي حج نه کوي، يا د حج په دوران کي دي مخ او لاسونه هم پټوي؟ که دا حق نه لرو نو له جومات ئې څنګه منع کوو؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم خو د خپل مبارك ژوند په وروستيو شېبو او په خپلو وروستنيو خطبو کي فرمايلي: که ستاسو ښځي غواړي چې په جومات کي لمونځ وکړي نو مخنيوی ئې مه کوئ!!!
- څوك چې وايي د عمر رضي الله عنه په وخت کي دا پربکړه وشوه چې ښځي دي جومات ته نه ځي! هغوی ته وايو: دا نه د يوه حکم د تغيير په معنی اخيستی شو او نه د

تعطيل په معنى؛ يوازي دومره ويلى شو چي كه دا ادعاء صحيح وي نو دا پربكړه هغه مهال د خاصو ظروفو او شرائطو په وجه شوې، داسي نه ده چي د دې پربكړي مخالفت حرام او ناجائز وي او نن چي د اسلام او مسلمانانو مصلحت دا تقاضا او غوښتنه كوي چي د ښځو ديني او اخلاقي روزني ته لا زياته توجه وشي او له نورو خواوو ئې مخ جومات ته واړوو نو دا كار حرام او ناروا وګڼو!! حرام هغه دي چي الله تعالى او د هغه رسول حرام كړي او د حرمت په اړه صريح نص ولرو.

يادونه: زما يوه ګران ملګري قاضي سلطان محمود صلاح چي په خپلو نېكو مشورو او دقيقو ملاحظاتو سره ئې زما ډېره مرسته كړې ده؛ دلته ئې د خپلو ملاحظاتو په ترڅ كي ليكلي: كاش اوس داسي جوماتونه او داسي واعظان وى چي د ښځو روزنه وكړى شي،... د كومي فتنې له مخي چي د ښځو لمونځ په كور كي غوره ګڼل شوى كېدى شي هغه په جومات كي دننه احتمالي فتنه وي نه د لاري په اوږدو كي. د دوى په ځواب كي بايد ووايو: كه رسول الله صلى الله عليه و سلم ښځو ته ويلي وى چي ستاسو لمونځ تر جومات په كور كي غوره دئ نو يوه ښځه به هم جومات ته نه وه تللې، د ښځو له عمل او د رسول الله صلى الله عليه و سلم له ويناوو معلومېږي چي د پيغمبر عليه السلام تر رحلت پوري ښځي جومات ته راتلې؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپلي وروستى خطبې كي دا سپارښتنه كړې ده چي كه ښځو غوښتل جومات ته ولاړي شي مخنيوى ئې مه كوئ، رسول الله صلى الله عليه و سلم حتى د عمر رضي الله عنه دا

مطالبه ونه منله چې ويل ئې: يا رسول الله! خپلې مېرمني دي بهر ته له وتلو منع کړه، رسول الله صلى الله عليه و سلم له څه ځنډ وروسته وفرمايل: ما ته وحي شوې چې دوی منع نه کړم. مور يوازې د دومره څه ويلو حق لرو چې ووايو: جوماتونه بايد داسې جوړ شي چې هم د ښځو د لمانځه ځای ېپل وي او هم ئې د تگ راتگ لاره ېپله وي، خو هغه حلال کار نه شو حرامولى چې رسول الله صلى الله عليه و سلم نه دئ تحريم کړى.

٢٣- باب: د احاديثو د زده کړې تلوسه

٨٥- حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ الله قَالَ حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ الله، مَنْ أَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "لَقَدْ ظَنَنْتُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَنْ لاَ يَسْأَلَنِي عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ أَحَدٌ أَوَّلُ مِنْكَ، لِمَا رَأَيْتُ مِنْ حِرْصِكَ عَلَى الْحَدِيثِ، أَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله، خَالِصًا مِنْ قَلْبِهِ أَوْ نَفْسِهِ". (بخاري:99)

٨٥- له ابو هريرة رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل شو: د قيامت په ورځ به ستا په شفاعت سره څوك تر ټولو زيات نېكمرغه وي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (د حديث زده کړې ته ستا تلوسې ته په پام سره مې دا ګمان کاوو چې تر تا مخكې به هيڅوك د دې خبرې پوښتنه رانه ونه کړي، د قيامت په ورځ به زما په شفاعت سره تر ټولو زيات بختور

هغه وي چې د زړه له اخلاصه ئې (لا إله إلا الله ويلې وي.)

تکرار: **6570**

توپير: په يوه کې قِيلَ، په بل کې قُلْتُ، په يوه کې مِنْ قَلْبِهِ أَوْ نَفْسِهِ، په بل کې مِنْ قِبَلِ نَفْسِهِ راغلي.

٢٤- باب: علم څنګه له منځه ځي

٨٦- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي أُوَيْسٍ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "إِنَّ اللهَ لاَ يَقْبِضُ الْعِلْمَ انْتِزَاعًا، يَنْتَزِعُهُ مِنَ الْعِبَادِ، وَلَكِنْ يَقْبِضُ الْعِلْمَ بِقَبْضِ الْعُلَمَاءِ، حَتَّى إِذَا لَمْ يُبْقِ عَالِمًا، اتَّخَذَ النَّاسُ رُءُوسًا جُهَّالاً فَسُئِلُوا، فَأَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ، فَضَلُّوا وَأَضَلُّوا". (بخاري:100)

٨٦- له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه روايت دئ چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم مې اورېدلي چې فرمايل ئې: (الله تعالى له بندګانو؛ علم په يو ځل ايستلو سره له منځه نه وړي، بلکې علم د علماءو په له منځه وړلو سره له منځه وړي، تر دې چې يو عالم هم پرېنږدي، نو خلک به جاهلان خپل مشران وټاکي، له هغوی به پوښتنې کېږي او دوی به په ناپوهۍ سره فتوی ورکوي، په دې توګه به هم په خپله بې لاري شي او هم به نور بې لاري کړي.)

تکرار: 7307

توپير: په يوه کې دا الفاظ بَعْدَ أَنْ أَعْطَاهُمُوهُ شته او په بل کې نشته، په بل کې د بِقَبْضِ الْعُلَمَاءِ پر ځای مَعَ قَبْضِ

الْعُلَمَاءِ بِعِلْمِهِمْ راغلي، په يوه کي اتَّخَذَ النَّاسُ رُءُوسًا جُهَّالاً فَسُئِلُوا او په بل کي فَأَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ، فَيَبْقَى نَاسٌ جُهَّالٌ يُسْتَفْتَوْنَ فَيُفْتُونَ بِرَأْيِهِمْ راغلي

۲۵- باب: د ښځو د ښووني لپاره ځانګړی وخت

۸۷- حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ الأَصْبَهَانِيِّ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا صَالِحٍ ذَكْوَانَ يُحَدِّثُ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ. قَالَتِ النِّسَاءُ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم غَلَبَنَا عَلَيْكَ الرِّجَالُ، فَاجْعَلْ لَنَا يَوْمًا مِنْ نَفْسِكَ. فَوَعَدَهُنَّ يَوْمًا لَقِيَهُنَّ فِيهِ، فَوَعَظَهُنَّ وَأَمَرَهُنَّ، فَكَانَ فِيمَا قَالَ لَهُنَّ "مَا مِنْكُنَّ امْرَأَةٌ تُقَدِّمُ ثَلاَثَةً مِنْ وَلَدِهَا إِلاَّ كَانَ لَهَا حِجَابًا مِنَ النَّارِ". فَقَالَتِ امْرَأَةٌ وَاثْنَيْنِ فَقَالَ "وَاثْنَيْنِ". (بخاري:102)

۸۷- له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: ښځو؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل: ستا په اړه نارينه پر موږ برلاسي شوي (ستا د ويناوو په اوريدو کي دوی پر موږ وړاندي دي)، نو له خپل لوري موږ ته يوه ورځ ځانګړي کړه، نو د دوی لپاره ئې د ملاقات يوه ورځ وټاکله، (په هغه ورځ ئې) دوی ته وعظ وکړ او په خاصو امورو ئې وګمارلې، د هغو خبرو په ضمن کي چي دوی ته ئې وکړې دا هم وه چي: (له تاسي چي د هري ښځي دري اولادونه تري ومري، دا به له اور نه ورته پرده شي.) يوې ښځي وويل: که د چا دوه اولادونه تري ومري؟ وئې

فرمايل: كه دوه ئې ومري هم.

تكرار: 1249، 7310

توپير: په يوه كي غَلَبَنَا عَلَيْكَ الرِّجَالُ او په بل كي ذَهَبَ الرِّجَالُ بِحَدِيثِكَ، په يوه كي فَاجْعَلْ لَنَا يَوْمًا مِنْ نَفْسِكَ، په بل كي فَاجْعَلْ لَنَا مِنْ نَفْسِكَ، يَوْمًا نَأْتِيكَ فِيهِ تُعَلِّمُنَا مِمَّا عَلَّمَكَ الله، په يوه كي فَوَعَدَهُنَّ يَوْمًا لَقِيَهُنَّ فِيهِ او په بل كي فَاجْتَمَعْنَ، په يوه كي فَوَعَظَهُنَّ وَأَمَرَهُنَّ او په بل كي فَعَلَّمَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَهُ الله ثُمَّ قَالَ، په يوه كي تُقَدِّمُ ثَلاَثَةً مِنْ وَلَدِهَا او په بل كي تُقَدِّمُ بَيْنَ يَدَيْهَا مِنْ وَلَدِهَا ثَلاَثَةً او، په يوه كي دا الفاظ هم شته فَأَعَادَتْهَا مَرَّتَيْنِ ثُمَّ قَالَ "وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ "خو، په بل كي نشته. په دغو كي **7310** روايت تر نورو جامع دئ.

د ابوهريره رضي الله عنه په يوه روايت كي راغلى چې: (هغه مړه شوي اولادونه ئې لابالغ شوي نه وي).

٢٦- باب: د پوهېدو لپاره د پوښتنى تكرارول

٨٨- حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ قَالَ أَخْبَرَنَا نَافِعُ بْنُ عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم كَانَتْ لاَ تَسْمَعُ شَيْئًا لاَ تَعْرِفُهُ إِلاَّ رَاجَعَتْ فِيهِ حَتَّى تَعْرِفَهُ، وَأَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "مَنْ حُوسِبَ عُذِّبَ". قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ أَوَ لَيْسَ يَقُولُ الله تَعَالَى (فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا) قَالَتْ فَقَالَ "إِنَّمَا ذَلِكَ الْعَرْضُ، وَلَكِنْ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ يَهْلِكْ". (بخاري: 103)

۸۸- له ابن ابي مليكه روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمن عائشه رضي الله عنها داسي وه چي څه به ئې واورېدل او پرې پوه به نه شوه نو بيا بيا به ئې تر هغه پوښتل چي پرې پوه به شوه؛ او دا چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: له هر چا سره چي (د قيامت په ورځ) حساب وشي نو تعذيب به شي؛ عائشه رضي الله عنها وايي: ما وويل: آيا الله تعالى نه دي فرمايلي چي: (ژر به آسانه حساب ورسره وشي) وايي: وئې فرمايل: دا يوازي ورښودل دي، خو له چاسره چي دقيق حساب وشي هلاکېږي به).

يعني ځينو ته به يوازي خپل عملونه وروښودل شي، په همدې به اكتفاء وشي او نوره محاسبه به ورسره نه کېږي، له چا سره چي محاسبه وشي حتماً به تعذيب کېږي، په محاسبه کي هر څوك پاته راځي او پايله ئې له دې پرته بل څه نه راوځي چي عذاب ئې په برخه شي.

تكرار: 4939، 6536، 6537

توپير: په يوه کي مَنْ حُوسِبَ عُذِّبَ، په بل کي لَيْسَ أَحَدٌ يُحَاسَبُ إِلاَّ هَلَكَ او په بل کي وَلَيْسَ أَحَدٌ يُنَاقَشُ الْحِسَابَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلاَّ عُذِّبَ، په يوه کي قلت أَوَ لَيْسَ يَقُولُ الله تَعَالَى (فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا او په بل کي قُلْتُ يَا رَسُولَ الله جَعَلَنِى الله فِدَاءَكَ، أَلَيْسَ يَقُولُ الله عَزَّ وَجَلَّ (فَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ * فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا)، په يوه کي وَلَكِنْ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ يَهْلِكْ او په بل کي ذَاكَ الْعَرْضُ يُعْرَضُونَ، وَمَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ هَلَكَ راغلي.

٢٧- باب: حاضر ئې بايد غائب ته ورسوي

٨٩- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي سَعِيدٌ عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ أَنَّهُ قَالَ لِعَمْرِو بْنِ سَعِيدٍ وَهْوَ يَبْعَثُ الْبُعُوثَ إِلَى مَكَّةَ ائْذَنْ لِي أَيُّهَا الأَمِيرُ أُحَدِّثْكَ قَوْلاً قَامَ بِهِ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم الْغَدَ مِنْ يَوْمِ الْفَتْحِ، سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ وَوَعَاهُ قَلْبِي، وَأَبْصَرَتْهُ عَيْنَايَ، حِينَ تَكَلَّمَ بِهِ، حَمِدَ الله وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ "إِنَّ مَكَّةَ حَرَّمَهَا الله، وَلَمْ يُحَرِّمْهَا النَّاسُ، فَلاَ يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِالله وَالْيَوْمِ الآخِرِ أَنْ يَسْفِكَ بِهَا دَمًا، وَلاَ يَعْضِدَ بِهَا شَجَرَةً، فَإِنْ أَحَدٌ تَرَخَّصَ لِقِتَالِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فِيهَا فَقُولُوا إِنَّ الله قَدْ أَذِنَ لِرَسُولِهِ، وَلَمْ يَأْذَنْ لَكُمْ. وَإِنَّمَا أَذِنَ لِي فِيهَا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ، ثُمَّ عَادَتْ حُرْمَتُهَا الْيَوْمَ كَحُرْمَتِهَا بِالأَمْسِ، وَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ". فَقِيلَ لأَبِي شُرَيْحٍ مَا قَالَ عَمْرٌو قَالَ أَنَا أَعْلَمُ مِنْكَ يَا أَبَا شُرَيْحٍ، لاَ يُعِيذُ عَاصِيًا، وَلاَ فَارًّا بِدَمٍ، وَلاَ فَارًّا بِخَرْبَةٍ. (بخاري: 104)

٨٩- له ابو شُرَيح روايت دئ چې وايي: عمرو بن سعيد (د يزيد له لوري د عراق والي) ته ئې په داسي حال کې ويلي چې ده مکې ته ټولګي لېږل، چې اې اميره! ما ته اجازه راکړه هغه خبره درته وکړم چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د فتحې د ورځې په سبا وکړه، کله چې ئې دا خبره وکړه نو غوږونو مي هغه اوربدلې ده، زړه مي ساتلې ده؛ او سترګو مي ليدلې ده، د الله تعالى حمد اوثنا ئې وويله بيا ئې وفرمايل: (مکې ته الله تعالى حرمت ورکړى، دا حرمت خلکو نه دئ ورکړى، نو هغه چا ته چې پر خداى او آخرت

ايمان لري؛ روا نه ده چې په دې کې ويني توی کړي؛ او يا ئې ونه پرې کړي او که چا د مکې د فتحې په ورځ د رسول الله صلی الله علیه و سلم قتال او جګړه د قتال لپاره دلیل نیوو نو ورته ووایئ: الله تعالی خپل رسول ته دا اجازه ورکړه او تاسو ته ئې دا اجازه نه ده درکړې؛ او ما ته هم دا اجازه د یوې ورځې په یوه ساعت کې راکړل شوې وه، بیا ئې ننني حرمت د پرونۍ ورځې د حرمت په څېر بېرته اعاده شو، څوک چې حاضر دئ دا خبره دي غائبانو ته ورسوي).

د روایت په پای کې دا الفاظ هم راغلي چې ابي شریح ته وویل شول: عمرو څه درته وویل؟ وئې ویل: زه تر تا ښه پرې پوهیږم اې ابو شریح! مکه نه عاصي (تښتېدلي غلام) ته پناه ورکوي، نه تښتېدلي قاتل ته او نه تښتېدلي خرابکار ته. خو دا د عمرو خپل الفاظ دي په روایت کې نشته، هغه غوښتي پر مکې خپل هغه برید توجیه کړي چې د خپلمنځیو جګړو په دوران کې ئې ترسره کړی. هغه غوښتل عبدالله بن زبیر رضي الله عنه د فراري، قاتل او تخریبکار په توګه معرفي کړي او د هغه په خلاف پر مکې حمله جائز وګڼي!! که څه هم بخاري د دې وضاحت نه دئ کړی چې د عمرو ادعاء صحیح وه که غلطه؟ د دې حق ئې درلود که نه چې پر مکې برید وکړي؟ خو حقیقت دا دئ چې عبدالله بن زبیر رضي الله عنه نه فراري وو، نه قاتل او نه تخریبکار، تر ظالم یزید زیات د امارت وړ او مستحق وو، له ده سره د مکې خلکو په خپله خوښه بیعت کړی وو او د یزید لپاره په زور بیعت اخیستل شوی وو. دا صحیح ده چې مکه فراري، قاتل او تخریبکار ته پناه نه ورکوي او له شرعي مجازاته ئې

نه ژغوري، خو د دې معنى دا نه ده چې د مجرم د نيولو او محاکمې لپاره دې پر مکې برید جائز وي.

تکرار: 1832، 4295

توپير: نه ئې په الفاظو کې څه توپير شته او نه ئې په راوي کې.

۲۸- باب: په نبي صلى الله عليه و سلم پسې د افتراء ګناه

۹۰- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي مَنْصُورٌ قَالَ سَمِعْتُ رِبْعِيَّ بْنَ حِرَاشٍ يَقُولُ سَمِعْتُ عَلِيًّا يَقُولُ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "لاَ تَكْذِبُوا عَلَيَّ، فَإِنَّهُ مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ فَلْيَلِجِ النَّارَ". (بخاري:106)

۹۰- له ربعي بن حراش روايت دئ چې وايي له علي رضي الله عنه مي واورېدل چې ويل ئې: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (په ما پسې دروغ مه تړئ، ځکه چا چې په ما پسې دروغ وتړل (داسې څه ئې ما ته منسوب کړل چې ما نه وي ويلي) نو هغه دي (د دوزخ) اور ته د ننوتو لپاره چمتو شي).

تکرار: 107، 108، 109

توپير: په يوه کې مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ فَلْيَلِجِ النَّارَ، په بل کې مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ، په بل کې من تَعَمَّدَ عَلَيَّ كَذِبًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ او په بل کې مَنْ يَقُلْ عَلَيَّ مَا لَمْ أَقُلْ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ راغلي، مفهوم او معنى ئې

سره ورته ده.

٩١- حَدَّثَنَا مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ أَبِي حَصِينٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "تَسَمَّوْا بِاسْمِي وَلاَ تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي، وَمَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَآنِي، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لاَ يَتَمَثَّلُ فِي صُورَتِي، وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ". (بخاري: 110)

٩١- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (زما په نوم (محمد يا احمد ځانونه نومولى شئ، خو زما كنيه (ابوالقاسم) د ځان لپاره كنيه مه غوره كوئ او څوک چي ما په خوب كي ووينې نو په رښتيا سره ئې زه ليدلى يم، ځكه شيطان زما په څېره ځان نه شي انځورولى؛ او چا چي پر ما قصداً درواغ وويل (ما ته ئې داسي وينا منسوبه كړه چي ما نه وي كړې)، نو (د دوزخ) له اوره دي ځان ته خپل ځاى برابر كړي).

دغو رواياتو ته په پام سره ډېرى صحابه وو د احاديثو له ليكلو او نقلولو ډډه كوله، ويل كيږي چي ابوبكر رضي الله عنه تر وفات څو ورځي مخكي يوه شپه ډېره پرېشانه تېره كړه، عائشې رضي الله عنها ئې وجه وپوښته، وئې ويل: ما له يوه بل اورېدلي نژدې دوه سوه حديثونه ليكلي او هلته مي ايښي، وپرېږم په دې كي مي هغه څه نه وي ليكلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم نه دي ويلي، هغه راواخله چي وئې سوزوو، همداسي ئې وكړل.

۲۹- باب: د علم ليکل

92- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلاَمٍ قَالَ أَخْبَرَنَا وَكِيعٌ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ مُطَرِّفٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ قُلْتُ لِعَلِيٍّ هَلْ عِنْدَكُمْ كِتَابٌ قَالَ لاَ، إِلاَّ كِتَابُ اللهِ؛ او فَهْمٌ أُعْطِيَهُ رَجُلٌ مُسْلِمٌ؛ او مَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ. قَالَ قُلْتُ فَمَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ قَالَ الْعَقْلُ، وَفَكَاكُ الأَسِيرِ، وَلاَ يُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ. (بخاري:111)

92- له ابو جحيفه روايت دئ چي وايي: علي رضي الله عنه ته مي وويل: آيا کوم خاص کتاب درسره شته؟ وئې ويل: نه؛ مګر د الله کتاب؛ او هغه پوهه چي يوه مسلمان سړي ته په برخه کيږي او هغه څه چي په دې پاڼي کي دي، وايي: ورته ومي ويل: نو په دې پاڼي کي څه دي؟ وئې ويل: د ديت حکم، د اسير آزادول او دا چي مسلمان د کافر په بدل کي نه وژل کيږي.

تکرار: **1870، 3047، 3172، 3179، 6755، 6903، 6915، 7300**

توپيرونه: په دوی کي ژور توپيرونه تر سترګو کيږي، په پورتني کي هَلْ عِنْدَكُمْ كِتَابٌ، په بل کي هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ مِنَ الْوَحْيِ إِلاَّ مَا فِي كِتَابِ اللهِ قَالَ وَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّةَ وَبَرَأَ النَّسَمَةَ مَا أَعْلَمُهُ إِلاَّ فَهْمًا يُعْطِيهِ اللهُ رَجُلاً فِي الْقُرْآنِ او په بل کي هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ مَا لَيْسَ فِي الْقُرْآنِ وَقَالَ مَرَّةً مَا لَيْسَ عِنْدَ النَّاسِ فَقَالَ وَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّ وَبَرَأَ النَّسَمَةَ مَا عِنْدَنَا إِلاَّ مَا فِي الْقُرْآنِ، إِلاَّ فَهْمًا يُعْطَى رَجُلٌ فِي كِتَابِهِ، په يوه کي ذِمَّةُ الْمُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ يَسْعَى بِهَا أَدْنَاهُمْ په ځينو کي د پورتني

روايت هيڅ څه نشته پر ځای ئې داسي راغلي: وَهَذِهِ الصَّحِيفَةُ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم "الْمَدِينَةُ حَرَمٌ، مَا بَيْنَ عَائِرٍ إِلَى كَذَا، مَنْ أَحْدَثَ فِيهَا حَدَثًا؛ او آوَى مُحْدِثًا، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ الله وَالْمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلاَ عَدْلٌ". وَقَالَ "ذِمَّةُ الْمُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ، فَمَنْ أَخْفَرَ مُسْلِمًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ الله وَالْمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلاَ عَدْلٌ، وَمَنْ تَوَلَّى قَوْمًا بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ الله وَالْمَلاَئِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لاَ يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلاَ عَدْلٌ "او د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا پاڼه چې: مدينه حرم ده، له عائر نه تر فلاني ځای، چا چې په دې کې کوم بدعت (له ځانه جوړ کړی غلط کار) وکړ يا ئې کوم بدعتي ته پناه ورکړه نو په هغه دي د الله، فرشتو او ټولو خلکو لعنت وي، نه ئې توبه قبلېږي او نه بدله (فديه)؛ او وئې ويل: د مسلمانانو ذمه واري او امان ورکول يوه ده (يو کس چې چا ته امان ورکړي ټول به د دې امان درناوی کوي)، څوك چې د مسلمان ژمنه ماته کړي؛ نو په هغه دي د الله، فرشتو او ټولو خلکو لعنت وي، نه ئې توبه قبلېږي او نه بدله؛ او کوم (مريی) چې د خپل مالك له اجازې پرته له کوم قوم سره دوستي او ملتيا کوي نو په هغه دي د الله، فرشتو او ټولو خلکو لعنت وي، نه ئې توبه قبلېږي او نه بدله.

د دې رواياتو په اړه څو خبري بايد په پام کي ولرو:

له دې روايت معلومېږي چې له علي رضي الله عنه سره له قرآن پرته د وحي او د پيغمبر عليه السلام له احاديثو

يوازي يوه دومره وړه پاڼه وه چې په هغې کې دغه څو الفاظ ليکل شوي وو، له نورو روایاتو معلومېږي چې دا پاڼه کاغذ نه بلکې د څرمني وه چې وايي علي رضي الله عنه د خپلې توري په لاستي کې ساتلې وه، طبیعي ده چې په داسي وړې پاڼې کې له دغو روایاتو نه یوازي یو لیکل کېدی شي، د هغو خلکو وینا غلطه او بې بنسټه ده چې وايي د علي رضي الله عنه دا صحیفه کومه رساله یا کتاب وو.

له دې روایت دا هم معلومېږي چې دا وینا زیات وزن نه لري چې ګواکې پیغمبر علیه السلام د خپل ژوند په وروستیو کې د احادیثو د لیکلو امر کړی وو! که داسي وی نو علي رضي الله عنه به یوازي د یوه واړه حدیث په لیکلو اکتفاء نه کوله او له صحابه وو به د حدیثو لوی لوی کتابونه په میراث پاته شوي وو.

له دغو روایاتو د یوه انتخاب هم ګران کار دئ، خو تر بحث لاندې روایت له هغو سره تعارض لري چې د کافر ذمي سر او مال د مسلمانانو د سر او مال په څېر له تعرض نه خوندي ګڼي او قاتل ئې د قصاص وړ بولي، احناف دغو روایاتو ته ترجیح ورکوي او په هغه حدیث استناد کوي چې وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم د مکې له فتحې وروسته د یوه کافر مسلمان قاتل د هغه ورثه وو ته د قصاص لپاره تسلیم کړ. د تعارض د رفعې لپاره محققین وايي چې د علي رضي الله عنه روایت یا د غیر ذمي کافر او یا په دارالحرب کې د کافر د قتل په اړه دئ.

٩٣- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ خُزَاعَةَ قَتَلُوا رَجُلاً مِنْ بَنِي لَيْثٍ عَامَ فَتْحِ مَكَّةَ بِقَتِيلٍ مِنْهُمْ قَتَلُوهُ، فَأُخْبِرَ بِذَلِكَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَرَكِبَ رَاحِلَتَهُ، فَخَطَبَ فَقَالَ "إِنَّ اللهَ حَبَسَ عَنْ مَكَّةَ الْقَتْلَ- أَوِ الْفِيلَ شَكَّ أَبُو عَبْدِ اللهِ- وَسَلَّطَ عَلَيْهِمْ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم وَالْمُؤْمِنِينَ، أَلاَ وَإِنَّهَا لَمْ تَحِلَّ لأَحَدٍ قَبْلِي، وَلاَ تَحِلُّ لأَحَدٍ بَعْدِى أَلاَ وَإِنَّهَا حَلَّتْ لِي سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ، أَلاَ وَإِنَّهَا سَاعَتِى هَذِهِ حَرَامٌ، لاَ يُخْتَلَى شَوْكُهَا، وَلاَ يُعْضَدُ شَجَرُهَا، وَلاَ تُلْتَقَطُ سَاقِطَتُهَا إِلاَّ لِمُنْشِدٍ، فَمَنْ قُتِلَ فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ إِمَّا أَنْ يُعْقَلَ، وَإِمَّا أَنْ يُقَادَ أَهْلُ الْقَتِيلِ". فَجَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ فَقَالَ اكْتُبْ لِي يَا رَسُولَ اللهِ. فَقَالَ "اكْتُبُوا لأَبِي فُلاَنٍ". فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ إِلاَّ الإِذْخِرَ يَا رَسُولَ اللهِ، فَإِنَّا نَجْعَلُهُ فِي بُيُوتِنَا وَقُبُورِنَا. فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "إِلاَّ الإِذْخِرَ، إِلاَّ الإِذْخِرَ". (بخاري:112)

۹۳- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي د مکې د فتحي په کال؛ د خزاعه قبيلې د بني ليث يو سړی د هغه مقتول په بدل کي ووژلو چي دوی وژلی وو، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د دې اطلاع ورکړی شوه، نو په خپلي اوښي سپور شو؛ او په خطبې کي ئې وويل: (الله تعالى قتل يا فيل مکې ته له داخلېدو منع کړ (چي راوي د فيل يا قتل په الفاظو کي شك کړی)، الله تعالى خپل رسول او مؤمنان پرې مسلط او واکمن کړل، پوه شئ چي مکه نه له ما مخکي چا ته حلاله شوې وه او نه له ما وروسته چا ته حلاله ده، پام کوئ چي ما ته هم د ورځي د يوه ساعت لپاره حلاله شوه، پام کوئ چي اوس په همدې ساعت حرامه ده

(حرمت ئې بېرته اعاده شوی) نه به ئې اغزي او بوتي شکول کېږي، نه به ئې وني وهل کېږي؛ او نه به ئې لوېدلي شيان (پر زمکه پراته ورك شوي) اخيستل کېږي؛ مګر د خپل لټوونکي لپاره، ځوک چې ووژل شي (د مقتول ورثه وو) ته د دوو خبرو اختيار دئ: يا دا چې ديت واخلي او يا دا چې قاتل قصاص کړي. پدې وخت کې د يمن له اوسېدونکو يو تن راغی او وئې ويل: يا رسول الله! دا خبري راته وليکه، وئې فرمايل: (د ابوفلان لپاره ئې وليکئ)، نو د قريشو يوه سړي وويل: مګر اذخر (چې يو بوټی دئ) يا رسول الله! دا ترې مستثنی کړه، ځکه چې مورږ ئې په خپلو کورونو او قبرونو کې کاروو، نو نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: مګر اذخر، مګر اذخر.

تکرار: 2434، 6880

توپير: په يوه کې حَبَسَ عَنْ مَكَّةَ الْقَتْلَ- أَوِ الْفِيلَ، په بل کې إِنَّ الله حَبَسَ عَنْ مَكَّةَ الْفِيلَ، په يوه کې دا اضافي خبره هم راغلې، فَلاَ يُنَفَّرُ صَيْدُهَا، په يوه کې امايُفْدَى وَإِمَّا أَنْ يُقِيدَ، په بل کې إِمَّا يُودَى وَإِمَّا يُقَادُ؛ او په بل کې إِمَّا أَنْ يُعْقَلَ، وَإِمَّا أَنْ يُقَادَ، په يوه کې فَقَالَ الْعَبَّاسُ، په بل کې ثُمَّ قَامَ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ فقال، په بل کې فَقَامَ أَبُو شَاهٍ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ – فَقَالَ او په بل کې فقال رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ، په يوه کې قَتَلَتْ خُزَاعَةُ رَجُلاً مِنْ بَنِي لَيْثٍ بِقَتِيلٍ لَهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ او په بل کې خُزَاعَةَ قَتَلُوا رَجُلاً مِنْ بَنِي لَيْثٍ، په يوه کې اكْتُبُوا لأَبِي فُلاَنٍ او په بل کې اكْتُبُوا لأَبِي شَاهٍ راغلې.

٩٤- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ الله بْنِ عَبْدِ الله عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا اشْتَدَّ بِالنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَجَعُهُ قَالَ "ائْتُونِي بِكِتَابٍ أَكْتُبُ لَكُمْ كِتَابًا لاَ تَضِلُّوا بَعْدَهُ". قَالَ عُمَرُ إِنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم غَلَبَهُ الْوَجَعُ وَعِنْدَنَا كِتَابُ الله حَسْبُنَا فَاخْتَلَفُوا وَكَثُرَ اللَّغَطُ. قَالَ "قُومُوا عَنِّى، وَلاَ يَنْبَغِى عِنْدِي التَّنَازُعُ " (بخاري:114)

٩٤- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: كله چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم درد او رنځ زيات او سخت شو وئې فرمايل: (يو كتاب راته راوړئ چي هغه څه درته وليكم چي تر هغه وروسته بې لاري نشئ). عمر رضي الله عنه وويل: پر رسول الله صلى الله عليه و سلم باندي خپل درد او رنځ غلبه كړې ده، له موږ سره د الله تعالى كتاب شته همغه راته كافي دئ. په موجودو صحابه وو كي اختلاف راولاړ شو او شور او ځوږ ډېر شو، نو (رسول الله صلى الله عليه و سلم) وفرمايل: (له ما پورته شئ، زما په وړاندي اختلاف او نزاع مناسبه نه ده.)

تكرار: 3053، 3168، 4431، 4432، 5669، 7366

توپير: په ځينو كي ائْتُونِي بِكَتِفٍ أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا په ځينو كي هَلُمُّوا أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا او په ځينو كي ائْتُونِي بِكِتَابٍ أَكْتُبْ لكم كتاباً ويل شوي، په ځينو كي وَعِنْدَنَا كِتَابُ الله حَسْبُنَا او په ځينو كي وَعِنْدَكُمُ الْقُرْآنُ، په ځينو كي دعُونِى فَالَّذِي أَنَا فِيهِ خَيْرٌ مِمَّا تَدْعُونِى إِلَيْهِ او په بل كي ذَرُونِى، فَالَّذِي أَنَا فِيهِ خَيْرٌ مِمَّا تَدْعُونِى إِلَيْهِ په ځينو كي دا هم ويل شوي چي

وَأَوْصَى عِنْدَ مَوْتِهِ بِثَلاَثٍ "أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ، وَأَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ أُجِيزُهُمْ". وَنَسِيتُ الثَّالِثَةَ: له وفات مخکي ئې د دريو خبرو سپارښتنه وکړه: مشرکين له جزيرة العرب وباسئ، هغه ډله همغه لوري ته ولېږئ (او جوائز ئې ورکړئ) چې ما ئې لېږل غوښتل؛ او درېيمه مي هېره شوې؛ او ځيني نور توپيرونه.

دا روايت د سند له مخې داسي دئ چې په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري، د متن له پلوه له نورو رواياتو سره تعارض لري، دغه مطلب (ائْتُونِي بِكِتَابٍ أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لاَ تَضِلُّوا بَعْدَهُ)؛ له بخاري پرته په بل هيڅ مهم کتاب کي نه دئ راوړل شوی؛ د صحاح سته د پاته پنځو کتابونو په شمول؛ د دې رواياتو په اړه څو خبري کولی شو:

په دغو متعارضو رواياتو کي يوازي يو غوره کولی شو، همغه چې وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم له وفات مخکي د دريو خبرو سپارښتنه وکړه...، د رواياتو متن او محتوی ته په پام سره هر عاقل انسان دې نتيجې ته رسي چې دا روايت دقيق برېښي، همدا له هغه حالت سره مناسبي سپارښتني دي. او د پاته رواياتو په اړه څو پوښتني راولاړېږي:

آيا دا منلی شو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي مهمه خبره له ځان سره ساتلې وه او د ژوند ترپايه ئې چا ته نه کوله؟ او په پای کي ئې هم د ځينو د شور او ځوږ په وجه پرېښوده؟ له غلاتو پرته هيڅوك د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه داسي خبره نشي کولی!

رسول الله صلى الله عليه و سلم خو ليك او لوست نه كولو څنګه دلته ويل شوي چې کتاب يا د اوږې هډوکی راوړئ چې څه درته وليکم؟ دا څنګه تر دې د مخه هيڅکله رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي نه وو کړي، نه ئې د قرآن په اړه ويلي چې راشئ نوې وحي راغلې درته وئې ليکم او نه ئې د خپلي وينا په اړه داسي خبره کړې؛ څنګه ومنو چې په لومړي ځل او هغه هم له رحلت لږ مخکې ئې دا خبره وکړه؟!

صحابه وو خو د ده د صحت او روغتيا په ورځو کي هم د ده په وړاندي له شور او ځوږ نه ډډه کوله؛ د ده د شديد مرض په حالت کي به ئې څنګه دا کار کولو؟

نور روايات خو وايي چې په دغو شپو ورځو کي د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته يوازي د ده مېرمني او ډېر نژدې خپلوان راتلل، د نورو صحابه وو د راغونډېدو خبره په بل کوم روايت کي نه مومو!! دا ځکه چې د ده کور ته د زياتو صحابه وو ننوتل د عقل منافي خبره ده، که نور څوک راغلي وي نو ولي د دوی نومونه نه دي اخيستل شوي. له روايت دا نه معلومېږي چې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما هلته حاضر وو؛ او دا هم نه دي ويل شوي چې ده دا خبره له چا اوريدلې؟ او هغه کس ولي له ده پرته بل چا ته دا خبره نه ده کړې؟!

آيا دا روايت خو به له هغو نه وي چې امام بخاري رحمه الله له چنلو وروسته د ليکلو او استناد وړ نه دي موندلي، لکه چې ويل کېږي له شېږو لکو رواياتو ئې يوازي نژدې اوه زره څو سوه غوره کړل، په دغو کي ئې هم نژدې پنځه زره

تکراري راغلي، يعني له هرو زرو رواياتو ئې نژدې څلور رواياته د اعتماد وړ ګڼلي او نه سوه شپږ نوي ئې موضوعي، ضعيف او غير موثق، داسي نه چې دا هم د همدغو له جملې وي، شيعه وو داسي ډېر روايات جوړ کړي چې وايي: پيغمبر عليه السلام غوښتل چې علي رضي الله عنه د ځای ناستي په توګه وټاکي خو عمر رضي الله عنه د دې کار مخنيوی کړی؟!!

که پيغمبر عليه السلام غوښتلی څه ووايي نو ليکني ته ضرورت نه وو د هغو دريو خبرو په څېر به ئې هغوی ته سپارښتنه کړې وه!!

٣٠- باب: په شپه کي وعظ او ښوونه

95- **حَدَّثَنَا صَدَقَةُ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ مَعْمَرٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ هِنْدٍ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ وَعَمْرٍو وَيَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ هِنْدٍ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتِ اسْتَيْقَظَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم ذَاتَ لَيْلَةٍ فَقَالَ "سُبْحَانَ اللهِ مَاذَا أُنْزِلَ اللَّيْلَةَ مِنَ الْفِتَنِ وَمَاذَا فُتِحَ مِنَ الْخَزَائِنِ أَيْقِظُوا صَوَاحِبَاتِ الْحُجَرِ، فَرُبَّ كَاسِيَةٍ فِي الدُّنْيَا عَارِيَةٍ فِي الآخِرَةِ"** (بخاري: 115)

95- له ام سلمه رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: يوه شپه رسول الله صلى الله عليه و سلم له خوبه راويښ شو او وئې فرمايل: (سبحان الله ! نن شپه به څومره فتنې رانازلي شوې وي او څومره د رحمت خزانې به پرانيستل شوې وي، پدې خونو کي (ويدې) راويښي کړئ، (مراد ئې امهات المومنين (رضي الله عنهن) وو) د دې دنيا ډېر پټ کسان به

په آخرت کي لوڅ وي.)

تکرار: 1126، 3599، 5844، 6218، 7069

توپير: په يوه کي وَمَاذَا فُتِحَ مِنَ الْخَزَائِنِ او په بل کي مَاذَا أُنْزِلَ مِنَ الْخَزَائِنِ، په يوه کي أَيْقِظُوا صَوَاحِبَاتِ الْحُجَرِ او په بل کي مَنْ يُوقِظُ صَوَاحِبَ الْحُجُرَاتِ، په يوه کي سبحان الله او په بل کي لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله، په يوه کي كَمْ مِنْ كَاسِيَةٍ فِي الدُّنْيَا او په بل کي رُبَّ كَاسِيَةٍ فِي الدُّنْيَا، په يوه کي حَتَّى يُصَلِّينَ او په بل کي لِكَيْ يُصَلِّينَ راغلي، په يوه کي دا هم راغلي چي اسْتَيْقَظَ لَيْلَةً فَزِعًا. د معنى او مفهوم له مخي ټول سره ورته دي،

د روايت له متنه معلوميږي چي له (كاسية: پټي) نه مراد هغه څوك دئ چي د شپې ئې برستن پر ځان اچولې او په آرام خوب ويده دئ؛ او له عارية نه مراد هغه څوك دي چي د قيامت په ورځ به تش لاس او د خير له کارونو لوڅ او بربنډ د الله تعالى په وړاندي ودريږي، ځکه موضوع همدا د شپې له لوري عبادت ته راپورته کېدا ده. له روايت دا خبره هم معلوميږي چي ام سلمه رضي الله عنها به د شپې په قيامونو کي د پيغمبر عليه السلام ملګرتيا کوله.

٣١- باب: د زده کړي لپاره د شپې مجلس

٩٦- حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ خَالِدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمٍ وَأَبِي بَكْرِ بْنِ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ أَنَّ عَبْدَ الله بْنَ عُمَرَ قَالَ صَلَّى بِنَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم الْعِشَاءَ فِي آخِرِ حَيَاتِهِ، فَلَمَّا سَلَّمَ قَامَ فَقَالَ "أَرَأَيْتَكُمْ لَيْلَتَكُمْ

هَذِهِ، فَإِنَّ رَأْسَ مِائَةِ سَنَةٍ مِنْهَا لاَ يَبْقَى مِمَّنْ هُوَ عَلَى ظَهْرِ الأَرْضِ أَحَدٌ". (بخاري: 116)

٩٦- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپل مبارک عمر په وروستيو کي د ماسختن لمونځ راکړ، کله ئې چي سلام وګرځاوو نو پورته شو او وئې فرمايل: (ننني شپې ته مو فکر دئ، پوهيږئ چي کومه شپه ده؟ له دې شپې سل کاله وروسته به له دې کسانو چي اوس د زمکي پر مخ شته يو کس هم ژوندی پاته نشي.)

يعني د خلکو اعظمي عمر سل کاله دئ، اوس چي څوک د زمکي پر سر اوسي نو سل کاله وروسته به له دوی هيڅوک پاته نه وي.

دې ته مو بايد پام وي چي له روايت معلوميږي چي دا د پيغمبر عليه السلام د يوې بشپړي وينا يوه وړه برخه ده، ځکه له لمانځه وروسته د وينا لپاره ودرېدلی او د نورو خبرو په ضمن کي ئې دا خبره کړې، راوي يوازي دغه خبره حفظ او نورو ته انتقال کړې، دا ئې نه دي ويلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له دې مخکي او وروسته څه وويل.

٩٧- حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا الْحَكَمُ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بِتُّ فِي بَيْتِ خَالَتِي مَيْمُونَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ زَوْجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم عِنْدَهَا فِي لَيْلَتِهَا، فَصَلَّى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم الْعِشَاءَ، ثُمَّ جَاءَ إِلَى مَنْزِلِهِ، فَصَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ، ثُمَّ نَامَ، ثُمَّ قَامَ، ثُمَّ قَالَ "نَامَ

الْغُلَيِّمُ". أَوْ كَلِمَةً تُشْبِهُهَا، ثُمَّ قَامَ فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ، فَجَعَلَنِي عَنْ يَمِينِهِ، فَصَلَّى خَمْسَ رَكَعَاتٍ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ نَامَ حَتَّى سَمِعْتُ غَطِيطَهُ- أَوْ خَطِيطَهُ- ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الصَّلاَةِ. (بخاري: 117)

۹۷- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: يوه شپه د خپلي خاله ام المومنين ميمونه بنت حارث د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمن، په کور کي ويده شوم، رسول الله صلى الله عليه و سلم په همدې شپه د دې کره وو، نبي صلى الله عليه و سلم د ماخستن لمونځ وکړ، بيا خپل کور ته راغى؛ او څلور رکعته لمونځ ئې وکړ، بيا ويده شو، بيا راپاڅېد او وئې فرمايل: (آيا هلکى ويده شوى؟)، يا دې ته ورته کومه خبره، بيا په لمانځه ودرېد، زه ئې کين لوري ته ودرېدم، نو زه ئې خپلي ښى خوا ته بوتلم او پنځه رکعته لمونځ ئې وکړ، بيا ئې دوه رکعته نور وکړل، بيا ويده شو او ما ئې د ويدېدا غږ واورېد، بيا د سهار لمانځه ته ووت.

تکرار: 138، 183، 697، 698، 699، 726، 728، 859، 992، 1198، 4569، 4570، 4571، 4572، 5919، 6215، 6316، 7452

توپير: په ځينو کي ويل شوي چي پنځه رکعته د تهجد لمونځ ئې وکړ، په ځينو کي يولس او په ځينو کي ديارلس رکعتونه ښودل شوي؛ او په ځينو کي شمېر نه دئ ښودل شوى او ويل شوي ثُمَّ صَلَّى مَا شَاءَ الله، په يوه کي د شپې په سر کي ويل شوي چي ثُمَّ نَامَ، په بل کي نَامَ حَتَّى نَفَخَ؛ او

په بل کي له تهجد وروسته ويل شوي چي ثُمَّ اضْطَجَعَ، فَنَامَ حَتَّى نَفَخَ، ثُمَّ أَتَاهُ الْمُنَادِى، په يوه کي نَامَ الْغُلَيِّمُ ويل شوي او په نورو کي نه دي ويل شوي، په ځينو کي فَلَمَّا كَانَ فِي بَعْضِ اللَّيْلِ قَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَتَوَضَّأَ مِنْ شَنٍّ مُعَلَّقٍ وُضُوءًا خَفِيفًا ويل شوي او په ځينو کي نه؛ په بل کي حَتَّى إِذَا انْتَصَفَ اللَّيْلُ؛ او قَبْلَهُ بِقَلِيلٍ أَوْ بَعْدَهُ بِقَلِيلٍ، په ځينو کي دا الفاظ شته اسْتَيْقَظَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فَجَلَسَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهِ بِيَدِهِ، ثُمَّ قَرَأَ الْعَشْرَ الآيَاتِ الْخَوَاتِمَ مِنْ سُورَةِ آلِ عِمْرَانَ او په ځينو کي نشته، په ځينو کي دا الفاظ هم شته فَاضْطَجَعْتُ فِي عَرْضِ الْوِسَادَةِ وَاضْطَجَعَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَأَهْلُهُ فِي طُولِهَا په نورو کي نشته، په يوه کي ويل شوي چي فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ او په بل کي فَتَوَضَّأَ وُضُوءًا خَفِيفًا، په يوه کي فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ، فَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى رَأْسِى، وَأَخَذَ بِأُذُنِى الْيُمْنَى، يَفْتِلُهَا او په بل کي د دي پر ځای داسي راغلي ثُمَّ جِئْتُ فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ فَأَخَذَنِى فَجَعَلَنِى عَنْ يَمِينِهِ او ډير نور توپيرونه،

که ورته ځير شئ نو وبه ګورئ چي دا روايت په بخاري کي شل ځلي راغلی، راوي ئې همدا عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دئ، په ټولو کي د يوې شپې په اړه خبره شوې، خو د ټولو الفاظ په جدي توګه توپيرونه لري، د دې رواياتو له منځه يو غوره کول ممکن نه دي، هيڅوک د دغو رواياتو له مخي دا پريکړه نشي کولی چي پيغمبر عليه السلام څو رکعته د تهجد لمونځ کولو.

دې ته مو هم بايد پام وي چې په دې وخت کې به د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما عمر ښايي د اوو کلونو شاوخوا کې وو؛ ځکه تر دې لوی ماشومان څوك په خپلې خوني کې له ځان سره نه ځملوي، په دې عمر کې نه ماشوم ټوله شپه ویښ پاته کېدی شي، نه د بل په راویښېدو خبرېدی شي، نه د رکعتونو حساب نیولی شي او نه ئې پر خبرې داسي اعتبار کېدی شي چې د کوم حکم منشأ وګڼل شي، د تهجد د څرنګوالي او شمېر په اړه باید هغو روایاتو ته ارزښت ورکړی شي چې د پیغمبر علیه السلام له ازواج مطهرات روایت شوي نه د یوه ماشوم روایت ته.

امام بخاري رحمه الله د دغه روایت په پای کې لیکلي: إِنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم تَنَامُ عَيْنُهُ وَلاَ يَنَامُ قَلْبُهُ: د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوب داسي وو چې سترګې به ئې ویدې وې خو زړه به ئې ویښ وو، یعني دا چې هغه د سحر لمانځه لپاره سره له هغه اودس نه دئ کړی چې ویده شوی وو او عبدالله بن عباس ئې د ویده کېدو غږ هم اورېدلی وو!! دا په داسي حال کې چې همدا روایت وایي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د تهجد لپاره اودس کړی، که په خوب سره اودس نه ماتېدی نو بیا خو به پیغمبر علیه السلام د تهجد لپاره هم اودس نه کولو او د ماخستن په اوداسه به ئې کاوو!! د یوه ماشوم په داسي روایت چې شل ځلي په شلو متعارضو الفاظو روایت شوی استناد کول او یو حکم ترې ایستل د احتیاط منافي ده. که دا خبره صحیح وي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم به سترګې ویدې وې او زړه به ئې ویښ وو، نو ولي په بخاري

کي ګڼ شمېر داسي روايات راغلي چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم د فلان او فلان سفر په دوران کي د ګهيځ لمونځ د دې لپاره پاته شوی وو چې نه وو راوېښ شوی؟! کله کله انسان داسي وي چي سترګي ئې ويدې وي خو زړه ئې ويښ وي، دې استثنائي حالت ته عموميت ورکول او داسي خبره تړې راايستل چي له ډېرو نورو روایاتو سره تصادم کوي صحيح خبره نه ده.

له امهات المؤمنين (عائشة، ام سلمه او حفصه رضي الله عنهن) چي کوم روايات راغلي له هغوی څو خبري معلومېږي: پېغمبر عليه السلام به د شپې لمانځه ته راويښ شو، بشپړ او ښه اودس به ئې وکړ، اته رکعته د تهجد لمونځ او په پای کي درې رکعته د وتر لمونځ به ئې کولو، کله کله ئې داسي کړي چي راويښ شوی، دوه رکعته لمونځ ئې کړی بيا ويده شوی بيا راپاڅېدلی او دوه رکعته ئې کړې، همداسي بيا بيا راپاڅېدلی ترهغه چي خپل لمونځ ئې بشپړ کړی او کله ئې ټول يو ځای او د شپې په وروستۍ درېيمي کي کړي، په ټولو کي جامع ئې دا روايت دئ چي د احاديثو ټولو کتابونو رااخيستی:

حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ يَحْيَى قَالَ قَرَأْتُ عَلَى مَالِكٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يُصَلِّى بِاللَّيْلِ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُوتِرُ مِنْهَا بِوَاحِدَةٍ فَإِذَا فَرَغَ مِنْهَا اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَنِ حَتَّى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ فَيُصَلِّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ. رواه مسلم

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي رسول الله صلى الله

علیه و سلم به د شپې یولس رکعته لمونځ کاوو چې په دې کې به یو د وتر رکعت وو، کله چې به ترې فارغ شو نو په ښي اړخ به پرېوت تر هغه چې مؤذن به ورته راغی، نو دوه لنډ رکعته لمونځ به ئې وکړ. (جومات ته له تلو مخکې).

په دې کې څو لاربښووني شوې:

پیغمبر علیه السلام د شپې لمونځ د شپې آخري برخې ته ځنډولی.

اته رکعته د تهجد لمونځ او درې رکعته د وتر لمونځ به ئې کاوو، ځکه له نورو روایاتو معلومېږي چې د پیغمبر علیه السلام د تهجد لمونځ اته رکعته وو، دا هم ویل شوي چې نه ئې تر دې کم کړي او نه زیات، دا هم ویل شوي چې د روژې په میاشت کې ئې هم همدا اته رکعته لمونځ کړی، کله چې به دا لمونځ د شپې له لوري په کوم سبب ترې پاته شو نو سبا به ئې تر غرمې مخکې کاوو.

د سحر دوه رکعته ئې په همغه اودس کړي چې د تهجد لپاره ئې کړی، له وتر وروسته ویده شوی نه دئ بلکې په ښي اړخ پرېوتی او آرام ئې کړی.

دا طریقه د هر مسلمان لپاره ډېره غوره او آسانه ده او د هر امام لپاره ډېره ګټوره، ځکه د فرض لمانځه لپاره چې د قرآن کومه برخه غوره کوي نو په همدې وخت کې ئې له ځان سره تکرارولی شي. که د فجر له سنتو مخکې ویده شي نو دا به ورته ګرانه وي چې په فرض لمانځه کې سم او په ډاډه زړه قرائت وکړی شي.

خو دا چې پیغمبر علیه السلام د وتر لمونځ په یوه سلام

کړی که په دوو سلامونو، یعني دري رکعته ئې یو ځای کړي که دوه ېیل او یو ېیل؟ احنافو هغه روایت ته ترجیح ورکړي چې وایي: پیغمبر علیه السلام دري رکعته په یوه سلام کړي. د دې روایت په استناد: أن رسول الله صلى الله عليه و سلم كان يصلى بالليل إحدى عشرة ركعة منها الوتر ثلاث ركعات. احناف د دې لپاره ښه ډېر اسناد لري چې وایي: عمر، علي او بن مسعود رضي الله عنهم همداسي کول. په دې کي اکثر محققین متفق دي چې وتر دري رکعته دئ. که په دې اړه دواړه روایتونه صحیح وګنو نو یوازي دومره ویلي شو چې د وتر لمونځ هم په یوه سلام سره شوی او هم په دوو سلامونو سره، خو دا خبره چې په یوه سلام ئې سم نه بولي؛ یا به ډېر بې علمه انسان دا خبره کوي او یا په ړوند تعصب اخته انسان.

۳۲- باب: د علم یادول

۹۸- حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللهِ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ إِنَّ النَّاسَ يَقُولُونَ أَكْثَرَ أَبُو هُرَيْرَةَ، وَلَوْلاَ آيَتَانِ فِي كِتَابِ اللهِ مَا حَدَّثْتُ حَدِيثًا، ثُمَّ يَتْلُو (إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ) إِلَى قَوْلِهِ (الرَّحِيمُ) إِنَّ إِخْوَانَنَا مِنَ الْمُهَاجِرِينَ كَانَ يَشْغَلُهُمُ الصَّفْقُ بِالأَسْوَاقِ، وَإِنَّ إِخْوَانَنَا مِنَ الأَنْصَارِ كَانَ يَشْغَلُهُمُ الْعَمَلُ فِي أَمْوَالِهِمْ، وَإِنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ كَانَ يَلْزَمُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم بِشِبَعِ بَطْنِهِ وَيَحْضُرُ مَا لاَ يَحْضُرُونَ، وَيَحْفَظُ مَا لاَ يَحْفَظُونَ. (بخاري: 118)

۹۸- له ابوهریره رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: خلک

وايي ابوهريره ډېر احاديث روايت کړي، خو که د الله د کتاب د دوو آيتونو خاطر نه وی؛ نو يو حديث به مې هم نه وی روايت کړی، بيا ئې دا آيتونه تلاوت کړل: (إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَتِ وَ الْهُدَى مِن بَعْدِ مَا بَيَّنَّهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَبِ أُولَئك يَلْعَنهُمُ الله وَ يَلْعَنهُمُ اللَّعِنُونَ * إِلا الَّذِينَ تَابُوا وَ أَصلَحُوا وَ بَيَّنُوا فَأُولَئك أَتُوب عَلَيهِمْ وَ أَنَا التَّوَّاب الرَّحِيمُ: البقرة: 159-160: له څرګندو آيتونو او لارښووني چې مور کوم څه نازل کړي، څوك چې دا پټوي، وروسته له هغه چې مور خلکو ته په کتاب کي بيان کړي، نو يقيناً چې په دغو کسانو هم الله لعنت وايي او هم هر لعنت ويونکی پرې لعنت وايي. مګر هغه چې توبه او رجوع ئې وکړه او خپل کړه ئې اصلاح کړل او بيان ئې کړ، نو د دوی توبه به قبوله کړم او زه خو يقيناً چې ډېر مهربان توبه منونکی يم.)، (بيا ئې وويل): زمور مهاجر وروڼه په بازارونو کي په پېر پلور مشغول وو؛ او زمور انصار وروڼه په خپلو مالونو (زمکو) کي کار مصروف کړي وو او ابوهريره به له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره وو او د نس له مړولو پرته ئې بل څه نه غوښتل؛ او هلته به حاضر وو چې هغوی به نه ورته حاضرېدل او هغه څه به ئې يادول چې هغوی به نه يادول.

تکرار: 119، 2047، 2350، 3648، 7354، په تکرار راغلو کي يو دا دئ:

99- حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ أَبُو مُصْعَبٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ

قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي أَسْمَعُ مِنْكَ حَدِيثًا كَثِيرًا أَنْسَاهُ. قَالَ "ابْسُطْ رِدَاءَكَ "فَبَسَطْتُهُ. قَالَ فَغَرَفَ بِيَدَيْهِ ثُمَّ قَالَ "ضُمُّهُ "فَضَمَمْتُهُ فَمَا نَسِيتُ شَيْئًا بَعْدَهُ. بخاري: 119

له ابو هريرة رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: ومي ويل: يا رسول الله! زه له تا ډېر داسي احاديث اورم چي هېر مي شي؟ وئې فرمايل: (خادر دي وغوړوه)، ما خپل خادر آوار کړ، نو په دواړو لاسو ئې زما په خادر کي څو لپي واچولي (لاسونه ئې داسي وخوزول لکه چي څه په کي اچوي)، بيا ئې وفرمايل: (ځان ته ئې درټول کړه)، راټول مي کړ او له دې وروسته مي هيڅ شی هېر نکړ.

تکرار: **118، 2047، 2350، 3648، 7354**

توپير: په يوه کي راغلي إِنِّي أَسْمَعُ مِنْكَ حَدِيثًا كَثِيرًا أَنْسَاهُ په نورو کي نشته، په يوه کي دا ابْسُطْ رِدَاءَكَ او په نورو کي نشته، په يوه کي دا فَغَرَفَ بِيَدَيْهِ ثُمَّ قَالَ "ضُمُّهُ "فَضَمَمْتُهُ فَمَا نَسِيتُ شَيْئًا بَعْدَهُ شته او په نورو کي نشته؛ او پر ځای ئې داسي راغلي: إِنَّهُ لَنْ يَبْسُطَ أَحَدٌ ثَوْبَهُ حَتَّى أَقْضِيَ مَقَالَتِي هَذِهِ، ثُمَّ يَجْمَعَ إِلَيْهِ ثَوْبَهُ إِلاَّ وَعَى مَا أَقُولُ، په بل کي مَنْ يَبْسُطْ رِدَاءَهُ حَتَّى أَقْضِيَ مَقَالَتِي ثُمَّ يَقْبِضْهُ، فَلَنْ يَنْسَى شَيْئًا سَمِعَهُ مِنِّي؛ او په بل کي "لَنْ يَبْسُطَ أَحَدٌ مِنْكُمْ ثَوْبَهُ حَتَّى أَقْضِيَ مَقَالَتِي هَذِهِ، ثُمَّ يَجْمَعَهُ إِلَى صَدْرِهِ، فَيَنْسَى مِنْ مَقَالَتِي شَيْئًا أَبَدًا، په يوه کي دا إِنَّكُمْ تَقُولُونَ إِنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ يُكْثِرُ الْحَدِيثَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم. وَتَقُولُونَ مَا بَالُ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنْصَارِ لاَ يُحَدِّثُونَ عَنْ رَسُولِ

الله صلى الله عليه و سلم بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ شته او په نورو کي يوازي دا ويل شوي إِنَّ النَّاسَ يَقُولُونَ أَكْثَرَ أَبُو هُرَيْرَةَ؛ او دا چي وَيَقُولُونَ مَا لِلْمُهَاجِرِينَ وَالأَنْصَارِ لاَ يُحَدِّثُونَ مِثْلَ أَحَادِيثِهِ، په يوه کي فَبَسَطْتُ نَمِرَةً عَلَيَّ، حَتَّى إِذَا قَضَى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم مَقَالَتَهُ جَمَعْتُهَا إِلَى صَدْرِى، فَمَا نَسِيتُ مِنْ مَقَالَةِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم تِلْكَ مِنْ شَىْءٍ، په بل کي داسي راغلي ثم جَمَعْتُهَا إِلَى صَدْرِى، فَوَالَّذِي بَعَثَهُ بِالْحَقِّ مَا نَسِيتُ مِنْ مَقَالَتِهِ تِلْكَ إِلَى يَوْمِى هَذَا او په بل کي. فَبَسَطْتُ بُرْدَةً كَانَتْ عَلَيَّ، فَوَالَّذِي بَعَثَهُ بِالْحَقِّ مَا نَسِيتُ شَيْئًا سَمِعْتُهُ مِنْهُ راغلي.

له دې روايتونو يو غوره کول ممکن نه دي، ځکه يو ئې وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپلي خطبې کي وويل: څوك چي خپل څادر وغوړوي، تر هغه چي زه خپلي خبري پاى ته ورسوم، بيا ئې خپلي سيني ته راغونډ کړي نو ما چي څه ويلي هيڅکله به ئې هېر نه کړي، خو، په بل کي ويل شوي چي ابوهريره رضي الله عنه ته ئې دا خبره وکړه، هغه خپل څادر وغوړاوو، رسول الله صلى الله عليه و سلم لاسونه داسي وخوزول لکه چي څه په دې څادر کي اچوي، بيا ابوهريره دا څادر راغونډ کړ او خپلي سيني ته ئې ونيو او د همدې په وجه ئې حديثونه له ياده نه وتل، خو، په بل کي ويل شوي چي کله به ابوهريره داسي وکړل نو هغه څه به ئې ښه ياد کړل چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به هغه مهال وويل. په بل روايت کي داسي راغلي چي ابوهريره يو ځل همدا کار کړى او هغه مهال چي رسول الله صلى الله عليه و سلم کوم حديثونه ويلي وو هغه ئې هيڅکله

هېر نه کړل، پوښتنه دا ده: دغو متعارضو روایاتو ته په پام سره به څنګه دا پرېکړه کوو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ټولو ته دا خبره کړې که یوازې ابوهریره رضي الله عنه ته؟ که ټولو ته ئې دا خبره کړې وي نو ولې به په ټولو صحابه وو کې یوازې ابوهریره رضي الله عنه دا کار کولو؟ مګر ټولو یا ډېرو تلوسه نه درلوده چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم حدیثونه ئې هیڅکله هېر نشي؟ ولې له هیڅ صحابي دا حدیث نه دئ روایت شوی؟ دا هم معلومه نه ده چې څادر غوړول او راغونډول په مجازي معنی راغلي که په حقیقي معنی؟! آیا مراد ئې دا دئ چې څوك په غور سره د پیغمبر علیه السلام د وینا اورېدو ته کښېني او خپل څادر وغوړوي، د خپل زړه دروازه او د خپل ذهن صفحه ورته پرانیزي نو الله تعالی به ئې پرې پوه کړي او په زړه کې به ئې داسې ځای ونیسي چې هیڅکله به ئې نه هېرېږي؟

څه چې ویل ئې ممکن برېښي دا دي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم دا خبره په خپلي خطبې کې کړې او په همدې معنی چې څوك په غور سره د پیغمبر علیه السلام د وینا اورېدو ته کښېني او خپل څادر وغوړوي، او... نو هیڅکله به ئې نه هېرېږي، دلته خبرو ته څادر غوړول په مجازي معنی راغلي، په لاندي روایت کې به هم وګورئ چې حفظ کول او یادول د لوښي په نامه راغلي یعني لوښی په مجازي معنی د یادولو لپاره کارول شوی، د دې ډېر نور مثالونه په نصوصو کې تر سترګو کېږي. زه باور لرم چې که رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د ابوهریره رضي الله عنه دا خبره شوې وی نو همغه ځواب به ئې ورکړی وو چې د خیط

الابيض او خيط الاسود په اړه ئې يوه صحابي ته ورکړی وو، هغه ګمان کړی وو چې له دې تور او سپين تارو مراد اصلي تارونه دي، د شپې ئې دوه تارونه له ځان سره ايښي وو چې د سحر راختو او د سيمي (سحور) پای ترې معلوم کړي، کله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته اطلاع ورسېده وئې فرمايل: نو دا خو به ډېر اوږده تارونه وي!! ځکه په قرآن کي د فجر سپين او تور تارونه راغلي او له هغه مراد هغه توره او سپينه ګاره او کرښه ده چې د سحر له راختو سره په ختيځ کي راڅرګندي شي، دلته به هم پيغمبر عليه السلام فرمايلي وو: نو دا خو ډېره آسانه شوه، هر څوك به د خطيب د وينا په پيل کي خپل ځادر غوړوي او په پای کي به ئې راغونډوي او په دې سره به ئې د خطيب ټولي خبري په ياد پاته کېږي!!

١٠٠- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي أَخِي عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم وِعَاءَيْنِ، فَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَبَثَثْتُهُ، وَأَمَّا الآخَرُ فَلَوْ بَثَثْتُهُ قُطِعَ هَذَا الْبُلْعُومُ. (بخاري: 120)

١٠٠- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي دوه لوښي حفظ (ياد) کړي، چې يو مې خور کړی او که بل ئې خور او نشر کړم نو مرئ به مي غوڅه شي.

دا روايت د سند له مخې ډېر زيات غريب دئ، په بخاري کي همدا يو ځل راغلی او له بخاري پرته بل هيڅ کتاب نه دئ راوړی. نه يوازي له همدې کبله د استناد وړ نه دئ چې

په صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو کي يوه يوه کس روايت کړی، يوازي په يوه کتاب کي او هغه هم يوازي يو ځل او يو سند سره راغلی بلکي له دې پلوه هم چي له مخکيني ۹۸ روايت سره تعارض لري، هلته ويل شوي چي ابوهريره رضي الله عنه د قرآن هغه آيت ته په پام سره احاديث بيانول چي وايي: له څرګندو آيتونو او لارښووني چي مورِ کوم څه نازل کړي، څوک چي دا پټوي، وروسته له هغه چي مورِ خلکو ته په کتاب کي بيان کړي، نو يقيناً چي په دغو کسانو هم الله لعنت وايي او هم هر لعنت ويونکی پرې لعنت وايي. مګر هغه چي توبه او رجوع ئې وکړه او خپل کړه ئې اصلاح کړل او بيان ئې کړ، ابوهريره به څنګه دلته د دې آيت خلاف عمل کولو او ځيني حقائق به ئې د خلکو له وړي پټول.

له دې علاوه دا روايت ډېري داسي پوښتني راولاړوي چي ځواب ئې نشي ويل کېدای: هغه به څه وي چي يوازي ابوهريره رضي الله عنه ته ويل شوي؟ ولي يوازي ده ته؟ آيا پيغمبر عليه السلام ځيني خبري له خلکو پټي ساتلي؟ هغه خو يوازي هغه خبري خلکو ته کولې چي د الله تعالی له لوري ورته وحي شوې، د وحي هيڅ خبره ئې نه پټه ساتلی شوی او نه ئې يوازي خاصو کسانو ته کولې شوی!! ځکه هغه ته ويل شوي وو: يَأَيهَا الرَّسولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْك مِن رَّبِّك وَ إِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْت رِسالَتَهُ وَ الله يَعْصِمُك مِنَ النَّاسِ إِنَّ الله لا يهْدِی الْقَوْمَ الْكَفِرِينَ المائدة:67: اې پيغمبره! هغه څه ورسوه چي د خپل رب له لوري درته نازل شوي او که داسي دي ونه کړل نو د ده پيغام دي نه دئ رسولی او الله

دي له خلکو ساتي، يقيناً چي الله دا کافر قوم نه هدايت کوي.

دا مطلب د المائدې په سورې کي د پيغمبر عليه السلام په اړه درې ځلي؛ او د مؤمنانو په اړه يو ځل په 105 آيت کي راغلی، په دې آيت سره پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چي خپل رسالت له خوف، وېرې، تردد او تزلزل پرته په بشپړه توګه پای ته ورسوه، د هغه څه په تبليغ او ولس ته په رسولو کي هيڅ کمی او قصور مه کوه چي د خپل رب له لوري درکړی شوي، که داسي ونه کړې نو تا به خپل الهي رسالت نه وي ترسره کړی، د دښمنانو د مخالفتونو هيڅ پروا مه کوه، الله تعالی ستا ساتونکی دئ، که خلك ستا دعوت ته مثبت ځواب ونه وايي، په دې مه مأيوسه کېږه او په خپل دعوت کي کمی مه راوله، داسي نه چي د خپل دعوت له نتائجو مأيوس شې او په نيمايي کي ئې پرېږدې، د خلکو د هدايت پرېکړه الله تعالی کوي، د دوی د عدم ايمان وجه دا ده چي الله تعالی دا کافر قوم د هدايت وړ نه ګڼي. که څه هم په دې مبارك آيت کي خطاب پيغمبر عليه السلام ته متوجه دئ، خو هر مسلمان او مخصوصاً علماء چي د پيغمبر عليه السلام ورثه ګڼل کېږي، دا خطاب ورته متوجه دئ، بايد د دې رسالت وارثان دا الهي پيغام په بشپړه توګه او له خلکو له وېرې او خوف پرته ورسوي، بايد مطمئن وي چي الله تعالی به ئې ساتنه کوي!!

پوښتنه دا ده چي ابوهريره رضي الله عنه به څنګه دا مبارك آيت له پامه غورځولی وي او د وېرې له وجهي به ئې ځيني احاديث پټ ساتلي او له بيانولو به ئې ډډه کړې وي؟! غالب ګمان دا دئ چي دا هم د شيعه وو له لوري جوړ

شوی روایت دئ.

٣٣- باب: علماءو ته غوږ نیول

١٠١- حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَلِيُّ بْنُ مُدْرِكٍ عَنْ أَبِي زُرْعَةَ عَنْ جَرِيرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ لَهُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ "اسْتَنْصِتِ النَّاسَ "فَقَالَ "لاَ تَرْجِعُوا بَعْدِى كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ". (بخاري:121)

١٠١- له جرير رضي الله عنه روایت دئ چې نبي صلى الله عليه و سلم په حجة الوداع کې ورته وفرمایل: (له خلکو وغواړه چې چوپ شي، بیا ئې وفرمایل: (له ما وروسته کافر نه شئ، داسي چې ځینې د ځینو نورو غاړې ووهي.)

تکرار: **4405، 6869، 7080**، د ټولو راویان او الفاظ سره ورته دي.

د دې روایت شرح په 9- باب قَوْلِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم "رُبَّ مُبَلَّغٍ أَوْعَى مِنْ سَامِعٍ "کي وګورئ.

٣٤- باب: علم الله تعالى ته محول کول

102 - حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا عَمْرٌو قَالَ أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ إِنَّ نَوْفًا الْبِكَالِيَّ يَزْعُمُ أَنَّ مُوسَى لَيْسَ بِمُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ، إِنَّمَا هُوَ مُوسَى آخَرُ. فَقَالَ كَذَبَ عَدُوُّ الله، حَدَّثَنَا أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "قَامَ مُوسَى النَّبِيُّ خَطِيبًا فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ، فَسُئِلَ أَيُّ النَّاسِ أَعْلَمُ فَقَالَ أَنَا أَعْلَمُ. فَعَتَبَ الله عَلَيْهِ، إِذْ لَمْ يَرُدَّ الْعِلْمَ إِلَيْهِ،

فَأَوْحَى اللهُ إِلَيْهِ أَنَّ عَبْدًا مِنْ عِبَادِى بِمَجْمَعِ الْبَحْرَيْنِ هُوَ أَعْلَمُ مِنْكَ. قَالَ يَا رَبِّ وَكَيْفَ بِهِ فَقِيلَ لَهُ احْمِلْ حُوتًا فِي مِكْتَلٍ فَإِذَا فَقَدْتَهُ فَهُوَ ثَمَّ، فَانْطَلَقَ وَانْطَلَقَ بِفَتَاهُ يُوشَعَ بْنِ نُونٍ، وَحَمَلاَ حُوتًا فِي مِكْتَلٍ، حَتَّى كَانَا عِنْدَ الصَّخْرَةِ وَضَعَا رُءُوسَهُمَا وَنَامَا فَانْسَلَّ الْحُوتُ مِنَ الْمِكْتَلِ فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا، وَكَانَ لِمُوسَى وَفَتَاهُ عَجَبًا، فَانْطَلَقَا بَقِيَّةَ لَيْلَتِهِمَا وَيَوْمِهِمَا فَلَمَّا أَصْبَحَ قَالَ مُوسَى لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا، لَقَدْ لَقِينَا مِنْ سَفَرِنَا هَذَا نَصَبًا، وَلَمْ يَجِدْ مُوسَى مَسًّا مِنَ النَّصَبِ حَتَّى جَاوَزَ الْمَكَانَ الَّذِي أُمِرَ بِهِ. فَقَالَ لَهُ فَتَاهُ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ، قَالَ مُوسَى ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِي، فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا، فَلَمَّا انْتَهَيَا إِلَى الصَّخْرَةِ إِذَا رَجُلٌ مُسَجًّى بِثَوْبٍ- أَوْ قَالَ تَسَجَّى بِثَوْبِهِ- فَسَلَّمَ مُوسَى. فَقَالَ الْخَضِرُ وَأَنَّى بِأَرْضِكَ السَّلاَمُ فَقَالَ أَنَا مُوسَى. فَقَالَ مُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ قَالَ نَعَمْ. قَالَ هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَى أَنْ تُعَلِّمَنِى مِمَّا عُلِّمْتَ رَشَدًا قَالَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا، يَا مُوسَى إِنِّي عَلَى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللهِ عَلَّمَنِيهِ لاَ تَعْلَمُهُ أَنْتَ، وَأَنْتَ عَلَى عِلْمٍ عَلَّمَكَهُ لاَ أَعْلَمُهُ. قَالَ سَتَجِدُنِى إِنْ شَاءَ اللهُ صَابِرًا، وَلاَ أَعْصِى لَكَ أَمْرًا، فَانْطَلَقَا يَمْشِيَانِ عَلَى سَاحِلِ الْبَحْرِ لَيْسَ لَهُمَا سَفِينَةٌ، فَمَرَّتْ بِهِمَا سَفِينَةٌ، فَكَلَّمُوهُمْ أَنْ يَحْمِلُوهُمَا، فَعُرِفَ الْخَضِرُ، فَحَمَلُوهُمَا بِغَيْرِ نَوْلٍ، فَجَاءَ عُصْفُورٌ فَوَقَعَ عَلَى حَرْفِ السَّفِينَةِ، فَنَقَرَ نَقْرَةً أَوْ نَقْرَتَيْنِ فِي الْبَحْرِ. فَقَالَ الْخَضِرُ يَا مُوسَى، مَا نَقَصَ عِلْمِى وَعِلْمُكَ مِنْ عِلْمِ اللهِ إِلاَّ كَنَقْرَةِ هَذَا الْعُصْفُورِ فِي الْبَحْرِ. فَعَمَدَ الْخَضِرُ إِلَى لَوْحٍ مِنْ أَلْوَاحِ السَّفِينَةِ فَنَزَعَهُ. فَقَالَ مُوسَى قَوْمٌ حَمَلُونَا بِغَيْرِ نَوْلٍ، عَمَدْتَ إِلَى سَفِينَتِهِمْ فَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا قَالَ

أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا قَالَ لاَ تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ. فَكَانَتِ الأُولَى مِنْ مُوسَى نِسْيَانًا. فَانْطَلَقَا فَإِذَا غُلاَمٌ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ، فَأَخَذَ الْخَضِرُ بِرَأْسِهِ مِنْ أَعْلاَهُ فَاقْتَلَعَ رَأْسَهُ بِيَدِهِ. فَقَالَ مُوسَى أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا- قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ وَهَذَا أَوْكَدُ- فَانْطَلَقَا حَتَّى إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا، فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا، فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ فَأَقَامَهُ. قَالَ الْخَضِرُ بِيَدِهِ فَأَقَامَهُ. فَقَالَ لَهُ مُوسَى لَوْ شِئْتَ لاَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا. قَالَ هَذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ". قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "يَرْحَمُ اللهُ مُوسَى، لَوَدِدْنَا لَوْ صَبَرَ حَتَّى يُقَصَّ عَلَيْنَا مِنْ أَمْرِهِمَا" بخاري: 122

102- له سعيد بن جبير روايت دئ چي عبدالله بن عباس ته مي وويل: نوف البكالي داسي گمان كوي چي دا بل موسى وو نه د بني اسرائيلو موسى، هغه وويل: د خداى دښمن دروغ وايي! له ابي بن كعب رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (موسى (عليه السلام) بني اسرائيلو ته خطبه ويله چي پوښتنه تري وشوه: څوک تر ټولو زيات عالم دئ؟ موسى (عليه السلام) وويل: زه تر ټولو زيات پوه يم، نو الله تعالى په دې خبري عتاب ورته وکړ، ځکه د علم نسبت ځې الله تعالى ته ونکړ؛ او وحي ځې ورته وکړه چي: زما له بندګانو يو بنده چي په (مجمع البحرين) کي دئ؛ تر تا زيات عالم دئ، وئې ويل: څنګه ورشم؟ ورته وويل شول: يو کب په ټوکرۍ کي درسره واخله، هر چېرې چي درنه ورک شو، هغه هملته

دئ. نو دی له خپل خادم یوشع بن نون سره روان شو او یو کب ئې په ټوکرۍ کي له ځان سره واخیست، ترهغه چې یوه کمر ته ورسېدل، سرونه ئې کېښودل او ویده شول، کب له ټوکرۍ ووت او په سیند کي په خپله مخه ولاړ، دا کار دوی دواړو (موسی (علیه السلام) او خادم ته ئې) عجیب ښکاره شو، خو روان شول، پاته ورځ او شپه ئې سفر وکړ، کله چې سهار شو، خپل خادم ته ئې وویل: زموږ غرمني خواړه راوړه، پدې سفر کي خو ډېر ستړي شوو؛ او موسی (علیه السلام) تر هغه ستومانه نه شو چې له هغه ټاکلي ځایه نه وو تېر شوی، خادم ئې ورته وویل: پام دي وو کله چې مو هغه کمر ته پناه یووړه نو ما کب هېر کړ، موسی (علیه السلام) وویل: دا همغه ځای دئ چې موږ لټولو، نو بېرته په خپلو پلونو په شا راوګرځېدل او کله چې همغه کمر ته ورسېدل، یو سړی ئې ولید چې ځان ئې په خپلو جامو کی نغښتی دئ، موسی (علیه السلام) سلام واچاوو، خضر (علیه السلام) وویل: ستا په سیمه کي سلام له کومه شو؟ وئې ویل: زه موسی یم، وئې ویل: آیا د بني اسرائیلو موسی؟ ورته وئې وویل: هو؛ بیا ئې وویل: اجازه راکوې چې د دې لپاره درسره ملګری شم چې له هغو لارښوونو څه راوښیي چې ستا په برخه شوې؟ وئې ویل: ته زما پر ملګرتیا صبر نشې کولی، ای موسی! له ما سره د الله تعالی هغه علم دئ چې هغه رابنودلی او ته پرې نه پوهیږې؛ او له تا سره د الله تعالی هغه علم دئ چې درښودلی ئې دئ او زه پرې نه پوهیږم، موسی (علیه السلام) وویل: که خدای کول

ما به صبر کوونکی وموميِ، زه به په هيڅ کار کي ستا سرغړونه ونکړم. نو دواړه د بحر په غاړه غاړه روان شول، کښتئ ئې نه درلوده، يوه کښتئ ورباندي راغله، خبره ئې ورسره وکړه چي ورسره سپاره ئې کړي، خضر وپېژندی شو؛ او بې کرايې ئې دواړه سپاره کړل، په دې وخت کي يوه مرغئ راغله او د کښتئ پر يوه څنډه کښېنسته، مښوکه ئې يو يا دوه ځله په بحر کي غوټه کړه، خضر (عليه السلام) وويل: اې موسى! د الله تعالى د علم په پرتله زما او ستا علم دومره لږ دئ لکه د دې بحر د اوبو په پرتله د دې مرغئ دا لنده شوې مښوکه، وروسته خضر (عليه السلام) د کښتئ د درو يوې درې ته مخه کړه او هغه ئې وايستله، موسى (عليه السلام) وويل: دې خلکو مورِ له کرايې پرته ورسره سپاره کړو، تا ئې کښتئ ته مخه کړه چي ماته ئې کړې او سپرلئ ئې ډوبي کړې؟ وئې ويل: آيا تا ته مي نه وو ويلي چي له ماسره صبر نه شې کولى؟ موسى (عليه السلام) وويل: په هېروني مي مه نيسه، د موسى (عليه السلام) دا لومړنى کار يوه هېرونه وه، بيا روان شول، ناڅاپه يو هلک ئې وليد چي له نورو هلکانو سره لوبي کوي، خضر (عليه السلام) هغه د سر له پورتنئ برخي ونيولو او په خپل لاس ئې ترې وشوکاوو، موسى (عليه السلام) وويل: آيا يو بې ګناه انسان دي بې له دې چي څوک ئې وژلى وي ووژلو؟ خضر (عليه السلام) وويل: آيا نه مي وو درته ويلي چي ته زما د ملګرتيا حوصله نه لرې؟ ابن عيينه وايي: دا ځل ئې خبره زياته مؤکده وه، بيا وخوزېدل،

تر هغه چې يوه کلي ته ورسېدل، له اوسېدونکو ئې خوراك وغوښتو، هغوی له دې انکار وکړ چې مېلمانه ئې کړي، نو دواړو هملته داسي يو دېوال وليد چې د نسکورېدو په حال کي وو، هغه ئې سم کړ، خضر (عليه السلام) پخپل لاس هغه دېوال ته اشاره وکړه او سم ئې ودراوو، موسی (عليه السلام) وويل: کولی دي شوی چې د دې کار په بدله کي مزدوري تري واخلي. خضر (عليه السلام) وويل: همدا زما او ستا تر منځ بېلتون دئ. رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (الله تعالى دي پر موسی (عليه السلام) رحم وکړي، کاش صبر ئې کړی وی چې د دوی دواړو قصه نوره هم راته څرګنده شوې وی.)

د دې روايت ځيني برخي له قرآن سره تعارض لري ځکه دا روايت وايي چې وريت شوی کب ژوندی شو او سيند ته ئې توپ کړل او دا موسی عليه السلام او ملګري ته ئې د حيرانتيا سبب شو، حال دا چې قرآن وايي چې په سيند کي د کب ورکېدا يوازي د موسی عليه السلام ملګري ليدلي او موسی عليه السلام دا صحنه نه وه ليدلې نو ځکه ئې له خپل ملګري د دغي خبري په اورېدو سره وويل: مورږ د همدې ځای په لټه کي وو چې کب به په خپله مخه درومي او له مورږ به غائب کيږي.

همدا راز دا روايت له هغه روايت سره تعارض او تناقض لري چې په باب الْخُرُوجِ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ. 67 روايت کي راغلی، هغه تر دې له هره پلوه ارجح او غوره دئ، شرح ئې هلته ولولئ.

٣٥- باب: په ولاړه له ناست عالم پوښتنه

١٠٣- حَدَّثَنَا عُثْمَانُ قَالَ أَخْبَرَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ يَا رَسُولَ الله، مَا الْقِتَالُ فِي سَبِيلِ الله فَإِنَّ أَحَدَنَا يُقَاتِلُ غَضَبًا، وَيُقَاتِلُ حَمِيَّةً. فَرَفَعَ إِلَيْهِ رَأْسَهُ- قَالَ وَمَا رَفَعَ إِلَيْهِ رَأْسَهُ إِلاَّ أَنَّهُ كَانَ قَائِمًا- فَقَالَ "مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ الله هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ الله عَزَّ وَجَلَّ". (بخاري:123)

١٠٣-له ابوموسی رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: یو سړی د نبي صلی الله علیه و سلم حضور ته راغی او وئې ویل: یا رسول الله! د الله تعالی په لار کي قتال (جنګ) څه ته وایي؟ ځکه زموږ یو د قهر او انتقام له امله جنګیږي، بل د قومي تعصب له امله جګړه کوي، نو خپل سر ئې د هغه لوري ته لوړ کړ، د دې لپاره ئې لوړ کړ چي پوښتونکی ولاړ وو؛ او وئې فرمایل: (څوک چي فقط د دې لپاره جنګیږي چي د الله تعالی کلمه (دین) لوړ او غالب وي یوازي همدا د الله تعالی په لار کي قتال دئ.)

تکرار: **2810، 3126، 7458**

توپیر: په یوه کي فَإِنَّ أَحَدَنَا يُقَاتِلُ غَضَبًا، وَيُقَاتِلُ حَمِيَّةً، په بل کي الرَّجُلُ يُقَاتِلُ حَمِيَّةً وَيُقَاتِلُ شَجَاعَةً وَيُقَاتِلُ رِيَاءً، فَأَيُّ ذَلِكَ فِي سَبِيلِ الله، په بل کي وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُذْكَرَ، په بل کي الرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلْمَغْنَمِ، وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلذِّكْرِ، وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُرَى مَكَانُهُ راغلي.

يعني، په يوه کي د انتقام او قومي تعصب يادونه شوې، په بل کي د غنيمت، شهرت او رياء، په بل کي د تعصب، خپل شجاعت خلکو ته ښودل او رياء يادونه شوې او د ټولو په ځواب کي ويل شوي چي د الله په لار کي جنګېدل يوازي هغه جنګېدل دي چي موخه ئې اعلاء کلمة الله او د الله د دين غلبه وي.

٣٦- باب: روح څه ده؟

١٠٤- حَدَّثَنَا قَيْسُ بْنُ حَفْصٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ قَالَ حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ سُلَيْمَانُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ الله قَالَ بَيْنَا أَنَا أَمْشِى مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فِي خَرِبِ الْمَدِينَةِ، وَهُوَ يَتَوَكَّأُ عَلَى عَسِيبٍ مَعَهُ، فَمَرَّ بِنَفَرٍ مِنَ الْيَهُودِ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ سَلُوهُ عَنِ الرُّوحِ. وَقَالَ بَعْضُهُمْ لاَ تَسْأَلُوهُ لاَ يَجِىءُ فِيهِ بِشَىْءٍ تَكْرَهُونَهُ. فَقَالَ بَعْضُهُمْ لَنَسْأَلَنَّهُ. فَقَامَ رَجُلٌ مِنْهُمْ فَقَالَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ، مَا الرُّوحُ فَسَكَتَ. فَقُلْتُ إِنَّهُ يُوحَى إِلَيْهِ. فَقُمْتُ، فَلَمَّا انْجَلَى عَنْهُ، قَالَ (وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتُوا مِنَ الْعِلْمِ إِلاَّ قَلِيلاً). (بخاري:125)

١٠٤- له ابن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: په داسي حال کي چي زه له نبي صلى الله عليه و سلم سره د مدينې په يوه کنډواله کي روان وم، رسول الله صلى الله عليه و سلم د خرما د لرګي عصا لګوله، د يهودانو په يوې ډلې تېر شوو، د دوی ځينو نورو ته وويل: د روح په اړه ئې وپوښتئ؟ نورو ئې وويل: هيڅ پوښتنه مه ترې کوئ، کېدی شي داسي څه ووايي چي تاسو ئې نه خوښوئ؛ او ځينو

نورو ئې وويل: حتماً پوښتنه تړې کوو، نو يو تن تړې راپاڅېد او وئې ويل: اې ابوالقاسمه! روح څه شی ده؟ (رسول الله صلى الله عليه و سلم) چوپ پاته شو، (راوي وايي) له ځان سره مي وويل: ښايي وحي ورته کېږي، زه پاڅېدم، کله چې (د وحي نښي) تړې لرې شوې، نو وئې ويل: (وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتُوا مِنَ الْعِلْمِ إِلاَّ قَلِيلاً: له تا د روح په اړه پوښتنه کوي؛ ووايه: روح زما په رب پورې مختص امر دئ او دوی ته د علم يوازې لږ څه ورکړی شوي.)، اعمش وايي چې زمونږ په قرائت کې دا آيت همداسې دئ.

دلته تر څېړني مخکې څو خبرې په پام کې ولرئ:

د ټولو صحابه وو په اجماع سره دا آيت داسې نه دئ بلکې داسې دئ چې د (أُوتُوا) پر ځای (أُوتِيتُم) په کې راغلي. داسې شاز قرائتونه نه د منلو دي او نه د يادولو، هسې په امت کې د اختلاف راولاړولو باعث کېږي، صحيح قرائت همغه دئ چې صحابه وو پرې اتفاق کړی او تر مونږ پورې په تواتر رارسېدلی. په کار دا ده چې د احاديثو له کتابونو داسې روايات په بشپړه توګه حذف شي.

د روح په اړه د يهودانو عقيده هم داسې وه چې هيڅوک پرې نه پوهېږي، ځينو له دې وېرې چې پيغمبر عليه السلام به ښايي همداسې ځواب ورکړي دا ئې نه خوښېده چې په دې اړه پوښتنه تړې وشي.

تکرار: 4721، 7297، 7456، 7462

توپير: په ځينو کې بَيْنَا أَنَا أَمْشِى مَعَ النَّبِيِّ صلى الله

عليه و سلم فِي خَرِبِ الْمَدِينَةِ او په ځينو کي بَيْنَا أَنَا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فِي حَرْثٍ، په ځينو کي وَهُوَ يَتَوَكَّأُ عَلَى عَسِيبٍ مَعَهُ او په ځينو کي وَهْوَ مُتَّكِئٌ عَلَى عَسِيبٍ، په ځينو کي فَمَرَّ بِنَفَرٍ مِنَ الْيَهُودِ او په ځينو کي إِذْ مَرَّ الْيَهُودُ، په يوه کي داسي ويل شوي فَقَالُوا سَلُوهُ او په نورو کي نه دي ويل شوي، په ځينو کي فَسَكَتَ او په ځينو کي فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِمْ شَيْئًا، په ځينو کي فَقُمْتُ او په بل کي فَقُمْتُ مَقَامِي، په ځينو کي فَلَمَّا انْجَلَى عَنْهُ، په بل کي فَلَمَّا نَزَلَ الْوَحْيُ او په بل کي حَتَّى صَعِدَ الْوَحْيُ، په ځينو کي أُوتُوا او په ځينو کي أُوتِيتُمْ، په ځينو کي لاَ يَجِيءُ فِيهِ بِشَيْءٍ تَكْرَهُونَهُ او په ځينو کي لاَ يُسْمِعْكُمْ مَا تَكْرَهُونَ، په ځينو کي فَقَامَ رَجُلٌ مِنْهُمْ فَقَالَ او په ځينو کي فَقَامُوا إِلَيْهِ فَقَالُوا، راغلي.

لکه چې ګورئ په دې رواياتو کي تعارض تر سترګو کېږي، ځيني وايي چې عبدالله بن مسعود او پيغمبر عليه السلام په يوه پټي کي ولاړ وو او ځيني وايي چې له يوې ويجاړي تېرېدل، ځيني وايي د يهودانو يوه ډله د دوی خوا ته تېرېدله او ځيني وايي چې دوی د يهودانو پر يوې ډلې تېرېدل، ځيني وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د تګ په حال کي عصا لګوله او ځيني وايي چې ولاړ وو او پر عصا ئې تکيه کړې وه، ځيني وايي چې يوه کس تړې پوښتنه وکړه ځيني وايي چې ټولو تړې پوښتنه وکړه، په ځينو کي د آيت لفظ اوتوا او په ځينو کي اوتيتم راغلی.

دې ته په پام سره چې د عثمان رضي الله عنه په دوران

کي ټولو صحابه وو په هغه قرآن اتفاق کړی چي په هغه کي په نوموړي آيت کي د اوتيتم لفظ راغلی، ويلی شو چي په دې رواياتو کي يوازي 4721 روايت د منلو وړ دئ ځکه چي په دې کي همدا لفظ راغلی؛ او وايي چي موږ په يوه پټي کي ولاړ وو، د يهودانو يوه ډله تېرېده او د روح په اړه ئې پوښتنه وکړه....

۳۷- باب: په علم او ښوونه کي تخصيص

۱۰۵- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ قَتَادَةَ قَالَ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم وَمُعَاذٌ رَدِيفُهُ عَلَى الرَّحْلِ قَالَ "يَا مُعَاذُ بْنَ جَبَلٍ". قَالَ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ الله وَسَعْدَيْكَ. قَالَ "يَا مُعَاذُ". قَالَ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ الله وَسَعْدَيْكَ. ثَلاَثًا. قَالَ "مَا مِنْ أَحَدٍ يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ الله صِدْقًا مِنْ قَلْبِهِ إِلاَّ حَرَّمَهُ الله عَلَى النَّارِ". قَالَ يَا رَسُولَ الله، أَفَلاَ أُخْبِرُ بِهِ النَّاسَ فَيَسْتَبْشِرُوا قَالَ "إِذًا يَتَّكِلُوا". وَأَخْبَرَ بِهَا مُعَاذٌ عِنْدَ مَوْتِهِ تَأَثُّمًا. (بخاري:128)

۱۰۵- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي چي معاذ رضي الله عنه ئې تر شا پر يوې سپرلۍ سپور وو وفرمايل: اې معاذ بن جبله! هغه وويل: حاضر او خدمت ته تيار يم يا رسول الله! وئې فرمايل: (اې معاذه!)، وئې ويل: حاضر او خدمت ته تيار يم، يا رسول الله! دري ځلي ئې همداسي وويل، بيا ئې وفرمايل: (هر څوک چي د زړه له اخلاصه شاهدي ورکړی چي له الله تعالى پرته بل معبود نشته او محمد د الله رسول دئ، الله

تعالى به ئې پر اور حرام کړي.)، وئې ويل: يا رسول الله! آيا خلك پرې خبر نه کړم چې پرې خوښ شي؟ وئې فرمايل: (په هغه صورت کي خو به په همدې تکيه وکړي، معاذ رضي الله عنه د ځنکدن په وخت کي خلك پرې خبر کړل، د ګناه له وېرې (له دې وېرې چې د يوه حديث د پټولو ګناه ئې په غاړه نشي.)

تکرار: 129 بخاری

توپير: په يوه کي "مَا مِنْ أَحَدٍ يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ الله صِدْقًا مِنْ قَلْبِهِ إِلاَّ حَرَّمَهُ الله عَلَى النَّارِ او په بل کي "مَنْ لَقِيَ الله لاَ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ، په يوه کي أَفَلاَ أُخْبِرُ بِهِ النَّاسَ او په بل کي أَلاَ أُبَشِّرُ النَّاسَ، په يوه کي إِذًا يَتَّكِلُوا او په بل کي لاَ، إِنِّي أَخَافُ أَنْ يَتَّكِلُوا راغلي.

په دې دواړو کي دوهم روايت ارجح دئ او لومړی له قرآن او نورو رواياتو سره تعارض لري، ځکه قرآن وايي چې ډېر مؤمنان به هم د دوزخ اور ته ننوځي؛ او دا چې چا شرك نه وي کړي په پای کي به جنت ته ځي له نورو نصوصو سره اړخ لګوي. د دې شرح په (١٢) باب، کي د ٢١ روايت په شرح کي وګورئ. دوهم روايت داسي دئ:

حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا قَالَ ذُكِرَ لِي أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ لِمُعَاذٍ "مَنْ لَقِيَ الله لاَ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ". قَالَ أَلاَ أُبَشِّرُ النَّاسَ قَالَ "لاَ، إِنِّي أَخَافُ أَنْ يَتَّكِلُوا "بخاري: 129

له انس رضي الله عنه روايت دئ چي معاذ رضي الله عنه وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم راته وفرمايل: اې معاذه! څوك چي له الله تعالى سره په داسي حال كي مخامخ شي چي شرك ئې نه وى كړى نو جنت ته به داخل شي، وئې ويل: آيا خلكو ته د دې خبري زېرى ورنه كړم؟ وئې فرمايل: وېرېږم چي په همدې به تكيه وكړي (عمل به پرېږدي.)

٣٨- باب: په علم كي شرم

١٠٦- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلاَمٍ قَالَ أَخْبَرَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ زَيْنَبَ ابْنَةِ أُمِّ سَلَمَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ جَاءَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ إِلَى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فَقَالَتْ يَا رَسُولَ الله إِنَّ الله لاَ يَسْتَحْيِى مِنَ الْحَقِّ، فَهَلْ عَلَى الْمَرْأَةِ مِنْ غُسْلٍ إِذَا احْتَلَمَتْ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "إِذَا رَأَتِ الْمَاءَ". فَغَطَّتْ أُمُّ سَلَمَةَ- تَعْنِى وَجْهَهَا- وَقَالَتْ يَا رَسُولَ الله وَتَحْتَلِمُ الْمَرْأَةُ قَالَ "نَعَمْ تَرِبَتْ يَمِينُكِ فَبِمَ يُشْبِهُهَا وَلَدُهَا". (بخاري: 130)

١٠٦- له ام سلمه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: ام سليم د رسول الله صلى الله عليه و سلم حضور ته راغله او وئې ويل: يا رسول الله! الله تعالى د حق له بيانه حياء نه كوي، آيا كه ښځه په خوب كي شيطان وغولوي نو پر هغې غسل لازمېږي؟ نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (هو؛ كه ئې اوبه (مني) وليده). ام سلمه رضي الله عنها خپل مخ پټ كړ او وئې ويل: يا رسول الله! آيا ښځه هم شيطان غولوي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (هو؛ ښى لاس دي په خاوري خړ شه، كه داسي نه وى نو اولاد ئې ولي دې ته

ورته وي؟)

تکرار: 282، 3328، 6091، 6121

توپير: په يوه کي فَغَطَّتْ أُمُّ سَلَمَةَ او په بل کي فَضَحِكَتْ أُمُّ سَلَمَةَ، په يوه کي أَتَحْتَلِمُ الْمَرْأَةُ او په بل کي تَحْتَلِمُ الْمَرْأَةُ راغلي.

۳۹- باب: د شرم په وجه د بل چا په خوله پوښتنه کول

۱۰۷- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ دَاوُدَ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ مُنْذِرٍ الثَّوْرِيِّ عَنْ مُحَمَّدٍ ابْنِ الْحَنَفِيَّةِ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ كُنْتُ رَجُلاً مَذَّاءً فَأَمَرْتُ الْمِقْدَادَ أَنْ يَسْأَلَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم فَسَأَلَهُ فَقَالَ "فِيهِ الْوُضُوءُ". (بخاري: 132)

۱۰۷- له علي رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له ما به ډېره مذي وتله (مذي هغه رنړ اوبه دي چي له جنسي نژدېکت مخکي له انسانه وځي)، نو مقداد ته مي وويل چي په دې اړه له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتنه وکړي، هغه پوښتنه ترې وکړه، چي وئې فرمايل: (په دې کي اودس لازمېږي.)

تکرار: 178، 269

توپير: په يوه کي دا الفاظ شته فَاسْتَحْيَيْتُ أَنْ أَسْأَلَ رَسُولَ اللهِ- صلى الله عليه و سلم او په نورو کي نشته، په يوه کي دا الفاظ شته لِمَكَانِ ابْنَتِهِ او په نورو کي نشته، په دوو کي فِيهِ الْوُضُوءُ راغلي او، په يوه کي تَوَضَّأْ وَاغْسِلْ

ذَكَرَكَ راغلي. غوره او ارجح ئې 178 روايت دئ، ځكه علي رضي الله عنه د مخامخ نه پوښتني وجه هم بنودلې او په كي ويل شوي چې فِيهِ الْوُضُوءُ او د وضوء معنى هم اودس دئ او هم يوازې وينځل، د لمانځه لپاره به اودس كوي او هسې يوازې مينځل كفايت كوي.

٤٠- باب: په جومات كي تعليم او فتوى

١٠٨- حَدَّثَنِي قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا نَافِعٌ مَوْلَى عَبْدِ الله بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عُمَرَ. أَنَّ رَجُلاً قَامَ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ يَا رَسُولَ الله، مِنْ أَيْنَ تَأْمُرُنَا أَنْ نُهِلَّ فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "يُهِلُّ أَهْلُ الْمَدِينَةِ مِنْ ذِى الْحُلَيْفَةِ، وَيُهِلُّ أَهْلُ الشَّأْمِ مِنَ الْجُحْفَةِ، وَيُهِلُّ أَهْلُ نَجْدٍ مِنْ قَرْنٍ". وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ وَيَزْعُمُونَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "وَيُهِلُّ أَهْلُ الْيَمَنِ مِنْ يَلَمْلَمَ". وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُولُ لَمْ أَفْقَهْ هَذِهِ مِنْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم (بخاري: 133)

١٠٨- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې: يو سړى په جومات كي پاڅېد او وئې ويل: يا رسول الله! څه امر راته كوې چې مونږ له كوم ځايه (د حج يا عمرې) لپاره احرام وتړو؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (د مدينې اوسېدونكي دي له ذوالحليفه، د شام اوسېدونكي له جحفې؛ او د نجد خلک دي له قرن احرام تړي). ابن عمر وايي: ځيني خلک ګمان كوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (او د يمن خلک دي له يلملم احرام تړي). او

ابن عمر رضي الله عنهما به ويل خو زه پوه نشوم چي رسول الله صلى الله عليه و سلم دا خبره وكړه.

تكرار: 1522، 1525، 1527، 1528، 7344

توپير: په يوه كي فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم او په بل كي فَرَضَهَا رَسُولُ الله- صلى الله عليه وسلم؛ او په بل كي سَمِعْتُ رَسُولَ الله- صلى الله عليه و سلم او په بل كي سَمِعْتُ هَذَا مِنَ النَّبِيِّ- صلى الله عليه و سلم راغلي، په يوه كي وَبَلَغَنِى أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "وَيُهِلُّ أَهْلُ الْيَمَنِ مِنْ يَلَمْلَمَ او په بل كي قَالَ "وَيُهِلُّ أَهْلُ الْيَمَنِ مِنْ يَلَمْلَمَ". وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُولُ لَمْ أَفْقَهْ هَذِهِ مِنْ رَسُولِ الله- صلى الله عليه و سلم –، په يوه كي "يُهِلُّ أَهْلُ الْمَدِينَةِ مِنْ ذِى الْحُلَيْفَةِ، وَيُهِلُّ أَهْلُ الشَّأْمِ مِنَ الْجُحْفَةِ، وَيُهِلُّ أَهْلُ نَجْدٍ مِنْ قَرْنٍ "او په بل كي، مُهَلُّ أَهْلِ الْمَدِينَةِ ذُو الْحُلَيْفَةِ، وَمُهَلُّ أَهْلِ الشَّأْمِ مَهْيَعَةُ وَهِيَ الْجُحْفَةُ، وَأَهْلِ نَجْدٍ قَرْنٌ "وَمُهَلُّ أَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمُ. د ټولو رواياتو معنى او مفهوم سره ورته دئ، دا څلور ځايونه د هغو سيمو خلكو لپاره هم د احرام تړلو ځايونه دي چې د همدغو ځايونو له لوري مكې ته د زمكي يا هوا له لاري ننوځي، له دې ځايونو به له احرام پرته نه تېرېږي.

٤١- باب: تر پوښتنې اوږد ځواب

١٠٩- حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم . وَعَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَنَّ رَجُلاً سَأَلَهُ مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ فَقَالَ "لاَ يَلْبَسِ الْقَمِيصَ وَلاَ الْعِمَامَةَ وَلاَ السَّرَاوِيلَ وَلاَ الْبُرْنُسَ وَلاَ

ثَوْبًا مَسَّهُ الْوَرْسُ أَوِ الزَّعْفَرَانُ، فَإِنْ لَمْ يَجِدِ النَّعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسِ الْخُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْهُمَا حَتَّى يَكُونَا تَحْتَ الْكَعْبَيْنِ". (بخاري: 134)

۱۰۹- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي: يوه سړي له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتنه وکړه چي مُحرِم (چا چي احرام تړلى وي) به څه اغوندي؟ وئې فرمايل: نه به کميس اغوندي، نه پټکي، نه پرتوګ، نه چپنه؛ او نه داسي جامه چي عطر او زعفران پرې وهل شوي وي؛ او که پنې (څپلکي) ونه مومي نو موزې دي واغوندي؛ خو داسي دې پرې کړي چي تر ښنګريو (ښپيو) لاندي شي.)

تکرار: 366، 1542، 1838، 1842، 5794، 5803، 5805، 5806، 5847، 5852

توپير: په ځينو کي د مفرد په صيغه راغلي لاَ يَلْبَسُ الْقَمِيصَ وَلاَ السَّرَاوِيلَ وَلاَ الْبُرْنُسَ وَلاَ ثَوْبًا مَسَّهُ الزَّعْفَرَانُ وَلاَ وَرْسٌ او په ځينو کي د جمع په صيغه لاَ يَلْبَسُ الْقُمُصَ وَلاَ الْعَمَائِمَ وَلاَ السَّرَاوِيلاَتِ وَلاَ الْبَرَانِسَ وَلاَ الْخِفَافَ، إِلاَّ أَحَدٌ لاَ يَجِدُ نَعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسْ خُفَّيْنِ په ځينو کي وَلاَ تَلْبَسُوا مِنَ الثِّيَابِ شَيْئًا مَسَّهُ الزَّعْفَرَانُ أَوْ وَرْسٌ او په ځينو کي أَنْ يَلْبَسَ الْمُحْرِمُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا بِوَرْسٍ أَوْ بِزَعْفَرَانٍ، په ځينو کي دا هم راغلي لاَ تَتَنَقَّبِ الْمُحْرِمَةُ وَلاَ تَلْبَسِ الْقُفَّازَيْنِ: ښځي دي نه پر مخ نقاب اچوي او نه دي دستکشي په لاس کوي، په ځينو کي حَتَّى يَكُونَا تَحْتَ الْكَعْبَيْنِ په ځينو کي حَتَّى يَكُونَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ. د مفهوم او معنى له پلوه ټول سره ورته دي، خو ځيني ئې مختصر او ځيني ئې جامع

دي. تر ټولو جامع ئې 1838 روايت دئ چې په هغه کې د ښځو په اړه هم لارښونه شوې.

دې ته بايد متوجه وو چې د نارينه او ښځې لپاره د احرام لباس يو داسې معيار دئ چې ښيي مسلمان نارينه او مسلمانه ښځه په همدومره لباس مکلف دي، تر دې زيات ئې نه فرض دئ او نه واجب، بلکې مستحب دئ او د دوی خوښي او ظروفو ته پرېښودل شوی، که د حج په څېر ستر عبادت کې، د بيت الله خوا ته، د لکونو خلکو په منځ کې دومره لباس کافي وي؛ نو په نورو وختونو کې خو په اولی درجه کافي دئ، ځوک چې وايي نارينه د سر په پټولو او ښځه د مخ او لاس په پټولو مکلف دي په دين کې غلو او بې ځايه سختي کوي او خلك په هغه څه مکلف کوي چې الله تعالی نه دي پرې ګمارلي، که د ښځې لپاره مخ پټول ضروري وی نو الله تعالی به د حج په دوران کې پرې مکلفه کړې وه او که د نارينه لپاره سر پټول ضروري وی نو الله تعالی به په حج کې پرې مکلف کړی وو. په لوڅ سر، له پکول، خولې، پټکي او لونګۍ سره لمونځ کول يو برابر دي؛ او حتی ويلی شو چې که ځوك د الله تعالی په وړاندې د خپل عجز او انکسار ښودلو لپاره لوڅ سر ودرېږي نه يوازې ګناه ئې نه ده کړې بلکې د ثواب کار ئې کړی. د احنافو د فقهاءو رأيه همدا ده، متأسفانه داسې کسان هم شته چې ځان ته اهل حديث وايي خو عملاً د هغو احاديثو هم مخالفت کوي چې بخاري ئې صحيح ګڼي، وايي: ښځې بايد نقاب پر مخ راکش کړي خو داسې چې له مخ سره به ئې نه لګېږي!! ګواکې په دې سره ئې هم پر حديث عمل کړی او هم ئې پر

خپل مذهب!! ځيني ئې وايي چې په لوځ سر لمونځ کول مکروه دي!! که پوښتنه وکړو چې د کوم نص په استناد؟ قرآن خو دا خبره نه ده کړې، په احاديثو کې خو دا خبره نه ده شوې، تاسو د څه په استناد دا خبره کوئ؟! داسې څه به ترې واورې چې حيران به شې، وايي: الله تعالى فرمايلي: خذوا زينتكم عند كل مسجد، د دې آيت ترجمه هم داسې کوي: هر جومات ته د تلو په وخت کې خپل زينتي لباس واغوندئ، خو نه د دې آيت ترجمه دغسې ده او نه ئې مطلب دا دئ چې پګړۍ يا خولۍ په سر کړئ، ځکه دلته مسجد د اسم زمان په توګه راغلی نه د اسم مکان، مراد ئې د سجدې او لمانځه وخت دئ نه جومات؛ او مقصد ئې دا دئ چې د هغو خلکو غلطه عقيده ترديد کړي چې وايي په زړو، ځيړو، خيرنو، پينه شوو، وړينو، کرباسي او ملنګي جامو کې لمونځ کول ډېر ثواب لري!! الله تعالى فرمايي چې تر ټولو ښکلې جامې مو د لمانځه لپاره واغوندئ، الهي شريعت موږ ته وايي چې جومات ته د تلو په وخت کې ښې جامې واغوندئ، عطر ووهئ، که مو داسې څه خوړلي وو چې له خولې مو بد بوی تلو يا د ډېرو خولو په سبب بد بوی درنه تلو جومات ته له تللو ډډه وکړه، ځان پاکيزه او ستره کړه بيا جومات ته ولاړ شه. د خذوا زينتكم معنی او مراد دا دئ، نه د خولۍ او پګړۍ په سر کول.

4- د اودس کتاب

(۱) باب: بې اودسه لمونځ نه قبلېږي

۱۱۰- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْحَنْظَلِيُّ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "لاَ تُقْبَلُ صَلاَةُ مَنْ أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ". (بخاري:135)

۱۱۰- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (څوک چې بې اودسه شي تر هغه ئې لمونځ نه قبلېږي چې اودس وکړي).

خو په دې روايت کې د حضرموت د يوه اوسېدونکي پوښتنه او د ابوهريره رضي الله عنه يو ناقص ځواب هم راغلی چې داسي دئ. قَالَ رَجُلٌ مِنْ حَضْرَمَوْتَ مَا الْحَدَثُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ فُسَاءٌ أَوْ ضُرَاطٌ: د حضر موت (د يمن يو ښار) يوه سړي وويل: اې ابوهريره! بې اودسي څه دي؟ وئې ويل: پسکې يا تيز (له عقبي مخرج نه د باد وتل له غږ سره يا بې غږه). دا ځواب ځکه ناقص دئ چې د اودس د ماتېدو اصلي اسباب ډکي او تشي متيازي؛ او د مني او مذي وتل دي، دا دواړه په ضمني توګه ترې استنباط شوي.

تکرار: **6954**

توپير: په يوه کي لاَ تُقْبَلُ صَلاَةُ مَنْ أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ او په بل کي لاَ يَقْبَلُ اللهُ صَلاَةَ أَحَدِكُمْ إِذَا أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ راغلي. د مفهوم او معنى له پلوه دواړه ورته دي، خو **6954** روايت د دې لپاره ارجح دئ چې ابوهريره رضي الله عنه ته منسوب ناقص ځواب په کي نشته.

(٢) باب: د اودس فضيلت

١١١- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ خَالِدٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِلاَلٍ عَنْ نُعَيْمٍ الْمُجْمِرِ قَالَ رَقِيتُ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ عَلَى ظَهْرِ الْمَسْجِدِ، فَتَوَضَّأَ فَقَالَ إِنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "إِنَّ أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ، فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يُطِيلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَلْ". (بخاري:136)

١١١- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چي فرمايل ئې: (زما امت به د اوداسه د نښو له امله د قيامت په ورځ د (غر محجلين) په نامه بلل كېږي، (يعني هغه كسان چي مخ، لاس او پښې ئې رڼا كوي)، نو څوك چي كولى شي دغه رڼا زياته كړي نو دا كار دي وكړي.)

د نورو كتابونو په اكثرو رواياتو كي د يدعون پر ځاى يأتون راغلي. او همدا مناسب او ارجح برېښي، په صحيح مسلم كي هم د يأتون لفظ راغلى. روايت داسي دئ:

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: سَمِعْت رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَقُولُ: "إنَّ أُمَّتِي يَأْتُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ، مِنْ أَثَرِ الْوُضُوءِ، فَمَنْ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يُطِيلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَلْ"مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَاللَّفْظُ لِمُسْلِمٍ.

(٣) باب: په شك اودس نه ماتېږي

١١٢- حَدَّثَنَا عَلِيٌّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ سَعِيدِ

بْنِ الْمُسَيَّبِ وَعَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ عَنْ عَمِّهِ أَنَّهُ شَكَا إِلَى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم الرَّجُلُ الَّذِي يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَجِدُ الشَّىْءَ فِي الصَّلاَةِ. فَقَالَ "لاَ يَنْفَتِلْ- أَوْ لاَ يَنْصَرِفْ- حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا".

(بخاري:137)

۱۱۲- له عبدالله بن يزيد انصاري رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي د هغه سړي په اړه پوښتنه وکړه چي په لمانځه کي څه اندېښنه (د اودس ماتېدو) احساس کړي، وئې فرمايل: (تر هغه دي له لمانځه ونه وځي چي غږ واوري يا بوى احساس کړي.)

تکرار: 177، 2056

توپير: په يوه کي الرَّجُلُ يَجِدُ فِي الصَّلاَةِ شَيْئًا، په بل کي الرَّجُلُ الَّذِي يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَجِدُ الشَّىْءَ فِي الصَّلاَةِ، په يوه کي لاَ يَنْصَرِفْ- حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا او په بل کي لاَ وُضُوءَ إِلاَّ فِيمَا وَجَدْتَ الرِّيحَ أَوْ سَمِعْتَ الصَّوْتَ، د ټولو معنى او مفهوم سره ورته دئ، مطلب ئې دا دئ چي اودس په شک سره نه ماتېږي، که له چا سره دا شک پيدا شي چي ښايي له بدنه به ئې څه وتلي وي، نو تر هغه چي بشپړ باور ئې نه وي راغلى، داسي لکه چي غږ واوري يا بوى ئې تر سپړمو شي اودس ئې نه ماتېږي، اودس يوازي هغه وخت ماتېږي چي د ماتېدو سبب ئې په يقيني توګه ورته جوت شي.

(٤) باب: په اوداسه کي تخفيف

113- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللهِ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو قَالَ أَخْبَرَنِي كُرَيْبٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم نَامَ حَتَّى نَفَخَ ثُمَّ صَلَّى- وَرُبَّمَا قَالَ اضْطَجَعَ حَتَّى نَفَخَ- ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى. (بخاري:138)

113- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي: نبي صلى الله عليه و سلم ويده شو تر دې چي د ويدېدا غږ ئې شو، (بيا پرته له دې چي اودس وکړي) لمونځ ئې وکړ؛ او يا ئې داسي وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړخ پرېوت تر هغه چي د ويدېدا غږ ئې شو، بيا پاڅېد او لمونځ ئې وکړ.

دا روايت تر دې د مخه څېړل شوی، دا د استناد وړ روايت نه دئ، د تفصيل لپاره د٣١- باب السَّمَرِ بِالْعِلْمِ. د ٩٧ روايت شرحي ته رجوع وکړئ. په اړخ باندې خوب سره اودس ماتېږي، د همدې لپاره پيغمبر عليه السلام د ماخستن په اودس د تهجد لمونځ نه کولو بلکي د تهجد لپاره به ئې بېل اودس کولو. نور روايات وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: څوك چي پر اړخ ويده شو اودس پرې لازم دئ. دې ته مو هم پام وي چي دا روايت له ترجمة الباب سره هم خاص مناسبت نه لري.

(٥) باب: د اودس بشپړول

١١٤- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ

عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ دَفَعَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم مِنْ عَرَفَةَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِالشِّعْبِ نَزَلَ فَبَالَ، ثُمَّ تَوَضَّأَ وَلَمْ يُسْبِغِ الْوُضُوءَ. فَقُلْتُ الصَّلاَةَ يَا رَسُولَ الله. فَقَالَ "الصَّلاَةُ أَمَامَكَ". فَرَكِبَ، فَلَمَّا جَاءَ الْمُزْدَلِفَةَ نَزَلَ فَتَوَضَّأَ، فَأَسْبَغَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ، ثُمَّ أَنَاخَ كُلُّ إِنْسَانٍ بَعِيرَهُ فِي مَنْزِلِهِ، ثُمَّ أُقِيمَتِ الْعِشَاءُ فَصَلَّى وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا. (بخاري:139)

١١٤- له اسامه بن زيد رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له عرفاته راوګرځېد، کله چي يوې دري ته ورسېد، کوز شو او د اودس ماتي لپاره صحرا ته تېر شو، بيا ئې لاسونه ومينځل خو بشپړ اودس ئې ونه کړ، ما وويل: يا رسول الله! د لمانځه وخت دئ! وئې فرمايل: (لمونځ دي وړاندي دئ)، بيا سپور شو او کله چي مزدلفې ته ورسېد، کوز شو، اودس ئې وکړ، خو بشپړ اودس ئې وکړ، بيا د لمانځه لپاره اقامت وويل شو او د مابنام لمونځ ئې وکړ، بيا هر چا خپل اوښ په خپل خپل ځای کي چو کړ، ورپسې د ماخستن د لمانځه اقامت وويل شو او لمونځ ئې وکړ، د دواړو تر منځ ئې بل لمونځ ونکړ.

تکرار: 181، 1667، 1669، 1672

توپير: په يوه کي دَفَعَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم مِنْ عَرَفَةَ، په بل کي لَمَّا أَفَاضَ مِنْ عَرَفَةَ، په يوه کي حَتَّى إِذَا كَانَ بِالشِّعْبِ نَزَلَ او په بل کي عَدَلَ إِلَى الشِّعْبِ؛ او په بل کي حَيْثُ أَفَاضَ مِنْ عَرَفَةَ مَالَ إِلَى الشِّعْبِ؛ او په بل کي فَلَمَّا

بَلَغَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم الشِّعْبَ الأَيْسَرَ الَّذِي دُونَ الْمُزْدَلِفَةِ أَنَاخَ، په يوه کي فَبَالَ او په بل کي فَقَضَى حَاجَتَهُ، په يوه کي ثُمَّ تَوَضَّأَ وَلَمْ يُسْبِغِ الْوُضُوءَ، په بل کي فَتَوَضَّأَ وُضُوءًا خَفِيفًا، په بل کي فَصَبَبْتُ عَلَيْهِ الْوَضُوءَ او په بل کي فَجَعَلْتُ أَصُبُّ عَلَيْهِ وَيَتَوَضَّأُ، په يوه کي فَقُلْتُ الصَّلاَةَ يَا رَسُولَ الله او په بل کي يَا رَسُولَ الله أَتُصَلِّى، په يوه کي الصَّلاَةُ أَمَامَكَ او په بل کي الْمُصَلَّى أَمَامَكَ راغلي.

له دې توپيرونو سره سره د رواياتو مطلب او مفهوم سره ورته دئ، مطلب ئې دا دئ چې: رسول الله صلى الله عليه و سلم له عرفات د راګرځېدو پر مهال؛ په يوې درې کي له سورلۍ کوز شوی، اودس ماتي ته تېر شوی، لاسونه ئې مينځلي، بشپړ اودس ئې نه دئ کړی، د مابنام د لمانځه وخت وو، خو دلته ئې لمونځ نه دئ کړی، مزدلفې ته د ماخستن مهال رسېدلی، هلته ئې لومړی د مابنام لمونځ په بېل اقامت سره کړی او بيا ئې لږ دمه کړې او بيا ئې د ماخستن لمونځ په بېل اقامت کړی، د دې دواړو لمونځونو تر منځ ئې بل لمونځ نه دئ کړی.

دې ته مو بايد پام وي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د ماسپښين او مازديګر لمونځ په عرفات کي په ګډه او د ماسپښين پر مهال يو په بل پسي په دوه اقامتونو کړی او د مابنام او ماخستن لمونځ ئې همداسي خو د ماخستن په وخت په مزدلفه کي کړي، لومړني دوه جمع صلاتين ته جمع تقديم او دوهم دوه ته ئې جمع تأخير ويل کيږي، له دې معلومېږي چې دا دواړه دوله جمع په هر سفر کي جائز دي، د دې لپاره نه کوم نقلي دليل موندلی شو او نه عقلي دليل

چي په حج کي دي جائز وي او په نورو سفرونو کي ناجائز، زمونږ ځينو درنو فقهاءو چي ويلي په نورو سفرونو کي داسي جمع صلاتين جائز دئ چي يو ئې د خپل وخت په آخري برخي او بل ئې په لومړۍ برخي کي ترسره شي، په دې کي د رخصت او سهولت مصلحت فوت کېږي، دا تر دې هم ډېر ګران دئ چي هر لمونځ په خپل خپل وخت کي وشي، ځکه په خپل وخت لمونځ کولو کي ډېر پراخوالی شته، د هر لمانځه لپاره تر يوې ګنټې زيات وخت لري، خو په داسي جمعي کي يوازي څو دقيقې فرصت لري. د قرآن هغه مبارك آيت چي وايي: (... إِنَّ الصلَوةَ كانَت عَلى الْمُؤْمِنِينَ كِتَباً مَّوْقُوتاً * النساء: 103): بې شکه چي دا لمونځ پر مؤمنانو له مهال وېش سره سم فرض شوی. که په دې کي د هيڅ استثناء مجال نه وی نو بيا خو به په عرفات او مزدلفه کي هم دوه دوه لمونځونه يو په بل پسي په دوو وختونو کي نه وو جائز، په سفر کي د قرآن د صريح آيت له مخي قصر جائز دئ، په قصر کي دا هم شامل دي چي لمونځ مخکي يا وروسته کړئ، دا ځکه چي ورپسې ويل شوي چي د قصر د حالت له ختمېدو وروسته او کله چي مطمئن شوئ نو بيا مکمل لمونځ په خپل خپل وخت کي اداء کړئ. له دې په څرګنده معلوميږي چي د جمع صلاتين رخصت (د دوو لمونځونو په يوه وخت اداء کولو جواز) هم له دې آيت اخيستل شوی.

د لمانځه لپاره اوقات ټاکل شوي، هر لمونځ په خپل خپل وخت اداء کول فرض دي. مخکينی رخصت د يوه ضرورت له مخي موقت رخصت وو، په عادي حالاتو کي به هر

لمونځ په خپل ټاکلي وخت ترسره کوئ. خو د سفر او خوف په حالت کي به دا له خپل ټاکلي وخت لمونځ مخکي يا وروسته کول څنګه وي؟ په دې اړه دوه رأيي دي: د ماسپښين او مازديګر لمونځونه، يو ځای او په يوه وخت کي، يو په بل پسي، په يوه أذان او دوه اقامته اداء کول او د ماښام او ماخستن لمونځونه همداسي، لکه څنګه چي د حج په دوران کي، په عرفات کي د ماسپښين او مازديګر لمونځونه يو ځای او په مزدلفه کي د ماښام او ماخستن لمونځونه يو ځای اداء کيږي، دوهمه رأيه دا ده چي له حج نه پرته په نورو سفرونو کي د دوو لمونځونو يو ځای کول بايد داسي وي چي يو په خپل آخري وخت کي او بل په خپل لومړني وخت کي همداسي يو ځای اداء شي، دې ته صوري او شکلي جمع صلاتين وايي، دا د احنافو د ځينو فقهاءو رأيه ده، له احنافو پرته نور ټول مخکينی صورت غوره ګڼي او له دې لحاظه د حج او نورو سفرونو تر منځ په توپير باور نه لري، د دې لپاره څو دلائل وړاندي کوي: 1- د لمونځونو صوري جمع تر دې ډېر ګران کار دئ چي هر لمونځ په خپل خپل وخت او بېل بېل اداء شي، دوه لمونځونه يوه وخت ته رابرابرول او هغه هم په سفر کي ګران کار دئ، قصر او جمع صلاتين خو د تخفيف لپاره دي، د هر لمانځه لپاره پراخ وخت ټاکل شوی، صوري جمع دا پراخوالی او سهولت له منځه وړي او په يوه محدود وخت کي ئې راخلاصه کوي. 2- په سفر کي لمونځ رامخکي کول يا وروسته کول داسي دئ لکه چي د مسافر او مريض لپاره دا رخصت ورکړی شوی چي روژه بل وخت او د کال نورو

ورځو ته وځنډوي، روژه د لمانځه په څېر ثابت وخت لري خو د مسافر او مريض لپاره ئې دا سهولت ورکړی. 3- د حج په موسم کي دوه جمع صلاتين لرو، يو ئې په عرفات کي د ماسپښين او مازديګر لمونځ د ماسپښين په لومړي وخت کي او بل ئې په مزدلفه کي د ماښام او ماخستن لمونځ د ماخستن په وخت کي، که د حج په حالت کي او د عرفات او مزدلفې په مقام کي جائز وي نو په نورو وختونو کي خو په اولی درجه جائز دئ.

دې ته مو هم بايد پام وي چې په داسي حال کي چې د لمانځه د توقيت په اړه دا آيت ډېره واضح لارښوونه کوي او په داسي حال کي چې د پيغمبر عليه السلام سنت زمونږ مخي ته پروت دئ، هغه مبارك نژدې اتلس زره لمونځونه په مدينه منوره کي کړي، د مدينې په سلګونو او په زرګونو اوسېدونکو پنځه وخته أذان اورېدلی، د پيغمبر عليه السلام په امامت کي ئې د جماعت لمونځ ليدلی، د أذان او اقامت الفاظ ئې اورېدلي، د ده او اصحابو د لمانځه کيفيت ئې ليدلی او دا ټول د مدينې مسلمانانو يو په بل پسي له يوه نه بل نسل ته انتقال کړي، خو سره له دې ګورو چې ځيني ټول لمونځونه په يوه وخت کي کول هم جائز ګڼي، له سفر او خطر نه پرته په عادي حالت کي د ورځې پنځه لمونځونه په درې وختونو کي ترسره کول هم جائز ګڼي، ځان ته د أذان خاص الفاظ او د لمانځه خاص ترتيب او ترکيب لري او د خپل مسلك په اړه هومره تعصب لري چې، په بل کيفيت او هيئت کي لمونځ ورته لمونځ نه ښکاري، د بل مسلك په امام پسي لمونځ کول جائز نه ګڼي، د هغه په أذان روژه نه

ماتوي او حتى هغه مسلمان نه ګڼي. اى كاش ټول امت لږ تر لږه په دغسي واضح مسائلو كي له اختلاف نه لري پاته شوى وى، د قرآن صريح نص، د پيغمبر واضح سنت او د مدينې د مسلمانانو د لمانځه هيئت او كيفيت ئې د ملاك په توګه منلى وى.

دلته يوه بل ټكي ته هم توجه په كار ده او هغه دا چې امام بخاري رحمه الله دا روايت د اودس د تخفيف او بشپړوالي تر عنوان لاندي راوړى، د لاري په اوږدو كي وضوء ئې د خفيف وضوء په معنى اخيستى، خو دا په دې معنى نه دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم هلته يو ډول اودس كړى او په مزدلفه كي بل ډول، بلكي هلته ئې يوازي لاسونه مينځلي، ځكه د راوي له وينا معلوميږي چې هلته ئې د لمانځه اړوند وضوء (اودس) نه دئ كړى، كه داسي وى نو هغه به دا نه ورته ويل چې د لمانځه وخت دئ، يعني تا خو بشپړ اودس ونه كړ حال دا چې د لمانځه وخت دئ!!

(٦) باب: په دواړو لاسونو د مخ مينځل په يوه موټ اوبو

١١٥- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ قَالَ أَخْبَرَنَا أَبُو سَلَمَةَ الْخُزَاعِيُّ مَنْصُورُ بْنُ سَلَمَةَ قَالَ أَخْبَرَنَا ابْنُ بِلاَلٍ- يَعْنِي سُلَيْمَانَ- عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ تَوَضَّأَ فَغَسَلَ وَجْهَهُ، ثُمَّ أَخَذَ غَرْفَةً مِنْ مَاءٍ، فَمَضْمَضَ بِهَا وَاسْتَنْشَقَ، ثُمَّ أَخَذَ غَرْفَةً مِنْ مَاءٍ، فَجَعَلَ بِهَا هَكَذَا، أَضَافَهَا إِلَى يَدِهِ الأُخْرَى، فَغَسَلَ بِهِمَا وَجْهَهُ، ثُمَّ

أَخَذَ غَرْفَةً مِنْ مَاءٍ، فَغَسَلَ بِهَا يَدَهُ الْيُمْنَى، ثُمَّ أَخَذَ غَرْفَةً مِنْ مَاءٍ، فَغَسَلَ بِهَا يَدَهُ الْيُسْرَى، ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ، ثُمَّ أَخَذَ غَرْفَةً مِنْ مَاءٍ فَرَشَّ عَلَى رِجْلِهِ الْيُمْنَى حَتَّى غَسَلَهَا، ثُمَّ أَخَذَ غَرْفَةً أُخْرَى، فَغَسَلَ بِهَا رِجْلَهُ- يَعْنِي الْيُسْرَى- ثُمَّ قَالَ هَكَذَا رَأَيْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَتَوَضَّأُ. (بخاري:140)

١١٥- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي اودس ئې وکړ، مخ ئې ومينځو، يو موټی اوبه ئې واخستلې په هغې سره ئې مضمضه او استنشاق وکړ (خوله او پزه ئې پرې مينځله)، بيا ئې يو بل موټی اوبه واخستلې په دواړو لاسونو سره ئې لپه کړې او مخ ئې پرې ومينځو، بيا ئې يو موټی اوبه واخستلې او خپل ښی لاس ئې پرې ومينځو، بيا ئې يو موټی اوبه واخستلې او خپل چپ لاس ئې پرې ومينځو، بيا ئې پر سر مسح وکړه، بيا ئې يو موټی اوبه واخستلې او په خپله ښی پښه ئې وشيندلې او پرې وئې مينځله، بيا ئې يو بل موټی اوبه واخستلې او خپله کيڼه پښه ئې پرې ومينځله؛ او بيا ئې وويل: ما رسول الله صلى الله عليه و سلم ليدلی چې همداسي اودس ئې کاوو.

دا روايت په بخاري کې همدا يو ځل راغلی. څو محدودو نورو کتابونو هم رااخيستی خو له بن عباس رضي الله عنهما پرته بل چا دا خبره نه ده کړې.

د رسول الله صلى الله عليه و سلم د اودس د څرنګوالي په اړه بل روايت هغه دئ چې له عثمان رضي الله عنه روايت شوی او نژدې ټولو کتابونو رااخيستی، دا روايت

وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم هر غړى د خولې او پزې په شمول دري دري ځلي مينځلى. احناف دغه روايت ارجح او معتبر ګڼي. روايت دا دئ:

حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللهِ الأُوَيْسِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ عَطَاءَ بْنَ يَزِيدَ أَخْبَرَهُ أَنَّ حُمْرَانَ مَوْلَى عُثْمَانَ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ رَأَى عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ دَعَا بِإِنَاءٍ، فَأَفْرَغَ عَلَى كَفَّيْهِ ثَلاَثَ مِرَارٍ فَغَسَلَهُمَا، ثُمَّ أَدْخَلَ يَمِينَهُ فِي الإِنَاءِ فَمَضْمَضَ، وَاسْتَنْشَقَ، ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلاَثًا، وَيَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ ثَلاَثَ مِرَارٍ، ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ ثَلاَثَ مِرَارٍ إِلَى الْكَعْبَيْنِ، البخاري: 159

د عثمان رضي الله عنه له آزاد شوي غلام حمران رضي الله عنه روايت دئ چې عثمان بن عفان رضي الله عنه د اوبو لوښى وغوښت، دري ځلي ئې پر خپل لاس اوبه توى کړې او وئې مينځل، بيا ئې ښى لاس په لوښي کي دننه کړ (اوبه ئې راواخيستې) په خوله کي ئې ورغړولې او په پزې ئې تېرې کړې، بيا ئې خپل مخ دري ځلي ومينځلو؛ او خپل لاسونه تر څنګلو پوري دري ځلي، بيا ئې خپل سر مسح کړ بيا ئې خپلې پښې تر ټپډيو پوري دري دري ځلي ومينځلې.

دومره ويلى شو چې د ضرورت، د اوبو لږوالي او سختي يخنۍ په صورت کي د هر غړي يو ځل مينځل هغه هم په يو موټى اوبو جائز دي، خو په عادي حالاتو کي ئې دري ځلي مينځل او دري موټى اوبه کارول غوره او د سنت مطابق دي. دا هم صحيح نه ده چې څوك ووايي: يو ځل او په يو موټ اوبو ئې مينځل فرض دي، صحيح خبره دا ده

چې مينځل ئې فرض دي، نه لمدول.

ګورئ چې بخاري هم د ابوهريره رضي الله عنه هغه روايت راوړی چې وايي په اوداسه کې اسباغ يعني د غړو ښه او بشپړ مينځل ضروري دي، هم ئې د عبدالله بن عمر رضي الله عنه روايت راوړی چې وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم هر غړی يو ځل او په يو موټی اوبو مينځلی او هم ئې د عثمان رضي الله عنه هغه روايت راوړی چې وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم هر غړی دري ځلي مينځلی! دا ئې نه دي ويلي چې کوم روايت تر نورو غوره دئ، په کوم يوه بايد عمل وشي، د بخاري له مخي دا حکم کول ممکن نه دي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د اودس اصلي کيفيت څنګه وو، ناچار به نورو کتابونو او د فقهاءو آراوو ته رجوع کوو چې ارجح روايت تشخيص کړو.

څه چې دلته ويلی شو هغه دا دي چې په يوه موټي اوبو يو غړی لمدولی شو خو مينځلي ئې نشو، قرآن مورِ ته د غړو د مينځلو حکم کوي نه د لمدولو، نو په يقين سره ويلی شو چې د عثمان رضي الله عنه روايت غوره او د قرآن د وينا مطابق دئ.

(۷) باب: بيت الخلاء ته د ننوتلو په وخت کي څه بايد وويل شي؟

حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا يَقُولُ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم إِذَا دَخَلَ الْخَلاَءَ قَالَ "اللهمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ. (بخاري:142)

١١٦- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: كله چي به رسول الله صلى الله عليه و سلم بيت الخلاء ته ننووت نو ويل به ئې: (اللهم اني اعوذبک من الخبث والخبائث: اې خدايه! زه له پليتيو او پليتو تا ته پناه دروړم.

تكرار: 6322

توپير: د دواړ الفاظ سره ورته او راوي ئې انس رضي الله عنه دئ.

(٨) باب: د بيت الخلاء خوا ته د اوبو ايښودل

١١٧- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ الْقَاسِمِ قَالَ حَدَّثَنَا وَرْقَاءُ عَنْ عُبَيْدِ الله بْنِ أَبِي يَزِيدَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم دَخَلَ الْخَلاَءَ، فَوَضَعْتُ لَهُ وَضُوءًا قَالَ "مَنْ وَضَعَ هَذَا". فَأُخْبِرَ فَقَالَ "اللهمَّ فَقِّهْهُ فِي الدِّينِ". (بخاري:143)

١١٧- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم بيت الخلاء ته ننووت، ما اوبه ورته كښېښودې (يا ايښې وې)، وئې فرمايل: (دا چا ايښې دي؟) پرې خبر كړى شو (چې دا ما ايښې دي) نو وئې فرمايل: (اې خدايه! د دين پوهه ورکړې.)

يادونه: ډېر كلونه مخكې كله چې ما په لومړي ځل دا روايت وليد نو انتباه مي دا وه چې ښايي عبدالله بن عباس رضي الله عنهما له بيت الخلاء بهر اوبه ورته ايښې وې؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم همدا د اودس اوبه له بيت الخلاء بهر ايښودل د ده د پوهې نښه ګڼلې وي او دغه دعاء

ئې ورته کړې وي. د همدې روایت له مخې دا راته غوره ښکاریږي چې د استنجاء اوبه ببلي وي او د اودس ببلي؛ او د اودس اوبه بیت الخلاء ته یونه وړل شي، زړه مي نه غوښتل په داسي اوبو اودس وکړم چې په بیت الخلاء کي په لوټه یا سطل کي وي، البته دا په هغو ځایونو کي چې اوبه په نلونو کي نه بلکي په بدنې او لوټې کي وي. اوس له تحقیق وروسته هم دې نتیجې ته رسېدلی یم چې زما همغه لومړنی انتباه صحیح وه.

(۹) باب: د اودس ماتي په وخت باید مخ قبلې ته نه وي

۱۱۸- حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "إِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الْغَائِطَ فَلاَ يَسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ وَلاَ يُوَلِّهَا ظَهْرَهُ، شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا". (بخاري:144)

۱۱۸- له ابو ایوب انصاري رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمایل: (له تاسو چې څوك صحراء ته ځي (اودس ماتی کوی) نو نه دي مخ قبلې ته ګرځوي او نه دي شا ورواړوي، بلکي ختیز یا لوېدیز ته مخ کړئ.)

یادونه: دا وینا د مدینې اوسېدونکو ته راجع ده، د هغوی قبله د جنوب په لوري ده، نو ځکه ورته ویل شوي چې د اودس ماتي په وخت خپل مخ شرق یا غرب ته اړوئ، خو هغه خلك چې قبله ئې د مغرب (لوېدیز) یا ختیز (شرق) په

لوري وي؛ بايد د اودس ماتي په وخت کي خپل مخ يا شا شرق او غرب ته ونه ګرځوي.

تکرار: **394**

توپير: په يوه کي إِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الْغَائِطَ او په بل کي إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ، په يوه کي فَلاَ تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلاَ تَسْتَدْبِرُوهَا او په بل کي فَلاَ يَسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ وَلاَ يُوَلِّهَا راغلي.

دلته دې خبرو ته بايد متوجه وو: د اودس ماتي لپاره د غائط لفظ راغلی، غائط نرمي خاوري ته وايي، څوك چې صحراء ته د اودس ماتي لپاره ځي نو بايد زمکه وکني او خاوره نرمه کړي او خپل مدفوع په خاورو پټ کړي. دا حکم په اصل کي د صحراء او بيديا په اړه دئ، خو د بيت الخلاء په منځ کي حکم څه دئ؟ په دې روايت کي د دې پوښتني واضح او دقيق ځواب نه شو موندلی، که څه هم ابو ايوب رضي الله عنه وايي کله چې موږ شام ته ولاړو هلته مو داسي بيت الخلاوي وليدې چې د قبلې په لوري جوړې شوې وې، نو موږ به د اودس ماتي په وخت لږ کاږه شوو او له الله تعالی به مو بخښنه وغوښته.

(١٠) باب: پر دوو خښتو د اودس ماتي لپاره ناسته

١١٩- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ عَنْ عَمِّهِ وَاسِعِ بْنِ حَبَّانَ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ إِنَّ نَاسًا يَقُولُونَ إِذَا قَعَدْتَ عَلَى حَاجَتِكَ، فَلاَ تَسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ وَلاَ بَيْتَ الْمَقْدِسِ. فَقَالَ عَبْدُ الله بْنُ

عُمَرَ لَقَدِ ارْتَقَيْتُ يَوْمًا عَلَى ظَهْرِ بَيْتٍ لَنَا، فَرَأَيْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم عَلَى لَبِنَتَيْنِ مُسْتَقْبِلاً بَيْتَ الْمَقْدِسِ لِحَاجَتِهِ. (بخاري:145)

۱۱۹- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: ځيني خلک وايي: کله چي د اودس ماتي لپاره کښينستلئ نو مخ د قبلې او بيت المقدس لوري ته مه اړوئ، خو زه يوه ورځ د خپل کور بام ته پورته شوم، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم مي وليد چي پر دوو خښتو د اودس ماتي لپاره ناست دئ، په داسي حال کي چي مخ ئې د بيت المقدس په لوري وو.

د امام بخاري رحمه الله له عنوان او د پورتني روايت له راوړو داسي معلوميږي چي که څوک د اودس ماتي لپاره په داسي ځای کي کښيني چي مخي ته ئې دېوال يا کومه لوړه وي نو پروا ئې نشته چي مخ يا شا ئې د قبلې يا بيت المقدس په لوري وي، ګواکي دى هغه بل روايت په صحراء او داسي ځای پوري مربوط ګڼي چي دېوال يا کومه لوړه مخي ته نه وي!! خو ده هغه روايات له پامه غورځولي چي وايي: إِذَا تَخَلَّيْتُمْ فَلاَ تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلاَ تَسْتَدْبِرُوهَا، له دې روايتو معلوميږي چي دا حکم عام دئ، صحراء او بيت الخلاء ته شامل دئ، د اودس ماتي په حال کي په دواړو کي بايد شا يا مخ بيت الله او بيت المقدس ته وانه ړول شي.

(۱۱) باب: د ضرورت رفع لپاره د بنځو وتل

۱۲۰- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ

ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم كُنَّ يَخْرُجْنَ بِاللَّيْلِ إِذَا تَبَرَّزْنَ إِلَى الْمَنَاصِعِ- وَهُوَ صَعِيدٌ أَفْيَحُ- فَكَانَ عُمَرُ يَقُولُ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم احْجُبْ نِسَاءَكَ. فَلَمْ يَكُنْ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَفْعَلُ، فَخَرَجَتْ سَوْدَةُ بِنْتُ زَمْعَةَ زَوْجُ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم لَيْلَةً مِنَ اللَّيَالِي عِشَاءً، وَكَانَتِ امْرَأَةً طَوِيلَةً، فَنَاداهَا عُمَرُ أَلاَ قَدْ عَرَفْنَاكِ يَا سَوْدَةُ. حِرْصًا عَلَى أَنْ يَنْزِلَ الْحِجَابُ، فَأَنْزَلَ الله آيَةَ الْحِجَابِ. (بخاري:146)

۱۲۰- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمني (رضي الله عنهن) به د شپې له مخي د ضرورت رفع کولو لپاره بيدياوو ته چې پراخ او ارت ميدان وو وتلې، عمر رضي الله عنه به رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل: مېرمني دي په حجاب وګماره، خو رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي نه کول، يوه شپه ماخستن د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمن سودة بنت زمعه رضي الله عنها چې يوه دنګه او لوړه مېرمن وه بهر ووتله، عمر رضي الله عنه پرې غږ کړ چې اې سوده! ومي پېژندلې، دا د هغې تلوسې له امله چې د حجاب د حکم نازلېدو په اړه ئې درلودو، نو الله تعالى د حجاب آيت نازل کړ.

تکرار: 147، 4795، 5237، 6240

توپير: په يوه کي فَأَنْزَلَ الله آيَةَ الْحِجَابِ او په بل کي بَعْدَ مَا ضُرِبَ الْحِجَابُ، په يوه کي كُنَّ يَخْرُجْنَ بِاللَّيْلِ او په بل کي قَدْ أُذِنَ أَنْ تَخْرُجْنَ فِي حَاجَتِكُنَّ؛ او په بل کي قَدْ أَذِنَ

لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَوَائِجِكُنَّ "راغلي.

لكه چي گورئ په دې رواياتو کي شديد تعارض دئ: يو وايي چي دا پېښه د حجاب د حکم له نازلېدو مخکي رامنځته شوې او د همدې لپاره د حجاب آيت نازل شو او بل ئې وايي چي د حجاب آيت لا د مخه نازل شوی وو او سوده رضي الله عنها په حجاب کي د وتلو په سبب پېژندل شوې وه، يو وايي چي د حجاب آيت دغه مهال نازل شو او بل وايي چي دغه مهال رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وحي وشوه او مېرمنو ته ئې د حاجت لپاره بهر ته د وتلو اجازه ورکړی شوه!!

امام بخاري رحمه الله له دغو متعارضو او متناقضو رواياتو د يوه د انتخاب په اړه هيڅ نه دي ويلي، خو که د قرآن په رڼا کي ئې وڅېړو نو په بشپړ يقين سره ويلی شو چي د حجاب اړوند آيت قطعاً په دې ارتباط نه دئ نازل شوی، قرآن په ډېر صراحت سره وايي چي د جلباب (پېروني) حکم په دې خاطر نازل شو چي منافقينو، مرجفينو او مفسدينو به هغه مېرمني ځوروله چي د لمانځه يا بل دې ته ورته ضروري کار لپاره به بهر ته وتلې، دوی ته ويل شوي چي پېرونی پر ځان واچوي چي وپېژندل شي چي دا پاك لمنې او پرهيزګاري مېرمني دي او لوچکان ئې ونه ځوروي.

حجاب د شپې لپاره نه دئ، بلکي د ورځې لپاره دئ، د شپې له لوري او هغه هم ماخستن مهال نه څوك بې حجابه پېژندل کېږي او نه له حجاب سره، يوازي د قد او وني د لوړوالي له مخي د يو چا په اړه ګمان کېدی شي، د عمر

رضي الله عنه له شأن ډېره لري ده چې د شپې له لوري او هغه هم په دغه حالت کې د پيغمبر عليه السلام پر مېرمني غږ وکړي.

دې ته مو هم بايد پام وي چې په کليوال ژوند کې او هغه مهال چې د کورونو منځ کې بيت الخلاوي نه وې نو د سړو لپاره به بېل لورى او د ښځو لپاره بېل لورى غوره کېدو، نه به نارينه د ښځو لوري ته وتل او نه به ښځې د نارينه وو لوري ته؛ او معمولاً به ښځې په ګډه سره وتلې.

څه چې ويل ئې ممکن دي يوازي دا دي چې ښايي عمر رضي الله عنه غوښتل چې د پيغمبر عليه السلام مېرمني هيڅکله له کوره بهر ونه وځي، خو الله تعالى هغوى ته له جلباب سره د وتلو اجازه ورکړه، ځکه نو په روايت کې ويل شوي چې الله تعالى دوى ته د ضرورت لپاره د وتلو اجازه ورکړه، په قرآن کې هم يوازي دغه د وتلو د اجازې آيت مومو، د نه وتلو حکم او آيت نشته، نه صراحتاً او نه اشارتاً، هغه آيت چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمنو ته وايي: (و قرن فِي بيوتكن و لا تبرجن تبرج الجاهلية الاولى: او په خپلو کورونو کې تم شئ او د مخکيني جاهليت په څېر ځان له سينګار سره مه څرګندوئ). د دې آيت معنى هيڅکله دا نه ده چې له کوره هيڅ مه وځئ، که داسي وى نو امهات المؤمنين به جومات ته نه تللې، جهاد ته به نه وتلې، حج ته به نه تللې، د پيغمبر عليه السلام د موعظو اوربدو ته به نه ورتلې.

په دغو متعارضو رواياتو کې دا روايت غوره او ارجح بربښي:

حَدَّثَنِي زَكَرِيَّاءُ بْنُ يَحْيَى حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ- رضي الله عنها - قَالَتْ خَرَجَتْ سَوْدَةُ بَعْدَ مَا ضُرِبَ الْحِجَابُ لِحَاجَتِهَا، وَكَانَتِ امْرَأَةً جَسِيمَةً لاَ تَخْفَي عَلَى مَنْ يَعْرِفُهَا، فَرَآهَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَ يَا سَوْدَةُ أَمَا وَاللهِ مَا تَخْفَيْنَ عَلَيْنَا، فَانْظُرِى كَيْفَ تَخْرُجِينَ، قَالَتْ فَانْكَفَأَتْ رَاجِعَةً، وَرَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم فِي بَيْتِى، وَإِنَّهُ لَيَتَعَشَّى. وَفِي يَدِهِ عَرْقٌ فَدَخَلَتْ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي خَرَجْتُ لِبَعْضِ حَاجَتِى فَقَالَ لِي عُمَرُ كَذَا وَكَذَا. قَالَتْ فَأَوْحَى اللهُ إِلَيْهِ ثُمَّ رُفِعَ عَنْهُ وَإِنَّ الْعَرْقَ فِي يَدِهِ مَا وَضَعَهُ فَقَالَ "إِنَّهُ قَدْ أُذِنَ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَاجَتِكُنَّ". بخاري: 4795

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې د حجاب له لازمېدو وروسته، سوده رضي الله عنها (په حجاب کي) د کوم ضرورت لپاره بهر ووتله، هغه دنګه مېرمن وه، چا چې پېژندله نو پرې پټه نه پاته کېده، عمر رضي الله عنه وليده او ورته وئې ويل: اې سوده! والله چې پر موږ پټه نه پاته کېږې، وګوره څنګه وځې! وايي: هغه بېرته راستنه شوه، په داسي حال کي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم زما په کور کي وو او ماښامنی ئې خوړلو او په لاس کي ئې غوښين هډوکی وو، هغه راغله او وئې ويل: يا رسول الله! زه د ځينو اړتياوو لپاره بهر ووتلم او (عمر رضي الله عنه) دا دا راته وويل، (عائشه رضي الله عنها) وايي: الله تعالى هغه ته وحي وکړه، بيا په داسي حال کي ترې لوړه شوه چې هغه غوښين هډوکی ئې لا په لاس کي وو او وئې فرمايل: يقيناً چې تاسو ته د خپلو حاجتونو او اړتياوو لپاره د وتلو

اجازه درکړی شوې.

د دې روایت له مخې دوه خبرې کولی شو: لومړی دا چې مخکینی روایت ناقص دئ، د پېښې په اړه ئې وینا دقیقه نه ده او دوهم دا چې د توجیه وړ نه برېښي چې عمر رضي الله عنه به د رسول الله صلی الله علیه و سلم د دې وینا له اورېدو وروسته هم په خپلې رأیې ټینګار کړی وي!! او ښځې به ئې جومات ته له تلو منع کړې وي.

(۱۲) باب: په اوبو سره استنجاء

۱۲۱- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ هِشَامُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي مُعَاذٍ- وَاسْمُهُ عَطَاءُ بْنُ أَبِي مَيْمُونَةَ- قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم إِذَا خَرَجَ لِحَاجَتِهِ أَجِيءُ أَنَا وَغُلاَمٌ مَعَنَا اداوَةٌ مِنْ مَاءٍ. و في روايةٍ: وَ عَنَزَةٍ، يَسْتَنْجِيْ بِالْمَاءِ يَعْنِي يَسْتَنْجِي بِهِ. (بخاري:150، 152)

۱۲۱- له انس رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: کله چې به رسول الله صلی الله علیه و سلم د اودس ماتي لپاره د باندي ووت، نو ما او یوه بل هلک به د اوبو یو لوښی ورته راوړ. او په بل روایت کي یو وړه نېزه هم (د استنجاء لپاره)

تکرار: 151، 152، 217، 500

توپیر: په یوه کي إِذَا خَرَجَ لِحَاجَتِهِ، په بل کي اذا يَدْخُلُ الْخَلاَءَ، په یوه کي أَجِيءُ أَنَا وَغُلاَمٌ مَعَنَا اداوَةٌ مِنْ مَاءٍ، په بل کي تَبِعْتُهُ أَنَا وَغُلاَمٌ مِنَّا مَعَنَا اداوَةٌ مِنْ مَاءٍ، په بل کي إِذَا تَبَرَّزَ لِحَاجَتِهِ أَتَيْتُهُ بِمَاءٍ فَيَغْسِلُ بِهِ، په بل کي أَحْمِلُ أَنَا

وَغُلاَمٌ اداوَةً مِنْ مَاءٍ؛ او په بل کي وَمَعَنَا عُكَّازَةٌ أَوْ عَصًا أَوْ عَنَزَةٌ وَمَعَنَا اداوَةٌ، فَإِذَا فَرَغَ مِنْ حَاجَتِهِ نَاوَلْنَاهُ الإِدَاوَةَ، په يوه کي فَيَغْسِلُ بِهِ او په بل کي يَسْتَنْجِى بِالْمَاءِ راغلي.

دا روايات د مفهوم او معنى له پلوه خاص توپير نه لري، د ټولو راوي انس رضي الله عنه دئ، خو دا خبره ترې معلومېږي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د لاس مينځلو، استنجاء او اودس لپاره اوبه له بيت الخلاء نه بهر راوړل شوې. او بنيي چې د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د هغه روايت معنى هم دغه ده، نه په بيت الخلاء کي د اوبو لوښى ايښودل.

(١٣) باب: د استنجاء په وخت له اوبو سره د نېزې وړل

١٢١- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي مَيْمُونَةَ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَدْخُلُ الْخَلاَءَ، فَأَحْمِلُ أَنَا وَغُلاَمٌ اداوَةً مِنْ مَاءٍ، وَعَنَزَةً، يَسْتَنْجِى بِالْمَاءِ. بخاري: 152

١٢١- له انس رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به بيت الخلاء ته ننوت او موږ به د اوبو د څرمني ووړ مشك او يوه وړه نېزه راوړله؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم به په اوبو استنجاء کوله.

دلته د وړې نېزې د راوړولو موخه نه ده بنودل شوې، احتمالاً په دې سره زمکه کېندل کېده چې خاوره نرمه شي او د اودس په وخت کي د اوبو څاڅکي وروا نه لوزي او يا خو

دا د رسول الله صلى الله عليه و سلم د لاس عصا وه چې سر ئې د اوسپني وو. هله ئې عصا ګڼلی شو چې د اوبو له لوښي سره يو ځای نه وي ورکړی شوی.

(١٤) باب: په بنې لاس له استنجاء کولو نهی

١٢٢- حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ فَضَالَةَ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ- هُوَ الدَّسْتَوَائِيُّ- عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "إِذَا شَرِبَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَتَنَفَّسْ فِي الإِنَاءِ، وَإِذَا أَتَى الْخَلاَءَ فَلاَ يَمَسَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ، وَلاَ يَتَمَسَّحْ بِيَمِينِهِ". (بخاري:153)

١٢٢- أبو قتاده رضي الله عنه روايت کوي چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (له تاسو چې څوک اوبه څښي نو په لوښي کي دي نه پو کوي؛ او کله چې بيت الخلاء ته ځي نو خپل بنی لاس دي ذکر ته نه ورورې، يعنی په بنې لاس دي استنجاء نه کوي.)

تکرار: 154، 5630

توپير: په يوه کي وَإِذَا أَتَى الْخَلاَءَ فَلاَ يَمَسَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ او په بل کي إِذَا بَالَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَأْخُذَنَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ، په يوه کي وَلاَ يَسْتَنْجِى بِيَمِينِهِ راغلي او په بل کي نه؛ په يوه کي وَإِذَا تَمَسَّحَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَتَمَسَّحْ بِيَمِينِهِ او په بل کي يوازي وَلاَ يَتَمَسَّحْ بِيَمِينِهِ راغلي. د ټولو معنی سره ورته ده، راوي ئې هم يو او ابوقتاده رضي الله عنه دئ.

دا روايت څو مهمي لارښووني لري: د څښاك په اوبو

کي له پو کولو نهي شوي، په دې سره يوه داسي ستر علمي حقيقت ته اشاره شوې چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د رسالت په حقانيت ګواهي ورکوي، انسان اوس او د ډېرو علمي تحقيقاتو په نتيجه کي په دې پوه شوی چي د انسان په سا او هغه هوا کي چي له خپلي خولې او پزي ئې بهر باسي هغه مضره او تاواني هوا وي چي سږي ئې له ويني اخلي او بهر ئې باسي، د انسان سږي د خولې او پزي له لاري اوکسيجن اخلي او ويني ته ئې ورکوي او کاربن دای اکسايد تري اخلي او بهر ئې باسي. په دې کي نه يوازي د کاربن دای اکسايد په څېر مضر ګاز وي بلکي ډېر داسي جراثيم هم وي چي له يوه انسانه بل ته د مرضونو د سرايت باعث کېږي. دې لارښووني ته په پام سره بايد په اوبو او خواړو کي له پو کولو ډډه وشي. همدا راز مور ته لارښوونه کوي چي انسان بايد خپل ښی لاس په داسي ځايو له وهلو لري وساتي چي د ګنده کېدو احتمال ئې وي، د داسي کارونو لپاره بايد کين لاس وکاروي، ښی لاس بايد د خوراك په څېر کارونو ته مختص کړي. له دغو دواړو لارښوونو معلومېږي چي اسلام نظافت او پاکوالي ته څومره اهميت ورکوي.

(١٥) باب: په تيږو سره استنجاء

123- **حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَكِّيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدِ بْنِ عَمْرٍو الْمَكِّيُّ عَنْ جَدِّهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ اتَّبَعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم وَخَرَجَ لِحَاجَتِهِ، فَكَانَ لاَ يَلْتَفِتُ فَدَنَوْتُ مِنْهُ فَقَالَ "ابْغِنِى أَحْجَارًا أَسْتَنْفِضْ بِهَا- أَوْ نَحْوَهُ- وَلاَ تَأْتِنِى بِعَظْمٍ وَلاَ رَوْثٍ".**

فَأَتَيْتُهُ بِأَحْجَارٍ بِطَرَفِ ثِيَابِي فَوَضَعْتُهَا إِلَى جَنْبِهِ وَأَعْرَضْتُ عَنْهُ، فَلَمَّا قَضَى أَتْبَعَهُ بِهِنَّ. (بخاري:155)

123- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د اودس ماتي لپاره ووت، زه ورپسې روان شوم، هغه به شا ته نه کتل، تر هغه چې ورلنډ شوم، نو وئې فرمايل: (تيږي يا کوم څه چې تيږو ته ورته وي (لکه لوټه) راته پيدا کړه چې استنجاء پرې وکړم، گوره چې هډوکي يا خوشايي راته رانه وړې.)، نو ما پخپله لمن کي تيږي ورته راوړې او د ده خوا ته مي واچولې او زه ترې لرې ولاړم، له اودس ماتي وروسته ئې پرې استنجاء وکړه.

تکرار: **3860**

توپير: په يوه کي وَلاَ رَوْثٍ او په بل کي وَلاَ بِرَوْثَةٍ، په يوه کي وَأَعْرَضْتُ عَنْهُ او په بل کي ثُمَّ انْصَرَفْتُ، په يوه کي دا الفاظ شته فَقُلْتُ مَا بَالُ الْعَظْمِ وَالرَّوْثَةِ قَالَ "هُمَا مِنْ طَعَامِ الْجِنِّ، وَإِنَّهُ أَتَانِى وَفْدُ جِنِّ نَصِيبِينَ وَنِعْمَ الْجِنُّ، فَسَأَلُونِى الزَّادَ، فَدَعَوْتُ الله لَهُمْ أَنْ لاَ يَمُرُّوا بِعَظْمٍ وَلاَ بِرَوْثَةٍ إِلاَّ وَجَدُوا عَلَيْهَا طَعَامًا: ورته ومي ويل: هډوکی او خوشايی په څه دي؟ وئې فرمايل: دا د پيريانو خوراك دي، ما ته د نصيبيين د پيريانو يوه ډله راغله، دوی ښه پيريان دي او د توښې غوښتنه ئې رانه وکړه، نو د دوی لپاره مي الله تعالى ته دعاء وکړه چې که په هر هډوکي او خوشايي تېرېږي پر هغه دي طعام ومومي.

د دوهم روايت اضافي برخه يوازي په بخاري کي راغلې، نه په بل کتاب کي راغلې او نه بل چا دا خبره کړې، دا خبره نه له نورو رواياتو سره اړخ لګوي او نه له قرآن سره، ځکه نور روايات وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: دا دواړه ناپاك او نجس دي او قرآن له يوې خوا وايي چي پېريان نه ليدل کېږي او له بلي خوا وايي چي د پېريانو خوراك اوبه دي، د الجن په سورې کي دوی ته د پرېمانه اوبو وعده ورکړی شوې: (وَ أَن لَّوِ استَقَامُوا عَلى الطرِيقَةِ لأَسقَيْنَهُم مَّاءً غَدَقاً الجن: 16: او دا چي که (پېريان) په دې لار نېغ پاته شي په پرېمانه اوبو به ئې خړوبه کړو). نو دا روايت هم له دې پلوه له قرآن سره تعارض لري چي وايي د پېريانو يو ټولګی رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغلی او د خوراك غوښتنه ئې تري کړې او هم له دې پلوه چي وايي په خوشايو او هډوکو پېريانو ته خوراك پيدا کېږي. دا په داسي حال کي چي الله تعالى پېريانو، انسانانو او ټولو ژوو ته د دوی له پيدايښت مخکي د مناسب رزق او روزي انتظام کړی.

دې ته مو پام وي چي اکثر جراثيم په خاوره کي مري، لاس او لوښي په خاورو موښل له ډېرو جراثيمو هغوی پاکوي خو په هډوکو باندي ډېر جراثيم راغونډېږي او له صحي پلوه د لوټي او تيږي پر ځای د هغوی کارول مضر دي.

(١٦) باب: په خوشايو له استنجاء ډډه کول

124- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ لَيْسَ أَبُو

عُبَيْدَةَ ذَكَرَهُ وَلَكِنْ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الأَسْوَدِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ الله يَقُولُ أَتَى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم الْغَائِطَ، فَأَمَرَنِي أَنْ آتِيَهُ بِثَلاَثَةِ أَحْجَارٍ، فَوَجَدْتُ حَجَرَيْنِ، وَالْتَمَسْتُ الثَّالِثَ فَلَمْ أَجِدْهُ، فَأَخَذْتُ رَوْثَةً، فَأَتَيْتُهُ بِهَا، فَأَخَذَ الْحَجَرَيْنِ وَأَلْقَى الرَّوْثَةَ وَقَالَ "هَذَا رِكْسٌ". (بخاري:156)

124- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د اودس ماتي لپاره ووت، ما ته ئې امر وکړ چي درې تيږي ورته راوړم، ما دوې تيږي ومونډلې، په درېيمي پسي وګرځېدم خو ومي نه مونډله، نو يو مي خوشايی را واخيست؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته مي وروړل، رسول الله صلى الله عليه و سلم دواړه تيږي واخيستې او خوشايی ئې وغورځاوو او وئې فرمايل: (دا نجس (چټل) دي.)

له دې روايت معلومېږي د خوشايو د نه استعمال وجه د دوی نجاست دئ نه بل څه.

(١٧) باب: په اوداسه کي د غړيو يو، يو ځل مينځل

125- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ تَوَضَّأَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم مَرَّةً مَرَّةً. (بخاري:157)

125- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم يو، يو ځل مينځل وکړل،

يعنى خپل مبارک اندامونه ئې يو، يو ځل ومينځل.

د دې شرح د ٦ باب- په دواړو لاسونو د مخ مينځل د ١١٥روايت په شرحي کي وګورئ، د دري دري ځلي مينځلو روايت ارجح او غوره او د رسول الله صلى الله عليه و سلم عام سنت په ګوته کوي، يو او دوه ځلي مينځل استثنائي حالات دي.

(١٨) باب: په اوداسه کي د غړيو دوه، دوه ځلي مينځل

126- حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عِيسَى قَالَ حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم تَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ. (بخاري:158)

126- له عبيد الله بن زيد انصاري رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم) دوه، دوه ځله مينځل وکړل، يعني په اوداسه کي ئې خپل مبارک اندامونه دوه، دوه ځلي ومينځل.

دا روايت په نورو کتابونو کي هم راغلى، دا اودس منځنى اودس دئ، اجر او ثواب ئې تر يوه زيات او تر بل لږ دئ، که اوبه لږ وي، حالت د عجلې وي، هوا نسبتاً سړه وي دا اودس هم صحيح دئ.

(١٩) باب: په اوداسه کي د غړيو دري ځلي مينځل

127- حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللهِ الأُوَيْسِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ عَطَاءَ بْنَ يَزِيدَ أَخْبَرَهُ أَنَّ حُمْرَانَ مَوْلَى عُثْمَانَ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ رَأَى عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ دَعَا بِإِنَاءٍ، فَأَفْرَغَ عَلَى كَفَّيْهِ ثَلاَثَ مِرَارٍ فَغَسَلَهُمَا، ثُمَّ أَدْخَلَ يَمِينَهُ فِي الإِنَاءِ فَمَضْمَضَ، وَاسْتَنْشَقَ، ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلاَثًا، وَيَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ ثَلاَثَ مِرَارٍ، ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ ثَلاَثَ مِرَارٍ إِلَى الْكَعْبَيْنِ، ثُمَّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "مَنْ تَوَضَّأَ نَحْوَ وُضُوئِي هَذَا، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، لاَ يُحَدِّثُ فِيهِمَا نَفْسَهُ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ". (بخاري:159)

127- روايت دئ چي عثمان بن عفان رضي الله عنه د اوبو لوښی راوغوښت، نو پر لاسونو ئې اوبه توی کړې او دواړه ئې دري ځلي ومينځل، بيا ئې خپل ښی لاس په اوبو کي غوټه کړ، مضمضه او استنشاق ئې وکړ (خوله او پزه ئې ومينځله)، بيا ئې خپل مخ دري ځلي ومينځو؛ او دواړه لاسونه ئې تر څنګلو پوري دري دري ځلي ومينځل، بيا ئې سر مسح کړ، بيا ئې دواړه پښې تر ټپډيو (ښنګريو) پوري دري ځلي ومينځلې، بيا ئې وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (چا چي زما د دې اوداسه په شان اودس وکړ، بيا ئې دوه رکعته لمونځ داسي اداء کړ چي له ځان سره ئې پکي خبري ونکړې، تېر ګناهونه به ئې ورته

وبخښل شي.)

تکرار: 160، 164، 1934، 6433

توپير: ټول د معنی او مفهوم له پلوه سره ورته دي، په الفاظو کي ئې هم د پام وړ توپير نشته، راوي ئې همدا حمران رضي الله عنه دئ، په يوه کي دا الفاظ هم راغلي: (قَالَ أَلاَ أُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا لَوْلاَ آيَةٌ مَا حَدَّثْتُكُمُوهُ، سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "لاَ يَتَوَضَّأُ رَجُلٌ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهُ، وَيُصَلِّى الصَّلاَةَ إِلاَّ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الصَّلاَةِ حَتَّى يُصَلِّيَهَا: آيا داسي حديث درته ونه وايم چي که د قرآن يو آيت نه وی نو هيڅکله به مي نه وو درته ويلی؟ له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چي وئې فرمايل: هيڅوك به داسي نه وي چي بشپړ اودس وکړي او بيا لمونځ وکړي مګر دا چي تر دې لمانځه پوري کړي ګناهونه به ئې ورته وبخښل شي، آيت دا دئ: إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ.... الآية). روايت دا دئ:

وَعَنْ إِبْرَاهِيمَ قَالَ قَالَ صَالِحُ بْنُ كَيْسَانَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَلَكِنْ عُرْوَةُ يُحَدِّثُ عَنْ حُمْرَانَ، فَلَمَّا تَوَضَّأَ عُثْمَانُ قَالَ أَلاَ أُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا لَوْلاَ آيَةٌ مَا حَدَّثْتُكُمُوهُ، سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "لاَ يَتَوَضَّأُ رَجُلٌ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهُ، وَيُصَلِّى الصَّلاَةَ إِلاَّ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الصَّلاَةِ حَتَّى يُصَلِّيَهَا". قَالَ عُرْوَةُ الآيَةُ (إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ... الآية). بخاري: 160

لکه چي تر دې د مخه ځيني نور اعمال د تېرو ګناهونو د بخښني باعث ښودل شوي دلته بشپړ اودس او ورپسې

لمونځ همداسي بنودل شوی، په ټولو کي له ګناهونو مراد صغيره او د بخښلو وړ ګناهونه دي.

(۲۰) باب: د پزي مينځل

128- حَدَّثَنَا عَبْدَانُ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ قَالَ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو إِدْرِيسَ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَنَّهُ قَالَ "مَنْ تَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْثِرْ، وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ". (بخاري:161)

128- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (څوک چي اودس کوي بايد پزه ښه ومينځي او څوک چي په تيږه استنجاء کوي نو په طاق (۳، ۵...) دې وکړي).

(۲۱) باب: په طاق تيږو استنجاء

129- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ فِي أَنْفِهِ ثُمَّ لِيَنْثُرْ، وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ، وَإِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلْيَغْسِلْ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يُدْخِلَهَا فِي وَضُوئِهِ، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لاَ يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ". (بخاري:162)

129- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (له تاسي چي څوک اودس کوي؛ اوبه دي په پزه کي اچوي بيا دې سوغ کړي؛ او څوک چي په تيږو استنجاء کوي نو په طاق تيږو دې کوي؛ او کله چي له تاسي کوم يو له خوبه راپاڅي نو د اوبو په

لوښي کي د لاس منډلو مخکي دي هغه ومينځي، ځکه له تاسي هيڅوک په دې نه پوهيږي چي د خوب په وخت کي ئې لاس چپري وو).

(٢٢) باب: د پښو مينځل او مسح نه پرې کول

130- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ عُبَيْدِ بْنِ جُرَيْجٍ أَنَّهُ قَالَ لِعَبْدِ الله بْنِ عُمَرَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ، رَأَيْتُكَ تَصْنَعُ أَرْبَعًا لَمْ أَرَ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِكَ يَصْنَعُهَا. قَالَ وَمَا هِيَ يَا ابْنَ جُرَيْجٍ قَالَ رَأَيْتُكَ لاَ تَمَسُّ مِنَ الأَرْكَانِ إِلاَّ الْيَمَانِيَيْنِ، وَرَأَيْتُكَ تَلْبَسُ النِّعَالَ السِّبْتِيَّةَ، وَرَأَيْتُكَ تَصْبُغُ بِالصُّفْرَةِ، وَرَأَيْتُكَ إِذَا كُنْتَ بِمَكَّةَ أَهَلَّ النَّاسُ إِذَا رَأَوُا الْهِلاَلَ وَلَمْ تُهِلَّ أَنْتَ حَتَّى كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ. قَالَ عَبْدُ الله أَمَّا الأَرْكَانُ فَإِنِّي لَمْ أَرَ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَمَسُّ إِلاَّ الْيَمَانِيَيْنِ، وَأَمَّا النِّعَالُ السِّبْتِيَّةُ فَإِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَلْبَسُ النَّعْلَ الَّتِى لَيْسَ فِيهَا شَعَرٌ وَيَتَوَضَّأُ فِيهَا، فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَلْبَسَهَا، وَأَمَّا الصُّفْرَةُ فَإِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَصْبُغُ بِهَا، فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَصْبُغَ بِهَا، وَأَمَّا الإِهْلاَلُ فَإِنِّي لَمْ أَرَ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يُهِلُّ حَتَّى تَنْبَعِثَ بِهِ رَاحِلَتُهُ. (بخاري:166)

130- عبدالله بن عمر رضي الله عنه ته وويل شو چي ومي ليدلې چي څلور داسي کارونه دي وکړل چي ستا هيڅ ملګرى مي ونه ليدو چي داسي ئې کړي وي، وئې ويل: هغه څه دي اې ابن جريج؟ وئې ويل: وينم دي چي له رکن يماني او رکن حجر اسود پرته د کعبې شريفي نور ارکان نه لمس

کوې او ګورم دي چې د څرمني پټې اغوندې؛ او وينم دي چې رنګول کوې (ږيره دي په زعفرانو رنګوې)؛ او ګورم دي چې کله په مکه کې وې، خلک د ذي الحجې مياشت په ليدو سره احرامونه تړي خو ته په يوم الترويه کې (د ذي الحجې په اتمه) احرام تړې، ابن عمر رضي الله عنهما په ځواب کې وويل: دکعبې شريفي د ارکانو په اړه وايم چې ما رسول الله صلى الله عليه و سلم نه دئ ليدلى چې له رکن يماني او رکن حجر اسود پرته ئې نور ارکان استلام (لمس) کړي وي؛ او د څرمني پټې چې دي نو ما رسول الله صلى الله عليه و سلم ليدلى چې داسي پټې ئې اغوستلې چې وړې (وښتان) ورباندي نه وو؛ او اودس ئې ورسره کاوو (مسح ئې نه پرې کوله) نو زه دا خوښوم چې همغه ډول پټې واغوندم؛ او زېړول چې دي نو ما رسول الله صلى الله عليه و سلم ليدلى چې کله کله به ئې زېړول، نو زه هم خوښوم چې زېړ ئې کړم؛ او د احرام په اړه وايم چې ما رسول الله صلى الله عليه و سلم نه دئ ليدلى چې د سورلۍ له روانېدو مخکې ئې احرام تړلى وي (د منٰى په لوري د تلو په ورځ ئې احرام تړلى)

تکرار: 1514، 1552، 1609، 2865، 5851

توپير: په 5851 شمېره کې تکرار شوى، په نورو کې ئې ځيني برخې راغلې، په دوو کې د ترويه د ورځې د احرام پر ځاى په ذي الحليفه کې د احرام تړلو وينا راغلې. حال دا چې دا دواړه احرامونه په خپلو کې توپير لري.

(٢٣) باب: په اوداسه کي له ښي غړي پيل کول

131- **حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي أَشْعَثُ بْنُ سُلَيْمٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يُعْجِبُهُ التَّيَمُّنُ فِي تَنَعُّلِهِ وَتَرَجُّلِهِ وَطُهُورِهِ وَفِي شَأْنِهِ كُلِّهِ.** (بخاري:168)

131- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا خوښېدل چې د پښو پښو کولو، سر ږمنځولو او غوړولو، اودس او خپلو ټولو کارونو کي له ښي لوري پيل کړي.

تکرار: 426، 5380، 5854، 5926

توپير: په يوه کي يُعْجِبُهُ التَّيَمُّنُ، په بل کي يُحِبُّ التَّيَمُّنَ، په يوه کي فِي شَأْنِهِ كُلِّهِ، په بل کي مَا اسْتَطَاعَ فِي شَأْنِهِ كُلِّهِ، په يوه کي فِي طُهُورِهِ وَتَنَعُّلِهِ وَتَرَجُّلِهِ، په بل کي فِي تَرَجُّلِهِ وَوُضُوئِهِ راغلي، د مفهوم او معنى له پلوه ټول سره ورته دي او راوي ئې عائشه رضي الله عنها ده.

(٢٤) باب: د لمانځه په وخت کي د اوداسه لپاره اوبه لټول

132- **حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ الله بْنِ أَبِي طَلْحَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم وَحَانَتْ صَلاَةُ الْعَصْرِ، فَالْتَمَسَ النَّاسُ الْوَضُوءَ فَلَمْ يَجِدُوهُ، فَأُتِيَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بِوَضُوءٍ،**

فَوَضَعَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فِي ذَلِكَ الإِنَاءِ يَدَهُ، وَأَمَرَ النَّاسَ أَنْ يَتَوَضَّئُوا مِنْهُ. قَالَ فَرَأَيْتُ الْمَاءَ يَنْبُعُ مِنْ تَحْتِ أَصَابِعِهِ حَتَّى تَوَضَّئُوا مِنْ عِنْدِ آخِرِهِمْ. (بخاري:169)

132- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه و سلم مي په داسي وخت کي وليد چي د مازديگر د لمانځه وخت رانږدې شوی وو، خلک د اوداسه د اوبو په لټه کي شول خو وئې نه موندلې، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د اوداسه اوبه راوړی شوې، رسول الله صلى الله عليه و سلم په همدې لوښي کي خپل مبارک لاس کېښود او خلکو ته ئې امر وکړ چي له همدې لوښي اودسونه وکړئ، راوي وايي: ما ليدل چي اوبه ئې د ګوتو له لاندي راخوتېدلې، تر هغه چي ټولو خلکو تر وروستي نفر پوري اودسونه وکړل.

تکرار: 195، 200، 3572، 3573، 3574، 3575

توپير: په يوه کي وَحَانَتْ صَلاَةُ الْعَصْرِ، په بل کي حَضَرَتِ الصَّلاَةُ، په يوه کي فَالْتَمَسَ النَّاسُ الْوَضُوءَ فَلَمْ يَجِدُوهُ فَقَامَ مَنْ كَانَ قَرِيبَ الدَّارِ إِلَى أَهْلِهِ، وَبَقِيَ قَوْمٌ او په بل کي فَانْطَلَقَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ، په يوه کي دَعَا بِإِنَاءٍ مِنْ مَاءٍ، په بل کي فَأُتِيَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بِوَضُوءٍ، په بل کي فَأُتِيَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بِمِخْضَبٍ مِنْ حِجَارَةٍ فِيهِ مَاءٌ او په بل کي فَأُتِيَ بِقَدَحٍ رَحْرَاحٍ فِيهِ شَيْءٌ مِنْ مَاءٍ، فَوَضَعَ أَصَابِعَهُ فِيهِ؛ او په بل کي فَجَاءَ بِقَدَحٍ مِنْ مَاءٍ يَسِيرٍ، په يوه کي فَوَضَعَ رَسُولُ الله صلى الله

عليه و سلم فِي ذَلِكَ الإِنَاءِ يَدَهُ، په بل کي فَصَغُرَ الْمِخْضَبُ أَنْ يَبْسُطَ فِيهِ او په بل کي َضَمَّ أَصَابِعَهُ فَوَضَعَهَا فِي الْمِخْضَبِ، په يوه کي حَتَّى تَوَضَّئُوا مِنْ عِنْدِ آخِرِهِمْ، په بل کي فَتَوَضَّأَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ. قُلْنَا كَمْ كُنْتُمْ قَالَ ثَمَانِينَ وَزِيَادَةً او په بل کي فَحَزَرْتُ مَنْ تَوَضَّأَ مَا بَيْنَ السَّبْعِينَ إِلَى الثَّمَانِينَ او په بل کي كَمْ كُنْتُمْ قَالَ ثَلاَثَمِائَةٍ؛ او زُهَاءَ ثَلاَثَمِائَةٍ، په بل کي فَتَوَضَّأَ، الْقَوْمُ حَتَّى بَلَغُوا فِيمَا يُرِيدُونَ مِنَ الْوَضُوءِ، وَكَانُوا سَبْعِينَ أَوْ نَحْوَهُ او په بل کي فقَالَ ثَمَانُونَ رَجُلاً، په يوه کي فِي بَعْضِ مَخَارِجِهِ وَمَعَهُ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِهِ او په نورو کي نشته، په يوه کي َنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ او په بل کي يَنْبُعُ مِنْ تَحْتِ أَصَابِعِهِ.

لکه چي ګورئ په دغو رواياتو کي کافي او جدي توپيرونه او تعارضونه شته، په ځينو کي ويل شوي چي د خلکو شمېر اويا وو، په ځينو کي د اتيا شاوخوا او په ځينو کي درې سوه، په ځينو کي يو ډول لوښی او په ځينو کي بل ډول لوښی، په ځينو کي ويل شوي چي ګوتي ئې په لوښي کي دننه کړي او په ځينو کي ويل شوي چي د لوښي خوله تنګه وه او ګوتي ئې په کي ننوتی نشوې، په ځينو کي ويل شوي هغه خلك د اودس لپاره کورونو ته ولاړل چي د همدې کلي ول او نور پاته شول او په ځينو کي ويل شوي چي يو کس کلي ته ولاړ او د اوبو په يوه لوښي کي ئې لږ اوبه راوړې او ډېر نور توپيرونه. د دې توپيرونو تر څنګ دغو خبرو ته هم بايد ځير وو:

- دا روايت د سند له مخي تر ټولو غريب روايت دئ، په

صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو كي يوازي يو يو راوي لري، د متن او محتوى له پلوه هم ډېر كمزورى دئ او له ګڼ شمېر تعارضاتو ډك، داسي چې يو ئې بل نفي كوي، پوښتنه دا ده چې ولي له دغو، اويا، اتيا او حتى درې سوو كسانو هيڅا دا خبره نه ده كړې؟! داسي پېښه خو به تر ټولو صحابه وو رسېدله او ډېرو صحابه وو به روايت كوله!

- دې ته مو هم پام وي چې انس رضي الله عنه په شپږم هجري كال بلوغ ته رسېدلى او لومړى ځل ئې د خيبر په غزا كي د رسول الله صلى الله عليه و سلم ملګرتيا كړې، هغه هم نه د يوه جنګيالي په توګه بلكي د خادم په توګه، په دې روايت كي دا وضاحت نه دئ شوى چې دا پېښه كله او چېرې شوې، د كلي نوم څه وو، دا د كومي غزا په دوران كي رامنځته شوې، آيا د خيبر له فتحي وروسته داسي اوږد سفر د كومي غزا لپاره شوى چې دريو سوو كسانو په كي برخه اخيستې وي؟!!
- په قرآن كي پيغمبر عليه السلام ته نه يوازي داسي معجزې نه دي منسوب شوې بلكي نفي شوې دي. دا په داسي حال كي چې د موسى عليه السلام، عيسى عليه السلام، صالح عليه السلام، سليمان عليه السلام معجزې ئې په تفصيل سره او په مكرره توګه بيان كړې دي، د پيغمبر عليه السلام په اړه فرمايي چې كافرانو دغسي معجزې تر غوښتې او ويل ئې چې ولي ده ته هغه معجزې نه دي وركړى شوې چې مخكينيو رسولانو ته وركړى شوې وې؟ ورته ويل ئې: هغه مهال به پر تا ايمان راوړو چې له زمكي يوه چينه راوخوتوې، ځان ته د كجورو او انګورو داسي بڼ

(باغ) جوړ کړې چې په هغه کې ویالې وبهوې، د آسمان کومه ټوټه پر مونږ راوغورځوې، خدای او فرشتې زمونږ مخې ته راولې، ښایسته او مزین کور ولرې، آسمان ته ستا ختل وګورو، له آسمان له ځان سره داسې کتاب راوړې چې مونږ ئې لولو او په خپل لاس سره ئې مسح کړی شو، فرشتې دي په خوا کې ولاړي وګورو،... الله تعالی د کافرانو د دغو غوښتنو په ځواب کې پیغمبر علیه السلام ته فرمایلي: دوی ته ووایه: سبحان الله! آیا زه له یوه انسان او پیغمبر پرته بل څوك یم؟ زه یو بشیر او نذیر یم، آیا لومړنیو خلکو د همداسي معجزو له لیدو سره سره خپل پیغمبران تکذیب نه کړل؟ که ما ته الله تعالی داسي معجزې راکړي نو څنګه به دا طمع کوم چې تاسو به ایمان راوړئ؟ آیا دا قرآن چې پر تا نازل شوی کافي نه دئ؟ یعني دا قرآن تر ټولو معجزو ستره معجزه ده، هم د موسی علیه السلام تر عصا او ید بیضاء او هم د عیسی علیه السلام تر سترو سترو معجزو... او دې ته ورته ډېر نور آیتونه چې په پرېکنده توګه وایي پیغمبر علیه السلام داسي معجزې نه درلودلې او نه ئې ښودلې دي. قرآن د پیغمبر علیه السلام ستره معجزه دا ښیي چې هغه په داسي حال کې دا له معجزو ډك د عظمتونو خاوند قرآن وړاندي کړی چې په لیك لوست نه پوهېدو.

راشئ په دې اړه لاندنیو څو آیتونو ته ځیر شئ او وګورئ چې کفارو کومي معجزې غوښتې او الله تعالی څه ځواب ورکړی:

وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعٗا ٩٠ أَوۡ تَكُونَ

لَكَ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ ٱلْأَنْهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفْجِيرًا ٩١ أَوْ تُسْقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا أَوْ تَأْتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ٩٢ أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِّن زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَىٰ فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَٰبًا نَّقْرَؤُهُۥ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا ٩٣ الاسراء:90-93

كه الله تعالى غوښتى چې پيغمبر عليه السلام داسې معجزې وښيي نو دغو كافرانو ته به ئې وربښودلې وې، ځكه معجزه په اصل كې د مخالفينو د عاجزولو او پر كولو لپاره وي، د همدې لپاره د پيغمبرانو عليهم السلام خارق العاده كارونو ته د معجزې نوم ورکړى شوى. د موسى عليه السلام د عصا په يوه ګوزار سره له تېرې دولس چينې راوخوټېدې، خو هغه معجزه د همغه وخت لپاره وه، اوس هغه چينې نشته، كه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسې معجزې وركول كېدى نو دا به تر قيامت پورې تلپاته وې، ځكه د ده دعوت تلپاته دئ او تر قيامت دوام كوي.

كه الله تعالى غوښتى چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د مخكينيو پيغمبرانو عليهم السلام په څېر معجزې ورکړې نو دا معجزې به هم تر مخكينيو ستري وې او هم تلپاته، دا ځكه چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم رسالت د همدې تقاضا كوي، دا معجزې بايد تر قيامت ليدل كېدى، كه ئې غوښتى چې د موسى عليه السلام په څېر معجزه ورکړې نو له يوې ډبرې به ئې داسې چينه ورته راخوټولې وه چې تر قيامت به اوبه تري راخوټېدې، له آسمان به ئې داسې ليكلى قرآن پرې نازل كړى وو چې د خلكو په وړاندې به په فضاء كې ولاړ وو، هر چا به په خپلو سترګو ليدو، دا كار الله تعالى ته ډېر آسان دئ، كه لمر، سپوږمى او دا ټول

بې شمېره ستوري په فضاء کي ساتلی شي د يوه کتاب ساتل به څه ګران کار وي!! که ئې غوښتي وی چې د عيسی عليه السلام په څېر کومه معجزه ورکړي او مړي ورته راژوندي، ړانده سترګور او بيماران روغ کړي نو د قرآن په لوستلو سره به ئې په حقيقي معنی تل مړي راژوندي کول؛ او ناروغان به ئې روغول، الله تعالی ته دا ټول کارونه آسان دي، څوك چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته وړې وړې معجزې ثابتوي هغوی په حقيقت کي د هغو خلکو د تبليغاتو تر اغېز لاندي تللي چې ويل ئې: ولي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د مخکينيو پيغمبرانو په څېر معجزې نه دي ورکړی شوې؟ خو دې ته ئې پام نه دئ چې الله تعالی د کافرانو د دغي غوښتني څه ځواب ورکړی؟ ځواب دا دئ: که له آسمانه مو داسي کتاب درباندي نازل کړی وی چې کافرانو په خپل لاس لمس کولی شوی، مړي پرې راژوندي شوي وی، بيا هم دوی ايمان نه راوړ.

معجزه د پيغمبر په خوښه نه رامنځته کېږي، د ده په واك کي نه وي، د الله تعالی په إذن او هغه مهال رامنځته کېږي چې الله تعالی ئې وغواړي، پيغمبر ته ئې د ښودلو امر، اجازه او واك ورکړي، مور په قرآن او احاديثو کي د دې إذن، امر او اجازې شاهد او دليل نه مومو، د روايت وينا داسي ده چې ګواکي رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپله لاس په لوښي کي ايښی، په همدې سره ئې اوبه له ګوتيو راخوتېدلې او خلکو ته ئې ويلي چې اودسونه وکړئ.

په خوراك، څښاك، مال، زمکي، پټي او نورو شيانو کي برکت، له لږ څه ډېره نتيجه او ثمره تر لاسه کول، لږ خواړه

د ډېرو لپاره کافي کېدل، په لږو اوبو د ډېرو اړتيا رفع کېدا؛ نه يوازي په رواياتو کي ډېري بېلګي لري بلکي د عادي انسانانو په ژوند کي ئې هم مثالونه ترسترګو کېږي، خو کله چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه څه اورو، بل ته ئې وايو؛ او د کوم حکم په اړه پرې استناد کوو بايد په هغه کي بشپړ احتياط وکړو، له غور او دقت وروسته ئې ووايو او په احتياط سره ئې نورو ته انتقال کړو، داسي نه چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه هغه څه ووايو چي ده نه دي ويلي او له قرآن سره تعارض لري.

(٢٥) باب: هغه اوبه چي د انسان وېښتان پرې مينځل کېږي

133- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ قَالَ أَخْبَرَنَا سَعِيدُ بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبَّادٌ عَنِ ابْنِ عَوْنٍ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم لَمَّا حَلَقَ رَأْسَهُ كَانَ أَبُو طَلْحَةَ أَوَّلَ مَنْ أَخَذَ مِنْ شَعَرِهِ. (بخاري:171)

133- او له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ: کله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم) خپل مبارک سر وخرېيو، ابو طلحه رضي الله عنه لومړنی کس وو چي د (رسول الله صلى الله عليه و سلم) له وېښتانو ئې د ځان لپاره واخيستل.

دا روايت د سند له مخي ډېر غريب دئ، په صحابه وو او تابعينو کي يو يو راوي لري، په صحاح سته کي يوازي مسلم او بخاري راوړی او راوي ئې يوازي انس رضي الله

عنه دئ، دا او دې ته ورته روايات اكثراً انس بن مالك رضي الله عنه ته منسوب شوي.

په دې روايت كي دا نه دي ويل شوي چي آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې كار اجازه وركړه كه نه؛ امام بخاري رحمه الله هم څه نه دي ويلي، خو معلومېږي چي بخاري له دې كار سره موافق دئ!

(٢٦) باب: كه سپي په لوښي كي خوله ووهله

134- **حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ إِنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِذَا شَرِبَ الْكَلْبُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَلْيَغْسِلْهُ سَبْعًا".** (بخاري:172)

134- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (كه سپي ستاسو د كوم يوه له لوښي اوبه وڅښلي، نو بايد هغه لوښى اوه ځله ومينځي).

135- وَقَالَ أَحْمَدُ بْنُ شَبِيبٍ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ حَدَّثَنِي حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الله عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَتِ الْكِلاَبُ تَبُولُ وَتُقْبِلُ وَتُدْبِرُ فِي الْمَسْجِدِ فِي زَمَانِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فَلَمْ يَكُونُوا يَرُشُّونَ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ.

135- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وخت كي به سپو په جومات كي متيازي كولې، تگ او راتگ به ئې پكي درلود، خو دوى له دې په هيڅ شي هم اوبه نه اچولې.

دا روايت تر ټولو زيات غريب هم اوښتى، له تبع تابعين وروسته دور كي هم يوازي يو راوي لري، په همدې صيغه له صحاح سته يوازي بخاري راوړى، په نورو كتابونو كي يوازي په جومات كي د سپو د تگ راتگ وينا شوې، دا فقره نشته چي تبول: متيازي به ئې كولې. مراد ئې دا دئ چي سپو به له جومات بهر بولي وكړې، بيا به په جومات كي وگرځېدل خو چا به د هغوى په پلونو اوبه نه شيندلې او هغه به ئې ناپاك نه ګڼل. لكه چي أبو حاتم وايي: "قول ابن عمر وكانت الكلاب تبول يريد به خارجا من المسجد، وتقبل وتدبر فِي المسجد، فلم يكن يرشون بمرورها فِي المسجد شيئا.

دې ته مو بايد پام وي چي په لومړيو كي د نبوي جومات دېوالونه نه ول، بنايي عبدالله بن عمر رضي الله عنه هغه حالت ليدلى وي او دا خبره ئې كړې وي، له دې په جومات كي د سپو د گرځېدو جواز راايستل صحيح نه دي، جومات بايد داسي جوړ شي چي هغه ته د حيواناتو د ننوتو لاري بنديِ وي. ډېره به عجيبه وي چي څوك په داسي غريبو او كمزورو رواياتو استناد كوي او شرعي احكام ترې راباسي او وايي چي د حيواناتو په فضله وو د جومات صحن نه ناپاكه كېږي، په داسي حال كي چي پيغمبر عليه السلام د جومات په دېوال باندي حتى د انسان لاړي هم په لرګي پاكي كړې دي او خلكو ته ئې ويلي چي له داسي كار نه ډډه وكړي.

(٢٧) باب: څوك چي اودس ماتوونكي شيان دوه ګڼي

136- حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "لاَ يَزَالُ الْعَبْدُ فِي صَلاَةٍ مَا كَانَ فِي الْمَسْجِدِ يَنْتَظِرُ الصَّلاَةَ، مَا لَمْ يُحْدِثْ".
(بخاري:176)

136- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (كوم بنده چي په جومات كي د لمانځه انتظار باسي، دى به تر هغه پورې د لمانځه په حالت كي شمېرل كېږى چي بې اودسه شوى نه وي).

137- حَدَّثَنَا سَعْدُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّ عَطَاءَ بْنَ يَسَارٍ أَخْبَرَهُ أَنْ زَيْدَ بْنَ خَالِدٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَأَلَ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ- رضي الله عنه- قُلْتُ أَرَأَيْتَ إِذَا جَامَعَ فَلَمْ يُمْنِ قَالَ عُثْمَانُ يَتَوَضَّأُ كَمَا يَتَوَضَّأُ لِلصَّلاَةِ، وَيَغْسِلُ ذَكَرَهُ. قَالَ عُثْمَانُ سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم . فَسَأَلْتُ عَنْ ذَلِكَ عَلِيًّا، وَالزُّبَيْرَ، وَطَلْحَةَ، وَأُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ- رضي الله عنهم- فَأَمَرُوهُ بِذَلِكَ.
(بخاري:179)

137- له زيد بن خالد رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: له عثمان بن عفان رضي الله عنه مي پوښتنه وكړه ومي ويل: څوك چي جماع وكړي خو انزال نشي د هغه څه حكم دئ؟ عثمان رضي الله عنه وويل: هغه به لمانځه ته د

اوداسه په شان اودس کوي او خپل ذکر به مينځي. عثمان رضي الله عنه وايي: دا خبره مي له رسول الله صلى الله عليه و سلم اورېدلې ده. زيد رضي الله عنه وايي بيا مي همدا مسئله له علي، زبير، طلحه او ابي بن کعب (رضي الله عنهم) وپوښتله؛ هغوی هم د همدې حکم راته وکړ.

تکرار: 292

توپير: په دواړو کي د يادوني وړ توپير نشته، الفاظ او راوي ئې يو دئ.

د بخاري دا روايت د ١٤ باب له ٢٠٢ روايت سره تعارض لري، ژباړه او شرح ئې هلته وګورئ، بخاري نور هغه روايات نه دي راوړي چې د دې روايت په مقابل کي دي او په جماع سره، که څه هم انزال واقع نشي غسل لازم ګڼي، په دغو کي يو روايت دا دئ:

عَنْ عُبَيْدِ بن رِفَاعَةَ، أَنَّ زَيْدَ بن ثَابِتٍ كَانَ يَقُصُّ، فَقَالَ فِي قَصَصِهِ: إِذَا خَالَطَ الرَّجُلُ الْمَرْأَةَ، فَلَمْ يُمْنِ فَلَيْسَ عَلَيْهِ غُسْلٌ فَلْيَغْسِلْ فَرْجَهُ وَلْيَتَوَضَّأْ، فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْمَجْلِسِ، فَذَكَرَ ذَلِكَ لِعُمَرَ بن الْخَطَّابِ، فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ الله تَعَالَى عَنْهُ: ائْتِنِي بِهِ لأَكُونَ عَلَيْهِ شَهِيدًا، فَلَمَّا جَاءَهُ، قَالَ لَهُ: يَا عَدُوَّ نَفْسِهِ أَنْتَ تَضِلُّ النَّاسَ بِغَيْرَ عِلْمٍ، قَالَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَمَا وَالله مَا ابْتَدَعْتُهُ، وَلَكِنِّي سَمِعْتُ ذَلِكَ مِنْ أَعْمَامِي، قَالَ: أَيُّ أَعْمَامِكَ؟ قَالَ: أُبَيُّ بن كَعْبٍ، وَرِفَاعَةَ بن رَافِعٍ، وَأَبُو أَيُّوبَ، فقال رفاعة وكان حاضرا لا تَنْهَرْهُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، فَقَدْ كُنَّا وَالله نَصْنَعُ هَذَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: هَلْ عَلِمْتُمْ

أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم اطَّلَعَ عَلَى شَيْءٍ مِنْ ذَلِكَ؟ فَقَالَ: لا، فَقَالَ عَلِيُّ بن أَبِي طَالِبٍ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، إِنَّ هَذَا الأَمْرَ لا يَصْلُحُ. المعجم الكبير

له عبيد بن رفاعه روايت دئ چي زيد بن ثابت د خپلو قصو په ترڅ کي وويل: کله چي سړی له خپلي مېرمني سره نژدېکت وکړي او مني تري ولاړه نشي نو غسل پرې لازم نه دئ، خپل ذکر دي ومينځي او اودس دي وکړي، نو يو کس له مجلسه پورته شو او دا خبره ئې عمر رضي الله عنه ته وکړه، نو عمر رضي الله عنه وويل: ما ته ئې راوله چي زه هم پرې شاهد شم، کله چي هغه ورته راغی ورته وئې ويل: اې د خپل ځان دښمنه! ته په ناپوهی سره خلك بې لاري کوې، وئې ويل: اې اميرالمؤمنينه! قسم په خدای چي کوم بدعت مي نه دئ کړی (له ځانه مي دا خبره نه ده جوړه کړې)، ليکن دا مي له خپلو ترونو اوربدلې، وئې ويل: کوم ترونه دي؟ وئې ويل: ابي بن کعب، رفاعه بن رافع او ابو ايوب، نو رفاعه چي هلته حاضر وو وويل: اې امير المؤمنين! مه ئې رټه، په خدای قسم چي مونږ د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کي همداسي کول، نو عمر رضي الله عنه وويل: آيا په دې پوهېدئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې باندي خبر وو؟ وئې ويل: نه؛ نو علي بن ابي طالب رضي الله عنه وويل: اې اميرالمؤمنين! دا (د رفاعه) خبره صحيح نه ده.

له دغو متعارضو رواياتو د يوه انتخاب نه د إسنادو له

مخي ممكن دئ او نه له دې پلوه چې د احاديثو لږ يا ډېرو كتابونو نقل كړي؛ او نه له دې پلوه چې روايت د مشرانو صحابه وو له لوري روايت شوى كه د كشرانو له لوري، ځكه يو ئې عمر او علي رضي الله عنهما ته منسوب دئ او بل عثمان او ابي بن كعب رضي الله عنهما ته، د مسلمانانو ځيني يو روايت او إسناد ئې د قيق او موثق ګڼي او بله ډله ئې بل روايت، راشئ وګورو چې په دغو رواياتو كي كوم يو ئې د قرآن په تلي كي دروند خېژي؟

قرآن وايي: كه تاسو ښځي (خپلي مېرمني) لمس كړې نو غسل دربانديي لازم شو، د غسل لپاره ئې انزال او د مني وتل شرط نه دئ ګرځولى، كه د قرآن موخه دا وى چې يوازي په انزال سره غسل لازم كېږي نو په واضحو الفاظو سره به ئې همدا خبره كړې وه، ځوك چې وايي قرآن د حياء لپاره دا لفظ راوړى ادعاء ئې بې بنسټه ده، دا ځكه چې قرآن په نورو ځايونو كي د مني يادونه په واضحه توګه كړې، د انسان د پيدايښت په اړه وايي: (أَلَمۡ يَكُ نُطۡفَةٗ مِّن مَّنِيّٖ يُمۡنَىٰ. القيامه: 37: آيا انسان د توپ وهونكې مني يوه نطفه نه وو؟

د (لمس) لفظ د دې لپاره نه دئ كارول شوى چې ګواكي قرآن د انزال يا د مني يادونه د حياء خلاف كار ګڼلى، بلكي د دې لپاره چې موږ ته ووايي: غسل يوازي په انزال سره نه لازمېږي بلكي په جماع سره هم لازمېږي، د لمس لپاره غوره بديل او مترادف لفظ جماع او نژدېكت دئ نه انزال، د همدې لپاره په صحابه وو كي د دې لفظ په اړه اختلاف راولاړ شوى، ځينو د مباشرت او نژدېكت معنى تړې

اخيستې او ځينو د جماع، غوره توجيه دا ده چې په جماع سره غسل لازمېږي که څه هم انزال واقع نشي، د قرآن له وينا يوازي دغه خبره معلومېږي، په قرآن کې د غسل لپاره د انزال شرط نه شو موندلی. د احتياط تقاضا دا ده چې په جماع سره غسل لازم وبولو، که د غسل لپاره انزال شرط وی نو علي رضي الله عنه به هيڅکله د مذي په اړه پوښتنه نه کوله او په دې به پوهېدو چې يوازي په انزال سره غسل لازمېږي، نه د مذي په وتلو سره او نه په جماع سره لازمېږي.

138- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ قَالَ أَخْبَرَنَا النَّضْرُ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْحَكَمِ عَنْ ذَكْوَانَ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم أَرْسَلَ إِلَى رَجُلٍ مِنَ الأَنْصَارِ فَجَاءَ وَرَأْسُهُ يَقْطُرُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "لَعَلَّنَا أَعْجَلْنَاكَ". فَقَالَ نَعَمْ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "إِذَا أُعْجِلْتَ أَوْ قُحِطْتَ، فَعَلَيْكَ الْوُضُوءُ". (بخاري:180)

138- له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چې: رسول الله صلى الله عليه و سلم په يوه انصاري پسې څوك ولېږو، هغه په داسي حال کي راغی چې له سر ئې اوبه څڅېدلې، نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (لکه چې مونږ بېړه درباندي وکړه)، هغه سړي وويل: هو؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (کله چې د جماع په دوران کي بېړه درباندي وشي يا انزال ونه شي نو پر تا يوازي اودس لازم دئ).

د دې روايت له هيڅ لفظ دا نه معلوميږي چې له انزال پرته جماع سره غسل نه لازميږي، ځکه هغه انصاري دا نه دي ويلي چې ما له انزاله پرته جماع کړې، رسول الله صلى الله عليه و سلم هم دا خبره نه ده کړې چې له انزاله پرته جماع سره غسل نه لازميږي. يوازي دا ئې وفرمايل: که تلوار درباندي وشو او يا وچ پاته شوې (انزال ونه شو) نو يوازي اودس درباندي لازميږي.

(٢٨) باب: څوک چې بل ته د اودس اوبه اچوي

139- حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ قَالَ سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ قَالَ أَخْبَرَنِي سَعْدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَنَّ نَافِعَ بْنَ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ عُرْوَةَ بْنَ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ يُحَدِّثُ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ أَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فِي سَفَرٍ، وَأَنَّهُ ذَهَبَ لِحَاجَةٍ لَهُ، وَأَنَّ مُغِيرَةَ جَعَلَ يَصُبُّ الْمَاءَ عَلَيْهِ، وَهُوَ يَتَوَضَّأُ، فَغَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ وَمَسَحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ. (بخاري:182)

139- له مغيره بن شعبه رضي الله عنه روايت دئ چې هغه په يوه سفر کې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ملګرى وو، رسول الله صلى الله عليه و سلم د اودس ماتي لپاره ولاړ؛ او دا چې مغيره اوبه وراچولې او هغه اودس کاوو، نو خپل مخ او دواړه لاسونه ئې ومينځل؛ او پر خپل سر ئې مسح وکړه او پر موزو ئې هم مسح وکړه.

تکرار: 203، 206، 363، 388، 2918، 4421، 5798، 5799

توپير: په يوه کي وَأَنَّهُ ذَهَبَ لِحَاجَةٍ لَهُ، په بل کي أَنَّهُ خَرَجَ لِحَاجَتِهِ، په يوه کي وَأَنَّ مُغِيرَةَ جَعَلَ يَصُبُّ الْمَاءَ عَلَيْهِ، وَهُوَ يَتَوَضَّأُ، په بل کي فَاتَّبَعَهُ الْمُغِيرَةُ بِاداوَةٍ فِيهَا مَاءٌ، فَصَبَّ عَلَيْهِ حِينَ فَرَغَ مِنْ حَاجَتِهِ، په يوه کي فَتَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ او په بل کي فَغَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ وَمَسَحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ، په يوه کي فَأَهْوَيْتُ لأَنْزِعَ خُفَّيْهِ فَقَالَ "دَعْهُمَا، فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ، په يوه کي دا هم راغلي حَتَّى تَوَارَى عَنِّى فَقَضَى حَاجَتَهُ، وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ شَأْمِيَّةٌ، فَذَهَبَ لِيُخْرِجَ يَدَهُ مِنْ كُمِّهَا فَضَاقَتْ، فَأَخْرَجَ يَدَهُ مِنْ أَسْفَلِهَا، په يوه کي دا هم شته چې ثُمَّ صَلَّى، په يوه کي دا هم چې فَلَقِيتُهُ بِمَاءٍ، وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ شَأْمِيَّةٌ، فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَغَسَلَ وَجْهَهُ، فَذَهَبَ يُخْرِجُ يَدَيْهِ مِنْ كُمَّيْهِ فَكَانَا ضَيِّقَيْنِ، فَأَخْرَجَهُمَا مِنْ تَحْتُ، فَغَسَلَهُمَا وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ وَعَلَى خُفَّيْهِ، په يوه کي دا هم راغلي لاَ أَعْلَمُهُ إِلاَّ قَالَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ او، په يوه کي ويل شوي چې دا کار په شپه کي شوی ذَاتَ لَيْلَةٍ فِي سَفَرٍ فَقَالَ "أَمَعَكَ مَاءٌ". قُلْتُ نَعَمْ فَنَزَلَ عَنْ رَاحِلَتِهِ، فَمَشَى حَتَّى تَوَارَى عَنِّى فِي سَوَادِ اللَّيْلِ، ثُمَّ جَاءَ فَأَفْرَغْتُ عَلَيْهِ الإِدَاوَةَ، فَغَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ، وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ مِنْ صُوفٍ.

له دې توپيرونو سره سره د رواياتو مطلب او معنی سره ورته ده؛ او څو اساسي خبري لري: پيغمبر عليه السلام په سفر کي اودس کړی، مخ او لاسونه ئې مينځلي، په سر ئې مسح کړې؛ او په موزو ئې مسح کړې، د لاسونو د مينځلو لپاره ئې هغوی له داسي لستونې ايستلي چې تنګ وو خو پښې ئې له موزو نه دي ايستلې بلکې مسح ئې پرې کړې او

دا ځکه چې په داسي حال کې ئې موزې په پښو کړې وې چې اودس ئې وو او پښې ئې پاکې وې.

(۲۹) باب: په بې اودسۍ کې د قرآنکریم تلاوت

140- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ مَخْرَمَةَ بْنِ سُلَيْمَانَ عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ بَاتَ لَيْلَةً عِنْدَ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَهِيَ خَالَتُهُ فَاضْطَجَعْتُ فِي عَرْضِ الْوِسَادَةِ، وَاضْطَجَعَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم وَأَهْلُهُ فِي طُولِهَا، فَنَامَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم حَتَّى إِذَا انْتَصَفَ اللَّيْلُ؛ او قَبْلَهُ بِقَلِيلٍ أَوْ بَعْدَهُ بِقَلِيلٍ، اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم فَجَلَسَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهِ بِيَدِهِ، ثُمَّ قَرَأَ الْعَشْرَ الآيَاتِ الْخَوَاتِمَ مِنْ سُورَةِ آلِ عِمْرَانَ، ثُمَّ قَامَ إِلَى شَنٍّ مُعَلَّقَةٍ، فَتَوَضَّأَ مِنْهَا فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ، ثُمَّ قَامَ يُصَلِّي. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقُمْتُ فَصَنَعْتُ مِثْلَ مَا صَنَعَ، ثُمَّ ذَهَبْتُ، فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ، فَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى رَأْسِي، وَأَخَذَ بِأُذُنِي الْيُمْنَى، يَفْتِلُهَا، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ أَوْتَرَ، ثُمَّ اضْطَجَعَ، حَتَّى أَتَاهُ الْمُؤَذِّنُ، فَقَامَ، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الصُّبْحَ. (بخاري:183)

140- له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې يوه شپه د خپلې تروره د رسول الله صلى الله عليه و سلم د مېرمني ميمونه رضي الله عنها كره ويده شوم، زه د بالښت په سور او رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې له مېرمني سره د بالښت په اوږدو ويده شو (داسي اوږد شى تر سر

لاندي کړی شوی چې ده ئې پر سور او هغوی ئې پر اوږدو سرونه ایښي)، رسول الله صلی الله علیه و سلم تر هغه ویده شو چې نیمه شپه شوه، یا لږ مخکې یا لږ وروسته، رسول الله صلی الله علیه و سلم راویښ شو، کښېناست، مخ ئې په خپل لاس موښلو چې خوب ئې وتښتي، بیا ئې د آل عمران د سورې وروستي لس آیتونه ولوستل، بیا د یوه ځوړند ژي لوري ته پاڅېد، له هغه ئې بشپړ اودس وکړ، بیا پر لمانځه ودرېد. ابن عباس رضي الله عنهما وایي: زه هم پاڅېدم او همغسي مي وکړل چې ده کړي ول، بیا ورغلم او خوا ته ئې په لمانځه ودرېدم، نو خپل ښی لاس ئې زما پر سر کېښود او زما ښی غوږ ئې ونیو او موښلو ئې، دوه رکعته لمونځ ئې وکړ، بیا ئې دوه رکعته وکړل، بیا دوه رکعته، بیا دوه رکعته، بیا دوه رکعته، بیا دوه رکعته، بیا دوه رکعته، بیا ئې وتر وکړل، بیا په ډډه پرېوت تر هغه چې مؤذن ورته راغی، نو پورته شو دوه لنډ رکعته ئې وکړل، بیا ووت او د سهار لمونځ ئې وکړ.

دا روایت په بخاري کي شل ځلي راغلی، چې هر یو ئې له بل توپیر لري، د دې روایت په اړه د(117 روایت په شرحي کي بحث شوی هلته ئې وګورئ.) (بخاری)

باب: له دروند خوب پرته اودس نه کول

دلته بخاري داسي روایت راوړی چې له عنوان سره هیڅ ارتباط نه لري، د روایت شمېره 184ده چې تر دې د مخه په 86 روایت کي څېړل شوی، هلته ئې وګورئ.

(٣٠) باب: د تول سر مسح

141- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى الْمَازِنِيِّ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَجُلاً قَالَ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ- وَهُوَ جَدُّ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى- أَتَسْتَطِيعُ أَنْ تُرِيَنِي كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم يَتَوَضَّأُ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ زَيْدٍ نَعَمْ. فَدَعَا بِمَاءٍ، فَأَفْرَغَ عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَ يَدَهُ مَرَّتَيْنِ، ثُمَّ مَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلاَثًا، ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلاَثًا، ثُمَّ غَسَلَ يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ، ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ بِيَدَيْهِ، فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ، بَدَأَ بِمُقَدَّمِ رَأْسِهِ، حَتَّى ذَهَبَ بِهِمَا إِلَى قَفَاهُ، ثُمَّ رَدَّهُمَا إِلَى الْمَكَانِ الَّذِي بَدَأَ مِنْهُ، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ. (بخاري:185)

141- له عبدالله بن زيد رضي الله عنه روايت دئ چې يوه سړي ورته وويل: آيا کولی شې دا راوښيي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم څه ډول اودس کاوو؟ عبدالله رضي الله عنه وويل: هو؛ نو اوبه ئې راوغوښتلې، نو پر خپلو لاسونو ئې توی کړې او دوه ځلي ئې ومينځل، ورپسې ئې دري ځلي مضمضه او بيا استنشاق وکړ، بيا ئې مخ دري ځلي ومينځو، بيا ئې دواړه لاسونه دوه، دوه ځلي تر څنګلو ومينځل، بيا ئې په دواړو لاسونو سره سر داسي مسح کړ چې مخکې او شا ته ئې يووړل، د سر له مخکنۍ برخې ئې پيل کړ او ترڅټه ئې ښول بيا ئې ښېرته همغه ځای ته راورسول چې پيل ئې تری کړی وو، بيا ئې خپلې پښې ومينځلې.

تکرار: 186، 191، 192، 197، 199

توپير: په يوه کې فِي الإنَاءِ (لوښی)، په بل کې فِي

التَوْرِ (ډبرين لوښی)، په بل کي فِي تَوْرٍ مِنْ صُفْرٍ، په يوه کي أَفْرَغَ مِنَ الإِنَاءِ عَلَى يَدَيْهِ، په بل کي فَأَكْفَأَ عَلَى يَدِهِ مِنَ التَّوْرِ، په بل کي فَأَفْرَغَ عَلَى يَدَيْهِ، په يوه کي دا چي لاسونه ئې دوه ځلي ومينځل او په بل کي دا چي دوه ځلي ئې ومينځل؛ او په بل کي ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فِي الإِنَاءِ راغلي. سره له دغو توپيرونو د روايت مطلب يو دئ او هغه دا چي په لومړي سر کي ئې دوه ځلي يا درې ځلي لاسونه ومينځل، بيا ئې درې ځلي خوله او پزه په ګډه په درې موټي اوبو ومينځل، بيا ئې مخ درې ځلي، بيا ئې دواړه لاسونه دوه دوه ځلي، بيا ئې بشپړ سر مسح کړ، بيا ئې پښې ومينځلي پرته له دې چي ووايي څو څو ځلي.

نورو رواياتو ته په پام سره د اودس غوره بڼه دا ده چي هر غړی، د خولې او پزې په شمول، درې درې ځلي، په ښې ښې موټي اوبو ومينځل شي او بشپړ سر مسح شي.

(٣١) باب: د اوداسه د اوبو استعمال

142- **حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا الْحَكَمُ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا جُحَيْفَةَ يَقُولُ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بِالْهَاجِرَةِ، فَأُتِيَ بِوَضُوءٍ فَتَوَضَّأَ، فَجَعَلَ النَّاسُ يَأْخُذُونَ مِنْ فَضْلِ وَضُوئِهِ فَيَتَمَسَّحُونَ بِهِ، فَصَلَّى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ وَالْعَصْرَ رَكْعَتَيْنِ، وَبَيْنَ يَدَيْهِ عَنَزَةٌ.** (بخاري:187)

142- له ابو جحيفه رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم يو ماسپښين له زواله وروسته مورِ ته راووت، د اوداسه اوبه ورته راوړل شوې،

اودس ئې وکړ، خلکو د رسول الله صلى الله عليه و سلم له اوداسه پاته شوې اوبه اخيستلې او پرخپلو بدنونو ئې موښلې، بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم د ماسپښين لمونځ دوه رکعته او د مازديګر لمونځ دوه رکعته وکړل او مخې ته ئې نيزه وه,

تکرار: 376، 495، 499، 501، 633، 634، 3553، 3566، 5786، 5859

توپير: په يوه کې بِالْهَاجِرَةِ، په بل کې بِالأَبْطَحِ او په بل کې بِالْهَاجِرَةِ إِلَى الْبَطْحَاءِ، په يوه کې فِي قُبَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ أَدَمٍ، په بل کې فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مُشَمِّرًا او په بل کې وَهْوَ فِي قُبَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ أَدَمٍ، په يوه کې فَأُتِيَ بِوَضُوءٍ فَتَوَضَّأَ، په بل کې وَرَأَيْتُ بِلاَلاً أَخَذَ وَضُوءَ رَسُولِ اللهِ- صلى الله عليه و سلم –، په يوه کې فَجَعَلَ النَّاسُ يَأْخُذُونَ مِنْ فَضْلِ وَضُوئِهِ فَيَتَمَسَّحُونَ بِهِ، په بل کې وَرَأَيْتُ النَّاسَ يَبْتَدِرُونَ ذَاكَ الْوَضُوءَ، په بل کې فَمَنْ أَصَابَ مِنْهُ شَيْئًا تَمَسَّحَ بِهِ، وَمَنْ لَمْ يُصِبْ مِنْهُ شَيْئًا أَخَذَ مِنْ بَلَلِ يَدِ صَاحِبِهِ، په بل کې وَرَأَيْتُ بِلاَلاً أَخَذَ وَضُوءَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَالنَّاسُ يَبْتَدِرُونَ الْوَضُوءَ، فَمَنْ أَصَابَ مِنْهُ شَيْئًا تَمَسَّحَ بِهِ، وَمَنْ لَمْ يُصِبْ مِنْهُ شَيْئًا أَخَذَ مِنْ بَلَلِ يَدِ صَاحِبِهِ، په بل کې ثُمَّ دَخَلَ فَأَخْرَجَ فَضْلَ وَضُوءِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم، فَوَقَعَ النَّاسُ عَلَيْهِ يَأْخُذُونَ مِنْهُ، په بل کې وَقَامَ النَّاسُ فَجَعَلُوا يَأْخُذُونَ يَدَيْهِ، فَيَمْسَحُونَ بِهَا وُجُوهَهُمْ، په بل کې قَالَ فَأَخَذْتُ بِيَدِهِ، فَوَضَعْتُهَا عَلَى وَجْهِى، فَإِذَا هِيَ أَبْرَدُ مِنَ الثَّلْجِ، وَأَطْيَبُ رَائِحَةً مِنَ الْمِسْكِ، په يوه کې فصلى الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ

وَالْعَصْرَ رَكْعَتَيْنِ، وَبَيْنَ يَدَيْهِ عَنَزَةٌ، په بل کي ثُمَّ دَخَلَ فَأَخْرَجَ الْعَنَزَةَ، په بل کي ثُمَّ رَأَيْتُ بِلاَلاً أَخَذَ عَنَزَةً فَرَكَزَهَا، په بل کي وَنَصَبَ بَيْنَ يَدَيْهِ عَنَزَةً، وَتَوَضَّأَ، فَجَعَلَ النَّاسُ يَتَمَسَّحُونَ بِوَضُوئِهِ، په ځينو کي دا هم راغلي چي وَرَأَيْتُ النَّاسَ وَالدَّوَابَّ يَمُرُّونَ مِنْ بَيْنِ يَدَيِ الْعَنَزَةِ په ځينو کي ويل شوي چي عون له خپل پلار ابو جحيفه اورېدلي او په ځينو کي حکم له ده اورېدلي.

دا روايت د اسنادو له پلوه تر ټولو زيات غريب دئ، په صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو کي يو يو راوي لري، د متن له پلوه ئې دا دئ ګورئ چي په دې رواياتو کي ژور توپيرونه ترسترګو کېږي، ځيني ئې وايي چي خلکو له اودسه پاته اوبه تر لاسه کولې او پر ځان ئې موښلې، ځيني وايي چي د پيغمبر عليه السلام لاسونه ئې مسح کول، ځيني وايي چي بلال دا اوبه راوايستې، خلك پرې راغوند شول او پر ځان ئې موښلې؛ او ډېر نور توپيرونه، د دې رواياتو له مخي هيڅوك دا حکم نشي کولی چي ابو جحيفه څه ليدلي او په دغو رواياتو کي له راغلو خبرو کومه يوه ئې صحيح ده. د دغو رواياتو له الفاظو دا اصلاً نه معلوميږي چي خلکو د پيغمبر عليه السلام د اودس مستعملي اوبه پر ځان موښلې وي، د ټولو له الفاظو دا معلوميږي چي دا په لوښي کي پاته اوبه وې نه مستعمل شوې اوبه. دا هم نه معلوميږي چي کله خلکو يوه د بل څاڅکي پر ځان موښل نو رسول الله صلى الله عليه و سلم دا صحنه ليدلې که نه؛ دا کار ئې تأييد کړی که نه؟

هغه مستعملي اوبه چي د مخ، لاس او پښو په څېر غړي

پرې مينځل شوي وي له دې پلوه پاکي دي چې که پر جامه توی شي نو جامه نه ناپاکه کيږي، خو دا اوبه پاکوونکې نه دي، اودس پرې نه کيږي. په مستعملو اوبو د اودس هدف نشي تر لاسه کېدی، د اودس هدف د دغو پاکول او مينځل دي نه لمدول. ځکه قرآن د (فاغسلوا: ومينځئ) حکم کړی.

143- **حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ يُونُسَ قَالَ حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ عَنِ الْجَعْدِ قَالَ سَمِعْتُ السَّائِبَ بْنَ يَزِيدَ يَقُولُ ذَهَبَتْ بِي خَالَتِي إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَتْ يَا رَسُولَ الله، إِنَّ ابْنَ أُخْتِي وَجِعٌ. فَمَسَحَ رَأْسِي وَدَعَا لِي بِالْبَرَكَةِ، ثُمَّ تَوَضَّأَ فَشَرِبْتُ مِنْ وَضُوئِهِ، ثُمَّ قُمْتُ خَلْفَ ظَهْرِهِ، فَنَظَرْتُ إِلَى خَاتَمِ النُّبُوَّةِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ مِثْلِ زِرِّ الْحَجَلَةِ.** (بخاري:190)

143- له سائب بن يزيد روايت دئ چې ترور مي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وروستم او وئې ويل: يا رسول الله! خوريی مي ناروغ دئ، نو زما پر سر ئې لاس راتېر کړ او د برکت دعاء ئې راته وکړه، بيا ئې اودس وکړ، ما ئې د اوداسه (پاته) اوبه وڅښلې او بيا ئې شا ته ودرېدم او د نبوت مهر مي وليد چې د دواړو اوږو تر منځ ئې د قبې د ګروې (يا ځوړندي غوټې) په شان وو.

تکرار: 3540، 3541، 5670، 6352

توپير: په يوه کي إِنَّ ابْنَ أُخْتِي وَجِعٌ، په بل کي إِنَّ ابْنَ أُخْتِي شَاكٍ فَادْعُ الله، په يوه کي قَالَ فَدَعَا لِي، په بل کي وَدَعَا لِي بِالْبَرَكَةِ، په يوه کي فَنَظَرْتُ إِلَى خَاتَمِ النُّبُوَّةِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ مِثْلِ زِرِّ الْحَجَلَةِ، په بل کي فَنَظَرْتُ إِلَى خَاتَمٍ بَيْنَ كَتِفَيْهِ

او په بل کي خَاتَمِهِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ د ټولو راوي همدا يو کس سائب بن زيد دئ، له دغو توپيرونو سره سره ئې مطلب يو دئ او هغه دا چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته دعاء کړې، د اودس پاته اوبه ئې څښلي او د نبوت مهر ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د اوږو تر منځ ليدلى.

په دې اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

- له روايت معلومېږي چي سائب په وړوکتوب کي د خپلي ترور له خوا رسول الله صلى الله عليه و سلم ته بېول شوى.
- که تاسو په ټولو کتابونو کي د خاتم النبوة اړوند روايات خپلي مخي ته کښېږدئ نو وبه ګورئ چي ځيني ئې وايي: دا څو وېښتان وو، ځيني ئې وايي دا د دانو مجموعه وه، ځيني ئې وايي دا يوه ټوټه راټوکېدلې غوښه وه، دا يوې ګروې ته ورته نښه وه، ځيني ئې وايي چي محمد رسول الله پرې ليکلي وو، ځيني ئې وايي چي د کوتري د هګۍ په اندازه وه، د موقعيت په اړه ئې ځيني وايي چي د ښۍ اوږې د پلن هډوکي لاندي وو، ځيني وايي چي د دواړو اوږو تر منځ وو او ځيني ئې وايي چي د کيڼي اوږې د راوتلي هډوکي څنګ ته وو، د دغو متعارضو رواياتو له مخي نه د خاتم څرنګوالى ټاکلى شئ او نه ئې موقعيت. د رواياتو الفاظ دا دي: (وَمَا خَاتَمُ النُّبُوَّةِ؟ قَالَ: شَعْرٌ بَيْنَ كَتِفَيْهِ)، (ورأيت خاتم النبوة بين كتفيه مثل بيضة الحمام)، (بين كتفيه عند نغض كتفه اليسرى جمعا عليه خيلان كأمثال الثآليل)، (مجمعا عليه خيلان)، (بين كتفيه خاتم النبوة، وهو مما يلي منكبه الأيمن)، (خاتم النبوة فِي أسفل من غضروف كتفه مثل التفاحة)، (فإذا خاتم النبوة كأنه بيضة)، (رأيت خاتم النبوة

بين كتفي النبي صلى الله عليه و سلم كأنه بيضة حمامة)، (كان خاتم النبوة فِي ظهر رسول الله صلى الله عليه و سلم مثل البندقة من لحم عليه، مكتوب محمد رسول الله)، (وعند غضروف كتفه اليمنى خاتم النبوة مثل بيضة الحمامة، لونها لون جلده)، عن بن عمر قال كان خاتم النبوة فِي ظهر رسول الله صلى الله عليه و سلم مثل البندقة من لحم عليه مكتوب محمد رسول الله)، (فَسُئِلَ عَنْ خَاتَمِ النُّبُوَّةِ فَقَالَ شَعَرَاتٌ بَيْنَ كَتِفَيْهِ)، و ما خاتم النبوة؟ قال: شعر بين كتفيه).

په دغو رواياتو کي دري ئې د پام وړ دي، يو ئې ترمذي راوړی چې علي رضي الله عنه ته منسوب دئ او شيخ الباني ئې ضعيف ګڼي، بل ئې سلمان رضي الله عنه ته منسوب دئ چې نورو کتابونو راوړی او الباني صحيح شمېرلی خو له ډېرو ستونزو ډك دئ: وايي سلمان رضي الله عنه ته يوه راهب ويلي چې ولاړ شه، په بطحاء کي به اوس هغه کس مبعوث شوی وي چې ته ئې په لټه کي يې، دري نښي لري: هديه قبلوي، صدقه نه اخلي او د اوږو تر منځ ئې نښه ده! پوښتنه دا ده چې راهب څنګه په دې پوهېدو چې کله او چېرې به نوی پيغمبر مبعوث کېږي او نښي به ئې دا وي؟! دا خبري خو نه په تورات کي شته او نه په انجيل کي؛ او نه په هغه بايبل کي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د بعثت پر مهال رائج وو، نو راهب څنګه پوه شو؟ هيڅ په دين پوه انسان د هيڅا داسي وړاندوينه نه شي منلی. د دې روايت له لومړۍ برخي داسي معلومېږي چې سلمان يو آزاد انسان وو او هر ځای ته تللی شو خو وروستۍ برخه ئې وايي چې هغه لا غلام وو! روايت وايي

چي هغه ته رسول الله صلى الله عليه و سلم د چرګي د هګۍ په اندازه سره زر ورکړل چي خپل مالك ته ئې ورکړي او خپله آزادي پرې واخلي او ګواکي دا سره زر په ځينو غزواتو کي پيغمبر عليه السلام ته په لاس ورغلي وو، حال دا چي د سلمان رضي الله عنه تر آزادېدو پوري يوازي د بدر او احد جګړي شوې وې او هيڅا نه دي ويلي چي په دغو جګړو کي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته دومره سره زر په لاس ورغلي وو، همدا راز د آزادېدو بيع ئې دومره زياته ښودلې چي هغه مهال په دې باندي ډېر غلامان اخيستل کېدی شو.

دا هم بايد په پام کي ولرو چي که دا مهر او خاتم يوازي راشنه شوي وېښتان يا دانه او غوښه وي نو دا هيڅوك د نبوت د مهر او خاتم په توګه نه مني، د ډېرو انسانانو په بدن باندي همداسي غوټي او نښي راپيدا کېږي او که پر دې باندي محمد رسول الله ليکل شوي وی نو دا خو به په زرګونو خلکو ليدلی وو، له وړوکتوب به په خلکو کي دا خبره مشهوره شوې وه، ډېرو به د دغه مهر په ليدو سره ايمان راوړی وو، ولي له سلمان رضي الله عنه پرته بل داسي څوك نه مومو چي د همدې خاتم په وجه ئې ايمان راوړی وي؟!

(٣٢) باب: له خپلي مېرمني سره اودس کول

144- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ كَانَ الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ يَتَوَضَّئُونَ فِي زَمَانِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم جَمِيعًا. (بخاري:193)

144- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کي به نارينه وو او ښځو ټولو يو ځای اودسونه کول.

(٣٣) باب: پر بې هوشه سړي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د اوداسه د اوبو اچول

145- **حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرًا يَقُولُ جَاءَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَعُودُنِي، وَأَنَا مَرِيضٌ لاَ أَعْقِلُ، فَتَوَضَّأَ وَصَبَّ عَلَيَّ مِنْ وَضُوئِهِ، فَعَقَلْتُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ الله لِمَنِ الْمِيرَاثُ إِنَّمَا يَرِثُنِي كَلاَلَةٌ. فَنَزَلَتْ آيَةُ الْفَرَائِضِ.** (بخاري:194)

145- له جابر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم زما پوښتنې ته تشريف راوړ او زه داسي ناروغ وم چې په هيڅ نه وم خبر (بې هوښه وم) نو رسول الله صلى الله عليه و سلم اودس وکړ او پر ما باندي ئې د خپل اوداسه اوبه راواچولې، زه په خود شوم (په هوښ راغلم) او ومې ويل: يا رسول الله! زما ميراث د چا دئ؟ ځکه زه کلاله يم (نه مي پلار شته، نه مي مور او نه اولاد)، هماغه وو چې د ميراث آيت نازل شو.

تکرار: 4577، 5651، 5664، 5676، 6723، 6743، 7309

توپير: په يوه کي وَأَنَا مَرِيضٌ لاَ أَعْقِلُ، په بل کي فَوَجَدَنِي النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم لاَ أَعْقِلُ، په بل کي

فَوَجَدَانِى أُغْمِىَ عَلَيَّ، په يوه کي فَدَعَا بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ مِنْهُ ثُمَّ رَشَّ عَلَيَّ، په بل کي فَتَوَضَّأَ وَصَبَّ عَلَيَّ مِنْ وَضُوئِهِ، په بل کي وَ قَالَ صُبُّوا عَلَيْهِ، په بل کي ثُمَّ نَضَحَ عَلَيَّ مِنْ وَضُوئِهِ، په يوه کي فَعَقَلْتُ، په بل کي فَأَفَقْتُ، په يوه کي فَقُلْتُ يَا رَسُولَ الله لِمَنِ الْمِيرَاثُ إِنَّمَا يَرِثُنِى كَلاَلَةٌ، په بل کي فَقُلْتُ مَا تَأْمُرُنِى أَنْ أَصْنَعَ فِي مَالِي يَا رَسُولَ الله فَنَزَلَتْ (يُوصِيكُمُ الله فِي أَوْلاَدِكُمْ، په بل کي فَنَزَلَتْ آيَةُ الْفَرَائِضِ، په بل کي كَيْفَ أَقْضِى فِي مَالِي فَلَمْ يُجِبْنِى بِشَىْءٍ حَتَّى نَزَلَتْ آيَةُ الْمِيرَاثِ، په بل کي فَقُلْتُ لاَ يَرِثُنِى إِلاَّ كَلاَلَةٌ، فَكَيْفَ الْمِيرَاثُ، په بل کي فَقُلْتُ يَا رَسُولَ الله إِنَّمَا لِي أَخَوَاتٌ راغلي.

په دې روایاتو کي اساسي خبري دا دي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له ابوبکر رضي الله عنه سره يو ځای د جابر رضي الله عنه د عيادت لپاره پلي ورغلي، هغه بې هوښه وو، پيغمبر عليه السلام يا اودس کړی يا ئې خپل لاسونه مينځلي، بيا ئې يا په خپله پر ده اوبه شيندلي يا ئې بل چا ته ويلي چې اوبه پرې وشيندئ، هغه په سد شوی، د ميراث په اړه ئې پوښتنه ترې کړې، رسول الله صلى الله عليه و سلم تر هغه ځواب نه دئ ورکړی چې د ميراث آيتونه نازل شول، دا نه دي ويل شوي چې دا آيتونه په همدې وخت نازل شول که وروسته.

خو هغه روايت چې وايي د جابر رضي الله عنه په ځواب کي دغه آيت (يُوصِيكُمُ الله فِي أَوْلاَدِكُمْ...) نازل شوی؛ دا ځکه صحيح نه دئ چې په دې آيت کي د جابر رضي الله عنه د پوښتني ځواب نشته، د ده د پوښتني ځواب په هغه آيت

کي دئ چي د النساء د سورې په پای کي او د کلالة په اړه راغلی. جابر رضي الله عنه کلاله وو (والدين او اولاد ئې نه وو، يوازي خويندي ئې درلودې)، د داسي چا د ميراث حکم په دغه آيت کي راغلی نه په هغه کي چي دغه روايت ورته اشاره کړې.

(٣٤) باب: د طشت له اوبو غسل او اودس

146- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مُنِيرٍ سَمِعَ عَبْدَ الله بْنَ بَكْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ عَنْ أَنَسٍ قَالَ حَضَرَتِ الصَّلاَةُ، فَقَامَ مَنْ كَانَ قَرِيبَ الدَّارِ إِلَى أَهْلِهِ، وَبَقِيَ قَوْمٌ، فَأُتِيَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بِمِخْضَبٍ مِنْ حِجَارَةٍ فِيهِ مَاءٌ، فَصَغُرَ الْمِخْضَبُ أَنْ يَبْسُطَ فِيهِ كَفَّهُ، فَتَوَضَّأَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ. قُلْنَا كَمْ كُنْتُمْ قَالَ ثَمَانِينَ وَزِيَادَةً. (بخاري:195)

146- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د لمانځه وخت شو، د چا چي کورونه لنډ وو هغوی (د اوداسه لپاره) خپلو کورونو ته لاړل؛ او ځيني هملته پاته شول، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته يو ډبرين لوښی چي اوبه په کي وې راوړل شو، لوښی تر دې وړ وو چي خپل لاس په کي ننباسي، خو بيا هم ټولو خلکو (له همدې) اودسونه وکړل، مور ورته وويل: تاسي څو تنه وئ؟ وئې ويل: اتيا يا څه زيات.

دا روايت له نورو سره تعارض لري، مخکي د ٢٤ باب الْتِمَاسِ الْوَضُوءِ إِذَا حَانَتِ الصَّلاَةُ د ١٣٢ روايت په شرحي کي څېړل شوی، هلته ئې وګورئ.

147- **حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاَءِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدٍ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم دَعَا بِقَدَحٍ فِيهِ مَاءٌ، فَغَسَلَ يَدَيْهِ وَوَجْهَهُ فِيهِ وَمَجَّ فِيهِ.** (بخاري:196)

147- له ابو موسى رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه پياله وغوښتله چي اوبه په کي وي، لاسونه او مخ ئې په کي ومينځل او د خولې اوبه ئې په کي توی کړي.

تکرار: 188، 4328

توپير: په يوه کي يوازي دا راغلي دَعَا بِقَدَحٍ فِيهِ مَاءٌ، فَغَسَلَ يَدَيْهِ وَوَجْهَهُ فِيهِ وَمَجَّ فِيهِ، په بل کي دا هم پرې اضافه شوي ثُمَّ قَالَ لَهُمَا اشْرَبَا مِنْهُ، وَأَفْرِغَا عَلَى وُجُوهِكُمَا وَنُحُورِكُمَا او په بل کي له دې تفصيل سره داسي راغلي: كُنْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَهْوَ نَازِلٌ بِالْجِعْرَانَةِ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ وَمَعَهُ بِلاَلٌ، فَأَتَى النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ أَلاَ تُنْجِزُ لِي مَا وَعَدْتَنِى. فَقَالَ لَهُ "أَبْشِرْ". فَقَالَ قَدْ أَكْثَرْتَ عَلَيَّ مِنْ أَبْشِرْ. فَأَقْبَلَ عَلَى أَبِي مُوسَى وَبِلاَلٍ كَهَيْئَةِ الْغَضْبَانِ فَقَالَ "رَدَّ الْبُشْرَى فَاقْبَلاَ أَنْتُمَا". قَالاَ قَبِلْنَا. ثُمَّ دَعَا بِقَدَحٍ فِيهِ مَاءٌ فَغَسَلَ يَدَيْهِ وَوَجْهَهُ فِيهِ، وَمَجَّ فِيهِ، ثُمَّ قَالَ "اشْرَبَا مِنْهُ، وَأَفْرِغَا عَلَى وُجُوهِكُمَا وَنُحُورِكُمَا، وَأَبْشِرَا". فَأَخَذَا الْقَدَحَ فَفَعَلاَ، فَنَادَتْ أُمُّ سَلَمَةَ مِنْ وَرَاءِ السِّتْرِ أَنْ أَفْضِلاَ لأُمِّكُمَا. فَأَفْضَلاَ لَهَا مِنْهُ طَائِفَةً.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري، په همدې صيغه په صحاح سته کي

يوازي بخاري او ابن ماجه راوړی، راوي ئې يو کس او همدا ابوموسی رضي الله عنه دئ، شيخ البااني ئې د نقل او اعتماد وړ نه ګڼي؛ او د داسي رواياتو راوړل په دې دليل غير ضروري بولي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم له رحلت وروسته نه دا شيان شته او نه داسي کار ممکن دئ؛ او وايي نن چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د وېښته، جبه او نورو شيانو په نامه څه ساتل کېږي هيڅ حقيقت او شرعي بنسټ نه لري، ما د البااني د صحيح احاديثو سلسله په يولسو جلدونو کي لوستلې ده، د نورو ملاحظاتو په ضمن کي دا اعتراض پرې لرم چي د جهاد اړوند احاديث ئې نه دي رانقل کړي، ښايي وجه ئې دا وي چي خپل کتاب ئې هغه مهال ليکلی چي په سعودي کي اوسېدو او د سعودي حکومت ورته د کار شرائط برابر کړي وو.

ما ته دا ډېره بعيده ښکاري چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د لوښي په اوبو کي د خپلي خولې اوبه توی کړې وي او بيا به ئې چا ته ويلي وي چي دا وڅښئ او پر خپل مخ او غاړو ئې توی کړئ. او هغه هم په دې توګه چي يوه صحرايي ترې د خپلي ژمني ترسره کول غوښتي، رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته ويلي چي ډاډه اوسه، هغه په ځواب کي ويلي چي دا زېړي دي ډېر راکړي، رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې پر ځای چي هغه ته څه ووايي، د اوبو لوښی ئې راغوښتی، لاس او مخ ئې په کي مينځلي او په خوله کي رغړول شوې اوبه ئې په کي توی کړې او بيا ئې ابو موسی او بلال رضي الله عنهما ته ويلي چي دا وڅښئ او پر مخ او غاړو ئې توی کړئ!! ولي به رسول الله

صلى الله عليه و سلم دا كار كولو؟ ضرورت څه وو؟ آيا د داسي رواياتو راوړل ضروري دي؟ آيا په دې استناد كولى شو؟ آيا صحيح ده چې نن څوك همدا كار وكړي او څوك د داسي اوبو په څښلو وګماري؟ كه څوك وايي چې دا مختص رسول الله صلى الله عليه و سلم ته دئ دليل به ئې څه وي؟ اوس غربيان د مخ او لاس مينځلو لپاره اوبه په لوښي كي اچوي او بيا په همدې لوښي كي خپل مخ، خوله، پزه او لاسونه مينځي، خو مسلمانان له داسي كار كركه لري، مستعملي اوبه د مينځلو لپاره نه كاروي، د خولې او پزې مستعملي اوبه خو په هيڅ توګه نه كاروي، په هغو جوماتونو كي چې د حوضونو له اوبو استفاده كيږي يا ئې خواته كوزې ږدي او يا حوض داسي جوړوي چې پر ژې ئې د مستعملو اوبو لپاره لښتى وي چې دا اوبه بيرته په حوض كي توى نه شي. تاسو وويئ: آيا د غربيانو طريقه غوره او نظيفه ده كه د مسلمانانو؟! كه دا روايات معتبر وګڼو نو بيا خو د غربيانو طريقه د سنت مطابق او د مسلمانانو طريقه د سنت خلاف ده!! په داسي مواردو كي د رواياتو په انتقال او پر هغوى استناد كي بايد له ډير احتياط كار واخلو، د ډيرو غريبو رواياتو له راوړلو بايد ډډه وشي. داسي روايات بايد راغوندِ كړو چې اساسي او مهم مسائل چې فرائض، واجبات، سنن او مستحبات تشريح كوي، په نورو مسائلو پورې اړوند روايات بايد هغه مهال راوړو چې له دغو ضروري او اساسي مسائلو فارغ شوي وو، آيا دا به عجيبه نه وي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د لسو كلونو د جمعې د لمونځونو دوه دوه خطبې چې تر زرو زياتي خطبې

کېږي؛ او په ډېرو نورو مواردو کي مهمي او تاريخي خطبې، له ټولو يوه هم د احاديثو په ټولو کتابونو کي نه مومو، د ټولو خطبو رانقل شوي مطالب ښايي د دوو لويو پانو په اندازه نه وي، خو په ځينو کتابونو کي د دغسي فروعي مسائلو اړوند روايات دومره په تکرار سره راغلي چې که ټول راغونډ کړو کتابونه ترې جوړېږي، دا په داسي حال کي چې د دغو رواياتو لپاره به په ټول قرآن کي يوه بېلګه هم ونه مومو.

که څوك دې ته اړ شي چې په کوم لوښي کي اودس وکړي نو غوره طريقه ئې دا ده چې اوبه په بېل لوښي کي واچوي او اودس په بېل لوښي کي وکړي؛ او که يوازي يو لوښی لري نو اودس په کي وکړي خو د خپلې خولې او پزې اوبه په لوښي کي توی نه کړي.

148- **حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِىِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا ثَقُلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم وَاشْتَدَّ بِهِ وَجَعُهُ، اسْتَأْذَنَ أَزْوَاجَهُ فِي أَنْ يُمَرَّضَ فِي بَيْتِى، فَأَذِنَّ لَهُ، فَخَرَجَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بَيْنَ رَجُلَيْنِ تَخُطُّ رِجْلاَهُ فِي الأَرْضِ بَيْنَ عَبَّاسٍ وَرَجُلٍ آخَرَ. قَالَ عُبَيْدُ اللهِ فَأَخْبَرْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَبَّاسٍ فَقَالَ أَتَدْرِى مَنِ الرَّجُلُ الآخَرُ قُلْتُ لاَ. قَالَ هُوَ عَلِيٌّ. وَكَانَتْ عَائِشَةُ- رضي الله عنها - تُحَدِّثُ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ بَعْدَ مَا دَخَلَ بَيْتَهُ وَاشْتَدَّ وَجَعُهُ "هَرِيقُوا عَلَيَّ مِنْ سَبْعِ قِرَبٍ، لَمْ تُحْلَلْ أَوْكِيَتُهُنَّ، لَعَلِّى أَعْهَدُ إِلَى النَّاسِ". وَأُجْلِسَ فِي مِخْضَبٍ لِحَفْصَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم، ثُمَّ طَفِقْنَا**

نَصُبُّ عَلَيْهِ تِلْكَ حَتَّى طَفِقَ يُشِيرُ إِلَيْنَا أَنْ قَدْ فَعَلْتُنَّ، ثُمَّ خَرَجَ إِلَى النَّاسِ. (بخاري:198)

148- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: کله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم بېمار شو او درد ئې زيات شو، له خپلو مېرمنو ئې اجازه وغوښتله چې ناروغ پالنه زما په کور کي تېره کړي، هغوی اجازه ورکړه، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي ووت چې پر دوو کسانو عباس او يوه بل کس ئې تکيه کوله او پښې ئې پر زمکه کربښولې، عبيدالله وايي: ما ابن عباس په دې خبر کړ، هغه راته وويل: آيا پوهېږې چې دا دوهم کس څوك وو؟ ومي ويل: نه؛ وئې ويل: هغه علي رضي الله عنه وو؛ او عائشې رضي الله عنها وويل: وروسته له هغه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم زما کور ته راننوت او درد ئې زيات شو؛ وئې فرمايل: (له اوو داسي ژيو اوبه راباندي توی کړئ چې خولې ئې نه وي پرانستلې شوې، (ښه ډک وي)؛ کېدی شي خلکو ته وصيت وکړم). بيا د ام المؤمنين حفصه رضي الله عنها په يوه طشت کي کښېنول شو؛ او د اوبو تويول مو پرې شروع کړل، تر هغه چې اشاره ئې راته وکړه چې تاسو خپل کار بشپړ کړ، بيا خلکو ته ورووت.

تکرار: 664، 665، 679، 683، 687، 712، 713، 716، 2588، 3099، 3384، 4442، 4445، 5714، 7303

توپير: په ځينو کي دا شته چې هَرِيقُوا عَلَيَّ مِنْ سَبْعِ

قِرَبٍ، لَمْ تُحْلَلْ أَوْكِيَتُهُنَّ او په ځينو کي نشته، په ځينو کي ويل شوي أَمَرَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم أَبَا بَكْرٍ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ فِي مَرَضِهِ، فَكَانَ يُصَلِّي بِهِمْ، خو په ځينو کي دا برخه ئې نشته چې فَكَانَ يُصَلِّي بِهِمْ، په ځينو کي داسي راغلي: مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ، په ځينو کي د عائشې رضي الله عنها دا وينا راغلې چې قُلْتُ إِنَّ أَبَا بَكْرٍ إِذَا قَامَ فِي مَقَامِكَ لَمْ يُسْمِعِ النَّاسَ مِنَ الْبُكَاءِ، فَمُرْ عُمَرَ فَلْيُصَلِّ لِلنَّاسِ خو په نورو کي ئې يوازې لومړنۍ برخه راغلې، په ځينو کي ويل شوي چې فَأَرَادَ أَبُو بَكْرٍ أَنْ يَتَأَخَّرَ، فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم أَنْ مَكَانَكَ او په ځينو کي اسْتَأْخَرَ، فَأَشَارَ إِلَيْهِ أَنْ كَمَا أَنْتَ، په ځينو کي دا خبره څو ځلي تکرار شوې چې قال أَصَلَّى النَّاسُ. قُلْنَا لاَ، هُمْ يَنْتَظِرُونَكَ. قَالَ "ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ". قَالَتْ فَفَعَلْنَا فَاغْتَسَلَ فَذَهَبَ لِيَنُوءَ فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ خو په نورو کي دا نشته، په ځينو کي دا راغلي چې عائشې رضي الله عنها حفصې ته وويل چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ووايي چې د ابوبکر رضي الله عنه پر ځای عمر رضي الله عنه په امامت وګماري، هغې ويلي، پيغمبر عليه السلام همغه ځواب ورکړی، نو دې عائشې رضي الله عنها ته ويلي: له تا مي هيڅکله خير نه دئ ليدلی، خو په نورو کي نشته؛ او دې ته ورته نور توپيرونه. د ټولو رواياتو له مجموعې داسي معلومېږي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم له رحلت مخکې د عائشې رضي الله عنها په کور کي اوسېدو، ټولو مېرمنو ئې له دې سره موافقه کړې وه، حفصه رضي الله

عنها به هم اکثراً ورسره وه، کله چې د دې کور ته راتلو او بیا کله چې جومات ته وتلی نو عباس او علي رضي الله عنهما تر اړخ لاندي اوږه ورکړې وه او د رسول الله صلی الله علیه و سلم پښې پر زمکي کربښېدې، عائشې رضي الله عنها د علي رضي الله عنه د نامه له یادولو ډډه کړې، د بیماری په ورځو کي ابوبکر رضي الله عنه د خلکو امامت کولو، عائشې رضي الله عنها غوښتي چې بل څوك د امامت لپاره وټاکل شي، درې ځلي ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته دا خبره کړې خو موافقه ئې نه ده ورسره کړې، په پای کي ئې ورته ویلي چې تاسو داسي یئ لکه د یوسف علیه السلام خویندي، یو ماخستن رسول الله صلی الله علیه و سلم د روغتیا احساس کړی او د عباس او علي رضي الله عنهما په مرسته جومات ته راوتلی، ابوبکر رضي الله عنه غوښتي چې تر شا شي خو رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته اشاره کړې چې پر خپل ځای پاته شه؛ او د ده خوا ته کښېنستی، په ناسته ئې لمونځ کړی، ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اقتداء کي او خلکو د ابوبکر رضي الله عنه په اقتداء کي لمونځ کړی.

(35) باب: په یوې ډولچې اودس

149- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم دَعَا بِإِنَاءٍ مِنْ مَاءٍ، فَأُتِيَ بِقَدَحٍ رَحْرَاحٍ فِيهِ شَيْءٌ مِنْ مَاءٍ، فَوَضَعَ أَصَابِعَهُ فِيهِ. قَالَ أَنَسٌ فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَى الْمَاءِ يَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ، قَالَ أَنَسٌ فَحَزَرْتُ مَنْ تَوَضَّأَ مَا بَيْنَ السَّبْعِينَ إِلَى

الثَّمَانِينَ. (بخاري:200)
149- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د اوبو لوښى وغوښت، نو يوه داسي پياله چي خوله ئې آزاده (ارته) وه او لږ څه اوبه پكي وې ورته راوړى شوه، نو خپلي گوتي ئې په كي كېښودې، انس رضي الله عنه وايي: ما ورته كتل چي د گوتو له منځه ئې اوبه راخوتېږي، انس رضي الله عنه وايي: زما په اټكل د هغو كسانو شمېر له اويا نه تر اتياوو پوري وو چي له دې پياليې ئې اودسونه وكړل.

دا روايت له نورو سره تعارض لري، د 24- باب: الْتِمَاسِ الْوَضُوءِ إِذَا حَانَتِ الصَّلاَةُ د 169روايت په شرحي كي څېړل شوى.

(36) باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم د اوداسه اوبو اندازه

150- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ جَبْرٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا يَقُولُ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَغْسِلُ- أَوْ كَانَ يَغْتَسِلُ- بِالصَّاعِ إِلَى خَمْسَةِ أَمْدَادٍ، وَيَتَوَضَّأُ بِالْمُدِّ. (بخاري:201)
150- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به له يوه صاع تر پنځو امدادو اوبو باندي غسل كاوو او په يوه مد اوبو به ئې اودس كاوو.

يادونه: يو مد (٩١٠) گرامه (نږدې دوه نيمي متوسطي لپي اوبه) كېږي او څلور مده يوه صاع كېږى.

(37) باب: پر موزو مسح

١٥١- حَدَّثَنَا أَصْبَغُ بْنُ الْفَرَجِ الْمِصْرِيُّ عَنِ ابْنِ وَهْبٍ قَالَ حَدَّثَنِي عَمْرٌو حَدَّثَنِي أَبُو النَّضْرِ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَنَّهُ مَسَحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ. وَأَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ سَأَلَ عُمَرَ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ نَعَمْ إِذَا حَدَّثَكَ شَيْئًا سَعْدٌ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَلاَ تَسْأَلْ عَنْهُ غَيْرَهُ. (بخاري:202)

١٥١- له سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم پر موزو مسح وکړه؛ او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په دې اړه له خپل پلار عمر رضي الله عنه پوښتنه وکړه، هغه وويل: هو؛ همداسي ده، کله چي سعد رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه و سلم څه درته روايت کړل نو د هغې په اړه له بل چا پوښتنه مه کوه.

152- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ الضَّمْرِيِّ أَنَّ أَبَاهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَمْسَحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ. (بخاري:204)

152- له عمرو بن اميه ضمري رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې په داسي حال کي ليدلى چي پر موزو ئې مسح کوله.

153- حَدَّثَنَا عَبْدَانُ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ قَالَ أَخْبَرَنَا الأَوْزَاعِيُّ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرٍو عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ

صلى الله عليه و سلم يَمْسَحُ عَلَى عِمَامَتِهِ وَخُفَّيْهِ. (بخاري:205)
153- له عمرو بن اميه ضمري رضي الله عنه روايت دئ چي وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم مي په داسي حال كي ليدلى چي پر خپل پټكي او موزو ئې مسح كوله.

تكرار: (204 بخارى)

توپير: په يوه كي يوازي پر موزو د مسحي يادونه شوې او په بل كي پر موزو او پټكي. دا روايت له صحاح سته؛ يوازي بخاري راوړى، په نورو رواياتو كي په دې اړه ويل شوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم خپل لاس تر پټكي لاندي كړى او د سر پر مخكينۍ برخي ئې مسح كړې او بيا ئې لاس پر ټول پټكي تېر كړى، په ځينو كي پر پټكي د لاس تېرول هم نه دي راغلي. له دغو رواياتو يو ئې دا دئ:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " يَتَوَضَّأُ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ قِطْرِيَّةٌ ، فَأَدْخَلَ يَدَهُ مِنْ تَحْتِ الْعِمَامَةِ ، فَمَسَحَ مُقَدَّمَ رَأْسِهِ ، وَلَمْ يَنْقُضِ الْعِمَامَةَ ". المستدرك للحاكم

دې ته مو پام وي چي قرآن په اودس كي د سر مسح كولو حكم كوي، خو دا ئې نه دي ويلي چي د سر له كوم ځای تر كوم ځای پوري، خو له الفاظو معلوميږي چي ټول سر مراد دئ، د پټكي له پرانستلو پرته پر ټول سر يا پر يوې برخي ئې مسح كول ممكن دي، خو د پټكي له پاسه د مسحي د جواز لپاره بايد داسي روايات ولټوو چي له ډېرو صحابه وو روايت شوي وي، خو داسي روايت نشته.

154- **حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ عَنْ عَامِرٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الْمُغِيرَةِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فِي سَفَرٍ، فَأَهْوَيْتُ لأَنْزِعَ خُفَّيْهِ فَقَالَ "دَعْهُمَا، فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ". فَمَسَحَ عَلَيْهِمَا.** (بخاري:206)

154- عروه بن المغيره له خپل پلاره روايت کوي چې په يوه سفر کې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره وم، هڅه مې وکړه چې موزې ئې وباسم، وئې فرمايل: پرې ئې ږده، ما خپلې پښې پاکې په کې ننايستې وې.

تکرار: **182، 203، 363، 388، 2918، 4421، 5798، 5799**

توپير: د دې شرح د بخاري په **182، 204** روایاتو کې وګورئ.

(۳۸) باب: د پسه د غوښې او د اوربشو دلدې له خوړلو وروسته اودس نه کول

155- **حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي جَعْفَرُ بْنُ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ أَنَّ أَبَاهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَحْتَزُّ مِنْ كَتِفِ شَاةٍ، فَدُعِيَ إِلَى الصَّلاَةِ فَأَلْقَى السِّكِّينَ فَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ.** (بخاري:208)

155- له عمرو بن اميه رضي الله عنه روايت دئ چې هغه رسول الله صلى الله عليه و سلم ليدلى چې د پسه د لاس غوښه ئې راپرې کوله او خوړله ئې چې لمانځه ته وبلل شو، نو چاقو ئې واچاوو او بې له دې چې اودس تازه کړي

په لمانځه ودرېږ او لمونځ ئې وکړ.

تکرار: 675، 2923، 5408، 5422، 5462

توپير: په يوه کي يَحْتَزُّ مِنْ كَتِفِ شَاةٍ، په بل کي يَأْكُلُ ذِرَاعًا يَحْتَزُّ مِنْهَا، په بل کي يَأْكُلُ مِنْ كَتِفٍ يَحْتَزُّ مِنْهَا او په بل کي يَحْتَزُّ مِنْ كَتِفِ شَاةٍ فِي يَدِهِ، په يوه کي فَأَلْقَى السِّكِّينَ، په بل کي فَقَامَ فَطَرَحَ السِّكِّينَ، په يوه کي فَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ، په بل کي ثُمَّ دُعِيَ إِلَى الصَّلاَةِ فَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ راغلي، د روايت اصلي مطلب په ټولو کي يو دئ او هغه دا چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د غوښي له خوړو وروسته مجدد اودس نه دئ کړی او په لمانځه ودرېدلی.

همدغه مطلب په 207 شمېره روايت کي هم راغلی چې له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايت شوی، تر مخکيني مختصر دئ، يوازي د غوښي خوړل او له مجدد اوداسه پرته لمونځ کول په کي راغلي.

دا روايت ښيي چې نه يوازي خوراك له اودس سره هيڅ ټراو نه لري، بلکي دا هم تر معلومېږي چې که امام ته د خوراك په منځ کي د جمعي لمانځه بلنه ورکړی شوه کولی شي د لاس او خولې له مينځلو پرته لمونځ وکړي. دا وضاحت د دې لپاره ضروري دئ چې ځينې ګمان کوي له خوراك وروسته اودس کول ضروري دي!! خو دا رأيه له قرآن سره هيڅ اړخ نه لګوي. البته رسول الله صلى الله عليه و سلم له خوراك نه مخکي او وروسته د لاس مينځولو سپارښتنه کړې، د دې تفصيل د راتلونکي روايت په شرحي کي وګورئ.

(٣٩) باب: د سويق له خوړلو وروسته يوازي په خوله اوبه تېرول

156- **حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ مَوْلَى بَنِي حَارِثَةَ أَنَّ سُوَيْدَ بْنَ النُّعْمَانِ أَخْبَرَهُ. أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم عَامَ خَيْبَرَ، حَتَّى إِذَا كَانُوا بِالصَّهْبَاءِ- وَهِيَ أَدْنَى خَيْبَرَ- فَصَلَّى الْعَصْرَ، ثُمَّ دَعَا بِالأَزْوَادِ، فَلَمْ يُؤْتَ إِلاَّ بِالسَّوِيقِ، فَأَمَرَ بِهِ فَثُرِّيَ، فَأَكَلَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَأَكَلْنَا، ثُمَّ قَامَ إِلَى الْمَغْرِبِ، فَمَضْمَضَ وَمَضْمَضْنَا، ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ.** (بخاري:209)

156- له سويد بن نعمان رضي الله عنه روايت دئ چې هغه د خيبر په کال له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره له مدينې ووت او (صهباء) نومي سيمي ته چې خيبر ته نژدې پرته ده ورسېدل، نو د مازديګر لمونځ ئې وکړ، بيا ئې توښې راوغوښتلې نو له سويق (د اوربشو دلده) پرته بل څه ورته رانه وړل شول، نو امر ئې وکړ او سويق په اوبو کي خيشت شول، بيا هم رسول الله صلى الله عليه و سلم وخوړل او هم مورِ وخوړل، بيا د مابنام لمانځه ته پورته شو، مضمضه ئې وکړه، مورِ هم مضمضه وکړه او لمونځ ئې وکړ، اودس ئې تازه نکړ.

تکرار: 215، 2981، 4175، 4195، 5384، 5390، 5454، 5455

توپير: په يوه کي ثُمَّ دَعَا بِالأَزْوَادِ، په بل کي فَدَعَا

بِالأَطْعِمَةِ، په يوه کي فَأَمَرَ بِهِ فَثُرِّيَ، په بل کي فَلاَكُوهُ او په بل کي فَلُكْنَا، په يوه کي فَأَكَلَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَأَكَلْنَا، په بل کي فَأَكَلْنَا وَشَرِبْنَا، په يوه کي ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ، په بل کي ثُمَّ صَلَّى لَنَا الْمَغْرِبَ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ او په بل کي فَمَضْمَضَ وَمَضْمَضْنَا، وَصَلَّيْنَا.

د ټولو راوي يو دئ، د روايت اصلي موضوع هم يوه ده، خو ښايي له تاسو سره به حتماً دا پوښتنه راولاړه شي چې ولي دا روايت دومره زيات په تکرار سره راغلی؟ د غوښي د خوړلو ئې له اودس سره څه؟ هيڅوك دا ځواب نشي ويلي چې دا دومره تکرار د څه لپاره، موږ هم نه پرې پوهيږو. قرآن خو د اودس په اړه يوازي يو آيت لري، په کار خو دا وه چې په رواياتو کي د مسائلو د څېړلو تناسب داسي وی لکه په قرآن کي، کوم چې په قرآن کي لنډ او لږ څېړل شوي په رواياتو کي هم لږ څېړل شوي وی؛ او په کوم چې زيات تأکيد او ترکيز شوي همداسي په رواياتو کي زيات ترکيز او تأکيد پرې شوی وی. قرآن خو په ډېر صراحت سره د اودس د ماتېدو دوه اصلي اسباب په ګوته کړي: له غائط راستنېدا او له مېرمني سره نژدېکت، يعني د انسان له دوو فرجونو د څه وتل، د مذي او په ويښه يا خوب کي هوا وتل په ضمني توګه د اودس ماتي لاملونه ګڼل شوي، همدا وجه ده چې له صحابه وو ځينو د دغو وروستنيو دوو په اړه پوښتني کړې دي چې آيا په دې سره هم اودس ماتېږي که نه؟ خو د خوراك ئې له اودس سره څه؟ د قرآن له هيڅ لفظ نه معلومېږي چې دا دي له اودس سره څه تعلق ولري! مشکل له دې راولاړ شوی چې په ځينو رواياتو کي له خوراك

وروسته د وضوء يادونه شوې، په داسي حال کي چې له دې وضوء؛ اودس نه بلکي لاس او خوله مينځل مراد دي خو ځينو تړې د اودس معنى اخيستې ده!! هر روايت چې اودس په خوراك پوري تړي د ضعف لپاره ئې همدا خبره کافي ده چې دا نه له قرآن سره اړخ لګوي او نه له نورو رواياتو سره.

دې ته مو هم پام وي چې دا لاس او خوله مينځل هم مستحب دي، نه مينځل ئې نه پر اودس اغېز لري او نه پر لمانځه.

157- وَحَدَّثَنَا أَصْبَغُ قَالَ أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَمْرٌو عَنْ بُكَيْرٍ عَنْ كُرَيْبٍ عَنْ مَيْمُونَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم أَكَلَ عِنْدَهَا كَتِفًا، ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ. (بخاري:210)

157- له ميمونه رضي الله عنها روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې کره (د پسه) د لاس غوښه وخوړله او بيا ئې لمونځ وکړ او اودس ئې تازه نکړ.

(٤٠) باب: آيا د شيدو له څښلو وروسته مضمضه شته؟

158- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ وَقُتَيْبَةُ قَالاَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ الله بْنِ عَبْدِ الله بْنِ عُتْبَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم شَرِبَ لَبَنًا، فَمَضْمَضَ وَقَالَ "إِنَّ لَهُ دَسَمًا " (بخاري:211)

158- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې: رسول الله صلى الله عليه و سلم شيدې وڅښلې، بيا ئې مضمضه

وکړه او وئې فرمايل: (شيدې غوږي لري).

تکرار: **5609**

توپير: د دواړو الفاظ سره ورته او راوي ئې يو دئ.

(٤١) باب: په لمانځه کي خوب

159- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ يُصَلِّى فَلْيَرْقُدْ حَتَّى يَذْهَبَ عَنْهُ النَّوْمُ، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا صَلَّى وَهُوَ نَاعِسٌ لاَ يَدْرِى لَعَلَّهُ يَسْتَغْفِرُ فَيَسُبَّ نَفْسَهُ". (بخاري:212)

159- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (که له تاسو کوم يوه لمونځ کاوو او خوب ورباندي راغی؛ نو ويده دي شي (لمونځ دي پرېږدي) تر هغه چې خوب تري وتښتي، ځکه که له تاسو کوم يو په داسي حال کي لمونځ کوي چې خوبولی وي نو نه پوهيږي؛ ښايي د استغفار پر ځای به ځان ته بښنځلي وکړي.

160- حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلاَةِ فَلْيَنَمْ حَتَّى يَعْلَمَ مَا يَقْرَأُ". (بخاري:213)

160- له انس رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (که له تاسو چا ته په لمانځه کي خوب ورغی، نو ويده دي شي (لمونځ دي پرېږدي) تر هغه

چې پوه شي څه وايي).

دا موضوع هم د قرآن په دې آيت کې راغلې:
يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡرَبُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمۡ سُكَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعۡلَمُواْ مَا تَقُولُونَ.... النساء: 43
اې مؤمنانو! په داسي حال کې لمانځه ته مه نژدې کېږئ چې مست (بې سده) وئ، تر هغه په هغه څه پوه شئ چې تاسو ئې وايئ...

دا روايات د دغه آيت تفسير زمونږ مخې ته ږدي؛ او راته وايي: له سکارٰی مراد يوازې په شرابو مستېدا نه ده بلکې هغه حالتونه هم دي چې انسان نه پوهېږي څه وايي. د خوب غلبه هم يو له دغو حالاتو دئ.

(٤٢) باب: اودس پر اوداسه

161- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرِو بْنِ عَامِرٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا، قَالَ: ح وَحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ قَالَ حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ عَامِرٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَتَوَضَّأُ عِنْدَ كُلِّ صَلاَةٍ. قُلْتُ كَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ قَالَ يُجْزِئُ أَحَدَنَا الْوُضُوءُ مَا لَمْ يُحْدِثْ. (بخاري:214)
161- او له انس رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د هر لمانځه لپاره اودس کاوو، عمرو بن عامر رضي الله عنه وايي: ورته ومې ويل: تاسو څه کول؟ وئې ويل: له مونږ به چا تر هغه پورې بل اودس نه کاوو چې بې اودسه شوى به نه وو.

دا روايت په دې دليل دقيق نه دئ چې په ډېرو نورو روایاتو کې راغلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په يوه اودس دوه يا تر دې زيات لمونځونه کړي. د قرآن له وينا هم معلومېږي چې اودس يا تيمم له اودس ماتي وروسته لازمېږي.

(٤٣) باب: له بولو ځان نه ساتل کبيره ګناه ده

162- حَدَّثَنَا عُثْمَانُ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِحَائِطٍ مِنْ حِيطَانِ الْمَدِينَةِ أَوْ مَكَّةَ، فَسَمِعَ صَوْتَ إِنْسَانَيْنِ يُعَذَّبَانِ فِي قُبُورِهِمَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "يُعَذَّبَانِ، وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ"، ثُمَّ قَالَ "بَلَى، كَانَ أَحَدُهُمَا لاَ يَسْتَتِرُ مِنْ بَوْلِهِ، وَكَانَ الآخَرُ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ". ثُمَّ دَعَا بِجَرِيدَةٍ فَكَسَرَهَا كِسْرَتَيْنِ، فَوَضَعَ عَلَى كُلِّ قَبْرٍ مِنْهُمَا كِسْرَةً. فَقِيلَ لَهُ يَا رَسُولَ الله لِمَ فَعَلْتَ هَذَا قَالَ "لَعَلَّهُ أَنْ يُخَفَّفَ عَنْهُمَا مَا لَمْ تَيْبَسَا أَوْ إِلَى أَنْ يَيْبَسَا " (بخاري:216)

162- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د مدينې يا مکې له باغونو پر يوه باغ تېرېدو چې د داسي دوو انسانانو غږ ئې واورېد چې په خپلو قبرونو کې تعذيبېدل؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (دا دواړه تعذيبېږي او د کوم ستر کار له امله هم نه تعذيبېږي)، بيا ئې وفرمايل: (هو؛ يوه ئې له بولو ځان نه ساتو؛ او بل به ئې چغلي کوله). بيا ئې د خرما د وني تازه څانګه وغوښتله، نيمه ئې کړه؛ او بيا ئې د هر يوه پر قبر يوه ټوټه کېښودله، ورته وويل شول: يا رسول

الله! ولي دي داسي وکړل؟ وئي فرمايل: (کېدی شي ترهغه چي دا ځانګه وچيږي له دوی عذاب کم شي).

تکرار: 218، 1361، 1378، 6052، 6055

توپير: په يوه کي ويل شوي عَنْ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، په بل کي عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ طَاوُسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، يعني يو وايي چي مجاهد مخامخ له ابن عباس رضي الله عنهما اورېدلي او بل وايي چي هغه له طاوس اورېدلي، په يوه کي مَرَّ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِحَائِطٍ مِنْ حِيطَانِ الْمَدِينَةِ أَوْ مَكَّةَ، په بل کي مَرَّ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِقَبْرَيْنِ او په بل کي مِنْ بَعْضِ حِيطَانِ الْمَدِينَةِ، په يوه کي فَسَمِعَ صَوْتَ إِنْسَانَيْنِ يُعَذَّبَانِ فِي قُبُورِهِمَا، په بل کي إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ، په يوه کي وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ، په بل کي، وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرَةٍ، وَإِنَّهُ لَكَبِيرٌ، په يوه کي ثُمَّ دَعَا بِجَرِيدَةٍ، په بل کي ثُمَّ أَخَذَ جَرِيدَةً رَطْبَةً، په بل کي ثُمَّ أَخَذَ عُودًا رَطْبًا او په بل کي بِعَسِيبٍ رَطْبٍ، په يوه کي فَكَسَرَهَا كِسْرَتَيْنِ، په بل کي فَشَقَّهَا نِصْفَيْنِ، په يوه کي فَوَضَعَ عَلَى كُلِّ قَبْرٍ مِنْهُمَا كِسْرَةً، په بل کي فَغَرَزَ فِي كُلِّ قَبْرٍ وَاحِدَةً، په بل کي فَغَرَسَ عَلَى هَذَا وَاحِدًا وَعَلَى هَذَا وَاحِدًا، په يوه کي لَعَلَّهُ يُخَفَّفُ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا او په بل کي لَعَلَّهُ أَنْ يُخَفَّفَ عَنْهُمَا مَا لَمْ تَيْبَسَا راغلي.

دا روايت په همدې صيغه په صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو کي له يوه يوه کس روايت شوی، چي په دې توګه د اسنادو له پلوه تر ټولو زيات غريب دئ، په توپير سره له ابوهريره هم روايت شوی چي راويان ئې دا دي: المنهال بن

عمرو، عبدالله بن الحارث او ابوهريره رضي الله عنهم، چې دا هم د سند له مخې تر ټولو غريب روايت دئ، د متن له پلوه په دغو رواياتو كه جدي تعارضونه شته، يو ئې وايي چې د مكې يا مدينې په كوم باغ كې، په بل كي ويل شوي چې د مدينې په كوم باغ كې؛ او په نورو كي ويل شوى چې پر دوو قبرونو تېرېدو، په ځينو كي ويل شوي چې له قبرونو ئې غږ واورېد او په نورو كي دا خبره نه ده شوې، په ځينو كي ويل شوي چې دوى په كومي لويي گناه نه دي نيول شوي او په بل كي ويل شوي چې لوى گناهونه نه دي خو لوى دي، په يوه كي ويل شوي د ځانگې نيمائي نيمائي ئې د قبرونو له پاسه كښېښودې او په ځينو كي ويل شوي چې ښخي ئې كړې او ډېر نور توپيرونه.

په دې اړه څو پوښتني راولاړيږي: ابن عباس رضي الله عنهما خو دا صحنه په سترگو نه ده ليدلې، له بل چا ئې اورېدلي، ولي د هغه كس نوم نه دئ اخيستل شوى؟ دا قبرونه په مكه كي ليدل شوي كه په مدينه كي؟ ولي د ځاى نوم په واضح توگه نه دئ ښودل شوى؟ دې پوښتني ته به څه ځواب وايو چې قرآن فرمايي"هيڅوك په غيب نه پوهيږي، دا روايت خو وايي چې پيغمبر عليه السلام په غيب پوهېدو؟ له بولو سره احتياط نه كول خو كبيره گناه نه ده، روايات هم دا خبره كوي، نو دا روايت ئې څنگه د كبيره گناه په توگه گڼي؟ په دغو متعارضو رواياتو كي به كوم يو صحيح گڼو؟ د لمدې څانگي تر وچېدو پوري به ولي د دوى عذاب تخفيف كېږي؟ د دې خبري تړاو به د عذاب له تخفيف سره څنگه وي؟ ولي بل داسي روايت نه لرو چې وښيي

رسول الله صلى الله عليه و سلم په نورو قبرونو داسي لمدې ځانګي ايښې وي؟ آيا داسي روايات د يوه اعتقاد بنسټ ګرځولی شو؟ دې پوښتنو ته له دې پرته بل هيڅ ځواب نه شو ورکولی چې په داسي رواياتو استناد کولو کي بايد ډېر محتاط وو.

دا روايت له بخاري او مسلم علاوه په ابو داؤد، النسائي، الترمذي؛ او ځينو نورو کتابونو کي هم راغلی، په ټولو کي د دغو پوښتنو لپاره ځوابونه نه مومو، الباني د مسلم په حواله ليکي:

قد جاء فِي حديث جابر الطويل فِي صحيح مسلم (8 / 235) بيان التخفيف المذكور فِي الحديث وهو قوله صلى الله عليه و سلم : "اني مررت بقبرين يعذبان فأحببت بشفاعتي ان يرفه عنهما ما دام الغصنان رطبين "فهذا نص على أن التخفيف سببه شفاعة صلى الله عليه وسلم ودعاؤه لهما وأن رطابةالغصنين إنما هي علامة لمدة الترفيه عنهما وليست سببا وبذلك يظهر بدعية ما يصنعه كثير من الناس فِي بلادنا الشامية وغيرها من وضع الآس والزهور على القبور عند زيارتها الأمر الذي لم يكن عليه رسول الله صلى الله عليه وسلم ولا أصحابه من بعده على ما فِي ذلك من الاسراف وإضاعة المال...

الباني رحمه الله ته دا پوښتنه راجع کړي: که دا روايت صحيح وي نو بيا خو هغه خلك نه شو ملامتولی چي پر قبرونو ګلان ږدي، که هغوی پوښتنه وکړي چې مونږ په سنت عمل کوو ځواب به دي څه وي؟ آيا دا ځواب معقول او

علمي دئ چي دا كار يوازي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته جائز وو او نورو ته جائز نه دئ؟!!

يادونه: زما مجترم ورور قاضي محمود الحسن جاهد چي په خپلو نېكو مشورو او دقيقو ملاحظاتو سره ئې زما ډېره ډېره مرسته كړې ده، چي زه د زړه له كومي تړې ممنون يم، دلته د خپلو ملاحظاتو په ترڅ كي ليكلي: په مرسل حديث (هغه چي يو صحابي له بل روايت كوي، سند ئې تر رسول الله صلى الله عليه و سلم پوري نه وي رسيدلى) د استدلال كولو په اړه علماء اختلاف لري، دې حديث ته په پام سره بريده اسلمي رضي الله عنه وصيت كړى وو چي له وفات وروسته ئې پر قبر لمده څانگه كښېښودل شي. رسول الله صلى الله عليه و سلم په غيب نه پوهېدو خو د وحي له لاري ځيني غيبي امور ورته بنودل شوي، وحي دوه ډوله ده؛ متلو او غير متلو... دوى ته په ځواب كي وليكل شو: 1- دلته خو يو روايت نه بلكي شپږ روايات، د يوې موضوع په اړه، په شپږو بېلو بېلو الفاظو راغلي، ټول ئې مرسل دي، لومړنى راوي ئې نه دئ په گوته شوى، ټول عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ته منسوب شوي، تر منځ ئې جدي توپيرونه او تعارضونه شته، له دوى يوازي يو ئې صحيح گڼلى شو، نه دوه او نه ټول، مجبور يو يو به تړې غوره كوو، بخاري دا كار نه دئ كړى، 2- كه هغو پوښتنو ته ځواب ونه وايو چي د دغو رواياتو په اړه مطرح دي د صحيح انتخاب او پېژندا ممكن نه دي، تاسو ووايئ كوم روايت صحيح دئ: هغه چي وايي قبرونه په مكه كي ول، كه هغه چي وايي په مدينه كي ول؟ هغه چي وايي دوه څانگي

ئې پرې ښخي کړي، که هغه چې وايي پرې کښې ئې ښودې؟ 3- د دې پوښتنې ځواب به څه وي چې که څوک د چا پر قبر نيالګی ولګوي آيا د تل لپاره به د قبر له عذاب ژغورل کيږي؟ 4- ولي رسول الله صلى الله عليه و سلم دا کار د بل چا د قبر په اړه نه دئ کړی؟ 5- ولي نورو صحابه وو داسي سپارښتنې او وصيتونه نه دي کړي؟ 6- ولي ابن عباس رضي الله عنهما د هغه صحابي نوم نه دئ اخيستی چې دا صحنه ئې ليدلې او اصلي راوي دئ؟ په هغه صورت کې دا روايات د استناد وړ ګڼلی شو چې دغو پوښتنو ته ځواب پيدا کړو. 7- فقهاء د احکامو په اړه هغه روايات د استناد وړ نه ګڼي چې خبر احاد وي او په ځانګړې توګه هغه چې يوازي يو راوي لري، په اعتقادي مسائلو کي به څنګه هغه روايت د استناد وړ ګڼل کيږي چې هم مرسل دئ، هم خبر احاد، هم ئې راوي يو کس، هم له نورو ورته رواياتو سره تعارض لري او له قرآن سره هم اړخ نه لګوي؟! وحي په متلو او غير متلو يا جلي او خفي وېشل نه په قرآن کي راغلي او نه د پيغمبر عليه السلام په احاديثو کي، د وحي اصلي معنی خفي اشاره ده، د جلي صفت ورسره مناسبت نه لري، شرعي وحي متلو ده، غير متلو نه لري، پيغمبر عليه السلام ته قرآن ورکړی شوی او د قرآن فهم او د هغه د بيانولو توفيق، د وحي دا تقسيم له هغه روايت سره اړخ نه لګوي چې وايي: له علي رضي الله عنه پوښتنه وشوه چې آيا کوم خاص کتاب درسره شته؟ په ځواب کي ئې د الله تعالی په نامه لوړه وکړه او وئې ويل:: نه؛ مګر د الله کتاب؛ او هغه پوهه چې يوه مسلمان سړي ته په برخه کيږي او هغه څه

چې په دې پانې کې دي، ورته وويل شو: نو په دې پانې کې څه دي؟ وئې ويل: د ديت حکم، د اسير آزادول او دا چې مسلمان د کافر په بدل کې نه وژل کيږي. (دا روايت مخکې څيړل شوی)، له دې علاوه په دغو رواياتو کې دا نه دي ويل شوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د وحي په ذريعه معلومه شوه چې د هغو دوو قبرونو خاوندان تعذيب کيږي، څوك چې دا خبره کوي د يوه اشکال د رفع کولو لپاره دا خبره له ځانه پر روايت علاوه کوي.

(٤٤) باب: د بولو مينځل

163- **حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنِي رَوْحُ بْنُ الْقَاسِمِ قَالَ حَدَّثَنِي عَطَاءُ بْنُ أَبِي مَيْمُونَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم إِذَا تَبَرَّزَ لِحَاجَتِهِ أَتَيْتُهُ بِمَاءٍ فَيَغْسِلُ بِهِ.** (بخاري:217)

163- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: کله چې به رسول الله صلى الله عليه و سلم د حاجت (اودس ماتي) لپاره ووت، ما به ورته اوبه راوړلې چې استنجاء به ئې پرې کوله.

تکرار: **150، 151، 152، 500**

دا روايت مخکې څيړل شوی.

(٤٥) باب: په جومات کې د يوه اعرابي د بولو قصه

164- **حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي**

عُبَيْدُ الله بْنُ عَبْدِ الله بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ قَامَ أَعْرَابِيٌّ فَبَالَ فِي الْمَسْجِدِ فَتَنَاوَلَهُ النَّاسُ، فَقَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "دَعُوهُ وَهَرِيقُوا عَلَى بَوْلِهِ سَجْلاً مِنْ مَاءٍ؛ او ذَنُوبًا مِنْ مَاءٍ، فَإِنَّمَا بُعِثْتُمْ مُيَسِّرِينَ، وَلَمْ تُبْعَثُوا مُعَسِّرِينَ". (بخاري:220)

164- له ابو هريرة رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: يو باندې وال پاڅېد او په جومات کي ئې بولي (متيازي) وکړې، خلکو وګوابنو (پرې راوبلوسېدل)، خو رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: (پرې ئې ږدئ او پر متيازو ئې يو سطل يا څه اندازه اوبه واچوئ، تاسو آسانتيا کوونکي لېږل شوي يئ او سختي کوونکي نه يئ لېږل شوي). يعني تاسو په دې نه يئ ګمارل شوي چې له خلکو سره سختي وکړئ بلکي د دې لپاره ګمارل شوي يئ چې له خلکو سره په خپل چلند کي نرمي وکړئ.

تکرار: 6128

توپير: په يوه کي قَامَ أَعْرَابِيٌّ فَبَالَ فِي الْمَسْجِدِ، په بل کي أَنَّ أَعْرَابِيًّا بَالَ فِي الْمَسْجِدِ، په يوه کي فَتَنَاوَلَهُ النَّاسُ، په بل کي فَثَارَ إِلَيْهِ النَّاسُ لِيَقَعُوا بِهِ، په يوه کي وَأَهْرِيقُوا عَلَى بَوْلِهِ ذَنُوبًا مِنْ مَاءٍ- أَوْ سَجْلاً مِنْ مَاءٍ او په بل کي وَهَرِيقُوا عَلَى بَوْلِهِ سَجْلاً مِنْ مَاءٍ؛ او ذَنُوبًا مِنْ مَاءٍ، د دواړو مطلب يو دئ، خو دا نه دي ويل شوي چې د جومات په هغي برخي کي ئې بولي کړې چې سر ئې پټ وو او که په هغي برخي کي چې سر ئې پټ نه وو (صحن کي)، غالب احتمال دا دئ چې هغه د جومات له پټې برخي پورته شوى؛

او دا كار ئې بهر د جومات په صحن كي كړی.

(٤٦) باب: د ماشومانو بولي

165- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ الله بْنِ عَبْدِ الله بْنِ عُتْبَةَ عَنْ أُمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحْصَنٍ أَنَّهَا أَتَتْ بِابْنٍ لَهَا صَغِيرٍ، لَمْ يَأْكُلِ الطَّعَامَ إِلَى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم، فَأَجْلَسَهُ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فِي حِجْرِهِ، فَبَالَ عَلَى ثَوْبِهِ، فَدَعَا بِمَاءٍ فَنَضَحَهُ وَلَمْ يَغْسِلْهُ. (بخاري:223)

165- له ام قيس بنت محصن رضي الله عنها روايت دئ چي هغې خپل ماشوم زوی چي لا د ډوډۍ خوړلو نه وو شوی رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وروست، رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه په خپلي غېږ كي كښېناوو، ماشوم ئې پر جامو متيازي وكړې، نو اوبه ئې راوغوښتلې او پر خپلو جامو ئې وشيندلې او هغه ئې ونه مينځلې.

تكرار: 5468، 6002، 6355، 5693

توپير: په يوه كي فَنَضَحَهُ وَلَمْ يَغْسِلْهُ، په بل كي فَدَعَا بِمَاءٍ فَأَتْبَعَهُ، په بل كي فَأَتْبَعَهُ الْمَاءَ او په بل كي فَأَتْبَعَهُ إِيَّاهُ، وَلَمْ يَغْسِلْهُ. د ټولو مطلب يو دئ، دا چي داسي ووړ ماشوم د رسول الله صلى الله عليه و سلم پر جامه بولي كړې چي لا په ډوډۍ خوړلو نه وو راغلى، په كومو ځايونو چي د ماشوم د بولو څاڅكي توى شوي وو هغه ئې مينځلي نه دي بلكي اوبه ئې پرې شيندلې دي.

(٤٧) باب: په ولاړه يا ناسته بولي

166- **حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ أَتَى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم سُبَاطَةَ قَوْمٍ فَبَالَ قَائِمًا، ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ، فَجِئْتُهُ بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ.** (بخاري:224)

166- له حذيفه رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د خلکو يوه ډېران ته ورغی؛ او په ولاړه ئې بولي وکړي، بيا ئې اوبه راوغوښتلې، ما اوبه ورته راوړې او اودس ئې وکړ.

تکرار: 225، 226، 2471

توپير: په يوه کي سُبَاطَةَ قَوْمٍ فَبَالَ قَائِمًا، په بل کي سُبَاطَةَ قَوْمٍ خَلْفَ حَائِطٍ، فَقَامَ كَمَا يَقُومُ أَحَدُكُمْ فَبَالَ، فَانْتَبَذْتُ مِنْهُ، فَأَشَارَ إِلَيَّ فَجِئْتُهُ، فَقُمْتُ عِنْدَ عَقِبِهِ حَتَّى فَرَغَ، په يوه کي ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ، فَجِئْتُهُ بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ په نورو کي نه دي راغلي.

د ټولو مطلب يو دئ، راوي ئې هم يو او حذيفه رضي الله عنه دئ، کوم څه چي دا روايت ئې په ګډه وايي دا دي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د يوه قوم داسي ډېران ته ورغی چي د دبوال شا ته وو، ودرېدو، حذيفه تري لري شو، اشاره ئې ورته وکړه چي رانږدې شه، د هغه تر شا ودرېدلی، اودس ماتی ئې کړی، بيا ئې اودس کړی.

خو په دې اړه بل روايت هم شته چي له دې سره بشپړ تعارض لري او د النسائي او الترمذي تر څنګ ځينو نورو هم راوړی، چي هغه دا دئ:

أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ أَنْبَأَنَا شَرِيكٌ عَنْ الْمِقْدَامِ بْنِ شُرَيْحٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَنْ حَدَّثَكُمْ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم بَالَ قَائِمًا فَلَا تُصَدِّقُوهُ مَا كَانَ يَبُولُ إِلَّا جَالِسًا. أخرجه النسائي والترمذي و الموطأ

شريح له خپل پلار روايت کوي چې عائشې رضي الله عنها وويل: چا چې تاسو ته دا خبره وکړه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په ولاړه بولي کړي؛ نو خبره ئې ريښتيا مه ګڼئ؛ هغه له ناستي پرته په بل حالت کي دا کار نه دئ کړى.

په بخاري کي دا روايت نه دئ راغلى، الباني په يو ځاى کي هغه صحيح ګڼلى، بيا ئې خپله رأيه بدله کړې او هغه ئې په دې دليل ضعيف ګڼلى چې وايي: شريح د حافظې په ضعف تورن دئ.

نور د حذيفه رضي الله عنه په روايت خپل ملاحظات لري، ځينې ئې وايي چې دا يو استثنائي حالت وو، يا ځاى د ناستي لپاره مناسب نه وو يا د کوم عذر په وجه ئې دا کار کړى. شافعي رحمه الله هم د دغې رأيې پلوي دئ.

دې ته په پام سره چې له څاڅکو د جامو خوندي ساتلو غوښتنه دا ده چې متيازي په ناسته وي، خو د کوم مجبوريت له مخې او هغه مهال چې په ناسته دا مصلحت فوت کيږي، په ولاړه هم بولي کول جائز دي، که دا روايت صحيح وي نو په اړه ئې له دې پرته بل څه نه شو ويلى چې دا يو استثنائي حالت وو، د رسول الله صلى الله عليه و سلم او صحابه وو عام عادت دا نه وو. په روايت کي يو ظريف

ټکی همدې مطلب ته اشاره کوي او هغه دا چې رسول الله صلى الله عليه و سلم حُذيفه رضي الله عنه ته وايي چې رانږدې شه؛ او دا يوازې د دې لپاره کېدی شي چې هغه ورته ستر شي او خلك ئې ونه ګوري، له دې معلومېږي چې دا کاملاً يو استثنائي حالت وو. نور روايات وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به د اودس ماتي لپاره دومره لري تلو چې له سترګو به پټ شو.

(48)- باب: د دېوال شا ته او يا د بل چا په وړاندي بولي

167- **حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ قَالَ كَانَ أَبُو مُوسَى الأَشْعَرِيُّ يُشَدِّدُ فِي الْبَوْلِ وَيَقُولُ إِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَانَ إِذَا أَصَابَ ثَوْبَ أَحَدِهِمْ قَرَضَهُ. فَقَالَ حُذَيْفَةُ لَيْتَهُ أَمْسَكَ، أَتَى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم سُبَاطَةَ قَوْمٍ فَبَالَ قَائِمًا.** (بخاري:226)

167- له ابي وائل روايت دئ چې ابوموسى الاشعري به د بولو په اړه ډېره سختي کوله او ويل به ئې: بني اسرائيل داسي ول چې که به د کوم يوه جامه په متيازو ککړه شوه نو هغه ځای به ئې پرې کاوو، نو حذيفه وويل: کاش دا ئې نه وی ويلي، رسول الله صلى الله عليه و سلم د يوه قوم ډېران ته ورغی، په داسي حال کي چې ولاړ وو بولي ئې وکړې.

دا روايت داسي ښيي چې ګواکي جامو ته د ميتازو د څاڅکو په الوتو کي څه حرج نشته، ځکه حذيفه د دې لپاره دا خبره کړې چې د ابو موسى رضي الله عنه هغه وينا تردید

کړي چې د بني اسرائيلو د ډېر تشدد په اړه ئې کړې، په دې توګه دا روايت له هغه سره جدي تعارض لري چې بخاري تر دې د مخه په قبر کې د دوو کسانو د تعذيب په اړه راوړی، هلته خو ويل شوي چې د متيازو له ځانځکو د ځان نه ساتلو په سبب يو کس په قبر کې تعذيب کېدو!! دلته ولې عادي کار ګڼل شوی؟

(٤٩) باب: د وينو مينځل

168- **حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَتْنِي فَاطِمَةُ عَنْ أَسْمَاءَ قَالَتْ جَاءَتِ امْرَأَةٌ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَتْ أَرَأَيْتَ إِحْدَانَا تَحِيضُ فِي الثَّوْبِ كَيْفَ تَصْنَعُ قَالَ "تَحُتُّهُ، ثُمَّ تَقْرُصُهُ بِالْمَاءِ، وَتَنْضَحُهُ وَتُصَلِّى فِيهِ".** (بخاري:227)

168- له اسماء رضي الله عنها نه وړايت دئ چې وايي: يوه ښځه نبي صلى الله عليه و سلم ته راغله او وئې ويل: که له موږ څوك په خپلو جامو کي حائضه شي (جامې ئې د حيض په ويني سرې شي)؛ څه به کوي؟ وئې فرمايل: (ودې ګروي، بيا دې په اوبو سره وموښي، اوبه دي پرې تېرې کړي او لمونځ دي ورسره کوي).

تکرار: 307

توپير: په يوه کي فَقَالَتْ أَرَأَيْتَ إِحْدَانَا تَحِيضُ فِي الثَّوْبِ، په بل کي أَرَأَيْتَ إِحْدَانَا إِذَا أَصَابَ ثَوْبَهَا الدَّمُ مِنَ الْحَيْضَةِ، په يوه کي تَحُتُّهُ، ثُمَّ تَقْرُصُهُ بِالْمَاءِ، وَتَنْضَحُهُ وَتُصَلِّى فِيهِ او په بل کي إِذَا أَصَابَ ثَوْبَ إِحْدَاكُنَّ الدَّمُ مِنَ الْحَيْضَةِ، فَلْتَقْرُصْهُ ثُمَّ لِتَنْضَحْهُ بِمَاءٍ، ثُمَّ لِتُصَلِّى فِيهِ راغلي.

دوهم روايت تر مخكيني واضح دئ، د ټولو مطلب يو دئ او هغه دا چې د حيض په وينو لړل شوې جامې د مينځلو لپاره بايد درې کاره وشي: په وينو لړل شوی ځای بايد وګرول شي، بيا په اوبو سره وموښل شي، بيا اوبه پرې ټپري شي، له دې وروسته په هغې کي لمونځ کېدی شي.

169- **حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَاءَتْ فَاطِمَةُ ابْنَةُ أَبِي حُبَيْشٍ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَتْ يَا رَسُولَ الله إِنِّي امْرَأَةٌ أُسْتَحَاضُ فَلاَ أَطْهُرُ، أَفَأَدَعُ الصَّلاَةَ فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "لاَ، إِنَّمَا ذَلِكِ عِرْقٌ، وَلَيْسَ بِحَيْضٍ، فَإِذَا أَقْبَلَتْ حَيْضَتُكِ فَدَعِي الصَّلاَةَ، وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْسِلِي عَنْكِ الدَّمَ ثُمَّ صَلِّي". قَالَ وَقَالَ أَبِي "ثُمَّ تَوَضَّئِي لِكُلِّ صَلاَةٍ، حَتَّى يَجِيءَ ذَلِكَ الْوَقْتُ".** (بخاري:228)

169- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: فاطمه بنت ابي حبيش نبي صلى الله عليه و سلم ته راغله وئې ويل: يا رسول الله! زه داسي يوه ښځه يم چې کله د حيض په څېر وينه رانه روانه شي، بيا نه پاکېږم (وينه مي نه بندېږي)؛ نو آيا لمونځ به پرېږدم؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (نه، دا ناروغتيا ده، حيض نه دئ، کله چې حائضه کېدلې نو لمونځ پرېږده او کله چې دي د حيض موده ټپرېدله نو بيا دي وينه مينځه او لمونځ کوه). راوي وايي: بيا مي پلار وويل: بيا ئې وفرمايل: (بيا د هر لمانځه لپاره اودس کوه، تر هغه چې بيا د حيض وخت راورسېږي).

تكرار: 306، 320، 325، 331

توپير: په يوه کي وَلَيْسَ بِحَيْضٍ، په بل کي وَلَيْسَ بِالْحَيْضَةِ، په يوه کي فَإِذَا أَقْبَلَتْ حَيْضَتُكِ فَدَعِى الصَّلاَةَ، په بل کي فَإِذَا أَقْبَلَتِ الْحَيْضَةُ فَاتْرُكِى الصَّلاَةَ، په يوه کي وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْسِلِي عَنْكِ الدَّمَ ثُمَّ صَلِّى، په بل کي فَإِذَا ذَهَبَ قَدْرُهَا فَاغْسِلِي عَنْكِ الدَّمَ وَصَلِّى، په بل کي وَلَكِنْ دَعِى الصَّلاَةَ قَدْرَ الأَيَّامِ الَّتِى كُنْتِ تَحِيضِينَ فِيهَا، د ټولو مطلب په ګډه دا دئ: د حيض په پيل سره د لمانځه پرېښودل، په ختمېدو سره ئې غسل کول، ويني مينځل او لمونځ کول بيا پيلول، که د وينو راتګ تر خپل هغه ټاکلي وخت زيات شو چې هري ښځي ته ئې موده معلومه ده، نو دا حيض نه بلکي مريضي ده، په دې حالت کي بايد دا ناروغه مېرمن لمونځ پرې نژدي، خو تر هغه به د هر لمانځه لپاره اودس کوي چې وينه راځي.

(٥٠) باب: د مني مينځل او ګرول

170- حَدَّثَنَا عَبْدَانُ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ قَالَ أَخْبَرَنَا عَمْرُو بْنُ مَيْمُونٍ الْجَزَرِىُّ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَغْسِلُ الْجَنَابَةَ مِنْ ثَوْبِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم، فَيَخْرُجُ إِلَى الصَّلاَةِ، وَإِنَّ بُقَعَ الْمَاءِ فِي ثَوْبِهِ. (بخاري:229)

170- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: ما به د رسول الله صلى الله عليه و سلم له جامونه د جنابت اثر (مني) مينځل، بيا به رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي لمانځه ته ووت چې د اوبو اثر (خاپونه) به

ئې په جامو ښکاريدل.

تکرار: 230، 231، 232

توپير: په يوه کي كُنْتُ أَغْسِلُ الْجَنَابَةَ مِنْ ثَوْبِ، په بل کي كُنْتُ أَغْسِلُهُ مِنْ ثَوْبِ، په يوه کي وَإِنَّ بُقَعَ الْمَاءِ فِي ثَوْبِهِ، په بل کي وَأَثَرُ الْغَسْلِ فِي ثَوْبِهِ بُقَعُ الْمَاءِ او په بل کي ثُمَّ أَرَاهُ فِيهِ بُقْعَةً أَوْ بُقَعًا، د ټوله مطلب يو دئ؛ او هغه دا چې د جامو هغه برخه به ئې مينځله چې په جنابت به لړلې شوې وه؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم به په داسې حال کي له همدغو جامو سره لمانځه ته وتلو چې پر جامو به ئې د لوندوالي ټاپي ترسترګو کېدل.

يادونه: رسول الله صلى الله عليه و سلم به زياتره وخت يو جوړ جامې درلودې، نو که د جامو د وچېدو وخت به ئې ونه موند له لمدو جامو سره به جومات ته تلو.

(٥١) باب: د څاروو د بولو او پنډغالو حکم

171- **حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ أَبِي قِلاَبَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَدِمَ أُنَاسٌ مِنْ عُكْلٍ أَوْ عُرَيْنَةَ، فَاجْتَوَوُا الْمَدِينَةَ، فَأَمَرَهُمُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِلِقَاحٍ، وَأَنْ يَشْرَبُوا مِنْ أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا، فَانْطَلَقُوا، فَلَمَّا صَحُّوا قَتَلُوا رَاعِيَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَاسْتَاقُوا النَّعَمَ، فَجَاءَ الْخَبَرُ فِي أَوَّلِ النَّهَارِ، فَبَعَثَ فِي آثَارِهِمْ، فَلَمَّا ارْتَفَعَ النَّهَارُ جِيءَ بِهِمْ، فَأَمَرَ فَقَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ، وَسُمِرَتْ أَعْيُنُهُمْ، وَأُلْقُوا فِي الْحَرَّةِ يَسْتَسْقُونَ فَلاَ يُسْقَوْنَ. قَالَ أَبُو قِلاَبَةَ فَهَؤُلاَءِ سَرَقُوا وَقَتَلُوا وَكَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ، وَحَارَبُوا اللهَ**

وَرَسُولَهُ. (بخاري:233)

171- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د (عكل) يا (عرينه) قبيلي ځيني خلک مديني ته راغلل، (د مديني هوا ښه پرې ونه لګېده او ناروغ شول)، رسول الله صلى الله عليه و سلم امر ورته وکړ چي د اوښانو څړ ځای ته لاړ شي او د اوښانو بولي (متيازي) او شيدې وڅښي، هغوی هملته لاړل او کله چي جوړ شول د رسول الله صلى الله عليه و سلم شپون ئې وواژو او څاروي ئې له ځان سره بوتلل، دغه خبر د ورځي په پيل کي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راورسېد، نو ځيني ئې ورپسي ولېږل او تر هغه چي ورځ پخېده هغوی ئې راوستل، نو امر ئې وکړ، لاسونه او پښې ئې پرې کړل شول او سترګي ئې وداغل شوې او بيا لمر ته وغورځول شول، اوبه ئې غوښتلې خو نه ورکول کېدې. ابو قلابه وايي چي دوی غلا کړې وه، قتل ئې کړی وو، له ايمان راوړلو وروسته ېېرته کافران شوي وو او له الله تعالى او د هغه له پيغمبر سره جنګېدلي ول.

تکرار: 1501، 3018، 4192، 4193، 4610، 5685، 5686، 5727، 6802، 6803، 6804، 6805، 6899

توپير: په يوه کي قَدِمَ أُنَاسٌ مِنْ عُكْلٍ أَوْ عُرَيْنَةَ، په بل کي أَنَّ نَاسًا مِنْ عُرَيْنَةَ اجْتَوَوُا الْمَدِينَةَ او په بل کي أَنَّ رَهْطًا مِنْ عُكْلٍ ثَمَانِيَةً، په يوه کي فَأَمَرَهُمُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِلِقَاحٍ، وَأَنْ يَشْرَبُوا مِنْ أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا، په بل کي فَرَخَّصَ لَهُمْ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم أَنْ يَأْتُوا

إِبِلَ الصَّدَقَةِ فَيَشْرَبُوا مِنْ أَلْبَانِهَا وَأَبْوَالِهَا؛ او په بل کي فَانْطَلَقُوا فَشَرِبُوا مِنْ أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا حَتَّى صَحُّوا وَسَمِنُوا، په يوه کي فَقَتَلُوا الرَّاعِيَ وَاسْتَاقُوا الذَّوْدَ، په بل کي وَاسْتَاقُوا النَّعَمَ او په بل کي وَقَتَلُوا رُعَاتَهَا وَاسْتَاقُوا النعم، په يوه کي فَأُتِيَ بِهِمْ، فَقَطَّعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ وَسَمَرَ أَعْيُنَهُمْ، وَتَرَكَهُمْ بِالْحَرَّةِ يَعَضُّونَ الْحِجَارَةَ، په بل کي فَقَطَّعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ، ثُمَّ أَمَرَ بِمَسَامِيرَ فَأُحْمِيَتْ فَكَحَلَهُمْ بِهَا، وَطَرَحَهُمْ بِالْحَرَّةِ، يَسْتَسْقُونَ فَمَا يُسْقَوْنَ حَتَّى مَاتُوا، په بل کي أَمَرَ بِهِمْ فَسَمَرُوا أَعْيُنَهُمْ، وَقَطَعُوا أَيْدِيَهُمْ، وَتُرِكُوا فِي نَاحِيَةِ الْحَرَّةِ حَتَّى مَاتُوا عَلَى حَالِهِمْ، په يوه کي دا هم راغلي چې دغو کسانو وويل: ابْغِنَا رِسْلاً. قَالَ "مَا أَجِدُ لَكُمْ إِلاَّ أَنْ تَلْحَقُوا بِالذَّوْدِ، په يوه کي دا هم راغلي وَكَفَرُوا بَعْدَ إِسْلاَمِهِمْ، په يوه کي دا هم چې تَكَلَّمُوا بِالإِسْلاَمِ فَقَالُوا يَا نَبِيَّ الله إِنَّا كُنَّا أَهْلَ ضَرْعٍ، وَلَمْ نَكُنْ أَهْلَ رِيفٍ. وَاسْتَوْخَمُوا الْمَدِينَةَ د يوه روايت په پای کي دا هم راغلي فقَالَ قَتَادَةُ بَلَغَنَا أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم بَعْدَ ذَلِكَ كَانَ يَحُثُّ عَلَى الصَّدَقَةِ، وَيَنْهَى عَنِ الْمُثْلَةِ، د عمر بن عبدالعزيز په وړاندې د أَبُو قِلاَبَةَ دا وينا هم په يوه روايت کي راغلي چې: قُلْتُ فَوَالله مَا قَتَلَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم قَطُّ، إِلاَّ فِي إِحْدَى ثَلاَثِ خِصَالٍ رَجُلٌ قَتَلَ بِجَرِيرَةِ نَفْسِهِ فَقُتِلَ؛ او رَجُلٌ زَنَى بَعْدَ إِحْصَانٍ؛ او رَجُلٌ حَارَبَ الله وَرَسُولَهُ وَارْتَدَّ عَنِ الإِسْلاَمِ.

دا روايت د سند له پلوه دومره کمزورى دئ چې په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري؛ او د متن له پلوه داسي

چې ګورئ له نورو ورته رواياتو سره کافي تعارضات لري، له يوه راوي يوه موضوع څورلس ځلي په ښلو ښلو صيغو راغلي. ځيني دا ډله د يوې سيمې ګڼي، ځيني ئې د بلي او ځيني په دواړو کي شك لري، ځيني وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته امر وکړ او ځيني وايي رخصت ئې ورکړ؛ او ځيني له دې دواړو (امر او رخصت) يوه خبره هم نه کوي، د دوی د سزا د څرنګوالي په اړه هم ښل ښل اقوال راغلي. امام بخاري رحمه الله نه دا ويلي چې په دغو رواياتو کي کوم يو ئې تر ټولو غوره او دقيق دئ او نه ئې هغو پوښتنو ته کوم ځواب ويلی چې د دې روايت په اړه راولاړيږي؛ لکه دا پوښتنې:

ولي په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري؟

آيا دا پېښه د حدودو له نازلېدو مخکي وه که وروسته؟

کوم روايت چې وايي دغو خلکو ته د قرآن د هغه آيت له مخي سزا ورکړی شوې چې د مفسدين فِي الارض سزا په کي ټاکل شوې، هغه خو له قرآن سره په واضح توګه تعارض لري، ځکه قرآن وايي چې دوی ته به له څو سزاګانو يوه ورکول کيږي نه ټولي، هغه آيت داسي دئ:

إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوۡ يُصَلَّبُوٓاْ أَوۡ تُقَطَّعَ أَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم مِّنۡ خِلَٰفٍ أَوۡ يُنفَوۡاْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِۚ ذَٰلِكَ لَهُمۡ خِزۡيٞ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ
٣٣ المائده: 33

د هغو کسانو چې له الله او د ده له پيغمبر سره جنګيږي او په زمکي کي د فساد هڅه کوي سزا ئې له دې پرته بل څه نه

ده چې يا ووژل شي يا پانسې شي، يا ئې لاسونه او پښې سره مخالف پرې کړی شي او يا له ملکه وشړل شي، دا د دوی لپاره د دنيا سپکاوی او په آخرت کي ورته ستر عذاب دئ).

په دې آيتونو کي د هغو جګړمارو او مفسدينو سزاوي بيان شوې چې له خدای او پيغمبر سره جنګيږي او په زمکي کي فساد خوروي، دا هغه مفسدين دي چې د اسلامي نظام په ضد د وسله وال بغاوت لپاره ملا تړي، شوکي کوي او بې امني خوروي، د دوی سزا داسي ښودل شوې:

- که ئې يوازي قتل کړی وي سزا ئې دا ده چې ووژل شي.
- که ئې د شوکي په مهال هم قتل کړی وي او هم ئې مال غلا کړی وي، له اعدامه وروسته دي په دار وځړول شي چې د نورو لپاره د عبرت سبب شي.
- که ئې يوازي مال لوټ کړی وي او څوك ئې نه وي وژلي، لاس او پښه به ئې د يو بل خلاف قطع کيږي.
- که ئې شوکماری ته ملا تړلې وي، تياری ئې ورته نيولی وي، خو نه ئې څوك وژلی وي او نه ئې د چا مال لوټ کړی وي، نو سزا ئې له خپلي سيمي بهر په بل ځای کي زنداني کول دي.

له دې آيتونو په صراحت سره معلوميږي چې د قاتل دارې مار او لوټمار سزا وژل او په دار ځړول دي، نه دا چې لومړی د دوی لاس پښې قطع شي، بيا ووژل شي او بيا په دار ځوړند شي، له دې علاوه دا خبره بايد په پام کي ولرو چې دغه کسان د دې آيت مصداق نشي ګڼل کېدی، که احياناً

د همدې آيت مطابق سزا وړ وشمېرل شي نو بيا خو بايد يوازي وژل شوي او په دار ځړول شوي وی، لاس او پښې به ئې ولي قطع کېدل او سترګي به ئې ولي ايستل کېدې؟! کومه سزا چې په دې روايت کي راغلې نه ئې په قرآن کي جواز مومو او نه په نورو رواياتو کي. دې ته مو هم پام وي چې په روايت کي دا نه مومو چې دغو کسانو داسي څه ويلي وي چې د دوی په ارتداد او بېرته کافرېدو دلالت وکړي، يوازي د قتل او غلا يادونه شوې. په دې کي شك نشته چې د مرتد سزا قتل ده، خو د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانه کي هيڅ مرتد نه دئ وژل شوی، ځوك چې مرتد شوي نو تښتېدلي او له کافرانو سره يو ځای شوي.

بولي د خوراك لپاره حرامي دي، دا ځکه چې دا د وينو فضله او مدفوع دي، که وينه حرامه وي نو بولي په اولى درجه حرامي دي. قرآن د انسان فضله او مدفوع د غائط په نامه ياد کړي چې دواړو ډولو ته شامل دي، د انسان او حيوان وجود هغه څه له ځان باسي چې په وجود کي ئې پاته کېدا تاوان لري، سا د خولې له لاري، نور هر يو له خپلي خپلي لاري دفع کوي، که اسلام حتى له دې مورِ منع کوي چې په اوبو کي پو کړو نو بولي به څنګه حلالي ګڼي؟! د قرآن له نظره حرام هغه څه دي چې انسان ته مضر وي او تاوان ئې تر ګټې زيات وي، له دې معلومېږي چې په هيڅ حرام شي کي ګټه او شفاء نشته، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به څنګه دغو خلکو ته ويل چې تاسو د اوښانو شيدې او بولي وڅښئ؟! که داسي وی نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به کوم بل چا ته هم داسي ويلي وو او له

انس رضي الله عنه پرته به بل چا هم داسي خبره کړې وه يا به له ابو قلابه پرته بل چا انس رضي الله عنه تا دا وينا منسوب کړې وه. ولي له لکونو صحابه وو او تابعينو او تبع تابعينو يوازي انس رضي الله عنه او ابو قلابه رحمه الله ته دا روايت منسوب شوی؟!

آيا په داسي روايت باندي دومره ستر ستر احکام مرتب کولی شو چي يوازي يوه کس ته منسوب شوی او په الفاظو کي ئې هم دومره شديد توپيرونه شته؟! او هغه هم داسي احکام چي له قرآن سره تعارض لري!! يو ګنده او نجس شی حلال ګڼي او داسي سزا جائز ګڼي چي د قرآن خلاف ده؟!!

172- **حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنَا أَبُو التَّيَّاحِ يَزِيدُ بْنُ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّى قَبْلَ أَنْ يُبْنَى الْمَسْجِدُ فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ.** (بخاري:234)

172- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د جومات تر جوړېدو مخکي به رسول الله صلى الله عليه و سلم د مېږو په پند غالي کي لمونځ کاوو.

تکرار: 428، 429، 1868، 2106، 2771، 2774، 2779، 3932

توپير: په يوه کي كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّى قَبْلَ أَنْ يُبْنَى الْمَسْجِدُ فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ، په يوه کي د دې تر څنګ دا هم راغلي: وَكَانَ يُحِبُّ أَنْ يُصَلِّىَ حَيْثُ أَدْرَكَتْهُ الصَّلاَةُ، وَيُصَلِّى فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ، په بل کي راغلي فَأَقَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فِيهِمْ أَرْبَعَ عَشْرَةَ لَيْلَةً، په

بل كي وَأَنَّهُ أَمَرَ بِبِنَاءِ الْمَسْجِدِ، فَأَرْسَلَ إِلَى مَلاءٍ مِنْ بَنِي النَّجَّارِ فَقَالَ "يَا بَنِي النَّجَّارِ ثَامِنُونِى بِحَائِطِكُمْ هَذَا". قَالُوا لاَ وَاللهِ، لاَ نَطْلُبُ ثَمَنَهُ إِلاَّ إِلَى اللهِ. فَقَالَ أَنَسٌ فَكَانَ فِيهِ مَا أَقُولُ لَكُمْ، قُبُورُ الْمُشْرِكِينَ، وَفِيهِ خَرِبٌ، وَفِيهِ نَخْلٌ، فَأَمَرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِقُبُورِ الْمُشْرِكِينَ فَنُبِشَتْ، ثُمَّ بِالْخَرِبِ فَسُوِّيَتْ، وَبِالنَّخْلِ فَقُطِعَ، فَصَفُّوا النَّخْلَ قِبْلَةَ الْمَسْجِدِ، وَجَعَلُوا عِضَادَتَيْهِ الْحِجَارَةَ، وَجَعَلُوا يَنْقُلُونَ الصَّخْرَ، وَهُمْ يَرْتَجِزُونَ، وَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم مَعَهُمْ وَهُوَ يَقُولُ "اللهمَّ لاَ خَيْرَ إِلاَّ خَيْرُ الآخِرَهْ فَاغْفِرْ لِلأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَهْ "او په بل كي اللهمَّ إِنَّهُ لاَ خَيْرَ إِلاَّ خَيْرُ الآخِرَهْ فَانْصُرِ الأَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَهْ راغلي.

د دې رواياتو خلاصه دا ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د مسجد له جوړولو مخكي د مېړو په پندغالي كي لمونځ كاوو، خو څورلس ورځي وروسته ئې جومات جوړ كړ، د بني نجار قبيلې ته ئې وويل چې دا زمكه راباندي وپلورئ، هغوى وويل: والله چې بيع ئې نه غواړو مگر دا چې د الله تعالى په لار كي ولگول شي، په دې زمكي كي د مشركينو قبرونه وو چې وران كړى شول، د خرما وني وې چې قطع شوې، لوړي ژوري او كندي وې چې آواري كړى شوې، د جومات د قبلې لورى ته ئې د خرما تيران منظم ودرول، (يا ئې تيران په چت واچول او د خرما په څانگو ئې وپوښو)، ارخونه ئې له تيږو جوړ شول، (چې مراد ئې دېوالونه دي)، خلك په داسي حال كي لگيا ول تيږي ئې راوړې چې سرود ئې وايو او رسول الله صلى الله عليه و سلم ورسره وو او ويل ئې: اې بارئ ربه! د آخرت له خيره

پرته بل خير نشته انصارو او مهاجرينو ته بخښنه وکړي. او يا دا چې: اې بارئ ربه! يقيناً چې د آخرت له خيره پرته بل خير نشته انصارو او مهاجرينو ته بری ورکړي.

دې ته مو پام وي چې له دې روايت دا حکم راايستل چې د ميړو او نورو ځارويو په پندغالي کي لمونځ کول مانع نه لري له احتياط لري خبره ده، ځکه چې دا يو استثنائي حالت او د مجبوريت له مخي وو، جومات لا نه وو جوړ شوی، په روايت کي دا وضاحت هم نه دئ شوی چې آيا دا ځای همغه مهال پندغالی وو که تر هغه د مخه، دا هم نه دي ويل شوي چې پندغالی به ئې له پچو صفا کاوو که نه؟ د پاکي او نظافت په اړه د اسلام ډېر تأکيد ته په پام سره ويلی شو چې يا خو له دې ځای ډېر مخکي د پندغالي په توګه استفاده کېده او يا ئې حتماً هغه صفا کاوو. اوس که څوك د ځارويو په پندغالي کي لمونځ کولو ته اړ شي نو د لمانځه ځای دي له ګندګيو پاك کړي بيا دي لمونځ پرې وکړي.

(٥٢) باب: په اوبو او غوړيو کي د نجاست د غورځېدو حکم

173- **حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ مَيْمُونَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم سُئِلَ عَنْ فَأْرَةٍ سَقَطَتْ فِي سَمْنٍ فَقَالَ "أَلْقُوهَا وَمَا حَوْلَهَا فَاطْرَحُوهُ. وَكُلُوا سَمْنَكُمْ".** (بخاري:235)

173- له ميمونه رضي الله عنها روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په غوړيو کي د موږک د غورځېدو په

اړه وپوښتل شو، وئي فرمايل: (مورږک تري وغورځوئ او شاو خوا غوړي هم تري وغورځوئ، نور نو خپل غوړي خورئ).

تکرار: 236، 5538، 5539، 5540

توپير: په يوه کي أَلْقُوهَا وَمَا حَوْلَهَا فَاطْرَحُوهُ. وَكُلُوا سَمْنَكُمْ، په بل کي فَأَمَرَ بِمَا قَرُبَ مِنْهَا فَطُرِحَ ثُمَّ أُكِلَ، په بل کي أَلْقُوهَا وَمَا حَوْلَهَا وَكُلُوهُ او په بل کي خُذُوهَا وَمَا حَوْلَهَا فَاطْرَحُوهُ راغلي، د ټولو مطلب يو دئ او هغه دا چي په غوړيو کي د مورږك د لوېدو حکم دا دئ چي مورږك او شاوخوا غوړي ئې تري وغورځول شي.

دلته څو خبري بايد په پام کي ولرو:

- بخاري دا نه دي ويلي چي دا حکم يوازي د جامدو غوړيو په اړه دئ که د هر راز غوړيو په اړه، دا ئې هم نه دي ويلي چي څومره وخت په کي پاته شوی او حالت ئې څنګه دئ.
- خو له الفاظو معلومېږي چي دا حکم يوازي د جامدو غوړيو او هغه حالت په اړه دئ چي په غوړيو کي نه وي شړېدلی.
- دا خبره جوته ده چي په غوړيو کي نور شيان داسي نه حل کېږي لکه په اوبو کي، ځيني شيان اصلاً په غوړيو کي په هيڅ توګه نه حل کېږي.

174- حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ قَالَ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "كُلُّ كَلْمٍ يُكْلَمُهُ الْمُسْلِمُ فِي سَبِيلِ اللهِ يَكُونُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَهَيْئَتِهَا

إِذْ طُعِنَتْ، تَفَجَّرُ دَمًا، اللَّوْنُ لَوْنُ الدَّمِ، وَالْعَرْفُ عَرْفُ الْمِسْكِ".
(بخاري:237)

174- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (هر ټپ چې مسلمان ئې د خداى په لار كې خوري، د قيامت په ورځ به دا ټپ په همغې بڼې كې وي لكه د ټپې كېدو پر مهال، وينې به تري بهيږي، رنګ به ئې د وينو رنګ وي او بوى به ئې د مشكو).

تكرار: 2803، 5533

توپير: په يوه كې كُلُّ كَلْمٍ يُكْلَمُهُ الْمُسْلِمُ فِي سَبِيلِ الله، په بل كې وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لاَ يُكْلَمُ أَحَدٌ فِي سَبِيلِ الله- وَالله أَعْلَمُ بِمَنْ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِهِ او په بل كې مَا مِنْ مَكْلُومٍ يُكْلَمُ فِي الله إِلاَّ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَكَلْمُهُ يَدْمَى، اللَّوْنُ لَوْنُ دَمٍ وَالرِّيحُ رِيحُ مِسْكٍ، په بل كې يَكُونُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَهَيْئَتِهَا إِذْ طُعِنَتْ، تَفَجَّرُ دَمًا، اللَّوْنُ لَوْنُ الدَّمِ، وَالْعَرْفُ عَرْفُ الْمِسْكِ او په بل كې إِلاَّ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاللَّوْنُ لَوْنُ الدَّمِ وَالرِّيحُ رِيحُ الْمِسْكِ راغلي. د ټولو راوي يو دئ، په الفاظو كې ئې توپيرونه شته، خو مطلب ئې له پورتني روايت سره ورته دئ. خو دا معلومه نه ده چې امام بخاري رحمه الله دا روايت ولې په دې لړ كې راوړى، د دې موضوع له مخكينيو او وروستنيو رواياتو سره په بشپړه توګه توپير لري. او كه ئې مطلب دا وي چې وينه پاكه ده او په جامې ئې پرېوتا هغه نه ناپاكه كوي نو دا ډېر كمزورى استدلال دئ، د وينې د پاكوالي لپاره بايد د رسول الله صلى الله عليه و سلم له قول، فعل او

تقرير نه کوم شاهد وړاندي شي نه دا چي په آخرت کي د شهيد د ويني په څرنګوالي استدلال وشي!! که متيازي ناپاکه وي نو وينه به څنګه پاکه وي؟! متيازي له وينو رابېلېږي، د انسان وينه د تصفيې لپاره بډوګو (پښتورګو) ته درومي او هلته مضر او تاواني توکي د متيازو په بڼه کي تري بېلېږي، که دا برخه ناپاکه وي نو ټوله وينه به څنګه پاکه وي؟ د احتياط تقاضا خو دا ده چي وينه همغسي ناپاکه وګڼل شي چي قرآن ئې د خوراك لپاره ناپاکه او حرامه ګڼي.

(٥٣) باب: په ولاړو اوبو کي بولي

175- **وَبِإِسْنَادِهِ قَالَ "لاَ يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ الَّذِي لاَ يَجْرِى، ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيهِ".** (بخاري:239)

175- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (له تاسو دي هيڅوک په داسي ولاړو اوبو کي چي نه بهيږي او غواړي غسل پکي وکړي بولي (متيازي) نه کوي.

(٥٤) باب: که پر لمونځ کوونکي نجاست واچول شي لمونځ ئې نه فاسديږي

176- **حَدَّثَنَا عَبْدَانُ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ شُعْبَةَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ بَيْنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم سَاجِدٌ قَالَ وَحَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ عُثْمَانَ قَالَ حَدَّثَنَا شُرَيْحُ بْنُ مَسْلَمَةَ قَالَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ**

حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ مَيْمُونٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُودٍ حَدَّثَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ يُصَلِّى عِنْدَ الْبَيْتِ، وَأَبُو جَهْلٍ وَأَصْحَابٌ لَهُ جُلُوسٌ، إِذْ قَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ أَيُّكُمْ يَجِىءُ بِسَلَى جَزُورِ بَنِي فُلاَنٍ فَيَضَعُهُ عَلَى ظَهْرِ مُحَمَّدٍ إِذَا سَجَدَ فَانْبَعَثَ أَشْقَى الْقَوْمِ فَجَاءَ بِهِ، فَنَظَرَ حَتَّى إِذَا سَجَدَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم وَضَعَهُ عَلَى ظَهْرِهِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ وَأَنَا أَنْظُرُ، لاَ أُغَيِّرُ شَيْئًا، لَوْ كَانَ لِي مَنْعَةٌ. قَالَ فَجَعَلُوا يَضْحَكُونَ وَيُحِيلُ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ، وَرَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم سَاجِدٌ لاَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ، حَتَّى جَاءَتْهُ فَاطِمَةُ، فَطَرَحَتْ عَنْ ظَهْرِهِ، فَرَفَعَ رَأْسَهُ ثُمَّ قَالَ "اللهمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ". ثَلاَثَ مَرَّاتٍ، فَشَقَّ عَلَيْهِمْ إِذْ دَعَا عَلَيْهِمْ- قَالَ وَكَانُوا يُرَوْنَ أَنَّ الدَّعْوَةَ فِي ذَلِكَ الْبَلَدِ مُسْتَجَابَةٌ- ثُمَّ سَمَّى "اللهمَّ عَلَيْكَ بِأَبِي جَهْلٍ، وَعَلَيْكَ بِعُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ، وَشَيْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ، وَالْوَلِيدِ بْنِ عُتْبَةَ، وَأُمَيَّةَ بْنِ خَلَفٍ، وَعُقْبَةَ بْنِ أَبِي مُعَيْطٍ". وَعَدَّ السَّابِعَ فَلَمْ يَحْفَظْهُ قَالَ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَقَدْ رَأَيْتُ الَّذِينَ عَدَّ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم صَرْعَى فِي الْقَلِيبِ قَلِيبِ بَدْرٍ. (بخاري:240)

176- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم د بيت الله خوا ته لمونځ كاوو، ابوجهل او ملګري ئې هلته ناست ول، يو بل ته ئې وويل: څوک به لاړ شي چي د بني فلان د اوښي پرېوان راوړي او كله چي محمد صلى الله عليه و سلم سجده وكړي، پر شا ئې وروا‌چوي؟ نو تر ټولو زيات بد بخت (عقبه بن ابي معيط) پاڅېد، د اوښي پېروان ئې راوړ، تر هغه ئې كتل چي رسول

الله صلى الله عليه و سلم سجده وکړه؛ نو هغه ئې د ده پر شا د اوږو تر منځ وغورځاوو، (راوي وايي:) ما کتل، خو هيڅ مي نه شوی کولی، کاش د منع کولو توان مي درلودی، زياتوي: دوی (ابوجهل او ملګري ئې) په خندا شول؛ او (له ډېري خندا به) يو پر بل ورکږېدل، رسول الله صلى الله عليه و سلم همداسي په سجده پروت وو تر هغه چې فاطمه رضي الله عنها راغله او له شا ئې لري وغورځاوو، نو خپل سر ئې لوړ کړ او وئې فرمايل: (خدايه! له قريشو سره پوه شې)، دا خبره ئې درې ځلي تکرار کړه، ابوجهل او ملګري ئې ووېرېدل چې ښېرا ئې ورته وکړه. راوي وايي: دوی عقيده درلوده چې پدې ښار (مکه) کي دعاء قبلېږي، بيا ئې نومونه واخيستل: (خدايه! له ابوجهل سره، عتبه بن ربيعه، شيبه بن ربيعه، وليد بن عتبه، اميه بن خلف او عقبه بن ابي معيط سره پوه شې. خدايه! د دوی هلاکت پر تا دئ). د اوم کس نوم ئې هم اخيستی وو، خو له راوي هېر شوی دئ، راوي وايي: قسم په هغه ذات چې زما سا ئې په واك کي ده ټول هغه کسان چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې نومونه واخيستل، د ټولو مړه جسدونه مي په کندي کي وليدل، د بدر په يوې کندي کي.

تکرار: 240، 520، 2934، 3185، 3960

توپير: په يوه کي كَانَ يُصَلِّى عِنْدَ الْبَيْتِ، وَأَبُو جَهْلٍ وَأَصْحَابٌ لَهُ جُلُوسٌ، إِذْ قَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ أَيُّكُمْ يَجِىءُ بِسَلَى جَزُورِ بَنِي فُلاَنٍ فَيَضَعُهُ عَلَى ظَهْرِ مُحَمَّدٍ إِذَا سَجَدَ فَانْبَعَثَ أَشْقَى الْقَوْمِ فَجَاءَ بِهِ، په بل کي بَيْنَا النَّبِىُّ صلى الله عليه و

سلم سَاجِدٌ وَحَوْلَهُ نَاسٌ مِنْ قُرَيْشٍ جَاءَ عُقْبَةُ بْنُ أَبِى مُعَيْطٍ بِسَلَى جَزُورٍ، فَقَذَفَهُ عَلَى ظَهْرِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم، په يوه کي فَلَمْ يَرْفَعْ رَأْسَهُ فَجَاءَتْ فَاطِمَةُ - عَلَيْهَا السَّلاَمُ - فَأَخَذَتْهُ مِنْ ظَهْرِهِ، وَدَعَتْ عَلَى مَنْ صَنَعَ، په بل کي فَانْطَلَقَ مُنْطَلِقٌ إِلَى فَاطِمَةَ - عَلَيْهَا السَّلاَمُ - وَهْىَ جُوَيْرِيَةٌ، فَأَقْبَلَتْ تَسْعَى وَثَبَتَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم سَاجِدًا حَتَّى أَلْقَتْهُ عَنْهُ، په بل کي حَتَّى جَاءَتْهُ فَاطِمَةُ، فَطَرَحَتْ عَنْ ظَهْرِهِ، په يوه کي اللهمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ، په بل کي اللهمَّ عَلَيْكَ الْمَلأَ مِنْ قُرَيْشٍ، په بل کي اللهمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ، اللهمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ، اللهمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ راغلي، په يوه کي دا قصه نه ده راغلې يوازې دومره ويل شوي: اسْتَقْبَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم الْكَعْبَةَ فَدَعَا عَلَى نَفَرٍ مِنْ قُرَيْشٍ. لکه چې ګورئ په دې روایاتو کي کافي توپيرونه تر سترګو کيږي، ځيني ئې وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په لمانځه ولاړ وو، د قريشو ځيني مشران د ده شاوخوا کي ول، يو ئې له خپله منځه لیږلی چې پيروان راوړي، بيا دومره تم شي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم سجده وکړي او بيا دي دا پيروان پرې واچوي، ځيني يوازې دومره وايي چې عقبه راغی، پيروان ورسره وو؛ او هغه مهال ئې پر رسول الله صلى الله عليه و سلم واچاوو چې هغه په سجده کي وو، ځيني وايي چې يوه نجلۍ لاړه او فاطمه رضي الله عنها ئې له پښې خبره کړه او هغه راغله او دا پيروان ئې لرې کړ او دوی ته ئې ښېرې وکړې، ځيني د نجلۍ د تلو خبره نه کوي، يوازې دا وايي چې فاطمه رضي الله عنها راغله او دا

كار ئې وكړ، د ښپرا خبره هم نه كوي، بلكي يوازي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د دعاء خبره كوي، ځينې ئې يوازي دا خبره كوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم كعبې ته مخامخ د قريشو د مشرانو په خلاف الله تعالى ته دعاء وكړه، په ځينو كي دا خبره هم شوې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د بدر په جګړې كي او هغه مهال چې دغه مشران وژل شوي او په يوې كندې كي غورځول شوي وو هغوى ته په خطاب كي وويل: آيا هغه څه مو وموندل چې الله تعالى ئې وعده درسره كړې وه؟! چا وويل: يا رسول الله له مړو سره خبري كوې؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: دوى تر تاسو زيات زما خبري اوري خو ځواب نشي ويلى! عائشه رضي الله عنها دا وينا په كلكه ردوي او وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي نه وو ويلي، بلكي ويلي وو چې دوى اوس پوه شوي چې د الله تعالى وعده رښتينې وه.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چې په دريو طبقو كي يو يو راوي لري؛ او د متن له پلوه داسي پوښتنې راولاړوي چې ځواب ئې نه دئ ويل شوى، لكه دا: دا خو څو ساعته نيسي چې څوك تر يوه كلي ولاړ شي، يو لرى يا پېروان راوړي او بيا ئې د چا پر شا واچوي، آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم همدومره وخت په لمانځه ولاړ وو او د قريشو مشران هملته منتظر؟!! آيا هغه مهال چا دا جسارت كولى شو چې د كعبې خوا كي داسي كار وكړي، قريشو خو د كعبې درناوى كاوو او د خپل پلار قاتل ته به ئې هم په كعبه كي څه

نه ويل؟! ولي به رسول الله صلى الله عليه و سلم تر هغه په سجده کي پاته کېدو چي يوه نجلۍ ولاړه شي، فاطمه رضي الله عنها خبره کړي او هغه راشي دا پېروان لري کړي؟! آيا دا منلى شو چي عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دا ټوله صحنه په سترګو ليدله او هيڅ غبرګون ئې نه ښودو او د پېروان د لري کولو جسارت ئې نه شو کولى؛ خو فاطمې رضي الله عنها دا کار وکړ؟ آيا الله تعالى پر پيغمبرانو عليهم السلام داسي تحقير او توهين پېرزو کوي؟! آيا د قريشو مشرانو له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره داسي کار کولى شو او د ده د قبيلې د سخت غبرګون وېره ورسره نه وه؟! په قبائلي ټولنو کي خو خلك د خپلوانو د قتل په وړاندي دومره جدي عکس العمل نه ښيي لکه د دوى د کوم کس پر تحقير او سپکاوي چي ئې ښيي، دې خبرو ته په پام سره ويلى شو چي دا روايت د اعتبار وړ نه دئ.

که څوك په دې روايت استناد کوي او وايي: که د چا جامه د لمانځه په منځ کي ناپاکه شوه نو لمونځ ته ئې څه زيان نه رسي او کولى شي خپل لمونځ بشپړ کړي، دا وارد او د منلو وړ استناد نه دئ، دا ځکه چي د بدن پاکوالى، د تن د جامې پاکوالى، د لمانځه د ځاى پاکوالى او د قبلې سموالى د لمانځه له اهمو شرائطو دي، که د لمانځه په منځ کي کوم مهم شرط منتفي شي لمونځ فاسدېږي.

(٥٥) باب: د خولې او پزي د اوبو حکم

177- **حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ بَزَقَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فِي ثَوْبِهِ.** (بخاري:241)

177- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: نبي صلى الله عليه و سلم خپلي لاړي په خپلو جامو كي تو كړي).

تكرار: 405، 412، 413، 417، 531، 532، 822، 1214

توپير: په يوه كي بَزَقَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فِي ثَوْبِهِ، په بل كي أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم رَأَى نُخَامَةً فِي الْقِبْلَةِ، فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَيْهِ حَتَّى رُئِيَ فِي وَجْهِهِ، فَقَامَ فَحَكَّهُ بِيَدِهِ فَقَالَ "إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ فِي صَلاَتِهِ، فَإِنَّهُ يُنَاجِي رَبَّهُ- أَوْ إِنَّ رَبَّهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ- فَلاَ يَبْزُقَنَّ أَحَدُكُمْ قِبَلَ قِبْلَتِهِ، وَلَكِنْ عَنْ يَسَارِهِ؛ او تَحْتَ قَدَمَيْهِ". ثُمَّ أَخَذَ طَرَفَ رِدَائِهِ فَبَصَقَ فِيهِ، ثُمَّ رَدَّ بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ، فَقَالَ "أَوْ يَفْعَلْ هَكَذَا، په بل كي لاَ يَتْفِلَنَّ أَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَلاَ عَنْ يَمِينِهِ، وَلَكِنْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ رِجْلِهِ، په بل كي إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا كَانَ فِي الصَّلاَةِ فَإِنَّمَا يُنَاجِي رَبَّهُ، فَلاَ يَبْزُقَنَّ بَيْنَ يَدَيْهِ وَلاَ عَنْ يَمِينِهِ، وَلَكِنْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ، په بل كي وَإِذَا بَزَقَ فَلاَ يَبْزُقَنَّ بَيْنَ يَدَيْهِ وَلاَ عَنْ يَمِينِهِ، فَإِنَّهُ يُنَاجِي رَبَّهُ. دا توپيرونه د دې غوښتنه كوي چي ووايو: په دغو رواياتو كي دقيق او ارجح ئې هغه دئ چي وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم دا كار خلكو ته د ښودلو لپاره كړى، هغوى ته ئې ويلي: كه په لمانځه كي د لاړو تو كولو ته اړ شوئ نو مه ئې مخي ته تو كوئ او مه ښي لاس ته، بلكي يا ئې كين لاس ته تو كړئ او يا ئې تر پښو لاندي كړئ، بيا ئې د خپل څادر يوه ژۍ راپورته كړې، په هغه كي ئې د تو كولو او يوه برخه پر بلي راتاوولو ښودنه كړې او بيا ئې ويلي: يا دي دغسي

وکړي. په کار دا ده چې يوازې دغه روايت راوړل شي. دې ته مو هم پام وي چې هغه مهال د جومات صحن پوخ نه وو، تر خاورو لاندې کول ئې يو صورت وو، ښه صورت ئې دا دئ چې د ضرورت په وخت کې څوك په خپل دسمال کې تو کړي، دسمال وموښي، بيا ئې له لمانځه وروسته ومينځي.

(٥٦) باب: هغه ښځه چې د خپل پلار له مخ ويني مينځي

178- **حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ قَالَ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ أَبِي حَازِمٍ سَمِعَ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ السَّاعِدِيَّ، وَسَأَلَهُ النَّاسُ وَمَا بَيْنِي وَبَيْنَهُ أَحَدٌ بِأَيِّ شَيْءٍ دُووِيَ جُرْحُ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ مَا بَقِيَ أَحَدٌ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، كَانَ عَلِيٌّ يَجِيءُ بِتُرْسِهِ فِيهِ مَاءٌ، وَفَاطِمَةُ تَغْسِلُ عَنْ وَجْهِهِ الدَّمَ، فَأُخِذَ حَصِيرٌ فَأُحْرِقَ فَحُشِيَ بِهِ جُرْحُهُ.** (بخاري:243)

178- له سهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه روايت دئ چې خلکو پوښتنه تري وکړه: د رسول الله صلى الله عليه و سلم د ټپ علاج په څه سره وشو؟ ده وويل: اوس داسي څوک نه دئ پاته شوي چې په دې اړه تر ما زيات پوه وي، علي رضي الله عنه به په خپل ډال کي اوبه راوړلې او فاطمې رضي الله عنها به د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مبارک مخ ويني مينځلې، پوزى واخيستل شو او وسوزول شو او (ايره) ئې پر ټپ واچول شوه.

دې ته مو پام وي چې دا کار هغه مهال شوى چې د ويني

د ودرولو لپاره له دې پرته بله وسيله نه وه، دې او دې ته ورته کارونو ته بايد د سنت په توګه ونه کتل شي.

تکرار: 2903، 2911، 3037، 4075، 5248، 5722

توپير: په يوه کي كَانَ عَلِيٌّ يَجِيءُ بِتُرْسِهِ فِيهِ مَاءٌ، وَفَاطِمَةُ تَغْسِلُ عَنْ وَجْهِهِ الدَّمَ، فَأُخِذَ حَصِيرٌ فَأُحْرِقَ فَحُشِيَ بِهِ جُرْحُهُ، په بل کي فَقَالَ جُرِحَ وَجْهُ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَكُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهُ وَهُشِمَتِ الْبَيْضَةُ عَلَى رَأْسِهِ، فَكَانَتْ فَاطِمَةُ- عَلَيْهَا السَّلاَمُ- تَغْسِلُ الدَّمَ وَعَلِيٌّ يُمْسِكُ، فَلَمَّا رَأَتْ أَنَّ الدَّمَ لاَ يَزِيدُ إِلاَّ كَثْرَةً أَخَذَتْ حَصِيرًا فَأَحْرَقَتْهُ حَتَّى صَارَ رَمَادا ثُمَّ أَلْزَقَتْهُ، فَاسْتَمْسَكَ الدَّمُ، په بل کي لَمَّا كُسِرَتْ بَيْضَةُ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم عَلَى رَأْسِهِ وَأُدْمِيَ وَجْهُهُ، وَكُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهُ، وَكَانَ عَلِيٌّ يَخْتَلِفُ بِالْمَاءِ فِي الْمِجَنِّ، وَكَانَتْ فَاطِمَةُ تَغْسِلُهُ، فَلَمَّا رَأَتِ الدَّمَ يَزِيدُ عَلَى الْمَاءِ كَثْرَةً عَمَدَتْ إِلَى حَصِيرٍ، فَأَحْرَقَتْهَا وَأَلْصَقَتْهَا عَلَى جُرْحِهِ، فَرَقَأَ الدَّمُ، دغو توپيرونو ته په پام سره ويلی شو چې په دغو رواياتو کي هغه ئې جامع دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د احد په جګړي کي ټپي شو، مخکينی غابنئ ئې مات شو، خود (خول) ئې سر ورټپي کړ، فاطمې رضي الله عنها ټپونه ورمينځل، علي رضي الله عنه اوبه پرې اچولې، کله چې ئې وليدل وينه نه ودريږي نو د پوزي يوه ټوټه ئې وسوزوله او ايرې ئې پر ټپونو واچولې او په همدې سره وينه ودرېده.

(٥٧) باب: مسواک

179- **حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ غَيْلاَنَ بْنِ جَرِيرٍ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم فَوَجَدْتُهُ يَسْتَنُّ بِسِوَاكٍ بِيَدِهِ يَقُولُ "أُعْ أُعْ"، وَالسِّوَاكُ فِي فِيهِ، كَأَنَّهُ يَتَهَوَّعُ.** (بخاري:244)

179- ابو برده رضي الله عنه له خپل پلار روايت کوي چې وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغلم، ومي ليد چې په لاس کې ئې مسواک دئ او پر غاښونو مسواک وهي؛ او په داسي حال کې د ستوني پاکولو غږ کوي چې مسواک ئې په خوله کې وو.

په روايت کې د ستوني پاکولو لپاره د (تهوع) لفظ راغلی چې نه مناسب دئ او نه هغه حالت سم تمثيلوي.

180- **حَدَّثَنَا عُثْمَانُ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَشُوصُ فَاهُ بِالسِّوَاكِ.** (بخاري:245)

180- له حذيفه رضي الله عنه روايت دئ چې وايي کله به چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د شپې له لوري لمانځه ته پاڅېدو په غاښونو به ئې مسواک واهو.

(٥٨) باب: مشر ته د مسواک ورکول

181- **وَقَالَ عَفَّانُ حَدَّثَنَا صَخْرُ بْنُ جُوَيْرِيَةَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "أَرَانِي أَتَسَوَّكُ بِسِوَاكٍ، فَجَاءَنِي**

رَجُلاَنِ أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الآخَرِ، فَنَاوَلْتُ السِّوَاكَ الأَصْغَرَ مِنْهُمَا، فَقِيلَ لِي كَبِّرْ. فَدَفَعْتُهُ إِلَى الأَكْبَرِ مِنْهُمَا". (بخاري:246)

181- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (خوب مي ليدو چي مسواک وهم او دوه کسان راته راغلل، يو ئي له بل مشر وو، کشر ته مي مسواک ورکړ، راته وويل شول: مشر ته ئې ورکړه، نو ما هم مسواک د دوی مشر ته ورکړ).

په دې اړه دوه خبري په پام کي ولرئ: 1- بنايي د حديث اصلي الفاظ داسي وي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم غوښتل مسواك کشر ته ورکړي خو ورته ويل شوي چي مشر ته ئې ورکړه، ځکه چا ته د يوه څه له ورکولو وروسته بېرته ئې ترې اخيستل صحيح نه دي. 2- په دې حديث کي مور ته دا لارښوونه شوې چي که دوه داسي کسان ستاسو مخي ته راشي چي له نورو خواوو سره برابر وي خو يو پر بل مشر وي نو مشر ته بايد ترجيح ورکړی شي.

٥٩- باب: په اوداسه د ويدېدو فضيلت

182- **حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ قَالَ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "إِذَا أَتَيْتَ مَضْجَعَكَ فَتَوَضَّأْ وُضُوءَكَ لِلصَّلاَةِ، ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلَى شِقِّكَ الأَيْمَنِ، ثُمَّ قُلِ اللهمَّ أَسْلَمْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ، وَفَوَّضْتُ أَمْرِى إِلَيْكَ، وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِى إِلَيْكَ، رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ، لاَ مَلْجَأَ وَلاَ مَنْجَا مِنْكَ إِلاَّ إِلَيْكَ، اللهمَّ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ**

الَّذِي أَنْزَلْتَ، وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ. فَإِنْ مُتَّ مِنْ لَيْلَتِكَ فَأَنْتَ عَلَى الْفِطْرَةِ، وَاجْعَلْهُنَّ آخِرَ مَا تَتَكَلَّمُ بِهِ". قَالَ فَرَدَّدْتُهَا عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَلَمَّا بَلَغْتُ "اللهمَّ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ". قُلْتُ وَرَسُولِكَ. قَالَ "لاَ، وَنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ". (بخاري:247)

182- له براء بن عازب رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (كله چي د خوب بسترې ته ځې نو د لمانځه د اوداسه په شان اودس وكړه، بيا په ښۍ ډډه څمله او ووايه: اې خدايه! ما خپل مخ تا ته تسليم كړى، خپل كار مي تا ته سپارلى، شا مي ستا لوري ته تكيه كړې، له تا هيلي او وېرې سره، ستا له نيوني له دې پرته بل پناځى او ژغورنځى نشته چي تا ته رجوع وكړو، اې خدايه! هم مي په هغه كتاب ايمان راوړى چي تا نازل كړى؛ او هم په هغه نبي چي تا رالېږلى، كه ته په همدې شپه ومرې نو په فطرت مړ شوى يي (په ايمان مړ شوى يې) او دغه دعاء تر ويدېدو مخكي خپله وروستۍ وينا وگرځوه. راوي وايي: دا دعاء مي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته تكرار كړه، كله چي دې ځاى ته ورسېدم (اللهم آمنت بكتابک الذي انزلت، ما وويل و رسولک، رسول الله صلى الله عليه و سلم راته وفرمايل: (نه، و نبيک الذي ارسلت).

تكرار: 6311، 6313، 6315، 7488

توپير: په يوه كي قَالَ رَسُولُ الله- صلى الله عليه وسلم، په بل كي أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم أَمَرَ رَجُلاً، په بل

كي أَوْصَى رَجُلاً فَقَالَ، په بل کي كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ او په بل کي يَا فُلاَنُ إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ، په يوه کي أَسْلَمْتُ وَجْهِى إِلَيْكَ، په بل کي أَسْلَمْتُ نَفْسِي اليك و وجهت وجهي اليك، په يوه کي دا هم اضافه شوي وَإِنْ أَصْبَحْتَ أَصَبْتَ أَجْرًا.

٥ـ د غسل کتاب

(١) باب: له غسل مخکي اودس

183- **حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ بَدَأَ فَغَسَلَ يَدَيْهِ، ثُمَّ يَتَوَضَّأُ كَمَا يَتَوَضَّأُ لِلصَّلاَةِ، ثُمَّ يُدْخِلُ أَصَابِعَهُ فِي الْمَاءِ، فَيُخَلِّلُ بِهَا أُصُولَ شَعَرِهِ ثُمَّ يَصُبُّ عَلَى رَأْسِهِ ثَلاَثَ غُرَفٍ بِيَدَيْهِ، ثُمَّ يُفِيضُ الْمَاءَ عَلَى جِلْدِهِ كُلِّهِ.** (بخاري:248)

183- د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مېرمني عائشې رضي الله عنها روايت دئ: کله چې به رسول الله صلى الله عليه و سلم له جنابت غسل کاوو، نو لومړی به ئې لاسونه مينځل، بيا به ئې د لمانځه د اوداسه په څېر اودس کاوو، بيا به ئې ګوتي په اوبو کي غوټه کړې او د وېښتانو ېخونه به ئې پرې خلال کړل، بيا به ئې پر خپل سر درې لپي اوبه

واچولي، بيا به ئې پر ټول بدن اوبه واچولي.

تکرار:262، 272

توپير: په يوه کي فَيُخَلِّلُ بِهَا أُصُولَ شَعَرِهِ ثُمَّ يَصُبُّ عَلَى رَأْسِهِ ثَلاَثَ غُرَفٍ بِيَدَيْهِ، په بل کي ثُمَّ يُخَلِّلُ بِيَدِهِ شَعَرَهُ،حَتَّى إِذَا ظَنَّ أَنْ قَدْ أَرْوَى بَشَرَتَهُ، أَفَاضَ عَلَيْهِ الْمَاءَ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ يو ئې لنډ دئ يوازي دا په کي راغلي: إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ غَسَلَ يَدَهُ.

184- **حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ عَنْ كُرَيْبٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَتْ تَوَضَّأَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وُضُوءَهُ لِلصَّلاَةِ غَيْرَ رِجْلَيْهِ، وَغَسَلَ فَرْجَهُ، وَمَا أَصَابَهُ مِنَ الأَذَى، ثُمَّ أَفَاضَ عَلَيْهِ الْمَاءَ، ثُمَّ نَحَّى رِجْلَيْهِ فَغَسَلَهُمَا، هَذِهِ غُسْلُهُ مِنَ الْجَنَابَةِ.** (بخاري:249)

184- د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مېرمني ميموني رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د لمانځه د اوداسه په شان اودس وکړ، خو پښې ئې ونه مينځلې، عورت ئې له ناپاکيو ومينځو، ورپسې ئې پر ځان اوبه واړولې، بيا ئې پښې يوې خوا ته کړې او وئې مينځلې، دا ئې له جنابت غسل وو.

تکرار: 257، 259، 260، 265، 266، 274، 276، 281

توپير: په يوه کي تَوَضَّأَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم

وُضُوءَهُ لِلصَّلاَةِ غَيْرَ رِجْلَيْهِ، وَغَسَلَ فَرْجَهُ، وَمَا أَصَابَهُ مِنَ الأَذَى، په بل کي فَغَسَلَ يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا، ثُمَّ أَفْرَغَ عَلَى شِمَالِهِ فَغَسَلَ مَذَاكِيرَهُ، ثُمَّ مَسَحَ يَدَهُ بِالأَرْضِ، ثُمَّ مَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَغَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ، ثُمَّ أَفَاضَ عَلَى جَسَدِهِ، ثُمَّ تَحَوَّلَ مِنْ مَكَانِهِ فَغَسَلَ قَدَمَيْهِ. ثُمَّ أُتِيَ بِمِنْدِيلٍ، فَلَمْ يَنْفُضْ بِهَا، په بل کي ثُمَّ دَلَكَ بِهَا الْحَائِطَ ثُمَّ غَسَلَهَا، ثُمَّ تَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلاَةِ، فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ غُسْلِهِ غَسَلَ رِجْلَيْهِ، په بل کي ثُمَّ ضَرَبَ يَدَهُ بِالأَرْضِ- أَوِ الْحَائِطِ- مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا، په بل کي دا هم راغلي فَنَاوَلْتُهُ خِرْقَةً، فَقَالَ بِيَدِهِ هَكَذَا، وَلَمْ يُرِدْهَا.

لکه چې ګورئ په دې روایاتو کي تعارض تر سترګو کیږي، یو ئې استنجاء له اودس وروسته ښیي او بل ئې تر اودس مخکي، یو له استنجاء وروسته لاس په خاوري موښل یادوي خو، په بل کي دا خبره نشته، په یوه کي تر غسل مخکي د پښو له مینځلو پرته بشپړ اودس یادوي او بل کي له مسحي او پښو مینځلو پرته اودس، دغو توپیرونو ته په پام سره ویلی شو چې ارجح ئې 274 او 276 دي چې استنجاء تر نور اودس مخکي، بیا لاس په خاورو موښل او مینځل او بیا بشپړ اودس له پښو پرته او بیا د ټول ځان مینځل او په پای کي د پښو مینځل په کي راغلي.

دې ته مو پام وي چې په دې روایاتو کي ویل شوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم له غسل وروسته ځان په ځان پاك نه دئ وچ کړی، خو په نورو کي دا هم راغلي چې ځان ئې پرې وچ کړی.

(۲) باب: له خپلي مېرمني سره غسل

185- **حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ مِنْ قَدَحٍ يُقَالُ لَهُ الْفَرَقُ.** (بخاري:250)

185- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: ما او رسول الله صلى الله عليه و سلم له يوه داسي لوښي چې (فرق) نومېدو يو ځای غسل کاوو.

يادونه: فرق داسي يو لوښی وو چې تقريباً اوه ليتره اوبه به په کې ځائېدلې.

تکرار: 261، 263، 273، 299، 5956، 7339

توپير: په يوه کې تَخْتَلِفُ أَيْدِينَا فِيهِ راغلي او په نورو کې نشته، په يوه کې مِنْ جَنَابَةٍ او په بل کې كِلاَنَا جُنُبٌ، په يوه کې نَغْرِفُ مِنْهُ جَمِيعًا، په بل کې مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ مِنْ قَدَحٍ يُقَالُ لَهُ الْفَرَقُ او په بل کې هَذَا الْمِرْكَنُ فَنَشْرَعُ فِيهِ جَمِيعًا راغلي.

(۳) باب: په يوه پيمانه اوبو غسل کول

186- **حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الصَّمَدِ قَالَ حَدَّثَنِي شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو بَكْرِ بْنُ حَفْصٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا سَلَمَةَ يَقُولُ دَخَلْتُ أَنَا وَأَخُو عَائِشَةَ عَلَى عَائِشَةَ فَسَأَلَهَا أَخُوهَا عَنْ غُسْلِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَدَعَتْ بِإِنَاءٍ نَحْوًا مِنْ صَاعٍ، فَاغْتَسَلَتْ وَأَفَاضَتْ عَلَى رَأْسِهَا، وَبَيْنَنَا وَبَيْنَهَا حِجَابٌ.** (بخاري:251)

186- له ابو سلمه روايت دئ چې د عائشې رضي الله عنها

رضاعي ورور د رسول الله صلى الله عليه و سلم د غسل په اړه تري پوښتنه وکړه، نو هغې د يوې صاع (پيمانې) په اندازه يو لوښی راوغوښت؛ او په داسي حال کي چي د دې او دوی تر منځ پرده وه غسل ئې وکړ او اوبه ئې پر سر واړولې.

دا روايت محدودو نورو کتابونو هم له همدې راوي راوړی خو داسي معلومېږي چي په الفاظو کي ئې څه کمی زياتی راغلی، په اوسنی بڼې کي داسي پوښتنې راولاړوي چي ځواب ئې نه مومو، لکه دا چي ولي به عائشې رضي الله عنها غسل کولو؟ پوښتونکو خو هغه نه ليدله نو څنګه به د هغې له غسل نه پوهېدل چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم غسل څنګه وو؟ ښايي د روايت اصلي بڼه داسي وي چي ابو سلمه او د عائشې رضاعي ورور په ګډه ورغلي، د پردې له شا ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د غسل په اړه تري پوښتنه کړې، هغې د اوبو داسي لوښی راغوښتی چي يوه صاع اوبه په کي وې او دوی ته ئې ويلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به په دومره اوبو غسل کاوو، دا مطلب له يوه نه بل ته په انتقال کي بدل شوی او دغه بڼه ئې غوره کړې.

187- **حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ قَالَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو جَعْفَرٍ أَنَّهُ كَانَ عِنْدَ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ الله هُوَ وَأَبُوهُ، وَعِنْدَهُ قَوْمٌ فَسَأَلُوهُ عَنِ الْغُسْلِ. فَقَالَ يَكْفِيكَ صَاعٌ. فَقَالَ رَجُلٌ مَا يَكْفِينِي. فَقَالَ جَابِرٌ كَانَ يَكْفِي مَنْ هُوَ أَوْفَى مِنْكَ شَعَرًا، وَخَيْرٌ مِنْكَ، ثُمَّ أَمَّنَا فِي ثَوْبٍ.** (بخاري:252)

187- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي يوه سړي د غسل په اړه پوښتنه تړې وکړه؟ نو ده ورته وويل: د غسل لپاره يوه صاع (پيمانه) اوبه درته کافي دي، هغه سړي وويل: دا خو زما لپاره نه بس کيږي. جابر رضي الله عنه وويل: دا اندازه اوبه به د هغه چا لپاره بس کېدې چي هم ئې وپښتان تر تا زيات وو او هم له تا غوره وو (مقصد ئې رسول الله صلى الله عليه و سلم وو)، بيا په داسي حال کي جابر رضي الله عنه د دوی امامت وکړ چي يوه جامه ئې په تن وه.

تکرار: 255، 256

توپير: په يوه کي فَقَالَ يَكْفِيكَ صَاعٌ، په بل کي كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يُفْرِغُ عَلَى رَأْسِهِ ثَلاَثًا، په بل کي يَأْخُذُ ثَلاَثَةَ أَكُفٍّ وَيُفِيضُهَا عَلَى رَأْسِهِ ثُمَّ يُفِيضُ عَلَى سَائِرِ جَسَدِهِ، په بل کي فَقَالَ لِي الْحَسَنُ إِنِّي رَجُلٌ كَثِيرُ الشَّعَرِ. فَقُلْتُ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم أَكْثَرَ مِنْكَ شَعَرًا، په بل کي كَانَ يَكْفِي مَنْ هُوَ أَوْفَى مِنْكَ شَعَرًا، وَخَيْرٌ مِنْكَ راغلي، ګډ مطلب ئې دا دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به په يوه صاع اوبو غسل کاوو، لومړی به ئې پر خپل سر درې لپې اوبه توی کړې بيا به ئې ټول بدن ومينځلو. کله چي پوښتونکي ويلي چي زما وپښتان زيات دي او دومره اوبه راته بس نه دي نو هغه ته ئې ويلي: د پيغمبر عليه السلام هم وپښتان تر تا زيات وو او هم ئې تقوی، که هغه ته دومره اوبو کفايت کاوو نو تا ته هم کفايت کوي.

(٤) باب: پر سر دري ځلي اوبه تويول

188- **حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ صُرَدٍ قَالَ حَدَّثَنِي جُبَيْرُ بْنُ مُطْعِمٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "أَمَّا أَنَا فَأُفِيضُ عَلَى رَأْسِي ثَلاَثًا". وَأَشَارَ بِيَدَيْهِ كِلْتَيْهِمَا.** (بخاري:254)

188- له جبير بن مطعم رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (زه مي پر سر دري ځلي اوبه اچوم) او په دواړو لاسونو سره ئې اشاره وکړه.

(٥) باب: له غسل وروسته د عطر او د سر د غوړو کارول

189- **حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنْ حَنْظَلَةَ عَنِ الْقَاسِمِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ دَعَا بِشَيْءٍ نَحْوَ الْحِلاَبِ، فَأَخَذَ بِكَفِّهِ، فَبَدَأَ بِشِقِّ رَأْسِهِ الأَيْمَنِ ثُمَّ الأَيْسَرِ، فَقَالَ بِهِمَا عَلَى رَأْسِهِ.** (بخاري:258)

189- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: کله چي به رسول الله صلى الله عليه و سلم غسل وکړ، نو حلاب ډوله يو لوښی به ئې وغوښت، بيا به ئې په رغوي کي څه تري واخيستل، لومړی به ئې د سر ښی اړخ بيا کيڼ اړخ او بيا په دواړو سره ټول سر وموښو.

يادونه: حلاب منګوټي ته ورته لوښی وو چي هغه وخت به خلکو څاروي په کي لوسل (لوشل)، دې ته ورته لوښو

کي به ئې تېل او غوړي ساتل. ابن رجب د صحيح بخاري په شرحي کي ليکلي: "... د دې روايت په اړه د صحيح بخاري له تبويب (تر عنوان لاندي تنظيمولو) معلومېږي چې ده له (حلاب) کوم ډول عطر يا غوړي تعبير کړي؛ او دا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به له غسل وروسته پر خپلو وېښتانو وهل؛ خو يقيناً چې علماءو دا د بخاري رحمه الله ناآشنا خبره ګڼلې او ده ته ئې په دې اړه د وهم نسبت کړی؛ په دغو علماءو کي خطابي، اسماعيلي او ځيني نور شامل دي. له (الحلاب) هغه لوښی مراد ده چې خلکو به ځاروي په کي لوشل، رسول الله صلى الله عليه و سلم به په همداسي لوښي سره غسل کولو.

(٦) باب: د جماع تکرار

190- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ وَيَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْتَشِرِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ ذَكَرْتُهُ لِعَائِشَةَ فَقَالَتْ يَرْحَمُ اللهُ أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ، كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم، فَيَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ، ثُمَّ يُصْبِحُ مُحْرِمًا يَنْضَخُ طِيبًا. (بخاري: 267)

190- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: ما به په رسول الله صلى الله عليه و سلم باندي عطر يا خوشبويي وهله؛ او هغه به له خپلو مېرمنو سره يو ځای کېدو؛ او سهار به په داسي حال کي چې احرام به ئې تړلی وو د خوشبويۍ بوی به تر ې لګېدو.

دې ته مو پام وي چې دا په احرام پوري مربوط روايت

دئ او مطلب ئې دا دئ چې که له احرام مخکې عطر استعمال شي او اثر ئې پاته شي نو پروا نه کوي، له احرام وروسته به د عطرو له استعمال ډډه کېږي. خو د ترجمة الباب او روايت تر منځ هيڅ مناسبت نشته.

191- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ قَتَادَةَ قَالَ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَدُورُ عَلَى نِسَائِهِ فِي السَّاعَةِ الْوَاحِدَةِ مِنَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَهُنَّ إِحْدَى عَشْرَةَ. قَالَ قُلْتُ لأَنَسٍ أَوَكَانَ يُطِيقُهُ قَالَ كُنَّا نَتَحَدَّثُ أَنَّهُ أُعْطِيَ قُوَّةَ ثَلاَثِينَ. وَقَالَ سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ إِنَّ أَنَسًا حَدَّثَهُمْ تِسْعُ نِسْوَةٍ. (بخاري:268)

191- له انس رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به د شپې او يا د ورځې په يوې برخې کې له خپلو ټولو مېرمنو سره يو ځای کېدو؛ او د مېرمنو شمېره ئې يولس او په بل روايت نه (۹) وه، انس رضي الله عنه ته وويل شول: آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم دومره طاقت درلود؟ ده وويل: مونږ به سره ويل چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د دېرشو کسانو قوت او طاقت ورکړی شوی.

تکرار: 284، 5068، 5215

توپير: په يوه کې يَدُورُ عَلَى نِسَائِهِ فِي السَّاعَةِ الْوَاحِدَةِ مِنَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ او په بل کې كَانَ يَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ فِي اللَّيْلَةِ الْوَاحِدَةِ، په يوه کې وَلَهُ يَوْمَئِذٍ تِسْعُ نِسْوَةٍ او په بل کې وَهُنَّ إِحْدَى عَشْرَةَ راغلي. لکه چې ګورئ په دغو

روایاتو کي تعارض دئ، یو ئې وایي په شپه او ورځ کي او بل ئې وایي په یوه شپه کي، یو ئې وایي چي یولس وې او بل ئې وایي چي نه (9) وې!!

دا روایت د سند له مخي تر ټولو زیات غریب روایت دئ، ځکه په صحابه وو، تابعینو او تبع تابعینو کي یوازي یو یو راوي لري؛ او د متن له مخي داسي دئ چي هیڅ وزن او اعتبار نه لري، ځکه راوي ته داسي خبره منسوب شوې چي په هیڅ توګه نشي تري خبرېدی، انس رضي الله عنه څه پوهېدو چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم او د هغه د مېرمنو تر منځ څه تېرېدل؟! چا دا خبره ورته کړې؟ څنګه تري خبر شوی؟! په کار خو دا وه چي دغه روایت ته په پام سره معاذ بن هشام د ضعیفو او غیر ثقه راویانو په جمعي کي نیول شوی وی او هر هغه روایت یوې خوا ته پرېښودل کېدی چي د ده له لوري روایت شوی.

بخاري نه دا ویلي چي کوم روایت صحیح دئ او نه ئې هغو جدي پوښتنو ته ځواب ویلی چي په دې اړه راولاړېږي.

دا روایت دوه برخي لري، یوه ئې دا چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به د ورځي یا د شپې په کومي برخي کي په خپلو ټولو مېرمنو راګرځېدو، دا برخه په ځینو نورو روایاتو کي هم راغلې او مطلب ئې دا دئ چي د ټولو پوښتنه به ئې کوله، په دې کي دقیقه خبره دا ده چي کله به ئې مازدیګر دا کار کاوو او کله تر ماښام وروسته. بله برخه ئې انس رضي الله عنه ته منسوب دا دوه ویناوي دي: 1- رسول الله صلی الله علیه و سلم یا نه (9) یا یولس (11) مېرمني درلودې او ګواکي په همدې وخت کي به ئې له ټولو سره نژدېکت کاوو!

2- دا ځکه چې مورږ به ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د دېرشو کسانو طاقت ورکړی شوی دئ. د دې دواړو خبرو په اړه باید ووایو چې دا په بشپړه توګه بې بنسټه او د حقیقت خلاف خبري دي، په څو دلائلو:

راوي له دې خبر نه دئ چې په یوه وخت کې د پیغمبر علیه السلام په حرم کې څو مېرمني وې، په خپله وایي چې نه یا یولس! څوك چې له دې خبر نه وي نو له دې به څنګه خبرېدو چې له خپلو مېرمنو سره د لیدو پر مهال څه تېر شوي، پیغمبر علیه السلام خو خاوند او مېرمن له دې منع کړي چې د خپل خلوت خبري د بل چا په وړاندي وکړي، د خلوت له خبرو له خاوند او مېرمني پرته بل هیڅوك نه خبرېږي، د راوي د دې ادعاء مرجع کومه ده؟ چا دا خبره ورته کړې؟

نه قرآن دا خبره کړې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د دېرشو کسانو جنسي قوت درلود او نه پیغمبر علیه السلام په خپله دا خبره کړې ده، نو راوي د کوم دلیل له مخې دا ادعاء کړې ده؟

قرآن خو وایي چې پیغمبر علیه السلام به کله د شپې له دریو دوه برخي، کله نیمایي شپه او کله یوه برخه په لمانځه او د قرآن په تلاوت تېروله (إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنى مِن ثُلُثَيِ اللَّيْلِ وَ نِصفَهُ وَ ثُلُثَهُ) او د ورځې له پلوه به هم د دعوت په سخت کار کې مصروف وو (ان لك فِي النهار سبحاً طويلاً)، ګڼ شمېر روایات هم وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ډېر ځلي له خپلو مېرمنو اجازه غوښتې ده چې د دوی د وار شپه په عبادت تېره کړي، دا روایت خو په

بشپړه توګه د قرآن او دغو روایاتو له وینا سره تعارض لري.

د احادیثو په کتابونو کي خو باید یا د رسول الله صلی الله علیه و سلم وینا، یا فعل، یا هغه وینا او فعل چې رسول الله صلی الله علیه و سلم اوږدلې او لیدلی خو تردید ئې نه دئ کړی، راوړل شي، د هر چا وینا د حدیث په نامه راوړل خو د دې روایت په څېر ډېري ستونزي راولاړوي.

د دې روایت په دوهمي برخي کي انس رضي الله عنه ته منسوب ویناوي داسي دي چې هیڅ مسلمان باید د هغوی د ویلو جسارت ونه کړي، دا هم د عقل خلاف دي، هم د فطرت او هم د حقیقت، دا د رسول الله صلی الله علیه و سلم په شأن کي جسارت او هتك حرمت دئ، هغه نه پوهیږي چې که دښمنانو ته داسي خبري په لاس ورغلې نو د اسلام په ضد به څومره استفاده تري کوي؟!! څوك چې دا خبره په خوله راوړي باید د رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه حدیث ئې مخي ته ودرېږي چې وایي: چا چې ما ته داسي څه منسوب کړل چې ما نه وي ویلي د جهنم اور ته دي چمتو شي. داسي خبري هغه څوك کولی شي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د تعدد زوجاتو له حکمت او فلسفې بې خبره وي او ګمان کوي چې د دې وجه جنسي قوت وو؛ نه هغه ستر مصلحت چې په دې کار کي نغښتی وو. راشئ وګورو چې د پیغمبر علیه السلام د ودونو حقیقت څنګه وو؟ ولي هغه ته د "نه"ښځو د نکاح اجازه ورکړی شوې، د دې دلیل څه دئ او دا کار په کومي زمانې کي او د پیغمبر علیه السلام د مبارك ژوند په کوم پړاو کي تر سره شوی؟

ټولو ته جوته ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په پنځه ويشت کلنۍ کې واده وکړ، "خديجه رضي الله عنها د ده لومړۍ بي بي څلوېښت کلنه وه، د هغې تر وفات پورې ئې بله ښځه نه ده کړې، تر پنځوس کلنۍ پورې ئې يوازې يوه ښځه درلوده، د خديجې رضي الله عنها له وفات وروسته ئې سوده رضي الله عنها چې کونډه وه، په نکاح کړه، سوده له لومړيو مسلمانانو وه، له خپل مخکيني مېړه سره ئې يو ځای حبشې ته هجرت وکړ او د هجرت سختي شېبې او کړاوونه ئې وګالل، نه ئې مال درلود او نه جمال او پېغلتوب، امتياز ئې قوي ايمان او د ايمان په لار کې قرباني وو، پيغمبر عليه السلام صرف يوه ښځه په پېغلتوب کې کړې. نوري بيبياني ئې کونډې وې، هره يوه ئې د يوه لوی اجتماعي مصلحت لپاره په نکاح کړې، شايد د حفصه رضي الله عنها د نکاح څرنګوالی د پاتې ودونو د موخو لپاره ښه مثال وي:

حفصه رضي الله عنها د عمر رضي الله عنه لور وه، مخکيني مېړه ئې د بدر په جګړې کې برخه اخيستې وه، هغه وفات شو، عمر رضي الله عنه، ابوبکر او عثمان رضي الله عنهما ته ورغی او له هغوی ئې وغوښتل چې حفصه په نکاح کړي، خو دوی د خپلو معاذيرو په وجه ډډه وکړه، عمر رضي الله عنه دا مشکل له پيغمبر عليه السلام سره ياد کړ او هغه پدې خاطر له حفصې رضي الله عنها سره د نکاح اراده وکړه چې له خپل نژدې او مخلص ملګري سره د يوې داسي ستونزې په حل کې مرسته وکړي چې نورو ورته حل نه کړی شوه.

همدا راز زينب بنت خزيمة رضي الله عنها چي مېړه ئې د احد په جګړي کي په شهادت ورسېد، عمر خوړلې کونډه وه، په نېکو کارونو کي هومره مشهوره وه چي خلکو به د "بې وزلو د مور"په نامه يادوله، پيغمبر عليه السلام هغه پدې خاطر ځانته نکاح کړه چي له يوې خوا ئې د يوه بدري مجاهد په اړه خپله خواخوږي ښودلې وي او له بلي خوا ئې د يوې داسي نومیالی، خيږي او با ايمانه ښځي ستونزه حل کړې وي. دا نېکه بي بي يوازي دوه کاله نور ژوندۍ وه.

همدا راز ام سلمه چي 6 اولاده ئې درلودل، مېړه ئې د احد په جګړي کي زخمي شو، د بلي جګړي په دوران کي د ده زوړ پرهار پرې شو او له همدې وفات شو، پيغمبر عليه السلام د ده په مړيني هومره خواشينی شو چي اوښکي ئې توی شوې، د ده له مړيني 4 مياشتي وروسته ئې ام سلمې ته څوك د خطبې لپاره ورولېږو، هغې خپل عذر داسي وړاندي کړ: زه عمر خوړلې يم، ډېر اولادونه لرم، نه غواړم ستا د اذيت باعث شم. خو پيغمبر عليه السلام غوښتل پدې نکاح سره مسلمانانو ته د خپلو ديني ورونو په نسبت د وفامنۍ او د کونډو او يتيمانو د پالنې او روزنې هېرېدونکې اسوه وړاندي کړې. ام سلمې ته ئې قناعت ورکړ او دا نکاح ترسره شوه. د پيغمبر عليه السلام ټول ودونه همداسي وو.

په دې ودونو کي يو بل ستر مصلحت هم مضمر وو او هغه دا چي د پيغمبر عليه السلام د بيبيانو له لارې د دين يوه لويه برخه مسلمانانو ته رسېدلې، دوی د نورو ښځو لپاره د ښوونکو حيثيت درلود، نورو ښځو به له دوی دين زده کاوو، که تاسو د رواياتو کتابونه وڅېړئ په څرګنده به

وګورئ چې د دې کتابونو په هر مخ کې له همدې بیبیانو یو په بل پسې روایتونه ستاسو مخې ته راځي.

د تعدد ازواج وجه د جنسي قوت زیاتوالی نه ده، بلکې وجه ئې دا ده چې په دې سره د ټولنې یوه لویه ستونزه حل کېږي، د کونډو او یتیمانو د کفالت په موخه خلکو ته تر څلورو ښځو اجازه ورکړی شوې، قرآن په هغه ځای کې د تعدد زوجات یادونه کوي چې د یتیمانو د کفالت موضوع څېړي. همدا وجه ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له یوې پرته نورې ټولې کونډې په نکاح کړې دي.

زه حیران یم چې مور ځنګه د احادیثو په کتابونو کې داسي بې بنسټه خبرې راوړې چې زمور د ګران او محبوب پیغمبر محمد صلی الله علیه و سلم په اړه داسي ژبه په کې کارول شوې!! په کار خو دا وه چې د دې روایت په وجه ټول هغه کسان بې اعتباره ګڼل شوي وی او نور روایات ئې هم له اعتباره ساقط شمېرل شوي وی چې د دې روایت د اسنادو په لړ کې د هغوی نومونه راغلي، د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه دا وینا خو څه عادي خبره نه ده، څوك چې دا روایت ګوري نو د پیغمبر علیه السلام په اړه به ئې تصور دا وي چې هغه خپل زیات وخت، په شپه ورځ کې نژدې نیمایي، له خپلو مېرمنو سره او هغه هم په جنسي تعلق کې تېراوو!! نعوذ بالله من ذالك!!! ما ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه داسي خبرې همغسي معلومېږي لکه چې یهودانو د داؤد علیه السلام په اړه وکړې او په محرف تورات کې ئې ولیکل چې هغه نه نوي مېرمني درلودې او سلمه ئې هم وکړه، خو دا د هغه چا مېرمن وه

چې يو مخلص جنګيالی وو، داؤد عليه السلام امر وکړ چې هغه د جنګ لومړي خط او خطرناك لوري ته ولېږئ چې ووژل شي او مېرمن ئې دی په نکاح کړي، بايبل د داؤد او بتشبع (د سليمان عليه السلام مور) تر عنوان لاندي هغه د يوه دروند پيغمبر په توګه نه بلکي (نعوذ بالله) د يوه عياش پاچا په څېر انځوروي او ليکي: يوه ورځ مازديګر داؤد په خپل قصر کي د بام سر ته وخوت چې آزاده هوا تنفس کړي، قدم ئې واهو چې ناڅاپه ئې سترګي په يوې ښکلې ښځې ولګېدې چې لمبېده، داؤد يو څوك ولېږو چې پوښتنه وکړي دا ښځه څوك ده، معلومه شوه چې نوم ئې بتشبع او د اوريا مېرمن ده، نو داؤد څو کسان ورولېږل او دا ښځه ئې د ده قصر ته راوستله او داؤد ورسره ځملاست... بتشبع ولمبېده... او کور ته ولاړه... څه وخت وروسته پوه شوه چې حامله ده، نو داؤد ته ئې د دې خبري اطلاع ورکړه... داؤد د ښځي مېړه اوريا راوغوښت، (دی د جنګ له ميدانه راستون شوی وو)، داؤد د جنګ د وضعيت په اړه څه پوښتني ترې وکړې... بيا ئې رخصت کړ او د ده له تلو وروسته ئې څه تحفې هم کور ته ورولېږلې... اوريا شپه د قصر په خوله کي له ساتونکو سره تېره کړه... داؤد خبر شو او دی ئې راوغوښت او ترې وئې پوښتل: ولي دي شپه په کور کي تېره نه کړه؟... ده ورته وويل: فوځ د عهد له صندوق سره په بېديا کي دي زه څنګه کور ته ولاړ شم او شپه له خپلي مېرمني سره تېره کړم!! داؤد ورته وويل: ډېر ښه! نن شپه دلته پاته شه او سبا بېرته د جنګ ميدان ته ولاړ شه، داؤد دی مابنامني ته راوبالو، په شرابو ئې مست

کړ، خو سره له دې کور ته د تلو پر ځای هملته پاته شو... سهار داؤد د یوآب په نامه خط ولیکو او د اوریا په لاس ئې ورولېږو...په خط کې ئې لیکلي وو: کله چې جګړه توندې شي اوریا لومړي خط ته ولېږه او یوازې ئې پرېږده چې ووژل شي!!! یوآب همداسي وکړل او اوریا ووژل شو!!... یوآب اطلاع ورکړه او ده په ځواب کې خبر ورولېږو چې ستا له کاره راضي یم!! بتشبع د ماتم ورځې تېرې کړې، بیا داؤد قصر ته راوسته او په نکاح ئې کړه...خدای په دې کار ناراضه شو او ناتان نبي ئې داؤد ته له دې پیغام سره ولېږو: په یوه ښار کې دوو کسانو ژوند کاوو، یو فقیر وو او بل غني، شتمن دېر څاروي درلودل او نېستمن یوازې یوه سپرلۍ درلوده... یوه ورځ د شتمن کور ته مېلمه راغی خو ده د دې پر ځای چې خپل کوم څاروی ورته حلال کړي د فقیر سپرلۍ ئې ورته حلاله کړه...داؤد وویل: په خدای قسم چا چې دا کار کړی وي باید ووژل شي!! په دې وخت کې ناتان نبي ورته وویل: هغه شتمن ته یې!!... تا اوریا وواژو او د ده مېرمن دي ځان ته نکاح کړه... نو زه به هم ستا په مېرمنو همداسي حالت راولم، د ګاونډیو په لاس کې به پرېوځي او هغوی به په رنا ورځ ورسره ځملي... داؤد اعتراف وکړ... ناتان ورته وویل: خدای هم ته وبخښلې او د دې ګناه په سبب به تا نه هلاکوي خو ستا دا زوی به ومري!! همداسي وشول...ماشوم مړ شو، خو بتشبع بیا حامله شوه، زوی ئې وزېږاوو او نوم ئې سلیمان پرې کښېښود...

د پیغمبرانو علیهم السلام په اړه د بایبل له دې تورونو او

د هر يوه په ضد د داسي کرکجني ژبي له کارولو معلومېږي چې دا کار عمداً او په دې خاطر کوي چې د نورو پيغمبرانو عليهم السلام شخصيت داغجن کړي، د خلکو پام او توجه له هغوی راوګرځوي او په دې ئې قانع کړي چې يوازينی د منلو وړ شخصيت مسيح عليه السلام دئ چې هيڅ واده ئې ونه کړ!!

قرآن وايي چې داؤد عليه السلام يو مجاهد، عابد او ذاکر بنده وو، د طالوت د لښکر په هغې ډلې کې وو چې په آزموينې کې بريالي شول، د صبر خاوندان ول، په آخرت ئې ايمان درلود او په دې باور وو چې الله تعالی ډېر ځله د صابرانو واړه ټولګي ته په لوی لښکر برې ورکړی، د طالوت تر قومندې لاندې ئې په جګړې کې برخه واخيسته، د دښمن د فوځ سالار د ده په لاس ووژل شو او د همدغه زړه وري اتلولۍ په وجه الله تعالی ده ته د دغه ملك پاچايي او اقتدار وسپارو، علم او حکمت ئې ورکړ او د پيغمبرۍ مقام ته ئې ورساوو، متأسفانه په مسلمانانو کې هم ځينو د داؤد عليه السلام په اړه دغه اسرائيلي روايات ومنل او حتی په تفسيرونو کې ئې وليکل او ځينو د رسول الله صلی الله عليه و سلم په اړه دې ته ورته روايات ومنل او هغه ئې په خپلو کتابونو کې راوړل.

(٧) باب: د عطر له وهلو وروسته غسل کول

192- **حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا الْحَكَمُ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنِ الأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى وَبِيصِ الطِّيبِ فِي مَفْرِقِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَهْوَ مُحْرِمٌ.** (بخاري: 271)

192- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: لکه چې زه همدا اوس د رسول الله صلى الله عليه و سلم پر مبارک سر د عطرو ځلا ته ګورم او دا په داسي حال کي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به محرم وو (احرام به ئې ترلى وو).

تکرار: 1538، 5918، 5923

توپير: په يوه کي كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى وَبِيصِ الطِّيبِ، په بل کي حَتَّى أَجِدَ وَبِيصَ الطِّيبِ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ، په يوه کي فِي مَفْرِقِ او په بل کي فِي مَفَارِقِ راغلي، مطلب ئې يو دئ او هغه دا چې له احرام مخکې ئې عطر لګولي، بيا ئې احرام ترلى، عائشې رضي الله عنها د عطرو اثر په همدغه حالت کي ليدلى، يعني که له احرام مخکې چا عطر وهلي وي نو پروا ئې نشته چې اثر ئې پرې پاته وي، خو له احرام وروسته به عطر نه استعمالوي.

(٨) باب: د غسل په وخت د ويښتانو خلالول

193- حَدَّثَنَا عَبْدَانُ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الله قَالَ أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ غَسَلَ يَدَيْهِ، وَتَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلاَةِ ثُمَّ اغْتَسَلَ، ثُمَّ يُخَلِّلُ بِيَدِهِ شَعَرَهُ، حَتَّى إِذَا ظَنَّ أَنْ قَدْ أَرْوَى بَشَرَتَهُ، أَفَاضَ عَلَيْهِ الْمَاءَ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ، ثُمَّ غَسَلَ سَائِرَ جَسَدِهِ. (بخاري:272)

193- او له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: کله چې به رسول الله صلى الله عليه و سلم د جنابت غسل

کاوو نو لاسونه به ئې ومینځل، د لمانځه د اوداسه په شان اودس به ئې وکړ بیا به ئې غسل وکړ؛ او په خپلو لاسونو سره به ئې وېښتان تر هغه پورې خلالول چې باورې به شو د وېښتانو بیخونه ئې لامده کړي دي، درې ځلي به ئې پر سر اوبه واچولې، بیا به ئې نور بدن ومینځو.

تکرار: 248، 262

توپیر: دا روایت په 248، 262روایتونو کې څېړل شوی.

(۹) باب: که په جومات کې چا ته ورپه یاد شوه چې جنب دئ..

194- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ قَالَ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ، وَعُدِّلَتِ الصُّفُوفُ قِيَامًا، فَخَرَجَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم فَلَمَّا قَامَ فِي مُصَلاَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ جُنُبٌ فَقَالَ لَنَا: "مَكَانَكُمْ". ثُمَّ رَجَعَ فَاغْتَسَلَ، ثُمَّ خَرَجَ إِلَيْنَا وَرَأْسُهُ يَقْطُرُ، فَكَبَّرَ فَصَلَّيْنَا مَعَهُ. (بخاري:275)

194- له ابوهریره رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: لمونځ ودرېد او صفونه برابر شول، رسول الله صلى الله عليه و سلم زمونږ خوا ته راووت، کله چې پر خپلي مصلى ودرېد؛ ورپه یاد شوه چې جنب دئ، نو مونږ ته ئې وفرمایل: (تاسو پر خپلو ځایونو اوسئ)، بیا لاړ او غسل ئې وکړ، بیا مونږ ته په داسي حال کې راووت چې له سر نه ئې اوبه

څخېدلې، تکبير ئې ووايو او لمونځ مو ورسره وکړ.

تکرار: 639، 640

توپير: په يوه کي فَلَمَّا قَامَ فِي مُصَلاَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ جُنُبٌ، په بل کي فَتَقَدَّمَ وَهْوَ جُنُبٌ او په بل کي انْتَظَرْنَا أَنْ يُكَبِّرَ انْصَرَفَ، په يوه کي فَمَكَثْنَا عَلَى هَيْئَتِنَا حَتَّى خَرَجَ إِلَيْنَا يَنْطُفُ رَأْسُهُ مَاءً وَقَدِ اغْتَسَلَ او په بل کي ثُمَّ خَرَجَ وَرَأْسُهُ يَقْطُرُ مَاءً فَصَلَّى بِهِمْ راغلي. د ټولو اصلي مطلب دا دئ چې جومات ته راغی، خلك د لمانځه لپاره ودرېدل، ده ته ورپه ياد شو چې غسل پرې لازم دئ، خلکو ته ئې وويل: پر خپل خپل ځای پاته شئ، کور ته ستون شو، غسل ئې وکړ، په داسې حال کي راستون شو چې له سر نه ئې اوبه بهېدې او لمونځ ئې وکړ.

(١٠) باب: په ګوښه کي يوازي تن لوڅ غسل کول

195- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ يَغْتَسِلُونَ عُرَاةً، يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ، وَكَانَ مُوسَى يَغْتَسِلُ وَحْدَهُ، فَقَالُوا وَاللهِ مَا يَمْنَعُ مُوسَى أَنْ يَغْتَسِلَ مَعَنَا إِلاَّ أَنَّهُ آدَرُ، فَذَهَبَ مَرَّةً يَغْتَسِلُ، فَوَضَعَ ثَوْبَهُ عَلَى حَجَرٍ، فَفَرَّ الْحَجَرُ بِثَوْبِهِ، فَخَرَجَ مُوسَى فِي إِثْرِهِ يَقُولُ ثَوْبِي يَا حَجَرُ. حَتَّى نَظَرَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ إِلَى مُوسَى، فَقَالُوا وَاللهِ مَا بِمُوسَى مِنْ بَأْسٍ. وَأَخَذَ ثَوْبَهُ، فَطَفِقَ بِالْحَجَرِ ضَرْبًا". فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ وَاللهِ إِنَّهُ لَنَدَبٌ بِالْحَجَرِ سِتَّةٌ

أَوْ سَبْعَةٌ ضَرْبًا بِالْحَجَرِ. (بخاري:278)
195- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي دي: (بني اسرائيلو به لوخ غسل كاوو، يوه به بل ته كتل؛ او موسى (عليه السلام) به يوازي غسل كاوو، بني اسرائيلو ويل: قسم په خداى چي موسى (عليه السلام) ځكه له موږ سره غسل نه كوي چي هغه د خصيو رنځ لري (خصيې ئې پرسېدلې)، نو يو ځل موسى (عليه السلام) لاړ چي غسل وكړي، خپلي جامې ئې پر يوې تيږي كېښودې، تيږي ئې جامې ترې وتښتولې، موسى (عليه السلام) ورپسې ووت، ويل ئې: اې تيږې! زما جامې، اې تيږې! زما جامې، تر هغه چي بني اسرائيلو موسى عليه السلام ته وكتل نو وئې ويل: قسم په خداى چي موسى (عليه السلام) خو هيڅ مرض نه لري، نو خپلي جامې ئې واخستلې او پر تيږي ئې د گوزارونو كول پيل كړل، ابوهريرة رضي الله عنه وايي: په خداى قسم چي پر هغه تيږي د شپږو يا اوو گوزارونو نښې موجودي دي.

تكرار: **3404، 4799**

توپير: په يوه كي راغلي كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ يَغْتَسِلُونَ عُرَاةً، يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ په نورو كي دا خبره نشته، په يوه كي إِنَّ مُوسَى كَانَ رَجُلاً حَيِيًّا سِتِّيرًا، لاَ يُرَى مِنْ جِلْدِهِ شَىْءٌ، اسْتِحْيَاءً مِنْهُ، په بل كي وَكَانَ مُوسَى يَغْتَسِلُ وَحْدَهُ، په بل كي وَإِنَّ الله أَرَادَ أَنْ يُبَرِّئَهُ مِمَّا قَالُوا لِمُوسَى فَخَلاَ يَوْمًا وَحْدَهُ، په يوه كي فَقَالُوا وَالله مَا يَمْنَعُ مُوسَى أَنْ

يَغْتَسِلَ مَعَنَا إِلاَّ أَنَّهُ آدَرُ، په بل کي فَقَالُوا مَا يَسْتَتِرُ هَذَا التَّسَتُّرَ إِلاَّ مِنْ عَيْبٍ بِجِلْدِهِ، إِمَّا بَرَصٌ وَإِمَّا أُدْرَةٌ وَإِمَّا آفَةٌ، په يوه کي فَوَضَعَ ثَوْبَهُ عَلَى حَجَرٍ، فَفَرَّ الْحَجَرُ بِثَوْبِهِ، فَخَرَجَ مُوسَى فِي إِثْرِهِ يَقُولُ ثَوْبِي يَا حَجَرُ، په بل کي فَآذَاهُ مَنْ آذَاهُ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، په بل کي، وَإِنَّ الْحَجَرَ عَدَا بِثَوْبِهِ، فَأَخَذَ مُوسَى عَصَاهُ وَطَلَبَ الْحَجَرَ، فَجَعَلَ يَقُولُ ثَوْبِي حَجَرُ، ثَوْبِي حَجَرُ، په يوه کي حَتَّى انْتَهَى إِلَى مَلاءٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، فَرَأَوْهُ عُرْيَانًا أَحْسَنَ مَا خَلَقَ الله، وَأَبْرَأَهُ مِمَّا يَقُولُونَ، په بل کي حَتَّى نَظَرَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ إِلَى مُوسَى، فَقَالُوا وَالله مَا بِمُوسَى مِنْ بَأْسٍ، په يوه کي وَأَخَذَ ثَوْبَهُ، فَطَفِقَ بِالْحَجَرِ ضَرْبًا، په يوه کي وَالله إِنَّهُ لَنَدَبٌ بِالْحَجَرِ سِتَّةٌ أَوْ سَبْعَةٌ ضَرْبًا بِالْحَجَرِ، په بل کي فَوَالله إِنَّ بِالْحَجَرِ لَنَدَبًا مِنْ أَثَرِ ضَرْبِهِ ثَلاَثًا أَوْ أَرْبَعًا أَوْ خَمْسًا، په يوه کي يوازي دا راغلي "إِنَّ مُوسَى كَانَ رَجُلاً حَيِيًّا، وَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسَى فَبَرَّأَهُ الله مِمَّا قَالُوا وَكَانَ عِنْدَ الله وَجِيهًا او ځيني نور توپيرونه، د دې متعارضو روایاتو له مخې څوك دا نشي ویلی چې بني اسرائیلو موسی علیه السلام په څه تورن کړی، په دې چې د برص په مرض اخته دئ، که پر پوستکي ئې کوم داغ دئ، که د خصیو مرض لري، که کوم بل آفت؟ دا نشي ویلی چې پر هغه تیري څو نښي دي: دري، څلور، پنځه، شپږ که اوه؟ دا تیره چېري ده؟ له دې علاوه که تاسو دغه آیت ته چې د دې روایت په ضمن کي راغلی او ویل شوي چې ګواکي د آیت مطلب او تفسیر همدا دئ لږ ځیر شئ نو درته جوته به

شي چې دا تعبير په بشپړه توګه ناسم دئ، که تاسو دا آيت په خپل ځای کي او له مخکينيو او وروستنيو آيتونو سره يو ځای وڅېړئ نو په آساني به درته جوته شي چې د دې آيت معنی قطعاً دا نه ده چې په دغه روايت کي ئې ادعاء شوې. آيت داسي دئ:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ ءَاذَوۡاْ مُوسَىٰ فَبَرَّأَهُ ٱللَّهُ مِمَّا قَالُواْۚ وَكَانَ عِندَ ٱللَّهِ وَجِيهٗا ٦٩ الاحزاب: 69

اې مؤمنانو! د هغو کسانو په څېر مه کېږئ چې موسی ئې اذيت کړ او الله له هغه څه برائت ورکړ چې دوی ويل او د الله په وړاندي مخور وو.

له دې آيت وروسته راغلي: اې مؤمنانو له الله ووېرېږئ او سمه خبره کوئ، دا آيت د احزاب د سورې په هغي برخي کي راغلی چې په سر کي ئې د هغو کسانو سزا بيان شوې چې الله، د هغه پيغمبر او مؤمنان اذيت کوي، بيا پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې خپلو مېرمنو، لونو او د مسلمانانو مېرمنو ته ووايه چې له جلباب سره ووځي، بيا منافقين، مرجفين او بيمار زړي په دې ګوابنل شوي چې که له خپلو عملونو لاس وانه خلي له بدو پايلو سره به مخامخ شي، دوی به مسلماني مېرمني ځورولې، غلط تبليغات به ئې کول او رنګ رنګ افواهات به ئې خورول، دا آيت د همدې لړۍ يوه برخه ده؛ او معنی ئې دا ده چې پام کوئ له خپل پيغمبر سره هغه کار ونه کړئ چې بني اسرائيلو له موسی عليه السلام سره وکړ، دا چې په مسلمانانو کي ځينو کسانو له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره څه کړي چې دا آيت

د هغوی په اړه نازل شوی؟ که په قرآن کي ئې ولټوو نو ځواب ئې موندلی شو، قرآن دوو هغو تورونو ته اشاره کوي چې منافقینو پیغمبر علیه السلام پرې تورن کړی: یو د عائشې رضي الله عنها په اړه تور او بل د زید رضي الله عنه د هغې میرمني په اړه تور چې طلاق ئې ورکړ او بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه په نکاح کړه، له دې معلومیږي چې د موسی علیه السلام په اړه دې ته ورته کوم تور لګېدلی او الله تعالی هغه ته برائت ورکړی، په موسی علیه السلام باندي دوه ستر ستر تورونه لګېدلي: یو دا چې هارون علیه السلام ئې وژلی او بل دا چې منافقینو یوه میرمن دې ته چمتو کړې وه چې پر موسی علیه السلام باندي د زنا تور ولګوي، خو دې میرمني اعتراف وکړ چې دا خبره دروغ ده. له دغو دواړو تورونو دا وروستنی ئې له هغه تور سره ورته دئ چې د زید رضي الله عنه د مطلقه میرمني زینب رضي الله عنها په اړه پر رسول الله صلی الله علیه و سلم لګېدلی. نو په پښې یقین سره ویلی شو چې پر موسی علیه السلام باندي لګېدلی تور دغسي وو نه هغسي چې په دې روایت کي راغلی.

دې ته مو پام وي چې دا روایت د سند له مخي دومره کمزوری دئ چې په څلورو طبقو کي یوازي یو یو راوي لري!! یعني تر اغرب هم اوښتی دئ.

196- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "بَيْنَا أَيُّوبُ يَغْتَسِلُ عُرْيَانًا فَخَرَّ عَلَيْهِ جَرَادٌ مِنْ ذَهَبٍ، فَجَعَلَ أَيُّوبُ يَحْتَثِي فِي ثَوْبِهِ، فَنَادَاهُ رَبُّهُ يَا أَيُّوبُ، أَلَمْ أَكُنْ أَغْنَيْتُكَ عَمَّا تَرَى قَالَ بَلَى

وَعِزَّتِكَ وَلَكِنْ لاَ غِنَى بِي عَنْ بَرَكَتِكَ". (بخاري:279)

196- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (يوه ورځ په داسي حال كي چي ايوب (عليه السلام) لوڅ غسل كاوو، د سرو زرو ملخان پرې راپرېوتل، ايوب (عليه السلام) په خپلي جامې كي راغونډول، خداى تعالى ورته غږ كړ چي اې ايوبه! آيا ته مي له دغو شيانو چي ويني يې غني (بې پروا) كړى نه وې؟ ايوب (عليه السلام) وويل: ولي نه؛ ستا په عزت مي قسم، خو ستا له بركت غنا او بې پروايي نشته.

تكرار: 3391، 7493

توپير: په يوه كي فَخَرَّ عَلَيْهِ جَرَادٌ مِنْ ذَهَبٍ، په بل كي خَرَّ عَلَيْهِ رِجْلُ جَرَادٍ مِنْ ذَهَبٍ، په يوه كي وَلَكِنْ لاَ غِنَى لِي عَنْ بَرَكَتِكَ او په بل كي وَلَكِنْ لاَ غِنَى بِى عَنْ بَرَكَتِكَ راغلي، د دې روايانو له مخي تاسو نشئ ويلى چي په ايوب عليه السلام يو ملخ راپرېوتى او كه ډېر او كه د يوه ملخ يوه پښه. امام بخاري نه دي ويلي چي كوم روايت صحيح دئ، الباني په دغو كي هغه يو صحيح ګڼي چي د بشپړ ملخ يادونه په كي شوې او دغه بل نه الباني په خپلو كتابونو كي راوړى او نه اكثرو كتابونو.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په څلورو طبقو كي يوازي يو يو راوي لري، په صحاح سته كي يوازي بخاري راوړى، دې ته مو بايد پام وي چي په قرآن كي دا او دې ته ورته خبره نه مومو، دې ته مو هم بايد پام وي چي د موسى او ايوب عليهما السلام دا دوه قصې د دې لپاره دلته

راوړل شوې چې د لوڅ غسل کولو جواز ترې ثابت شي!!

(١١) باب: د غسل په وخت بايد له خلکو پرده وشي

197- **حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ أَبِي النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ الله أَنَّ أَبَا مُرَّةَ مَوْلَى أُمِّ هَانِئٍ بِنْتِ أَبِي طَالِبٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ أُمَّ هَانِئٍ بِنْتَ أَبِي طَالِبٍ تَقُولُ ذَهَبْتُ إِلَى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم عَامَ الْفَتْحِ، فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ وَفَاطِمَةُ تَسْتُرُهُ فَقَالَ "مَنْ هَذِهِ". فَقُلْتُ أَنَا أُمُّ هَانِئٍ.** (بخاري:280)

197- له ام هاني بنت ابي طالب رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: د مکی د فتحي په کال رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغلم، ومي ليد چې غسل کوي او فاطمې رضي الله عنها پرده ورته جوړه کړې ده، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (څوک دئ؟) ما وويل: زه ام هاني يم.

تکرار: 357، 3171، 6158

توپير: په يوه کي فَقَالَ "مَنْ هَذِهِ"، فَقُلْتُ أَنَا أُمُّ هَانِئٍ، په بل کي قَالَتْ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَقَالَ "مَنْ هَذِهِ، په بل کي فَقُلْتُ أَنَا أُمُّ هَانِئٍ بِنْتُ أَبِي طَالِبٍ فَقَالَ "مَرْحَبًا بِأُمِّ هَانِئٍ، په يوه کي فَلَمَّا انْصَرَفَ قُلْتُ يَا رَسُولَ الله راغلي، مطلب ئې سره ورته دئ او هغه دا چې ام هاني د ابو طالب لور رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي ليدلى چې تر پردې شا ته ئې غسل کاوو، سلام ئې اچولى، ځان ئې معرفي کړى، رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته ښه راغلاست

ويلي، له غسل وروسته ئې اته ركعته لمونځ کړی، کله چې له لمانځه فارغ شوی نو ورته ويلي ئې دي: زما مورنی ورور غواړي هغه څوك ووژني چې ما پناه ورکړې؛ فلانی د هبيره زوی، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: اې ام هاني! چا ته چې تا پناه ورکړې موږ هم پناه ورکړې، ام هاني وايي چې دا د غرمې مهال وو.

(١٢) باب: د جنب خولې

198- **حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الله قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ قَالَ حَدَّثَنَا بَكْرٌ عَنْ أَبِي رَافِعٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم لَقِيَهُ فِي بَعْضِ طَرِيقِ الْمَدِينَةِ وَهْوَ جُنُبٌ، فَانْخَنَسْتُ مِنْهُ، فَذَهَبَ فَاغْتَسَلَ، ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ "أَيْنَ كُنْتَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ". قَالَ كُنْتُ جُنُبًا، فَكَرِهْتُ أَنْ أُجَالِسَكَ وَأَنَا عَلَى غَيْرِ طَهَارَةٍ. فَقَالَ "سُبْحَانَ الله، إِنَّ الْمُؤْمِنَ لاَ يَنْجُسُ".** (بخاري:283)

198- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم له ده سره په داسي حال کي چې جنب وو د مدينې په يوې لارې کي مخامخ شو، ابوهريره رضي الله عنه وايي: ځان مي له رسول الله صلى الله عليه و سلم پټ کړ، لاړ او غسل ئې وکړ، بيا راغی. رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (چېرې وې اې ابوهريره؟) وئې ويل: زه جنب وم؛ او غوره مي ونه بلله چې د ناپاکی په حالت کي له تاسره کښېنم، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (سبحان الله، مؤمن هيڅکله نه نجس کيږي).

تكرار: 283، 285

توپير: په يوه کي لَقِيَهُ فِي بَعْضِ طَرِيقِ الْمَدِينَةِ وَهْوَ جُنُبٌ، فَانْخَنَسْتُ مِنْهُ، فَذَهَبَ فَاغْتَسَلَ، ثُمَّ جَاءَ، په بل کي لَقِيَنِى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَأَنَا جُنُبٌ، فَأَخَذَ بِيَدِى، فَمَشَيْتُ مَعَهُ حَتَّى قَعَدَ فَانْسَلَلْتُ، فَأَتَيْتُ الرَّحْلَ، فَاغْتَسَلْتُ ثُمَّ جِئْتُ وَهْوَ قَاعِدٌ راغلي، لکه چي ګورئ په دې دواړو کي جدي توپير تر سترګو کېږي، يو وايي چي ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه و سلم له ليدو سره سم تري پټ شوی، غسل ئې کړی، بيا ئې خوا ته راغلی او بل ئې وايي چي تر غسل مخکي رسول الله صلى الله عليه و سلم تر لاس نيولی، په لار ورسره تللی، کله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم کښېنستی دی پورته شوی، غسل ئې کړی او ببرته راستون شوی. دلته هم بخاري نه دي ويلي چي کوم روايت سم دئ. داسي معلومېږي چي دا بل روايت ارجح وي، ځکه ټول الفاظ ئې په خپله د ابوهريره دي، په مخکيني کي د بل راوي الفاظ هم په کي ګډ شوي.

له دې روايت معلومېږي چي مسلمان نه د جنابت په حالت کي نجس ګڼل کېدی شي او نه د بې اودسۍ په حالت کي، که د جنابت په حالت کي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره لاس ورکول، کښېناستل او خبري کول جائز وي، نو له لمانځه او طواف پرته بل هر کار ورته جائز دئ.

(۱۳) باب: د جنابت په حالت کي د شپې ويده

کېدل

199- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ سَأَلَ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم أَيَرْقُدُ أَحَدُنَا وَهْوَ جُنُبٌ قَالَ "نَعَمْ إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرْقُدْ وَهُوَ جُنُبٌ". (بخاري:287)

199- له عمر بن الخطاب رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې پوښتنه وکړه: آيا له موږ څوك په داسي حال كي ويده كېدى شي چي جنب وي؟ وئې فرمايل: (هو؛ كه له تاسو چا اودس وكړ، نو كولى شي ويده شي كه څه هم جنب وي).

تكرار: 289، 290

توپير: په يوه كي أَيَرْقُدُ، په بل كي أَيَنَامُ، په يوه كي نَعَمْ إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرْقُدْ وَهُوَ جُنُبٌ، په بل كي نَعَمْ، إِذَا تَوَضَّأَ او په بل كي أَنَّهُ تُصِيبُهُ الْجَنَابَةُ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "تَوَضَّأْ وَاغْسِلْ ذَكَرَكَ ثُمَّ نَمْ راغلي، خو له دې رواياتو دا نه معلوميږي چي له وضوء نه مراد يوازي ناولي غړي مينځل دي كه د لمانځه اودس، له نورو رواياتو معلوميږي چي كله بشپړ اودس په پام كي وي نو وضوءك للصلوة ويل كېږي، نو ويلى شو چي دلته بشپړ اودس مراد نه دئ. خو ناولي غړي مينځل ضروري دي.

(١٤) باب: د ختانينو يو ځاى كېدل

200- حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ فَضَالَةَ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ وَحَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ عَنْ

هِشَامٍ عَنْ قَتَادَةَ عَنِ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي رَافِعٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِذَا جَلَسَ بَيْنَ شُعَبِهَا الأَرْبَعِ ثُمَّ جَهَدَهَا، فَقَدْ وَجَبَ الْغَسْلُ". (بخاري:291)

200- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (كله چې څوک د ښځي د ځلورګونو (غړو) تر منځ کښيناست او بيا ئې هڅه پرې وکړه؛ نو غسل واجب شو).

دا روايت چې ښيي غسل په جماع سره لازميږي که څه هم انزال ونه شي هم د بخاري له 179 روايت سره تعارض لري چې په (٢٧) باب: د اودس ماتوونکي کې راغلی او هم له 293روايت سره چې داسي دئ:

حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو أَيُّوبَ قَالَ أَخْبَرَنِي أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِذَا جَامَعَ الرَّجُلُ الْمَرْأَةَ فَلَمْ يُنْزِلْ قَالَ "يَغْسِلُ مَا مَسَّ الْمَرْأَةَ مِنْهُ، ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وَيُصَلِّي". بخاري

له ابي بن كعب روايت دئ چې وئې ويل: يا رسول الله! څنګه به وي که څوك له خپلې مېرمني سره جماع وکړي او انزال ونه کړي؟ وئې فرمايل: څه چې ئې له ښځي سره لګېدلي هغه به ومينځي بيا به اودس وکړي او لمونځ به کوي.

خو د دې روايت الفاظ داسي دي چې ښيي له (جامعَ) او (مس)؛ مراد جماع نه بلکې هسي يو ځای کېدا او سره لګېدا ده، يوازي په دې تعبير سره کولی شو دا تعارض له منځه

يوسو.

٦- د حيض كتاب

(١)- باب: د نفاس حكم

201- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الله قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الْقَاسِمِ قَالَ سَمِعْتُ الْقَاسِمَ يَقُولُ سَمِعْتُ عَائِشَةَ تَقُولُ خَرَجْنَا لاَ نَرَى إِلاَّ الْحَجَّ، فَلَمَّا كُنَّا بِسَرِفَ حِضْتُ، فَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَأَنَا أَبْكِي قَالَ "مَا لَكِ أَنُفِسْتِ". قُلْتُ نَعَمْ. قَالَ "إِنَّ هَذَا أَمْرٌ كَتَبَهُ الله عَلَى بَنَاتِ آدَمَ، فَاقْضِى مَا يَقْضِى الْحَاجُّ، غَيْرَ أَنْ لاَ تَطُوفِي بِالْبَيْتِ". قَالَتْ وَضَحَّى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم عَنْ نِسَائِهِ بِالْبَقَرِ. (بخاري:294)

201- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: په سفر روان شوو او له حج نه پرته د بل څه نيت مو نه درلود، کله چې (سرف) نومي سيمي ته ورسېدو حائضه شوم؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي راغی چې ما ژړل، وئې فرمايل: (څه شوي، آيا حائضه شوی يې؟) ما وويل: هو؛ وئې فرمايل: (دا يو داسي شی دئ چې الله تعالى د آدم (عليه السلام) د ټولو لونو لپاره لازم کړی دئ، نو همغه څه کوه چې حاجيان ئې کوي، له دې پرته چې د بيت الله طواف وکړې). عائشه رضي الله عنها

وايي: او رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپلو مېرمنو له خوا يو غويى قرباني كړ.

تكرار: 305، 316، 317، 319، 328، 1516، 1518، 1556، 1560، 1561، 1562، 1638، 1650، 1709، 1720، 1733، 1757، 1762، 1771، 1772، 1783، 1786، 1787، 1788، 2952، 2984، 4395، 4401، 4408، 5329، 5548، 5559، 6157، 7229

توپير: لكه چې گورئ دا روايت 35 ځلي تكرار شوى، د دې تكرار په وجهي او گټې يوازي امام بخاري پوهېدى شي؛ د حديث نورو مصنفينو او محدثينو له دې ټولو په يوه دوه ځلي راوړلو اكتفاء كړې؛ تكرار ئې داسي چې هم د اوږدوالي او لنډوالي له پلوه توپيرونه لري او هم د الفاظو له پلوه، په پورتني كي د دغو رواياتو يوه برخه راغلې، په نورو كي دا هم راغلي چې دا د حجة الوداع كال وو، عائشې رضي الله عنها د تمتع حج اراده كړې وه او د قربانۍ څاروى ورسره نه وو، حيض پرې راغى او پوه شوه چې د عرفې تر ورځي له حيضه نه وځي، رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: كوځى دي پرانيزه، برمنځ ئې كړه او له عمرې تېره شه، همداسي ئې وكړل كله چې ئې حج تمام كړ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم له منٰى د راگرځېدو په مهال د دې ورور عبدالرحمن ته امر وكړ چې تنعيم ته ئې بوځي او له هغه ځايه د عمرې كولو نيت وكړي. په داسي چا باندي نه هديه (د څاروي حلالول) لازمېږي، نه روژه او نه صدقه.

(۲) باب: حائضه د خپل خاوند سر مينځلی شي

202- **حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أُرَجِّلُ رَأْسَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم وَأَنَا حَائِضٌ.** (بخاري:295)

202- له عائشي رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: ما به په داسي حال کي چي حائضه به وم د رسول الله صلى الله عليه و سلم سر ورږمنځاوو.

203- **حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى قَالَ أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ أَخْبَرَهُمْ قَالَ أَخْبَرَنِي هِشَامٌ عَنْ عُرْوَةَ أَنَّهُ سُئِلَ أَتَخْدُمُنِي الْحَائِضُ أَوْ تَدْنُو مِنِّي الْمَرْأَةُ وَهْيَ جُنُبٌ فَقَالَ عُرْوَةُ كُلُّ ذَلِكَ عَلَيَّ هَيِّنٌ، وَكُلُّ ذَلِكَ تَخْدُمُنِي، وَلَيْسَ عَلَى أَحَدٍ فِي ذَلِكَ بَأْسٌ، أَخْبَرَتْنِي عَائِشَةُ أَنَّهَا كَانَتْ تُرَجِّلُ- تَعْنِي- رَأْسَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم وَهِيَ حَائِضٌ، وَرَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم حِينَئِذٍ مُجَاوِرٌ فِي الْمَسْجِدِ، يُدْنِي لَهَا رَأْسَهُ وَهْيَ فِي حُجْرَتِهَا، فَتُرَجِّلُهُ وَهْيَ حَائِضٌ.** (بخاري:296)

203- له هشام روايت دئ چي له عروه رضي الله عنه پوښتنه وشوه چي آيا حائضه ښځه مې خدمت کولی شي؛ او يا ښځه د جنابت په حالت کي رانږدې کېدی شي؟ وئې ويل: دا ټول راته آسان دي او دا ټول مي خدمت کولی شي او په دې اړه پر هيڅا څه ګناه نشته، ما ته عائشې رضي الله عنها خبر راکړی چي د حيض په موده کي به ئې د رسول الله صلى الله عليه و سلم سر ورږمنځ کولو، په داسي حال

كي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به په جومات كي مېشت وو، خپل سر به ئې هغې ته په داسي حال كي ورنږدې كړ چي هغه به په خپلي حجرې كي وه.

(٣) باب: د حائضې مېرمني خوا كي د قرآنكريم تلاوت

204- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ سَمِعَ زُهَيْرًا عَنْ مَنْصُورٍ ابْنِ صَفِيَّةَ أَنَّ أُمَّهُ حَدَّثَتْهُ أَنَّ عَائِشَةَ حَدَّثَتْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ يَتَّكِئُ فِي حَجْرِى وَأَنَا حَائِضٌ، ثُمَّ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ. (بخاري:297)

204- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: په داسي حال كي چي زه به حائضه وم رسول الله صلى الله عليه و سلم به تكيه راباندي كوله او قرآنكريم به ئې لوست.

(٤) باب: حيض ته نفاس ويل

٢٠٥- حَدَّثَنَا الْمَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّ زَيْنَبَ ابْنَةَ أُمِّ سَلَمَةَ حَدَّثَتْهُ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ حَدَّثَتْهَا قَالَتْ بَيْنَا أَنَا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم مُضْطَجِعَةً فِي خَمِيصَةٍ إِذْ حِضْتُ، فَانْسَلَلْتُ فَأَخَذْتُ ثِيَابَ حِيضَتِى قَالَ "أَنُفِسْتِ". قُلْتُ نَعَمْ. فَدَعَانِى فَاضْطَجَعْتُ مَعَهُ فِي الْخَمِيلَةِ. **(بخاري:298)**

٢٠٥- له ام سلمه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: په

داسي حال کي چي په يوه څادر کي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره پرته وم، حائضه شوم، ورو تري لري شوم؛ او د حيض جامې مي راواخستلې، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (نفاس دي شو؟)، مياشتنى عادت ئې د نفاس په نامه ياد کړ، ما وويل: هو؛ بيا ئې زه وروغوښتلم او په يوه څادر کي ئې خواته ويده شوم.

(٥) باب: له حائضې سره يو ځای کېدل

٢٠٦- حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنِ الأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ، كِلاَنَا جُنُبٌ. وَكَانَ يَأْمُرُنِى فَأَتَّزِرُ، فَيُبَاشِرُنِى وَأَنَا حَائِضٌ. وَكَانَ يُخْرِجُ رَأْسَهُ إِلَيَّ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ، فَأَغْسِلُهُ وَأَنَا حَائِضٌ. (بخاري:299)

٢٠٦- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: ما او رسول الله صلى الله عليه و سلم به چي دواړه به جنب وو له يوه لوښي غسل کاوو؛ او زما د حيض په موده کي به ئې امر راته کاوو چي پرتوګ واغوندم، بيا به راسره يو ځای کېدو (له جماع پرته نژدېوالی کاوو) او رسول الله صلى الله عليه و سلم به چي په اعتکاف کي وو، خپل سر به ئې راوايست، ما به ورمينځو په داسي حال کي چي زه به حائضه وم.

دا د څو رواياتو مجموعه ده چي په تکرار سره په دغو شمېرو راغلي: 250، 261، 263، 273، 5956، 7339، 302، 2030، 295، 296، 2028، 2031، 2046، 5925

٢٠٧- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ خَلِيلٍ قَالَ أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ قَالَ أَخْبَرَنَا أَبُو إِسْحَاقَ- هُوَ الشَّيْبَانِيُّ- عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الأَسْوَدِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَتْ إِحْدَانَا إِذَا كَانَتْ حَائِضًا، فَأَرَادَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم أَنْ يُبَاشِرَهَا، أَمَرَهَا أَنْ تَتَّزِرَ فِي فَوْرِ حَيْضَتِهَا ثُمَّ يُبَاشِرُهَا. قَالَتْ وَأَيُّكُمْ يَمْلِكُ إِرْبَهُ كَمَا كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَمْلِكُ إِرْبَهُ. (بخاري:302)

٢٠٧- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: کله به چې له موږ کومه يوه حائضه وه او رسول الله صلى الله عليه و سلم به وغوښتل چې يو ځای ورسره ځملي نو امر به ئې ورته وکړ چې په وفرت سره د حيض د وتلو په دوران کي پرتوګ واغوندي، بيا به ورسره ځملاست، عائشه رضي الله عنها وايي: له تاسو کوم يو به د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ځير په نفسي غوښتني واکمن وي؟

يادونه: بايد متوجه وو چې له مباشرت مراد يوازي ګډ ځملاستل او له جماع پرته نژدې والى دئ.

(٦)باب: حائضه دي روژه نه نيسي

٢٠٨- حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ قَالَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ أَخْبَرَنِي زَيْدٌ- هُوَ ابْنُ أَسْلَمَ- عَنْ عِيَاضِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم فِي أَضْحًى- أَوْ فِطْرٍ- إِلَى الْمُصَلَّى، فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ فَقَالَ (يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ، فَإِنِّي أُرِيتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ). فَقُلْنَ وَبِمَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ (تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ، وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ، مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَذْهَبَ

لِلُبِّ الرَّجُلِ الْحَازِمِ مِنْ إِحْدَاكُنَّ). قُلْنَ وَمَا نُقْصَانُ دِينِنَا وَعَقْلِنَا يَا رَسُولَ الله قَالَ (أَلَيْسَ شَهَادَةُ الْمَرْأَةِ مِثْلَ نِصْفِ شَهَادَةِ الرَّجُلِ). قُلْنَ بَلَى. قَالَ (فَذَلِكَ مِنْ نُقْصَانِ عَقْلِهَا، أَلَيْسَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ). قُلْنَ بَلَى. قَالَ (فَذَلِكَ مِنْ نُقْصَانِ دِينِهَا). (بخاري:304)

۲۰۸- له ابوسعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د لوى يا واړه اختر په ورځ مور ته راغى (د لمانځه لپاره)، ښځو ته ورغى او وئې فرمايل: (اې ښځو! صدقه ورکوئ؛ ځکه ماته راوښودلې شوئ چې ډېرى دوزخيان له تاسو ول). ښځو وويل: دا ولې يا رسول الله! وئې فرمايل: (تاسي ډېر لعنت وايئ (ښکنځلي کوئ) او د خپلو خاوندانو د نېکۍ نا شکري کوئ، ما د عقل او دين له پلوه هيڅ داسي ناقص څوك نه دئ ليدلى چې تر تاسو زيات دي د پوه او هوښيار سړي عقل تري وړونکى وي). ښځو وويل: زمور د عقل او دين نقصان په څه کي دئ يا رسول الله! وئې فرمايل: (آيا د ښځي شاهدي د سړي د شاهدۍ نيمايي نه ده؟). ښځو وويل: همداسي ده. وئې فرمايل: (همدا ئې د عقل د نقصان له امله ده، آيا کله چې حائضه شي لمونځ او روژه نه پرېږدي؟). ښځو وويل: همداسي ده. وئې فرمايل: (همدا ئې په ديانت کي نقصان دئ).

تکرار: 1462، 1951، 2658

توپير: په يوه کي يوازي فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ او په بل کي

فَوَعَظَ النَّاسَ وَأَمَرَهُمْ بِالصَّدَقَةِ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ تَصَدَّقُوا فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ راغلي، په يوه کي دا راغلي مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الْحَازِمِ مِنْ إِحْدَاكُنَّ، په بل کي نه دي راغلي، په يوه کي د ابن مسعود د مېرمني زينب دا وينا هم راغلي چې وئې ويل: يا رسول الله! إِنَّكَ أَمَرْتَ الْيَوْمَ بِالصَّدَقَةِ، وَكَانَ عِنْدِي حُلِيٌّ لِي، فَأَرَدْتُ أَنْ أَتَصَدَّقَ بِهِ، فَزَعَمَ ابْنُ مَسْعُودٍ أَنَّهُ وَوَلَدَهُ أَحَقُّ مَنْ تَصَدَّقْتُ بِهِ عَلَيْهِمْ. فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "صَدَقَ ابْنُ مَسْعُودٍ، زَوْجُكِ وَوَلَدُكِ أَحَقُّ مَنْ تَصَدَّقْتِ بِهِ عَلَيْهِمْ: يا رسول الله! تا نن د صدقې امر وکړ، ومي غوښتل چې خپله ګانۍ صدقه کړم خو ابن مسعود ګمان کوي چې دی او اولاد ئې تر نورو د صدقې مستحق دي، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ابن مسعود رښتيا وايي؛ خاوند او اولاد دي په صدقه کي تر نورو زيات مستحق دي.

(٧) باب: د مستحاضې ښځې اعتکاف

٢٠٩- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ قَالَ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ الله عَنْ خَالِدٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم اعْتَكَفَ مَعَهُ بَعْضُ نِسَائِهِ وَهِيَ مُسْتَحَاضَةٌ تَرَى الدَّمَ، فَرُبَّمَا وَضَعَتِ الطَّسْتَ تَحْتَهَا مِنَ الدَّمِ. (بخاري:309)

٢٠٩- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم اعتکاف وکړ، يوه مېرمن ئې په داسي حال کي ورسره اعتکاف ته کښېناسته چې مستحاضه وه او ويني تري بهېدې، دومره چې کله به ئې تر ځان لاندي طشت

ايښود.

يادونه: مستحاضه هغي ښځي ته ويل کيږي چي له حيض او نفاس پرته وينه تري جاري وي.

تکرار: 310، 311، 2037

توپير: په ځينو کي وَالطَّسْتُ تَحْتَهَا راغلي او په ځينو کي نه؛ په ځينو کي تَرَى الدَّمَ وَالصُّفْرَةَ او په ځينو کي تَرَى الْحُمْرَةَ وَالصُّفْرَةَ او په ځينو کي يوازي تَرَى الدَّمَ، په ځينو کي وَهِيَ تُصَلِّى راغلي او په ځينو کي نه؛ ګډ مطلب ئې دا دئ چي مستحاضه ښځه هم لمونځ کولی شي او هم اعتکاف.

(٨) باب: له حيض وروسته د غسل په وخت خوشبويي وهل

٢١٠- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ حَفْصَةَ- قَالَ أَبُو عَبْدِ اللهِ أَوْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ عَنْ حَفْصَةَ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ- قَالَتْ كُنَّا نُنْهَى أَنْ نُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلاَثٍ، إِلاَّ عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا، وَلاَ نَكْتَحِلَ وَلاَ نَتَطَيَّبَ وَلاَ نَلْبَسَ ثَوْبًا مَصْبُوغًا إِلاَّ ثَوْبَ عَصْبٍ، وَقَدْ رُخِّصَ لَنَا عِنْدَ الطُّهْرِ إِذَا اغْتَسَلَتْ إِحْدَانَا مِنْ مَحِيضِهَا فِي نُبْذَةٍ مِنْ كُسْتِ أَظْفَارٍ، وَكُنَّا نُنْهَى عَنِ اتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ. (بخاري:313)

٢١٠- له ام عطيه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: موږ له دې منع کېدلو چي پر مړي تر دريو ورځو زيات ويږ وکړو، مګر د مېړه پر مرګ به مو څلور مياشتي او لس

ورځي وير کاوو، نه به مو سترګي تورولي، نه به مو خوشبويي وهله او نه به مو رنګيني جامې اغوستلې، د عصب له جامې پرته (چې يو ډول رنګينه جامه وه)، خو کله به چې کومې يوې له حيض غسل کاوو، نو دا رخصت راکړی شوی وو چې لږ شانته د أظفار بوټی ځان ته ودودوو (أظفار يو بوټی دئ چې دود ئې د عود په څېر ښکلی بوی لري)، همدا راز په جنازه کې له ګډون هم منع شوې وو.

تکرار: 1278، 1279، 5340، 5341، 5342، 5343

توپير: په يوه کې كُنَّا نُنْهَى أَنْ نُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلاَثٍ، إِلاَّ عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا، په بل کې لاَ يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِالله وَالْيَوْمِ الآخِرِ أَنْ تُحِدَّ فَوْقَ ثَلاَثٍ، إِلاَّ عَلَى زَوْجٍ، په بل کې نُهِينَا أَنْ نُحِدَّ أَكْثَرَ مِنْ ثَلاَثٍ إِلاَّ بِزَوْجٍ، په يوه کې وَلاَ نَكْتَحِلَ وَلاَ نَتَطَيَّبَ وَلاَ نَلْبَسَ ثَوْبًا مَصْبُوغًا إِلاَّ ثَوْبَ عَصْبٍ، په بل کې وَلاَ تَمَسَّ طِيبًا إِلاَّ أَدْنَى طُهْرِهَا إِذَا طَهُرَتْ، نُبْذَةً مِنْ قُسْطٍ وَأَظْفَارٍ، په بل کې وَقَدْ رُخِّصَ لَنَا عِنْدَ الطُّهْرِ إِذَا اغْتَسَلَتْ إِحْدَانَا مِنْ مَحِيضِهَا فِي نُبْذَةٍ مِنْ كُسْتِ أَظْفَارٍ، په بل کې وَكُنَّا نُنْهَى عَنِ اتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ راغلي.

(٩) باب: له حيض وروسته خوش بويه ټوټه په ځان موښل.

211- حَدَّثَنَا يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ مَنْصُورِ ابْنِ صَفِيَّةَ عَنْ أُمِّهِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ امْرَأَةً سَأَلَتِ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم عَنْ غُسْلِهَا مِنَ الْمَحِيضِ، فَأَمَرَهَا كَيْفَ تَغْتَسِلُ قَالَ "خُذِى فِرْصَةً مِنْ

مِسْكٍ فَتَطَهَّرِى بِهَا". قَالَتْ كَيْفَ أَتَطَهَّرُ قَالَ "تَطَهَّرِى بِهَا". قَالَتْ كَيْفَ قَالَ "سُبْحَانَ اللهِ تَطَهَّرِى". فَاجْتَبَذْتُهَا إِلَيَّ فَقُلْتُ تَتَبَّعِى بِهَا أَثَرَ الدَّمِ. (بخاري:314)

211- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې يوې ښځي له حيض نه د غسل په اړه له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتنه وکړه، لارښوونه ئې ورته وکړه چې څنګه به غسل کوي او وئې فرمايل: (يوه خوشبويي لرونکې توټه درواخله او ځان پرې پاک کړه). ښځي وويل: ځان څنګه پرې پاک کړم؟ وئې فرمايل: (ځان پرې پاک کړه). ښځي وويل: څنګه؟ وئې فرمايل: (سبحان الله! ځان پرې پاک کړه). عائشه رضي الله عنها وايي: ما ځانته راکاږله او ورته ومي ويل: په هغې توټې سره د ويني اثر پاک کړه.

تکرار: 315، 7357

توپير: په يوه کې خُذِى فِرْصَةً مِنْ مِسْكٍ فَتَطَهَّرِى بِهَا، په بل کې خُذِى فِرْصَةً مُمَسَّكَةً، فَتَوَضَّئِى ثَلاَثًا، په يوه کې فَتَطَهَّرِى بِهَا، په بل کې اسْتَحْيَا فَأَعْرَضَ بِوَجْهِهِ أَوْ قَالَ "تَوَضَّئِى بِهَا، په بل کې تَأْخُذِينَ فِرْصَةً مُمَسَّكَةً فَتَوَضَّئِينَ بِهَا، په يوه کې كَيْفَ أَتَطَهَّرُ، په بل کې كَيْفَ أَتَوَضَّأُ، په يوه کې فَاجْتَبَذْتُهَا إِلَيَّ فَقُلْتُ تَتَبَّعِى بِهَا أَثَرَ الدَّمِ، په بل کې فَأَخَذْتُهَا فَجَذَبْتُهَا فَأَخْبَرْتُهَا بِمَا يُرِيدُ النَّبِيُّ- صلى الله عليه وسلم، په بل کې فَجَذَبْتُهَا إِلَيَّ فَعَلَّمْتُهَا. د توټو مطلب يو دئ.

(١٠) باب: د حيض په غسل کي د سر ږمنځول

٢١٢- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ أَهْلَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ، فَكُنْتُ مِمَّنْ تَمَتَّعَ، وَلَمْ يَسُقِ الْهَدْىَ، فَزَعَمَتْ أَنَّهَا حَاضَتْ، وَلَمْ تَطْهُرْ حَتَّى دَخَلَتْ لَيْلَةُ عَرَفَةَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ، هَذِهِ لَيْلَةُ عَرَفَةَ، وَإِنَّمَا كُنْتُ تَمَتَّعْتُ بِعُمْرَةٍ. فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "انْقُضِى رَأْسَكِ، وَامْتَشِطِى، وَأَمْسِكِى عَنْ عُمْرَتِكِ". فَفَعَلْتُ، فَلَمَّا قَضَيْتُ الْحَجَّ أَمَرَ عَبْدَ الرَّحْمَنِ لَيْلَةَ الْحَصْبَةِ فَأَعْمَرَنِى مِنَ التَّنْعِيمِ مَكَانَ عُمْرَتِى الَّتِى نَسَكْتُ. (بخاري:316)

٢١٢- او له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: په حجة الوداع کي مي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره احرام وتاړو؛ او زه هم له هغو کسانو وم چې د تمتع حج نيت مو کړی وو او د حلالولو څاروی مو نه وو راوستی، ګمان ئې کړی چې حائضه شوې او د عرفې تر شپې به پاکه نه شي، نو وئې ويل: يا رسول الله! دا خو د عرفې شپه ده او ما د تمتع عمرې اراده کړې وه؟! نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: (کوځې دي پرانيزه، سر دي ږمنځ کړه او له عمرې تېره شه). همداسي مي وکړل؛ او کله چې مي حج وکړ، رسول الله صلى الله عليه و سلم د (محصب) په شپه (له منٰى د مکې په لور د خوځېدو په شپه) عبدالرحمن (رضي الله عنه د دې ورور) ته امر وکړ چې ما د هغې عمرې ترسره کولو لپاره تنعيم ته بوځي چې

پرېښودلې مي وه.

تکرار: 294، 305، 317، 319، 328، 1516، 1518، 1556، 1560، 1561، 1562، 1638، 1650، 1709، 1720، 1733، 1757، 1762، 1771، 1772، 1783، 1786

توپير: دا روايت مخکې په (١) باب: د نفاس حکم٢٠٣ شمېرې روايت کې څېړل شوی.

(١١) باب: بنځه به د حيض غسل کې خپل وېښتان خلاصوي

٢١٣- حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجْنَا مُوَافِينَ لِهِلاَلِ ذِى الْحِجَّةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم "مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُهِلَّ بِعُمْرَةٍ فَلْيُهْلِلْ، فَإِنِّي لَوْلاَ أَنِّي أَهْدَيْتُ لأَهْلَلْتُ بِعُمْرَةٍ". فَأَهَلَّ بَعْضُهُمْ بِعُمْرَةٍ، وَأَهَلَّ بَعْضُهُمْ بِحَجٍّ، وَكُنْتُ أَنَا مِمَّنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ، فَأَدْرَكَنِى يَوْمُ عَرَفَةَ وَأَنَا حَائِضٌ، فَشَكَوْتُ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ "دَعِى عُمْرَتَكِ، وَانْقُضِى رَأْسَكِ وَامْتَشِطِى، وَأَهِلِّى بِحَجٍّ". فَفَعَلْتُ حَتَّى إِذَا كَانَ لَيْلَةُ الْحَصْبَةِ أَرْسَلَ مَعِى أَخِي عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي بَكْرٍ، فَخَرَجْتُ إِلَى التَّنْعِيمِ، فَأَهْلَلْتُ بِعُمْرَةٍ مَكَانَ عُمْرَتِى. قَالَ هِشَامٌ وَلَمْ يَكُنْ فِي شَىْءٍ مِنْ ذَلِكَ هَدْىٌ وَلاَ صَوْمٌ وَلاَ صَدَقَةٌ. (بخاري: 317)

٢١٣- او له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: د ذي الحجې مياشتې له بره کېدو سره سم په سفر روان شوو، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (که څوک

غواړي د عمرې نيت وکړي؛ نو د عمرې لپاره دي احرام وتړي، که ما هدي (د قربانۍ څاروی) نه وی راوستی نو د عمرې لپاره به مي احرام تاړو). نو ځينو د عمرې او ځينو د حج لپاره احرامونه وتړل؛ او زه له هغو وم چې د عمرې نيت ئې کړی وو، د عرفې ورځ په داسي حال کي راباندي راغله چې زه حائضه وم، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ته مي شکايت وکړ، وئې فرمايل: عمره دي پرېږده، کوڅې دي پرانيزه او وېښتان دي ږمنځ کړه؛ او د حج نيت وکړه، همداسي مي وکړل، تر هغه چې د (محصب) شپه راورسېده (له منٰی د مکې په لور د خوځېدو شپه)، نو عبدالرحمن بن ابوبکر رضي الله عنهما) ئې راسره ولېږو نو تنعيم ته ووتلو، د عمرې نيت مي وکړ د خپلي مخکينۍ عمرې پر ځای. هشام وايي چې پدې سره نه قرباني، نه روژه او نه صدقه لازميږي.

تکرار: 294، 305، 316، 319، 328، 1516، 1518، 1556، 1560، 1561، 1562، 1638، 1650، 1709، 1720، 1733، 1757، 1762، 1771، 1772، 1783، 1786، 1787، 1788، 2952، 2984، 4395، 4401، 4408، 5329، 5548، 5559، 6157، 7229

توپير: دا روايت مخکي په ۲۰۳ روايت کي څېړل شوی.

(۱۲) باب: پر حائضه د لمانځه قضايئ نشته

۲۱۴- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ قَالَ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ

قَالَ حَدَّثَتْنِى مُعَاذَةُ أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ لِعَائِشَةَ أَتَجْزِى إِحْدَانَا صَلاَتَهَا إِذَا طَهُرَتْ فَقَالَتْ أَحَرُورِيَّةٌ أَنْتِ كُنَّا نَحِيضُ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَلاَ يَأْمُرُنَا بِهِ. أَوْ قَالَتْ فَلاَ نَفْعَلُهُ. (بخاري:321)

٢١٤- او له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې يوې ښځي وويل: آيا ښځه به (له حيض نه) له پاکېدو وروسته د لمانځه قضايئ راوړي؟ عائشې رضي الله عنها ورته وويل: ته خو به (حروريه) نه يې؟ موږ به د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وخت کي حائضې کېدو، خو پر دې ئې نه يو ګمارلې او يا ئې وويل: موږ به داسي نه کول.

يادونه: حروريه د خوارجو ډله وه. د دې لپاره دوی ته حروريه ويل کېدو چې لومړۍ غونډه ئې حروريه نومي ځای کي دائره شوې وه. دوی پر حائضې د حيض په مودې کي د پرېښودل شوو لمونځونو قضائي لازمه ګڼله.

(١٣) باب: له حائضې سره په يوه بستره کي ويدېدل

215- حَدَّثَنَا سَعْدُ بْنُ حَفْصٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ زَيْنَبَ ابْنَةِ أَبِي سَلَمَةَ حَدَّثَتْهُ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ قَالَتْ حِضْتُ وَأَنَا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فِي الْخَمِيلَةِ، فَانْسَلَلْتُ فَخَرَجْتُ مِنْهَا، فَأَخَذْتُ ثِيَابَ حِيضَتِى فَلَبِسْتُهَا، فَقَالَ لِي رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم (أَنُفِسْتِ). قُلْتُ نَعَمْ، فَدَعَانِى فَأَدْخَلَنِى مَعَهُ فِي الْخَمِيلَةِ. قَالَتْ وَحَدَّثَتْنِى أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ يُقَبِّلُهَا وَهُوَ صَائِمٌ، وَكُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم مِنْ إِنَاءٍ

وَاحِدٍ مِنَ الْجَنَابَةِ. (بخاري:322)

215- له ام سلمه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: په داسي حال کي چي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره په يوه وړين څادر کي پرته وم، حائضه شوم، ورو له څادر نه ووتلم؛ او د حيض جامې مي راواخستلې او وامي غوستلې، رسول الله صلى الله عليه و سلم راته وفرمايل: (نفاس دي شو؟)، مياشتنى عادت ئې د نفاس په نامه ياد کړ، ما وويل: هو؛ بيا ئې زه وروغوښتلم او په هغه څادر کي ئې له ځان سره ننويستم، همدا راز ئې وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي ښکلولم چي روژه ئې وه او ما او رسول الله صلى الله عليه و سلم به له يوه لوښي د جنابت غسل کاوو.

تکرار: 298، 323، 1929

توپير: دا روايت په 4- باب ۲۰۷ روايت کي څېړل شوى.

(١٤) باب: د عيد په لمانځه کي د حائضې ګډون

٢١٦- عن أُمُّ عَطِيَّةَ انها سَمِعتِ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "يَخْرُجُ الْعَوَاتِقُ وَذَوَاتُ الْخُدُورِ؛ او الْعَوَاتِقُ ذَوَاتُ الْخُدُورِ وَالْحُيَّضُ، وَلْيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ الْمُؤْمِنِينَ، وَيَعْتَزِلُ الْحُيَّضُ الْمُصَلَّى". قَالَتْ حَفْصَةُ فَقُلْتُ الْحُيَّضُ فَقَالَتْ أَلَيْسَ تَشْهَدُ عَرَفَةَ وَكَذَا وَكَذَا.

(بخاري:324)

٢١٦- له ام عطيه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چي وئې فرمايل: (نوې رسېدلې ښځي؛ او ستري يا په پرده کي ناستي ښځي؛ او حائضې ښځي دي وځي او د خير په کارونو (د عيد لمونځ) او د مسلمانانو په دعاء کي دي ګډون کوي، خو حائضې ښځي دي له مصلى ګوښه ودرېږي، حفصه وايي: ومي ويل: آيا حائضې ښځي هم؟ دې وويل: آيا حائضې ښځي عرفات او...او... ته نه حاضرېږي؟!

تکرار: 351، 971، 974، 980، 981، 1652

توپير: په يوه کي يَخْرُجُ الْعَوَاتِقُ وَذَوَاتُ الْخُدُورِ؛ او الْعَوَاتِقُ ذَوَاتُ الْخُدُورِ وَالْحُيَّضُ، وَلْيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ الْمُؤْمِنِينَ، په بل کي أُمِرْنَا أَنْ نُخْرِجَ الْحُيَّضَ يَوْمَ الْعِيدَيْنِ وَذَوَاتِ الْخُدُورِ، فَيَشْهَدْنَ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِينَ وَدَعْوَتَهُمْ او په بل کي كُنَّا نُؤْمَرُ أَنْ نَخْرُجَ يَوْمَ الْعِيدِ، حَتَّى نُخْرِجَ الْبِكْرَ مِنْ خِدْرِهَا، حَتَّى نُخْرِجَ الْحُيَّضَ فَيَكُنَّ خَلْفَ النَّاسِ، فَيُكَبِّرْنَ بِتَكْبِيرِهِمْ، وَيَدْعُونَ بِدُعَائِهِمْ يَرْجُونَ بَرَكَةَ ذَلِكَ الْيَوْمِ وَطُهْرَتَهُ، په يوه کي دا هم راغلي قَالَتِ امْرَأَةٌ يَا رَسُولَ الله، إِحْدَانَا لَيْسَ لَهَا جِلْبَابٌ. قَالَ لِتُلْبِسْهَا صَاحِبَتُهَا مِنْ جِلْبَابِهَا، لکه چي ګورئ په دغو روايتونو کي ويل شوي چي مورِ ته به امر کېدو چي د عيد د لمانځه لپاره ووځو، پېغلي، زړې او حتى حائضې به هم وتلې، په خپل ټاکلي ځای کي به ودرېدې، په لمانځه کي به ئې برخه اخيستله، حائضې به له مصلى بهر په يوه ګوښه کي وې او دا صحنه به ئې ليدله، يوې مېرمني له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتنه

کړي وه چې که څوك جلباب ونه لري او د همدې لپاره د عيد لمانځه ته ونه وځي څه ګناه پرې شته؟ ورته وئې فرمايل: خپلي خورلرې دي جلباب ورواغوندي.

په دې کي ډېر لوی حکمت دئ، له داسي غونډو انسان ډېر زيات متأثره کېږي، د همدې لپاره رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمنو ته امر کاوو چې په دغو غونډو کي برخه واخلي. ډېره عجيبه ده چې د داسي څرګندو نصوصو په شته والي کي ځيني خلك جومات ته د ښځو تلل ناروا ګڼي!! حفصه بنت سيرين وايي زما د خور مېرە له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره په دولسو غزواتو کي برخه اخيستي وه چې په شپږو کي ئې زما خور هم ورسره وه، موږ به مريضان او زخميان تداوي کول.

(١٥) باب: د حيض له مودې پرته زېږوالى او خړوالى

٢١٧- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ كُنَّا لاَ نَعُدُّ الْكُدْرَةَ وَالصُّفْرَةَ شَيْئًا. (بخاري:326)

٢١٧- له ام عطيه رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: موږ به خړوالى او زېږوالى په هيڅ نه حساباوو، يعنى حيض مو نه بالو.

له خړوالي او زېږوالي مراد هغه څه دي چې د حيض مودې په پاى يا پيل کي وځي، د فقهاءو تر منځ په دې کي اختلاف دئ چې کوم رنګ ئې حيض ګڼل کېږي، غوره رأيه

دا ده چې که ويني ته ئې رنګ نژدې وو نو حيض وګڼل شي.

(١٦) باب: هغه ښځه چې له افاضه طواف وروسته حائضه شي

٢١٨- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَنَّهَا قَالَتْ لِرَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم يَا رَسُولَ الله، إِنَّ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ قَدْ حَاضَتْ. قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم (لَعَلَّهَا تَحْبِسُنَا، أَلَمْ تَكُنْ طَافَتْ مَعَكُنَّ). فَقَالُوا بَلَى. قَالَ(فَاخْرُجِى). (بخاري:328)

٢١٨- د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مېرمني عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې وويل: يا رسول الله! صفيه بنت حيي حائضه شوې ده. رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (کېدی شي هغه مو ايسار کړي، آيا هغې له تاسو سره طواف نه وو کړی؟) وئې ويل: ولي نه؛ (طواف ئې کړی). وئې فرمايل: (نو ووځه)، (له مکې د مدينې په لور).

تکرار: 294، 305، 316، 317، 319، 1516، 1518، 1556، 1560، 1561، 1562، 1638، 1650، 1709، 1720، 1733، 1757، 1762، 1771، 1772، 1783، 1786، 1787، 1788، 2952، 2984، 4395، 4401،

4408، 5329، 5548، 5559، 6157، 7229

توپير: دا روايت مخكي په ۲۰۳ روايت کي څېړل شوی. په دې توپير چي هلته له عرفې مخکي د حيض حکم بيان شوی او دلته د زيارت له طواف وروسته د حيض حکم بيان شوي، په دې حالت کي حج بشپړ ګڼل کېږي او د وداع طواف ئې نه ايساروي.

(۱۷) باب: د نفاسې ښځي د جنازې لمونځ

219- حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي سُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنَا شَبَابَةُ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ حُسَيْنٍ الْمُعَلِّمِ عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ أَنَّ امْرَأَةً مَاتَتْ فِي بَطْنٍ، فَصَلَّى عَلَيْهَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَقَامَ وَسَطَهَا. (بخاري:332)

219- له سمره بن جندب رضي الله عنه روايت دئ چي: يوه ښځه د زېږون (ولادت) له امله مړه شوه، رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي د هغې د جنازې لمونځ وکړ چي وسط ته ئې مخامخ درېدلی وو.

تکرار: 1331، 1332

توپير: په يوه کي مَاتَتْ فِي بَطْنٍ په نورو کي مَاتَتْ فِي نِفَاسِهَا، په يوه کي فَصَلَّى عَلَيْهَا فَقَامَ وَسَطَهَا، په بل کي فَقَامَ عَلَيْهَا وَسَطَهَا لکه چي ګورئ په دې کي تعارض دئ، يو ئې وايي چي د زېږون په وخت کي او نور ئې وايي د نفاس پر مهال، مطلب ئې يو دئ او هغه دا چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د هغې د جنازې لمونځ داسي کړی

چي وسط ته ئې مخامخ ولاړ وو.

(١٨) باب

٢٢٥- حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُدْرِكٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمَّادٍ قَالَ أَخْبَرَنَا أَبُو عَوَانَةَ- اسْمُهُ الْوَضَّاحُ- مِنْ كِتَابِهِ قَالَ أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ الشَّيْبَانِيُّ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَدَّادٍ قَالَ سَمِعْتُ خَالَتِي مَيْمُونَةَ- زَوْجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَنَّهَا كَانَتْ تَكُونُ حَائِضًا لاَ تُصَلِّى، وَهْىَ مُفْتَرِشَةٌ بِحِذَاءِ مَسْجِدِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم وَهْوَ يُصَلِّى عَلَى خُمْرَتِهِ، إِذَا سَجَدَ أَصَابَنِي بَعْضُ ثَوْبِهِ. (بخاري:333)

٢٢٥- د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مېرمني ميمونه رضي الله عنها روايت دئ چي هغه حائضه وه او لمونځ ئې نه کاوو؛ او د رسول الله صلى الله عليه و سلم د مصلى خوا ته پرته وه، په داسي حال کي چي هغه پر خپلي مصلى لمونځ کاوو، کله چي به ئې سجده کوله نو د جامو پېڅکي به ئې له ما سره لګېدلې.

تکرار: 379، 381، 517، 518

توپير: په يوه کي مُفْتَرِشَةٌ بِحِذَاءِ مَسْجِدِ، په بل کي وَأَنَا إِلَى جَنْبِهِ نَائِمَةٌ او په بل کي كَانَ فِرَاشِى حِيَالَ مُصَلَّى، په يوه کي فَرُبَّمَا وَقَعَ ثَوْبُهُ عَلَيَّ وَأَنَا عَلَى فِرَاشِى او په بل کي وَأَنَا حِذَاءَهُ وَأَنَا حَائِضٌ وَرُبَّمَا أَصَابَنِي ثَوْبُهُ إِذَا سَجَدَ. د ټولو مطلب يو دئ او هغه دا چي رسول الله صلى الله عليه و سلم لمونځ کولو، ميمونه رضي الله عنها چي په مياشتني عادت کي وه، د ده د مصلى خوا ته دومره نژدې پرته وه

چې د سجدې پر مهال به ئې جامه ورسره لګېدله.

(۷) د تيمم کتاب

(1)- باب

۲۲۱- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ، حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ- أَوْ بِذَاتِ الْجَيْشِ- انْقَطَعَ عِقْدٌ لِي، فَأَقَامَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم عَلَى الْتِمَاسِهِ، وَأَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، فَأَتَى النَّاسُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ فَقَالُوا أَلاَ تَرَى مَا صَنَعَتْ عَائِشَةُ أَقَامَتْ بِرَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم وَالنَّاسِ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ. فَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ وَرَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَاضِعٌ رَأْسَهُ عَلَى فَخِذِى قَدْ نَامَ فَقَالَ حَبَسْتِ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم وَالنَّاسَ، وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ. فَقَالَتْ عَائِشَةُ فَعَاتَبَنِي أَبُو بَكْرٍ، وَقَالَ مَا شَاءَ الله أَنْ يَقُولَ، وَجَعَلَ يَطْعُنُنِى بِيَدِهِ فِي خَاصِرَتِى، فَلاَ يَمْنَعُنِى مِنَ التَّحَرُّكِ إِلاَّ مَكَانُ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم عَلَى فَخِذِى، فَقَامَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم حِينَ أَصْبَحَ عَلَى غَيْرِ مَاءٍ، فَأَنْزَلَ الله آيَةَ التَّيَمُّمِ فَتَيَمَّمُوا. فَقَالَ أُسَيْدُ بْنُ الْحُضَيْرِ مَا هِيَ بِأَوَّلِ بَرَكَتِكُمْ يَا آلَ أَبِي بَكْرٍ.

قَالَتْ فَبَعَثْنَا الْبَعِيرَ الَّذِي كُنْتُ عَلَيْهِ، فَأَصَبْنَا الْعِقْدَ تَحْتَهُ. (بخاري:334)

٢٢١- د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مېرمني عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: په يوه سفر کي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره روان شوو، کله چې د (بيداء) او يا (ذات الجيش) سيمي ته ورسېدو، زما آميل (غاړګی) وشلېد، (ورک شو)، رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې د لټون له امله ودرېد، خلک هم ورسره تم شول، په داسي حال کي چې اوبه ورسره نه وې، (د اوبو خوا ته هم نه ول)، خلک ابوبکر صديق رضي الله عنه ته ورغلل او ورته وئې ويل: آيا خبر نه يې چې عائشې رضي الله عنها څه کړي دي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم او خلک ئې تم کړل، په داسي حال کي چه نه د اوبو خوا ته دي او نه له دوی سره اوبه شته، ابوبکر رضي الله عنه په داسي حال کي راغی چې رسول الله صلى الله عليه و سلم زما پر وړون باندي سر ايښی وو او ويده شوی وو، راته وئې ويل: خلك دي تم کړل په داسي حال کي چه نه د اوبو خوا ته دي او نه له دوی سره اوبه شته، عائشه وايي: نو ابوبکر رضي الله عنه ورټلم او هغه څه ئې راته وويل چې الله تعالى غوښتل راته وئې وايي؛ او په خپل لاس سره ئې په ډډه ټومبلم؛ او زه يوازي دې خبري له خوځېدو منع کولم چې رسول الله صلى الله عليه و سلم خپل سر زما پر وړون ايښی وو، چې راپاڅېد او اوبه نه وې، نو الله تعالى د تيمم آيت رانازل کړ او خلکو تيمم وکړ، بيا اسيد بن حضير وويل: اې د ابوبکر

کورنی! دا ستاسي لومړنی برکت نه دئ. عائشه رضي الله عنها وایي: بیا مو کله چي هغه اوښ چي زه پرې سپره وم له ځایه پاڅاوو، زما آمیل مو ترې لاندي وموند.

تکرار: 336، 3672، 3773، 4583، 4607، 4608، 5164، 5250، 5882، 6844، 6845

توپیر: په یوه کي انْقَطَعَ عِقْدٌ لِي، په بل کي هَلَكَتْ قِلاَدَةٌ لأَسْمَاءَ، په بل کي أَنَّهَا اسْتَعَارَتْ مِنْ أَسْمَاءَ قِلاَدَةً فَهَلَكَتْ، په بل کي سَقَطَتْ قِلاَدَةٌ لِي بِالْبَيْدَاءِ، په یوه کي فَبَعَثَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم رَجُلاً، فَوَجَدَهَا فَأَدْرَكَتْهُمُ الصَّلاَةُ وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ فَصَلَّوْا، فَشَكَوْا، په بل کي فَبَعَثْنَا الْبَعِيرَ الَّذِي كُنْتُ عَلَيْهِ، فَأَصَبْنَا الْعِقْدَ تَحْتَهُ، په یوه کي فَصَلَّوْا وَهُمْ عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ، فَأَنْزَلَ الله. يَعْنِي آيَةَ التَّيَمُّمِ، په بل کي، فَصَلَّوْا وَهُمْ عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ، فَذَكَرُوا ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَأَنْزَلَ الله آيَةَ التَّيَمُّمِ، په بل کي حِينَ أَصْبَحَ عَلَى غَيْرِ مَاءٍ فَأَنْزَلَ الله آيَةَ التَّيَمُّمِ او په بل کي اسْتَيْقَظَ وَحَضَرَتِ الصُّبْحُ فَالْتُمِسَ الْمَاءُ فَلَمْ يُوجَدْ فَنَزَلَتْ، په یوه کي وَاضِعٌ رَأْسَهُ عَلَى فَخِذِى، په بل کي فَثَنَى رَأْسَهُ فِي حَجْرِى رَاقِدًا، په یوه کي وَجَعَلَ يَطْعُنُنِى بِيَدِهِ فِي خَاصِرَتِى، په بل کي فَلَكَزَنِى لَكْزَةً شَدِيدَةً او په بل کي وَقَدْ أَوْجَعَنِى.

لکه چي ګورئ په دغو روایاتو کي کافي توپیرونه تر سترګو کېږي، له ځینو داسي معلومېږي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم له راپاڅېدو وروسته او کله چي دا معلومه شوې چي اوبه نشته نو د تیمم آیت نازل شوی، خو له ځینو معلومېږي چي خلکو بې اودسه لمونځونه کړي او

سبا دا آيت نازل شوى، ځيني ئې وايي چې په هار پسي څوك لېږل شوى او هغه موندلى خو ځيني ئې وايي چې تر اوښ لاندي موندل شوى؛ او هغه مهال چې د عائشې رضي الله عنها د سورلۍ اوښ ئې له خپل ځايه پاڅولى. ځيني نور روايات بيا وايي چې عائشې رضي الله عنها دا هار هغه مهال په خپله موندلى وو چې قافله تړې تللې وه او دا ئې يوازي پرېښې وه، ګواكي د افك پېښه هم په همدې سفر كي رامنځته شوې وه!!

دلته څو پوښتنې راولاړېږي: لومړى دا چې د تيمم په اړه خو دوه آيتونه نازل شوي، يو ئې د النساء 43 آيت او بل ئې د المائدې 6 آيت، دلته كوم آيت ته اشاره شوې؟ بخاري په بل ځاى كي ويلي چې دا د المائدې د سورې آيت وو، حال دا چې د المائدې سوره تر دې پېښې ډېر وروسته لږ تر لږه تر يوه كال زياته موده وروسته نازله شوې ده!! دوهمه پوښتنه دا ده چې كه دا د المائدې د سورې آيت وو نو تر دې د مخه خو د النساء د سورې آيت نازل شوى وو او په هغه كي د تيمم يادونه شوې وه نو صحابه وو څنګه بې تيممه لمونځ وكړ؟! د روايت له نورو برخو خو داسي معلومېږي چې د تيمم اړوند آيت په همدغه سفر كي نازل شوى، د دې خبري نتيجه دا راوځي چې دا د النساء د سورې آيت دئ، ځكه چې د النساء سوره د څلورم هجري كال په لومړيو كي او المائده د اوم كال په لومړيو كي يا تر دې لږ د مخه نازله شوې ده. د رواياتو له مخې معلومېږي چې دا پېښه د بني المصطلق له غزوې د راستنېدو پر مهال رامنځته شوې وه، چې دا غزوه په پنځم هجري كال كي واقع شوې ده.

دغو خبرو ته په پام سره ويلى شو چي هغه روايت تر نورو غوره او ارجح دئ چي دغه مهال نازل شوى آيت د النساء د سورې آيت ګڼي او له اودسه پرته د لمونځ کولو يادونه نه کوي؛ او وايي چي يو وخت لمونځ پاته شوى وو خو د رسول الله صلى الله عليه و سلم له راويښېدا وروسته د تيمم آيت نازل شوى، دا خبره هم معقوله او د منلو وړ نه برېښي چي څوك دي تر سهاره د بل پر ورانه خوب وکړي.

222- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِنَانٍ هُوَ العَوَقِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، قَالَ: ح وَحَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ النَّضْرِ، قَالَ: أَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ، قَالَ: أَخْبَرَنَا سَيَّارٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا يَزِيدُ هُوَ ابْنُ صُهَيْبٍ الفَقِيرُ، قَالَ: أَخْبَرَنَا جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أُعْطِيتُ خَمْسًا لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ قَبْلِي نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ، وَجُعِلَتْ لِيَ الأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا، فَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَدْرَكَتْهُ الصَّلاَةُ فَلْيُصَلِّ، وَأُحِلَّتْ لِيَ الْمَغَانِمُ وَلَمْ تَحِلَّ لأَحَدٍ قَبْلِي، وَأُعْطِيتُ الشَّفَاعَةَ، وَكَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً، وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً". (بخاري:335)

222- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (ما ته پنځه داسي شيان راکړل شوي چي له ما مخکي هيڅا ته نه دي ورکړل شوي: د يوې مياشتي واټن په رعب او هيبت زما مرسته شوې، (په هغه دښمن هم زما رعب پرېوځي چي د يوې مياشتي په واټن له ما لري وي)، زمکه راته جومات او پاکوونکي (د پاکۍ وسيله) ګرځول شوې، نو زما د امت پر هر فرد چي

(هرچېري) د لمانځه وخت راغی؛ هملته دي لمونځ وکړي (که اوبه نه وې تیمم دي ووهي)، غنیمتونه راته حلال شوي او له ما مخکي هیڅا ته نه وو حلال او ما ته شفاعت راپه برخه شوی؛ او له ما مخکي به هر نبي یوازي خپل قوم ته لیږل کېدو او زه د ټولو خلکو لپاره لیږل شوی یم).

(۲) باب: مقيم او د لمانځه د قضاء له وېرې تيمم

۲۲۳- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ رَبِيعَةَ عَنِ الأَعْرَجِ قَالَ سَمِعْتُ عُمَيْرًا مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَقْبَلْتُ أَنَا وَعَبْدُ اللهِ بْنُ يَسَارٍ مَوْلَى مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى أَبِي جُهَيْمِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الصِّمَّةِ الأَنْصَارِيِّ فَقَالَ أَبُو الْجُهَيْمِ أَقْبَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم مِنْ نَحْوِ بِئْرِ جَمَلٍ، فَلَقِيَهُ رَجُلٌ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم حَتَّى أَقْبَلَ عَلَى الْجِدَارِ، فَمَسَحَ بِوَجْهِهِ وَيَدَيْهِ، ثُمَّ رَدَّ عَلَيْهِ السَّلاَمَ. (بخاري:337)

۲۲۳- له ابو جهیم بن حارث انصاري رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له بئر جمل را روان وو (دا په مدینه کي د یوه ځای نوم دئ)، چې یو سړی ورسره مخامخ شو، سلام ئې پرې واچاوو، رسول الله صلى الله عليه و سلم (د سلام) ځواب ونه وایو، تر هغه چې له یوه دېوال سره مخ شو نو له هغه ئې پر خپل مخ او لاسونو مسح وکړه (تیمم ئې وکړ) بیا ئې د هغه سړي د

سلام ځواب ورکړ.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په دريو طبقو کي يو يو راوي لري، ځيني محدثين ئې صحيح ګڼي، خو په دې اړه څو بې ځوابه پوښتني راولاړيږي:

- په قرآن کي د دې د صحت لپاره هيڅ شاهد نه مومو، قرآن يوازي د لمانځه لپاره د اودس کولو امر کړی.
- دا له ډېرو هغو رواياتو سره تعارض لري چي وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم هر وخت او په هر حال کي د الله تعالى ذکر کړی، خلکو ته ئې دا سپارښتنه کړې چي تل مو بايد ژبه د الله تعالى په ذکر لمده وي، حتى تشناب ته د ننوتلو پر مهال هم بايد دعاء وکړئ، له خپلو مېرمنو سره د نژدېکت په وخت کي هم بسم الله الرحمن الرحيم ووايئ؛ او دې ته ورته ډېر نور روايات چي ښيي نه د الله تعالى د نامه د يادولو لپاره اودس ضروري دئ او نه د قرآن د تلاوت لپاره؛ او په هر حال؛ ملاسته، ناسته او ولاړه ئې د الله تعالى د ذکر سپارښتنه کړې. دا د بخاري له هغه روايت سره هم تعارض لري چي وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم به تهجد ته له راپاڅېدا وروسته او تر اودس د مخه د آل عمران د سورې وروستي لس آيتونه تلاوت کول.
- که دا ومنل شي نو بيا خو به ډېر مهم کارونه بې اودسه نه شو پيل کولى، ځکه رسول الله صلى الله عليه و سلم مور ته وايي چي هر مهم کار مو په بسم الله الرحمن الرحيم پيل کړئ، بيا خو به بې اودسه ډوډۍ نه شو خوړلى، بيا خو به د اودس په پيل کي بسم الله الرحمن الرحيم نه شو ويلي، بيا

خو به بې اودسه کور او خوني ته نه شو ننوتلی؛ او ډېر نور کارونه به نه شو کولی!

- په علیکم السلام کي (سلام) د الله تعالی د نامه په معنی نه وي بلکي د سلامتیا په معنی او د دعاء په توګه ویل کېږي، نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به ولي ویل چي نه مي غوښتل د الله تعالی نوم له تیمم پرته یاد کړم؟!
- د سلام ځواب ویل واجب دي او له اودس سره د الله تعالی نوم یادول مستحب دي، رسول الله صلی الله علیه و سلم به څنګه یو واجب عمل د یوه مستحب عمل لپاره ځنډولو؟
- هیڅ حقیقي عالم له دې سره اختلاف نشي کولی چي د الله تعالی د نامه یادولو یا د قرآن د تلاوت لپاره اودس ضروري نه دئ، د علماءو تر منځ اختلاف په دې کي دئ چي آیا مصحف ته بې اودسه لاس ورورل جائز دي که نه؛ چي إن شاء الله دا به په خپل ځای کي وڅېړو.

البانی په دغه روایت استناد کوي او وایي چي بې اودسه تلاوت جائز نه دئ او پر اهل حدیثو اعتراض کوي چي بې اودسه تلاوت جائز ګڼي، پر اهل حدیثو د ده نیوکه وارده ده، ځکه چي هغوی د بخاري دواړه متعارض روایات صحیح ګڼي، خو ومو لیده چي د البانی دا رأیه له ډېرو نورو واضح او صریح نصوصو سره اړخ نه لګوي.

(۳) باب: آیا تیمم کوونکی کولی شي په خپلو لاسونو کي پو کړي

۲۲۴- حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا الْحَكَمُ عَنْ ذَرٍّ عَنْ سَعِيدِ

بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى عَنْ أَبِيهِ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَقَالَ إِنِّي أَجْنَبْتُ فَلَمْ أُصِبِ الْمَاءَ. فَقَالَ عَمَّارُ بْنُ يَاسِرٍ لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَمَا تَذْكُرُ أَنَّا كُنَّا فِي سَفَرٍ أَنَا وَأَنْتَ فَأَمَّا أَنْتَ فَلَمْ تُصَلِّ، وَأَمَّا أَنَا فَتَمَعَّكْتُ فَصَلَّيْتُ، فَذَكَرْتُ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكَ هَكَذَا". فَضَرَبَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِكَفَّيْهِ الأَرْضَ، وَنَفَخَ فِيهِمَا ثُمَّ مَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ وَكَفَّيْهِ. (بخاري:338)

٢٢٤- له سعيد بن عبدالرحمن روايت دئ چي پلار ئې ويلي: يو سړی عمر رضي الله عنه ته راغی او وئې ويل: زه جنب يم او اوبه مي پر ځان نه دي توی کړې، نو عمار بن ياسر رضي الله عنه عمر بن خطاب رضي الله عنه ته وويل: آيا په ياد دي دي چي زه او ته په يوه سفر کي سره ملګري وو؛ او تا لمونځ ونه کړ خو زه (په خاورو کي) ورغړېدم او لمونځ مي وکړ، دغه قصه مي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وکړه، رسول الله صلى الله عليه و سلم راته وويل: (دا درته کافي وو چي داسي وکړې: بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم خپل دواړه لاسونه پر زمکه ووهل او ورپو ئې کړل، بيا ئې خپل مخ او دواړه لاسونه وربانديمسح کړل.

تکرار: 339، 340، 341، 342، 343، 345، 346، 347

توپير: په يوه کي فَضَرَبَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِيَدِهِ الأَرْضَ، فَمَسَحَ وَجْهَهُ وَكَفَّيْهِ، په بل کي فَضَرَبَ بِكَفِّهِ ضَرْبَةً عَلَى الأَرْضِ ثُمَّ نَفَخَهَا، ثُمَّ مَسَحَ بِهَا ظَهْرَ كَفِّهِ

بِشِمَالِهِ؛ او ظَهْرَ شِمَالِهِ بِكَفِّهِ، ثُمَّ مَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ، په بل کي ثُمَّ أَدْنَاهُمَا مِنْ فِيهِ، ثُمَّ مَسَحَ وَجْهَهُ وَكَفَّيْهِ، په بل کي يَكْفِيكَ الْوَجْهُ وَالْكَفَّانِ، په يوه کي دا هم راغلي چي عمر رضي الله عنه د اوبو د نشتوالي له وجهي لمونځ ونه کړ او عمار وايي چي زه په خاورو کي ورغړېدم او بيا مي لمونځ وکړ، په بل کي راځي چي عمر رضي الله عنه د عمار رضي الله عنه په دې خبري قناعت ونه کړ لَمْ أَرَ عُمَرَ قَنِعَ بِقَوْلِ عَمَّارٍ، په بل کي راځي چي ابن عباس رضي الله عنهما د تيمم اجازه نه ورکوله نو هغه ته وويل شول فَكَيْفَ تَصْنَعُونَ بِهَذِهِ الآيَةِ فِي سُورَةِ الْمَائِدَةِ (فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا) فَقَالَ عَبْدُ الله لَوْ رُخِّصَ لَهُمْ فِي هَذَا لأَوْشَكُوا إِذَا بَرَدَ عَلَيْهِمُ الْمَاءُ أَنْ يَتَيَمَّمُوا الصَّعِيدَ گواکي وئې ويل چي که اجازه ورکړو نو بيا خو به په هغه صورت کي هم تيمم کوي چي اوبه ئې سړې وي!

دا روايت د سند له مخي دومره کمزورى دئ چي په پنځو نسلونو کي يوازي يوه يوه کس روايت کړى، يعني تر زيات غريب هم اوښتى، وپرېږم دا په پنځم نسل کي کوم شيعه نه وي جوړ کړى، چي عمر رضي الله عنه ته ئې په تيمم نه پوهېدا او د لمونځ پرېښودا منسوب کړې او عمار رضي الله عنه ته د تيمم لپاره په خاورو کي رغړېدا!! او عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ته ئې دا حق ورکړى چي د قرآن يو صريح حکم نسخ کړي!!

د متن له مخي قطعاً د منلو او راوړلو وړ نه دئ ځکه نه خو دا د منلو وړ ده چي عمر رضي الله عنه د تيمم له حکم

خبر نه وو او لمونځ ئې پرېښود، نه دا چې عبدالله بن عباس چا ته د تيمم اجازه نه وركوله؛ او نه دا چې عمار دومره بې خبره وو چې د تيمم لپاره په خاورو كې رغړېدو!! د تيمم په اړه خو د قرآن آيت دومره صريح او واضح دئ چې د قرآن هر لوستونكى پرې پوهيږي. او اړوند آيت ئې داسي مهال نازل شوى چې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره لويه ډله په سفر كې ملګرې وه، ټولو همغه مهال تيمم زده كړى. نو د روايت دا برخه هم د منلو وړ نه ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپلو لاسونو كې پو كړي، دا ځكه چې په تيمم كې پاك لاس پر مخ موښل مراد نه دي بلكې په خاورو لړلى لاس مراد دئ.

دا هم بايد ووايو چې كه څه هم قرآن دا نه دي ويلي چې لاسونه به دوه واري پر پاكه زمكه وهئ كه يو ځل خو له الفاظو داسي معلومېږي چې د مخ لپاره ښل او د لاسونو لپاره ښل وهل مقصود دي، همغسي لكه په اودس كې چې د مخ لپاره بيلي اوبه اخيستل او د لاسونو لپاره ښلي اخيستل كېږي.

دا روايت په صحاح سته كې يوازي بخاري او مسلم راوړى او درې څلورو نورو كتابونو هم رااخيستى، خو تعجب كوو چې څنګه ئې د راوړلو وړ ګڼلى.

(٤) باب: پاكه خاوره د مسلمان لپاره د پاكۍ وسيله ده.

٢٢٥- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَوْفٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو رَجَاءٍ عَنْ عِمْرَانَ قَالَ كُنَّا فِي سَفَرٍ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله

عليه و سلم وَإِنَّا أَسْرَيْنَا، حَتَّى كُنَّا فِي آخِرِ اللَّيْلِ، وَقَعْنَا وَقْعَةً وَلاَ وَقْعَةَ أَحْلَى عِنْدَ الْمُسَافِرِ مِنْهَا، فَمَا أَيْقَظَنَا إِلاَّ حَرُّ الشَّمْسِ، وَكَانَ أَوَّلَ مَنِ اسْتَيْقَظَ فُلاَنٌ ثُمَّ فُلاَنٌ ثُمَّ فُلاَنٌ- يُسَمِّيهِمْ أَبُو رَجَاءٍ فَنَسِىَ عَوْفٌ- ثُمَّ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ الرَّابِعُ، وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم إِذَا نَامَ لَمْ يُوقَظْ حَتَّى يَكُونَ هُوَ يَسْتَيْقِظُ، لأَنَّا لاَ نَدْرِى مَا يَحْدُثُ لَهُ فِي نَوْمِهِ، فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ عُمَرُ، وَرَأَى مَا أَصَابَ النَّاسَ، وَكَانَ رَجُلاً جَلِيدًا، فَكَبَّرَ وَرَفَعَ صَوْتَهُ بِالتَّكْبِيرِ، فَمَا زَالَ يُكَبِّرُ وَيَرْفَعُ صَوْتَهُ بِالتَّكْبِيرِ حَتَّى اسْتَيْقَظَ لِصَوْتِهِ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ شَكَوْا إِلَيْهِ الَّذِي أَصَابَهُمْ قَالَ "لاَ ضَيْرَ- أَوْ لاَ يَضِيرُ- ارْتَحِلُوا". فَارْتَحَلَ فَسَارَ غَيْرَ بَعِيدٍ ثُمَّ نَزَلَ، فَدَعَا بِالْوَضُوءِ، فَتَوَضَّأَ وَنُودِىَ بِالصَّلاَةِ فَصَلَّى بِالنَّاسِ، فَلَمَّا انْفَتَلَ مِنْ صَلاَتِهِ إِذَا هُوَ بِرَجُلٍ مُعْتَزِلٍ لَمْ يُصَلِّ مَعَ الْقَوْمِ قَالَ "مَا مَنَعَكَ يَا فُلاَنُ أَنْ تُصَلِّىَ مَعَ الْقَوْمِ". قَالَ أَصَابَتْنِى جَنَابَةٌ وَلاَ مَاءَ. قَالَ "عَلَيْكَ بِالصَّعِيدِ، فَإِنَّهُ يَكْفِيكَ". ثُمَّ سَارَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَاشْتَكَى إِلَيْهِ النَّاسُ مِنَ الْعَطَشِ فَنَزَلَ، فَدَعَا فُلاَنًا- كَانَ يُسَمِّيهِ أَبُو رَجَاءٍ نَسِيَهُ عَوْفٌ- وَدَعَا عَلِيًّا فَقَالَ "اذْهَبَا فَابْتَغِيَا الْمَاءَ". فَانْطَلَقَا فَتَلَقَّيَا امْرَأَةً بَيْنَ مَزَادَتَيْنِ- أَوْ سَطِيحَتَيْنِ- مِنْ مَاءٍ عَلَى بَعِيرٍ لَهَا، فَقَالاَ لَهَا أَيْنَ الْمَاءُ قَالَتْ عَهْدِى بِالْمَاءِ أَمْسِ هَذِهِ السَّاعَةَ، وَنَفَرُنَا خُلُوفًا. قَالاَ لَهَا انْطَلِقِى إِذًا. قَالَتْ إِلَى أَيْنَ قَالاَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم . قَالَتِ الَّذِي يُقَالُ لَهُ الصَّابِئُ قَالاَ هُوَ الَّذِي تَعْنِينَ فَانْطَلِقِى. فَجَاءَا بِهَا إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَحَدَّثَاهُ الْحَدِيثَ قَالَ فَاسْتَنْزَلُوهَا عَنْ بَعِيرِهَا وَدَعَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِإِنَاءٍ، فَفَرَّغَ فِيهِ مِنْ أَفْوَاهِ الْمَزَادَتَيْنِ- أَوِ السَّطِيحَتَيْنِ-

وَأَوْكَأَ أَفْوَاهَهُمَا، وَأَطْلَقَ الْعَزَالِيَ، وَنُودِيَ فِي النَّاسِ اسْقُوا وَاسْتَقُوا. فَسَقَى مَنْ شَاءَ، وَاسْتَقَى مَنْ شَاءَ، وَكَانَ آخِرَ ذَاكَ أَنْ أَعْطَى الَّذِي أَصَابَتْهُ الْجَنَابَةُ إِنَاءً مِنْ مَاءٍ قَالَ "اذْهَبْ، فَأَفْرِغْهُ عَلَيْكَ". وَهْيَ قَائِمَةٌ تَنْظُرُ إِلَى مَا يُفْعَلُ بِمَائِهَا، وَايْمُ اللهِ لَقَدْ أُقْلِعَ عَنْهَا، وَإِنَّهُ لَيُخَيَّلُ إِلَيْنَا أَنَّهَا أَشَدُّ مِلأَةً مِنْهَا حِينَ ابْتَدَأَ فِيهَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "اجْمَعُوا لَهَا". فَجَمَعُوا لَهَا مِنْ بَيْنِ عَجْوَةٍ وَدَقِيقَةٍ وَسَوِيقَةٍ، حَتَّى جَمَعُوا لَهَا طَعَامًا، فَجَعَلُوهَا فِي ثَوْبٍ، وَحَمَلُوهَا عَلَى بَعِيرِهَا، وَوَضَعُوا الثَّوْبَ بَيْنَ يَدَيْهَا قَالَ لَهَا "تَعْلَمِينَ مَا رَزِئْنَا مِنْ مَائِكِ شَيْئًا، وَلَكِنَّ اللهَ هُوَ الَّذِي أَسْقَانَا". فَأَتَتْ أَهْلَهَا، وَقَدِ احْتَبَسَتْ عَنْهُمْ قَالُوا مَا حَبَسَكِ يَا فُلاَنَةُ قَالَتِ الْعَجَبُ، لَقِيَنِي رَجُلاَنِ فَذَهَبَا بِي إِلَى هَذَا الَّذِي يُقَالُ لَهُ الصَّابِئُ، فَفَعَلَ كَذَا وَكَذَا، فَوَاللهِ إِنَّهُ لأَسْحَرُ النَّاسِ مِنْ بَيْنِ هَذِهِ وَهَذِهِ. وَقَالَتْ بِإِصْبَعَيْهَا الْوُسْطَى وَالسَّبَّابَةِ، فَرَفَعَتْهُمَا إِلَى السَّمَاءِ- تَعْنِي السَّمَاءَ وَالأَرْضَ- أَوْ إِنَّهُ لَرَسُولُ اللهِ حَقًّا، فَكَانَ الْمُسْلِمُونَ بَعْدَ ذَلِكَ يُغِيرُونَ عَلَى مَنْ حَوْلَهَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، وَلاَ يُصِيبُونَ الصِّرْمَ الَّذِي هِيَ مِنْهُ، فَقَالَتْ يَوْمًا لِقَوْمِهَا مَا أُرَى أَنَّ هَؤُلاَءِ الْقَوْمَ يَدَعُونَكُمْ عَمْدًا، فَهَلْ لَكُمْ فِي الإِسْلاَمِ فَأَطَاعُوهَا فَدَخَلُوا فِي الإِسْلاَمِ. (بخاري:344)

٢٢٥- له عمران بن حصين رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: په يوه سفر کي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ملګري وو، ټوله شپه مو مزل وکړ، چې شپه آخره شوه، په يوه ځای کي مو واړول، دمه مو وکړه، داسي دمه چې د هيڅ مسافر لپاره به تر دې غوره او خوږه دمه نه

وي، داسي ويده شوو چي ايله د لمر ګرمۍ راوينښ کړو، له ټولو مخکې فلانۍ، بيا فلانۍ، بيا فلانۍ (ابو رجاء ياد کړل خو عوف هېر کړي)، بيا عمر بن الخطاب رضي الله عنه چي ځلورم وو له خوبه راوينښ شو، نبي صلى الله عليه و سلم به چي ويده شو، نو تر هغه به چي په خپله نه وو راوينښ شوى مور به نه راوينښاوو، ځکه نه پوهېدو چي په خوب کي څه ورپېښېږى؟ کله چي عمر رضي الله عنه وينښ شو او خلکو ته ورپېښ شوى حالت ئې وليد؛ او هغه يو با هيبته او جلالي شخصيت وو. فوراً ئې د تکبير ناره وکړه، (الله اکبر) ئې وويل او تر هغه ئې تکبير ويلو چي په غږ سره ئې رسول الله صلى الله عليه و سلم راوينښ شو، کله چي را وينښ شو، خلکو له ورپېښ شوي حالت شکايت ورته وکړ، وئې فرمايل: (باک نه لري، پروا نه لري، حرکت وکړئ). خلک وخوځېدل، چي لږ مخکي لاړ، وايې ړول، اوبه ئې وغوښتلې، اودس ئې وکړ، د لمانځه لپاره أذان وشو، خلکو ته ئې لمونځ ورکړ، کله چي له لمانځه فارغ شو، يو سړى ئې وليد چي ګوښې ناست دئ او له خلکو سره ئې لمونځ نه دئ کړى، وئې فرمايل: (اې فلانيه! ولي دي له خلکو سره لمونځ ونکړ؟) هغه وويل: زه جنب شوى يم او اوبه نشته، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (په دې حالت کي پر تا خاوري ته مخه کول دي همدا درته کافي ده)، (يعنى تيمم وکړه). بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم روان شو، خلکو له تندي شکايت ورته وکړ، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم تم شو، فلانۍ ئې راوغوښت؛ ابو رجاء ئې نوم

واخيست خو عوف ئې نوم هېر کړی؛ او علي رضي الله عنه ئې راوغوښت او وئې فرمايل: (لاړ شئ او چېرې اوبه ولټوئ). هغوی دواړه روان شول چې يوه ښځه ئې وليده چې د اوبو د دوو ژيو تر منځ پر خپل اوښ سپره ده، دوی دواړو ورته وويل: اوبه چېرې دي؟ ښځې وويل: زه پرون همدا وخت له اوبو سره وم؛ او زموږ خلک په سفر وتلي دي، دوی ورته وويل: نو راځه چې لاړ شو، ښځې وويل: چېرې؟ دوی وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته، ښځې وويل: هغه چې ويل کېږي چې له خپل پلرني دين ګرځېدلی دئ؟ دوی دواړو وويل: هو؛ همغه ته چې ته اشاره ورته کوې، نو وخوځه، نو هغه ئې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راوستله، قصه ئې ورته وکړه، راوي وايي: بيا ئې هغه له اوښ راکوزه کړه، بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم يو لوښی راوغوښت او د هغو دوو ژيو له خولو ئې په دې لوښي کې اوبه توی کړې؛ او د ژيو لوېي خولې ئې وتړلې او وړې خولې ئې پرانيستلې او خلکو ته آواز وشو چې راشئ اوبه وڅښئ او خپل څاروي هم خړوبه کړئ، هر چا چې غوښتل په خپله ئې اوبه وڅښلې او چا چې غوښتل څاروي ئې خړوبه کړل؛ او وروستی کس چې له اوبو ډک لوښی ئې ورکړ هغه وو چې جنب شوی وو؛ او ورته وئې فرمايل: (لاړ شه او دا اوبه درباندي توی کړه). هغه ښځه همغسي ولاړه وه او کتل ئې چې له اوبو سره ئې څه کېږي؟ په خدای قسم چې د اوبو ايستل په داسي حال کې تر بنده شو چې خيال مو کاوو هغه ژي تر پيل زيات ډک وو؛ او

رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (دې ښځي ته څه راغونډ کړئ)، نو خرما، اوړه او سويق (د اوربشو دلده) ئې ورته راټول کړل، حتی خواړه ئې هم ورته راغونډ کړل، په يوه جامه کي ئې ورته کېښودل، ښځه ئې پر اوښ سپره کړه او هغه جامه ئې تر مخ ورته کېښوده؛ او ورته وئې فرمايل: (پوهيږې چې موږ ستا له اوبو څه کم نکړل، خو الله تعالى موږ خړوب کړو). بيا ښځه خپل اهل ته په داسي حال کي ورغله چې ترې ايساره شوې وه، خپلوانو ئې وويل: اى فلانى! څه شي ايساره کړې؟ ښځي وويل: عجيبه قصه وه؛ دوه تنه راسره مخامخ شول، بيا ئې زه هغه شخص ته وروستلم چې خلک ئې له خپل دين ګرځېدلى (صابئى) بولي، هغه داسي او هغسي وکړل، قسم په خداى چې دا سړى د دې (زمکې) او هغه (آسمان) تر منځ تر ټولو لوى ساحر دئ، په منځنى او د شهادت ګوتي سره ئې اشاره وکړه، آسمان ته ئې پورته کړې او مطلب ئې زمکه او آسمان وو؛ او يا دا چې هغه په حقه د الله تعالى رسول دئ. مسلمانانو به تر دې وروسته د هغى ښځي شا او خوا ته پرتو مشرکانو باندي بريدونه کول، خو په هغو خلکو ئې غرض نه درلود چې دې ښځي تړاو ورسره درلود، دې ښځي يوه ورځ خپل قوم ته وويل: فکر کوم چې دا خلک (مسلمانان) قصداً له تاسي سره غرض نه لري، آيا نه غواړئ په اسلام مشرف شئ؟ قوم ئې خبره ومنله او په اسلام مشرف شول.

تکرار: 348، 3571

توپير: په يوه کي وَكَانَ أَوَّلَ مَنِ اسْتَيْقَظَ فُلاَنٌ ثُمَّ فُلاَنٌ ثُمَّ

فُلاَنٌ، په بل کي فَكَانَ أَوَّلَ مَنِ اسْتَيْقَظَ مِنْ مَنَامِهِ أَبُو بَكْرٍ، په يوه کي لأَنَّا لاَ نَدْرِى مَا يَحْدُثُ لَهُ فِي نَوْمِهِ، په بل کي نشته، په يوه کي فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ عُمَرُ، وَرَأَى مَا أَصَابَ النَّاسَ، وَكَانَ رَجُلاً جَلِيدًا، فَكَبَّرَ وَرَفَعَ صَوْتَهُ بِالتَّكْبِيرِ، فَمَا زَالَ يُكَبِّرُ وَيَرْفَعُ صَوْتَهُ بِالتَّكْبِيرِ حَتَّى اسْتَيْقَظَ لِصَوْتِهِ النَّبِيُّ- صلى الله عليه وسلم، په بل کي فَقَعَدَ أَبُو بَكْرٍ عِنْدَ رَأْسِهِ فَجَعَلَ يُكَبِّرُ وَيَرْفَعُ صَوْتَهُ، حَتَّى اسْتَيْقَظَ النَّبِيُّ- صلى الله عليه و سلم –، په يوه کي فَنَزَلَ وَصَلَّى بِنَا الْغَدَاةَ، په بل کي فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ شَكَوْا إِلَيْهِ الَّذِي أَصَابَهُمْ قَالَ "لاَ ضَيْرَ- أَوْ لاَ يَضِيرُ- ارْتَحِلُوا". فَارْتَحَلَ فَسَارَ غَيْرَ بَعِيدٍ ثُمَّ نَزَلَ، په يوه کي وَجَعَلَنِى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فِي رَكُوبٍ بَيْنَ يَدَيْهِ، وَقَدْ عَطِشْنَا عَطَشًا شَدِيدًا فَبَيْنَمَا نَحْنُ نَسِيرُ إِذَا نَحْنُ بِامْرَأَةٍ سَادِلَةٍ رِجْلَيْهَا بَيْنَ مَزَادَتَيْنِ، په بل کي فَدَعَا بِالْوَضُوءِ، فَتَوَضَّأَ وَنُودِىَ بِالصَّلاَةِ فَصَلَّى بِالنَّاسِ، فَلَمَّا انْفَتَلَ مِنْ صَلاَتِهِ إِذَا هُوَ بِرَجُلٍ مُعْتَزِلٍ لَمْ يُصَلِّ مَعَ الْقَوْمِ قَالَ "مَا مَنَعَكَ يَا فُلاَنُ أَنْ تُصَلِّىَ مَعَ الْقَوْمِ". قَالَ أَصَابَتْنِى جَنَابَةٌ وَلاَ مَاءَ. قَالَ "عَلَيْكَ بِالصَّعِيدِ، فَإِنَّهُ يَكْفِيكَ". ثُمَّ سَارَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَاشْتَكَى إِلَيْهِ النَّاسُ مِنَ الْعَطَشِ فَنَزَلَ، فَدَعَا فُلاَنًا- كَانَ يُسَمِّيهِ أَبُو رَجَاءٍ نَسِيَهُ عَوْفٌ- وَدَعَا عَلِيًّا فَقَالَ "اذْهَبَا فَابْتَغِيَا الْمَاءَ "او ډېر نور توپيرونه، بخاري نه دي ويلي چې په دغو متعارضو رواياتو کي کوم يو ئې صحيح دئ؟ پيغمبر عليه السلام چا راويښ کړ، ابوبکر رضي الله عنه که د عمر رضي الله عنه د تکبيرونو غږ؟ عمران له يوې ډلې سره مخکې لېږل شوی او که علي رضي الله عنه

او هغه کس چې ابورجاء ئې نوم اخیستی خو عوف رضي الله عنه هېر کړی؟ دوی په اوبو پسې لېږل شوي وو که د کاروان مخ ته لېږل شوي وو؟ له راویښېدو وروسته ئې اودس او لمونځ کړی که خوځېدلي او په بل پېراو کي تم شوي؟ یوازي دوی په خپله څښلې دي که خپل اوښان ئې هم خړوب کړي؟ او ډېري نوري پوښتنې!! دا روایت د سند له مخې تر ټولو زیات غریب دئ، په صحابه وو، تابعینو او تبع تابعینو کي یوازي یو یو راوي لري، دا په داسي حال کي چې وایي دا صحنه یوه لښکر لیدلې، دا خبره د سند کمزوري لا زیاتوي، ځکه دا پوښتنه راولاړوي چې دا روایت ولي له ابوبکر او عمر رضي الله عنهما او ډېرو نورو صحابه وو چې په دې سفر کي ول نه دئ روایت شوی؟ ولي یوازي له عمران رضي الله عنه روایت شوی؟ د متن له پلوه مو ولیدل چې ډېر تعارضات په کي تر سترګو کېږي، آیا په داسي متعارضو روایاتو کولی شو د داسي خبرې د اثبات لپاره استناد وکړو چې له قرآن هیڅ شاهد ورته نه مومو؟!

دا روایت له هغه سره هم تعارض لري چې وایي د پیغمبرانو خوب له نورو خلکو توپیر لري، د دوی سترګي ویدې وي خو زړه ئې ویښ وي، که داسي وی نو دلته به له پیغمبر علیه السلام لمونځ نه فوت کېدو!!

۸- د لمانځه کتاب

(۱) باب: د اسراء په شپه لمونځ څنګه فرض شو؟

۲۲۶- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ "فُرِجَ عَنْ سَقْفِ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ، فَنَزَلَ جِبْرِيلُ فَفَرَجَ صَدْرِي، ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، فَأَفْرَغَهُ فِي صَدْرِي ثُمَّ أَطْبَقَهُ، ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِي فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَلَمَّا جِئْتُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا قَالَ جِبْرِيلُ لِخَازِنِ السَّمَاءِ افْتَحْ. قَالَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ. قَالَ هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ نَعَمْ مَعِي مُحَمَّدٌ صلى الله عليه و سلم . فَقَالَ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ. فَلَمَّا فَتَحَ عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا، فَإِذَا رَجُلٌ قَاعِدٌ عَلَى يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ وَعَلَى يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ، إِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَسَارِهِ بَكَى، فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ. قُلْتُ لِجِبْرِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا آدَمُ. وَهَذِهِ الأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ، فَأَهْلُ الْيَمِينِ مِنْهُمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ، وَالأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ، فَإِذَا نَظَرَ عَنْ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى،

حَتَّى عَرَجَ بِى إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ فَقَالَ لِخَازِنِهَا افْتَحْ. فَقَالَ لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ الأَوَّلُ فَفَتَحَ". قَالَ أَنَسٌ فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَوَاتِ آدَمَ وَإِدْرِيسَ وَمُوسَى وَعِيسَى وَإِبْرَاهِيمَ- صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِمْ- وَلَمْ يُثْبِتْ كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ، غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا، وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ. قَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ بِالنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم بِإِدْرِيسَ قَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ. فَقُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِدْرِيسُ. ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ. قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا مُوسَى. ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ. قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا عِيسَى. ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالاِبْنِ الصَّالِحِ. قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِبْرَاهِيمُ صلى الله عليه و سلم". قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا حَبَّةَ الأَنْصَارِىَّ كَانَا يَقُولاَنِ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "ثُمَّ عُرِجَ بِى حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوَى أَسْمَعُ فِيهِ صَرِيفَ الأَقْلاَمِ". قَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "فَفَرَضَ اللهُ عَلَى أُمَّتِى خَمْسِينَ صَلاَةً، فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ حَتَّى مَرَرْتُ عَلَى مُوسَى فَقَالَ مَا فَرَضَ اللهُ لَكَ عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ فَرَضَ خَمْسِينَ صَلاَةً. قَالَ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ ذَلِكَ. فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى قُلْتُ وَضَعَ شَطْرَهَا. فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ، فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا، فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ ذَلِكَ، فَرَاجَعْتُهُ. فَقَالَ هِيَ خَمْسٌ وَهْىَ خَمْسُونَ، لاَ يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَىَّ. فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ. فَقُلْتُ اسْتَحْيَيْتُ

مِنْ رَبِّي. ثُمَّ انْطَلَقَ بِي حَتَّى انْتَهَى بِي إِلَى سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى، وَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لاَ أَدْرِى مَا هِيَ، ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ، فَإِذَا فِيهَا حَبَايِلُ اللُّؤْلُؤِ، وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ". (بخاري:349)

٢٢٦- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: ابوذر رضي الله عنه به ويل چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (په داسي حال کي چي زه په مکه کي وم؛ د کور چت مي پرانيستل شو، جبريل (عليه السلام) راکوز شو، زما سينه ئې پرانيسته؛ او د زمزم په اوبو ئې ومينځله، بيا ئې د سرو زرو طشت راوړ چي له حکمت او ايمان ډک وو او زما په سينه کي ئې تش کړ، بيا ئې سينه راته بنده کړه، بيا ئې له لاسه ونيولم او لومړي آسمان ته ئې وخېژولم، کله چي لومړي آسمان ته ورسېدم، جبريل (عليه السلام) د آسمان خازن (ساتونکي) ته وويل: دروازه پرانيزه، هغه وويل: څوک يې؟ وئې ويل: زه جبريل يم، هغه وويل: آيا بل څوک درسره شته؟ جبريل (عليه السلام) وويل: هو؛ محمد صلى الله عليه و سلم راسره دئ. هغه (خازن) وويل: آيا په هغه پسي څوك لېږل شوى (بلل شوى)؟ جبريل (عليه السلام) وويل: هو؛ او کله چي ئې دروازه پرانيستله نو لومړي آسمان ته پورته شوو، ګورو چي يو سړى ناست دئ، ښي اړخ ته ئې سړي دي او کيڼ اړخ ته ئې هم سړي دي، کله چي ښى خوا ته وګوري وخاندي او چي کيڼ اړخ ته وګوري نو وژاړي، ما ته ئې وويل: صالح پيغمبر او صالح زوى ته هرکلى وايم، ما جبريل (عليه السلام) ته وويل: دا څوک دئ؟ هغه وويل: دا

آدم (عليه السلام) دئ او دا چې ښې او کښې اړخ ته ئې ګوري دا ئې د اولاد ارواح دي، هغه چې ښي اړخ ته ئې دي هغوی جنتيان دي او هغه چې کښې اړخ ته ئې دي هغوی دوزخيان دي، نو کله چې ښی خوا ته ګوري خاندي او چې کښې خوا ته ګوري ژاړي، بيا ئې دوهم آسمان ته پورته کړم، خازن ته ئې وويل: پرانيزه! دې خازن هم د لومړي خازن په څېر خبره وکړه، بيا ئې دروازه پرانيستله. انس رضي الله عنه وايي چې ابوذر رضي الله عنه وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم په آسمانونو کي آدم، ادريس، موسى، عيسى او ابراهيم (عليهم السلام) ليدلي، خو د هغوی ځايونه ئې نشوی تثبيتولی، يوازي دومره ئې په ياد وو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په لومړي آسمان کي آدم (عليه السلام) او په شپږم آسمان کي ابراهيم (عليه السلام) وليد. انس رضي الله عنه وايي: کله چې محمد صلى الله عليه و سلم له جبريل (عليه السلام) سره ادريس (عليه السلام) ته ورسېد، هغه ورته وويل: صالح پيغمبر او صالح ورور ته هرکلی وايم. محمد صلى الله عليه و سلم وايي: (ما وويل: دا څوک دئ؟) جبريل (عليه السلام) وويل: دا ادريس (عليه السلام) دئ بيا موسى (عليه السلام) ته ورغلم، هغه وويل: صالح نبي او صالح ورور ته هرکلی وايم، ما وويل: (دا څوک دئ؟) جبريل (عليه السلام) وويل: دا موسى (عليه السلام) دئ. بيا عيسى (عليه السلام) ته ورسېدم، هغه وويل: صالح ورور او صالح نبي ته هرکلی وايم. ما وويل: (داڅوک دئ؟) جبريل (عليه السلام) وويل: دا عيسى (عليه

السلام) دئ. بيا ابراهيم (عليه السلام) ته ورغلم هغه وويل: صالح نبي او صالح زوی ته هرکلی وایم. ما وویل: (دا څوک دئ؟) جبریل (علیه السلام) وویل: دا ابراهیم (علیه السلام) دئ.

ابن شهاب وايي چي ابن حزم راته ويلي: ابن عباس رضي الله عنهما او ابو حبته انصاري رضي الله عنه به ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (بيا لوړ ببولی شوم او هغه ځای ته پورته شوم چي د (ملائکو) د قلمونو آواز مي اورېدو). انس بن مالک رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (بيا الله تعالى زما پر امت (هره ورځ) پنځوس لمونځونه فرض کړل، زه له همدې حکم سره راوګرځېدم، ترهغه چي موسى (عليه السلام) ته ورسېدم، هغه راته وويل: الله تعالى ستا پر امت څه فرض کړل؟ ما وويل: پنځوس لمونځونه ئې فرض کړل. موسى (عليه السلام) وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ستا امت د دې توان نه لري، زه بېرته وروګرځېدم، نو يوه برخه ئې ترې کم کړل، بېرته چي موسى (عليه السلام) ته ورغلم، ورته ومي ويل: الله تعالى يوه برخه ترې ساقطه کړه، موسى (عليه السلام) وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ستا امت د دې توان نه لرى، زه بېرته وروګرځېدم، الله تعالى ئې يوه برخه راته ساقطه کړه، بيا موسى (عليه السلام) ته ورغلم، هغه راته وويل: بېرته خپل رب ته رجوع وکړه، ستا امت د دې توان او وس نه لري، ما بيا الله تعالى ته مراجعه وکړه، هغه راته وفرمايل: دا پنځه دي خو پنځوس شمېرل

کيږي، (په شمېر پنځه او ثواب ئې د پنځوسو)، لاَ يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ: زما خوا ته وينا بدلېدونکې نه ده، زه بيا موسى (عليه السلام) ته ورغلم هغه راته وويل: ببرته خپل رب ته ورشه، ما وويل: زه له خپل رب حياء کوم، بيا جبريل (عليه السلام) روان کړم تر هغه چې (سدرة المنتهى) ته ئې بوتلم؛ او دا ځای داسي رنګونو پوښلی وو چې توصيف ئې نه شم کولی، بيا جنت ته داخل کړی شوم، په جنت کي د ملغلرو مزي ول او خاوره ئې له مشکو وه).

تکرار: 1636، 3342، 3570، 4964، 5610، 6581، 7517،

توپير: د بخاري دوه روايتونه وايي چې دا عروج په خوب کي وو، په3570 روايت کي راغلي حَتَّى جَاءُوا لَيْلَةً أُخْرَى، فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ، وَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم نَائِمَةٌ عَيْنَاهُ وَلاَ يَنَامُ قَلْبُهُ وَكَذَلِكَ الأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلاَ تَنَامُ قُلُوبُهُمْ، فَتَوَلاَّهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ عَرَجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ او په 7517 روايت کي راغلي وَاسْتَيْقَظَ وَهْوَ فِي مَسْجِدِ الْحَرَامِ په نورو کي ئې دا برخه نه ده راغلي او پر ځای ئې د دې خلاف دوه خبري شوې: يوه دا چې د مسجد الحرام پر ځای په مکه کي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د کور يادونه شوې ګواکي له خپل کور نه بېول شوی او بل دا چې دا د ويښي بېول وو!!

د احاديثو په نورو کتابونو کي هم په دې اړه ګڼ شمېر روايات راغلي، ټول پنځه ويشت روايات دي، خو تر منځ ئې ډېر توپيرونه او ژور تعارض تر سترګو کيږي، د دغو

متعارضو رواياتو له ليدو سره به تاسو ته دغه پوښتني راولاړيږي: آيا معراج په ويښه وو که په خوب کي؟ پر براق که بې له براقه؟ د رسول الله صلى الله عليه و سلم له کور که له مسجدالحرام؟ مستقيماً د آسمان په لور که لومړی بيت المقدس ته او بيا له هغه ځايه آسمان ته؟ آيا لمونځ تر دې د مخه فرض شوی وو که له دې وروسته؟ په آسمانونو کي د رسول الله صلى الله عليه و سلم ليدنه له پيغمبرانو عليهم السلام سره په کوم ترتيب ترسره شوې، په لومړي، دوهم، دريم، څلورم، پنځم، شپږم او اوم آسمان کي ئې څوك څوك ليدلي؟ په لومړي آسمان کي ئې آدم عليه السلام ليدلی که عيسی عليه السلام؟ ابراهيم عليه السلام ئې په شپږم آسمان کي ليدلی که په اوم کي؟ موسی عليه السلام ئې په اوم کي ليدلی که ابراهيم عليه السلام؟ هارون عليه السلام ئې ليدلی که نه؟ په دغو متعارضو رواياتو کي کوم يو صحيح دئ؟ سدرة المنتهی چېرې ده؟ هلته ئې جبريل عليه السلام ليدلی که الله تعالی؟ الله تعالی ئې په خپلو سترګو ليدلی که نه؟ په هري مراجعې کي پنځه پنځه لمونځونه کم شوي که لس لس او که ځيني؟ د دې معنی څه ده چې هر ځل د الله تعالی په پرېکړي کي بدلون راغلی خو سره له دې ويل شوي: ما يبدل القول لدی؟ آيا دا آيت په قرآن کي په همدې ارتباط راغلی؟ قرآن د معراج په اړه څه وايي؟ آيا په قرآن کي د دې رواياتو لپاره څه شاهد موندلی شو؟ د معراج په اړه د متعارضو رواياتو له منځ به يو څنګه انتخابوو؟ کوم يوه ته به په کوم دليل صحيح وايو او بل به يوې خوا ته ږدو؟ دا هغه پوښتني دي چې نه امام بخاري رحمه الله

ځواب ورته ويلی، نه ئې د بخاري په رواياتو کي ځواب موندلی شو او نه په نورو رواياتو کي. له دې پرته بله چاره نه لرو چې دا روايات به د قرآن په تله تلو او هغه به ئې صحيح ګڼو چې له قرآن سره تطابق ولري يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري. په دې اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

د معراج د څرنګوالي په اړه هم په امت کي د شديد اختلاف شاهد يو، دا اختلاف هم له متعارضو رواياتو راولاړ شوی.

قرآن د معراج په اړه دوه مختصر آيتونه لري چې د الاءسراء د سورې دا اول او شپږتم آيتونه دي:

سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١

پاکي ده هغه ذات ته چې يوه شپه ئې خپل بنده له مسجدالحرام تر هغه مسجد الاقصی پوري بوت چې مو ږ ئې شاو خوا ور برکتي کړې، چې ځيني خپل آيتونه وروښيو، يقيناً چې هغه ښه ليدونکی اوربدونکی دئ.

وَإِذۡ قُلۡنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِۚ وَمَا جَعَلۡنَا ٱلرُّءۡيَا ٱلَّتِيٓ أَرَيۡنَٰكَ إِلَّا فِتۡنَةٗ لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلۡمَلۡعُونَةَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِۚ وَنُخَوِّفُهُمۡ فَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا طُغۡيَٰنٗا كَبِيرٗا ٦٠

او کله چې مو درته وويل: يقيناً چې ستا رب پر دغو خلکو احاطه کړې؛ او هغه رؤيا (خوب) چې تا ته مو دروښود؛ هغه مو فقط د خلکو لپاره يوه آزموينه ګرځولې؛ او په قرآن

کي (یاده شوي) هغه لعنت شوې ونه او وېرووئ، نو (دغو خبرو) یوازي د دوی ستر طغیان لا زیات کړ.

په دغو دواړو آیتونو کي د معراج اړوند دا لاربښوني زموږ مخي ته ایښودل شوې:

- دا سفر په شپه کي ترسره شوی.
- له مسجدالحرام تر مسجد الاقصی پوري بېول شوی.
- د سفر موخه دا وه چي الله تعالی خپل آیتونه وروښیي.
- په دې اړه چي خلکو څه ویلي الله تعالی اوریدلي.
- په دې سفر کي چي پر رسول الله صلی الله علیه و سلم څه تېر شوي الله تعالی لیدلي.
- دا هر څه فقط یوه رؤیا وه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په خوب کي ښودل شوې.
- خلکو ته دا رؤیا یوه آزموینه وه، ځینو ته ئې منل ګران وو، ځینو هغه له ځانه جوړ شوی خوب وګڼلو، ځینو د تبلیغاتو لپاره وکارولو او ویل به ئې دا دئ دا پیغمبر اوس ادعاء کوي چي په یوه شپه کي تر مسجدالاقصی پورې تللی، د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام امامت ئې کړی، تر اوم آسمان پورې رسېدلی، په هر آسمان کي ئې یو یو پیغمبر لیدلی، جنت او دوزخ ئې په خپلو سترګو لیدلي او ... دا رؤیا د دوی لپاره داسي فتنه وه لکه په قرآن کي چي د دوزخیانو په اړه یادونه وشوه چي خوراك به ئې د زقوم هغه تریخ بوټی وي چي د دوزخ په تل کي به راټوکېږي، یا د قرآن هغه وینا چي الله تعالی کافران احاطه کړي، داسي څه نشي کولی چي الله تعالی ئې د کولو توان او توفیق ورنه کړي؛ او

يا د قرآن دا وينا چي الله تعالى به داسي څه وکړي چي ستا دښمنان به پرې ووېروي، لکه چي قريشو د قرآن پر دغو خبرو ملنډي وهلې او هغه ئې د منلو وړ نه ګڼلې ستا د دغي رؤيا په اړه هم همدا کار کوي!!

د النجم په سوره کي په دې اړه مزيد وضاحت کوي او فرمايي:

أَفَتُمَٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ١٢ وَلَقَدۡ رَءَاهُ نَزۡلَةً أُخۡرَىٰ ١٣ عِندَ سِدۡرَةِ ٱلۡمُنتَهَىٰ ١٤ عِندَهَا جَنَّةُ ٱلۡمَأۡوَىٰٓ ١٥ إِذۡ يَغۡشَى ٱلسِّدۡرَةَ مَا يَغۡشَىٰ ١٦ مَا زَاغَ ٱلۡبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ١٧ لَقَدۡ رَأَىٰ مِنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِ ٱلۡكُبۡرَىٰٓ ١٨ النجم: 12- 18

نو آيا د هغه څه په اړه ورسره شخړه کوئ چي دى ئې ويني؟!! په داسي حال کي چي هغه ئې يو ځل بل هم ليدلى وو، د سدرة المنتهى (وروستى بېړي) خوا ته، چي هغې ته څېرمه جنت المأوى (د جنت هستوګنځى) دئ، هغه مهال چي سدرة المنتهى ځانګړي شي پوښلې وه، نه سترګي کاږه ليدل کړي او نه تېروتې، يقيناً د خپل رب ځيني ستر ستر آيتونه ئې وليدل.

دا آيتونه ښيي چي:

- قريشو د دغي رؤيا له امله له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره سخته شخړه او مجادله پيل کړې. هغه څه ئې نه منل چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې رؤيا کي ليدلي وو.
- رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې رؤيا کي جبرئيل عليه السلام په خپل اصلي بڼه کي ليدلى او دا د ده دوهم ځل

ليدل وو.

- دا ليدنه په سدرة المنتهى كي شوې، د سدرة المنتهى له نامه معلومېږي چې دا د آسمانونو پای او انتهاء ده، له دې آخوا نه لوړه شته او نه مخلوق شته، د قرآن د وينا له مخې جنت المأوى هم دلته دئ، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم هم اوه آسمانونه ليدلي او هم جنت المأوى. رسول الله صلى الله عليه و سلم تر دغه ځايه تللى او همدلته ئې دا روحاني سفر پای ته رسېدلى.
- سدرة المنتهى داسي څه پوښلې وه چې د انسان په قاموس كي د هغه د تشريح لپاره الفاظ نشته.
- دلته ئې جنت المأوى ليدلى.
- په دې رؤيا كي ئې د الله تعالى نور ستر ستر آيتونه هم ليدلي.

د قرآن صريح آيتونه موږ ته لاربښوونه كوي چې پيغمبر عليه السلام دوه ځلي جبرئيل عليه السلام په خپلي اصلي څېرې كي ليدلى، يو ځل داسي چې د آسمان افق پرې ډك وو، خو ده ته ډېر (د قاب قوسين په اندازه) ورنږدې شوى او د الله تعالى وحي ئې وررسولې؛ او بل ځل په سدرة المنتهى كي او د معراج په شپه.

د مفسرينو تر منځ په دې اړه اختلاف دئ چې له جنت المأوى مراد همغه جنتونه دي چې په آخرت كي به د مؤمنانو په برخه كېږي كه هغه جنت چې اوس او تر آخرت مخكي د شهداوو ارواح په كي اوسي، په سلف كي هم ځيني يوه رأيه لري او ځيني بله، قتاده رحمه الله په دوهمي رأيي دئ چې ابن عباس رضي الله عنهما هم ورسره موافق دئ او

دا پرې اضافه کوي چې د آخرت جنت به په زمکي کي وي نه په آسمان کي، حسن بصري رحمه الله وايي چې جنت المأوى همغه جنت دئ چې مؤمنان به په آخرت کي ورننوځي.

له دې آيتونو په صراحت سره معلومېږي چې د معراج سفر يو روحاني سفر وو نه جسماني سفر، نو هغه روايت د قرآن له دې آيت سره اړخ نه لګوي چې وايي دا سفر په ويښه ترسره شوى او جسماني سفر وو. ځوك چې رؤيا له خوب پرته په بله معنى تعبيروي او د ويښي ليدنه ئې ګڼي لويه اشتباه حتى د قرآن په اړه جسارت کوي، ځکه قرآن اوه ځله دا کلمه (رءيا) راوړې چې په ټولو کي ئې معنى د خوب رؤيا ده، دا به ډېر جسارت او حتى د قرآن آيتونه د يوه ناسم تصور لپاره تحريفول وي چې ځوك د دې کلمې اصلي معنى پرېږدي او د ويښي رؤيا ئې وګڼي. دا په داسي حال کي چې له رواياتو هم ځيني وايي چې دا يو خوب وو او د دغو رواياتو په پاى کي راغلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم له خوبه راويښ شو. د بخاري دوه روايتونه همدا خبره کوي. انسان داسي دئ چې په ويښه په تياره کي او د شپې له لوري څه نشي ليدلى خو په خوب کي ئې ليدى شي، کله کله ئې په خوب کي ليدنه دومره دقيقه، جامع او وسيع وي چې د ويښي ليدا ئې ورسره مقايسه کېدى نشي، په خوب کي په داسي اسرارو پوهېدى شي چې په ويښه ورته ممکنه نه وي، د خوب ليدا ډېره سريع وي، په لنډ وخت کي دومره څه ليدلى شي چې په ويښه ئې په اوږدې مودي کي هم نشي ليدلى، هغه خلك چې د رؤيا ليدني ته په ټيټه سترګه ګوري

او خاص اهميت نه ورکوي په دې خبري باور کول ورته ګران برېښي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د معراج سفر د رؤيا سفر وګڼي، خو څوك چې رؤيا ته د قرآن له مخي ګوري هغه پوهيږي چې داسي سفر يوه انسان ته يوازي په رؤيا کي ممکن دئ نه په ويښه. کله چې د انسان روح د کالبد په قيد کي وي نو د سترګو لري ليد ئې دومره کمزورى وي چې څو کيلو متره لري لوى لوى شيان هم نشي ليدى، د نرۍ پردې له شا څه نشي ليدى، له رڼا پرته څه نشي ليدى، د شپې په تياره کي څه نه ويني، خو کله چې د کالبد له قيد او محدودې آزاده شي نو له پرېږو پرېږو حجابونو واوړي هم د ماضي له پېښو خبرېږي او هم د مستقبل له اسرارو، نه ئې تياره مخه نيولى شي او نه حجابونه، هم د زمان له محدودې ووځي او هم د مکان، د شپې په تياره کي داسي ويني لکه د ورځي په رڼا کي.

قرآن وايي چې دا روحاني سفر له مسجدالحرام تر مسجد الاقصى پورې وو، قرآن په دې سوره کي په دې اړه مزيد څه نه دي ويلي چې له مسجد الاقصى وروسته څه شوي، خو د النجم په سوره کي د دې سفر نورې برخې هم بيان شوې، د دې معنى دا ده چې هغه روايات د منلو وړ نه دي چې وايي: د معراج سفر د رسول الله صلى الله عليه و سلم له کور نه مخامخ د آسمان په لور پيل شوى.

څوك چې وايي له رؤيا مراد د حديبيې د سفر اړوند رؤيا ده سخته اشتباه کوي، دا ځکه چې د الاسراء سوره په مکه کي او د بعثت يولسم کال شاوخوا نازله شوې او د حديبيې پېښه له دې نژدې اته کاله وروسته وه او اړوند خوب ئې د

حديبيې له پېښې لږ د مخه ليدل شوی؛ او هغه خوب ته د الفتح په سورې کي اشاره شوې. په الاسراء کي ياد شوی خوب د معراج اړوند خوب دئ، دا قطعاً غلطه خبره ده چې دا د حديبيې اړوند خوب ګڼي.

قرآن وايي چې په دې روحاني سفر کي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ستر ستر آيتونه ښودل شوي، جبريل عليه السلام ئې يو ځل بيا په خپلي اصلي بڼې کي ليدلی، سدرة المنتهى ته رسېدلی، د سدرة المنتهى له نامه معلومېږي چې دا د آسمانونو پای او انتهاء ده، له دې آخوا نه لوړه شته او نه مخلوق شته، د قرآن د وينا له مخې جنتونه هم دلته دي، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم هم اوه آسمانونه ليدلي او هم جنت. هغه روايات صحيح نه دي چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم دلته الله تعالى په خپلو سترګو ليدلی، دا خبره هم له قرآن سره په بشپړه توګه تعارض لري او هم له ګڼ شمېر هغو رواياتو سره چې وايي: انسان نشي کولی په دنيا کي او په دغو سترګو الله تعالى وګوري، پيغمبر عليه السلام د يو چا په ځواب کي فرمايي چې الله تعالى نور دئ نو څنګه به ليدل کېږي؟! جبريل عليه السلام د رسول الله صلى الله عليه و سلم د دې پوښتنې چې آيا الله تعالى دي ليدلی؟ په ځواب کي وايي: زما او الله تعالى تر منځ د نور اويا زره حجابونه دي، که لاندني حجاب ته نژدې شم وزرونه مي سوزي!! قرآن دلته وايي چې هغه ئې يو ځل مخکي هم ليدلی وو، له دې په صراحت سره معلومېږي چې دا جبريل عليه السلام وو چې تر دې د مخه ئې هم ليدلی وو چې دې ليدني ته د التکوير د سورې

په23 آيت کي داسي اشاره شوې: وَلَقَدۡ رَءَاهُ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡمُبِينِ ٢٣ : او بې شکه چې هغه ئې په افق کې په څرګنده توګه ليدلی. دې دوهم ځل ليدني ته په احاديثو کي هم اشاره شوې چې په خپل ځای کي به ئې وګورئ. عائشه رضي الله عنها وايي: که چا درته وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم خپل رب ليدلي نو پوه شه چې هغه دروغ وايي.

د قرآن کوم آيت چې وايي: ما يبدل القول لدي... دا د (ق) د سورې د 29 آيت يوه فقره ده، چې د قيامت په ورځ د دوزخيانو تر منځ د شخړې په اړه راغلې او مطلب ئې دا دئ چې د الله تعالى پرېکړې پرېکنده او تغيير نه منونکې دي او هغه پر خپلو بندګانو ظلم نه کوي، هر چا ته به عادلانه سزا ورکوي، دا آيت له يوې خوا د معراج له سفر سره هيڅ تړاو نه لري له بلي خوا د روايت له هغي برخي سره په بشپړه توګه تعارض لري چې وايي الله تعالى د لمانځه په اړه خپله پرېکړه څو ځلي بدله کړې ده!!

د الاسراء سوره له پېرو هغو سورتونو وروسته نازله شوې چې په هغوی کي هم د لمانځه امر راغلی او هم د لمانځه وختونو ته اشاره شوې، خو له دې رواياتو داسي معلومېږي چې ګواکي لمونځونه د معراج په سفر کي فرض شوي!! دا خبره له قرآن سره قطعاً اړخ نه لګوي، په پېر يقين سره ويلی شو چې د معراج له سفر نه مخکي هم لمونځونه فرض شوي وو او هم ئې اوقات ټاکل شوي وو. د کوثر، المدثر، المزمل، هود، طه، العنکبوت، الانعام، الحجر، الحج، الروم، په سورتونو کي د لمانځه امر شوی، د هود په سوره کي داسي راغلي:

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ١١٤

او د ورځي په دواړو خواوو کي او (ورپسې نژدې) د شپې ځيني برخي کي لمونځ کوه، يقيناً چې ښېګڼې بدي له منځه وړي، دا د پند اخستونکو لپاره پند دئ.

د آيت له الفاظو داسي معلوميږي چې له (طرفي النهار) مراد د ورځي دواړه خواوي دي، له غرمې مخکي او وروسته برخي ئې، چې په دې سره د ګهيځ، ماسپښين او مازديګر لمونځونو ته اشاره شوې او له (زلفا من الليل) نه مراد د شپې هغه لومړنۍ برخه مراد ده چې ورځي ته نژدې وي، چې په دې سره د ماښام او ماخستن لمونځونو ته اشاره شوې.

د الاسراء په سوره کي هم د لمانځه او اوقاتو په اړه ئې لاربښوونه شوې او وايي:

أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمۡسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيۡلِ وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِۖ إِنَّ قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودٗا ٧٨ وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ نَافِلَةٗ لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامٗا مَّحۡمُودٗا ٧٩ الاسراء: 78- 79

په دغو مبارکو آيتونو کي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د پنځه وخته فرض لمونځ او د تهجد د لمونځ سپارښتنه شوې، که د الاسراء له سورې مخکي د لمانځه او د هغه د وختونو هيڅ يادونه نه وې شوې نو ويلى مو شوى چې لمونځ د معراج د روايت له مخې فرض شوى، خو خبره د دې عکس ده، تر معراج ډېر د مخه هم لمونځ فرض شوى وو او هم ئې اوقات ټاکل شوي وو.

ام هاني رضي الله عنها وايي چې رسول الله صلى الله

عليه و سلم د معراج په شپه زما په کور کي وو، د ماخستن لمونځ ئې وکړ، ويده شو، سحر پاڅېد او له لمانځه وروسته ئې د دې سفر په اړه موږ ته وينا وکړه... له دې روايت څو خبري معلومېږي:

- لمونځونه د معراج له سفر مخکي فرض شوي وو، ځکه په دې روايت کي د ماخستن او سحر د لمانځه يادونه شوې.
- د معراج روحاني سفر په هغه شپه تر سره شوی چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د ام هاني رضي الله عنها په کور کي ويده شوی، په همدې شپه ئې دا خوب ليدلی چي له مسجدالحرام مسجدالاقصى ته او له هغه ځايه د آسمانونو په لور بېول شوی. په دې توجيه سره هغه تعارض هم له منځه ځي چي آيت وايي د معراج سفر له مسجد الحرام د مسجد الاقصى په لوري وو او روايت وايي چي دا د رسول الله صلى الله عليه و سلم له کور پيل شوی.
- که د پيغمبرانو عليهم السلام مقام او منزلت ته د قرآن په رڼا کي ځير شو نو ويلی شو چي په دوی کي پنځه پيغمبران عليهم السلام تر ټولو لوړ مقام لري: محمد عليه السلام، ابراهيم عليه السلام، موسى عليه السلام، عيسى عليه السلام او نوح عليه السلام، د يوسف عليه السلام او ادريس عليه السلام مقام او منزلت تر دوی رالاندي دئ، نو ويلي شو چي په آسمانونو کي د پيغمبرانو عليهم السلام د ليدو ترتيب به داسي وو چي په لومړي آسمان کي آدم عليه السلام، بيا ادريس، يوسف، نوح، عيسى، موسى او ابراهيم عليهم السلام، هغه روايت دقيق ګڼلی شو چي دا ترتيب په کي مراعات شوی.

شيعه هم د معراج په اړه ځانته روايات لري، د رواياتو څرنګوالی ئې له دې قياس کولی شئ چې وايي: فاطمه رضي الله عنها د هغې جنتي مېوې له نطفې پيدا شوې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د معراج په سفر کې جبرئيل عليه السلام ورکړه، هغه څلوېښت ورځې له ځان سره وساتله، په دې مودې کې ئې له خديجې رضي الله عنها سره نژدېکت ونه کړ؛ او په څلوېښتمه شپه ئې نژدېکت وکړ او په همدې سره او همغه شپه د فاطمې رضي الله عنها نطفه خلق شوه!! دا په داسي حال کې چې د معراج واقعه له هجرت يو کال مخکې او هغه مهال شوې چې خديجه رضي الله عنها لا څو کاله د مخه وفات شوې وه او فاطمه رضي الله عنها څو کلنه وه!! دغسي مسخره رواياتو په امت کې د خرافي افکارو او غلطو مذاهبو راولاړېدو ته لار آواره کړې او امت ئې توتې توتې کړی.

227- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ قَالَتْ "فَرَضَ الله الصَّلاَةَ حِينَ فَرَضَهَا رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ، فَأُقِرَّتْ صَلاَةُ السَّفَرِ، وَزِيدَ فِي صَلاَةِ الْحَضَرِ". (بخاري:350)

227- له ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: الله تعالى چې لمونځ فرض کړ نو په سفر او اقامت کې ئې دوه دوه رکعته فرض وګرځول، بيا د سفر لمونځ په خپل حال پاته شو او د حضر (اقامت) په لمانځه کې زياتوالى راغى.

تکرار: 1090، 3935

توپير: په يوه کي فَرَضَ اللهُ الصَّلاَةَ حِينَ فَرَضَهَا رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ، فَأُقِرَّتْ صَلاَةُ السَّفَرِ، وَزِيدَ فِي صَلاَةِ الْحَضَرِ، په بل کي الصَّلاَةُ أَوَّلُ مَا فُرِضَتْ رَكْعَتَيْنِ فَأُقِرَّتْ صَلاَةُ السَّفَرِ، وَأُتِمَّتْ صَلاَةُ الْحَضَرِ او په بل کي فُرِضَتِ الصَّلاَةُ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ هَاجَرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَفُرِضَتْ أَرْبَعًا، وَتُرِكَتْ صَلاَةُ السَّفَرِ عَلَى الأُولَى، لکه چې ګورئ په دغو روایاتو کي توپير تر سترګو کيږي، يو ئې وايي چې لمونځ له پيل دوه دوه رکعته فرض شوی؛ او بل ئې وايي له هجرت مخکي دوه دوه رکعته وو، له هجرت وروسته څلور څلور رکعته شو خو وروسته د سفر دوه رکعته د مخکي په څېر پاته شو.

په دې اړه څو پوښتني راولاړيږي:

په لمانځه کي خو هم دوه رکعته شته، هم دري رکعته او هم څلور رکعته، نو د دې خبري معنی څه ده چې مخکي دوه دوه رکعته وو او وروسته د سفر لمونځ په خپل حال پاته شو او د حضر لمونځ څلور رکعته شو؟! که څوك وايي چې دا خبره يوازي د څلورو رکعتو لمانځه په اړه ده، نو هغه ته وايو چې د روايت له الفاظو دا خبره نه معلوميږي.

دا روايت له قرآن سره اړخ نه لګوي، د قرآن له وينا په ډېر صراحت سره معلوميږي چې د اقامت د لمانځه حکم د سفر د لمانځه تر حکم مخکي نازل شوی، همداسي لکه د اودس حکم چې د تيمم تر حکم مخکي دئ، د قصر په اړه حکم داسي دئ:

وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي ٱلْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُواْ مِنَ

ٱلصَّلَوٰةِ إِنۡ خِفۡتُمۡ أَن يَفۡتِنَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْۚ إِنَّ ٱلۡكَٰفِرِينَ كَانُواْ لَكُمۡ عَدُوّٗا مُّبِينٗا ١٠١ النساء: 101

او کله چې په زمکه سفر کوئ، نو په دې کې پر تاسو کومه ګناه نشته چې لمونځ رالنډ کړئ، که دا وېره مو وه چې کافران به مو په فتنه کې واچوي، بې شکه چې کافران ستاسو څرګند دښمنان دي.

له دې په څرګنده توګه معلومېږي چې د سفر لمونځ د حضر له لمانځه راکم کړی شوی.

(۲) باب: لمونځ په جامو کې

228- حَدَّثَنَا عُبَيْدُ الله بْنُ مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم صَلَّى فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ قَدْ خَالَفَ بَيْنَ طَرَفَيْهِ. (بخاري:354)

228- له عمر بن ابي سلمه رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم يو ځل په يوه جامه کې لمونځ وکړ او د جامې دواړه خواوې ئې بدلي کړې وې (يعني د جامې ښۍ خوا ئې پر کيڼي اوږې او کيڼه خوا ئې پر ښۍ اوږې اچولې وه).

تکرار: 355، 356

توپير: په يوه کې قَدْ خَالَفَ بَيْنَ طَرَفَيْهِ، په بل کې وَاضِعًا طَرَفَيْهِ عَلَى عَاتِقَيْهِ او په بل کې قَدْ أَلْقَى طَرَفَيْهِ عَلَى عَاتِقَيْهِ، د رواياتو مطلب سره له دې توپيرونو يو دئ او هغه دا چې څادر ئې تر څان داسي راتاو کړی چې دواړه

پيڅي ئې د ده پر اوږو پرتې وي.

په دې اړه نور روايات هم راغلي چې ځيني ئې له پورتني سره تعارض لري او په دې تأکيد کوي چې بايد لږ تر لږه په دوو جامو کي لمونځ وشي، همغسي لکه په حج کي چې يو ئې لُنګ او بل ئې څادر وي، ځيني نور ئې وايي چې د ضرورت او د بلې جامې نشتوالي په صورت کي بايد يوه برخه ئې د لُنګ په څېر تر ځان راتاو شي او بله برخه ئې د څادر په څېر پر اوږو واچول شي او که تر دې لنډه وي نو تر ځان دې داسي راتاو کړي چې هم لونګ شي او هم څادر، دواړه پيڅي ئې پر خپلو اوږو واچوي، له ضرورت پرته داسي کول په دې دليل مناسب نه دي چې د حج لباس د شرعي ضروري لباس لپاره معيار دئ، تر دې لږ ئې يوازي د ضرورت او مجبوريت په وجه جائز ګڼلی شو، جابر رضي الله عنه ته منسوب هغه روايت قطعاً د اعتبار وړ نه دئ چې هغه څادر يوې خوا ته ايښی او په يوه لونګ کي ئې لمونځ کړی او هغه چا ته ئې د احمق يا جاهل خطاب کړی چې د ده په دې عمل ئې اعتراض کړی!! دا اعتراض کاملاً وارد وو، نه ئې دا حق درلود چې مسلمان ته د احمق او جاهل خطاب وکړي او نه په يوې جامې کي له مجبوريته پرته د لمونځ کولو. اسلام خو داسي ښکنځلي د نفاق نښه ګڼي، جابر رضي الله عنه به څنګه داسي کار کولو؟!

لاندي روايات هم په پام کي ولرئ:

عن مجاهد قال: لا تصل فِي ثوب واحد إلا أن لا تجد غيره.

له مجاهد روايت دئ چې په يوه جامه کي لمونځ مه کوه

مګر دا چې بله ونه مومې.

عن الزهري أن عمر بن الخطاب رأى رجلا يصلي فِي ثوب واحد ملتحفا به، فقال: لا تشبهوا باليهود، إذا لم يجد أحدكم إلا ثوبا واحدا فليتزره. مصنف عبدالرزاق

له زهري روايت دئ چې عمر بن خطاب رضي الله عنه يو سړی ولید چې په يوه جامه کې ئې ځان نغښتی لمونځ کوي، وئې ويل: د يهودانو په څېر مه کېږئ، کله چې ستاسو کوم يو له يوې جامې پرته څه ونه مومي نو له هغې دي ځان ته لونګ جوړ کړي.

عن ابن سيرين قال: قام رجل إلى النبي صلى الله عليه و سلم فقال: يا رسول الله ! أيصلي الرجل فِي الثوب الواحد؟ قال: أو كلكم تجدون ثوبين؟ حتى إذا كان فِي زمن عمر ابن الخطاب قام إليه رجل فقال: أصلي العصر فِي ثوب واحد، فقال عمر: إذا وسع الله عليكم فوسعوا على أنفسكم، جمع الرجل عليه ثيابه، يصلي الرجل فِي إزار ورداء، فِي قميص وإزار، فِي إزار وقباء، فِي سراويل وقباء. مصنف عبدالرزاق

له ابن سيرين روايت دئ چې يو سړی پورته شو او له رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې پوښتنه وکړه چې يا رسول الله! آيا څوك كولى شي په يوې جامې كي لمونځ وکړي؟ وئې فرمايل: آيا ستاسو هر يو دوه جامې لري؟ تر هغه چې د عمر رضي الله عنه زمانه شوه، يو سړی ورپورته شو او وئې ويل: آيا څوك كولى شي د مازديګر

لمونځ په يوې جامې کې وکړي؟ عمر رضي الله عنه وويل: که الله تعالى تاسو ته پراخي درپه برخه کړې وي نو تاسو هم پر ځان پراخي وکړئ، سړی دي پر ځان جامه راغونډه کړي، په پرتوګ او څادر، کميس او پرتوګ، پرتوګ او چپني، چپني او لنډ پرتوګ کې دي لمونځ کوي.

(٣) باب: په يوه داسي جامه کې لمونځ چې ځان پکې پټېل شوی وي

229- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي أُوَيْسٍ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنْ أَبِي النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ الله أَنَّ أَبَا مُرَّةَ مَوْلَى أُمِّ هَانِئٍ بِنْتِ أَبِي طَالِبٍ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ أُمَّ هَانِئٍ بِنْتَ أَبِي طَالِبٍ تَقُولُ ذَهَبْتُ إِلَى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم عَامَ الْفَتْحِ، فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ، وَفَاطِمَةُ ابْنَتُهُ تَسْتُرُهُ قَالَتْ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَقَالَ "مَنْ هَذِهِ". فَقُلْتُ أَنَا أُمُّ هَانِئٍ بِنْتُ أَبِي طَالِبٍ. فَقَالَ "مَرْحَبًا بِأُمِّ هَانِئٍ". فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ غُسْلِهِ، قَامَ فَصَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ، مُلْتَحِفًا فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، فَلَمَّا انْصَرَفَ قُلْتُ يَا رَسُولَ الله، زَعَمَ ابْنُ أُمِّي أَنَّهُ قَاتِلٌ رَجُلاً قَدْ أَجَرْتُهُ فُلاَنَ بْنَ هُبَيْرَةَ. فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "قَدْ أَجَرْنَا مَنْ أَجَرْتِ يَا أُمَّ هَانِئٍ". قَالَتْ أُمُّ هَانِئٍ وَذَاكَ ضُحًى. (بخاري:353 - 357)

229- ام هاني د ابو طالب لور وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د فتحې په کال ورغلم، په داسي حال کې مې ووند چې تر پردې شا ته ئې غسل کاوو، لور ئې فاطمې رضي الله عنها پرده ورته جوړه کړې وه، سلام مې پرې واچاوو، وئې فرمايل: دا څوک ده؟ ومې ويل: زه ام هاني د

ابوطالب لور يم، وئې فرمايل: ام هاني ته دي ښه راغلاست وي، کله چې له غسل فارغ شو ودرېد او اته رکعته لمونځ ئې وکړ، په يوې جامې کي ئې ځان نغښتی وو، کله چې له لمانځه فارغ شو ورته ومي ويل: زما مورنی ورور غواړي هغه څوك ووژني چې ما پناه ورکړې؛ فلانی د هبيره زوی، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: اې ام هاني! چا ته چې تا پناه ورکړې مور هم پناه ورکړې، ام هاني وايي چې دا د غرمې مهال وو.

تکرار: 280، 3171، 6158

توپير: د دې روايت شرح په 280 روايت کي وګورئ.

230- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ سَائِلاً سَأَلَ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم عَنِ الصَّلاَةِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "أَوَلِكُلِّكُمْ ثَوْبَانِ". (بخاري:358)

230- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چې يوه سړي له رسول الله صلى الله عليه و سلم په يوې جامې کي د لمونځ کولو په اړه پوښتنه وکړه، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (آيا ستاسو هر يو دوه، دوه جامې لرئ)؟

تکرار: 365

توپير: په يوه کي أَوَلِكُلِّكُمْ ثَوْبَانِ، په بل کي أَوَكُلُّكُمْ يَجِدُ ثَوْبَيْنِ په بل روايت کي له عمر رضي الله عنه په يوې جامې کي د لمونځ کولو په اړه د يوه سړي پوښتنه هم راغلې چې هغه ورته وويل: که الله تعالى تاسو ته پراخي

درپه برخه کړي وي نو تاسو هم پر ځان پراخي وکړئ، سړی دي پر ځان جامه راغونډه کړي، په پرتوګ او څادر، کمیس او پرتوګ، پرتوګ او چپني، چپني او لنډ پرتوګ کي دي لمونځ کوي.

د دې شرح په 228 روایت کي وګورئ.

(٤) باب: که څوک په یوه جامه کي لمونځ کوي هغه دي پر اوږو واچوي

231- حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنْ مَالِكٍ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "لاَ يُصَلِّى أَحَدُكُمْ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ، لَيْسَ عَلَى عَاتِقَيْهِ شَىْءٌ". (بخاري:359)

231- او له ابوهریره رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: نبي صلى الله عليه و سلم فرمایلي: (له تاسو دې هیڅ یو په داسي یوه جامه کي لمونځ نه کوي چي پر اوږو ئې هیڅ نه وي اچولی).

تکرار: 360

توپیر: په یوه کي لاَ يُصَلِّى أَحَدُكُمْ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ، لَيْسَ عَلَى عَاتِقَيْهِ شَىْءٌ او په بل کي مَنْ صَلَّى فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، فَلْيُخَالِفْ بَيْنَ طَرَفَيْهِ راغلي، مطلب ئې سره ورته دئ.

232- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ عِكْرِمَةَ قَالَ سَمِعْتُهُ- أَوْ كُنْتُ سَأَلْتُهُ- قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ أَشْهَدُ أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "مَنْ صَلَّى

فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، فَلْيُخَالِفْ بَيْنَ طَرَفَيْهِ". (بخاري:360)

232- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: شاهدي وركوم چي ما له رسول الله صلى الله عليه و سلم اورېدلي چي فرمايل ئې: (څوک چي په يوه جامه کي لمونځ کوي بايد دواړه پيڅي ئې پر دوو مخالفو خواوو واچوي).

دا روايت مخکي په ۲۳۰ روايت کي څېړل شوی.

(٥) باب: كه جامه تنګه وي

233- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ صَالِحٍ قَالَ حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ سَأَلْنَا جَابِرَ بْنَ عَبْدِ الله عَنِ الصَّلاَةِ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ فَقَالَ خَرَجْتُ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ، فَجِئْتُ لَيْلَةً لِبَعْضِ أَمْرِي، فَوَجَدْتُهُ يُصَلِّى وَعَلَيَّ ثَوْبٌ وَاحِدٌ، فَاشْتَمَلْتُ بِهِ وَصَلَّيْتُ إِلَى جَانِبِهِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ "مَا السُّرَى يَا جَابِرُ". فَأَخْبَرْتُهُ بِحَاجَتِي، فَلَمَّا فَرَغْتُ قَالَ "مَا هَذَا الاِشْتِمَالُ الَّذِي رَأَيْتُ". قُلْتُ كَانَ ثَوْبٌ. يَعْنِي ضَاقَ. قَالَ "فَإِنْ كَانَ وَاسِعًا فَالْتَحِفْ بِهِ، وَإِنْ كَانَ ضَيِّقًا فَاتَّزِرْ بِهِ". (بخاري:361)

233- له جابر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم له سفرونو په يوه سفر کي ورسره ملګرى شوم، يوه شپه د خپل کوم کار لپاره ورغلم، ومي ليد چي لمونځ کوي، دغه وخت ما يوازي يوه جامه اغوستې وه، ځان مي په کي وپېچو او خوا ته ئې په لمانځه ودرېدم، کله چي له لمانځه فارغ شو وئې فرمايل: (جابره! پدې شپه کي څه شي راايستلى يې؟) ما د خپل کار يادونه ورته وکړه،

کله چې مي خبري خلاصي کړې وئې فرمایل: (دا څنګه د جامې پېچل دي چې زه ئې ګورم)؟ ومي ویل: همدا یوه جامه وه. وئې فرمایل: (که جامه پراخه وه نو ځان پکي وپېچه اوکه تنګه وه نو پرتوګ (لونګ) ئې کړه).

تکرار: 352، 353، 370

توپیر: دا روایت هم له نورو سره تعارض لري، په مخکیني کي ویل شوي چې دواړه پیڅې ئې پر غاړه واچوه او دا وایي چې لونګ ئې کړه، مخکي څېړل شوی.

234- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو حَازِمٍ عَنْ سَهْلٍ قَالَ كَانَ رِجَالٌ يُصَلُّونَ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم عَاقِدِى أُزْرِهِمْ عَلَى أَعْنَاقِهِمْ كَهَيْئَةِ الصِّبْيَانِ، وَقَالَ لِلنِّسَاءِ لاَ تَرْفَعْنَ رُءُوسَكُنَّ حَتَّى يَسْتَوِىَ الرِّجَالُ جُلُوسًا. (بخاري:362)

234- له سهل رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: ځینې خلکو له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره لمونځ کاوو او خپل لونګونه ئې د ماشومانو په څېر په خپلو غاړو کي ټرلي وو؛ او ښځو ته به ویل کېدل چې (تر هغه پورې خپل سرونه مه پورته کوئ چې نارینه ښه کښېنستلي نه وي).

تکرار: 814، 1215

توپیر: په یوه کي عَاقِدِى أُزْرِهِمْ عَلَى أَعْنَاقِهِمْ كَهَيْئَةِ الصِّبْيَانِ، په بل کي وَهُمْ عَاقِدُو أُزْرِهِمْ مِنَ الصِّغَرِ عَلَى رِقَابِهِمْ، په یوه کي فَقِيلَ لِلنِّسَاءِ او په بل کي وَقَالَ لِلنِّسَاءِ راغلي، مطلب ئې یو دئ او هغه دا چې د ځینو خلکو به یوازي دومره لنډ لُنګ وو چې د ماشومانو په څېر به له

غاړي راځوړند وو، د سجدې پر مهال به ئې عورت بربنډېدو، نو ځکه ښځو ته ویل شوي وو چې تاسو هغه مهال له سجدې سر رااوچتوئ چې نارینه په بشپړه توګه کښېني.

(٦) باب: په شامي چپنه کي لمونځ

٢٣٥- حَدَّثَنَا يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ مُسْلِمٍ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ مُغِيرَةَ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فِي سَفَرٍ فَقَالَ "يَا مُغِيرَةُ، خُذِ الإِدَاوَةَ". فَأَخَذْتُهَا فَانْطَلَقَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم حَتَّى تَوَارَى عَنِّى فَقَضَى حَاجَتَهُ، وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ شَأْمِيَّةٌ، فَذَهَبَ لِيُخْرِجَ يَدَهُ مِنْ كُمِّهَا فَضَاقَتْ، فَأَخْرَجَ يَدَهُ مِنْ أَسْفَلِهَا، فَصَبَبْتُ عَلَيْهِ فَتَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلاَةِ، وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ، ثُمَّ صَلَّى. (بخاري: 363)

٢٣٥- له مغیره بن شعبه رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: په یوه سفر کي له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره ملګرى وم، راته وئې فرمایل: (اې مغیره! دا لوښى واخله) ما هغه لوښى واخیست، رسول الله صلى الله عليه و سلم روان شو او لاړ ترهغه چې له ما پناه شو، خپل حاجت ئې رفع کړ، دغه وخت ئې شامي چپنه اغوستې وه، وئې غوښتل چې خپل لاس له لستونې وباسي خو تنګي ئې وکړه، نو خپل لاس ئې د هغې له لاندي راوایست، ما اوبه ور واچولې؛ او د لمانځه د اوداسه په شان ئې اودس وکړ او په خپلو موزو باندي ئې مسح وکړه، بیا ئې لمونځ وکړ.

تكرار: 182، 203، 206، 388، 2918، 4421، 5798، 5799

توپير: دا روايت په (٢٨) باب: څوک چې بل ته د اودس اوبه اچوي، ١٤١ روايت کې څېړل شوی.

لکه چې دلته ويل شوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم شامي چېنه اغوستې وه، په داسي حال کې چې د شام خلکو لا ايمان نه وو راوړی، په نورو روایاتو کې هم راغلي چې د يمن او مصر په څېر د نورو سيمو د خلکو معمول جامې ئې په داسي حال کې اغوستې دي چې هغوی لاايمان نه وو راوړی، دغو روایاتو ته په پام سره محققين وايي چې د کفارو قومونو هغه جامه اغوستل د ناروا او حرام تشابه په ضمن کې نه راځي چې د هغوی خاصه مذهبي جامه نه وي.

(٧) باب: په لمانځه او نورو حالاتو کې د ځان لوڅولو کراهيت

٢٣٦- حَدَّثَنَا مَطَرُ بْنُ الْفَضْلِ قَالَ حَدَّثَنَا رَوْحٌ قَالَ حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ بْنُ إِسْحَاقَ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم كَانَ يَنْقُلُ مَعَهُمُ الْحِجَارَةَ لِلْكَعْبَةِ وَعَلَيْهِ إِزَارُهُ. فَقَالَ لَهُ الْعَبَّاسُ عَمُّهُ يَا ابْنَ أَخِي، لَوْ حَلَلْتَ إِزَارَكَ فَجَعَلْتَ عَلَى مَنْكِبَيْكَ دُونَ الْحِجَارَةِ. قَالَ فَحَلَّهُ فَجَعَلَهُ عَلَى مَنْكِبَيْهِ، فَسَقَطَ مَغْشِيًّا عَلَيْهِ، فَمَا رُئِيَ بَعْدَ ذَلِكَ عُرْيَانًا صلى الله عليه و سلم . (بخاري:364)

٢٣٦- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چې

ویل ئي: رسول الله صلی الله علیه و سلم په داسي حال کي چې لونګ ئې وهلی وو له دوی (قریشو) سره د کعبې لپاره تیږي راوړلې، تره ئې عباس رضي الله عنه ورته وویل: وراره! کاش لونګ دي پرانیزې او پر اوږو ئې تر تیږو لاندي کېږدې (چې تیږي دي اوږه ټپي نه کړي)، راوي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم خپل لونګ خلاص کړ او پر اوږو ئې واچاوو، نو له همدې سره بې هوشه ولوېد (د ډېرې حیاء له امله) او له دې وروسته هیڅکله لوڅ نه دئ لیدل شوی. د الله درود او سلام دي پر ده وي.

تکرار: 1582، 3829

توپیر: په یوه کي كَانَ يَنْقُلُ مَعَهُمُ الْحِجَارَةَ لِلْكَعْبَةِ وَعَلَيْهِ إِزَارُهُ، په بل کي لَمَّا بُنِيَتِ الْكَعْبَةُ ذَهَبَ النَّبِيُّ صلی الله علیه و سلم وَعَبَّاسٌ يَنْقُلاَنِ الْحِجَارَةَ، په یوه کي فَقَالَ لَهُ الْعَبَّاسُ عَمُّهُ يَا ابْنَ أَخِي، لَوْ حَلَلْتَ إِزَارَكَ فَجَعَلْتَ عَلَى مَنْكِبَيْكَ دُونَ الْحِجَارَةِ، په بل کي فَقَالَ الْعَبَّاسُ لِلنَّبِيِّ صلی الله علیه و سلم اجْعَلْ إِزَارَكَ عَلَى رَقَبَتِكَ او، په یوه کي فَحَلَّهُ فَجَعَلَهُ عَلَى مَنْكِبَيْهِ، فَسَقَطَ مَغْشِيًّا عَلَيْهِ، په بل کي فَخَرَّ إِلَى الأَرْضِ، وَطَمَحَتْ عَيْنَاهُ إِلَى السَّمَاءِ فَقَالَ (أَرِنِى إِزَارِي)، په بل کي وَطَمَحَتْ عَيْنَاهُ إِلَى السَّمَاءِ ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ "إِزَارِي إِزَارِي"، په یوه کي فَشَدَّهُ عَلَيْهِ او په بل کي فَشَدَّ عَلَيْهِ إِزَارَهُ راغلي، د ټولو مطلب یو دئ او راوي ئې هم یو، د سند له مخي داسي دئ چې په څلورو طبقو کي یو یو راوي لري، په دې روایاتو کي دا نه دي ویل شوي چې جابر رضي الله عنه دا خبره له چا اوریدلې، دی خو له انصارو دئ او وروسته ئې

ايمان راوړی؟ د متن له پلوه داسي دئ چي د روایاتو په کتابونو کي ئې نه راوړل غوره دي، ځکه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسي څه منسوب شوي چي ویل او منل ئې ګران بریښي.

(۸) باب: د عورت پټول

237- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا لَيْثٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم عَنِ اشْتِمَالِ الصَّمَّاءِ وَأَنْ يَحْتَبِيَ الرَّجُلُ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، لَيْسَ عَلَى فَرْجِهِ مِنْهُ شَيْءٌ. (بخاري:367)

237- له ابوسعید خدري رضي الله عنه روایت دئ چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم له دې نهي کړې چي جامه په یوه اړخ واچول شي او بل اړخ بربنډ وي یا دا چي څوک په یوې جامې کي ځان داسي ونغاړي چي پښې ئې له نس سره نښتې وي او عورت ئې پټ نه وي.

تکرار: 1991، 5820، 5822، 6284

توپیر: په یوه کي عَنِ اشْتِمَالِ الصَّمَّاءِ، په بل کي وَعَنِ الصَّمَّاءِ، په بل کي وَاللِّبْسَتَيْنِ اشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ، وَالصَّمَّاءُ أَنْ يَجْعَلَ ثَوْبَهُ عَلَى أَحَدِ عَاتِقَيْهِ، فَيَبْدُو أَحَدُ شِقَّيْهِ لَيْسَ عَلَيْهِ ثَوْبٌ، وَاللِّبْسَةُ الأُخْرَى احْتِبَاؤُهُ بِثَوْبِهِ وَهْوَ جَالِسٌ، لَيْسَ عَلَى فَرْجِهِ مِنْهُ شَيْءٌ راغلي.

238- حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ بْنُ عُقْبَةَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم عَنْ

بَيْعَتَيْنِ عَنِ اللِّمَاسِ وَالنِّبَاذِ، وَأَنْ يَشْتَمِلَ الصَّمَّاءَ، وَأَنْ يَحْتَبِيَ الرَّجُلُ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ. (بخاري:368)

238- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له دوو بيعو (پير پلور) نهي کړې: له (لماس) او (نباذ)؛ او له دې چي د بدن يو اړخ په جامه کي پټ او بل اړخ بربنډ وي او له دې چي څوك په يوې جامې کي ځان داسي ونغاړي چي پښې ئې له نس سره نښتې وي او عورت ئې پټ نه وي.

يادونه: لماس هغه پير پلور ته ويل کېدو چي په متاع باندي لاس ږدولو (ايښودلو) سره به په اخستونکي د هغې پېرېدل حتمي ګڼل کېدو او نباذ هغه پير پلور ته ويل کېدو چي يا به اخستونکي قيمت او يا به پلورونکي متاع يوه بل ته واچول او په همدې سره به مبايعه ترسره شوې ګڼل کېده.

تکرار: 584، 1993، 2145، 2146، 5819، 5821

توپير: په يوه کي عَنْ بَيْعَتَيْنِ عَنِ اللِّمَاسِ وَالنِّبَاذِ، په بل کي وَعَنِ الْمُلاَمَسَةِ وَالْمُنَابَذَةِ، په يوه کي وَأَنْ يَشْتَمِلَ الصَّمَّاءَ، وَأَنْ يَحْتَبِيَ الرَّجُلُ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، په بل کي وَعَنِ اشْتِمَالِ الصَّمَّاءِ وَعَنْ الإِحْتِبَاءِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ يُفْضِي بِفَرْجِهِ إِلَى السَّمَاءِ، په بل کي عَنْ لِبْسَتَيْنِ أَنْ يَحْتَبِيَ الرَّجُلُ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ، ثُمَّ يَرْفَعَهُ عَلَى مَنْكِبِهِ او په بل کي وَأَنْ يَحْتَبِيَ بِالثَّوْبِ الْوَاحِدِ، لَيْسَ عَلَى فَرْجِهِ مِنْهُ شَىْءٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ السَّمَاءِ، وَأَنْ يَشْتَمِلَ الصَّمَّاءَ او په بل کي وَأَنْ يَشْتَمِلَ بِالثَّوْبِ الْوَاحِدِ، لَيْسَ عَلَى أَحَدِ شِقَّيْهِ راغلي. مطلب ئې سره

ورته دئ خو په ځينو کي له دغو علاوه دا هم راغلي وَعَنْ صَلاَتَيْنِ نَهَى عَنِ الصَّلاَةِ بَعْدَ الْفَجْرِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، وَبَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ له دوو لمونځونو ئې نهي کړې: د ګهيځ له لمانځه وروسته تر لمر راختو پوري او د مازديګر له لمانځه وروسته تر لمر پرېوتو پوري او، په يوه کي دا هم شته چې يُنْهَى عَنْ صِيَامَيْنِ وَبَيْعَتَيْنِ الْفِطْرِ وَالنَّحْرِ، وَالْمُلاَمَسَةِ وَالْمُنَابَذَةِ: له دوو روژو او دوو مبايعو نهي کېده؛ د واړه او لوی اختر د ورځو روژې او د ملامسې او منابذې له پېر پلور.

239- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ قَالَ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَخِي ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَمِّهِ قَالَ أَخْبَرَنِي حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ بَعَثَنِي أَبُو بَكْرٍ فِي تِلْكَ الْحَجَّةِ فِي مُؤَذِّنِينَ يَوْمَ النَّحْرِ نُؤَذِّنُ بِمِنًى أَنْ لاَ يَحُجَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ، وَلاَ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ. قَالَ حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ ثُمَّ أَرْدَفَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم عَلِيًّا، فَأَمَرَهُ أَنْ يُؤَذِّنَ بِبَرَاءَةَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَأَذَّنَ مَعَنَا عَلِيٌّ فِي أَهْلِ مِنًى يَوْمَ النَّحْرِ لاَ يَحُجُّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ، وَلاَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ. (بخاري:369)

239- او له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: ابوبکر رضي الله عنه په هغه حج کي (چې دی ئې امير وو) زه له نورو اعلانوونکو سره د قربانۍ په ورځ ولېږلم، وظيفه ئې راکړه چې په منٰی کي اعلان وکړو: له دې کال وروسته به مشرک حج ته نه راځي او نه به څوک لوڅ د بيت الله طواف کوي. حميد بن عبدالرحمن وايي چې: بيا

رسول الله صلى الله عليه و سلم علي رضي الله عنه ورپسې راولېږو، امر ئې ورته کړی وو چې (برائت) اعلان کړي. ابوهريره رضي الله عنه وايي: علي رضي الله عنه له مونږ سره د قربانۍ په ورځ په منٰی کي خلکو ته اعلان وکړ چې له دې کال وروسته به نه مشرک حج ته راځي او نه به څوک لوڅ د بيت الله شريف طواف کوي.

تکرار: 1622، 3177، 4363، 4655، 4656، 4657

توپير: په يوه کي بَعَثَنِى أَبُو بَكْرٍ فِي تِلْكَ الْحَجَّةِ فِي مُؤَذِّنِينَ يَوْمَ النَّحْرِ نُؤَذِّنُ بِمِنًى أَنْ لاَ يَحُجَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ، وَلاَ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ، په بل کي- بَعَثَهُ فِي الْحَجَّةِ الَّتِى أَمَّرَهُ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم عَلَيْهَا قَبْلَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فِي رَهْطٍ يُؤَذِّنُ فِي النَّاسِ أَنْ لاَ يَحُجَّنَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَلاَ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ، په يوه کي ثُمَّ أَرْدَفَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم عَلِيًّا، فَأَمَرَهُ أَنْ يُؤَذِّنَ بِبَرَاءَةَ، په بل کي فَأَذَّنَ مَعَنَا عَلِيٌّ يَوْمَ النَّحْرِ فِي أَهْلِ مِنًى بِبَرَاءَةَ، وَأَنْ لاَ يَحُجَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ، وَلاَ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ، په يوه کي دا الفاظ هم راغلي: وَإِنَّمَا قِيلَ الأَكْبَرُ مِنْ أَجْلِ قَوْلِ النَّاسِ الْحَجُّ الأَصْغَرُ، دغو توپيرونو ته په پام سره ويلی شو چې: ابوهريرة رضي الله عنه يو ځل له يوه پلاوي سره دا اعلان له عرفات مخکي په منٰی کي کړی، بيا کله چې علي رضي الله عنه رارسېدلی او په عرفات کي ئې د ابوبکر رضي الله عنه په امر دا اعلان خلکو ته اورولی، له ده سره يو ځای ئې په يوم النحر (د قربانۍ په ورځ) په منٰی کي دا اعلان کړی. ځکه په يوه روايت کي د يوم النحر

يادونه شوې او په بل کې نه ده شوې، په يوه کې د علي رضي الله عنه نوم په اعلانوونکو کې راغلی او په بل کې نه دئ راغلی.

د بخاري له 4657 روايت داسې معلومېږي چې ابوهريرة رضي الله عنه د ابوبکر رضي الله عنه له لوري له ځينو نورو سره په دې ګمارل شوی وو چې په منٰی کې حجاجو ته دا خبري اعلان کړي چې له سږ کال وروسته به نه مشرك حج ته راځي او نه به څوك بربنډ طواف کوي، په نورو روایاتو کې راغلي چې ورپسې علي رضي الله عنه راغلی او له ابوهريرة رضي الله عنه سره ئې يو ځای دغه خبري په منٰی کې اعلان کړې دي، د دې معنی دا ده چې دا اعلان هم د علي رضي الله عنه له راتلو مخکې شوی او هم وروسته، له دې په واضح توګه معلومېږي چې د برائت اړوند آيتونه هغه مهال نازل شوي وو چې د ابوبکر رضي الله عنه تر مشرۍ لاندې د حجاجو کاروان لا له مدينې نه وو خوځېدلی، ځکه د علي رضي الله عنه له رارسېدو د مخه مشرکينو ته په منٰی کې دا اعلان شوی، علي رضي الله عنه لومړی په عرفات کې د ابوبکر رضي الله عنه له خطبې وروسته او بيا په منٰی کې دا اعلان خلکو ته اورولی. رسول الله صلى الله عليه و سلم دا مناسبه ګڼلې ده چې د حجاجو د قافلې له خوځېدو وروسته؛ علي رضي الله عنه هم ورپسې ولېږي او د برائت اعلان د ده د کورنۍ د يوه غړي له لوري مشرکينو ته واورول شي، دا ځکه چې له مشرکينو سره معاهده ده په خپله لاسليك کړې وه.

(٩) باب: د ورانه حكم

240- حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ ابْنُ عُلَيَّةَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم غَزَا خَيْبَرَ، فَصَلَّيْنَا عِنْدَهَا صَلاَةَ الْغَدَاةِ بِغَلَسٍ، فَرَكِبَ نَبِيُّ الله صلى الله عليه و سلم وَرَكِبَ أَبُو طَلْحَةَ، وَأَنَا رَدِيفُ أَبِي طَلْحَةَ، فَأَجْرَى نَبِيُّ الله صلى الله عليه و سلم فِي زُقَاقِ خَيْبَرَ، وَإِنَّ رُكْبَتِي لَتَمَسُّ فَخِذَ نَبِيِّ الله صلى الله عليه و سلم، ثُمَّ حَسَرَ الإِزَارَ عَنْ فَخِذِهِ حَتَّى إِنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِ فَخِذِ نَبِيِّ الله صلى الله عليه و سلم، فَلَمَّا دَخَلَ الْقَرْيَةَ قَالَ "الله أَكْبَرُ، خَرِبَتْ خَيْبَرُ، إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ". قَالَهَا ثَلاَثًا. قَالَ وَخَرَجَ الْقَوْمُ إِلَى أَعْمَالِهِمْ فَقَالُوا مُحَمَّدٌ- قَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ وَقَالَ بَعْضُ أَصْحَابِنَا- وَالْخَمِيسُ. يَعْنِي الْجَيْشَ، قَالَ فَأَصَبْنَاهَا عَنْوَةً، فَجُمِعَ السَّبْيُ، فَجَاءَ دِحْيَةُ فَقَالَ يَا نَبِيَّ الله، أَعْطِنِي جَارِيَةً مِنَ السَّبْيِ. قَالَ "اذْهَبْ فَخُذْ جَارِيَةً". فَأَخَذَ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ، فَجَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ يَا نَبِيَّ الله، أَعْطَيْتَ دِحْيَةَ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ سَيِّدَةَ قُرَيْظَةَ وَالنَّضِيرِ، لاَ تَصْلُحُ إِلاَّ لَكَ. قَالَ "ادْعُوهُ بِهَا". فَجَاءَ بِهَا، فَلَمَّا نَظَرَ إِلَيْهَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "خُذْ جَارِيَةً مِنَ السَّبْيِ غَيْرَهَا". قَالَ فَأَعْتَقَهَا النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم وَتَزَوَّجَهَا. فَقَالَ لَهُ ثَابِتٌ يَا أَبَا حَمْزَةَ، مَا أَصْدَقَهَا قَالَ نَفْسَهَا، أَعْتَقَهَا وَتَزَوَّجَهَا، حَتَّى إِذَا كَانَ بِالطَّرِيقِ جَهَّزَتْهَا لَهُ أُمُّ سُلَيْمٍ فَأَهْدَتْهَا لَهُ مِنَ اللَّيْلِ، فَأَصْبَحَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم عَرُوسًا فَقَالَ "مَنْ كَانَ عِنْدَهُ شَىْءٌ فَلْيَجِئْ

بِهِ". وَبَسَطَ نِطَعًا، فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيءُ بِالتَّمْرِ، وَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيءُ بِالسَّمْنِ- قَالَ وَأَحْسِبُهُ قَدْ ذَكَرَ السَّوِيقَ- قَالَ فَحَاسُوا حَيْسًا، فَكَانَتْ وَلِيمَةَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم . (بخاري:**371**)

239- له انس رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د خيبر غزا وکړه، دسهار لمونځ مو خيبر ته نژدې په تياره کې اداء کړ، رسول الله صلى الله عليه و سلم سپور شو او ابو طلحه هم سپور شو او زه د ابو طلحه رضي الله عنه تر شا سپور وم، رسول الله صلى الله عليه و سلم د خيبر په کوڅو ورګډ شو، زما ګونډي (زنګنونه) د رسول الله صلى الله عليه و سلم په مبارک ورانه لګېدل، بيا ئې لونګ له خپل ورانه پورته کړ، تر دې چې ما د رسول الله صلى الله عليه و سلم د ورانه سپين والى وليد. او کله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم کلي ته ننوت وئې فرمايل: (الله اکبر، خيبر ړنګ شو، مورِ چې کله د کوم قوم مېنو ته راشو، نو د وېرول شوو سباوون بد وي). دا خبره ئې درې ځلي تکرار کړه. انس رضي الله عنه وايي: د خيبر يهودان خپلو کارونو ته راووتل او سره وئې ويل: محمد صلى الله عليه و سلم او لښکر ئې راغلى. انس رضي الله عنه وايي: مورِ خيبر په زور سره فتح کړ؛ او کله چې اسيران راټول کړى شول (دحيه) راغى او وئې ويل: يا رسول الله! له دې اسيرانو يوه وينځه راکړه، وئې فرمايل: (لاړ شه او يوه وينځه واخله)، دحيه لاړ او صفيه ئې د ځان لپاره غوره کړه. پدې وخت کې يو سړى رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغى او ورته وئې ويل: يا رسول الله! د قريظه او نضير

سرداره صفيه بنت حيي دي دحيه ته ورکړه؛ هغه خو له تا پرته د بل چا لپاره مناسبه نه ده؟ وئې فرمايل: (د حيه او صفيه راوغواړئ). دحيه هغه راوستله، رسول الله صلى الله عليه و سلم چې ورته وکتل وئې فرمايل: (ته له دې اسيرانو يوه بله وينځه واخله). انس رضي الله عنه وايي: بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم صفيه آزاده کړه او ځان ته ئې په نکاح کړه، ثابت ورته وويل: په مهر کي ئې څه ورکړل؟ وئې ويل: آزادول ئې مهر ورته وټاکو؛ او د لاري په اوږدو کي ام سليم رضي الله عنها ورته جوړه کړه او د شپې ئې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورولېږله، رسول الله صلى الله عليه و سلم سهار ته عروس (زوم يا شاه) وو او وئې فرمايل: (له چا سره چې څه شى وي، هغه دي راوړي)، د څرمني ټوټه ئې وغوړوله، يوه سړي به خرما راوړله، بل سړي به غوړي راوړل، راوي وايي فکر کوم چې انس رضي الله عنه سويق يا ستوان هم ياد کړل، بيا ئې دا شيان سره گډ کړل او همدا د رسول الله صلى الله عليه و سلم وليمه (دواده خواړه وو).

تکرار: 610، 947، 2228، 2235، 2889، 2893، 2943، 2944، 2945، 2991، 3085، 3086، 3367، 3647، 4083، 4084، 4197، 4198، 4199، 4200، 4201، 4211، 4212، 4213، 5085، 5159، 5169، 5387، 5425، 5528، 5968، 6185، 6363، 6369، 7333

توپير: په يوه کي وَإِنَّ رُكْبَتِى لَتَمَسُّ فَخِذَ نَبِيِّ الله صلى

الله عليه و سلم، ثُمَّ حَسَرَ الإِزَارَ عَنْ فَخِذِهِ حَتَّى إِنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِ فَخِذِ نَبِيِّ الله- صلى الله عليه وسلم، په بل کي وَإِنَّ قَدَمِي لَتَمَسُّ قَدَمَ النَّبِيِّ- صلى الله عليه وسلم، په يوه کي دا راغلي كَانَ إِذَا غَزَا بِنَا قَوْمًا لَمْ يَكُنْ يَغْزُو بِنَا حَتَّى يُصْبِحَ وَيَنْظُرَ، فَإِنْ سَمِعَ أذانا كَفَّ عَنْهُمْ، وَإِنْ لَمْ يَسْمَعْ أذانا أَغَارَ عَلَيْهِمْ او په نورو کي نشته، په يوه کي فَقَتَلَ الْمُقَاتِلَةَ وَسَبَى الذَّرَارِيَّ، فَصَارَتْ صَفِيَّةُ لِدِحْيَةَ الْكَلْبِيِّ، وَصَارَتْ لِرَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم ثُمَّ تَزَوَّجَهَا وَجَعَلَ صَدَاقَهَا عِتْقَهَا او په بل کي فَجَاءَ دِحْيَةُ فَقَالَ يَا نَبِيَّ الله، أَعْطِنِي جَارِيَةً مِنَ السَّبْيِ. قَالَ "اذْهَبْ فَخُذْ جَارِيَةً". فَأَخَذَ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ، فَجَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ يَا نَبِيَّ الله، أَعْطَيْتَ دِحْيَةَ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ سَيِّدَةَ قُرَيْظَةَ وَالنَّضِيرِ، لاَ تَصْلُحُ إِلاَّ لَكَ، په يوه کي بَلَغْنَا سَدَّ الرَّوْحَاءِ حَلَّتْ، فَبَنَى بِهَا او په بل کي حَتَّى بَلَغْنَا سَدَّ الصَّهْبَاءِ حَلَّتْ، فَبَنَى بِهَا، په نورو رواياتو کي دا هم راغلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم صفيه رضي الله عنها له دحيه رضي الله عنه د اوو وينځو په بدل کي وپيرله. لکه چي گورئ دا روايت د سند له پلوه غريب دئ، په صحابه وو او تابعينو کي يوازي يو يو راوي لري او هغه هم له عمره کم؛ او د متن له پلوه داسي دئ چي په هغه کي جدي تعارضات ترسترگو کيږي، له دې پرته بله چاره نه لرو چي د درايت له مخي به يوه ته په بل ترجيح ورکوو. په يوه روايت کي ويل شوي چي زما زنگون به د پيغمبر عليه السلام له ورون سره لگيدو، په بل کي ويل شوي چي زما پښه به د رسول الله صلى الله

علیه و سلم له پښې سره لګېده، دا واضح ده چې کله په یوې سپرلۍ درې کسان سپاره وي نو د وروستني کس زنګون هیڅکله د لومړني کس له ورانه سره نه لګېږي؛ او که په ببلو ببلو سپرلیو سپاره وي بیا هم د یوه زنګون د بل له ورون سره نه لګېږي، نو په یقین سره ویلی شو چې له زنګانه سره د ورون د لګېدو روایت صحیح نه دئ، دې ته مو هم پام وي چې په ځینو روایاتو کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د خیبر په غزا کې پر آس سپور وو، پر آس د دریو کسانو سپرېدا او هغه هم د جنګ په حالت کې معقول نه بریښي، دې ته مو هم پام وي چې ورون عورت دئ، دا صحیح نه ده چې ویل شوي رسول الله صلی الله علیه و سلم خپل ورون لوڅ کړ، همدا راز په دې روایاتو کې بل تعارض دا دئ چې، په یوه کې انس رضي الله عنه ته دا وینا منسوب شوې چې د صفیه بنت حیي د ښایست خبره رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وشوه او بل کې ویل شوي چې یوه سړي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وویل: یا رسول الله! د قریظه او نضیر سرداره صفیه بنت حیي دي دحیه رضي الله عنه ته ورکړه؛ هغه خو له تا پرته د بل چا لپاره مناسبه نه ده؟ یعني خبره د ښایست نه بلکې د هغې د اجتماعي حیثیت وه، هغه د خپل قوم د یوه سردار او مشر لور او د بل مېرمن وه، پیغمبر علیه السلام د همدې لپاره هغه آزاده او بیا ئې ځان ته په نکاح کړه. نو دا خبره قطعاً صحیح نه ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغې د ښایست په وجه له دحیه

رضي الله عنه راوګرځوله. همدا راز په يوه روايت کي راغلي چي صفيه ئې ام سليم ته وسپارله چي د عدت موده د دې خوا کي تېره کړي، (فبعث بها إلى أم سليم تصلحها، قال: ولا أعلم إلا أنه قال: وتعتد عندها..) خو د انس رضي الله عنه روايت د دې خلاف دا انتباه سړي ته ورکوي چي ګواکي د لاري په اوږدو کي د نکاح مراسم ترسره شوي.

دې ته مو هم پام وي چي د شپې له لوري له برید ډډه کول او د سحر تر أذان پورې انتظار ايستل د دې لپاره نه وو چي ګواکي رسول الله صلى الله عليه و سلم منتظر وو وګوري چي له کلاګانو د أذان غږ اوربدل کېږي که نه؛ ځکه نه دا سيمه کومه مجهوله سيمه وه او نه د يهودانو له کلاګانو د أذان د اوربدو څه امکان وو، وجه ئې يوازي دا وه چي کله سحر شي، د کلاګانو دروازې پرانيستل شي، خلك راووځي، نو ناڅاپي برید پرې وشي، همداسي وشول، برید هغه مهال پيل شو چي يهودان له خپلو کلاګانو راوتلي ول.

همدا راز له دې رواياتو انسان داسي انتباه اخلي لکه چي خيبر يو وړوکی کلی وو، مدينې ته نژدې پروت وو، پيغمبر عليه السلام د شپې له لوري ورخوځېدلی او ګهيځ ئې حمله پرې کړې، کلی ئې فتح کړی او اسيران ئې وېشلي!! حال دا چي خبره داسي نه وه، دا يوه لويه او اوږده جګړه وه، ډېر صحابه په کي ټپيان او شهيدان شوي، لږ تر لږه دوه اونۍ ئې خيبر محاصره کړی وو، په خيبر کي ګڼ شمېر مضبوطي کلاګاني وې، شا وخوا ئې باغونه ول، ډېری کلاګاني پر لوړو جوړي شوې وې، د جنګياليو شمېر ئې شاوخوا لسو زرو ته رسېدو، له عربو قبائلو هم ځينو د دوی مرسته

کوله، د هغه مهال په ښو وسلو سمبال ول، منجنیق ئې هم درلود، ډېر صحابه د دوی په غشو ټپیان شول، په خیبر کي د یهودانو تر ټولو مخوري او ځواکمني قبیلې اوسېدلې، دوی هغه مهال دې سیمي ته راغلي ول چې فلسطین د رومیانو په لاس کي پرېوت، ورو ورو ئې د دې سیمي ښېرازه زمکي او باغونه تر لاسه کړي او د سیمي پر تجارت او اقتصاد ئې قبضه کړې وه، دا هر څه ئې یا د سود له لارې تر لاسه کړي ول یا په خپلو منځونو کي د مدینې د اصلي اوسېدونکو د جنګولو له لارې، په وار وار ئې د پیغمبر علیه السلام د وژلو منصوبې جوړې کړې، قریش ئې پر مدینې حملې ته هڅولي، په ټولو بریدونو کي ئې د دښمن مرسته کړې.

دې ته مو هم پام وي چې د جګړې په دوران کي دوی ته ویل شوي: که تسلیم شئ نو اجازه به درکړی شي چې له سیمي روغ رمټ ووځئ، خو دوی تر پایه د مقاومت او جنګ پرېکړه کړې او ځواب ئې ورکړی چې پر موږ د نورو قومونو ګمان مه کوئ، دلته به له داسي جنګیالیو سره مخامخ شئ چې تر دې د مخه ورسره مخامخ شوي نه وئ!! د جګړې پایله دا وه چې د خیبر د یهودانو جنګیالي ووژل شي. خو مسلمانانو له دوی سره هغه څه ونه کړل چې یهودانو له نورو قومونو سره کړي یا نورو قومونو له دوی سره کړي، د دوی ښځي، ماشومان او بوډاګان ئې ژوندي پرېښودل، په هغو شرائطو کي له دوی سره تر ټولو غوره معامله دا وه چې نه ووژل شي، نه بندي کړي شي او نه تبعید شي، بلکي د مسلمانانو په کفالت کي ورکړی شي او

هغوی دې ته تشویق شي چې ښه سلوك ورسره وکړي او د شرائطو د مساعدت په صورت کي ئې آزاد کړي، همغسي لکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له صفیې رضي الله عنها سره وکړل.

د دې روایت په اړه څو خبري نوري هم په پام کي ولرئ:

انس رضي الله عنه وایي چې زه دغه مهال بلوغ ته رسېدلی وم، یعني په شپږم هجري کال کي ځوانی ته رسېدلی وو، د خیبر په جګړي کي ئې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د خادم په توګه برخه اخیستې وه، ابو طلحه رضي الله عنه دی په دې دندي ګمارلی وو، د همدې لپاره هغه روایت مخصوصاً په هغو برخو کي چې ده (یا بل کم عمره راوي) خپله رأیه ورکړې وي باید په ډېر احتیاط سره نقل او وخېړل شي، یوازي دلته نه بلکي د ټولو هغو پېښو په اړه باید داسي روایات په ډېر احتیاط سره قبول شي چې د کم عمره راویانو له لوري روایت شوي.

دا ډېره عجیبه ده چې د امام بخاري رحمه الله په شمول ځینو درنو فقهاءو په دغه روایت استناد کړی او ویلي ئې دي چې د نارینه ورون په عورت کي شامل نه دئ، په داسي حال کي چې ګڼ شمېر نور روایات په بشپړه توګه د دې خلاف خبره کوي او ورون په عورت کي شامل ګڼي. که احیاناً دا روایت صحیح وي نو آیا په داسي غریب روایت کولی شو د یوه شرعي حکم، حلال او حرام او جائز او ناجائز په اړه استناد وکړو او هغه هم په داسي حال کي چې معلومه نه ده رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپله خپل

ورون لوخ کړی، که په غير ارادي توګه دا کار شوی.

که تاسو بايبل ولولئ او وګورئ چې يهودان له اسيرانو سره په څه کولو باور لري نو دا به درته جوته شي چې له دوی سره د مسلمانانو معامله ډېره عادلانه وه، بايبل د اعداد په کتاب کي (له مديانيانو انتقام) تر عنوان لاندي ليکي: خدای موسی ته وويل: له مديانيانو په دې خاطر انتقام واخلئ چې قوم ئې بت لمانځلو ته وهڅاوو، بيا به ته مړې... موسی له هري قبيلې زر جنګيالي وغوښتل، دولس زره جنګيالي ئې جنګ ته ولېږل،... د مديانيانو ټول سړي ووژل شول، له پنځو پاچايانو او بلعام سره،.. د اسرائيليانو فوځ ټولي ښځي او ماشومان اسيران کړل، رمې او مالونه ئې تالان، ښارونه، کلي او کلاګاني ئې ورانې کړې، اسيران او غنائم ئې د موسی خوا ته راوړل، موسی د فوځ په افسرانو غصه شو چې ولي مو د دوی ښځي ژوندۍ پرېښې، دوی خو همغه خلك دي چې د بلعام نصيحتونه ئې ومنل، چې قوم ئې بت لمانځلو ته تيار کړ او زموږ خلك ئې په بلا او مصيبت اخته کړل، نو ټول زامن او مېړوښي ښځي ووژنئ او يوازي پېغلي د ځان لپاره ژوندۍ پرېږدئ!!

د يوشع عليه السلام په اړه ليکي چې خپلو جنګياليو ته ئې امر وکړ:... په دې وخت کي تاسو پر ښار حمله وکړئ... او ښار وسوزوئ... دا د خدای امر دئ!! همداسي وشول... په کمين کي ناست اسرائيليان ښار ته ننوتل... اور ئې ورواچاوو... د عای پاچا چې له ټول فوځ سره د يوشع په تعقيب پسې وتلی وو... تر شا ئې وکتل وئې ليدل چې ښار د اور په لمبو کي سوزي... او له دواړو خواوو تر برید لاندي

راغلل او ټول ووژل شول...د ښار د اوسېدونکو شمېر دولس زره وو او ټول ووژل شول... د عای پاچا ژوندی په لاس ورغلی وو او یوشع په دار کړ، مازدیګر ئې له داره راکوز کړ او د ښار په دروازه کي ئې واچاوو او د ډبرو ډېران ئې پرې جوړ کړ!!

ګورئ چې د بایبل له نظره هم د اسیر وژل جائز دي او هم د مفتوحه سیمي د ماشومانو، ښځو او بوډاګانو وژل او هم د ښارونو ورانول او سوزول، هغه هم له فتح کولو وروسته!! خو اسلام نه د اسیر وژل جائز ګڼي او نه د ماشومانو، ښځو او بوډاګانو وژل، نه د ونو قطع کول او د فصلونو سوزول او نه د عبادت ځایونو ورانول او ړنګول او نه د دښمن د مړو سپکول...

(١٠) باب: ښځه باید په څو جامو کي لمونځ وکړي

241- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ لَقَدْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي الْفَجْرَ، فَيَشْهَدُ مَعَهُ نِسَاءٌ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ مُتَلَفِّعَاتٍ فِي مُرُوطِهِنَّ ثُمَّ يَرْجِعْنَ إِلَى بُيُوتِهِنَّ مَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ. (بخاري:372)

241- له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې وایي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به چې د سهار لمونځ کاوو یو شمېر مسلماني مېرمني به هم په داسي حال کي چې ځانونه به ئې پخپلو ټکریو کي نغښتي وو لمانځه ته راتللې، له لمانځه وروسته به بېرته خپلو کورونو ته تللې او هیڅا

به نه پيژندلې چې څوک دي.

تکرار: 578، 867، 872

توپير: په يوه کې مُتَلَفِّعَاتٍ فِي مُرُوطِهِنَّ، په بل کې مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ، په يوه کې ثُمَّ يَرْجِعْنَ إِلَى بُيُوتِهِنَّ مَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ، په بل کې يُصَلِّي الصُّبْحَ بِغَلَسٍ فَيَنْصَرِفْنَ نِسَاءُ الْمُؤْمِنِينَ، لاَ يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ؛ او لاَ يَعْرِفُ بَعْضُهُنَّ بَعْضًا او په بل کې فَيَنْصَرِفُ النِّسَاءُ مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ، مَا يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ او په بل کې مَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ، له دې توپيرونو سره سره د رواياتو مطلب يو دئ او هغه دا چې مسلماني مېرمني به جومات ته تللې، د سحر په لمانځه کې به ئې هم برخه اخيسته، رسول الله صلى الله عليه و سلم به د سحر لمونځ په داسي وخت کې کاوو چې تر لمانځه وروسته به هم لا دومره تياره وه چې مېرمني به نه پيژندل کېدې.

له دې روايت دوه تعبيرونه شوي: يو دا چې مېرمني به په ټکريو کې داسي پټې وې چې چا به نه پيژندلې او بل دا چې دومره تياره به وه چې دوی به نه پيژندل کېدې، لومړی تعبير په دې دليل کمزوری او ناسم دئ چې خبره د سحر د تيارې (غلس) ده؛ نه په جامه کې د پټېدو څرنګوالی، له دې روايته نه يوازې دا مطلب نشي اخيستل کېدی چې د ښځو مخونه به پټ وو بلکې په خلاف د دې ښيي چې د دوی مخونه به لوڅ وو خو د تيارې په وجه به نه پيژندل کېدې. لومړۍ ادعاء به په هغه صورت کې صحيح ګڼل کېده چې د (غلس: تياره) يادونه نه وی شوې يا د سحر له لمانځه پرته د ټولو لمونځونو يا د ورځې د کوم لمانځه يادونه شوې وی.

(١١) باب: په نقش لرونکې جامه کي لمونځ

242- حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ قَالَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم صَلَّى فِي خَمِيصَةٍ لَهَا أَعْلاَمٌ، فَنَظَرَ إِلَى أَعْلاَمِهَا نَظْرَةً، فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ "اذْهَبُوا بِخَمِيصَتِي هَذِهِ إِلَى أَبِي جَهْمٍ وَائْتُونِي بِأَنْبِجَانِيَّةِ أَبِي جَهْمٍ، فَإِنَّهَا أَلْهَتْنِي آنِفًا عَنْ صَلاَتِي". (بخاري:373)

242- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي يوه څادر کي لمونځ وکړ چې نقشونه ئې درلودل، په لمانځه کي ئې يو ځل د هغه نقشونو ته نظر شو، نو کله چې له لمانځه فارغ شو وئې فرمايل: (دا څادر مي ابو جهم ته وروړئ او د ابو جهم زيږ څادر راته راوړئ، ځکه زه ئې په لمانځه کي بل لوري ته ملتفت کړم (زما پام ئې بل لوري ته واړاوو).

تکرار: 752، 5817

توپير: په يوه کي فَلَمَّا انْصَرَفَ، په بل کي فَلَمَّا سَلَّمَ، په يوه کي شَغَلَتْنِي أَعْلاَمُ هَذِهِ او په بل کي فَإِنَّهَا أَلْهَتْنِي آنِفًا عَنْ صَلاَتِي راغلي، مطلب ئې يو دئ او هغه دا چې رسول الله صلى الله عليه و سلم پر نقش لرونکي څادر لمونځ کړی او له لمانځه وروسته ئې ويلي چې دا څادر په زيږ او ساده څادر بدل کړئ ځکه چې په لمانځه کي ئې زما پام بل لوري ته واړاوو.

(١٢) باب: په صليب لرونکې يا تصوير

لرونکې جامه کي لمونځ

243- حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرٍو قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسٍ كَانَ قِرَامٌ لِعَائِشَةَ سَتَرَتْ بِهِ جَانِبَ بَيْتِهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "أَمِيطِي عَنَّا قِرَامَكِ هَذَا، فَإِنَّهُ لاَ تَزَالُ تَصَاوِيرُهُ تَعْرِضُ فِي صَلاَتِي". (بخاري:374)

243- له انس رضي الله عنه روايت دئ چې عائشې رضي الله عنها يوه پرده لرله چې د خپلي خوني په يوه څنډه کي ئې ځړولې وه، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (دا پرده دي له موږ لري کړه ځکه تصويرونه ئې په لمانځه کي راته برېښي).

تکرار: **5959**

توپير: په يوه کي أَمِيطِي عَنَّا قِرَامَكِ هَذَا، په بل کي أَمِيطِي عَنِّي، په يوه کي تَعْرِضُ لِي فِي صَلاَتِي او په بل کي تَعْرِضُ فِي صَلاَتِي راغلي، مطلب ئې دا دئ چې په خوني کي يوې خوا ته داسي پرده ځړېدله چې تصويرونه پرې انځور شوي وو، رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي چې دا پرده لري کړه ځکه چې تصويرونه ئې په لمانځه کي راته برېښي.

په دې روایاتو کي دا نه دي ويل شوي چې تصويرونه د ژوو وو که د بې روح شيانو، د لري کولو وجه ئې يوازي دا ښودل شوې چې په لمانځه کي مزاحمت کوي او د لمونځ کوونکي پام بل لوري ته اړوي. له دې پلوه له هغه روايت سره تعارض لري چې وايي: فرشتې هغه کور ته نه ننوځي

چې تصوير په کې وي.

(١٣) باب: په وربښمينه جامه کې لمونځ

244- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ أُهْدِيَ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَرُّوجُ حَرِيرٍ، فَلَبِسَهُ فَصَلَّى فِيهِ، ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَزَعَهُ نَزْعًا شَدِيدًا كَالْكَارِهِ لَهُ وَقَالَ "لاَ يَنْبَغِي هَذَا لِلْمُتَّقِينَ". (بخاري:375)

244- له عقبه بن عامر رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته يوه وربښمينه چپنه هديه ورکړی شوه، هغه ئې واغوسته او لمونځ ئې په کې وکړ، بيا له لمانځه فارغ شو او هغه ئې داسي په تېزئ او زور سره وايستله لکه چې څوك تري کرکه لري او وئې فرمايل: (دا له متقيانو سره نه ښايي).

تکرار: 5801

توپير: د دواړو الفاظ سره ورته او راوي ئې عقبه بن عامر رضي الله عنه دئ.

(١٤) باب: په سره جامه کې لمونځ

245- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ قَالَ حَدَّثَنِي عُمَرُ بْنُ أَبِي زَائِدَةَ عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي جُحَيْفَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم فِي قُبَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ أَدَمٍ، وَرَأَيْتُ بِلاَلاً أَخَذَ وَضُوءَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم وَرَأَيْتُ النَّاسَ يَبْتَدِرُونَ ذَاكَ الْوَضُوءَ، فَمَنْ أَصَابَ مِنْهُ شَيْئًا تَمَسَّحَ بِهِ، وَمَنْ لَمْ يُصِبْ مِنْهُ شَيْئًا أَخَذَ مِنْ بَلَلِ يَدِ

صَاحِبِهِ، ثُمَّ رَأَيْتُ بِلاَلاً أَخَذَ عَنَزَةً فَرَكَزَهَا، وَخَرَجَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مُشَمِّرًا، صَلَّى إِلَى الْعَنَزَةِ بِالنَّاسِ رَكْعَتَيْنِ، وَرَأَيْتُ النَّاسَ وَالدَّوَابَّ يَمُرُّونَ مِنْ بَيْنِ يَدَيِ الْعَنَزَةِ. (بخاري:376)

245- له ابو جحيفه رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم مي د څرمني په يوې وړې سور رنګي خيمې کي وليد؛ او بلال رضي الله عنه مي وليد چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د اوداسه اوبه ئې نيولې وې؛ او خلک مي ليدل چي د دغو اوبو په لاسته راوړلو کي يو له بل مخکي کيږي، چا ته چي به له هغو اوبو څه اندازه په لاس ورغله، نو پر سر او ځان به ئې وموښلې او چا ته چي به ونه رسېدلې نو د خپل ملګري د لاس له لوند والي او څاڅکو به ئې تر لاسه کولې (د هغه په لانده لاس به ئې لاس راکش کړ او ځان به ئې پرې مسح کړ). بيا مي بلال وليد چي يوه نېزه ئې په زمکه کي وټومبله او رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي چي يوه جوړه سره رنګې جامه ئې اغوستې او پيڅې ئې بدوهلې وې راووت او نېزې ته مخامخ ئې خلکو ته دوه رکعته لمونځ ورکړ؛ او ما ليدل چي خلک او څاروي د نېزې مخي ته تېرېدل.

تکرار: 187، 495، 499، 501، 633، 634، 3553، 3566، 5786، 5859

توپير: دا روايت په (٣١) باب: د اوداسه د اوبو استعمال په 187 روايت کي څېړل شوی.

(١٥) باب: پر منبر، لوړ ځای او لرګي باندي لمونځ

٢٤٦- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللهِ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو حَازِمٍ قَالَ سَأَلُوا سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ الْمِنْبَرُ فَقَالَ مَا بَقِيَ بِالنَّاسِ أَعْلَمُ مِنِّي هُوَ مِنْ أَثْلِ الْغَابَةِ، عَمِلَهُ فُلاَنٌ مَوْلَى فُلاَنَةَ لِرَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم، وَقَامَ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم حِينَ عُمِلَ، وَوُضِعَ، فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ كَبَّرَ وَقَامَ النَّاسُ خَلْفَهُ، فَقَرَأَ وَرَكَعَ وَرَكَعَ النَّاسُ خَلْفَهُ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، ثُمَّ رَجَعَ الْقَهْقَرَى، فَسَجَدَ عَلَى الأَرْضِ، ثُمَّ عَادَ إِلَى الْمِنْبَرِ، ثُمَّ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، ثُمَّ رَجَعَ الْقَهْقَرَى حَتَّى سَجَدَ بِالأَرْضِ، فَهَذَا شَأْنُهُ. (بخاري:377)

٢٤٦- له سهل بن سعد رضي الله عنه روايت دئ چې پوښتنه تري وشوه: د رسول الله صلى الله عليه و سلم منبر له څه شي جوړ شوی وو؟ ده وويل: داسي څوک ژوندی نه دئ پاتې چې په دې اړه تر ما زيات پوه وي، د رسول الله صلى الله عليه و سلم منبر د ځنګله د ګز له وني جوړ شوی وو، د فلانۍ ښځي آزاد شوي فلاني غلام د رسول الله صلى الله عليه و سلم لپاره جوړ کړی وو؛ او کله چې هغه منبر جوړ او پر خپل ځای کېښودل شو، رسول الله صلى الله عليه و سلم وربانديي ودرېد، مخ ئې قبلې ته کړ، تکبير ئې ووايو، خلک وروسته ورپسې ودرېدل، رسول الله صلى الله عليه و سلم قرائت ولوست، رکوع ئې وکړه، خلکو هم رکوع ورسره وکړه، بيا ئې سر پورته کړ، بيا په شا راغی او پر زمکه ئې سجده وکړه، بيا ېېرته منبر ته ورغی، قرائت ئې

ولوست اوركوع ئې وکړه، بيا ئې مبارک سر پورته کړ، بيا په شا لاړ او پر زمکه ئې سجده وکړه، دا ئې قصه وه.

تکرار: 448، 917، 2094، 2569

توپير: په يوه کي عَمِلَهُ فُلاَنٌ مَوْلَى فُلاَنَةَ، په بل کي- أَرْسَلَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم إِلَى فُلاَنَةَ مُرِى غُلاَمَكِ النَّجَّارَ أَنْ يَعْمَلَ لِي أَعْوَادا أَجْلِسُ عَلَيْهِنَّ إِذَا كَلَّمْتُ النَّاسَ، په يوه کي ثُمَّ رَأَيْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم صَلَّى عَلَيْهَا، وَكَبَّرَ وَهْوَ عَلَيْهَا، ثُمَّ رَكَعَ وَهْوَ عَلَيْهَا، ثُمَّ نَزَلَ الْقَهْقَرَى فَسَجَدَ فِي أَصْلِ الْمِنْبَرِ ثُمَّ عَادَ، فَلَمَّا فَرَغَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ "أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا صَنَعْتُ هَذَا لِتَأْتَمُّوا وَلِتَعَلَّمُوا صَلاَتِي راغلي. له دغو روایاتو معلومېږي چې منبر د خطابت لپاره جوړ شوی وو، رسول الله صلى الله عليه و سلم يو ځل د دې لپاره د منبر له پاسه پر لمانځه ودرېدلی، قيام، رکوع او قومه ئې کړې او د سجدې لپاره راکوز شوی او پر زمکه ئې سجده کړې چې خلکو ته د لمانځه څرنګوالی وښيي، له دې دا حکم راايستل چې امام کولی شي د لمانځه پر مهال تر مقتديانو پر جګ ځای ودرېږي صحيح نه دئ، نور روايات له داسي کولو نهي کوي. دا يو استثنائي حالت دئ، له روايت دا نه معلومېږي چې فرض ئې کړی که نفل او يوازي د ښودني لپاره. دې ته مو هم پام وي چې په دې اړه راغلو روایاتو کي تعارض ليدل کېږي، يو ئې وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم له يوې مېرمني وغوښتل چې خپل غلام ته امر وکړي چې منبر ورته جوړ کړي، بل ئې وايي چې دې مېرمني په خپله رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل چې که غواړې زه به خپل غلام ته امر وکړم

چې منبر درته جوړ کړي.

(١٦) باب: پر پوزي لمونځ

247- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ الله بْنِ أَبِي طَلْحَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ جَدَّتَهُ مُلَيْكَةَ دَعَتْ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم لِطَعَامٍ صَنَعَتْهُ لَهُ، فَأَكَلَ مِنْهُ ثُمَّ قَالَ "قُومُوا فَلأُصَلِّ لَكُمْ". قَالَ أَنَسٌ فَقُمْتُ إِلَى حَصِيرٍ لَنَا قَدِ اسْوَدَّ مِنْ طُولِ مَا لُبِسَ، فَنَضَحْتُهُ بِمَاءٍ، فَقَامَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَصَفَفْتُ وَالْيَتِيمَ وَرَاءَهُ، وَالْعَجُوزُ مِنْ وَرَائِنَا، فَصَلَّى لَنَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ انْصَرَفَ. (بخاري:380)

247- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چې د ده انا مليکي رضي الله عنها رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه خوړو ته راوبالو چې ورته تيار کړي ئې وو، وئې خوړل بيا ئې وفرمايل: (پاڅئ چې لمونځ درکړم). انس رضي الله عنه وايي: زه لاړم او هغه پوزی مي چې له ډبر کارولو تور شوی وو راواخيست، په اوبو سره مي ومينځو، رسول الله صلى الله عليه و سلم پاڅېد، زه او يو يتيم په صف کي ورپسي ودرېدو؛ او هغه زړه ښځه زمونږ شا ته ولاړه وه؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم دوه رکعته لمونځ راته وکړ او بيا ولاړ.

تکرار: 727، 860، 871، 874، 1164

توپير: په يوه کي أَنَّ جَدَّتَهُ مُلَيْكَةَ دَعَتْ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم لِطَعَامٍ صَنَعَتْهُ لَهُ، په بل کي صَلَّيْتُ أَنَا وَيَتِيمٌ

فِي بَيْتِنَا خَلْفَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم وَأُمِّي أُمُّ سُلَيْمٍ خَلْفَنَا، په بل کي وَالْيَتِيمُ مَعِي، وَالْعَجُوزُ مِنْ وَرَائِنَا، فَصَلَّى بِنَا رَكْعَتَيْنِ، په بل کي فِي بَيْتِ أُمِّ سُلَيْمٍ، فَقُمْتُ وَيَتِيمٌ خَلْفَهُ، وَأُمُّ سُلَيْمٍ خَلْفَنَا راغلي، يو ئې وايي چې زما انا مليکه په لمانځه کي راسره ودرېده او بل ئې وايي چې زما مور ام سليم راسره ودرېده، سره له دې تعارض د رواياتو اصلي خبره دا ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د انس رضي الله عنه د انا يا مور په بلنه د دوی کور ته ورغلی له ډوډۍ وروسته ئې دوه رکعته لمونځ کړی، انس او يو يتيم په لومړي صف کي او د ده انا يا مور په دوهم صف کي ودرېدلي.

(١٧) باب: پر فرش باندي لمونځ

248- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ أَبِي النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَنَّهَا قَالَتْ كُنْتُ أَنَامُ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم وَرِجْلاَيَ فِي قِبْلَتِهِ، فَإِذَا سَجَدَ غَمَزَنِي، فَقَبَضْتُ رِجْلَيَّ، فَإِذَا قَامَ بَسَطْتُهُمَا. قَالَتْ وَالْبُيُوتُ يَوْمَئِذٍ لَيْسَ فِيهَا مَصَابِيحُ. (بخاري:382)

248- د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مېرمني عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: زه به د رسول الله صلى الله عليه و سلم مخي ته داسي ويده کېدلم چې پښې به مي د ده د قبلې خوا ته وې (د سجدی پر ځای کي به وې) کله چې به ئې سجده کوله نو په لاس سره به ئې کښېکښلم، ما به خپلي پښې راغوندي کړې او چې ببرته به پاڅېد؛ ما به

پښې وغځولې. عائشه رضي الله عنها وايي: هغه مهال په کورونو کې څراغونه نه وو.

تکرار: 383، 384، 508، 511، 512، 513، 514، 515، 519، 997، 1209، 6276

توپير: په يوه کې كُنْتُ أَنَامُ بَيْنَ يَدَىْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم وَرِجْلاَيَ فِي قِبْلَتِهِ، په بل کې أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ يُصَلِّي وَعَائِشَةُ مُعْتَرِضَةٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ عَلَى الْفِرَاشِ الَّذِي يَنَامَانِ عَلَيْهِ، په يوه کې ذُكِرَ عِنْدَهَا مَا يَقْطَعُ الصَّلاَةَ فَقَالُوا يَقْطَعُهَا الْكَلْبُ وَالْحِمَارُ وَالْمَرْأَةُ. قَالَتْ قَدْ جَعَلْتُمُونَا كِلاَبًا، لَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ- عَلَيْهِ السَّلاَمُ- يُصَلِّي، وَإِنِّي لَبَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ، وَأَنَا مُضْطَجِعَةٌ عَلَى السَّرِيرِ، فَتَكُونُ لِي الْحَاجَةُ، فَأَكْرَهُ أَنْ أَسْتَقْبِلَهُ فَأَنْسَلُّ انْسِلاَلاً، په بل کې قَالَتْ أَعَدَلْتُمُونَا بِالْكَلْبِ وَالْحِمَارِ لَقَدْ رَأَيْتُنِى مُضْطَجِعَةً عَلَى السَّرِيرِ، فَيَجِىءُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَيَتَوَسَّطُ السَّرِيرَ فَيُصَلِّي، فَأَكْرَهُ أَنْ أُسَنِّحَهُ فَأَنْسَلُّ مِنْ قِبَلِ رِجْلَىِ السَّرِيرِ حَتَّى أَنْسَلَّ مِنْ لِحَافِي، په بل کې فَقَالَتْ شَبَّهْتُمُونَا بِالْحُمُرِ وَالْكِلاَبِ، وَالله لَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي، وَإِنِّي عَلَى السَّرِيرِ- بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ- مُضْطَجِعَةً فَتَبْدُو لِي الْحَاجَةُ، فَأَكْرَهُ أَنْ أَجْلِسَ فَأُوذِىَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم فَأَنْسَلُّ مِنْ عِنْدِ رِجْلَيْهِ او په بل کې سَأَلَ عَمَّهُ عَنِ الصَّلاَةِ يَقْطَعُهَا شَىْءٌ فَقَالَ لاَ يَقْطَعُهَا شَىْءٌ، أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَتْ لَقَدْ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَقُومُ فَيُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ، وَإِنِّي لَمُعْتَرِضَةٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ عَلَى فِرَاشِ أَهْلِهِ، په يوه کې وَأَنَا رَاقِدَةٌ مُعْتَرِضَةٌ عَلَى فِرَاشِهِ، فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يُوتِرَ أَيْقَظَنِى فَأَوْتَرْتُ، په يوه کې فَإِذَا

سَجَدَ غَمَزَنِي فَرَفَعْتُهَا، فَإِذَا قَامَ مَدَدْتُهَا، په بل کي فَإِذَا سَجَدَ غَمَزَنِي، فَقَبَضْتُ رِجْلَيَّ، فَإِذَا قَامَ بَسَطْتُهُمَا راغلي، اساسي مطالب ئې دا دي: کله چې به رسول الله صلى الله عليه و سلم د شپې له لوري په لمانځه ودرېدو نو پر همغه فرش به ئې لمونځ کاوو چې پرې ویده به وو، فرش ووړ وو، پر یوې ژې به ئې ودرېدو، مخ ته به ئې د عائشې رضي الله عنها پښې وې، د سجدې په مهال به ئې هغه په لاس وخوځوله چې پښې ورغوندې کړي، عائشې رضي الله عنها دا خبره د هغو خلکو په ځواب کي کړې چې ویل ئې د لمانځه په وخت کي د چا مخي ته د سپي، خره او ښځي په تېرېدو سره په لمانځه کي خرابوالی راځي، دا وایي: زه به د رسول الله صلى الله عليه و سلم او قبلې تر منځ پرته وم، که به پاڅېدم نو د دې لپاره چې مزاحمت ورته ونه کړم د پښو لوري ته به له بېرسته ووتلم، کله چې به هغه د وتر لمونځ کولو زه به هم ورسره شریکه شوم.

له دې روایته څو خبرې معلومېږي: هم په تیاره کي لمونځ جائز دئ، هم پر غوړېدلي پاك فرش او هم په داسي حال کي چې مخي ته څوك ویده وي.

249- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم كَانَ يُصَلِّي وَهْيَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ عَلَى فِرَاشِ أَهْلِهِ، اعْتِرَاضَ الْجَنَازَةِ. (بخاري:383)

249- او له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به د خپل تېر پر فرش په داسي حال

کي لمونځ کاوو چي دا به ئې مخي ته د ده او قبلې تر منځ د جنازې په څېر پرته وه.

(۱۸) باب: د ګرمۍ له امله پر جامه سجده کول

۲۵۰- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ هِشَامُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ قَالَ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ قَالَ حَدَّثَنِي غَالِبٌ الْقَطَّانُ عَنْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنَّا نُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَيَضَعُ أَحَدُنَا طَرَفَ الثَّوْبِ مِنْ شِدَّةِ الْحَرِّ فِي مَكَانِ السُّجُودِ. (بخاري:385)

۲۵۰- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: موږ به له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره لمونځ کاوو، هر يوه به مو د ګرمۍ د شدت له امله د جامې څنډه د سجدې پر ځای کي وغوړوله.

(۱۹) باب: له پښو سره لمونځ

۲۵۱- حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنَا أَبُو مَسْلَمَةَ سَعِيدُ بْنُ يَزِيدَ الأَزْدِيُّ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ أَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي فِي نَعْلَيْهِ قَالَ نَعَمْ. (بخاري:386)

۲۵۱- او له انس رضي الله عنه روايت دئ چې پوښتنه تر ې وشوه: آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم له پښو سره لمونځ کاوو؟ انس رضي الله عنه وويل: هو.

تکرار: 5850

توپير: دواړه روايتونه د الفاظو او محتوى له لحاظه سره ورته او راوي ئې انس رضي الله عنه دئ. خو دا روايات نه وايي چې پيغمبر عليه السلام ئې په جومات کي

که له جوماته بهر، په سفر کي که په حضر کي، پر فرش که پر زمکه له پښو سره په لمانځه لیدلی، تل ئې همداسي لیدلی که یو ځل؟ دا روایت له هغو ډېرو نورو روایاتو سره هم تعارض لري چي وایي رسول الله صلی الله علیه و سلم په لوڅو پښو او له پښو پرته لمونځ کړی، که دا روایت د انس او هرماس رضي الله عنهما په څېر له کم عمره کسانو روایت شوی په مقابل کي ئې نور روایات د عائشې رضي الله عنها په څېر له معروفو شخصیتونو روایت شوي، له بلي خوا قرآن وایي چي الله تعالی موسی علیه السلام ته د طور په غره کي د ملاقات پر مهال وویل چي پښې دي وباسه، ته د طوىٰ سپېڅلي درې کي یې، د روایت تعارض به له دې آیت سره څنګه توجیه کوو؟ دغو خبرو ته په پام سره ویلی شو چي له پښو سره لمونځ یو استثنائي حالت دئ نه دائمي او ارجح حکم، همغسي لکه پر موزو مسح چي استثنایي حالت دئ، غوره او ارجح رأیه دا ده چي له ضرورته پرته نه جومات ته له پښو، څپلیو، بوټونو او کپیو سره ننوځو او نه پر مصلی او فرش لمونځ ورسره وکړو، په دې توګه به مورِ د قرآن آیت هم مراعات کړی وي او پر حدیث به مو هم عمل کړی وي.

نور روایات دا دي:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: " رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي حَافِيًا، وَمُتَنَعِّلًا، وَيَشْرَبُ قَائِمًا، وَقَاعِدًا، وَيَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ، وَعَنْ شِمَالِهِ، وَلَا يُبَالِي أَيُّ ذَلِكَ كَانَ رواه البيهقي

له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چي وایي: رسول الله

صلى الله عليه و سلم مي ليدلى چي لوڅي پښې او له پنو سره ئې لمونځ کړى، په ولاړه او ناسته ئې اوبه څښلې دي؛ او په ښي اړخ او کين اړخ ګرځېدلى د دې پروا ئې نه کوله چي له دغو کوم يو وي.

حَدَّثَنَا عَبْدُ الله حَدَّثَنِي أَبِي حَدَّثَنَا خَلَفُ بْنُ الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا أَبُو جَعْفَرٍ- يَعْنِي الرَّازِيَّ- عَنْ مَطَرٍ الوَرَّاقِ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ-صلى الله عليه وسلم- يُصَلِّي فِي نَعْلَيْهِ وَرَأَيْتُهُ يُصَلِّي حَافِياً وَرَأَيْتُهُ يَشْرَبُ قَائِماً وَرَأَيْتُهُ يَشْرَبُ قَاعِداً وَرَأَيْتُهُ يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ وَرَأَيْتُهُ يَنْصَرِفُ عَنْ يَسَارِهِ. مسند احمد

عمرو بن شعيب له خپل نيکه روايت کوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم مي ليدلى چي په خپلو پنو کي ئې لمونځ کاوو او ليدلى مي دئ چي لوڅي پښې ئې لمونځ کولو او ليدلى مي دئ چي په ولاړه ئې اوبه څښلې او ليدلى مي دئ چي په ناسته ئې اوبه څښلې او ليدلى مي دئ چي په ښي اړخ ګرځېدلى او ليدلى مي دئ چي په کين اړخ ګرځېدلى.

که څوك پر زمکه له فرش او مصلى پرته لمونځ کوي کولى شي له خپلو پنو سره لمونځ وکړي، که بشپړه مصلى لري کولى شي د سجدې پر ځاى وړه توټه وغوړوي او که نه سجده هم پر زمکه وکړي. ځکه په روياتو کي راځي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم همداسي کړي دي، اړوند روايت به وروسته وګورئ.

(٢٠) باب: له موزو سره لمونځ

٢٥2- حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الأَعْمَشِ قَالَ سَمِعْتُ إِبْرَاهِيمَ يُحَدِّثُ عَنْ هَمَّامِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ رَأَيْتُ جَرِيرَ بْنَ عَبْدِ الله بَالَ ثُمَّ تَوَضَّأَ، وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ، ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى، فَسُئِلَ فَقَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم صَنَعَ مِثْلَ هَذَا. قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَكَانَ يُعْجِبُهُمْ، لأَنَّ جَرِيرًا كَانَ مِنْ آخِرِ مَنْ أَسْلَمَ. (بخاري:387)

٢٥2- له همام بن الحارث روايت دئ چې هغه جرير بن عبدالله رضي الله عنه وليد چې بولي (متيازي) ئې وکړې بيا ئې اودس وکړ او پر موزو ئې مسح وکړه، بيا پاڅېد او لمونځ ئې وکړ، پوښتنه تري وشوه، وئې ويل: ما رسول الله صلى الله عليه و سلم ليدلى چې همداسي ئې وکړل. دا خبره د دوى د حيرانتيا او خوښۍ وړ وګرځېده، ځکه جرير وروستى کس وو چې په اسلام مشرف شوى وو.

(يعني ښيي چې پر موزو مسح منسوخ شوې نه ده، ځکه وروستي ايمان راوړونکي صحابي په خپلو سترګو ليدلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم همداسي کړي وو).

(٢١) باب: په سجده کې لاسونه له ډډو لرې نيول.

٢٥3- أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ مُضَرَ عَنْ جَعْفَرٍ عَنِ ابْنِ هُرْمُزَ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُحَيْنَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ إِذَا صَلَّى فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ حَتَّى يَبْدُوَ بَيَاضُ إِبْطَيْهِ. (بخاري:390)

٢٥3- له عبدالله بن مالک بن بحينه رضي الله عنه روايت دئ چي کله به رسول الله صلى الله عليه و سلم لمونځ کاوو (په سجده کي به ئې) لاسونه دومره لري نيول چي د تخرګونو سپين والى به ئې ښکاريدو.

تکرار: 807، 3564

توپير: په يوه کي كَانَ إِذَا صَلَّى فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ حَتَّى يَبْدُوَ بَيَاضُ إِبْطَيْهِ او په بل کي إِذَا سَجَدَ فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ حَتَّى نَرَى إِبْطَيْهِ راغلي.

دې ته مو پام وي چي راوي رسول الله صلى الله عليه و سلم په کميس کي نه بلکي په داسي حال کي ئې ليدلى چي څادر ئې پر ځان راتاو کړى وو، په دې صورت کي که لاسونه لږ هم له ځانه لري ونيول شي نو تخرګ ليدل کېدى شي.

(٢٢) باب: قبلې ته د مخامخ کېدو فضيلت

٢٥4- حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَبَّاسٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ الْمَهْدِيِّ قَالَ حَدَّثَنَا مَنْصُورُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ مَيْمُونِ بْنِ سِيَاهٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "مَنْ صَلَّى صَلاَتَنَا، وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا، وَأَكَلَ ذَبِيحَتَنَا، فَذَلِكَ الْمُسْلِمُ الَّذِي لَهُ ذِمَّةُ الله وَذِمَّةُ رَسُولِهِ، فَلاَ تُخْفِرُوا الله فِي ذِمَّتِهِ". (بخاري:391)

٢٥4- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (څوک چي زمونږ د لمانځه په شان لمونځ وکړي او زمونږ قبلې ته مخ کړي او زمونږ په لاس حلاله شوې (ذبيحه) وخوري، دا

داسي مسلمان دئ چي هم ئي د الله تعالى ذمه په برخه ده او هم د هغه د رسول ذمه، (الله تعالى او د هغه رسول امان ورکړی)، دده په اړه د الله تعالى عهد او تړون مه ماتوئ.

تکرار: 392، 393

توپير: په يوه کي مَنْ صَلَّى صَلاَتَنَا، وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا، وَأَكَلَ ذَبِيحَتَنَا، فَذَلِكَ الْمُسْلِمُ الَّذِي لَهُ ذِمَّةُ الله وَذِمَّةُ رَسُولِهِ، په بل کي أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله. فَإِذَا قَالُوهَا وَصَلَّوْا صَلاَتَنَا، وَاسْتَقْبَلُوا قِبْلَتَنَا، وَذَبَحُوا ذَبِيحَتَنَا، فَقَدْ حَرُمَتْ عَلَيْنَا دِمَاؤُهُمْ وَأَمْوَالُهُمْ إِلاَّ بِحَقِّهَا، وَحِسَابُهُمْ عَلَى الله او په بل کي مَنْ شَهِدَ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله، وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا، وَصَلَّى صَلاَتَنَا، وَأَكَلَ ذَبِيحَتَنَا، فَهُوَ الْمُسْلِمُ، لَهُ مَا لِلْمُسْلِمِ، وَعَلَيْهِ مَا عَلَى الْمُسْلِمِ راغلي، د ټولو مطلب سره ورته دئ، 393 روايت تر نورو جامع دئ.

(٢٣) باب: دا آيت چي فرمايي: (وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى).

٢٥٥- حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ قَالَ سَأَلْنَا ابْنَ عُمَرَ عَنْ رَجُلٍ طَافَ بِالْبَيْتِ الْعُمْرَةَ، وَلَمْ يَطُفْ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، أَيَأْتِي امْرَأَتَهُ فَقَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَطَافَ بِالْبَيْتِ سَبْعًا، وَصَلَّى خَلْفَ الْمَقَامِ رَكْعَتَيْنِ، وَطَافَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، وَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ الله أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ. (بخاري: 395)

٢٥٥- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي پوښتنه تري وشوه: څوک چي د عمري لپاره د بيت الله طواف وکړي او د صفا او مروه تر منځ ئې سعي نه وي کړې آيا

کولی شي چي له خپلي مېرمني سره نژدېکت وکړي؟ وئې ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم راغی، اوه ځله ئې د بیت الله طواف وکړ او په مقام ابراهیم کي ئې دوه رکعته لمونځ وکړ، بیا ئې د صفا او مروه تر منځ سعي وکړه، نو یقیناً چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم په متابعت کي تاسو ته غوره بېلګه ده. (یعني د صفا او مروه تر منځ له سعي مخکي باید له خپلي مېرمني سره نژدېکت ونه شي).

تکرار: 1623، 1627، 1645، 1647، 1793

توپیر: له معمولي توپیر پرته د ټولو الفاظ او مطلب سره ورته دي.

٢٥٦- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ عَطَاءٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا دَخَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم الْبَيْتَ دَعَا فِي نَوَاحِيهِ كُلِّهَا، وَلَمْ يُصَلِّ حَتَّى خَرَجَ مِنْهُ، فَلَمَّا خَرَجَ رَكَعَ رَكْعَتَيْنِ فِي قُبُلِ الْكَعْبَةِ وَقَالَ "هَذِهِ الْقِبْلَةُ". (بخاري:398)

٢٥٦- له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چي وایي: کله چي نبي صلی الله علیه و سلم کعبې ته داخل شو، په ټولو خواوو کي ئې دعاء وکړه، خو لمونځ ئې پکي ونکړ تر هغه چي تر ې ووت، نو کله چي ووت کعبې ته مخامخ ئې دوه رکعته لمونځ وکړ او وئې فرمایل: (دا قبله ده).

تکرار: 1601، 3351، 3352، 4288

توپیر: په یوه کي لَمَّا قَدِمَ أَبَى أَنْ يَدْخُلَ الْبَيْتَ وَفِيهِ الآلِهَةُ فَأَمَرَ بِهَا فَأُخْرِجَتْ فَأَخْرَجُوا صُورَةَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ فِي

أَيْدِيهِمَا الأَزْلاَمُ فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "قَاتَلَهُمُ الله أَمَا وَالله قَدْ عَلِمُوا أَنَّهُمَا لَمْ يَسْتَقْسِمَا بِهَا قَطُّ". فَدَخَلَ الْبَيْتَ، فَكَبَّرَ فِي نَوَاحِيهِ، وَلَمْ يُصَلِّ فِيهِ، په بل کي لَمَّا دَخَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم الْبَيْتَ دَعَا فِي نَوَاحِيهِ كُلِّهَا، وَلَمْ يُصَلِّ حَتَّى خَرَجَ مِنْهُ، فَلَمَّا خَرَجَ رَكَعَ رَكْعَتَيْنِ فِي قُبُلِ الْكَعْبَةِ وَقَالَ "هَذِهِ الْقِبْلَةُ، په بل کي دَخَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم الْبَيْتَ فَوَجَدَ فِيهِ صُورَةَ إِبْرَاهِيمَ وَصُورَةَ مَرْيَمَ فَقَالَ "أَمَا لَهُمْ، فَقَدْ سَمِعُوا أَنَّ الْمَلاَئِكَةَ لاَ تَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ، هَذَا إِبْرَاهِيمُ مُصَوَّرٌ فَمَا لَهُ يَسْتَقْسِمُ، په بل کي لَمَّا رَأَى الصُّوَرَ فِي الْبَيْتِ لَمْ يَدْخُلْ، حَتَّى أَمَرَ بِهَا فَمُحِيَتْ، وَرَأَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ- عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ- بِأَيْدِيهِمَا الأَزْلاَمُ فَقَالَ "قَاتَلَهُمُ الله، وَالله إِنِ اسْتَقْسَمَا بِالأَزْلاَمِ قَطُّ او په بل کي قَاتَلَهُمُ الله لَقَدْ عَلِمُوا مَا اسْتَقْسَمَا بِهَا قَطُّ". ثُمَّ دَخَلَ الْبَيْتَ، فَكَبَّرَ فِي نَوَاحِى الْبَيْتِ، وَخَرَجَ وَلَمْ يُصَلِّ فِيهِ راغلي، ځيني وايي چې د کعبې اړخونو ته ئې دعاء وکړه او ځيني ئې وايي چې الله اکبر ئې وويل، ځيني ئې وايي چې لومړی مجسمې يا تصويرونه ايستل شوي بيا ورننوتی، ځيني يوازي د ابراهيم او اسماعيل عليهما السلام تصويرونه يادوي او ځيني د مريم عليها السلام د تصوير يادونه هم کوي، په نورو رواياتو کي راځي چې په کعبه کي ډېر بتان ول، ټول ترې ايستل شوي، بخاري په 397 روايت کي وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د ننوتو د دروازې کين دېوال خوا ته دوه رکعته لمونځ وکړ او دا مطلب په دغو روايتونو کي هم تکرار شوی: 468، 504، 505، 506، 1167، 1598، 1599، 2988، 4289، 4400.

د دې روايت په ارتباط زه يو عجيب خوب لرم چې په ديارلس کلنۍ کې او هغه مهال مې ليدلی چې د کعبې له جوړښت، دروازو، حطيم او په کعبه کې د لمونځ د کيفيت په اړه مې هيڅ معلومات نه درلودل، د حربي ښوونځي په اوم ټولګي کې وم، په خوب کې ګورم چې د مازديګر لمانځه لپاره د کعبې له شرقي دروازې ورننوځم، د ننوتلو لار ور (دروازه) نه لري، د کعبې سطح له زمکې سره برابره ده، د مخکيني معمول په څېر د غرب په لوري په لمانځه ودريږم، نا څاپه ګورم چې رسول الله صلى الله عليه و سلم له يو شمېر يارانو سره له غربي دروازې راداخل شي، جامې، پټکی او څادر ئې سپين وي، څادر ئې پر سر او اوږو اچولی وي، ږيره ئې توره او مخ ئې غنم رنګی وي، ملګري ئې هم ده ته ورته جامه لري، رسول الله صلى الله عليه و سلم ما ته وګوري او تبسم وکړي، زه له ځان سره ووايم چې ښايي ما به د قبلې لورى غلط کړى وي، د همدې لپاره رسول الله صلى الله عليه و سلم تبسم وکړ، زه خو د مخکې په څېر د غرب په لوري ودرېدلی يم، اوس خو د کعبې په منځ کې يم، ښايي قبله به ښي اړخ ته وي، په لمانځه کې ښي اړخ ته وګرځم، له ځان سره ووايم: له لمانځه وروسته به له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره مصافحه کوم، په دې لوري کې يو داسې ديوال وګورم چې لوړوالی ئې د يوه ګز په اندازه وي، د نيم دائرې په څېر منحني جوړ شوى وي، د ډبرو رنګ ئې خړ سور بخن وي، د رکوع په حالت کې وم چې له خوبه راويښ شوم، ډېر کلونه وروسته راته معلومه شوه چې ما په دې خوب کې کعبه په هغې بڼې کې ليدلې چې

په سر کي د ابراهيم عليه السلام په لاس جوړه شوې وه؛ او وروسته ځيني تغييرات په کي راغلي، هغه منحني دېوال حطيم دئ چې اوس له کعبې بهر پاته شوی، خو د ابراهيم عليه السلام په وخت کي دا د کعبې جزء وو، د يوې پېښې په وجه کعبه ورانه شوې وه، قريشو دومره مالي توان نه درلود چې ببرته ئې په خپلي لومړنۍ بڼې جوړه کړي، اوږدوالی ئې راکم کړی او حطيم بهر پاته شوی، دوه دروازې ئې وې چې اوس يوه بنده کړی شوې، د کعبې سطح له زمکي سره برابره وه خو اوس د يوه سړي د قد په اندازه جګه کړی شوې، ما د دوهمي دروازې ځای هم په خپلو سترګو وليد چې په ډبرو بند شوی، قريشو دا تغييرات د دې لپاره راوړي ول چې کعبې ته اشرافي بڼه ورکړي، يوازي خاص خلك هغې ته د ننوتلو اجازه ولري، دا پرېکړه د دوی په واك کي وي چې چا ته د ننوتلو اجازه ورکړي او چا ته نه؛ ما ته الله تعالى پنځه ځلي کعبې ته د ننوتلو شرف راپه برخه کړ، کله چې ما د سعودي ځوانان په لومړي ځل په خپلو سترګو وليدل نو د رسول الله صلى الله عليه و سلم رنګ را په ياد شو.

(٢٤) باب: قبلې ته مخ کول

٢٥٧- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ رَجَاءٍ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ- رضي الله عنهما- قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم صَلَّى نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ سِتَّةَ عَشَرَ أَوْ سَبْعَةَ عَشَرَ شَهْرًا.... (بخاري:399)

٢٥٧- له براء رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول

الله صلى الله عليه و سلم شپارس يا اوولس مياشتي د بيت المقدس لور ته لمونځ وکړ...

دا حديث مخکي په ۲۷ باب الصَّلاَةُ مِنَ الإيمَانِ په ۳۸ روايت کي تېر شوی دئ، د دې او هغه روايت په الفاظو کي څه توپير او اختلاف شته.

۲۵۸- حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي عَلَى رَاحِلَتِهِ حَيْثُ تَوَجَّهَتْ، فَإِذَا أَرَادَ الْفَرِيضَةَ نَزَلَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ. (بخاري:400)

۲۵۸- له جابر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به چي پر خپلي سپرلۍ سپور وو، نو هري خوا ته به چي روان وو، همغه لور ته به ئې لمونځ کاوو، خو کله چي به ئې د فرض لمانځه اراده وکړه نو له سپرلۍ به کوز شو او مخ به ئې قبلې ته کړ، (يعنى قبلې ته مخامخ به ئې فرض لمونځ وکړ).

تکرار: 1094، 1099، 4140

توپير: په يوه کي يُصَلِّي عَلَى رَاحِلَتِهِ حَيْثُ تَوَجَّهَتْ، فَإِذَا أَرَادَ الْفَرِيضَةَ نَزَلَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، په بل کي كَانَ يُصَلِّي عَلَى رَاحِلَتِهِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يُصَلِّيَ الْمَكْتُوبَةَ نَزَلَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، په بل کي فِي غَزْوَةِ أَنْمَارٍ يُصَلِّي عَلَى رَاحِلَتِهِ، مُتَوَجِّهًا قِبَلَ الْمَشْرِقِ مُتَطَوِّعًا او په بل کي كَانَ يُصَلِّي التَّطَوُّعَ وَهْوَ رَاكِبٌ فِي غَيْرِ الْقِبْلَةِ

د قرآن له آيت معلوميږي چي د خطر په وخت کي په

پښو يا سپرلۍ باندي د تګ په حالت کي هم لمونځ کېدی شي، پرته له دې چي قبلې ته مخ شي؛ او که د قبلې لورى ورته معلوم نه وي يا هغې ته مخ کول ګران وي نو هري خوا ته لمونځ کېدی شي. قرآن وايي:

حَٰفِظُواْ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلۡوُسۡطَىٰ وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ۝ فَإِنۡ خِفۡتُمۡ فَرِجَالًا أَوۡ رُكۡبَانٗاۖ فَإِذَآ أَمِنتُمۡ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمۡ تَكُونُواْ تَعۡلَمُونَ ۝ البقرة: 238

طبيعي ده چي د قرآن دا حکم د فرض لمونځونو په اړه دئ نه د نفلي لمونځونو په اړه؛ دا ځکه چي تر د ې آيت مخکي ويل شوي چي پر ټولو لمونځونو او پر ډېر غوره لمونځ (صلاة الوسطى) ساتونکي اوسئ، خو که ووېرېدئ نو بيا ئې په روانه يا سپرلۍ د پاسه هم کولی شئ؛ او کله چي په امن کي شئ نو الله همغسي ياد کړئ چي درښودلي ئې دي، يعني خپل لمونځ د ښودل شوې طريقې مطابق وکړئ.

په ځينو رواياتو کي د تطوع او نفل يادونه نه ده شوې لکه دا روايت:

أخبرنا قتيبة بن سعيد عن مالك عن عبد الله بن دينار عن ابن عمر قال كان رسول الله صلى الله عليه و سلم يصلي على راحلته في السفر حيثما توجهت به.

له دې آيتونو او رواياتو معلومېږي چي د ضرورت او مجبوريت په وخت کي په تلو تلو کي او هر لوري ته لمونځ کول جائز دي، که نفل وي او که فرض. د خوف د لمانځه په اړه د قرآن بل آيت هغه حالت ته مختص دئ چي د مسلمانانو شمېر زيات وي، په جمعه لمونځ کولی شي، دا

ورته ممکن وي چې ځینې په جمعه ودرېږي او ځینې پهره وکړي.

259- حَدَّثَنَا عُثْمَانُ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللهِ صَلَّى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم - قَالَ إِبْرَاهِيمُ لاَ أَدْرِى زَادَ أَوْ نَقَصَ- فَلَمَّا سَلَّمَ قِيلَ لَهُ يَا رَسُولَ اللهِ، أَحَدَثَ فِي الصَّلاَةِ شَىْءٌ قَالَ "وَمَا ذَاكَ". قَالُوا صَلَّيْتَ كَذَا وَكَذَا. فَثَنَى رِجْلَيْهِ وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ، فَلَمَّا أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ قَالَ "إِنَّهُ لَوْ حَدَثَ فِي الصَّلاَةِ شَىْءٌ لَنَبَّأْتُكُمْ بِهِ، وَلَكِنْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ، أَنْسَى كَمَا تَنْسَوْنَ، فَإِذَا نَسِيتُ فَذَكِّرُونِى، وَإِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلاَتِهِ فَلْيَتَحَرَّى الصَّوَابَ، فَلْيُتِمَّ عَلَيْهِ ثُمَّ يُسَلِّمْ، ثُمَّ يَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ". (بخاري:401)

259- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم لمونځ وکړ، ابراهيم له علقمه او هغه له ابن مسعود رضي الله عنه رانقلوي چې وئې ويل: پوه نه شوم چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په لمانځه کې څه زيات کړل؛ او که کم، خو کله چې ئې سلام وګرځاوو ورته وويل شول: يا رسول الله! آيا په لمانځه کې څه نوې خبره شوې؟ وئې فرمايل: (هغه څه دي؟)، اصحابو وويل: تا اوس داسي او داسي لمونځ وکړ، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم خپلې پښې راغوندې او پر زنګنو کښېناست، مخ ئې قبلې ته کړ او دوې سجدې ئې وکړې، بيا ئې سلام وګرځاوو (د سهوې سجده ئې وکړه). او کله چې ئې موږ ته مخ راواړاوو وئې فرمايل: (که د لمانځه په اړه

څه نوې خبره وی، نو ما به حتماً تاسو پرې خبرولئ، خو زه هم ستاسو په څېر بشر يم، لکه چې له تاسو هېرونه کېږی، له ما هم هېرېږي، کله چې څه رانه هېر شول، نو تاسو ئې رايادوئ؛ او که له تاسو کوم يوه ته په لمانځه کي شک پيدا شو، نو د سم صورت په اړه دي ښه غور وکړي او د همغه له مخي دي خپل لمونځ بشپړ کړي، بيا دي سلام وګرځوي او بيا دي دوې سجدې وکړي).

تکرار: 404، 1226، 6671، 7249

توپير: په يوه کي لاَ أَدْرِی زَادَ أَوْ نَقَصَ، په بل کي فَزَادَ أَوْ نَقَصَ مِنْهَا، په بل کي صَلَّى الظُّهْرَ خَمْسًا، په يوه کي أَقَصُرَتِ الصَّلاَةُ أَمْ نَسِيتَ، په بل کي أَحَدَثَ فِي الصَّلاَةِ شَيْءٌ، په بل کي فَقَالُوا أَزِيدَ فِي الصَّلاَةِ، په بل کي فَقِيلَ لَهُ أَزِيدَ فِي الصَّلاَةِ، په يوه کي قَالَ صَلَّيْتَ خَمْسًا، په يوه کي فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَ مَا سَلَّمَ، په بل کي فَثَنَى رِجْلَيْهِ وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ او، په يوه کي دا هم راغلي هَاتَانِ السَّجْدَتَانِ لِمَنْ لاَ يَدْرِی زَادَ فِي صَلاَتِهِ أَمْ نَقَصَ، فَيَتَحَرَّى الصَّوَابَ، فَيُتِمُّ مَا بَقِيَ، ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ، له دغو رواياتو معلومېږي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د ماسپښين لمونځ ورکړی، پنځه رکعته ئې کړي، له لمانځه وروسته ورته ويل شوي چې آيا په لمانځه کي زياتوالی راغلی، تا خو پنځه رکعته وکړل، رسول الله صلى الله عليه و سلم ځان سجدې ته برابر کړی، دوې سجدې ئې کړې، بيا ئې سلام ګرځولی او خلکو ته ئې ويلي چې زه هم ستاسو په څېر بشر يم، که کله هېرونه رانه وشي ما ته ئې راپه ياد کړئ، که له تاسو څوک

په خپل لمانځه کي شك وکړي نو له غور وروسته دي پربېکړه وکړي او د همدې پربېکړي له مخي دي خپل لمونځ بشپړ کړي او په پای کي دي دوې سجدې وکړي.

له دې روایاتو څو خبري معلومېږي: که څوك د رکعتونو په شمېر کي غلط شو، نو د خپل یقین مطابق دي لمونځ بشپړ کړي او په پای کي دي د سهوي سجدې وکړي، که امام ته له لمانځه وروسته وویل شو چي لمونځ دي زیات کړ نو د سهوي سجدې دي وکړي او که تري کم شوی وو نو هغه دي بشپړ کړي بیا دي د سهوي سجدې وکړي، خو په دې اړه له نورو روایاتو معلومېږي چي په ابتداء کي په لمانځه کي خبري کول د لمانځه منافي نه ګڼل کېدې خو وروسته منع شوې، د احتیاط تقاضا دا ده چي که امام خبري وکړې نو غوره دا ده چي لمونځ اعاده شي.

دې ته مو هم پام وي چي په دې روایاتو کي هغه صحیح دي چي د پنځو رکعتو یادونه کوي، ځکه که تر څلورو کم شوي وی نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به هغه بشپړ کړی وو.

(٢٥) باب: هغه څه چي دقبلې په اړه راغلي

٢٦٥- حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ قَالَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ وَافَقْتُ رَبِّي فِي ثَلاَثٍ، فَقُلْتُ يَا رَسُولَ الله لَوِ اتَّخَذْنَا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى فَنَزَلَتْ (وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى) وَآيَةُ الْحِجَابِ قُلْتُ يَا رَسُولَ الله، لَوْ أَمَرْتَ نِسَاءَكَ أَنْ يَحْتَجِبْنَ، فَإِنَّهُ يُكَلِّمُهُنَّ الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ. فَنَزَلَتْ آيَةُ الْحِجَابِ، وَاجْتَمَعَ نِسَاءُ النَّبِيِّ

صلى الله عليه و سلم فِي الْغَيْرَةِ عَلَيْهِ فَقُلْتُ لَهُنَّ عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبَدِّلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ. فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ: .. عَسى رَبُّهُ إن طلَّقَكُنَّ.. (بخاري:402)

٢٦٠- له عمر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: په دريو پېښو کي زما نظر د الله تعالى له وحي سره موافق شوى دئ، يو ځل مي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وويل: يا رسول الله! کاش مقام ابراهيم مو د لمانځه لپاره غوره کړى وى؟ نو دا آيت نازل شو: (و اتخذوا من مقام ابراهيم مصلى). همدا راز د حجاب آيت، ومي ويل: يا رسول الله! غوره به وي که خپلو مېرمنو ته د پردې امر وکړې، ځکه نېک او بد خلک خبري ورسره کوي؟ نو د حجاب آيت نازل شو. (بل ځل) د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمني راټولي شوې وې چې شخړه ورسره وکړي، نو ما دوى ته وويل: که تاسو ته طلاق درکړي نو کېدى شي الله تعالى تر تاسو غوره مېرمني په بدل کي ورکړي، نو دا آيت نازل شو: (عسى ربه ان طلقكن ان يبدله ازواجا خيرا منكن...).

تكرار: 4483، 4790، 4916

توپير: په يوه کي وَافَقْتُ رَبِّي فِي ثَلاَثٍ، په بل کي وَافَقْتُ الله فِي ثَلاَثٍ- أَوْ وَافَقَنِي رَبِّي فِي ثَلاَثٍ، په يوه کي لَوِ اتَّخَذْنَا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى، په بل کي لَوِ اتَّخَذْتَ مَقَامَ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى، په يوه کي لَوْ أَمَرْتَ نِسَاءَكَ أَنْ يَحْتَجِبْنَ، فَإِنَّهُ يُكَلِّمُهُنَّ الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ، په بل کي يَدْخُلُ عَلَيْكَ الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ، فَلَوْ أَمَرْتَ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ بِالْحِجَابِ، په يوه کي فَقُلْتُ لَهُنَّ عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبَدِّلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ، په بل کي قُلْتُ إِنِ

انْتَهَيْتُنَّ أَوْ لَيُبَدِّلَنَّ الله رَسُولَهُ صلى الله عليه و سلم خَيْرًا مِنْكُنَّ، په يوه کي دا هم راغلي حَتَّى أَتَيْتُ إِحْدَى نِسَائِهِ، قَالَتْ يَا عُمَرُ، أَمَا فِي رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم مَا يَعِظُ نِسَاءَهُ حَتَّى تَعِظَهُنَّ أَنْتَ د ټولو مطلب يو دئ.

(٢٦) باب: له مسجد په لاس سره د لاړو پاکول

٢٦١- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم رَأَى نُخَامَةً فِي الْقِبْلَةِ، فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَيْهِ حَتَّى رُئِيَ فِي وَجْهِهِ، فَقَامَ فَحَكَّهُ بِيَدِهِ فَقَالَ "إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ فِي صَلاَتِهِ، فَإِنَّهُ يُنَاجِي رَبَّهُ- أَوْ إِنَّ رَبَّهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ- فَلاَ يَبْزُقَنَّ أَحَدُكُمْ قِبَلَ قِبْلَتِهِ، وَلَكِنْ عَنْ يَسَارِهِ؛ او تَحْتَ قَدَمَيْهِ". ثُمَّ أَخَذَ طَرَفَ رِدَائِهِ فَبَصَقَ فِيهِ، ثُمَّ رَدَّ بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ، فَقَالَ "أَوْ يَفْعَلْ هَكَذَا". (بخاري:405)

٢٦١- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم د جومات د قبلې لوري ته لاړي يا ګرنګ وليدل، دومره پرې بده ولګيده چي د ناخوښۍ آثار ئې په مخ کي ترسترګو شول، نو پاڅېد او په خپل لاس ئې (په يوه خلکي يا ډبري) وګرول او وئې فرمايل: (کله چي له تاسو څوک په لمانځه درپېري نو هغه له خپل رب سره راز و نياز کوي، يا ئې دا وويل چي رب ئې د ده او قبلې تر منځ وي، نو ستاسو هيڅ يو دي خپلې قبلې ته نه توکي او نه سوغي، بلکي کين لوري او يا ترپښو لاندي دې کړي). بيا ئې د خپل څادر څنډه ونيوله او په کي تو ئې کړل، بيا ئې سره وموښل (د تمثيل په توګه) او وئې فرمايل: (او يا دي داسي کوي).

تكرار: 241، 412، 413، 417، 531، 532، 822، 1214

توپير: دا روايت په 70- باب الْبُزَاقِ وَالْمُخَاطِ وَنَحْوِهِ فِي الثَّوْبِ په 241 روايت کي څېړل شوی.

(۲۷) باب: څوک دي په لمانځه کي لاړي ښی خوا ته نه تو کوي.

261ب - حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ أَخْبَرَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ أَخْبَرَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ وَأَبَا سَعِيدٍ حَدَّثَاهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم رَأَى نُخَامَةً فِي جِدَارِ الْمَسْجِدِ، فَتَنَاوَلَ حَصَاةً فَحَكَّهَا فَقَالَ "إِذَا تَنَخَّمَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَتَنَخَّمَنَّ قِبَلَ وَجْهِهِ وَلاَ عَنْ يَمِينِهِ، وَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ الْيُسْرَى". (بخاري: 408 و 409)

261ب - له ابوهريره او ابوسعيد رضي الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د جومات پر دېوال باندي بلغم وليدل، نو يوه ډبره ئې راواخيسته او هغه ئې وګرول، بيا ئې وفرمايل: څوك چې لاړي تو کوي نو مخي او ښي لاس ته دي نه تو کوي بايد کيڼ لوري يا تر کيڼي پښې لاندي دي تو کړي. د دې شرح هم د 241 روايت په شرحي کي وګورئ.

(۲۸) باب: په جومات کي د سوغلو کفاره

262- حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "الْبُزَاقُ فِي

الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ، وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا". (بخاري:**415**)

262- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (په جومات كي سوغل گناه ده او كفاره ئې پټول يعني له منځه وړل دي).

(٢٩) باب: خلكو ته د لمانځه او قبلې په اړه پند او نصيحت

٢٦٣- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "هَلْ تَرَوْنَ قِبْلَتِي هَا هُنَا فَوَالله مَا يَخْفَى عَلَيَّ خُشُوعُكُمْ وَلاَ رُكُوعُكُمْ، إِنِّي لأَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِي". (بخاري:418)

٢٦٣- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (آيا تاسي فكر كوئ چي زه يوازي د قبلې خوا وينم؟ قسم په خداى چي ستاسي خشوع او ركوع له ما پټه نه ده، زه تاسي له خپلي شا نه وينم).

تكرار: 741

توپير: په يوه كي وَإِنِّي لأَرَاكُمْ وَرَاءَ ظَهْرِى او په بل كي إِنِّي لأَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِى راغلي.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په څلورو طبقو كي يو يو راوي لري، يوازي بخاري راوړى، نه په نورو صحاحو كي او نه د احاديثو په نورو كتابونو كي راغلى، الباني هم نه دئ رااخيستى، په ټولو صحابه وو كي بل هيڅا ته داسي خبره نه ده منسوب شوې، په مهمو اعتقادي مسائلو كي په داسي رواياتو استناد نشي كېدى، دا روايت له

قرآن او نورو رواياتو سره چې وايي پيغمبر عليه السلام په غيب نه پوهيدو جدي تعارض لري، څو روايته وړاندي په 401 روايت کي تاسو وليدل چې پيغمبر عليه السلام د ماسپښين لمونځ پنځه رکعته کړی وو، کله چې صحابه وو پوښتنه کوله نه پوهيدو چې دوی څه ويل غواړي، هغه مهال پوه شو چې د څلورو پر ځای ئې پنځه رکعته لمونځ کړی چې صحابه وو ورته وويل، که هغه د بل چا د زړه په کيفيت پوهيدی نو داسي به نه کيدل. که پيغمبر عليه السلام د مقتديانو خشوع او رکوع ليدلی نو د څلورو پر ځای به ئې پنځه رکعته لمونځ نه کولو، ځکه دا به ئې ليدلي وو چې مقتديان په څلورم رکعت کي کښېنستل، زړه نازړه شول، په نه زړه او له تشويش سره پنځم رکعت ته پورته شول، له لمانځه وروسته به پوه شوی وو چې پنځه رکعته لمونځ ئې کړی، د مقتديانو د زړه په اندېښنو به پوه شوی وو او خبره به دې ځای ته نه رسېده چې مقتديان ئې ورته ووايي. په دې اړه 453 روايت وګورئ، چې تر دې هم د سند له پلوه معتبر دئ او هم د متن له پلوه ارجح، هغه له دې سره تعارض لري او له شا نه د مقتديانو حالت ليدل او پېژندل ردوي.

(٣٠) باب: آيا جواز لري چې وويل شي د بني فلان جومات؟

264- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم سَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي أُضْمِرَتْ مِنَ الْحَفْيَاءِ، وَأَمَدُهَا ثَنِيَّةُ الْوَدَاعِ، وَسَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ

الَّتِي لَمْ تُضْمَرْ مِنَ الثَّنِيَّةِ إِلَى مَسْجِدِ بَنِي زُرَيْقٍ، وَأَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ فِيمَنْ سَابَقَ بِهَا. (بخاري:420)

264- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د روزل شوو آسونو تر منځ د منډي سيالۍ جوړه کړه چي واټن ئې له حفياء تر ثنية الوداع پوري وو؛ او نه روزل شوو آسونو لپاره ئې له ثنية الوداع تر مسجد بني زريق پوري د ځغاستي واټن وټاکو؛ او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما يو له هغو کسانو وو چي پدې سيالۍ کي ئې ګډون وکړ.

يادونه: حفياء د مديني منورې په جنوبي برخي کي او ثنية الوداع په شمالي خوا کي پرتې سيمي دي.

تکرار: 2868، 2869، 2870، 7336

توپير: په يوه کي د سابق پر ځای أَجْرَى راغلي؛ او د اضمرت پر ځای مَا ضُمِّرَ مِنَ الْخَيْلِ؛ او د لم تضمر پر ځای مَا لَمْ يُضَمَّرْ راغلي؛ او د أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ فِيمَنْ سَابَقَ بِهَا پر ځای وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ مِمَّنْ سَابَقَ فِيهَا راغلي، په يوه کي دا هم راغلي بَيْنَ الْحَفْيَاءِ إِلَى ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ خَمْسَةُ أَمْيَالٍ أَوْ سِتَّةٌ، وَبَيْنَ ثَنِيَّةِ إِلَى مَسْجِدِ بَنِي زُرَيْقٍ مِيلٌ. د ټولو مطلب يو دئ. که څه هم د دې روايت مناسب ځای د جهاد لپاره د مجاهدينو او أسونو روزل او د دوی تر منځ د سيالۍ لوبي جوړول دي خو امام بخاري تر دې عنوان لاندي راوړی چي کولی شو يو جومات د يوې قبيلې په نامه ياد کړو.

(٣١) باب: په جومات کي د مال وېشل او د

خرما وړي ځړول

265- وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسٍ- رضي الله عنه- قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِمَالٍ مِنَ الْبَحْرَيْنِ فَقَالَ "انْثُرُوهُ فِي الْمَسْجِدِ". وَكَانَ أَكْثَرَ مَالٍ أُتِيَ بِهِ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم، فَخَرَجَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم إِلَى الصَّلاَةِ، وَلَمْ يَلْتَفِتْ إِلَيْهِ، فَلَمَّا قَضَى الصَّلاَةَ جَاءَ فَجَلَسَ إِلَيْهِ، فَمَا كَانَ يَرَى أَحَدًا إِلاَّ أَعْطَاهُ، إِذْ جَاءَهُ الْعَبَّاسُ فَقَالَ يَا رَسُولَ الله، أَعْطِنِي فَإِنِّي فَادَيْتُ نَفْسِي وَفَادَيْتُ عَقِيلاً، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "خُذْ". فَحَثَا فِي ثَوْبِهِ، ثُمَّ ذَهَبَ يُقِلُّهُ فَلَمْ يَسْتَطِعْ فَقَالَ يَا رَسُولَ الله، أُؤْمُرْ بَعْضَهُمْ يَرْفَعُهُ إِلَيَّ. قَالَ "لاَ". قَالَ فَارْفَعْهُ أَنْتَ عَلَيَّ. قَالَ "لاَ". فَنَثَرَ مِنْهُ، ثُمَّ ذَهَبَ يُقِلُّهُ، فَقَالَ يَا رَسُولَ الله، أُؤْمُرْ بَعْضَهُمْ يَرْفَعْهُ عَلَيَّ. قَالَ "لاَ". قَالَ فَارْفَعْهُ أَنْتَ عَلَيَّ. قَالَ "لاَ". فَنَثَرَ مِنْهُ، ثُمَّ احْتَمَلَهُ فَأَلْقَاهُ عَلَى كَاهِلِهِ ثُمَّ انْطَلَقَ، فَمَا زَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يُتْبِعُهُ بَصَرَهُ حَتَّى خَفِيَ عَلَيْنَا، عَجَبًا مِنْ حِرْصِهِ، فَمَا قَامَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَثَمَّ مِنْهَا دِرْهَمٌ.
(بخاري:421)

265- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته له بحرين څه اندازه مال راوړل شو، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (دا مال په جومات كي واچوئ)؛ او دا ترټولو زيات مال وو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راوړل شوى وو، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم لمانځه ته راووت او مال ته ئې هيڅ

توجه ونكړه، كله چې ئې لمونځ وكړ، راغى او د هغه مال خوا ته كښېناست او چې څوك به ئې ليدو څه به ئې ترې وركول، ناڅاپه عباس رضي الله عنه راغى او وئې ويل: يا رسول الله! ما ته هم څه راكړه، ځكه ما د ځان او عقيل رضي الله عنه د آزادولو لپاره فديه وركړې ده، (دوى دواړه د بدر په غزا كي اسيران شوي وو). رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: (واخله). نو ده په خپلي جامې (څادر) كي مال واچاوو، كله چې ئې غوښتل هغه پورته كړي؛ نو ونه توانېد، نو وئې ويل: يا رسول الله! چا ته امر وكړه چې دا مال راسره پورته كړي، وئې فرمايل: (نه)، نو عباس رضي الله عنه وويل: ته ئې راپورته كړه! وئې فرمايل: (نه)، نو له هغه ئې څه اندازه ببرته پر زمكه واچاوو، بيا ئې وغوښتل چې پورته ئې كړي خو ونه توانېدو، وئې ويل: يا رسول الله! چا ته امر وكړه چې راپورته ئې كړي! وئې فرمايل: (نه)، وئې ويل: نو ته ئې راپورته كړه! وئې فرمايل: (نه)، نو له هغه ئې څه اندازه ببرته پر زمكه واچاوو، بيا ئې پورته كړ، پر اوږو ئې كړ او بيا روان شو؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم تر هغه پسي كتل چې له سترګو ئې پټ شو، د هغه حرص ته د حيرانتيا له وجهې؛ او كله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم له هغه ځايه پاڅېدو نو هلته يو درهم مال هم نه وو پاته شوى.

تكرار: 3049، 3165

توپير: له لږ شاني توپير پرته ټول د الفاظو او محتوى له

پلوه سره ورته دي، يو ئې لنډ دئ، راوي ئې هم يو دئ.

(32) باب: په کور کي جومات

266- حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي مَحْمُودُ بْنُ الرَّبِيعِ الأَنْصَارِيُّ أَنَّ عِتْبَانَ بْنَ مَالِكٍ- وَهُوَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا مِنَ الأَنْصَارِ- أَنَّهُ أَتَى رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم فَقَالَ يَا رَسُولَ الله، قَدْ أَنْكَرْتُ بَصَرِى، وَأَنَا أُصَلِّي لِقَوْمِي، فَإِذَا كَانَتِ الأَمْطَارُ سَالَ الْوَادِى الَّذِي بَيْنِى وَبَيْنَهُمْ، لَمْ أَسْتَطِعْ أَنْ آتِيَ مَسْجِدَهُمْ فَأُصَلِّيَ بِهِمْ، وَوَدِدْتُ يَا رَسُولَ الله أَنَّكَ تَأْتِينِى فَتُصَلِّيَ فِي بَيْتِى، فَأَتَّخِذَهُ مُصَلًّى. قَالَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "سَأَفْعَلُ إِنْ شَاءَ الله". قَالَ عِتْبَانُ فَغَدَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَأَبُو بَكْرٍ حِينَ ارْتَفَعَ النَّهَارُ، فَاسْتَأْذَنَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فَأَذِنْتُ لَهُ، فَلَمْ يَجْلِسْ حَتَّى دَخَلَ الْبَيْتَ ثُمَّ قَالَ "أَيْنَ تُحِبُّ أَنْ أُصَلِّيَ مِنْ بَيْتِكَ". قَالَ فَأَشَرْتُ لَهُ إِلَى نَاحِيَةٍ مِنَ الْبَيْتِ، فَقَامَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فَكَبَّرَ، فَقُمْنَا فَصَفَّنَا، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ، قَالَ وَحَبَسْنَاهُ عَلَى خَزِيرَةٍ صَنَعْنَاهَا لَهُ. قَالَ فَثَابَ فِي الْبَيْتِ رِجَالٌ مِنْ أَهْلِ الدَّارِ ذَوُو عَدَدٍ فَاجْتَمَعُوا، فَقَالَ قَائِلٌ مِنْهُمْ أَيْنَ مَالِكُ بْنُ الدُّخَيْشِنِ أَوِ ابْنُ الدُّخْشُنِ فَقَالَ بَعْضُهُمْ ذَلِكَ مُنَافِقٌ لاَ يُحِبُّ الله وَرَسُولَهُ. فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "لاَ تَقُلْ ذَلِكَ، أَلاَ تَرَاهُ قَدْ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله. يُرِيدُ بِذَلِكَ وَجْهَ الله". قَالَ الله وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ فَإِنَّا نَرَى وَجْهَهُ وَنَصِيحَتَهُ إِلَى الْمُنَافِقِينَ. قَالَ

رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "فَإِنَّ الله قَدْ حَرَّمَ عَلَى النَّارِ مَنْ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ الله. يَبْتَغِي بِذَلِكَ وَجْهَ الله". (بخاري:**425**)

266- له محمود بن ربيع انصاري رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: عتبان بن مالک چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم صحابي او انصاري وو او د بدر په غزا کې ئې ګډون کړی وو، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغی او وئې ويل: سترګي مي کمزوري شوې دي او زه خپل قوم ته لمونځ ورکوم؛ او کله چې باران وشي نو په هغه دره يا شيله کي چې زما او دوی تر منځ پرته ده، سيلاب راشي، نه شم کولی جومات ته ئې ورشم او لمونځ ورکړم، يا رسول الله! خوښه مي دا ده چې ته مي کور ته راشې او لمونځ په کي وکړې چې زه همغه ځای د لمانځه لپاره غوره کړم. راوي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: (که خدای کول دا کار به وکړم). عتبان وايي: سبا ته غرمه مهال رسول الله صلى الله عليه و سلم او ابوبکر رضي الله عنه زما کور ته راغلل، رسول الله صلى الله عليه و سلم اجازه وغوښتله، ما د داخلېدو اجازه ورکړه. کور ته له راتلو سره سم له کښېناستلو مخکې ئې وفرمايل: (د کور کوم ځای دي خوښېږي چې لمونځ په کي وکړم؟) عتبان وايي: د کور يوې برخي ته مي اشاره وکړه، رسول الله صلى الله عليه و سلم پاڅېد، تکبير ئې ووايو، موږ په صف کي ورپسي ودرېدو او رسول الله صلى الله عليه و سلم دوه رکعته لمونځ وکړ، بيا ئې سلام وګرځاوو، عتبان وايي: بيا مو د هغه خوړو لپاره ايسار کړ چې ورته تيار کړي مو وو. عتبان

وايي: د کلي يو شمېر اوسېدونکي هم په کور کي راغوند شول، يوه ئې وويل: مالک بن الدخيشن يا ابن دخشن چېرې دئ؟) کوم يوه ئې وويل: هغه منافق دئ، له الله تعالى او د هغه له رسول سره محبت نه لرى، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (داسي مه وايه، آيا نه گورې چې هغه خاص د خداى د رضاء لپاره د لا إله إلا الله کلمه ويلې ده)؟ هغه سړي وويل: الله تعالى او رسول ئې ښه پوهيږي، خو مونږ د هغه مخ او له منافقانو سره د ده خواخوږي ته په پام سره دا خبره کوو، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (الله تعالى هغه شخص په اور (دوزخ) حرام کړى دئ چې خاص د خداى تعالى د رضاء لپاره ئې د (لا إله إلا الله) کلمه ويلې وي).

تکرار: 424، 667، 686، 838، 840، 1186، 4009، 4010، 5401، 6423، 6938

توپير: په يوه کي قَدْ أَنْكَرْتُ بَصَرِي، په بل کي وَأَنَا رَجُلٌ ضَرِيرُ الْبَصَرِ، په يوه کي وَإِنَّ السُّيُولَ تَحُولُ بَيْنِى وَبَيْنَ مَسْجِدِ قَوْمِي، په بل کي إِنَّهَا تَكُونُ الظُّلْمَةُ وَالسَّيْلُ؛ او په بل کي، وَإِنَّ الْوَادِيَ الَّذِي بَيْنِى وَبَيْنَ قَوْمِي يَسِيلُ إِذَا جَاءَتِ الأَمْطَارُ فَيَشُقُّ عَلَيَّ اجْتِيَازُهُ، په يوه کي فَصَلِّ يَا رَسُولَ الله فِي بَيْتِى مَكَانًا أَتَّخِذُهُ مُصَلًّى، په بل کي فَلَوَدِدْتُ أَنَّكَ جِئْتَ فَصَلَّيْتَ فِي بَيْتِى مَكَانًا، حَتَّى أَتَّخِذَهُ مَسْجِدًا، په يوه کي أَمَّا نَحْنُ فَوَالله لاَ نَرَى وُدَّهُ وَلاَ حَدِيثَهُ إِلاَّ إِلَى الْمُنَافِقِينَ او په بل کي فَقَالَ رَجُلٌ مِنْهُمْ ذَاكَ مُنَافِقٌ لاَ يُحِبُّ الله وَرَسُولَهُ راغلي، څو مهمي خبري په کي راغلي دي: عتبان بن مالك رضي الله

عنه خپل عذر رسول الله صلى الله عليه و سلم ته بيان کړی، دا اجازه ئې تري غوښتې چې د باران په ورځو کې په خپل کور کې لمونځ وکړي؛ او د دې لپاره چې خلك دا کار جائز وګڼي له رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې غوښتي چې د ده په کور کې لمونځ وکړي، رسول الله صلى الله عليه و سلم سبا غرمه د ده کور ته راغلی او لمونځ ئې کړی، د کلي اوسېدونکي د ده په کور کې راغونډ شوي، د يوه کس په اړه ويل شوي چې دی ولي نه ليدل کېږي، بل ويلي چې هغه منافق دئ، له الله تعالى او د هغه له رسول سره مينه نه لري، رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: هغه چا ته منافق مه وايئ چې (لا إله إلا الله) ئې په اخلاص سره ويلې وي، (الله تعالى داسې شخص په اور (دوزخ) حرام کړی دئ.

په دې اړه د ۱۲ باب: په اعمالو کې د مؤمنانو يو پر بل غوره والی، د 21 روايت شرح وګورئ.

(۳۳) باب: آيا د مشرکينو د قبرونو پر ځای د جومات جوړول روا دي؟

267- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ هِشَامٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ وَأُمَّ سَلَمَةَ ذَكَرَتَا كَنِيسَةً رَأَيْنَهَا بِالْحَبَشَةِ فِيهَا تَصَاوِيرُ، فَذَكَرَتَا لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ "إِنَّ أُولَئِكَ إِذَا كَانَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ فَمَاتَ بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا، وَصَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ، فَأُولَئِكَ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ الله يَوْمَ الْقِيَامَةِ". (بخاري:427)

267- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې: ام حبيبې او ام سلمه رضي الله عنهما په حبشه کې داسې کليسا ليدلې وه چې په هغې کې تصويرونه وو، دا خبره ئې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وکړه، هغه وفرمايل: (دوی (نصرانيان) داسې خلک وو چې کله به کوم صالح سړی تريې مړ شو نو د هغه پر قبر به ئې جومات جوړ کړ؛ او په جومات کې به ئې دا تصويرونه انځورول، دوی به د قيامت په ورځ د الله تعالى په وړاندې تر ټولو بد او شرير خلک وي).

تکرار: 434، 1341، 3873-

توپير: په يوه کې ذَكَرَتَا كَنِيسَةً رَأَيْنَهَا بِالْحَبَشَةِ فِيهَا تَصَاوِيرُ، په بل کې كَنِيسَةً رَأَتْهَا بِأَرْضِ الْحَبَشَةِ يُقَالُ لَهَا مَارِيَةُ، فَذَكَرَتْ لَهُ مَا رَأَتْ فِيهَا مِنَ الصُّوَرِ، په يوه کې إِنَّ أُولَئِكَ إِذَا كَانَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ فَمَاتَ بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا، وَصَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ، په بل کې أُولَئِكَ قَوْمٌ إِذَا مَاتَ فِيهِمُ الْعَبْدُ الصَّالِحُ- أَوِ الرَّجُلُ الصَّالِحُ- بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا، وَصَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ، په بل کې قَالَتْ لَمَّا اشْتَكَى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم ذَكَرَتْ بَعْضُ نِسَائِهِ كَنِيسَةً رَأَيْنَهَا بِأَرْضِ الْحَبَشَةِ، يُقَالُ لَهَا مَارِيَةُ، وَكَانَتْ أُمُّ سَلَمَةَ وَأُمُّ حَبِيبَةَ- رضي الله عنهما- أَتَتَا أَرْضَ الْحَبَشَةِ، فَذَكَرَتَا مِنْ حُسْنِهَا وَتَصَاوِيرَ فِيهَا، فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ "أُولَئِكَ إِذَا مَاتَ مِنْهُمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا، ثُمَّ صَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّورَةَ راغلي، مطلب ئې سره ورته دئ. لکه چې ګورئ دا روايت له ترجمة الباب سره خاص مناسبت نه لري.

268- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم الْمَدِينَةَ فَنَزَلَ أَعْلَى الْمَدِينَةِ، فِي حَيٍّ يُقَالُ لَهُمْ بَنُو عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ. فَأَقَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فِيهِمْ أَرْبَعَ عَشْرَةَ لَيْلَةً، ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَى بَنِى النَّجَّارِ فَجَاءُوا مُتَقَلِّدِى السُّيُوفِ، كَأَنِّى أَنْظُرُ إِلَى النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم عَلَى رَاحِلَتِهِ، وَأَبُو بَكْرٍ رِدْفُهُ، وَمَلأُ بَنِى النَّجَّارِ حَوْلَهُ، حَتَّى أَلْقَى بِفِنَاءِ أَبِي أَيُّوبَ، وَكَانَ يُحِبُّ أَنْ يُصَلِّيَ حَيْثُ أَدْرَكَتْهُ الصَّلاَةُ، وَيُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ، وَأَنَّهُ أَمَرَ بِبِنَاءِ الْمَسْجِدِ، فَأَرْسَلَ إِلَى مَلاءٍ مِنْ بَنِى النَّجَّارِ فَقَالَ "يَا بَنِى النَّجَّارِ ثَامِنُونِى بِحَائِطِكُمْ هَذَا". قَالُوا لاَ وَاللهِ، لاَ نَطْلُبُ ثَمَنَهُ إِلاَّ إِلَى اللهِ. فَقَالَ أَنَسٌ فَكَانَ فِيهِ مَا أَقُولُ لَكُمْ، قُبُورُ الْمُشْرِكِينَ، وَفِيهِ خَرِبٌ، وَفِيهِ نَخْلٌ، فَأَمَرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِقُبُورِ الْمُشْرِكِينَ فَنُبِشَتْ، ثُمَّ بِالْخَرِبِ فَسُوِّيَتْ، وَبِالنَّخْلِ فَقُطِعَ، فَصَفُّوا النَّخْلَ قِبْلَةَ الْمَسْجِدِ، وَجَعَلُوا عِضَادَتَيْهِ الْحِجَارَةَ، وَجَعَلُوا يَنْقُلُونَ الصَّخْرَ، وَهُمْ يَرْتَجِزُونَ، وَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم مَعَهُمْ وَهُوَ يَقُولُ "اللهمَّ لاَ خَيْرَ إِلاَّ خَيْرُ الآخِرَهْ فَاغْفِرْ لِلأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَهْ " (بخاري: 428)

268- له انس رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم چي مدينې ته تشريف راوړ، د مدينې په پورتنۍ برخه کي ئې د بنو عمرو بن عوف په مېنه کي واړول، رسول الله صلى الله عليه و سلم څوارلس شپې هملته پاته شو، بيا ئې د بني نجار قبيلې خلک راوغوښتل، هغوی توري پر اوږو راغلل، داسي مي يادېږي لکه چي

همدا اوس رسول الله صلى الله عليه و سلم وينم چې پر خپلې اوښې سپور دئ، ابوبکر رضي الله عنه ئې شا ته سپور دئ او د بني نجار سرداران ئې شا و خوا ته دي، همداسې روان وو تر هغه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د ابو ايوب رضي الله عنه د کور مخي ته واړول، رسول الله صلى الله عليه و سلم دا خوښوله چې هر چېرې د لمانځه وخت شي هملته لمونځ وکړي، (او له همدې امله به ئې) کله، کله د مېړو په پند غالي کي لمونځ کاوو. بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم د جومات جوړولو امر وکړ، د بني نجار يو شمېر مخور ئې راوغوښتل او ورته وئې فرمايل: (اې د بني نجار خلکو! دا باغ يا دا ځلور دېوالي مو راباندي وپلورئ) دوی وويل: و الله که ئې درباندي وپلورو، مور د دې بيع له خدای تعالى پرته له بل چا نه غواړو، انس رضي الله عنه وايي: په دې ځای کي هغه څه وو چې زه ئې درته وايم: د مشرکانو قبرونه وو، لوړي ژوري وې او د خرما وني وې، رسول الله صلى الله عليه و سلم امر وکړ چې د مشرکينو قبرونه دي ړنګ کړی شي، لوړي ژوري دي آواره کړی شي او د خرما وني دي ووهل شي، بيا ئې د خرما لرګي د جومات قبلې ته منظم کېښودل، د جومات دواړه اړخونه ئې له تيږو جوړ کړل، اصحابو (رضي الله عنهم) به تيږي راوړلې، سرود به ئې ويلو، رسول الله صلى الله عليه و سلم هم تيږی ورسره راوړلې او فرمايل به ئې: (خدايه! د آخرت له خير نه پرته بل خير نشته، ته انصارو او مهاجرينو ته بخښنه وکړې).

تكرار: 234، 429، 1868، 2106، 2771، 2774، 2779، 3932

توپير: دا روايت په 234 کي څېړل شوی.

(٣٤) باب: د اوښانو پندغالي کي لمونځ

269- حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ قَالَ أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَيَّانَ قَالَ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ عَنْ نَافِعٍ قَالَ رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ يُصَلِّي إِلَى بَعِيرِهِ وَقَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَفْعَلُهُ. (بخاري:430)

269- له نافع رضي الله عنه روايت دئ چي ابن عمر رضي الله عنهما مي ليدلی چي د خپل اوښ لوري ته ئې لمونځ کاوو او وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم مي ليدلی چي همداسي ئې کول.

تكرار: 507

توپير: په يوه کي رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ يُصَلِّي إِلَى بَعِيرِهِ وَقَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَفْعَلُهُ او په بل کي عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَنَّهُ كَانَ يُعَرِّضُ رَاحِلَتَهُ فَيُصَلِّي إِلَيْهَا راغلي، مطلب ئې يو دئ او هغه دا چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د خپل اوښ خوا ته او هغه ته مخامخ لمونځ کاوو، خو دا روايت له ترجمة الباب سره ارتباط نه لري ځکه ترجمة الباب د اوښانو پر ځای کي د لمانځه دئ، د اوښانو ځای هغه ځای ته وايي چي اوښان په کي چو کيږي او اکثراً ناپاك وي؛ او دا روايت وايي چي د اوښ لوري ته ئې لمونځ کاوو، کېدی شي دا د کوم سفر په دوران کي وو او د اوښ خوا ته ځای پاك وو.

له بخاري پرته نه په بل کتاب کي دا ترجمة الباب ترسترګو کېږي او نه په مواضع الابل کي د لمانځه کول. د څارويو په پنډغالي کي د لمونځ کولو په اړه وضاحت د ۱۷٤ روايت په شرحي کي وګورئ.

(۳۵) باب: تنور، اور او داسي شي ته لمونځ چي لمانځل کېږي

۲۷0- وَقَالَ الزُّهْرِيُّ أَخْبَرَنِي أَنَسٌ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "عُرِضَتْ عَلَيَّ النَّارُ وَأَنَا أُصَلِّي". (بخاري:431)

0□□- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (په داسي حال کي چي په لمانځه ولاړ وم، اور (دوزخ) راوښودل شو).

دا روايت د (۱۷) باب: د ښځو نا شکري د ۲۷ روايت په شرحي کي څېړل شوی. خو دلته څو خبري بايد په پام کي ولرو: روايت له ترجمة الباب سره اړخ نه لګوي؛ او دا نه تري معلومېږي چي د اور او هغو شيانو لوري ته لمونځ کول جائز دي چي لمانځل کېږي، پيغمبر عليه السلام دلته د دوزخ اور په مجسمه توګه نه دئ ليدلی، بلکه په غير مجسمه توګه وربښودل شوی؛ غالب احتمال دا دئ چي داسي آيتونه ئې لوستلي چي د دوزخ اور په کي انځور شوی او همدا د ده ذهن کي راغلي، غوره خبره دا ده چي د داسي شيانو لوري ته له لمانځه ډډه وشي چي خلك ئې لمانځي. ګڼ شمېر روايات همدا خبره کوي، رسول الله صلى الله عليه و سلم په کعبه کي تر هغه لمونځ ونه کړ چي بتان، مجسمې او

هغه تصويرونه ترې وايستل شول چې مشركينو لمانځل.

(٣٦) باب: په هديره كي د لمانځه كراهيت

271- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ الله قَالَ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "اجْعَلُوا فِي بُيُوتِكُمْ مِنْ صَلاَتِكُمْ، وَلاَ تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا " (بخاري:432)

271- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (ځيني لمونځونه مو په كورونو كي كوئ او قبرونه مه ترې جوړوئ).

تكرار: 1187

توپير: دواړه د الفاظو او مفهوم له پلوه سره ورته دي، مطلب ئې دا دئ چې د خپلو لمونځونو ځيني برخي په كور كي كوئ، داسي نه چې په كورونو كي د قبرونو په څېر په خوب ويده وئ او د تلاوت غږ ترې اوربدل كيږي. سنت دا دئ چې نوافل او سنت لمونځونه په كور كي وكړی شي.

دا روايت هم له ترجمة الباب سره اړخ نه لګوي، د روايت نه اصلي معنى دا ده چې په هديرو كي لمونځ مه كوئ او نه ضمني معنى، كه له دې روايت دا معنى واخيستل شي چې خپل مړي په كورونو كي مه دفن كوئ لا ئې احتمال شته، خو دا چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د عائشې رضي الله عنها په كور كي دفن شوى نو دا معنى هم نه شو ترې اخيستلى، خو په هديره كي د لمانځه كراهيت له دې روايت نشي ثابتېدى، د هغه لپاره بايد اړوند روايت وړاندي شي.

(٣٧) باب: د انبياءو له قبرونو جومات جوړول

272- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ أَنَّ عَائِشَةَ وَعَبْدَ اللهِ بْنَ عَبَّاسٍ قَالاَ لَمَّا نَزَلَ بِرَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم طَفِقَ يَطْرَحُ خَمِيصَةً لَهُ عَلَى وَجْهِهِ، فَإِذَا اغْتَمَّ بِهَا كَشَفَهَا عَنْ وَجْهِهِ، فَقَالَ وَهْوَ كَذَلِكَ "لَعْنَةُ اللهِ عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ". يُحَذِّرُ مَا صَنَعُوا. (بخاري:435)

272- له عائشې او عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: کله چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د وفات بيماري لاحقه شوه نو خپل څادر ئې پر خپل مخ وغوړاوو او کله چي به ئې په هغه کي سا تنګه شوه له مخ به ئې ايسته کړ؛ او په همدې حالت کي ئې وفرمايل: (پر يهودانو او نصرانيانو دي د خداى تعالى لعنت وي چي د خپلو نبيانو له قبرونو ئې جوماتونه جوړ کړل). له هغه څه ئې خلك وېرول چي هغوى وکړل. يعني خپل امت ئې له هغه څه منع کاوو چي يهودانو او نصرانيانو وکړل.

تکرار: 1330، 1390، 3453، 4441، 4443، 5815، 3454، 4444، 5816

توپير: په يوه کي لَمَّا نَزَلَ بِرَسُولِ الله- صلى الله عليه وسلم، په بل کي فِي مَرَضِهِ الَّذِي لَمْ يَقُمْ مِنْهُ او په بل کي قَالَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ، په يوه کي طَفِقَ يَطْرَحُ خَمِيصَةً لَهُ عَلَى وَجْهِهِ، فَإِذَا اغْتَمَّ بِهَا كَشَفَهَا عَنْ وَجْهِهِ راغلي او په نورو کي نه؛ په يوه کي "لَعْنَةُ الله عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى او

په بل کي لَعَنَ اللهُ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى، په يوه کي. يُحَذِّرُ مَا صَنَعُوا او په بل کي وَلَوْلاَ ذَلِكَ لأَبْرَزُوا قَبْرَهُ غَيْرَ أَنِّي أَخْشَى أَنْ يُتَّخَذَ مَسْجِدًا راغلي، مطلب ئې يو دئ؛ او هغه دا چې رسول الله صلى الله عليه و سلم له رحلت لږ مخکې فرمايلي: پر يهودانو او نصرانيانو دي د خداى لعنت وي چې د خپلو نبيانو له قبرونو ئې جوماتونه جوړ کړل. غوښتل ئې په دې سره خپل امت له دې منع کړي چې د ده پر قبر جومات جوړ نه کړي.

دې ته مو بايد پام وي چې په سر کي د پيغمبر عليه السلام قبر له جومات بهر او د عائشې رضي الله عنها په کور کي وو خو جاهلو امراءو د جومات او کور تر منځ دېوال ړنګ کړ او په دې سره قبر د جومات منځ ته راغى او دا هغه څه وو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ترې ممانعت کولو، په کار دا وه چې کور او قبر له جومات بهر پاته شوي وى.

ښايي د عائشې رضي الله عنها په کور کي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د دفن کولو يوه وجه هم دا وه چې څوك د مخکينيو جاهلو او مشرکو قومونو په څېر د ده د قبر لمانځل پيل نه کړي. د تاريخ په اوږدو کي دا کار له ډېرو انبياءو او صالح شخصيتونو سره شوى، نه گورئ چې دا نن د نړۍ په څومره ځايونو کي د قبرونو پر سر د سترو سترو زيارتونو شاهد يو، داسي زيارتونه چې د امپراطورانو قصرونه ورسره سيالي نشي کولى، ټگمارانو له دغو زيارتونو د کمعقلو خلکو د غولولو وسيله جوړه کړې، د دوى په نامه شکرانې او نذرانې تر لاسه کوي،

هغوی ته کرامات ثابتوي، د دوی د قبرونو درشل د حاجتونو د پوره کېدو ځای ګڼي، د دوی پر قبرونو طواف مراد ته د رسېدو سبب بولي، دا کار اکثراً هغه خلك کوي چې پلرونو ئې د دغو صالح شخصیتونو مقابله کړې وه، له خپل ملك نه ئې شړلي ول، د دوی په ضد ئې د ظالمانو ملګرتیا کړې وه، دوی ئې په شهادت رسولي ول، خو له شهادت وروسته ئې د دوی پر قبرونو زیارتونه جوړ کړي او له هغوی ئې ځان ته دام او دوکان جوړ کړی. د شیعه وو پلرونو علي او حسین رضي الله عنهما شهیدان کړل او د یزید ملګرتیا ئې وکړه خو دا دئ نن ایران او عراق له هغو سترو سترو زیارتونو ډك دي چې شیعه ګانو د دوی په نامه جوړ کړي، په کربلا کي د رسول الله صلی الله علیه و سلم د لمسیانو ویني د دوی په لاس توی شوې خو نن کربلا او پېښه ئې لمانځي، خاوره ئې سپېڅلې ګڼي او د سجدې لپاره ئې کاروي، د عاشورا په ورځ ځانونه په زنځیرونو وهي، همغه کار کوي چې مسیحیانو له عیسی علیه السلام سره وکړ. هغوی د مسیح علیه السلام صلیب پر غاړه ګرځوي او دوی د کربلا خاوره په جیب کي!! مسیحیانو د عیسی او مریم علیهما السلام تصویرونه او مجسمې جوړې کړې او شیعه وو د علي رضي الله عنه تصویرونه، مسیحیانو او یهودانو خپل معابد په سرو زرو سینګار کړل او شیعه ګانو د ائمه وو د زیارتونو دروازې، زنځیرونه، قلف او کیلي له سرو زرو جوړ کړل، خو له هغو سرو زرو چې له غولېدلو بې وزلو مسکینانو، فقیرانو، کونډو او یتیمانو تر لاسه شوي، په دې طمع ئې د زیارت مجاور ته ورکړي چې حاجتونه به

ئې ترسره شي، مشکلات به ئې حل شي او د قبر خاوند به ئې له ستونزو او کړاوونو وژغوري.

(۳۸) باب: په جومات کې د بنځې ویده کېدل

273- حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ وَلِيدَةً كَانَتْ سَوْدَاءَ لِحَيٍّ مِنَ الْعَرَبِ، فَأَعْتَقُوهَا، فَكَانَتْ مَعَهُمْ قَالَتْ فَخَرَجَتْ صَبِيَّةٌ لَهُمْ عَلَيْهَا وِشَاحٌ أَحْمَرُ مِنْ سُيُورٍ قَالَتْ فَوَضَعَتْهُ أَوْ وَقَعَ مِنْهَا، فَمَرَّتْ بِهِ حُدَيَّاةٌ وَهْوَ مُلْقًى، فَحَسِبَتْهُ لَحْمًا فَخَطَفَتْهُ قَالَتْ فَالْتَمَسُوهُ فَلَمْ يَجِدُوهُ قَالَتْ فَاتَّهَمُونِي بِهِ قَالَتْ فَطَفِقُوا يُفَتِّشُونَ حَتَّى فَتَّشُوا قُبُلَهَا قَالَتْ وَاللهِ إِنِّي لَقَائِمَةٌ مَعَهُمْ، إِذْ مَرَّتِ الْحُدَيَّاةُ فَأَلْقَتْهُ قَالَتْ فَوَقَعَ بَيْنَهُمْ قَالَتْ فَقُلْتُ هَذَا الَّذِي اتَّهَمْتُمُونِي بِهِ- زَعَمْتُمْ- وَأَنَا مِنْهُ بَرِيئَةٌ، وَهُوَ ذَا هُوَ قَالَتْ فَجَاءَتْ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه و سلم فَأَسْلَمَتْ. قَالَتْ عَائِشَةُ فَكَانَ لَهَا خِبَاءٌ فِي الْمَسْجِدِ أَوْ حِفْشٌ قَالَتْ فَكَانَتْ تَأْتِينِي فَتَحَدَّثُ عِنْدِي قَالَتْ فَلاَ تَجْلِسُ عِنْدِي مَجْلِسًا إِلاَّ قَالَتْ وَيَوْمَ الْوِشَاحِ مِنْ أَعَاجِيبِ رَبِّنَا أَلاَ إِنَّهُ مِنْ بَلْدَةِ الْكُفْرِ أَنْجَانِي قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ لَهَا مَا شَأْنُكِ لاَ تَقْعُدِينَ مَعِي مَقْعَدًا إِلاَّ قُلْتِ هَذَا قَالَتْ فَحَدَّثَتْنِي بِهَذَا الْحَدِيثِ. (بخاري:**439**)

273- له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې د عربو یوې قبیلې یوه توره وینځه درلوده، هغه ئې آزاده کړه او له دوی سره اوسېدله، هغه وایي: یوه ورځ د دې کورنۍ یوه وړه نجلۍ په داسي حال کي له کوره ووتله چې پر غاړه ئې داسي سور رنګی د څرمني دستمال وو چې زیورات هم

ورباندي ګنډل شوي وو، وايي: دې نجلۍ هغه دستمال کښېښود يا تري ولوېد، همداسي پر زمکه پروت وو چې يو ټپوس پرې تېر شو، د غوښي ګمان ئې پرې وکړ او وئې تښتاوو، پسي وګرځېدل او هغه ئې پيدا نه کړ، وايي: زه ئې پرې تورنه کړم؛ او زما پلټنه ئې پيل کړه، داسي ئې ولټولم چې زما د پښو منځ ئې هم تلاشي کړ، وايي: په خدای قسم چې زه لا له دوی سره ولاړه وم چې همغه ټپوس راغی او هغه (دستمال) ئې راوغورځاوو، ښځه زياتوي: دستمال د دوی مخي ته پرېوت، نو ما وويل: دا هغه څه دي چې زه مو پرې تورنولم، په داسي حال کي چې زه پاکه او بې ګناه وم، دا دئ اوس پيدا شو، بيا دغه ښځه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغله او مسلمانه شوه، عائشه رضي الله عنها وايي: د دې ښځي لپاره په جومات کي يوه خيمه يا د سر پټولو ځای وو، کله کله به ما ته راتله او خبري به ئې راسره کولې، عائشه رضي الله عنها وايي: هر وخت به چې ما ته راغله دا شعر به ئې وايو:

د ګانو د ورکېدو ورځ زمونږ د رب له عجايبو وه
خو پام چې هغې د کفر له ښار وژغورلم

عائشه رضي الله عنها وايي: ما هغې ته وويل: دا څه علت دئ چې په هر مجلس کي دا شعر راته وايي؟ عائشه رضي الله عنها وايي، نو بيا هغې دا کيسه راته وکړه.

تکرار: 3835

توپير: په يوه کي أَنَّ وَلِيدَةً كَانَتْ سَوْدَاءَ لِحَيٍّ مِنَ الْعَرَبِ، فَأَعْتَقُوهَا، فَكَانَتْ مَعَهُمْ، په بل کي أَسْلَمَتِ امْرَأَةٌ سَوْدَاءُ

لِبَعْضِ الْعَرَبِ وَكَانَ لَهَا حِفْشٌ فِي الْمَسْجِدِ، په يوه کي من اعاجيب ربنا، په بل کي مِنْ تَعَاجِيبِ ربنا راغلي، په يوه کي مَا شَأْنُكِ لاَ تَقْعُدِينَ مَعِى مَقْعَدًا إِلاَّ قُلْتِ هَذَا، په بل کي وَمَا يَوْمُ الْوِشَاحِ، په يوه کي فَخَرَجَتْ صَبِيَّةٌ لَهُمْ عَلَيْهَا وِشَاحٌ أَحْمَرُ مِنْ سُيُورٍ، په بل کي خَرَجَتْ جُوَيْرِيَةٌ لِبَعْضِ أَهْلِي وَعَلَيْهَا وِشَاحٌ مِنْ أَدَمٍ فَسَقَطَ مِنْهَا فَانْحَطَّتْ عَلَيْهِ الْحُدَيَّا وَهْىَ تَحْسِبُهُ لَحْمًا، په يوه کي فَعَذَّبُونِى، حَتَّى بَلَغَ مِنْ أَمْرِى أَنَّهُمْ طَلَبُوا فِي قُبُلِي، فَبَيْنَا هُمْ حَوْلِي وَأَنَا فِي كَرْبِى إِذْ أَقْبَلَتِ الْحُدَيَّا حَتَّى وَازَتْ بِرُءُوسِنَا ثُمَّ أَلْقَتْهُ راغلي. مطلب ئې يو دئ. دا روايت د دې لپاره دلته راوړل شوی چې وښيي يوه آزاده شوې تور پوسته مېرمن په جومات کي اوسېده.

(39) باب: په جومات کي د نارينه ويده کېدل

274- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ جَاءَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بَيْتَ فَاطِمَةَ، فَلَمْ يَجِدْ عَلِيًّا فِي الْبَيْتِ فَقَالَ "أَيْنَ ابْنُ عَمِّكِ". قَالَتْ كَانَ بَيْنِى وَبَيْنَهُ شَىْءٌ، فَغَاضَبَنِى فَخَرَجَ فَلَمْ يَقِلْ عِنْدِى. فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم لاِءِنْسَانٍ "انْظُرْ أَيْنَ هُوَ". فَجَاءَ فَقَالَ يَا رَسُولَ الله، هُوَ فِي الْمَسْجِدِ رَاقِدٌ، فَجَاءَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَهْوَ مُضْطَجِعٌ، قَدْ سَقَطَ رِدَاؤُهُ عَنْ شِقِّهِ، وَأَصَابَهُ تُرَابٌ، فَجَعَلَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَمسح عَنْهُ وَيَقُولُ "قُمْ أَبَا تُرَابٍ، قُمْ أَبَا تُرَابٍ". (بخاري:**441**)

274- له سهل بن سعد رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د فاطمې رضي الله عنها کور

ته ورغی، علي رضي الله عنه ئې په کور کي ونه موند، نو وئې فرمايل: (د تره زوی دي چېري دئ؟.) فاطمې رضي الله عنها وويل: زما او هغه تر منځ څه خبره لاندي باندي شوه، راته په غوصه شو او له کوره ووت، غرمه مهال هم دلته ويده نه شو. رسول الله صلى الله عليه و سلم يوه کس ته وويل: (وګوره چي هغه چېري دئ)، هغه ببرته راغی او وئې ويل: يا رسول الله! هغه په جومات کي ويده دئ، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ورغی وئې ليد چي هغه په يوه اړخ پروت دئ او څادر ئې له اړخه لوېدلی؛ او بدن ئې په خاورو سپېره شوی، رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کي چي خاوري ئې ترې پاکولې ويل ئې: (پاڅه اې ابو ترابه ! پاڅه اې ابو ترابه!).

تکرار: 3703، 6204، 6280

توپير: په يوه کي دَخَلَ عَلِيٌّ عَلَى فَاطِمَةَ ثُمَّ خَرَجَ فَاضْطَجَعَ فِي الْمَسْجِدِ، په بل کي فَقَالَتْ كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ شَيْءٌ، فَغَاضَبَنِي فَخَرَجَ فَلَمْ يَقِلْ عِنْدِي او په بل کي غَاضَبَ يَوْمًا فَاطِمَةَ فَخَرَجَ فَاضْطَجَعَ إِلَى الْجِدَارِ إِلَى الْمَسْجِدِ، په يوه کي فَوَجَدَ رِدَاءَهُ قَدْ سَقَطَ عَنْ ظَهْرِهِ، وَخَلَصَ التُّرَابُ إِلَى ظَهْرِهِ، فَجَعَلَ يَمْسَحُ التُّرَابَ عَنْ ظَهْرِهِ فَيَقُولُ "اجْلِسْ يَا أَبَا تُرَابٍ". مَرَّتَيْنِ، په بل کي قَدْ سَقَطَ رِدَاؤُهُ عَنْ شِقِّهِ، فَأَصَابَهُ تُرَابٌ قُمْ أَبَا تُرَابٍ، قُمْ أَبَا تُرَابٍ، په يوه کي دا هم راغلي چي علي رضي الله عنه ته تر ټولو غوره نوم همدا ابوتراب وو، چي هغه ورځ رسول الله صلى الله عليه و سلم پرې نومولی وو مَا كَانَ لِعَلِيٍّ اسْمٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ أَبِي تُرَابٍ، وَإِنْ كَانَ لَيَفْرَحُ بِهِ

إِذَا دُعِيَ بِهَا.

(٤٠) باب: جومات ته ننوتل او دوه ركعته لمونځ کول

275- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبْدِ الله بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَمْرِو بْنِ سُلَيْمٍ الزُّرَقِيِّ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ السَّلَمِيِّ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ". (بخاري:**444**)

275- له ابو قتاده سُلمي رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (له تاسو چي څوک جومات ته داخل شي بايد له کښېناستلو مخکي دوه رکعته لمونځ وکړي).

تکرار: 1163

توپير: په يوه کي فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ او په بل کي فَلاَ يَجْلِسْ حَتَّى يُصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ راغلي.

(٤١) د جومات جوړول

276- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ الله قَالَ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ قَالَ حَدَّثَنَا نَافِعٌ أَنَّ عَبْدَ الله أَخْبَرَهُ أَنَّ الْمَسْجِدَ كَانَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم مَبْنِيًّا بِاللَّبِنِ، وَسَقْفُهُ الْجَرِيدُ، وَعُمُدُهُ خَشَبُ النَّخْلِ، فَلَمْ يَزِدْ فِيهِ أَبُو بَكْرٍ شَيْئًا، وَزَادَ فِيهِ عُمَرُ وَبَنَاهُ عَلَى بُنْيَانِهِ فِي عَهْدِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم بِاللَّبِنِ وَالْجَرِيدِ، وَأَعَادَ عُمُدَهُ خَشَبًا، ثُمَّ غَيَّرَهُ

عُثْمَانُ، فَزَادَ فِيهِ زِيَادَةً كَثِيرَةً، وَبَنَى جِدَارَهُ بِالْحِجَارَةِ الْمَنْقُوشَةِ وَالْقَصَّةِ، وَجَعَلَ عُمُدَهُ مِنْ حِجَارَةٍ مَنْقُوشَةٍ، وَسَقَفَهُ بِالسَّاجِ.
(بخاري:446)

276- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وخت کي جومات له خښتو جوړ شوی وو، او چت ئې د خرما له څانګو وو او ستنې ئې د خرما د ونې وې، ابوبکر رضي الله عنه هیڅ څه په کي زیات نکړل، خو عمر رضي الله عنه څه زیاتونه پکي وکړه، د رسول الله د وخت په څېر ئې له خښتو او د خرما له څانګو جوړ کړ، او ستنې ئې د لرګي ورکړې، بیا عثمان رضي الله عنه بدل کړ، زیات ئې پراخ کړ، دېوال ئې له نقش لرونکو تیږو او ګچ او ستنې ئې هم له نقش لرونکو تیږو او چت ئې د نښتر (شمشاد) ونې له لرګیو جوړ کړ.

(٤٢) باب: د جومات په جوړولو کي مرسته

277- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخدري رضي الله عنه: أَنَّهُ كَان يُحَدِّث يَوْماً حَتَّى أَتَى ذِكْرُ بِنَاءِ الْمَسْجِدِ، فَقَالَ: كُنَّا نَحْمِلُ لَبِنَةً لَبِنَةً، وَعَمَّارٌ لَبِنَتَيْنِ لَبِنَتَيْنِ، فَرَآهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَيَنْفُضُ التُّرَابَ عَنْهُ، وَيَقُولُ: "وَيْحَ عَمَّارٍ تَقْتُلُهُ الْفِئَةُ الْبَاغِيَةُ يَدْعُوهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ وَيَدْعُونَهُ إِلَى النَّارِ"قَالَ: يَقُولُ عَمَّارٌ: أَعُوذُ بِالله مِنَ الْفِتَنِ.
(بخاري:447)

277- له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي هغه يوه ورځ خبري کولې، تر دې چي د نبوي جومات د جوړېدو

د يادوني وار راغی، نو وئې ويل: مورِ به يوه، يوه خښته راوړله او عمار رضي الله عنه به دوه، دوه خښتې راوړلې، رسول الله صلى الله عليه و سلم وليد، نو په داسي حال کي چي خاوري ئې تريِ څنډلې وئې فرمايل: (افسوس د عمار په حال! يوه باغي ډله به ئې ووژني، دی به هغوی د جنت لوري ته رابلي او دوی به ئې دوزخ ته بلي). ابو سعيد وايي: عمار رضي الله عنه به ويل: له فتنو خدای تعالی ته پناه وړم.

تکرار: 2812

توپير:. په يوه کي فَانْطَلَقْنَا فَإِذَا هُوَ فِي حَائِطٍ يُصْلِحُهُ، په بل کي فَأَتَيْنَاهُ وَهُوَ وَأَخُوهُ فِي حَائِطٍ لَهُمَا يَسْقِيَانِهِ، په يوه کي فَأَخَذَ رِدَاءَهُ فَاحْتَبَى، ثُمَّ أَنْشَأَ يُحَدِّثُنَا حَتَّى أَتَى ذِكْرُ بِنَاءِ الْمَسْجِدِ، په بل کي فَلَمَّا رَآنَا جَاءَ فَاحْتَبَى وَجَلَسَ، په يوه کي فَرَآهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَيَنْفُضُ التُّرَابَ عَنْهُ، په بل کي فَمَرَّ بِهِ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم وَمَسَحَ عَنْ رَأْسِهِ الْغُبَارَ، په يوه کي عَمَّارٌ يَدْعُوهُمْ إِلَى الله وَيَدْعُونَهُ إِلَى النَّارِ، په بل کي يَدْعُوهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ، وَيَدْعُونَهُ إِلَى النَّارِ راغلي.

دا روايت د سند له مخي تر ټولو زيات غريب دئ، له صحاح سته نه يوازي بخاري او النسائي راوړی، د احاديثو په ځينو نورو کتابونو کي هم راغلی، په صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو کي يو يو راوي لري، د متن په اړه ئې څو خبري په پام کي ولرئ:

قرآن په ډير قاطع، او واضح توګه وايي چي هيڅوك نه پوهيږي؛ کله او چيرې به مري:

... وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ۖ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ

تَمُوتُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ 34 لقمان

او هيڅوك نه پوهيږي چې سبا به څه ترلاسه کړي او نه پوهيږي چې په کومې زمکې کې به مري، يقيناً چې الله ښه باخبره پوه دئ.

يعني الله تعالى دا وينا د هغه علم او پوهې له مخې کوي چې د انسان په اړه ئې لري، دا د عليم او خبير خداى وينا ده چې هيڅوك نه د سبا ورځې له پېښو خبريږي او نه دا چې کله، څنګه او چېرې به مري. که څوك د خپل ځان په اړه خبر نه وي نو د بل چا د مړينې د ځاى، وخت او څرنګوالي په اړه پوهېدا خو لازيات ورته محال او ناممکنه ده، څوك چې په دې آيت ايمان لري هيڅکله به داسې خبره په خوله رانه وړي چې کوم انسان ته د بل د مړينې د وخت، ځاى او څرنګوالي په اړه د پوهې نسبت وکړي، مور د دغه آيت له مخې وايو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپل رحلت له نېټې خبر نه وو، صحابه نه پوهېدل چې پيغمبر عليه السلام به کله رحلت کوي، د رحلت په ورځ ئې صحت نسبتاً ښه شو، د لمانځه په مهال ئې له کړکۍ نه جومات ته وکتل او تبسم ئې وکړ، ټول صحابه خوشحاله شول چې هغه روغ شوى، ابوبکر رضي الله عنه د همدې لپاره هغه شپه له مدينې بهر د خپلې يوې مېرمنې کره ولاړ، ناڅاپي ئې د هغه د رحلت خبر واورېد او ببرته په تلوار مدينې ته راستون شو، عمر رضي الله عنه جلالي شوى وو او ويل ئې چې په خداى قسم محمد عليه السلام نه دئ وفات شوى،... که د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما په څېر جليل القدره صحابه له دې غيبه خبر نه ول بل څوك به څنګه پرې پوهيږي؟!!

په قرآن د ايمان غوښتنه دا ده چې ټول هغه روايات يوې خوا ته لري کړدو چې له دې پرېکنده او صريح آيت سره تعارض لري. مخصوصاً هغه چې ډېر غريب وي.

که د عمار رضي الله عنه په اړه دا خبره شوې وئ نو ډېر صحابه به ترې خبر شوي وو او هيڅا به د هغې ډلې په خلاف په جنګ کي د برخي اخيستو جرأت نه وو کړی چې عمار رضي الله عنه ئې يو جنګيالی وو.

د معاويه او علي رضي الله عنهما د پلويانو تر منځ د نښتو په اړه قضاوت بايد د داسي رواياتو له مخي ونه شي، داسي روايات ډېر جوړ شوي او په ډېره آسانۍ د يوه او بل په ګټه توجيه کېدی شي، د همدغه پورتني روايت په اړه راغلي چې هري ډلې بله د عمار رضي الله عنه په قتل تورنوله، يوې ويل چې اصلي قاتلان ئې هغه دي چې عمار رضي الله عنه ئې جنګ ته راوستی وو او د وژلو باعث ئې شول او بلې ډلې ويل چې قاتل ئې مقابل لوری دئ!! په دې اړه بايد د نورو حقائقو له مخي دا پرېکړه وشي چې کوم لوری په حقه وو. په دې کي هيڅ شك نشته چې علي رضي الله عنه د مسلمانانو شرعي امير وو، د مسلمانانو د شرعي بيعت له مخي امير ټاکل شوی وو، د عثمان رضي الله عنه د قاتلانو عدم محاکمه د دې مجوز نه وو چې څوك د ده په ضد وسله واخلي او مسلحانه پاڅون وکړي، په دې کي هم هيڅ شك نشته چې د دوی تر منځ نښته د عبدالله بن سبا او د هغه د پلويانو د شرارتونو نتيجه وه، هغوی عثمان رضي الله عنه شهيد کړ، علي رضي الله عنه ئې دې ته اړ کړ چې د خلافت مرکز له مدينې کوفې ته انتقال کړي، چې دا يوه

ستره دردوونکې پېښه وه، دوی باعث شول چې علي رضي الله عنه د قاتلانو له محاکمې ډډه وکړي، دوی د هغې جګړې اور بل کړ، همدغو علي رضي الله عنه او بیا حسین رضي الله عنه شهیدان کړل او همدغو د شیعه وو د رافضي او شرکي مذهب بنسټ کېښود.

یادونه: عمار رضي الله عنه وروسته د علي رضي الله عنه د خلافت په دوران کي د علي رضي الله عنه په پلوی کي په شهادت ورسېد.

یوه محترم ورور د خپلو ملاحظاتو په ترڅ کي دلته لیکلي:... که داسي وي نو د عشرة مبشرة بالجنة په اړه احادیث هم تر پوښتنې لاندي راځي... په دې کي څه اشکال دئ که الله تعالی خپل رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د دا ډول ځینو امورو خبر ورکړی وي؟ د دوی په ځواب کي عرض کوو: رسول الله صلی الله علیه و سلم د عشره مبشره په اړه د دوی په ژوند کي، د دوی عمل، جهاد، تقوی، ثبات، اخلاص او نورو صفاتو ته په پام سره قضاوت کړی او هغوی ته ئې د جنت زېری ورکړی، دا زېری د چا د مرګ په اړه له وړاندویني سره ژور توپیر لري، رسول الله صلی الله علیه و سلم د پیغمبرانه فراست په رڼا کي خپل یاران پېژندل، په قرآن کي دا مومو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي: که الله تعالی غوښتلی نو تا به منافقین د دوی له څېرو پېژندلي وو، خو د دوی له وینا او عملونو ئې پېژندلی شې، که رسول الله صلی الله علیه و سلم منافقین د دوی له وینا او کړنو پېژندل نو مخلص او د جنت مستحق مؤمنان به ئې څنګه نه پېژندل؟! زه او ته هم له خپل ناقص

فراست او بصيرت سره سره د خپلي مبارزې د ډېرو همسنګرانو په اړه دا ويلی شو چې إن شاء الله هغوی له خپل رب سره په خپلو ژمنو کې صادق ول، الله تعالی به د دوی شهادتونه قبول کړي وي او د جنت لوړي درجې به ئې ورپه برخه کړې وي.

دې ته مو هم پام وي چې د روايت دا برخه: باغي ډله به عمار دوزخ ته بلي او دی به ئې جنت ته بلي، د هغو خلکو په اړه نشو ګڼلی چې په مقابل لوري کې جنګېدل، نه هغوی ته دوزخيان ويلی شو نه ئې د دوزخ لوري ته بلونکي.

(٤٣) باب: څوک چې جومات جوړ کړي

278- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنِي عَمْرٌو أَنَّ بُكَيْرًا حَدَّثَهُ أَنَّ عَاصِمَ بْنَ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ عُبَيْدَ اللهِ الْخَوْلاَنِيَّ أَنَّهُ سَمِعَ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ يَقُولُ عِنْدَ قَوْلِ النَّاسِ فِيهِ حِينَ بَنَى مَسْجِدَ الرَّسُولِ صلى الله عليه و سلم إِنَّكُمْ أَكْثَرْتُمْ، وَإِنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "مَنْ بَنَى مَسْجِدًا- قَالَ بُكَيْرٌ حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ- يَبْتَغِي بِهِ وَجْهَ اللهِ، بَنَى اللهُ لَهُ مِثْلَهُ فِي الْجَنَّةِ".

(بخاري: 450)

278- له عثمان بن عفان رضي الله عنه روايت دئ چې کله خلکو د رسول الله صلى الله عليه و سلم د جومات د جوړولو او پراختيا له امله د ده په اړه څه ويل نو ده وويل: تاسو زياتی وکړ، ما له رسول الله صلى الله عليه و سلم اورېدلي چې فرمايل ئې: (څوک چې جومات جوړ کړي، بکير وايي: ګمان کوم دا ئې هم وويل: چې په دې سره د الله تعالى رضاء

لټوي، نو الله به دې ته ورته کور په جنت کي ورته جوړ کړي).

(٤٤) باب: جومات ته د ننوتلو په وخت د نېزو سرونه خوندي کول

279- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ قُلْتُ لِعَمْرٍو أَسَمِعْتَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ الله يَقُولُ مَرَّ رَجُلٌ فِي الْمَسْجِدِ وَمَعَهُ سِهَامٌ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "أَمْسِكْ بِنِصَالِهَا". (بخاري:451)

279- له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: يو سړی په داسي حال کي جومات ته داخل شو چې غشي ورسره وو، رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: (سرونه ئې ونيسه، (خوندي ئې کړه).

تکرار: 7073، 7074

توپير: دوه ئې سره ورته دي په دريم کي ئې دا هم راغلي أَنَّ رَجُلاً مَرَّ فِي الْمَسْجِدِ بِأَسْهُمٍ قَدْ أَبْدَى نُصُولَهَا، فَأُمِرَ أَنْ يَأْخُذَ بِنُصُولِهَا، لاَ يَخْدِشُ مُسْلِمًا، مطلب ئې دا دئ چې جومات ته د ننوتلو په وخت کي بايد داسي وسله له چا سره نه وي چې بل ته ئې د تاوان رسولو احتمال وي، د غشي او نېزې سرونه بايد لري کړی شي، توري بايد په تيکو کي وي، له دې روايت دا حکم استنباطولی شو چې جومات ته د ننوتلو پر مهال بايد لږ تر لږه له ټوپك نه برچه لري کړی شي، په ټوپك او تمانچې کي بايد مرمۍ نه وي، البته په ناامنو سيمو کي او هلته چې د دوست او دښمن تفکيك ګران

وي کېدی شي جومات ته د وسلو په راوړلو بنديز ولګول شي.

(٤٥) باب: په جومات کي تېرېدل

280- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو بُرْدَةَ بْنُ عَبْدِ اللهِ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "مَنْ مَرَّ فِي شَيْءٍ مِنْ مَسَاجِدِنَا أَوْ أَسْوَاقِنَا بِنَبْلٍ، فَلْيَأْخُذْ عَلَى نِصَالِهَا، لاَ يَعْقِرْ بِكَفِّهِ مُسْلِمًا". (بخاري:452)

280- له ابو موسى اشعري رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (څوک چي له غشو سره زمونږ له جوماتونو او يا بازارونو تېرېږي بايد څوکي يا سرونه ئې په لاس کي ونيسي، (ترې وئې باسي)، ترڅو کوم مسلمان په خپل لاس خوږ يا ټپي نکړي).

تکرار: 7075

توپير: په يوه کي مَنْ مَرَّ فِي شَيْءٍ مِنْ مَسَاجِدِنَا أَوْ أَسْوَاقِنَا بِنَبْلٍ، په بل کي إِذَا مَرَّ أَحَدُكُمْ فِي مَسْجِدِنَا أَوْ فِي سُوقِنَا وَمَعَهُ نَبْلٌ، په يوه کي فَلْيَأْخُذْ عَلَى نِصَالِهَا، لاَ يَعْقِرْ بِكَفِّهِ مُسْلِمًا او په بل کي فَلْيُمْسِكْ عَلَى نِصَالِهَا- أَوْ قَالَ فَلْيَقْبِضْ بِكَفِّهِ- أَنْ يُصِيبَ أَحَدًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ مِنْهَا شَيْءٌ راغلي، مطلب ئې يو دئ، مخکي څېړل شوی.

(٤٦) باب: په جومات کي شعر ويل

281- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ الْحَكَمُ بْنُ نَافِعٍ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَنَّهُ سَمِعَ

حَسَّانَ بْنَ ثَابِتٍ الأَنْصَارِيَّ يَسْتَشْهِدُ أَبَا هُرَيْرَةَ أَنْشُدُكَ الله هَلْ سَمِعْتَ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ "يَا حَسَّانُ، أَجِبْ عَنْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم ، اللهمَّ أَيِّدْهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ". قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ نَعَمْ. (بخاري:453)

281- له حسان بن ثابت انصاري رضي الله عنه روايت دئ چي هغه له ابوهريره رضي الله عنه ګواهي وغوښتله او ورته وئې ويل: د خداى روى دراچوم چي آيا له رسول الله صلى الله عليه و سلم دي اوربدلي چي فرمايل ئې: (اې حسانه! د رسول الله صلى الله عليه و سلم له پلوه ځواب ووايه (كفارو ته د دوى د هجوي ځواب وركړه) خدايه! په جبرئيل (عليه السلام) سره ئې مرسته وكړه (د حسان بن ثابت)؟ ابو هريرة رضي الله عنه وويل: هو.

تكرار: 3212، 6152

توپير: په يوه كي أَنَّهُ سَمِعَ حَسَّانَ بْنَ ثَابِتٍ الأَنْصَارِيَّ يَسْتَشْهِدُ أَبَا هُرَيْرَةَ أَنْشُدُكَ الله، په بل كي مَرَّ عُمَرُ فِي الْمَسْجِدِ وَحَسَّانُ يُنْشِدُ، فَقَالَ كُنْتُ أُنْشِدُ فِيهِ، وَفِيهِ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنْكَ، ثُمَّ الْتَفَتَ إِلَى أَبِي هُرَيْرَةَ، فَقَالَ أَنْشُدُكَ بِالله، په بل كي نَشَدْتُكَ بِالله، په يوه كي يَا حَسَّانُ، أَجِبْ عَنْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم او په بل كي أَجِبْ عَنِّي راغلي، مطلب ئې دا دئ چي عمر رضي الله عنه په جومات كي د شعر له ويلو ممانعت كاوو، حسان بن ثابت رضي الله عنه په ځواب كي له ابوهريرة رضي الله عنه غوښتي چي په دې خبري ګواهي وركړه چي ده ته رسول الله صلى الله عليه و سلم ويلي وو چي كفارو ته د هغي هجوي ځواب وركړي چي د پيغمبر

عليه السلام په ضد ئې ويلې وه او ده ته ئې دعاء کړې چې الله تعالى دي په جبريل عليه السلام سره د ده مرسته وکړي. له دې روايت معلوميږي چې عمر رضي الله عنه په جومات کې د شعرونو له ويلو سره مخالفت کولو، حسان بن ثابت رضي الله عنه مجبور شوى چې ابوهريرة رضي الله عنه د شاهد په توګه وړاندي کړي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وخت کې ئې دا کار کړى، متأسفانه له دې هم ځيني کمعقله صوفيان دا جواز راباسي چې په جومات کې نعتونه او په خانقاوو کې قوالي سندري ويل جائز کار ثابت کړي، دا د خرافاتو په ډنډ کې غرق ډله چې ټول مذهب ئې له نعتونو او قوالي سندرو پرته بل څه نه دئ، قرآن او حديث او د دين هر څه ئې شا ته غورځولي او دين ئې په همدې کې راخلاصه کړى، دوى ته وايو: که دا نعتونه ضروري او د دين برخه وى نو عمر رضي الله عنه به ئې ممانعت نه کولو، د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وخت کې د حسان بن ثابت رضي الله عنه شعر د دښمنانو د هجوي په ځواب کې وو، له دې عام حکم راايستل صحيح نه دي، له دې نه يوازي دومره ثابتولى شو چې کله کله د دښمن په ځواب کې او له اسلام د دفاع په موخه داسي اشعار په جومات کې ويل څه مانع نه لري.

(٤٧) باب: د نېزو خاوندان په جومات کې

282- حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ الله قَالَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم يَوْمًا عَلَى بَابِ

حُجْرَتِي، وَالْحَبَشَةُ يَلْعَبُونَ فِي الْمَسْجِدِ وَرَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يَسْتُرُنِي بِرِدَائِهِ، أَنْظُرُ إِلَى لَعِبِهِمْ. (بخاري:454)

282- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: يوه ورځ مي رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپلي خوني له دروازې سره ولید، په داسي حال کي چې حبشيانو په جومات کي لوبي کولې، او رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپل څادر زه پټولم، ما د دوی لوبو ته کتل.

تکرار: 455، 950، 988، 2906، 3529، 5190، 5236

توپير: په يوه کي وَالْحَبَشَةُ يَلْعَبُونَ فِي الْمَسْجِدِ، په بل کي وَالْحَبَشَةُ يَلْعَبُونَ بِحِرَابِهِمْ، په بل کي وَكَانَ يَوْمَ عِيدٍ يَلْعَبُ السُّودَانُ بِالدَّرَقِ وَالْحِرَابِ، په بل کي كَانَ الْحَبَشُ يَلْعَبُونَ بِحِرَابِهِمْ، په يوه کي فَإِمَّا سَأَلْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم وَإِمَّا قَالَ "تَشْتَهِينَ تَنْظُرِينَ". فَقُلْتُ نَعَمْ. فَأَقَامَنِي وَرَاءَهُ خَدِّي عَلَى خَدِّهِ، وَهُوَ يَقُولُ "دُونَكُمْ يَا بَنِي أَرْفِدَةَ". حَتَّى إِذَا مَلِلْتُ قَالَ "حَسْبُكِ". قُلْتُ نَعَمْ. قَالَ "فَاذْهَبِي، په بل کي، فَسَتَرَنِي رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَأَنَا أَنْظُرُ، فَمَا زِلْتُ أَنْظُرُ حَتَّى كُنْتُ أَنَا أَنْصَرِفُ فَاقْدُرُوا قَدْرَ الْجَارِيَةِ الْحَدِيثَةِ السِّنِّ تَسْمَعُ اللهوَ، په بل کي يَسْتُرُنِي بِرِدَائِهِ، وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَى الْحَبَشَةِ يَلْعَبُونَ فِي الْمَسْجِدِ، حَتَّى أَكُونَ أَنَا الَّذِي أَسْأَمُ، فَاقْدُرُوا قَدْرَ الْجَارِيَةِ الْحَدِيثَةِ السِّنِّ الْحَرِيصَةِ عَلَى اللهوِ، په يوه کي دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَعِنْدِي جَارِيَتَانِ تُغَنِّيَانِ بِغِنَاءِ بُعَاثَ، په بل کي دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا جَارِيَتَانِ فِي أَيَّامِ مِنًى تُدَفِّفَانِ وَتَضْرِبَانِ، وَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم مُتَغَشٍّ بِثَوْبِهِ، فَانْتَهَرَهُمَا أَبُو بَكْرٍ، فَكَشَفَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم

عَنْ وَجْهِهِ، فَقَالَ "دَعْهُمَا يَا أَبَا بَكْرٍ، فَإِنَّهَا أَيَّامُ عِيدٍ، وَتِلْكَ الأَيَّامُ أَيَّامُ مِنًى، په بل کي فَزَجَرَهُمْ عُمَرُ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "دَعْهُمْ، أَمْنًا بَنِى أَرْفِدَةَ". يَعْنِي مِنَ الأَمْنِ، په بل کي فَاضْطَجَعَ عَلَى الْفِرَاشِ وَحَوَّلَ وَجْهَهُ، فَدَخَلَ أَبُو بَكْرٍ فَانْتَهَرَنِى وَقَالَ مِزْمَارَةُ الشَّيْطَانِ عِنْدَ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم . فَأَقْبَلَ عَلَيْهِ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فَقَالَ "دَعْهُمَا". فَلَمَّا غَفَلَ غَمَزْتُهُمَا فَخَرَجَتَا راغلي.

مطلب ئې دا دئ چې يو ځل حبشيانو له نېزو سره په جومات کي لوبي کولې، پيغمبر عليه السلام د عائشې رضي الله عنها د حجرې خوا ته ودرېدلی، يا دې ترې غوښتي يا رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته ويلي چې غواړې لوبه وګورې؟ هغې ويلي چې هو؛ نو تر شا ئې ودرېدلې او تر هغه ئې د لوبو ننداره کړې چې ستومانه شوې، په همدې حال کي عمر رضي الله عنه راغلی او لوبي کوونکي ئې رټلي خو رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته ويلي چې پرې ئې ږده، بل ځل د عيد په ورځ د دې حجرې ته دوې وړې نجلۍ راغلې، د دريا (چمبې) وهل ئې پيل کړي، رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړخ پروت وو او مخ ئې بل لوري ته اړولی وو، په همدې وخت کي ابوبکر رضي الله عنه راغلی او ويلي ئې دي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم په وړاندي د شيطان سرود؟! رسول الله صلى الله عليه و سلم مخ وراړولی او فرمايلي ئې دي: پرې ئې ږده.

دې ته مو بايد پام وي چې د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما له غبرګون او عکس العمل معلومېږي چې داسي کارونه مکروه او کرکجن ګڼل کېدل، د رسول الله صلى الله

علیه و سلم وینا داسي باید تلقي شي لکه د هغه صحرایي په اړه د ده وینا چې د جومات په یوې ګوښې کې ځې بولي وکړي، صحابه وو غوښتل هغه ورتې خو رسول الله صلی الله علیه و سلم وویل: پرې ئې ږدئ، بیا ئې وفرمایل چې پر هغه ځای اوبه واچوئ. له دې د داسي کارونو د جواز په ګټه استدلال کول ناسم استدلال دئ. متأسفامه ځیني کمعقله او بې علمه صوفیان په داسي روایاتو استناد کوي او په جومات او خانقا کي د قوالي سندرو جواز تري راباسي.

دې ته هم باید متوجه وو چې دا وړې نجلۍ وې، د بعاث د جګړې یوه مشهوره ترانه ئې ویله، عائشې رضي الله عنها دا قصه د دې لپاره کړې چې مؤمنانو ته ووایي: وړو نجونو ته په سپکه سترګه مه ګورئ، هغوی مه رټئ، د داسي لوبو ممانعت ئې مه کوئ، رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغوی ممانعت نه دئ کړی.

(٤٨) باب: په جومات کي د قرض غوښتل

283- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ قَالَ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَبْدِ الله بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ كَعْبٍ أَنَّهُ تَقَاضَى ابْنَ أَبِي حَدْرَدٍ دَيْنًا كَانَ لَهُ عَلَيْهِ فِي الْمَسْجِدِ، فَارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُهُمَا حَتَّى سَمِعَهَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَهْوَ فِي بَيْتِهِ، فَخَرَجَ إِلَيْهِمَا حَتَّى كَشَفَ سِجْفَ حُجْرَتِهِ فَنَادَى "يَا كَعْبُ". قَالَ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ الله. قَالَ "ضَعْ مِنْ دَيْنِكَ هَذَا". وَأَوْمَأَ إِلَيْهِ أَيِ الشَّطْرَ قَالَ لَقَدْ فَعَلْتُ يَا رَسُولَ الله. قَالَ "قُمْ فَاقْضِهِ".

(بخاري:457)

283- له كعب بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چي هغه په جومات کي له ابن ابي حدرد خپل پور (قرض) وغوښت، د دواړو غږونه دومره اوچت شول چي رسول الله صلى الله عليه و سلم واورېدل، په داسي حال کي چي په خپل کور کي وو، نو ورته راووت، د خپلي حجرې پرده ئې پورته کړه او وئې فرمايل: (اې کعبه!) کعب وويل: لبيک يا رسول الله! وئې فرمايل: (لدې پور دي څه کم کړه). او اشاره ئې ورته وکړه چي يوه برخه ئې (ورته پرېږده)، کعب وويل: قبوله مي ده يا رسول الله! همداسي مي وکړل، بيا ئې (هغه بل سړي ته) وفرمايل: (پورته شه، او پاته پور ئې پرې کړه).

تکرار: 471، 2418، 2424، 2706، 2710

توپير: په يوه کي كَشَفَ سِجْفَ حُجْرَتِهِ، په بل کي فَمَرَّ بِهِمَا النَّبِيُّ- صلى الله عليه و سلم –، په يوه کي ضَعْ مِنْ دَيْنِكَ هَذَا. وَأَوْمَأَ إِلَيْهِ أَيِ الشَّطْرَ، په بل کي فَأَشَارَ بِيَدِهِ كَأَنَّهُ يَقُولُ النِّصْفَ، په يوه کي فَأَخَذَ نِصْفَ مَا عَلَيْهِ وَتَرَكَ نِصْفًا، په بل کي فَأَشَارَ بِيَدِهِ أَنْ ضَعِ الشَّطْرَ مِنْ دَيْنِكَ او په بل کي فَأَشَارَ بِيَدِهِ أَنْ ضَعِ الشَّطْرَ. فَقَالَ كَعْبٌ قَدْ فَعَلْتُ راغلي، سره له دې توپيرونو مطلب ئې يو دئ، او هغه دا چي کعب بن مالك رضي الله عنه په جومات کي له يوه پورورې (ابن ابي حدرد) نه خپل پور غوښتی، غږ ئې سره لوړ شوی، پيغمبر عليه السلام په خپل کور کي د دوی غږ اورېدلی، د دروازې پرده ئې پورته کړې، يا د دواړو تر خوا تېر شوی او کعب رضي الله عنه ته ئې ويلي چي د پور له يوې برخي ورته تېر شه، هغه منلې او بل ته ئې ويلي چي اوس نو پاته پور پرې کړه. يعني په جومات کي پر دغو خبرو او د قرض پر

غوښتو ئې اعتراض نه دئ کړی.

(٤٩) باب: د جومات جارو کول او پاکول

284- حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَبِي رَافِعٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلاً أَسْوَدَ- أَوِ امْرَأَةً سَوْدَاءَ- كَانَ يَقُمُّ الْمَسْجِدَ، فَمَاتَ، فَسَأَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم عَنْهُ فَقَالُوا مَاتَ. قَالَ "أَفَلاَ كُنْتُمْ آذَنْتُمُونِى بِهِ دُلُّونِى عَلَى قَبْرِهِ"- أَوْ قَالَ قَبْرِهَا- فَأَتَى قَبْرَهُ فَصَلَّى عَلَيْهِ. (بخاري:458)

284- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چې يوه تور پوستي سړي يا ښځي به جومات جارو کاوو، بيا مړ شو، رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې پوښتنه وکړه، اصحابو وويل: هغه مړ شو. وئې فرمايل: (ولي مو زه پرې خبر نکړم؟ د هغه سړي يا ښځي (د راوي شک دئ) قبر راوښيئ). نو قبر ته ئې ورغی او لمونځ ئې پرې وکړ.

له دې روايت معلوميږي چې د قبر خوا ته او په هدېرې کي د جنازې لمونځ کول مانع نه لري، په يوازي توګه او له مړيني وروسته هم لمونځ پرې کېدی شي. خو د جنازې لمونځ چې په هغه کي سجده او رکوع نشته، په هدېره کي داسي لمونځ چې رکوع او سجده ولري د دې لپاره کراهيت لري چې د هغو مشرکينو عمل ته ورته والی ترې معلوميږي چې د قبرونو په وړاندي سر ټيټوي او تعظيم ئې کوي.

تکرار: 460، 1337

توپير: په يوه کي أَنَّ رَجُلاً أَسْوَدَ- أَوِ امْرَأَةً سَوْدَاءَ- كَانَ يَقُمُّ الْمَسْجِدَ، په بل کي أَنَّ امْرَأَةً- أَوْ رَجُلاً- كَانَتْ تَقُمُّ الْمَسْجِدَ-

وَلاَ أُرَاهُ إِلاَّ امْرَأَةً، په يوه کي فَسَأَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم عَنْهُ فَقَالُوا مَاتَ، په بل کي وَلَمْ يَعْلَمِ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِمَوْتِهِ، په يوه کي أَفَلاَ آذَنْتُمُونِى. فَقَالُوا إِنَّهُ كَانَ كَذَا وَكَذَا قِصَّتَهُ. قَالَ فَحَقَرُوا شَأْنَه، په بل کي أَفَلاَ كُنْتُمْ آذَنْتُمُونِى بِهِ دُلُّونِى عَلَى قَبْرِهِ راغلي، مطلب ئې سره ورته دئ،

(٥٠) باب: په جومات کي د شرابو د سوداګرۍ تحريم

285- حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ أَبِي حَمْزَةَ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ مُسْلِمٍ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا أُنْزِلَ الآيَاتُ مِنْ سُورَةِ الْبَقَرَةِ فِي الرِّبَا، خَرَجَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم إِلَى الْمَسْجِدِ، فَقَرَأَهُنَّ عَلَى النَّاسِ، ثُمَّ حَرَّمَ تِجَارَةَ الْخَمْرِ. (بخاري:459)

285- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: کله چې د سود په اړه د البقرة د سورې آيتونه نازل شول، رسول الله صلى الله عليه و سلم جومات ته ووت او خلکو ته ئې ولوستل، بيا ئې د شرابو سوداګري حرامه وګرځوله.

تکرار: 2084، 2226، 4540، 4541، 4542، 4543

توپير: په يوه کي لَمَّا أُنْزِلَ الآيَاتُ مِنْ سُورَةِ الْبَقَرَةِ فِي الرِّبَا، په بل کي لَمَّا نَزَلَتْ آخِرُ الْبَقَرَةِ، په بل کي نَزَلَتْ آيَاتُ سُورَةِ الْبَقَرَةِ عَنْ آخِرِهَا، په بل کي لَمَّا نَزَلَتِ الآيَاتُ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ فِي الرِّبَا، په يوه کي خَرَجَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم إِلَى الْمَسْجِدِ، فَقَرَأَهُنَّ عَلَى النَّاسِ، په بل کي قَرَأَهُنَّ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم عَلَيْهِمْ فِي الْمَسْجِدِ، په بل کي فَقَرَأَهُنَّ عَلَيْنَا، په يوه کي ثُمَّ حَرَّمَ تِجَارَةَ الْخَمْرِ، په بل کي ثُمَّ

حَرَّمَ التِّجَارَةَ فِي الْخَمْرِ او په بل کي فَقَالَ حُرِّمَتِ التِّجَارَةُ فِي الْخَمْرِ راغلي.

د دې روايت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

له روايت داسي معلومېږي لکه چي سود او د شرابو تجارت په يو وخت کي تحريم شوي وي، خو خبره داسي نه ده، سود د مکې له فتحي وروسته حرام شوی، شراب تر دې ډېر د مخه حرام شوي، د شراب د تحريم له حکم سره سم د هغه پېر پلور او تجارت هم منع شوی، کله چي د المائدې د سورې هغه آيتونه نازل شول چي شراب او قمار ئې تحريم کړل، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم د خلکو د پوښتنو په ځواب کي فرمايل: تجارت به ئې نه کوئ، د دوا په توګه به ئې نه کاروئ، پر څښونکي، ساقي، پېرونکي، پلورونکي، جوړوونکي، هغه چي ورته جوړېږي، وړونکي، هغه چي ورولړل کېږي پر ټولو د الله تعالى لعنت دئ. له دې معلومېږي چي دا روايت له قرآن سره اړخ نه لګوي.

د ترجمة الباب الفاظ داسي دي چي ګواکي په جومات کي د شرابو پېر پلور منع شوی، خو روايت وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم په جومات کي لومړی د ربا اړوند آيتونه خلکو ته واورول بيا ئې د شرابو تجارت ممنوع اعلان کړ.

(٥١) باب: په جومات کي د اسير يا پوروړي تړل

286- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ أَخْبَرَنَا رَوْحٌ وَمُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ

عَنْ شُعْبَةَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِنَّ عِفْرِيتًا مِنَ الْجِنِّ تَفَلَّتَ عَلَيَّ الْبَارِحَةَ- أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا- لِيَقْطَعَ عَلَيَّ الصَّلاَةَ، فَأَمْكَنَنِي الله مِنْهُ، فَأَرَدْتُ أَنْ أَرْبِطَهُ إِلَى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِى الْمَسْجِدِ، حَتَّى تُصْبِحُوا وَتَنْظُرُوا إِلَيْهِ كُلُّكُمْ، فَذَكَرْتُ قَوْلَ أَخِي سُلَيْمَانَ رَبِّ هَبْ لِي مُلْكًا لاَ يَنْبَغِى لأَحَدٍ مِنْ بَعْدِى". (بخاري:461)

286- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (پرون شپه د پيريانو يو عفريت (ماهر) راځرګند شو، (راوي وايي يا ئې دي ته ورته کلمه وويله)، غوښتل ئې لمونځ مي قطع يا مختل کړي، خو الله تعالى زه پرې برلاسى کړم، ومي غوښتل چي د جومات په يوې ستني پوري ئې وترم چي تاسو ټول ئې سهار ووينئ، خو د خپل ورور سليمان (عليه السلام) دا قول را په ياد شو: خدايه! ما ته داسي پاچايي را چي له ما وروسته له هيچا سره نه ښايي).

تکرار: 1210، 3284، 3423، 4808

توپير: په يوه کې إِنَّ عِفْرِيتًا مِنَ الْجِنِّ تَفَلَّتَ عَلَيَّ الْبَارِحَةَ، په بل کې إِنَّ الشَّيْطَانَ عَرَضَ لِي، په يوه کې لِيَقْطَعَ عَلَيَّ الصَّلاَةَ، په بل کې فَشَدَّ عَلَيَّ لِيَقْطَعَ الصَّلاَةَ عَلَيَّ، په يوه کې فَأَرَدْتُ أَنْ أَرْبِطَهُ إِلَى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِى الْمَسْجِدِ، په بل کې فَذَعَتُّهُ، وَلَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أُوثِقَهُ إِلَى سَارِيَةٍ راغلي. د دې توپيرونو تر څنګ بايد څو خبري د دې روايت په اړه په پام کي ولرئ:

دا روايت د سند له مخي تر ټولو زيات غريب دئ، په

صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو کي يو يو راوي لري، په ټولو صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو کي بل هيجا ته دا خبره نه ده منسوب شوې. له صحاح سته نه يوازي بخاري او مسلم راوړی. د متن له پلوه داسي دئ چي له قرآن سره تعارض لري.

قرآن وايي چي انسانان نشي کولی پيريان په خپلو سترګو وګوري (إِنَّهُ يَرَاكُمْ هُوَ وَ قَبِيلُهُ مِنْ حَيْث لا تَرَوْنهُمْ... الاعراف: 27) همداراز رسول الله صلى الله عليه و سلم ته فرمايي چي خلکو ته ووايه: ما ته وحي وشوه چي د پيريانو يوې ډلي قرآن واورېدو (**قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَقَالُوٓاْ إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا عَجَبًا** * الجن:1) يعني پيغمبر عليه السلام له دې خبر شوی نه وو چي د پيريانو يوې ډلي د ده قرائت اورېدلی او ايمان ئې راوړی، له دې خبري هغه مهال خبر شو چي د وحي له لاري ورته وويل شول.

د شيطان وسوسه داسي نه وي چي چا ته راڅرګند شي او مشوش ئې کړي، بلکي د انسان په زړه کي وسوسې اچوي. ځوك چي وايي شيطان کولی شي خپل شکل بدل کړي هغوی ته وايو: هيڅ مخلوق په خپله خوښه خپل شکل نشي بدلولی، دا کار يوازي خالق کولی شي، فرشتې د الله تعالى په حکم د انسان په ښې کي لېږل شوې دي، پيريان نشي کولی خپل شکل بدل کړي، ځوك چي دا ادعاء کوي د اثبات لپاره ئې هيڅ منقول او معقول دليل نه لري.

په نورو رواياتو کي راځي چي پيغمبر عليه السلام فرمايلي: زما شيطان راته تسليم شوی، دا روايت له هغو سره تعارض لري.

دغو خبرو ته په پام سره ويلی شو چې دا روايت په داسي مهمي اعتقادي مسئلې کي د استناد وړ نه دئ.

د ترجمة الباب او روايت تر منځ هم خاص تړاو نه تر سترګو کيږي؛ ځکه په روايت کي دا خبره نه ده راغلې چې په جومات کي کوم اسير يا پوروړی تړل شوی وي، کوم روايت چې په جومات کي د اسير د تړل کېدو خبره کوي هغه بل روايت دئ.

(٥٢) باب: په جومات کي د ناروغانو لپاره خيمه

287- حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ بْنُ يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ نُمَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أُصِيبَ سَعْدٌ يَوْمَ الْخَنْدَقِ فِي الأَكْحَلِ، فَضَرَبَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم خَيْمَةً فِي الْمَسْجِدِ لِيَعُودَهُ مِنْ قَرِيبٍ، فَلَمْ يَرُعْهُمْ- وَفِي الْمَسْجِدِ خَيْمَةٌ مِنْ بَنِى غِفَارٍ- إِلاَّ الدَّمُ يَسِيلُ إِلَيْهِمْ فَقَالُوا يَا أَهْلَ الْخَيْمَةِ، مَا هَذَا الَّذِي يَأْتِينَا مِنْ قِبَلِكُمْ فَإِذَا سَعْدٌ يَغْذُو جُرْحُهُ دَمًا، فَمَاتَ فِيهَا. (بخاري:463)

287- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: سعد رضي الله عنه د خندق په غزا کي د لاس په رګ ټپي شو، رسول الله صلى الله عليه و سلم په جومات کي خيمه ورته ووهله چې له نږدې ئې څارنه او عيادت کوي، په جومات کي د بني غفار د خلکو خيمه هم وه، دې خبري پرېشانه کړل چې وينه د دوی لوري ته بهېدله، نو وئې ويل: اې د خيمې خلکو! دا څه دي چې ستاسو له لوري موږ ته راځي؟ که ګوري چې دا سعد رضي الله عنه دئ چې له ټپ ئې وينه

بهيري، چې په همدې کې وفات شو.

تکرار: 2813، 3901، 4117، 4122

توپير: دا مطلب په 4122 روايت کې په تفصيل سره راغلی، چې بني قريظه محاصره او د دوی له لوري سعد بن معاذ رضي الله عنه ته د پريکړي اختيار ورکول هم په دې الفاظو په کې راغلي: فَنَزَلُوا عَلَى حُكْمِهِ، فَرَدَّ الْحُكْمَ إِلَى سَعْدٍ، قَالَ فَإِنِّي أَحْكُمُ فِيهِمْ أَنْ تُقْتَلَ الْمُقَاتِلَةُ، وَأَنْ تُسْبَى النِّسَاءُ وَالذُّرِّيَّةُ، وَأَنْ تُقْسَمَ أَمْوَالُهُمْ أُصِيبَ سَعْدٌ يَوْمَ الْخَنْدَقِ، رَمَاهُ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ يُقَالُ لَهُ حِبَّانُ ابْنُ الْعَرِقَةِ.

(٥٣) باب: د ضرورت له امله جومات ته د اوښ ننايستل

288- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ نَوْفَلٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ شَكَوْتُ إِلَى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم أَنِّي أَشْتَكِي. قَالَ "طُوفِي مِنْ وَرَاءِ النَّاسِ وَأَنْتِ رَاكِبَةٌ". فَطُفْتُ وَرَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي إِلَى جَنْبِ الْبَيْتِ، يَقْرَأُ بِالطُّورِ وَكِتَابٍ مَسْطُورٍ. (بخاري:464)

288- له ام سلمه رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته مي شکايت وکړ چې رنځوره يم (او نه شم کولی پياده طواف وکړم)، وئې فرمايل: (د خلکو تر شا په داسي حال کي طواف وکړه چې پر سپرلۍ سپره يې، نو ما په داسي حال کي طواف وکړ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د کعبې خوا ته په لمانځه

ولاړ وو او د والطور و كتاب مسطور سوره ئې تلاوت كوله.
تكرار: 1619، 1626، 1633، 4853

توپير: په ځينو كي أَنِّى أَشْتَكِى. قَالَ "طُوفِي مِنْ وَرَاءِ النَّاسِ وَأَنْتِ رَاكِبَةٌ او، په يوه كي وَهْوَ بِمَكَّةَ، وَأَرَادَ الْخُرُوجَ، وَلَمْ تَكُنْ أُمُّ سَلَمَةَ طَافَتْ بِالْبَيْتِ وَأَرَادَتِ الْخُرُوجَ، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم "إِذَا أُقِيمَتْ صَلاَةُ الصُّبْحِ فَطُوفِي عَلَى بَعِيرِكِ، وَالنَّاسُ يُصَلُّونَ". فَفَعَلَتْ ذَلِكَ، فَلَمْ تُصَلِّ حَتَّى خَرَجَتْ دا روايت تر نورو جامع دئ او ښيي چې ام سلمه رضي الله عنها د سحر د لمانځه پر مهال دا طواف كړى.

(٥٤) باب

289- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ قَتَادَةَ قَالَ حَدَّثَنَا أَنَسٌ أَنَّ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم خَرَجَا مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فِي لَيْلَةٍ مُظْلِمَةٍ، وَمَعَهُمَا مِثْلُ الْمِصْبَاحَيْنِ يُضِيآنِ بَيْنَ أَيْدِيهِمَا، فَلَمَّا افْتَرَقَا صَارَ مَعَ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا وَاحِدٌ حَتَّى أَتَى أَهْلَهُ. (بخاري:465)

289- له انس رضي الله عنه روايت دئ چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم له اصحابو دوه تنه په يوې تيارې شپې كي د رسول الله صلى الله عليه و سلم له حضور نه ووتل او له دوى دواړو سره لكه د دوو څراغونو په څېر څه شى وو چې د دوى مخي ته ځې رڼا كوله او كله چې دواړه سره جلا شول نو له هر يوه سره يوه رڼا تر هغه يو ځاى وه چې خپل ټبر ته ورسېد.

تكرار: 3639، 3805

توپير: په يوه کي وَمَعَهُمَا مِثْلُ الْمِصْبَاحَيْنِ، يُضِيآنِ بَيْنَ أَيْدِيهِمَا، په بل کي وَإِذَا نُورٌ بَيْنَ أَيْدِيهِمَا حَتَّى تَفَرَّقَا، په يوه کي فَلَمَّا افْتَرَقَا صَارَ مَعَ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا وَاحِدٌ حَتَّى أَتَى أَهْلَهُ، په بل کي فَتَفَرَّقَ النُّورُ مَعَهُمَا، په يوه کي د دغو دوو کسانو د نومونو په اړه هم داسي راغلي: أَنَّ أُسَيْدَ بْنَ حُضَيْرٍ وَرَجُلاً مِنَ الأَنْصَارِ. قَالَ حَمَّادٌ أَخْبَرَنَا ثَابِتٌ عَنْ أَنَسٍ كَانَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ وَعَبَّادُ بْنُ بِشْرٍ، په ځينو کي دا هم ويل شوي چي لومړی يوې عصا رڼا کوله خو کله چي سره بېل شول د دواړو عصاګانو رڼا کوله. له دغو جدي توپيرونو علاوه د دې روايت په اړه څو خبري نوري هم په پام کي ولرئ: دا روايت له صحاح سته نه يوازي بخاري راوړی، په نورو مهمو کتابونو کي هم نه تر سترګو کېږي، راوي يو او انس رضي الله عنه دئ، الباني ليکي چي لم أجده في الصحيح و لا في الضعيف: نه مي په صحيح رواياتو کي وموند او نه په ضعيفو کي.

(٥٥) باب: په جومات کي لاره او سوړه

290- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِنَانٍ قَالَ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو النَّضْرِ عَنْ عُبَيْدِ بْنِ حُنَيْنٍ عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَطَبَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ "إِنَّ اللهَ خَيَّرَ عَبْدًا بَيْنَ الدُّنْيَا وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ، فَاخْتَارَ مَا عِنْدَ اللهِ". فَبَكَى أَبُو بَكْرٍ- رضي الله عنه- فَقُلْتُ فِي نَفْسِي مَا يُبْكِي هَذَا الشَّيْخَ إِنْ يَكُنِ اللهُ خَيَّرَ عَبْدًا بَيْنَ الدُّنْيَا وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ فَاخْتَارَ مَا عِنْدَ اللهِ، فَكَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله

عليه و سلم هُوَ الْعَبْدَ، وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ أَعْلَمَنَا. قَالَ "يَا أَبَا بَكْرٍ لاَ تَبْكِ، إِنَّ أَمَنَّ النَّاسِ عَلَيَّ فِي صُحْبَتِهِ وَمَالِهِ أَبُو بَكْرٍ، وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلاً مِنْ أُمَّتِي لاَتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ، وَلَكِنْ أُخُوَّةُ الإِسْلاَمِ وَمَوَدَّتُهُ، لاَ يَبْقَيَنَّ فِي الْمَسْجِدِ بَابٌ إِلاَّ سُدَّ إِلاَّ بَابُ أَبِي بَكْرٍ". (بخاري:466)

290- له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم خطبه ويله وئې فرمايل: (الله تعالى خپل يو بنده د دنيا او هغه څه ترمنځ اختيار من کړ چي له خداى سره دي، او بنده ئې هغه څه غوره کړل چي له خداى سره دي). پدې سره ابوبکر رضي الله عنه په ژړا شو، ما له ځان سره وويل: دا شيخ ولي ژاړي؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم خو وفرمايل چي الله تعالى خپل يوه بنده ته اختيار ورکړ چي دنيا خوښوي او که هغه څه چي له الله سره دي او بنده هغه څه غوره کړل چي له الله تعالى سره دي. (دا خو د ژړا خبره نده). خو وروسته پوه شو چي له هغه بنده نه مراد رسول الله صلى الله عليه و سلم وو، او ابوبکر رضي الله عنه له مورِ زيات پوهيدو. رسول لله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (اې ابوبکره! مه ژاړه، له ما سره په ملګرتيا او مال لګولو کي تر ټولو زيات احسان کوونکى ابوبکر رضي الله عنه دئ، که مي له خپل امت خليل (ځانګړى دوست) نيولى، نو ابوبکر به مي خليل نيولى وو، خو اسلامي وروروليِ او دوستي (زمورِ تر منځ) ده، د ابوبکر رضي الله عنه له دروازې پرته دي په جومات کي نوري ټولي دروازې بندي شي.

تکرار: 3654، 3904

توپير: په يوه کي إِنَّ الله خَيَّرَ عَبْدًا بَيْنَ الدُّنْيَا وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ، فَاخْتَارَ مَا عِنْدَ الله، په بل کي إِنَّ عَبْدًا خَيَّرَهُ الله بَيْنَ أَنْ يُؤْتِيَهُ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا مَا شَاءَ، وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ، فَاخْتَارَ مَا عِنْدَهُ، په بل کي إِنَّ الله خَيَّرَ عَبْدًا بَيْنَ الدُّنْيَا وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ فَاخْتَارَ ذَلِكَ الْعَبْدُ مَا عِنْدَ الله، په يوه کي فَعَجِبْنَا لِبُكَائِهِ أَنْ يُخْبِرَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم عَنْ عَبْدٍ خُيِّرَ، په بل کي مَا يُبْكِي هَذَا الشَّيْخَ إِنْ يَكُنِ الله خَيَّرَ عَبْدًا، په يوه کي لاَ يَبْقَيَنَّ فِي الْمَسْجِدِ بَابٌ إِلاَّ سُدَّ، إِلاَّ بَابَ أَبِي بَكْرٍ، په بل کي لاَ يَبْقَيَنَّ فِي الْمَسْجِدِ خَوْخَةٌ إِلاَّ خَوْخَةُ أَبِي بَكْرٍ، په يوه کي هُوَ الْعَبْدَ، په بل کي هُوَ الْمُخَيَّرُ، په يوه کي دا الفاظ هم راغلي وَقَالَ فَدَيْنَاكَ بِآبَائِنَا وَأُمَّهَاتِنَا. فَعَجِبْنَا لَهُ، وَقَالَ النَّاسُ انْظُرُوا إِلَى هَذَا الشَّيْخِ او دا هم وَهْوَ يَقُولُ فَدَيْنَاكَ بِآبَائِنَا وَأُمَّهَاتِنَا، په يوه کي إِلاَّ خُلَّةَ الإِسْلاَمِ، په بل کي وَلَكِنْ أُخُوَّةُ الإِسْلاَمِ وَمَوَدَّتُهُ راغلي.

له دې روايت معلوميږي چې ابوبکر رضي الله عنه تر ټولو پوه صحابي او تر ټولو پر پيغمبر عليه السلام ګران صحابي وو، د ټولو صحابه وو اجماع په دې باندي راغلې چې ابوبکر رضي الله عنه تر ټولو پوه صحابي او د قيادت او زعامت لپاره تر ټولو وړ شخصيت وو، تر ده وروسته عمر رضي الله عنه، بيا عثمان رضي الله عنه او بيا علي رضي الله عنه راځي، هغه روايات د اعتبار وړ نه دي چې د دې خلاف خبره کوي.

دا روايت د بخاري، مسلم او ترمذي تر څنګ نورو کتابونو هم راوړی، خو په ځينو کتابونو کي د يوه داسي روايت شاهد هم يو چې له دې سره په بشپړه توګه تضاد

لري او وايي چي يوازي د علي رضي الله عنه دروازه پربښودل شوه او نوري ټولي وتړل شوې!! د نسائي په سنن الكبرى كي داسي راغلي: عن زيد بن أرقم قال كان لنفر من أصحاب رسول الله صلى الله عليه و سلم أبواب شارعة في المسجد فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم سدوا هذه الابواب إلا باب علي. او طبراني ليكي عَنْ جَابِرِ بن سَمُرَةَ، قَالَ: "أَمَرَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم بِسَدِّ أَبْوَابِ الْمَسْجِدِ كُلِّهَا غَيْرَ بَابِ عَلِيٍّ رَضِيَ الله تَعَالَى عَنْهُ "ځينو دا خبره هم کړې ده چي صحابه وو په دې باندي اعتراض وکړ او رسول الله صلى الله عليه و سلم د دوى د اعتراض په ځواب كي وفرمايل: ما په خپله خوښه دا كار نه دئ كړى بلكي د الله تعالى له لوري پر دې ګمارل شوى وم چي د علي رضي الله عنه له دروازې پرته نوري ټولي دروازې وتړم. خو ترمذي د دغه روايت په اړه وايي: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لاَ نَعْرِفُهُ عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الإِسْنَادِ إِلاَّ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ.

له دې رواياتو به كوم يو غوره كوو او څنګه به پر بل ترجيح وركوو؟ په څو دلائلو ويلى شو چي د بخاري روايت تر نورو ارجح دئ: د ابوبكر رضي الله عنه مقام او منزلت تر علي رضي الله عنه لوړ دئ، د بخاري راويان تر نورو زيات معتبر دي، دا روايت نورو معتبرو كتابونو هم راوړى، په هغه بل روايت كي داسي خبري تر سترګو كيږي چي هيڅ دليل ورته نه مومو، لكه دا چي وايي رسول الله صلى الله عليه و سلم دا كار د الله تعالى په حكم كړى! پوښتنه كوو دا حكم چيرې دئ؟ په قرآن كي دا حكم نه مومو، نه صراحتاً او نه اشارتاً. د روايت دا برخه چي صحابه وو اعتراض وكړ

هم ښيي چې د منلو وړ نه دئ، ځکه د صحابه وو له شأن لرې ده چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په کومې پربکړې اعتراض وکړي.

٢٩١- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ مُحَمَّدٍ الْجُعْفِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبِي قَالَ سَمِعْتُ يَعْلَى بْنَ حَكِيمٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ عَاصِبٌ رَأْسَهُ بِخِرْقَةٍ، فَقَعَدَ عَلَى الْمِنْبَرِ، فَحَمِدَ الله وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ "إِنَّهُ لَيْسَ مِنَ النَّاسِ أَحَدٌ أَمَنَّ عَلَيَّ فِي نَفْسِهِ وَمَالِهِ مِنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي قُحَافَةَ، وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا مِنَ النَّاسِ خَلِيلاً لاَتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلاً، وَلَكِنْ خُلَّةُ الإِسْلاَمِ أَفْضَلُ، سُدُّوا عَنِّى كُلَّ خَوْخَةٍ فِي هَذَا الْمَسْجِدِ غَيْرَ خَوْخَةِ أَبِي بَكْرٍ". (بخاري:467)

٢٩١- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په همغه ناروغتيا کې چې له امله ئې وفات شو، له کوره راووت، خپل سر ئې په يوه ټوټه يا دستمال تړلى وو، په منبر کښېناست، د الله تعالى حمد او ثناء ئې وويله، بيا ئې وفرمايل: له ما سره په ملګرتيا او مال لګولو کې تر ټولو زيات احسان کوونکى ابوبکر بْنِ أَبِي قُحَافَةَ رضي الله عنه دئ، که مې له خلکو خليل (ځانګړى دوست) نيولى، نو ابوبکر به مې خليل نيولى وو، خو اسلامي وروروليِ او دوستي تر ټولو زياته غوره ده، د ابوبکر رضي الله عنه له دروازې پرته دي په دې جومات کې نوري ټولي دروازې بندي شي.

تکرار: 3656، 3657، 6738

توپير: په يوه کي فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ عَاصِبٌ رَأْسَهُ بِخِرْقَةٍ، فَقَعَدَ عَلَى الْمِنْبَرِ، فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ "إِنَّهُ لَيْسَ مِنَ النَّاسِ أَحَدٌ أَمَنَّ عَلَيَّ فِي نَفْسِهِ وَمَالِهِ مِنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي قُحَافَةَ راغلي په نورو کي نه دي راغلي، په يوه کي سُدُّوا عَنِّى كُلَّ خَوْخَةٍ فِي هَذَا الْمَسْجِدِ غَيْرَ خَوْخَةِ أَبِي بَكْرٍ راغلي په نورو کي نه دي راغلي، په يوه کي وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا مِنْ أُمَّتِى خَلِيلاً لاَتَّخَذْتُ، أَبَا بَكْرٍ، په بل کي لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلاً لاَتَّخَذْتُهُ خَلِيلاً او په بل کي وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا مِنَ النَّاسِ خَلِيلاً لاَتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلاً، په يوه کي وَلَكِنْ خُلَّةُ الإِسْلاَمِ أَفْضَلُ، په بل کي وَلَكِنْ أَخِي وَصَاحِبِى، په يوه کي دا هم راغلي فَإِنَّهُ أَنْزَلَهُ أَبًا. أَوْ قَالَ قَضَاهُ أَبًا.

دا روايت له مخکني سره ورته دئ او د هغه تأييد کوي.

(٥٦) باب: کعبې او جوماتونو ته د دروازې او قفل (کولپ) جوړول

292- حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ وَقُتَيْبَةُ قَالاَ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَدِمَ مَكَّةَ، فَدَعَا عُثْمَانَ بْنَ طَلْحَةَ، فَفَتَحَ الْبَابَ، فَدَخَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم وَبِلاَلٌ وَأُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ وَعُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ، ثُمَّ أُغْلِقَ الْبَابُ، فَلَبِثَ فِيهِ سَاعَةً ثُمَّ خَرَجُوا. قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَبَدَرْتُ فَسَأَلْتُ بِلاَلاً فَقَالَ صَلَّى فِيهِ. فَقُلْتُ فِي أَيِّ قَالَ بَيْنَ الأُسْطُوَانَتَيْنِ. قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَذَهَبَ عَلَيَّ أَنْ أَسْأَلَهُ كَمْ صَلَّى. (بخاري:468)

292- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم مکې ته راغی، عثمان بن طلحه رضي

الله عنه ئې راوغوښت، (هغه راغی او) دروازه ئې پرانيسته، رسول الله صلى الله عليه و سلم، بلال، اسامه بن زيد او عثمان بن طلحه (رضي الله عنهم) ورننوتل، بيا دروازه وتړل شوه، څه شېبه په کي پاته شول بيا راووتل. ابن عمر رضي الله عنهما وايي: زه ورمخکي شوم او له بلال رضي الله عنه مي پوښتنه وکړه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په کعبه کي څه وکړل؟ وئې ويل: لمونځ ئې په کي وکړ، ما ورته وويل: په کوم ځای کي؟ ده وويل: د دوو ستنو ترمنځ. ابن عمر رضي الله عنهما وايي: دا رانه هېر شول چې پوښتنه ترې وکړم چې څو رکعته لمونځ ئې وکړ.

تکرار: 397، 504، 505، 506، 1167، 1598، 1599، 2988، 4289، 4400

توپير: په يوه کي فَقُلْتُ أَصَلَّى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فِي الْكَعْبَةِ قَالَ نَعَمْ رَكْعَتَيْنِ، په بل کي وَنَسِيتُ أَنْ أَسْأَلَهُ كَمْ صَلَّى او په بل کي قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَذَهَبَ عَلَيَّ أَنْ أَسْأَلَهُ كَمْ صَلَّى، په يوه کي فَلَبِثَ فِيهِ سَاعَةً ثُمَّ خَرَجُوا. قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَبَدَرْتُ فَسَأَلْتُ بِلاَلاً فَقَالَ صَلَّى فِيهِ، په بل کي وَأَجِدُ بِلاَلاً قَائِمًا بَيْنَ الْبَابَيْنِ، په بل کي فَسَأَلْتُ بِلاَلاً حِينَ خَرَجَ، په يوه کي قَالَ جَعَلَ عَمُودًا عَنْ يَسَارِهِ، وَعَمُودًا عَنْ يَمِينِهِ، وَثَلاَثَةَ أَعْمِدَةٍ وَرَاءَهُ، وَكَانَ الْبَيْتُ يَوْمَئِذٍ عَلَى سِتَّةِ أَعْمِدَةٍ، په بل کي قَالَ وَلَيْسَ عَلَى أَحَدِنَا بَأْسٌ إِنْ صَلَّى فِي أَيِّ نَوَاحِي الْبَيْتِ شَاءَ، په بل کي وَلَيْسَ عَلَى أَحَدٍ بَأْسٌ أَنْ يُصَلِّيَ فِي أَيِّ نَوَاحِي الْبَيْتِ شَاءَ، په يوه کي كُنْتُ أَوَّلَ مَنْ وَلَجَ، په يوه کي فَمَكَثَ فِيهَا نَهَارًا طَوِيلاً ثُمَّ خَرَجَ، فَاسْتَبَقَ النَّاسُ، وَكَانَ عَبْدُ الله بْنُ عُمَرَ أَوَّلَ مَنْ دَخَلَ، په يوه کي وَعِنْدَ الْمَكَانِ الَّذِي صَلَّى فِيهِ مَرْمَرَةٌ

حَمْرَاءُ راغلي، لکه چې ګورئ په دې روایاتو کې تعارض تر سترګو کېږي، یو وایي: رانه هېره شوه چې وئې پوښتم رسول الله صلى الله عليه و سلم څو رکعته لمونځ په کې وکړ خو بل وایي چې دا پوښتنه مې تر وکړه، یو وایي چې له بلال مې هغه مهال پوښتنه وکړه چې له کعبې ووت او بل وایي چې زه لومړی ننوتم او بلال مې د دروازې تر شا وموند او ځیني نور توپیرونه، خو مطلب ئې یو دئ، او هغه دا چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د کعبې منځ کې دوه رکعته لمونځ کړی او هر لوري ته ئې لمونځ کول جائز دي.

(٥٧) باب: په جومات کې د درس حلقې او کښېناستل

٢٩٣- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ عَنْ عُبَيْدِ الله عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم وَهْوَ عَلَى الْمِنْبَرِ مَا تَرَى فِي صَلاَةِ اللَّيْلِ قَالَ "مَثْنَى مَثْنَى، فَإِذَا خَشِيَ الصُّبْحَ صَلَّى وَاحِدَةً، فَأَوْتَرَتْ لَهُ مَا صَلَّى". وَإِنَّهُ كَانَ يَقُولُ اجْعَلُوا آخِرَ صَلاَتِكُمْ وِتْرًا، فَإِنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم أَمَرَ بِهِ. (بخاري:472)

٢٩٣- او له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې وایي: رسول الله صلى الله عليه و سلم پر منبر ولاړ وو چې یوه سړي پوښتنه تر وکړه: د شپې د لمانځه په اړه څه وایې؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمایل: (دوه دوه رکعته، او کله چې له چا سره د سهار کېدو وېره پیدا شوه نو یو رکعت دي وکړي چې همدا ئې هغه لمونځ وتر کړي چې

مخكي ئې کړی). او ابن عمر رضي الله عنهما به ویل: د شپې وروستی لمونځ مو وتر وګرځوئ ځکه رسول الله صلی الله علیه و سلم په همدې امر کړی دئ.

تکرار: 473، 990، 993، 995، 1137

توپیر: په یوه کي مَثْنَى مَثْنَى، فَإِذَا خَشِيَ الصُّبْحَ صَلَّى وَاحِدَةً، فَأَوْتَرَتْ لَهُ مَا صَلَّى، په بل کي فَإِذَا خَشِيتَ الصُّبْحَ فَأَوْتِرْ بِوَاحِدَةٍ، تُوتِرُ لَكَ مَا قَدْ صَلَّيْتَ، په بل کي صَلاَةُ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى، فَإِذَا خَشِيَ أَحَدُكُمُ الصُّبْحَ صَلَّى رَكْعَةً وَاحِدَةً، تُوتِرُ لَهُ مَا قَدْ صَلَّى، په بل کي صَلاَةُ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى، فَإِذَا أَرَدْتَ أَنْ تَنْصَرِفَ فَارْكَعْ رَكْعَةً تُوتِرُ لَكَ مَا صَلَّيْتَ، په بل کي يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى، وَيُوتِرُ بِرَكْعَةٍ او په بل کي مَثْنَى مَثْنَى، فَإِذَا خِفْتَ الصُّبْحَ فَأَوْتِرْ بِوَاحِدَةٍ، په یوه کي دا هم راغلي قَالَ الْقَاسِمُ وَرَأَيْنَا أُنَاسًا مُنْذُ أَدْرَكْنَا يُوتِرُونَ بِثَلاَثٍ، وَإِنَّ كُلاًّ لَوَاسِعٌ أَرْجُو أَنْ لاَ يَكُونَ بِشَيْءٍ مِنْهُ بَأْسٌ، له دغو توپیرونو سره سره د روایاتو مطلب یو دئ او هغه دا چې د شپې لمونځ دوه دوه رکعته دئ، او د وتر لمونځ دي تر ټولو وروسته وشي، له دې روایاتو په ډیر وضاحت سره معلومیږي چې وتر دري رکعته دئ، ځکه ویل شوي چې که څوک د سحر له راختو ووپرېدو نو په پای کي دي یو رکعت وکړي، همدا یو رکعت به له مخکنیو دوو سره د وتر دري رکعته شي. له دې الفاظو له دې پرته بل مفهوم نشي اخیستل کېدی، معنی ئې فقط دا ده چې که څوک په آخري دوو رکعتو کي د سحر له راختو ووپرېدو نو له همدغو دوو رکعتو سره دي یو بل هم د وتر وروستی رکعت یو ځای کړي او همدا به د وتر په لمانځه حساب شي. د دې مزید شرح په ۹۷ روایت کي

وګورئ.

(٥٨) باب: په جومات کي ستوني ستغ (د شا په تخته) ځملاستل

294. عَنْ عَبْدِ الله بْنِ يَزِيْدَ رضي الله عنه: أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم مُسْتَلْقِيًا فِي الْمَسْجِدِ، وَاضِعًا إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الأُخْرَى. (بخاري:475)

294- له عبدالله بن زيد انصاري رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې په جومات کي په داسي حال کي ليدلى چي د شا په تخته پروت وو او يوه پښه ئې پر بله اچولې وه.

تکرار: 5969، 6287

توپير: په يوه کي- مُسْتَلْقِيًا فِي الْمَسْجِدِ، په بل کي يَضْطَجِعُ فِي الْمَسْجِدِ، په بل کي فِي الْمَسْجِدِ مُسْتَلْقِيًا، په يوه کي رَافِعًا إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الأُخْرَى او په بل کي وَاضِعًا إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الأُخْرَى راغلي، مطلب ئې يو دئ.

(٥٩) باب: د بازار په جومات کي لمونځ

٢٩٥- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "صَلاَةُ الْجَمِيعِ تَزِيدُ عَلَى صَلاَتِهِ فِي بَيْتِهِ، وَصَلاَتِهِ فِي سُوقِهِ خَمْسًا وَعِشْرِينَ دَرَجَةً، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ وَأَتَى الْمَسْجِدَ، لاَ يُرِيدُ إِلاَّ الصَّلاَةَ، لَمْ يَخْطُ خُطْوَةً إِلاَّ رَفَعَهُ الله بِهَا دَرَجَةً، وَحَطَّ عَنْهُ

خَطِيئَةً، حَتَّى يَدْخُلَ الْمَسْجِدَ، وَإِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ كَانَ فِي صَلاَةٍ مَا كَانَتْ تَحْبِسُهُ، وَتُصَلِّي- يَعْنِي عَلَيْهِ- الْمَلاَئِكَةُ مَا دَامَ فِي مَجْلِسِهِ الَّذِي يُصَلِّي فِيهِ اللهمَّ اغْفِرْ لَهُ، اللهمَّ ارْحَمْهُ، مَا لَمْ يُحْدِثْ فِيهِ". (بخاري:477)

٢٩٥- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (په جمعه يا جماعت لمونځ د كور او بازار تر لمانځه پنځه ويشت درجې زياتوالى (غوره والى) لري، كه له تاسو چا اودس وكړ او هغه ئې بشپړ كړ، بيا جومات ته راغى، په داسي حال كي چي له لمانځه پرته ئې بل هدف او غرض نه درلود، نو هر پل چي ږدي، الله تعالى به ئې يوه درجه مرتبه اوچتوي او يوه ګناه به ئې ورته بخښي، تر هغه چي جومات ته داخل شي او كله چي جومات ته داخل شي نو ترهغه به پر لمانځه ولاړ ګڼل كيږي چي د لمانځه په انتظار وي، او فرشتي به تر هغه درود ورباندي وايي چي دى په همغي ډلي كي ناست وي چي لمونځ په كي كوي او دعاء به ورته كوي چي: اې خدايه! مغفرت ورته وكړې، خدايه! رحمت پرې وكړې، تر هغه چي بې اودسه شوى نه وي).

تكرار: 176، 445، 647، 648، 659، 2119، 3229، 4717

توپير: په يوه كي لاَ يَزَالُ الْعَبْدُ فِي صَلاَةٍ مَا كَانَ فِي الْمَسْجِدِ يَنْتَظِرُ الصَّلاَةَ، مَا لَمْ يُحْدِثْ، په بل كي الْمَلاَئِكَةُ تُصَلِّي عَلَى أَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِي مُصَلاَّهُ الَّذِي صَلَّى فِيهِ، مَا لَمْ يُحْدِثْ، په بل كي وَلاَ يَزَالُ أَحَدُكُمْ فِي صَلاَةٍ مَا انْتَظَرَ الصَّلاَةَ، په بل كي

الْمَلاَئِكَةُ تُصَلِّي عَلَى أَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِي مُصَلاَّهُ مَا لَمْ يُحْدِثْ، په بل کي لاَ يَزَالُ أَحَدُكُمْ فِي صَلاَةٍ مَا دَامَتِ الصَّلاَةُ تَحْبِسُهُ، لاَ يَمنع أَنْ يَنْقَلِبَ إِلَى أَهْلِهِ إِلاَّ الصَّلاَةُ، په بل کي لاَ يَزَالُ أَحَدُكُمْ فِي صَلاَةٍ مَا كَانَتِ الصَّلاَةُ تَحْبِسُهُ، په بل کي مَا لَمْ يَقُمْ مِنْ صَلاَتِهِ أَوْ يُحْدِثْ، په يوه کي صَلاَةُ الرَّجُلِ فِي الْجَمَاعَةِ تُضَعَّفُ عَلَى صَلاَتِهِ فِي بَيْتِهِ وَفِي سُوقِهِ خَمْسًا وَعِشْرِينَ ضِعْفًا، په بل کي تَفْضُلُ صَلاَةُ الْجَمِيعِ صَلاَةَ أَحَدِكُمْ وَحْدَهُ بِخَمْسٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا، وَتَجْتَمِعُ مَلاَئِكَةُ اللَّيْلِ وَمَلاَئِكَةُ النَّهَارِ فِي صَلاَةِ الْفَجْرِ، په بل کي فَضْلُ صَلاَةِ الْجَمِيعِ عَلَى صَلاَةِ الْوَاحِدِ خَمْسٌ وَعِشْرُونَ دَرَجَةً راغلي، مطلب ئې يو دئ.

(٦٠) باب: په جومات يا بل ځای کي د لاسونو ګوتي سره منډل

296- حَدَّثَنَا خَلاَّدُ بْنُ يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ عَبْدِ الله بْنِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ جَدِّهِ عَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ "إِنَّ الْمُؤْمِنَ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ، يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا". وَشَبَّكَ أَصَابِعَهُ. (بخاري:481)

296- ابو موسى رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (مؤمن د بل مؤمن لپاره داسي وي لکه يوه ودانۍ چې يوه برخه ئې بله برخه ټينګوي). او رسول الله صلى الله عليه و سلم خپلي ګوتي يوه په بلي کي سره ورکړې.

تکرار: 2446، 6026

توپير: په الفاظو کي ئې يوازي دومره توپير شته چې، په

يوه کي د المؤمن پر ځای إن المؤمن راغلي.

297- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ شُمَيْلٍ أَخْبَرَنَا ابْنُ عَوْنٍ عَنِ ابْنِ سِيرِينَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم إِحْدَى صَلاَتَيِ الْعَشِيِّ- قَالَ ابْنُ سِيرِينَ سَمَّاهَا أَبُو هُرَيْرَةَ وَلَكِنْ نَسِيتُ أَنَا- قَالَ فَصَلَّى بِنَا رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ، فَقَامَ إِلَى خَشَبَةٍ مَعْرُوضَةٍ فِي الْمَسْجِدِ فَاتَّكَأَ عَلَيْهَا، كَأَنَّهُ غَضْبَانُ، وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى، وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ، وَوَضَعَ خَدَّهُ الأَيْمَنَ عَلَى ظَهْرِ كَفِّهِ الْيُسْرَى، وَخَرَجَتِ السَّرَعَانُ مِنْ أَبْوَابِ الْمَسْجِدِ فَقَالُوا قَصُرَتِ الصَّلاَةُ. وَفِي الْقَوْمِ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، فَهَابَا أَنْ يُكَلِّمَاهُ، وَفِي الْقَوْمِ رَجُلٌ فِي يَدَيْهِ طُولٌ يُقَالُ لَهُ ذُو الْيَدَيْنِ قَالَ يَا رَسُولَ الله، أَنَسِيتَ أَمْ قَصُرَتِ الصَّلاَةُ قَالَ "لَمْ أَنْسَ، وَلَمْ تُقْصَرْ". فَقَالَ "أَكَمَا يَقُولُ ذُو الْيَدَيْنِ". فَقَالُوا نَعَمْ. فَتَقَدَّمَ فَصَلَّى مَا تَرَكَ، ثُمَّ سَلَّمَ، ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مِثْلَ سُجُودِهِ أَوْ أَطْوَلَ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ وَكَبَّرَ، ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مِثْلَ سُجُودِهِ أَوْ أَطْوَلَ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ وَكَبَّرَ. فَرُبَّمَا سَأَلُوهُ ثُمَّ سَلَّمَ فَيَقُولُ نُبِّئْتُ أَنَّ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ قَالَ ثُمَّ سَلَّمَ. (بخاري:482)

297- له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم له موږ سره د ماسپښين او مازديګر له لمونځونو کوم لمونځ وکړ، دوه رکعته ئې وکړل بيا ئې سلام وګرځاوو، پاڅېد او هغه لرګي ته ورغی چې په جومات کي پروت وو، او په داسي توګه ئې تکيه پرې وکړه لکه چې غصه وي، خپل ښی لاس ئې پر چپ لاس کېښود، ګوتي ئې يو تر بل تېرې کړی او خپل ښی بغور ئې د کين لاس پر شا (خپره) کېښود، چا چې بيره درلوده؛ له جومات

ووتل، او ويل ئې لکه چې لمونځ لنډ شوی دئ؟ د خلکو په منځ کې ابوبکر او عمر رضي الله عنهما هم وو، خو له وېرې ئې له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره خبرې ونه شوی کړی. او په خلکو کې داسې یو سړی هم وو چې لاسونه ئې اوږده ول او په ذو الیدین مشهور وو، همغه وویل: یا رسول الله! هېر دي شول او که لمونځ لنډ شوی دئ؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمایل: (نه مي هېر شوي او نه لمونځ لنډ شوی دئ). بیا ئې وفریل: (آیا همداسي ده لکه ذوالیدین چې وایي؟) اصحابو (رضي الله عنهم) وویل: هو؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ودرېدي شو او پاته لمونځ ئې پوره کړ، بیا ئې سلام وګرځاوو، بیا ئې تکبیر ووایو، د خپلې مخکنۍ سجدې په اندازه یا تر هغې اوږده سجده ئې وکړه، بیا ئې سر پورته کړ، تکبیر ئې ووایو، بیا ئې تکبیر ووایو، د همغې سجدې په اندازه یا تر هغې اوږده سجده ئې وکړه، بیا ئې سر پورته کړ، تکبیر ئې ووایو بیا ئې سلام وګرځاوو.

تکرار: 714، 715، 1227، 1228، 1229، 6051، 7250

توپیر: د دې روایت په لومړۍ برخي کې چې څه ویل شوي؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم حالت سم نشي انځورولی، ځکه پر کین لاس د ښي لاس ایښودل او بیا ګوتې سره ننایستل او مخ د کین پر شا ایښودل نشي کېدی، یا به یو کار شوی وي یا بل، نه دوارې، که ښی لاس پر کین لاس ایښودل شوی وي نو بیا د کین لاس شا د زمکې په لور کېږي او د مخ ښۍ خوا د کین لاس پر شا نشي راتلی، بلکې

د ښي لاس پر شا به ږدول کېږي! نور توپېرونه دا دي: په يوه کي فَقَامَ إِلَى خَشَبَةٍ مَعْرُوضَةٍ فِي الْمَسْجِدِ فَاتَّكَأَ عَلَيْهَا، په بل کي قَامَ إِلَى خَشَبَةٍ فِي مُقَدَّمِ الْمَسْجِدِ فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَيْهَا، په يوه کي إِحْدَى صَلاَتَيِ الْعَشِيِّ، په بل کي صَلَّى النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ او په بل کي الظُّهْرَ أَوِ الْعَصْرَ او په بل کي انْصَرَفَ مِنِ اثْنَتَيْنِ، په بل کي فَصَلَّى بِنَا رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ، په يوه کي فَقَالَ لَهُ ذُو الْيَدَيْنِ أَقَصُرَتِ الصَّلاَةُ يَا رَسُولَ الله، أَمْ نَسِيتَ، په بل کي فَقَالَ يَا نَبِيَّ الله أَنَسِيتَ أَمْ قَصُرَتْ، په يوه کي فَقَالَ أَصَدَقَ ذُو الْيَدَيْنِ، په بل کي أَحَقٌّ مَا يَقُولُ، راغلي، له دې جدي توپېرونو سره سره مطلب ئې يو دئ او هغه دا چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د څلورو رکعتو پر ځای دوه رکعته لمونځ کړی، له خپل ځایه پورته شوی، په جومات کي پروت يوه لرګي ته ئې تکيه کړې، ورته ويل شوي چي هېر دي شول که لمونځ لنډ شوی؟ له خلکو ئې پوښتنه کړې، هغوی د پوښتونکي خبره تصديق کړې، نو بېرته پر لمانځه ودرېدلی، دوه رکعته نور لمونځ ئې کړی او په پای کي ئې دوه د سهوي سجدې کړې او سلام ئې ګرځولی، د روايت له الفاظو دا نه معلومېږي چي د سجدو او سلام تر منځ ئې تشهد او درود او دعاء هم ويلي که نه. خو له نورو رواياتو معلومېږي چي له تشهد وروسته ئې سلام ګرځولی، له عبدالله بن مسعود او عمران بن حصين رضي الله عنهما راغلي روايات همدا خبره کوي، د عمران بن حصين روايت خو اکثرو کتابونو د ابوداؤد، ترمذي، طبراني او بيهقي په شمول راوړی، روايات دا دي:

عَنْ عَبْدِ الله بن مَسْعُودٍ، قَالَ:"إِذَا قُمْتَ أَوْ جَلَسْتَ أَوْ سَلَّمْتَ

فَاسْجُدْ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ، ثُمَّ تَشَهَّدْ، ثُمَّ سَلِّمْ". المعجم الكبير للطبراني

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ، قَالَ: صَلَّى بنا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم الْعَصْرَ خَمْسًا، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ، أَزِيدَ فِي الصَّلاةِ شَيْءٌ؟ قَالَ: وَمَا ذَاكَ؟قُلْنَا: صَلَّيْتَ خَمْسًا، فَقَالَ لِرَجُلٍ يُقَالَ لَهُ ذُو الشِّمَالَيْنِ:أَكَذَلِكَ يَا ذَا الْيَدَيْنِ؟قَالَ: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ، فَسَجَدَ بنا سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ قَاعِدٌ، ثُمَّ تَشَهَّدَ، ثُمَّ سَلَّمَ، المعجم الكبير للطبراني

عَنْ عِمْرَانَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"صَلَّى بِهِمْ فَسَهَى فِي صَلاتِهِ فَسَجَدَ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ، ثُمَّ تَشَهَّدَ، ثُمَّ سَلَّمَ". المعجم الكبير للطبراني، سنن البيهقي، ابو داؤد و الترمذي

د دې روايت څو خبري توجه غواړي:

د فقهاءو تر منځ په دې کي اختلاف دئ چي آيا لمونځ په دومره حرکت او خبرو سره فاسدېږي که نه؟ دا روايت خو وايي چي نه فاسدېږي، ځيني په همدې روايت استناد کوي او وايي چي په سهوي سره دومره حرکت او خبري هم لمونځ نه فاسدوي، احناف دا روايت په هغو ورځو پورې مربوط ګڼي چي لا په لمانځه کي د خبرو او حرکت ممانعت نه وو شوی، که څه هم د احتياط تقاضاء دا ده چي په داسي حالت کي لمونځ له سره وشي او په هغه روايت عمل وشي چي وايي: عمر رضي الله عنه د خلکو امامت وکړ، د څلورو په ځای ئې دوه رکعته وکړل او سلام ئې وګرځاوو، کله چي خلکو خپلي اشتباه ته متوجه کړ نو پورته شو او له سره ئې څلور رکعته لمونځ وکړ، په صحابه وو کي هيچا پرې

اعتراض ونه کړ. خو که څوك په همدې روايت عمل وکړي نو دې کار ته ئې بايد د ناروا په سترګه ونه کتل شي.

دا روايت وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپلو لاسونو ګوتې سره ومونډلې او د ښي لاس پر شا ئې خپل مخ کېښود، د روايت دا برخه له هغو رواياتو سره تعارض لري چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په جومات کي له داسي کولو ممانعت کړی. خو د دغو رواياتو په اړه ويل شوي چې د سند له پلوه ضعيف دي. دې روايت ته په پام سره ويلی شو چې دې کار ته د مکروه په سترګه کتل موجه نه دي.

(٦١) باب: په هغو ځايونو کي جوماتونه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم لمونځ پکي کړی

298- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ الْمُقَدَّمِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا فُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ قَالَ رَأَيْتُ سَالِمَ بْنَ عَبْدِ الله يَتَحَرَّى أَمَاكِنَ مِنَ الطَّرِيقِ فَيُصَلِّي فِيهَا، وَيُحَدِّثُ أَنَّ أَبَاهُ كَانَ يُصَلِّي فِيهَا، وَأَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي فِي تِلْكَ الأَمْكِنَةِ.

(بخاري: 483)

298- له سَالِمَ بْنَ عَبْدِ الله روايت دئ چې د ده پلار عبدالله بن عمر رضي الله عنهما: به د (مدينې) د لاري په ځينو ځايونو کي لمونځ کاوو او ويل به ئې: رسول الله صلى الله عليه وسلم مي ليدلی چې په دې ځايونو کي به ئې لمونځ

كاوو.

299- حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ قَالَ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ عِيَاضٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم كَانَ يَنْزِلُ بِذِى الْحُلَيْفَةِ حِينَ يَعْتَمِرُ، وَفِي حَجَّتِهِ حِينَ حَجَّ، تَحْتَ سَمُرَةٍ فِي مَوْضِعِ الْمَسْجِدِ الَّذِي بِذِى الْحُلَيْفَةِ، وَكَانَ إِذَا رَجَعَ مِنْ غَزْوٍ كَانَ فِي تِلْكَ الطَّرِيقِ أَوْ حَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ هَبَطَ مِنْ بَطْنِ وَادٍ، فَإِذَا ظَهَرَ مِنْ بَطْنِ وَادٍ أَنَاخَ بِالْبَطْحَاءِ الَّتِى عَلَى شَفِيرِ الْوَادِى الشَّرْقِيَّةِ، فَعَرَّسَ ثَمَّ حَتَّى يُصْبِحَ، لَيْسَ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الَّذِي بِحِجَارَةٍ، وَلاَ عَلَى الأَكَمَةِ الَّتِى عَلَيْهَا الْمَسْجِدُ، كَانَ ثَمَّ خَلِيجٌ يُصَلِّي عَبْدُ اللهِ عِنْدَهُ، فِي بَطْنِهِ كُثُبٌ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم ثَمَّ يُصَلِّي، فَدَحَا السَّيْلُ فِيهِ بِالْبَطْحَاءِ حَتَّى دَفَنَ ذَلِكَ الْمَكَانَ الَّذِي كَانَ عَبْدُ اللهِ يُصَلِّي فِيهِ. (بخاري:484)

299- او له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي كله به رسول الله صلى الله عليه وسلم عمره كوله او يا به ئې د حج نيت كاوو، نو په ذوالحليفه كي به ئې تر يوې اغزي لرونكې وني لاندي په همغه ځاى كي چي اوس د ذوالحليفه جومات دئ اړول، او كله چي به له كومي غزا نه په دغي لاره ستنېدو، يا به له حج او عمرې راستون شو، نو د خوړ منځ ته به كوز شو او كله چي به د خوړ له منځه رابهر شو نو په هغه ميدان كي به ئې واړول چي د خوړ په ختيزي ژۍ پروت دئ، نو دمه به ئې وكړه، تر هغه چي سحر به شو، نه له تيرو د جوړ شوي جومات خوا ته او نه پر هغي غونډۍ چي جومات پرې جوړ شوى، دلته يو ژور خوړ وو چي

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به لمونځ په کي کاوو، د همدې خوړ په منځنۍ برخه کي د شګو غونډۍ وې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به لمونځ پرې کاوو، بيا سيلاب هغه د شګو غونډۍ د خوړ منځ ته يووړې او هغه ځای ئې پټ کړ چې عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به لمونځ په کي کاوو.

300- وَأَنَّ عَبْدَ الله بْنَ عُمَرَ حَدَّثَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم صَلَّى حَيْثُ الْمَسْجِدُ الصَّغِيرُ الَّذِي دُونَ الْمَسْجِدِ الَّذِي بِشَرَفِ الرَّوْحَاءِ، وَقَدْ كَانَ عَبْدُ الله يَعْلَمُ الْمَكَانَ الَّذِي كَانَ صَلَّى فِيهِ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ ثَمَّ عَنْ يَمِينِكَ حِينَ تَقُومُ فِي الْمَسْجِدِ تُصَلِّي، وَذَلِكَ الْمَسْجِدُ عَلَى حَافَةِ الطَّرِيقِ الْيُمْنَى، وَأَنْتَ ذَاهِبٌ إِلَى مَكَّةَ، بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمَسْجِدِ الأَكْبَرِ رَمْيَةٌ بِحَجَرٍ أَوْ نَحْوُ ذَلِكَ. (بخاري:485)

300- او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغه ځای کي لمونځ وکړ چېرې چې وړوکی جومات د روحاء په ژۍ کي له جومات رادې خوا دئ، او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما هغه ځای ښه پيژاندو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم لمونځ په کي کړی وو، او ويل به ئې: هغه ځای چې کله په جومات کي لمونځ کوې نو هغه دي ښۍ خوا ته وي او دغه جومات مکې ته د تلونکې لاري ښۍ څنډې ته پروت دئ، د دې جومات او لوی جومات ترمنځ د تيرې د ويشتلو په اندازه يا څه کمه زياته فاصله ده.

301- وَأَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يُصَلِّي إِلَى الْعِرْقِ الَّذِي عِنْدَ مُنْصَرَفِ الرَّوْحَاءِ، وَذَلِكَ الْعِرْقُ انْتِهَاءُ طَرَفِهِ عَلَى حَافَةِ الطَّرِيقِ، دُونَ الْمَسْجِدِ الَّذِي بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمُنْصَرَفِ، وَأَنْتَ ذَاهِبٌ إِلَى مَكَّةَ. وَقَدِ ابْتُنِيَ ثَمَّ مَسْجِدٌ، فَلَمْ يَكُنْ عَبْدُ الله يُصَلِّي فِي ذَلِكَ الْمَسْجِدِ، كَانَ يَتْرُكُهُ عَنْ يَسَارِهِ وَوَرَاءَهُ، وَيُصَلِّي أَمَامَهُ إِلَى الْعِرْقِ نَفْسِهِ، وَكَانَ عَبْدُ الله يَرُوحُ مِنَ الرَّوْحَاءِ، فَلاَ يُصَلِّي الظُّهْرَ حَتَّى يَأْتِيَ ذَلِكَ الْمَكَانَ فَيُصَلِّي فِيهِ الظُّهْرَ، وَإِذَا أَقْبَلَ مِنْ مَكَّةَ فَإِنْ مَرَّ بِهِ قَبْلَ الصُّبْحِ بِسَاعَةٍ أَوْ مِنْ آخِرِ السَّحَرِ عَرَّسَ حَتَّى يُصَلِّيَ بِهَا الصُّبْحَ. (بخاري:486)

301- او عبدالله رضي الله عنه به د روحاء د کلي په پای کي پروت خوږ سره لمونځ کاوو، او د دغه خوږ د يوې ژۍ پای د لاري له اړخ سره لګېدلی، له هغه جومات ښکته چي د دې ځای او خوږ د وروستۍ برخی ترمنځ دئ. په داسي حال کي چي ته د مکې په لور درومې، هلته جومات جوړ شوی دئ، عبدالله رضي الله عنه به پدې جومات کي لمونځ نه کاوو، بلکه داسي به درېدو چي دا جومات به ئې کېږ لاس او شا ته پرېښی وو، همدې خوږ ته به ئې مخامخ لمونځ کاوو، عبدالله رضي الله عنه به له روحاء نه ووت، نو تر هغه به ئې د ماسپښين لمونځ نه کاوو چي دغه ځای ته به ورسېد، نو همدلته به ئې د ماسپښين لمونځ وکړ، او که له مکې به راتلو نو که له سهار نه څه وخت مخکي يا سهار ته ډېر نږدې به دغه ځای ته را ورسېد، نو هملته به ئې واړول تر هغه چي د سهار لمونځ به ئې په کي وکړ.

302- وَأَنَّ عَبْدَ الله حَدَّثَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ يَنْزِلُ

تَحْتَ سَرْحَةٍ ضَخْمَةٍ دُونَ الرُّوَيْثَةِ عَنْ يَمِينِ الطَّرِيقِ، وَوِجَاهَ الطَّرِيقِ فِي مَكَانٍ بَطْحٍ سَهْلٍ، حَتَّى يُفْضِيَ مِنْ أَكَمَةٍ دُوَيْنَ بَرِيدِ الرُّوَيْثَةِ بِمِيلَيْنِ، وَقَدِ انْكَسَرَ أَعْلاَهَا، فَانْثَنَى فِي جَوْفِهَا، وَهِيَ قَائِمَةٌ عَلَى سَاقٍ، وَفِي سَاقِهَا كُثُبٌ كَثِيرَةٌ. (بخاري:487)

302- او عبدالله رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د هغي لويي ګڼي وني لاندي اړول چې د (رويث) له کلي مخکې، د لاري پر ښۍ څنډه، لاري ته څرګنده، په يوه آوار ميدان کې، د هغې غونډې په لمنې کې ولاړه وه چې له رويث دوه ميله لرې ده، د وني سر مات شوی وو او ښکته راځوړند وو او ونه په خپلې ستې ولاړه وه او په ستې ئې ډېرې شګې راغونډې شوې وې.

303- وَأَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ حَدَّثَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم صَلَّى فِي طَرَفِ تَلْعَةٍ مِنْ وَرَاءِ الْعَرْجِ وَأَنْتَ ذَاهِبٌ إِلَى هَضْبَةٍ عِنْدَ ذَلِكَ الْمَسْجِدِ قَبْرَانِ أَوْ ثَلاَثَةٌ، عَلَى الْقُبُورِ رَضْمٌ مِنْ حِجَارَةٍ عَنْ يَمِينِ الطَّرِيقِ، عِنْدَ سَلِمَاتِ الطَّرِيقِ، بَيْنَ أُولَئِكَ السَّلِمَاتِ كَانَ عَبْدُ اللهِ يَرُوحُ مِنَ الْعَرْجِ بَعْدَ أَنْ تَمِيلَ الشَّمْسُ بِالْهَاجِرَةِ، فَيُصَلِّي الظُّهْرَ فِي ذَلِكَ الْمَسْجِدِ. (بخاري:488)

303- او عبدالله رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د (عرج) کلي آخوا ته د رود په ځوړ کي په هغه ځای کي لمونځ وکړ چې لاروی غونډۍ ته ورخېژي، له دې جومات سره دوه يا درې قبرونه وو، پر قبرونو لويي تيږي پرتې وې، د لاري ښۍ خوا ته، له کوم ځای چې وړې او فرعي لاري ېبلېږي، د همدې فرعي لارو په منځ کي پراته

دي، عبدالله رضي الله عنه به د لمر له زوال وروسته، ښه ګرمۍ کي له عرج نه روان شو او د ماسپښين لمونځ به ئې په همدې جومات کي وکړ.

304- وَأَنَّ عَبْدَ الله بْنَ عُمَرَ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم نَزَلَ عِنْدَ سَرَحَاتٍ عَنْ يَسَارِ الطَّرِيقِ، فِي مَسِيلٍ دُونَ هَرْشَى، ذَلِكَ الْمَسِيلُ لاَصِقٌ بِكُرَاعِ هَرْشَى، بَيْنَهُ وَبَيْنَ الطَّرِيقِ قَرِيبٌ مِنْ غَلْوَةٍ، وَكَانَ عَبْدُ الله يُصَلِّي إِلَى سَرْحَةٍ، هِيَ أَقْرَبُ السَّرَحَاتِ إِلَى الطَّرِيقِ وَهْيَ أَطْوَلُهُنَّ. (بخاري:489)

304- عبدالله رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم تر هغو لويو ونو لاندي چې د لاري کېڼي خوا ته په هغه خوړ کي ولاړي دي چې تر (هَرشَى) دې خوا ته دئ، دا خوړ د (هرشى) کلي ته جوخت پروت دئ، د دې ځای او لاري تر منځ د يوه غشي د ويشتلو په اندازه واټن دئ. عبدالله رضي الله عنه به له هغي وني سره لمونځ کاوو چې تر نورو ونو لاري ته نږدې او تر ټولو لوړه وه.

305- وَأَنَّ عَبْدَ الله بْنَ عُمَرَ حَدَّثَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ يَنْزِلُ فِي الْمَسِيلِ الَّذِي فِي أَدْنَى مَرِّ الظَّهْرَانِ، قِبَلَ الْمَدِينَةِ حِينَ يَهْبِطُ مِنَ الصَّفْرَاوَاتِ يَنْزِلُ فِي بَطْنِ ذَلِكَ الْمَسِيلِ عَنْ يَسَارِ الطَّرِيقِ، وَأَنْتَ ذَاهِبٌ إِلَى مَكَّةَ، لَيْسَ بَيْنَ مَنْزِلِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم وَبَيْنَ الطَّرِيقِ إِلاَّ رَمْيَةٌ بِحَجَرٍ. (بخاري:490)

305- او عبدالله رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د مدينې پلو ته د مرالظهران سيمي په وروستۍ برخه کي پراته خوړ کي اړول، هغه مهال چې له

(صفراوات) نه به د دغه خوړ منځ ته راکوز شو، د لاري کيڼ لوري ته، کله چې د مکې په لور درومې، د رسول الله صلى الله عليه و سلم د اړولو ځای له لاري د تيږې د ويشتلو په اندازه واټن لري.

306 - وَأَنَّ عَبْدَ الله بْنَ عُمَرَ حَدَّثَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم كَانَ يَنْزِلُ بِذِى طُوًى وَيَبِيتُ حَتَّى يُصْبِحَ، يُصَلِّي الصُّبْحَ حِينَ يَقْدَمُ مَكَّةَ، وَمُصَلَّى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم ذَلِكَ عَلَى أَكَمَةٍ غَلِيظَةٍ، لَيْسَ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي بُنِيَ ثَمَّ، وَلَكِنْ أَسْفَلَ مِنْ ذَلِكَ عَلَى أَكَمَةٍ غَلِيظَةٍ. (بخاري:491)

306 - عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې مکې ته د سفر په وخت د (ذي طوى) سيمې ته ورسېد نو هملته به ئې تر سهاره واړول، بيا به ئې د سهار لمونځ وکړ، (ذي طوى مکې ته نږدى پرته ده). پدغه سيمه کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د لمانځه ځای پر يوې کلکې شګلنې غونډۍ پروت دئ، نه په هغه ځای کې چې جومات پرې جوړ شوى دئ، (دا جومات پر هغه ځای نه دئ جوړ شوى)، بلکې تر دې رالاندې پر همغې کلکې شګلنې غونډۍ وو.

307- وَأَنَّ عَبْدَ الله حَدَّثَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم اسْتَقْبَلَ فُرْضَتَيِ الْجَبَلِ الَّذِي بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجَبَلِ الطَّوِيلِ نَحْوَ الْكَعْبَةِ، فَجَعَلَ الْمَسْجِدَ الَّذِي بُنِيَ ثَمَّ يَسَارَ الْمَسْجِدِ بِطَرَفِ الأَكَمَةِ، وَمُصَلَّى النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَسْفَلَ مِنْهُ عَلَى الأَكَمَةِ السَّوْدَاءِ، تَدَعُ مِنَ الأَكَمَةِ عَشَرَةَ أَذْرُعٍ أَوْ نَحْوَهَا، ثُمَّ تُصَلِّي مُسْتَقْبِلَ الْفُرْضَتَيْنِ مِنَ

الْجَبَلِ الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَ الْكَعْبَةِ. (بخاري:492)

307- او عبدالله رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغو دوو غرونو خولې ته مخامخ پر لمانځه ودرېدو چې ده ته نږدې غره او هغه اوږده غره تر منځ ده چې د کعبې په لوري تللی، هلته چې کوم جومات جوړ شوی د غونډۍ لوري ته د پراته جومات کېنې لوري ته پروت دئ، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د لمانځه ځای لدې کښته د توري غونډۍ له پاسه وو، (که غواړې په همغه ځای کي لمونځ وکړې) نو له هغي غونډۍ نه تقريباً لس گزه مسافه پرېږده او د هغو دوو غرونو خولې ته مخامخ پر لمانځه ودرېږه چې تا ته نږدې غره او هغه اوږده غره تر منځ ده چې کعبې په لوري تللی.

دې ته مو پام وي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم گڼ شمېر لنډ او اوږده سفرونه او په ټولو سفرونو کي ئې په سلګونو ځایونو کي لمونځونه کړي، مکې ته دوه سفرونه، حدیبیې، طائف، حنین، تبوك، خیبر، بدر او د نورو غزواتو په دوران کي سفرونه، دا ځایونه په ګوته کول او هلته جوماتونه جوړول، نه ضروري دي او نه د ثواب کارونه، عمر رضي الله عنه هغه ونه ړنګه کړه چې ترې لاندي د رضوان هغه مهم او تاریخي بیعت ترسره شوی وو چې په قرآن کي ئې یادونه شوې، د دې لپاره چې داسي نه خلك دې ته په تقدس او سپېڅلتیا قائل نشي.

د لمونځ كوونكي لپاره د سترې بابونه

(۱) باب د امام ستره د مقتديانو ستره ده

ستره هغه څه ته وايي چې لمونځ كوونكى ئې د دې لپاره خپلې مخې ته ودروي چې كه مخې ته ئې څوك تېرېږي نو د لمونځ كوونكي او لاروي تر منځ پرده شي.

308- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ نُمَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ الله عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم كَانَ إِذَا خَرَجَ يَوْمَ الْعِيدِ أَمَرَ بِالْحَرْبَةِ فَتُوضَعُ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَيُصَلِّي إِلَيْهَا وَالنَّاسُ وَرَاءَهُ، وَكَانَ يَفْعَلُ ذَلِكَ فِي السَّفَرِ، فَمِنْ ثَمَّ اتَّخَذَهَا الأُمَرَاءُ. (بخاري:494)

308- له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: كله چې به رسول الله صلى الله عليه وسلم د عيد په ورځ (د لمانځه لپاره) راووت، نو د يوې نېزې د راوړلو امر به ئې وكړ چې د ده مخې ته به كېښودل كېده، نو همدې ته مخامخ به ئې لمونځ كاوو او خلك به ورپسې ول، او همدا كار به ئې د سفر په دوران كي هم كاوو، امراوو له همدې دا طريقه اخيستې ده.

309- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم صَلَّى بِهِمْ بِالْبَطْحَاءِ- وَبَيْنَ يَدَيْهِ عَنَزَةٌ- الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ، وَالْعَصْرَ رَكْعَتَيْنِ، تَمُرُّ بَيْنَ يَدَيْهِ الْمَرْأَةُ وَالْحِمَارُ. (بخاري:495)

309- ابو جحيفه رضي الله عنه وايي له خپل پلار نه مي

واورېدل چې ويل ئې: رسول الله صلى الله عليه وسلم په داسي حال کي چې مخي ته ئې يوه نېزه وه، په بطحاء کي دوی ته لمونځ ورکړ، د ماسپښين دوه رکعته او د مازديګر دوه رکعته، بنځي او خره به ئې مخي ته تېرېدل.

تکرار: 187، 376، 499، 501، 633، 634، 3553، 3566، 5786، 5859

توپير: دا روايت تر دې د مخه په 187، 376 رواياتو کي څېړل شوی.

(۲) باب: د لمونځ کوونکي او سترې ترمنځ واټن

310- حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ زُرَارَةَ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ سَهْلٍ قَالَ كَانَ بَيْنَ مُصَلَّى رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم وَبَيْنَ الْجِدَارِ مَمَرُّ الشَّاةِ. (بخاري:496)

310- له سهل رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم د لمانځه د ځای او (مخکني) دېوال ترمنځ د يوه پسه د تېرېدو په اندازه فاصله وه.

تکرار: 7334

توپير: په يوه کي بَيْنَ مُصَلَّى وَبَيْنَ الْجِدَارِ مَمَرُّ الشَّاةِ او په بل کي بَيْنَ جِدَارِ الْمَسْجِدِ مِمَّا يَلِي الْقِبْلَةَ وَبَيْنَ الْمِنْبَرِ مَمَرُّ الشَّاةِ راغلي. مطلب ئې دا دئ چې د منبر او د امام د ودرېدو د ځای او د جومات د دېوال تر منځ به دومره ځای وو چې سجده په کي کېدی شي.

(۳) باب: سر نېزې ته لمونځ

311- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمِ بْنِ بَزِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَاذَانُ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي مَيْمُونَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم إِذَا خَرَجَ لِحَاجَتِهِ تَبِعْتُهُ أَنَا وَغُلاَمٌ وَمَعَنَا عُكَّازَةٌ أَوْ عَصًا أَوْ عَنَزَةٌ وَمَعَنَا اداوَةٌ، فَإِذَا فَرَغَ مِنْ حَاجَتِهِ نَاوَلْنَاهُ الإِدَاوَةَ.

(بخاري:500)

311- له انس بن مالک رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: کله چې به رسول الله صلى الله عليه وسلم صحرا ته تېر شو نو زه او يو ځوان به ورپسې ورغلو او له موږ سره به يوه لکۍ يا عصاء او يا نېزه وه او د اوبو يو لوښی (وړوکي مشك) وو، نو کله چې به له صحرا راوګرځېد د اوبو لوښی به مو ورکړ.

يادونه: سرنېزه به ئې د دې لپاره ورسره وړله چې که به زمکه کلکه وه نو به هغې سره به ئې وهله او نرمواله، ترڅو د اوبو ځاځکي وروانه لوزي.

تکرار: 150، 151، 152، 217

توپير: دا روايت په پورتنيو شمېرو رواياتو کي څېړل شوی.

دا روايت له ترجمة الباب سره مناسبت نه لري، التجريد الصريح للجامع الصحيح هغه روايت نه دئ رااخيستی چې تر همدې عنوان لاندي په بخاري کي راغلی او وايي: نېزه به ئې د لمانځه په وخت خپلي مخي ته ودروله او ستره به ئې ترې جوړوله.

(٤) باب: ستني ته لمونځ

312- حَدَّثَنَا الْمَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِي عُبَيْدٍ قَالَ كُنْتُ آتِي مَعَ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ فَيُصَلِّي عِنْدَ الأُسْطُوَانَةِ الَّتِي عِنْدَ الْمُصْحَفِ. فَقُلْتُ يَا أَبَا مُسْلِمٍ أَرَاكَ تَتَحَرَّى الصَّلاَةَ عِنْدَ هَذِهِ الأُسْطُوَانَةِ. قَالَ فَإِنِّي رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَتَحَرَّى الصَّلاَةَ عِنْدَهَا. (بخاري:502)

312- يزيد بن ابي عبيد رضي الله عنه وايي چي له سلمه ابن اكوع رضي الله عنه سره به راغلم او ده به هغي ستني ته لمونځ كاوو چي د قرآنكريم (مصحف) سره وه، ورته ومي ويل: اې ابو مسلمه! وينم دي چي دغي ستني ته د لمونځ كولو لټه كوې! ده وويل: ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ليدلى چي له همدې ستني سره به ئې لمونځ كاوو.

(٥) باب: له جمعي (جماعت) نه پرته د ستنو ترمنځ لمونځ

313- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم دَخَلَ الْكَعْبَةَ وَأُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ وَبِلاَلٌ وَعُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ الْحَجَبِيُّ فَأَغْلَقَهَا عَلَيْهِ وَمَكَثَ فِيهَا، فَسَأَلْتُ بِلاَلاً حِينَ خَرَجَ مَا صَنَعَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم قَالَ جَعَلَ عَمُودًا عَنْ يَسَارِهِ، وَعَمُودًا عَنْ يَمِينِهِ، وَثَلاَثَةَ أَعْمِدَةٍ وَرَاءَهُ، وَكَانَ الْبَيْتُ يَوْمَئِذٍ عَلَى سِتَّةِ أَعْمِدَةٍ، ثُمَّ صَلَّى. وَقَالَ لَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنِي مَالِكٌ وَقَالَ عَمُودَيْنِ عَنْ يَمِينِهِ. (بخاري:505)

313- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم له اسامه بن زيد، بلال او عُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ الْحَجَبِيُّ سره كعبې ته ننوت، دروازه ئې په ځان پسي وتړله، او ځنډ ئې په كي وكړ، (كله چي راووت) له بلال رضي الله عنه مي پوښتنه وكړه چي نبي صلى الله عليه وسلم هلته څه وكړل؟ وئې ويل: داسي ودرېد چي يوه ستنه ئې كيڼ لوري ته، يوه ئې ښى خوا ته او درې ستني ئې شا ته وې، او دغه وخت كعبه په شپږو ستنو ولاړه وه. بيا ئې لمونځ وكړ، او په بل روايت كي راځي چي دوې ستني ئې ښى خوا ته وې.

تكرار: 397، 468، 504، 506، 1167، 1598، 1599، 2988، 4289، 4400

توپير: دا روايت تر دې د مخه په 397، 468 رواياتو كي څېړل شوى.

(٦) باب: اوښي، اوښ، وني او بار ته لمونځ

314- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ الْمُقَدَّمِيُّ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ عَنْ عُبَيْدِ الله عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم أَنَّهُ كَانَ يُعَرِّضُ رَاحِلَتَهُ فَيُصَلِّي إِلَيْهَا. قُلْتُ أَفَرَأَيْتَ إِذَا هَبَّتِ الرِّكَابُ. قَالَ كَانَ يَأْخُذُ هَذَا الرَّحْلَ فَيُعَدِّلُهُ فَيُصَلِّي إِلَى آخِرَتِهِ- أَوْ قَالَ مُؤَخَّرِهِ- وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ- رضي الله عنه- يَفْعَلُهُ. (بخاري:507)

314- له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم به خپل اوښ خپلي مخي ته

څملاوو، بيا به ئې لمونځ ورته کاوو. د حديث يو راوي وايي: ما وويل: که اوښ به پورته کېدو نو بيا به ئې څه کول؟ ابن عمر رضي الله عنهما وويل: د اوښ کته به ئې اخيستله خپلي مخي ته به ئې برابروله او وروستۍ برخي ته به ئې لمونځ کاوو. ابن عمر رضي الله عنهما به همداسي کول.

يادونه: دلته د کتي موخره يا وروستۍ برخه هغه لرګي ته ويل کېږي چې سپور پرې تکيه کوي.

تکرار: 430

توپير: مخکې تېر شوی.

(۷) باب: کټ ته لمونځ

315- حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنِ الأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَعَدَلْتُمُونَا بِالْكَلْبِ وَالْحِمَارِ لَقَدْ رَأَيْتُنِي مُضْطَجِعَةً عَلَى السَّرِيرِ، فَيَجِيءُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم فَيَتَوَسَّطُ السَّرِيرَ فَيُصَلِّي، فَأَكْرَهُ أَنْ أُسَنِّحَهُ فَأَنْسَلُّ مِنْ قِبَلِ رِجْلَيِ السَّرِيرِ حَتَّى أَنْسَلَّ مِنْ لِحَافِي. (بخاري:508)

315- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: آيا تاسو موږ (ښځي) له سپي او خره سره برابري کړې يو؟ ما ليدلي چې زه به پر کټ پرته وم، رسول الله صلى الله عليه وسلم به راغی او د کټ منځنۍ برخي ته مخامخ به ئې لمونځ وکړ، خو څرنګه چې ما به نه خوښوله مخي ته ئې پرته وم، نو د کټ د دوو پښو لوري ته به وښوېدم چې له برسټني ووځم.

تكرار: 382، 383، 384، 511، 512، 513، 514، 515، 519، 997، 1209، 6276

توپير: دا روايت د 382 روايت په شرحي کي څېړل شوی.

(۸) باب: لمونځ کوونکي دي د لمانځه مخي ته تېرېدونکی منع کړي

316- حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ قَالَ حَدَّثَنَا يُونُسُ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلاَلٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم وَحَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ الْمُغِيرَةِ قَالَ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ هِلاَلٍ الْعَدَوِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ السَّمَّانُ قَالَ رَأَيْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ يُصَلِّي إِلَى شَيْءٍ يَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ، فَأَرَادَ شَابٌّ مِنْ بَنِي أَبِي مُعَيْطٍ أَنْ يَجْتَازَ بَيْنَ يَدَيْهِ فَدَفَعَ أَبُو سَعِيدٍ فِي صَدْرِهِ، فَنَظَرَ الشَّابُّ فَلَمْ يَجِدْ مَسَاغًا إِلاَّ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَعَادَ لِيَجْتَازَ فَدَفَعَهُ أَبُو سَعِيدٍ أَشَدَّ مِنَ الأُولَى، فَنَالَ مِنْ أَبِي سَعِيدٍ، ثُمَّ دَخَلَ عَلَى مَرْوَانَ فَشَكَا إِلَيْهِ مَا لَقِيَ مِنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَدَخَلَ أَبُو سَعِيدٍ خَلْفَهُ عَلَى مَرْوَانَ فَقَالَ مَا لَكَ وَلاِبْنِ أَخِيكَ يَا أَبَا سَعِيدٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ (إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلَى شَيْءٍ يَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ، فَأَرَادَ أَحَدٌ أَنْ يَجْتَازَ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلْيَدْفَعْهُ، فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ، فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ". (بخاري:509)

316- له ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ چي د يوې جمعې په ورځ ئې د يوه داسي شي لوري ته لمونځ کاوو چي له خلکو ورته ستره شي، نو د بني ابي معيط د

کورنۍ یوه ځوان وغوښتل چې د ابو سعید د لمانځه له مخې نه تېر شي، ابو سعید هغه ځوان په سینه کې وواهو، ځوان وکتل خو د ابوسعید له مخې پرته ئې بله د تېرېدو لار ونه مونده، نو بیا ئې د ده له مخې د تېرېدو هڅه وکړه، ابو سعید رضي الله عنه تر لومړي ځل لازیات په شا وتمباوو، هغه ځوان ښکنځلي ورته وکړې او بیا مروان ته ورغی او له ابو سعید رضي الله عنه ئې شکایت ورته وکړ، ابو سعید رضي الله عنه هم ورپسې مروان ته ورغی، مروان وویل: اې ابوسعیده! ستا او وراره ترمنځ دي څه پېښ شوي؟ ابو سعید رضي الله عنه وویل: له رسول الله صلى الله عليه وسلم مې اورېدلي چې فرمایل ئې: (که له تاسو چا داسي یوه شي ته لمونځ کاوو چې له خلکو ئې ده ته پرده جوړوله او بل چا وغوښتل مخې ته ئې تېر شي، نو په شا دې وتمبوي، که هغه ډډه ونه کړه نو جګړه دي ورسره وکړي، ځکه دا بیا شیطان دئ. (یعنی دا عمل ئې د شیطان عمل دئ).

تکرار: 3274

توپیر: په یوه کې إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلَى شَيْءٍ يَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ، فَأَرَادَ أَحَدٌ أَنْ يَجْتَازَ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلْيَدْفَعْهُ، فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ، فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ، په بل کې إِذَا مَرَّ بَيْنَ يَدَىْ أَحَدِكُمْ شَىْءٌ وَهُوَ يُصَلِّي فَلْيَمنع، فَإِنْ أَبَى فَلْيَمنع، فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ، فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ راغلي.

دا روایت په ځینو نورو کتابونو کې هم راغلی، له ځینو لفظي توپیرونو سره، مطلب ئې یو دئ. خو دې ته مو باید پام وي چې په داسي ځای کې له لمونځ کولو باید ډډه وشي چې د خلکو لاره بندېږي، دا صحیح نه ده چې هم د خلکو

لاره بنده کړئ او هم ئې په زور سره په شا وتمبوئ. په لويو جوماتونو کي د ضرورت له مخي د لمانځه مخي ته د خلکو تېرېدا بايد مجاز وګڼل شي. سفيان ثوري وايي: يمر الرجل يتبختر بين يدي وأنا أصلي فأمنع ويمر الضعيف فلا أمنع: که کوم متکبر په کبر سره زما د لمانځه مخي ته تېرېږي نو مخنيوی ئې کوم او که کوم ضعيف تېرېږي نه ئې منع کوم. په مسجدالحرام او مسجد نبوي کي خو دا کار اوس ډېر ګران شوی، په کار دا ده چي په داسي مواردو کي د ضرورت او مجبوريت له امله جائز وګڼل شي.

(۹) باب: د لمانځه مخي ته د تېرېدو ګناه

317- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ الله عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ أَنَّ زَيْدَ بْنَ خَالِدٍ أَرْسَلَهُ إِلَى أَبِي جُهَيْمٍ يَسْأَلُهُ مَاذَا سَمِعَ مِنْ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم فِي الْمَارِّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي فَقَالَ أَبُو جُهَيْمٍ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم (لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي مَاذَا عَلَيْهِ لَكَانَ أَنْ يَقِفَ أَرْبَعِينَ خَيْرًا لَهُ مِنْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ). قَالَ أَبُو النَّضْرِ لاَ أَدْرِى أَقَالَ أَرْبَعِينَ يَوْمًا أَوْ شَهْرًا أَوْ سَنَةً. (بخاري: 510)

317- له ابو جهيم رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (که د لمونځ کوونکي مخي ته تېرېدونکی پدې پوهېدی چي څومره ګنهګارېږي، نو که څلوېښت (ورځي، مياشتي يا کلونه) ودرېدلی دا به تر دي ورته غوره برېښېدو چي د لمانځه مخي ته تېر شي. راوي وايي: زه نه پوهېږم چي هغه

څلوېښت ورځي وويل که څلوېښت مياشتي او که څلوېښت کاله.

(۱۰) باب: ويده شخص ته لمونځ

318- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم يُصَلِّي وَأَنَا رَاقِدَةٌ مُعْتَرِضَةٌ عَلَى فِرَاشِهِ، فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يُوتِرَ أَيْقَظَنِي فَأَوْتَرْتُ.

(بخاري:512)

318- له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به لمونځ کاوو او زه به ئې مخي ته پر فرش ويده وم، او کله چې به ئې وغوښتل وتر وکړي، نو زه به ئې راويښه کړم او وتر به مي وکړل.

تکرار: 382، 383، 384، 508، 511، 513، 514، 515، 519، 997، 1209، 6276

توپير: دا راويت د 382 روايت په شرحي کي څېړل شوی.

(۱۱) باب: په لمانځه کي وړوکې نجلۍ په غېږ کي نيول

319- حَدَّثَنَا عَبْدُ الله بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبْدِ الله بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَمْرِو بْنِ سُلَيْمٍ الزُّرَقِيِّ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ الأَنْصَارِيِّ أَنَّ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم كَانَ يُصَلِّي وَهْوَ حَامِلٌ أُمَامَةَ بِنْتَ زَيْنَبَ بِنْتِ رَسُولِ الله صلى الله عليه و سلم وَلأَبِي الْعَاصِ بْنِ رَبِيعَةَ

بْنِ عَبْدِ شَمْسٍ، فَإِذَا سَجَدَ وَضَعَهَا، وَإِذَا قَامَ حَمَلَهَا. (بخاري:516)
319- له ابو قتاده انصاري رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم به لمونځ كاوو او امامه بنت زينب بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم به ئې په غيږ كي نيولې وه، امامه د ابو العاص بن ربيع بن عبد شمس لور وه، رسول الله صلى الله عليه وسلم به چي سجده كوله نو امامه به ئې پر زمكه كښېنوله او چي پورته به شو نو وابه ئې خيستله.

تكرار: 5996

توپير: په يوه كي كَانَ يُصَلِّي وَهْوَ حَامِلٌ أُمَامَةَ، په بل كي وَأُمَامَةُ بِنْتُ أَبِي الْعَاصِ عَلَى عَاتِقِهِ، فَصَلَّى، په يوه كي فَإِذَا رَكَعَ وَضَعَهَا، وَإِذَا رَفَعَ رَفَعَهَا او په بل كي فَإِذَا سَجَدَ وَضَعَهَا، وَإِذَا قَامَ حَمَلَهَا راغلي، يو ئې وايي چي د ركوع په وخت كي به ئې كوزه كړه او بل ئې وايي چي د سجدې په وخت كي، مطلب ئې دا دئ چي ماشومه ئې په غيږ كي وه او لمونځ ئې كړى.

(۱۲) باب: ښځه چي له لمونځ كوونكي ناپاك شى ايسته كړي

320- حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِسْحَاقَ السُّرْمَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ الله بْنُ مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ عَنْ عَبْدِ الله قَالَ بَيْنَمَا رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم قَائِمٌ يُصَلِّي عِنْدَ الْكَعْبَةِ، وَجَمْعُ قُرَيْشٍ فِي مَجَالِسِهِمْ إِذْ قَالَ قَائِلٌ مِنْهُمْ أَلاَ تَنْظُرُونَ إِلَى هَذَا الْمُرَائِي أَيُّكُمْ يَقُومُ إِلَى جَزُورِ آلِ فُلاَنٍ، فَيَعْمِدُ إِلَى فَرْثِهَا وَدَمِهَا

وَسَلاَهَا فَيَجِيءُ بِهِ، ثُمَّ يُمْهِلُهُ حَتَّى إِذَا سَجَدَ وَضَعَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ فَانْبَعَثَ أَشْقَاهُمْ، فَلَمَّا سَجَدَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم وَضَعَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ، وَثَبَتَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم سَاجِدًا، فَضَحِكُوا حَتَّى مَالَ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ مِنَ الضَّحِكِ، فَانْطَلَقَ مُنْطَلِقٌ إِلَى فَاطِمَةَ- عَلَيْهَا السَّلاَمُ- وَهْىَ جُوَيْرِيَةٌ، فَأَقْبَلَتْ تَسْعَى وَثَبَتَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم سَاجِدًا حَتَّى أَلْقَتْهُ عَنْهُ، وَأَقْبَلَتْ عَلَيْهِمْ تَسُبُّهُمْ، فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم الصَّلاَةَ قَالَ (اللهمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ، اللهمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ، اللهمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ- ثُمَّ سَمَّى- اللهمَّ عَلَيْكَ بِعَمْرِو بْنِ هِشَامٍ، وَعُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ، وَشَيْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ، وَالْوَلِيدِ بْنِ عُتْبَةَ، وَأُمَيَّةَ بْنِ خَلَفٍ، وَعُقْبَةَ بْنِ أَبِي مُعَيْطٍ، وَعُمَارَةَ بْنِ الْوَلِيدِ). قَالَ عَبْدُ الله فَوَالله لَقَدْ رَأَيْتُهُمْ صَرْعَى يَوْمَ بَدْرٍ، ثُمَّ سُحِبُوا إِلَى الْقَلِيبِ قَلِيبِ بَدْرٍ، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم (وَأُتْبِعَ أَصْحَابُ الْقَلِيبِ لَعْنَةً). (بخاري:520)

320- له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم د بيت الله خوا ته لمونځ كاوو، ابوجهل او ملګري ئې هلته ناست ول، يوه بل ته وويل: څوک به لاړ شي چې د بني فلان د اوښي پيروان راوړي او كله چې محمد صلى الله عليه و سلم سجده وكړي، پر شا ئې ورواچوي؟ نو تر ټولو زيات بد بخت (عقبه بن ابي معيط) پاڅېد، د اوښي پيروان ئې راوړ، تر هغه ئې كتل چې رسول الله صلى الله عليه و سلم سجده وكړه؛ نو هغه ئې د ده پر شا د اوږو تر منځ وغورځاوو، (راوي وايي:) ما كتل، خو هيڅ مي نه شوى كولى، كاش د منع كولو توان مي درلودى،

زياتوي: دوی (ابوجهل او ملګري) ئې په خندا شول، دومره چې له ډېرې خندا به يو بل ته ورکوږ شو، رسول الله صلى الله عليه و سلم همداسې په سجده پروت وو تر هغه چې فاطمه رضي الله عنها راغله او له شا ئې لرې وغورځاوو، نو خپل سر ئې لوړ کړ او وئې فرمايل: (خدايه! له قريشو سره پوه شې)، دا خبره ئې درې ځلي تکرار کړه، بيا ئې نومونه واخيستل: (خدايه! له ابوجهل سره، عتبه بن ربيعه، شيبه بن ربيعه، وليد بن عتبه، اميه بن خلف او عقبه بن ابي معيط سره پوه شې. خدايه! د دوی هلاکت پر تا دئ). د اوم کس نوم ئې هم اخيستی وو، خو له راوي هېر شوی دئ، راوي وايي: قسم په هغه ذات چې زما سا ئې په واك کي ده ټول هغه کسان چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې نومونه واخيستل، د ټولو مړه جسدونه مي په کندي کي وليدل، د بدر په يوې کندي کي. بيا رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (لعنت د دې کندي په خاوندانو پسې شو.

تکرار: 240، 2934، 3185، 3854، 3960

توپير: توپيرونه او شرح ئې په ۱76روايت کي وګورئ.

فهرست
عنوان
صفحه

د ناشر مقدمه ---------- 1
سريزه ---------- 6
ضمني يادونه ---------- 21
مقدماتي خبري ---------- 29
د امام بخاري رحمه الله په اړه مختصر معلومات -------- 66
د شرحي اسلوب ---------- 79
د بخاري مقدمه ---------- 90
1- د وحي د پيل كتاب ---------- 101
1- باب: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د وحي پيل څنګه وو؟ ---------- 101
2- د ايمان كتاب ---------- 136
١- باب: د اسلام پنځه بناوي ---------- 138
2- باب: د ايمان څانګي ---------- 148
3- باب: مسلمان هغه دئ چي مسلمانان ئې له لاس او ژبي خوندي وي: ---------- 150
٤- باب: كوم اسلام غوره دئ؟ ---------- 152
٥- باب: طعام وركول او سلام اچول د اسلام غوښتنه ده 153
٦- باب: خپل ورور ته هغه څه خوښول چي ځان ته ئې خوښوي د ايمان نښه ده ---------- 155
٧- باب: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره محبت د

ایمان نښه ده: ---------- 158
۸- باب د ایمان خوند ---------- 159
۹- باب: له انصارو سره مینه د ایمان نښه ده --------- 161
۱۰- باب: له فتنې ټېښته د دین نښه ده ---------- 166
۱۱- باب: د رسول الله صلی الله علیه و سلم وینا چې زه خپل رب تر ټولو ښه پیژنم---------- 169
۱۲- باب: په اعمالو کې د مؤمنانو یو پر بل غوره والی 171
۱۳- باب: حیاء د ایمان برخه ده ---------- 176
۱٤- باب: چا چې اسلام راوړ نو په امن شو ---------- 177
۱۵- باب: څوك چې وایي ایمان په خپله عمل دئ ------ 178
16- باب: کله چې اسلام ربښتینی نه وي---------- 180
۱۷- باب: د خپلوانو د ناشکرۍ او له کفر نه لاندې کفر- 183
۱۸- باب: ګناه د جاهلیت نښه ده ---------- 185
19- باب: د مسلمانانو تر منځ صلح---------- 187
20- باب: ظلم څو مرتبې لري---------- 189
۲۱- باب: د منافق نښې ---------- 192
۲۲- باب: د قدر د شپې لمونځ د ایمان برخه ده -------- 194
۲۳- باب: جهاد د ایمان برخه ده---------- 196
۲٤- باب: په روژه کې نفلي لمونځ د ایمان برخه ده! --- 198
۲۵- باب: د ثواب په نیت د رمضان د میاشتې روژه د ایمان برخه ده ---------- 199
۲٦- باب: دین آسان دئ---------- 200
۲۷- باب: لمونځ د ایمان برخه ده---------- 201
۲۸- باب: ربښتینی اسلام ---------- 204

۲۹- باب: د الله په نزد کي غوره ديانت دوامدار ديانت دئ ---------- 205
۳۰- باب د ايمان زياتوالی او کموالی ---------- 207
۳۱- باب: زکات د اسلام برخه ده ---------- 211
۳۲- باب: د جنازې ملتيا د ايمان برخه ده ---------- 213
۳۳- باب: د مؤمن وېره له دې چې عمل ئې په ناپوهۍ سره حبط نشي ---------- 214
۳٤- باب: د ايمان، اسلام او احسان په اړه د جبريل پوښتنه ---------- 216
۳٥- باب: په دين کي د احتياط فضيلت ---------- 220
۳٦- باب: د غنيمت پنځمه ورکول د ايمان برخه ده ---- 222
۳۷- باب: عملونه په نيت پوري تړلي دي ---------- 225
۳۸- باب: دين نصيحت دئ ---------- 227
۳- د علم کتاب ---------- 228
۱- باب: د علم غوره والی ---------- 228
باب: پوښتني ته د وينا په پای کي ځواب ويل ---------- 228
۲- باب: د علم لپاره د آواز اوچتول ---------- 230
۳- باب: د زده کوونکو آزمويل---------- 231
٤- باب: د علم په اړه چې څه راغلي---------- 233
باب: په مجلس کي هلته ناسته چې تش وي. ---------- 237
٥- باب: کېدی شي تر سامع خبر وررسېدونکی ډېر پوهيالی وي---------- 238
٦- باب: د ښووني لپاره ځانګړي وختونه---------- 242
۷- باب: چا ته چې الله د خير اراده وکړي په دين ئې پوه

کړي ---------- 243
۸- باب: په علم کي پوهه او ذکاوت ---------- 246
۹ الف- باب: په علم او سخاوت کي سيالي---------- 247
9 ب- باب: د علم په لټه کي وتل---------- 248
۱۰- باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم دعاء "اللهمَّ عَلِّمْهُ الْكِتَابَ". ---------- 259
۱۱- باب: له وړوکي اوربدنه کله صحيح ده؟ ---------- 260
۱۲- باب: د زده کړي او ښووني فضيلت---------- 263
۱۳- باب: د پوهي له منځه تلل او د جهل خوربدل ----- 265
۱٤- باب: د علم فضيلت ---------- 268
۱٥- باب: د سورلۍ په حالت کي فتوى ورکول -------- 270
۱٦- باب: د سر يا لاس په اشاري سره د فتوى ځواب-- 272
۱۷- باب: د مشکل د حل لپاره سفر کول ---------- 276
۱۸- باب: په زده کړه کي نوبت ---------- 277
۱۹- باب: د موعظې او ښووني په وخت کي غصه ---- 294
۲۰- باب: د پوهبدو لپاره د خبري تکرارول---------- 300
۲۱- باب: څوک چي خپلي وينځي او اولادونو ته ښوونه کوي---------- 301
۲۲- باب: ښځو ته وعظ او ښوونه ئې---------- 303
۲۳- باب: د احاديثو د زده کړي تلوسه ---------- 307
۲٤- باب: علم څنګه له منځه ځي---------- 308
۲٥- باب: د ښځو د ښووني لپاره ځانګړی وخت------- 309
۲٦- باب: د پوهبدو لپاره د پوښتنی تکرارول---------- 310
۲۷- باب: حاضر ئې بايد غائب ته ورسوي ---------- 312

٢٨- باب: په نبي صلى الله عليه و سلم پسي د افتراء ګناه314
٢٩- باب: د علم ليکل---------- 316
٣٠- باب: په شپه کي وعظ او ښوونه ---------- 324
٣١- باب: د زده کړي لپاره د شپې مجلس ---------- 325
٣٢- باب: د علم يادول ---------- 332
٣٣- باب: علماءو ته غوږ نيول ---------- 340
٣٤- باب: علم الله تعالى ته محول کول ---------- 340
٣٥- باب: په ولاړه له ناست عالم پوښتنه---------- 346
٣٦- باب: روح څه ده؟ ---------- 347
٣٧- باب: په علم او ښوونه کي تخصيص ---------- 350
٣٨- باب: په علم کي شرم ---------- 352
٣٩- باب: د شرم په وجه د بل چا په خوله پوښتنه کول- 353
٤٠- باب: په جومات کي تعليم او فتوى ---------- 354
٤١- باب: تر پوښتني اوږد ځواب ---------- 355
4- د اودس کتاب ---------- 358
(١) باب: بې اودسه لمونځ نه قبليږي---------- 359
(٢) باب: د اودس فضيلت---------- 360
(٣) باب: په شک اودس نه ماتيږي ---------- 360
(٤) باب: په اوداسه کي تخفيف ---------- 362
(٥) باب: د اودس بشپړول ---------- 362
(٦) باب: په دواړو لاسونو د مخ مينځل په يوه موټ اوبو ---------- 368
(٧) باب: بيت الخلاء ته د ننوتلو په وخت کي څه بايد وويل شي؟---------- 371

(۸) باب: د بيت الخلاء خوا ته د اوبو ايښودل --------- 372
(۹) باب: د اودس ماتي په وخت بايد مخ قبلې ته نه وي 373
(۱۰) باب: پر دوو خښتو د اودس ماتي لپاره ناسته ---- 374
(۱۱) باب: د ضرورت رفع لپاره د ښځو وتل --------- 375
(۱۲) باب: په اوبو سره استنجاء---------- 380
(۱۳) باب: د استنجاء په وخت له اوبو سره د نېزې وړل 381
(۱٤) باب: په ښي لاس له استنجاء کولو نهی---------- 382
(۱٥) باب: په تيږو سره استنجاء ---------- 383
(۱٦) باب: په خوشايو له استنجاء ډډه کول ---------- 385
(۱۷) باب: په اوداسه کي د غړيو يو، يو ځل مينځل---- 386
(۱۸) باب: په اوداسه کي د غړيو دوه، دوه ځلي مينځل 387
(۱۹) باب: په اوداسه کي د غړيو دري ځلي مينځل ---- 388
(۲۰) باب: د پزي مينځل ---------- 390
(۲۱) باب: په طاق تيږو استنجاء ---------- 390
(۲۲) باب: د پښو مينځل او مسح نه پرې کول--------- 391
(۲۳) باب: په اوداسه کي له ښي غړي پيل کول ------- 393
(۲٤) باب: د لمانځه په وخت کي د اوداسه لپاره اوبه لټول
---------- 393
(۲٥) باب: هغه اوبه چي د انسان وېښتان پرې مينځل کېږي
---------- 400
(۲٦) باب: که سپي په لوښي کي خوله ووهله --------- 401
(۲۷) باب: څوك چي اودس ماتوونکي شيان دوه ګڼي -- 403
(۲۸) باب: څوک چي بل ته د اودس اوبه اچوي ------- 408
(۲۹) باب: په بی اودسۍ کي د قرآنکريم تلاوت ------- 410

باب: له دروند خوب پرته اودس نه کول---------- 411
(۳۰) باب: د ټول سر مسح---------- 412
(۳۱) باب: د اوداسه د اوبو استعمال ---------- 413
(۳۲) باب: له خپلي مېرمني سره اودس کول --------- 419
(۳۳) باب: پر بې هوشه سړي د رسول الله صلى الله عليه و سلم د اوداسه د اوبو اچول---------- 420
(۳٤) باب: د طشت له اوبو غسل او اودس ---------- 422
(35) باب: په يوې ډولچې اودس ---------- 429
(36) باب: د رسول الله صلى الله عليه و سلم د اوداسه اوبو اندازه---------- 430
(37) باب: پر موزو مسح---------- 431
(۳۸) باب: د پسه د غوښي او د اوربشو دلدې له خوړلو وروسته اودس نه کول ---------- 433
(۳۹) باب: د سويق له خوړلو وروسته يوازي په خوله اوبه تېرول ---------- 435
(٤۰) باب: آيا د شيدو له څښلو وروسته مضمضه شته؟ 437
(٤۱) باب: په لمانځه کي خوب ---------- 438
(٤۲) باب: اودس پر اوداسه ---------- 439
(٤۳) باب: له بولو ځان نه ساتل کبيره ګناه ده --------- 440
(٤٤) باب: د بولو مينځل---------- 446
(٤٥) باب: په جومات کي د يوه اعرابي د بولو قصه--- 446
(٤٦) باب: د ماشومانو بولي ---------- 448
(٤۷) باب: په ولاړه يا ناسته بولي ---------- 449
(47)- باب: د دېوال شا ته او يا د بل چا په وړاندي بولي 451

(٤٩) باب: د وينو مينځل ---------- 452
(٥٠) باب: د مني مينځل او ګرول ---------- 454
(٥١) باب: د څاروو د بولو او پڼغالو حکم ---------- 455
(٥٢) باب: په اوبو او غوړيو کي د نجاست د غورځېدو حکم ---------- 463
(٥٣) باب: په ولاړو اوبو کي بولي ---------- 466
(٥٤) باب: که پر لمونځ کوونکي نجاست واچول شي لمونځ ئې نه فاسدېږی ---------- 466
(٥٥) باب: د خولې او پزې د اوبو حکم---------- 471
(٥٦) باب: هغه ښځه چې د خپل پلار له مخ ويني مينځي ---------- 473
(٥٧) باب: مسواک---------- 475
(٥٨) باب: مشر ته د مسواک ورکول---------- 475
٥٩- باب: په اوداسه د ويدېدو فضيلت---------- 476
٥- د غسل کتاب---------- 478
(١) باب: له غسل مخکې اودس ---------- 478
(٢) باب: له خپلې مېرمني سره غسل ---------- 481
(٣) باب: په يوه پيمانه اوبو غسل کول ---------- 481
(٤) باب: پر سر دې ځلې اوبه تويول---------- 484
(٥) باب: له غسل وروسته د عطر او د سر د غوړو کارول ---------- 484
(٦) باب: د جماع تکرار ---------- 485
(٧) باب: د عطر له وهلو وروسته غسل کول --------- 495
(٨) باب: د غسل په وخت د وېښتانو خلالول ---------- 496

(۹) باب: كه په جومات كي چا ته ورپه ياد شوه چي جنب دئ..---------- 497
(۱۰) باب: په ګوښه كي يوازي تن لوڅ غسل كول----- 498
(۱۱) باب: د غسل په وخت بايد له خلكو پرده وشي --- 504
(۱۲) باب: د جنب خولې---------- 505
(۱۳) باب: د جنابت په حالت كي د شپې ويده كېدل ---- 506
(۱٤) باب: د ختانينو يو ځای كېدل---------- 507
٦- د حيض كتاب ---------- 509
(۱)- باب: د نفاس حكم ---------- 509
(۲) باب: حائضه د خپل خاوند سر مينځلی شي-------- 511
(۳) باب: د حائضې مېرمني خوا كي د قرآنكريم تلاوت 512
(٤) باب: حيض ته نفاس ويل ---------- 512
(٥) باب: له حائضې سره يو ځای كېدل ---------- 513
(٦)باب: حائضه دي روژه نه نيسي---------- 514
(۷) باب: د مستحاضې ښځي اعتكاف ---------- 516
(۸) باب: له حيض وروسته د غسل په وخت خوشبويي وهل ---------- 517
(۹) باب: له حيض وروسته خوش بويه ټوټه په ځان موښل. ---------- 518
(۱۰) باب: د حيض په غسل كي د سر ږمنځول ------- 520
(۱۱) باب: ښځه به د حيض غسل كي خپل وېښتان خلاصوي ---------- 521
(۱۲) باب: پر حائضه د لمانځه قضايئ نشته ---------- 522
(۱۳) باب: له حائضې سره په يوه بستره كي ويدېدل --- 523

(١٤) باب: د عيد په لمانځه کي د حائضې ګډون ------- 524
(١٥) باب: د حيض له مودې پرته زېږوالی او خړوالی 526
(١٦) باب: هغه ښځه چې له افاضه طواف وروسته حائضه شي---------- 527
(١٧) باب: د نفاسې ښځې د جنازې لمونځ---------- 528
(١٨) باب ---------- 529
(٧) د تيمم کتاب ---------- 530
(1)- باب ---------- 530
(٢) باب: مقيم او د لمانځه د قضاء له وېرې تيمم------- 535
(٣) باب: آيا تيمم کوونکی کولی شي په خپلو لاسونو کې پو کړي ---------- 537
(٤) باب: پاکه خاوره د مسلمان لپاره د پاکۍ وسيله ده. - 540
٨- د لمانځه کتاب ---------- 548
(١) باب: د اسراء په شپه لمونځ څنګه فرض شو؟ ----- 548
(٢) باب: لمونځ په جامو کې ---------- 567
(٣) باب: په يوه داسې جامه کې لمونځ چې ځان پکې پېچل شوی وي ---------- 570
(٤) باب: که څوک په يوه جامه کې لمونځ کوي هغه دې پر اوږو واچوي---------- 572
(٥) باب: که جامه تنګه وي ---------- 573
(٦) باب: په شامي چپنه کې لمونځ---------- 575
(٧) باب: په لمانځه او نورو حالاتو کې د ځان لوڅولو کراهيت ---------- 576
(٨) باب: د عورت پټول ---------- 578

(۹) باب: د ورانه حكم ---------- 583
(۱۰) باب: ښځه بايد په څو جامو كي لمونځ وكړي ---- 592
(۱۱) باب: به نقش لرونكې جامه كي لمونځ---------- 594
(۱۲) باب: په صليب لرونكې يا تصوير لرونكې جامه كي لمونځ---------- 594
(۱۳) باب: په وړښمينه جامه كي لمونځ ---------- 596
(١٤) باب: په سره جامه كي لمونځ ---------- 596
(١٥) باب: پر منبر، لوړ ځای او لرگي باندي لمونځ --- 598
(١٦) باب: پر پوزي لمونځ ---------- 600
(١٧) باب: پر فرش باندي لمونځ ---------- 601
(١٨) باب: د گرمۍ له امله پر جامه سجده كول-------- 604
(١٩) باب: له پټو سره لمونځ---------- 604
(٢٠) باب: له موزو سره لمونځ ---------- 607
(٢١) باب: په سجده كي لاسونه له ډډو لري نيول. ----- 607
(٢٢) باب: قبلې ته د مخامخ كېدو فضيلت ---------- 608
(٢٣) باب: دا آيت چي فرمايي: (وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى). ---------- 609
(٢٤) باب: قبلې ته مخ كول ---------- 613
(٢٥) باب: هغه څه چي دقبلې په اړه راغلي---------- 618
(٢٦) باب: له مسجد په لاس سره د لاړو پاكول-------- 620
(٢٧) باب: څوك دي په لمانځه كي لاړي ښۍ خوا ته نه تو كوي. ---------- 621
(٢٨) باب: په جومات كي د سوغلو كفاره ---------- 621
(٢٩) باب: خلكو ته د لمانځه او قبلې په اړه پند او نصيحت

---------- 622
(۳۰) باب: آيا جواز لري چي وويل شي د بني فلان جومات؟
---------- 623
(۳۱) باب: په جومات کي د مال وېشل او د خرما وړي
ځړول ---------- 624
(32) باب: په کور کي جومات ---------- 627
(۳۳) باب: آيا د مشرکينو د قبرونو پر ځای د جومات
جوړول روا دي؟---------- 630
(۳٤) باب: د اوښانو پنډغالي کي لمونځ ---------- 634
(۳٥) باب: تنور، اور او داسي شي ته لمونځ چي لمانځل
کېږي---------- 635
(۳٦) باب: په هديره کي د لمانځه کراهيت ---------- 636
(۳۷) باب: د انبياءو له قبرونو جومات جوړول-------- 637
(۳۸) باب: په جومات کي د ښځي ويده کېدل ---------- 640
(39) باب: په جومات کي د نارينه ويده کېدل---------- 642
(٤۰) باب: جومات ته ننوتل او دوه رکعته لمونځ کول - 644
(٤۱) د جومات جوړول ---------- 644

د میثاق ایثار نشراتي اداره

کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷